

# نیمه پیړۍ یون

## څوارلسم ټوک

(علمي اثار)

**محمد اسمعیل یون**

۱۳۹۶ل

---



نیمه پیړۍ یون

څوارلسم ټوک (علمي اثار)

**(څوارلس ټوکه)**

**۱۴**

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۵۱)

---

## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پېړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او ویناوې یې وکړې، د درېو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د

کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نږدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه څکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په خبر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکرې او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده. یون یو خو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پېړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکټر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

**HALF CENTURY JOURNEY**

**By: Prof. Mohammad Ismael Yoon**

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۵۱)

---

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماستري):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال، افغاني اوسنی رسنۍ (۱۰۳۵۰-۱۰۸۲۲)مخونه.

**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳-۱۲۰۵۶) مخونه.

**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنۍ سمون (۱۲۰۵۷-۱۲۵۷۱)مخونه.

**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲-۱۳۵۹۸)مخونه.



**منته او کورودانی**

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصیت
**ښاغلي محمود کرزي**
څخه د زړه له کومې منته کوي چې ددې اثر د څوارلسم ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. یو ځل بیا ورڅخه منته کوو او کور ودانی ورته وایو
درنښت یې په برخه شه

**د پښتۍ ډیزاین:** سپین سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

---

## په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځونې او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹۶۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پښتاګون تر څنډو، د کرملېن په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په وړمو کې (۵۳۲۰- ۶۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (۶۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات ځلی، د زمانې په کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰۶) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

# نیمه پېړی یون

## څوارلسم ټوک

## (علمي اثار/ پوهنوال- پوهاند)

**محمد اسمعیل یون**

**۱۳۹۶ لمریز کال**

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## ځوارلسم ټوک

**(علمي اثار/پوهنوال- پوهاند)**


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵۱)**

ویبپاڼه: **www.melitahrik.com**



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**


**۱۲۵۷۲**

ډالی:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۱۲۵۸۸ |
| | زما د نیمې پېړۍ یون | ۱۲۶۰٤ |
| | **کره کتنه** | |
| ۱ | د تحریک یادښت | ۱۲٦۱٤ |
| ۲ | د لومړي چاپ یادښت | ۱۲٦۱۵ |
| ۳ | د سر خبرې | ۱۲٦۱٦ |
| ٤ | ((کره کتنه)) زموږ د ادبیاتو یوه مهمه اړتیا | ۱۲٦۱۸ |
| ۵ | یک اثر مهم تدریسی | ۱۲٦۲۰ |
| ٦ | دا اثر یوه ګټوره هڅه | ۱۲٦۲۲ |
| ۷ | سریزه | ۱۲٦۲٤ |
| | **لومړی څپرکی** | |
| | **کره کتنه** | |
| ۸ | الف- د کره کتنې لغوي مانا | ۱۲٦۲۹ |
| ۹ | ب- د کره کتنې اصطلاحي مانا | ۱۲٦۳۱ |
| ۱۰ | ج- د کره کتنې اهمیت | ۱۲٦۳۵ |
| ۱۱ | د- د کره کتنې اړتیا | ۱۲٦۳٦ |
| ۱۲ | هـ- د کره کتنې بریدونه | ۱۲٦۳۸ |
| ۱۳ | و- د کره کتنې اداب | ۱۲٦۳۹ |
| ۱٤ | د لومړي څپرکي لنډیز | ۱۲٦٤٤ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵ | د لومړي څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲٦٤٦ |
| ۱٦ | سپارښتنې | ۱۲٦٤۷ |

## دویم څپرکی

## د کره کتنې پیدایښت

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | ۱- کره کتنه په زاړه یونان کې | ۱۲٦٥۲ |
| ۱۸ | ۲- کره کتنه په لویدیځ کې | ۱۲٦٦٥ |
| ۱۹ | ۳- کره کتنه په ختیځ کې | ۱۲٦٦۸ |
| ۲۰ | د دویم څپرکي لنډیز | ۱۲٦۷٤ |
| ۲۱ | د دویم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲٦۷۷ |
| ۲۲ | سپارښتنې | ۱۲٦۷۸ |

## درېیم څپرکی

## د کره کتنې پایښت

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | الف-کره کتنه په لویدیځ کې | ۱۲٦۷۹ |
| ۲٤ | ب- کره کتنه په ختیځ کې | ۱۲٦۹٥ |
| ۲٥ | ۱- کره کتنه په عربي نړۍ کې | ۱۲٦۹٥ |
| ۲٦ | ۲- کره کتنه په دري کې | ۱۲۷۱۳ |
| ۲۷ | ۳- کره کتنه په اردو ژبه کې | ۱۲۷۱۷ |
| ۲۸ | د درېیم څپرکي لنډیز | ۱۲۷۲۷ |
| ۲۹ | د درېیم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۷۳۰ |
| ۳۰ | سپارښتنې | ۱۲۷۳۱ |

## څلورم څپرکی

## کره کتنیز او ادبي ښوونځي

| | | |
|---|---|---|
| ۳۱ | ۱- کره کتنیز ښوونځي | ۱۲۷۳۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۲ | ۲- ادبي ښوونځي | ۱۲۷۳٤ |
| ۳۳ | الف- لویدیز ادبي ښوونځي | ۱۲۷۳٥ |
| ۳٤ | ۱- کلاسیزم | ۱۲۷۳٥ |
| ۳٥ | ۲- رومانتیزم | ۱۲۷۳۷ |
| ۳٦ | ۳- ریالیزم | ۱۲۷۳۸ |
| ۳۷ | ۴- ناتورالیزم (نچرلیزم) | ۱۲۷۳۹ |
| ۳۸ | ۵- سمبولیزم | ۱۲۷٤۱ |
| ۳۹ | ٦- سور ریالیزم | ۱۲۷٤۲ |
| ٤۰ | ۷- اگسزسیتانسیالیزم | ۱۲۷٤٤ |
| ٤۱ | ۸-سینتیمنتالیزم | ۱۲۷٤٥ |
| ٤۲ | ۹- نهیلیزم | ۱۲۷٤۷ |
| ٤۳ | ۱۰- فورمالیزم | ۱۲۷٤۸ |
| ٤٤ | ۱۱- ایماژینیزم | ۱۲۷٤۸ |
| ٤٥ | ۱۲- پارناس ښوونځی | ۱۲۷٤۹ |
| ٤٦ | ۱۳- امپرسیونیزم | ۱۲۷٤۹ |
| ٤۷ | ۱۴- کونستروکتیویزم | ۱۲۷٥۰ |
| ٤۸ | ۱٥- اوربانیزم | ۱۲۷٥۱ |
| ٤۹ | ۱٦- دادايیزم | ۱۲۷٥۱ |
| ٥۰ | ۱۷- اونانیمیزم | ۱۲۷٥۲ |
| ٥۱ | ۱۸- ویریزم | ۱۲۷٥۲ |
| ٥۲ | ب- پښتو ادبي ښوونځي | ۱۲۷٥۳ |
| ٥۳ | ۱- روښاني ادبي ښوونځی | ۱۲۷٥۳ |
| ٥٤ | ۲- خوشال ادبي ښوونځی | ۱۲۷٥٥ |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۵ | ۳- رحمان بابا ادبي ښوونځی | ۱۲۷۵٦ |
| ۵٦ | ۴- حمید-شیدا ادبي ښوونځی | ۱۲۷۵۸ |
| ۵۷ | ج- فارسي ادبي ښوونځي | ۱۲۷٦۰ |
| ۵۸ | ۱- خراساني ادبي ښوونځی | ۱۲۷٦۱ |
| ۵۹ | ۲- عراقي ادبي ښوونځی | ۱۲۷٦۲ |
| ٦۰ | ۳- هندي ادبي ښوونځی | ۱۲۷٦۳ |
| ٦۱ | ۴- مراجعت ادبي ښوونځی | ۱۲۷٦٤ |
| ٦۲ | د څلورم څپرکي لنډیز | ۱۲۷٦٦ |
| ٦۳ | د څلورم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۷٦۹ |
| ٦٤ | سپارښتنې | ۱۲۷۷۰ |


## پینځم څپرکی

## کره کتنه په پښتو ادب کې


| | | |
|---|---|---|
| ٦۵ | الف- پخوانۍ دوره | ۱۲۷۷۲ |
| ٦٦ | ب- منځنۍ دوره | ۱۲۷۷٦ |
| ٦۷ | ج- اوسنۍ دوره | ۱۲۸۰۱ |
| ٦۸ | د- د کره کتنې په برخه کې متفرقه کار | ۱۲۸۱۲ |
| ٦۹ | د پنځم څپرکي لنډیز لنډیز | ۱۲۸۳۳ |
| ۷۰ | د پنځم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۸۳٦ |
| ۷۱ | سپارښتنې | ۱۲۸۳۷ |


## شپږم څپرکی

## د کره کتنې ډولونه


| | | |
|---|---|---|
| ۷۲ | ۱-نظري کره کتنه | ۱۲۸٤۰ |
| ۷۳ | ۲-عملي کره کتنه | ۱۲۸٤۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷٤ | ۳-تاریخي کره کتنه | ۱۲۸٤۲ |
| ۷۵ | ۴- تشریحي او توضیحي کره کتنه | ۱۲۸٤٦ |
| ۷٦ | ۵- ښکلاییزه کره کتنه | ۱۲۸٤۷ |
| ۷۷ | ٦- حکمي کره کتنه | ۱۲۸۵۵ |
| ۷۸ | ۷- ارواپوهنیزه کره کتنه | ۱۲۸۵۵ |
| ۷۹ | ۸- متني کره کتنه | ۱۲۸٦۳ |
| ۸۰ | ۹-مارکسستي کره کتنه | ۱۲۸٦٤ |
| ۸۱ | ۱۰- قانون جوړوونکې کره کتنه | ۱۲۸٦۷ |
| ۸۲ | ۱۱- ټولنیزه کره کتنه | ۱۲۸٦۷ |
| ۸۳ | ۱۲- رومانتیکه کره کتنه | ۱۲۸۷۱ |
| ۸٤ | ۱۳- تحلیلي کره کتنه | ۱۲۸۷٦ |
| ۸۵ | ۱۴- استقرایي کره کتنه | ۱۲۸۸۰ |
| ۸٦ | ۱۵- پرتلییزه کره کتنه | ۱۲۸۸۳ |
| ۸۷ | ۱٦- لغوي کره کتنه | ۱۲۸۸۵ |
| ۸۸ | ۱۷- فني کره کتنه | ۱۲۸۸٦ |
| ۸۹ | ۱۸- اخلاقي کره کتنه | ۱۲۸۸۷ |
| ۹۰ | د شپږم څپرکي لنډیز | ۱۲۸۸۹ |
| ۹۱ | د شپږم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۸۹۱ |
| ۹۲ | سپارښتنې | ۱۲۸۹۲ |


## اووم څپرکی

## د کره کتنې اصول او معیارونه


| | | |
|---|---|---|
| ۹۳ | ۱- مطلق اصول او معیارونه | ۱۲۸۹٤ |
| ۹٤ | ۲- نسبي اصول او معیارونه | ۱۲۸۹٤ |

| | | |
|---|---|---|
| ۹۵ | د اووم څپرکي لنډیز | ۱۲۹۲۳ |
| ۹٦ | د اووم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۹۲۵ |
| ۹۷ | سپارښتنې | ۱۲۹۲٦ |


## اتم څپرکی

## د کره کتونکي ځانګړتیاوې


| | | |
|---|---|---|
| ۹۸ | ۱- پوهه او بصیرت | ۱۲۹۲۸ |
| ۹۹ | ۲- عدل او انصاف | ۱۲۹۲۹ |
| ۱۰۰ | ۳- ناپېیلتیا | ۱۲۹۳۰ |
| ۱۰۱ | ٤- ناتعصبي | ۱۲۹۳۰ |
| ۱۰۲ | ۵- پر اصولو ټینګار | ۱۲۹۳۳ |
| ۱۰۳ | ٦- زړورتیا | ۱۲۹۳٤ |
| ۱۰٤ | ۷- د کره کتنې د ادابو درناوی | ۱۲۹۳۵ |
| ۱۰۵ | د اتم څپرکي لنډیز | ۱۲۹۳۷ |
| ۱۰٦ | د اتم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۹۳۹ |
| ۱۰۷ | سپارښتنې | ۱۲۹٤۰ |


## نهم څپرکی

## د کره کتنې ګټې، د ادبیاتو او نورو علومو په وده


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۸ | ۱- عامو لوستوالو ته یې ګټې | ۱۲۹٤۲ |
| ۱۰۹ | ۲- لیکوالو ته یې ګټې | ۱۲۹٤۵ |
| ۱۱۰ | ۳- ادبیاتو ته یې ګټې | ۱۲۹۵۱ |
| ۱۱۱ | ٤- د پوهې پراختیا ته یې ګټې | ۱۲۹۵۲ |
| ۱۱۲ | د نهم څپرکي لنډیز | ۱۲۹۵٤ |
| ۱۱۳ | د نهم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۹۵٦ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۱٤ | سپارښتنې | ۱۲۹۵۷ |


## لسم څپرکی

## موږ ولې له کره کتنې ډارېږو؟


| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۵ | ۱- د کره کتنې ناعاموالی | ۱۲۹۵۹ |
| ۱۱٦ | ۲- د زغم کلتور نشتوالی | ۱۲۹٦۰ |
| ۱۱۷ | ۳- د سالمې کره کتنې کموالی | ۱۲۹٦٤ |
| ۱۱۸ | د لسم څپرکي لنډیز | ۱۲۹٦۸ |
| ۱۱۹ | د لسم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۹۷۰ |
| ۱۲۰ | سپارښتنې | ۱۲۹۷۰ |


## یوولسم څپرکی

## په پښتو ژبه د کره کتنې چاپ شوي کتابونه


| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۱ | الف- په افغانستان کې | ۱۲۹۷۲ |
| ۱۲۲ | ۱- ادب او ادبي کره کتنه | ۱۲۹۷۳ |
| ۱۲۳ | ب- په پښتونخوا کې | ۱۲۹۸۰ |
| ۱۲٤ | د یوولسم څپرکي لنډیز | ۱۲۹۸۸ |
| ۱۲۵ | د یوولسم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې | ۱۲۹۸۹ |
| ۱۲٦ | سپارښتنې | ۱۲۹۸۹ |
| ۱۲۷ | وروستۍ پایله | ۱۲۹۹۰ |
| ۱۲۸ | اخځونه | ۱۲۹۹۲ |


## ادب تاریخ


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د تحریک یادښت | ۱۲۹۹۸ |
| ۲ | ((ادب تاریخ)) یو غوره تدریسي اثر | ۱۲۹۹۹ |
| ۳ | یوه اوږده تجربه او یوه ښه نتیجه | ۱۳۰۰۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ٤ | د پښتو لرغوني ادب په باب یو نوی اثر له یوه نوي ... | ۱۳۰۰۷ |
| ٥ | سریزه | ۱۳۰۱۰ |


## لومړی څپرکی

## لومړۍ یا لرغونې دوره


| | | |
|---|---|---|
| ٦ | ادب | ۱۳۰۳۳ |
| ۷ | ادبپوهنه | ۱۳۰۵۲ |
| ۸ | ادب تاریخ څه ته وایي؟ | ۱۳۰٦٦ |
| ۹ | ادبي تذکره څه شی دی؟ | ۱۳۰۷۲ |
| ۱۰ | ادبي دورې څنگه ټاکل کېږي؟ | ۱۳۰۸۰ |
| ۱۱ | په پښتو ادب تاریخونو کې د ادبي دورو وېش | ۱۳۰۸۹ |
| ۱۲ | پښتو څو ادبي دورې لري؟ | ۱۳۱۰۱ |
| ۱۳ | تر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب | ۱۳۱۰٦ |
| ۱٤ | د پښتو ادب لرغونې دوره | ۱۳۱۱۰ |
| ۱٥ | د لومړي څپرکي لنډیز | ۱۳۱۱٤ |
| ۱٦ | د لومړي څپرکي پوښتنې | ۱۳۱۱٦ |


## دویم څپرکی

## د پښتو لرغونو ادبیاتو لویې حوزې


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | غور ادبي حوزه | ۱۳۱۲۰ |
| ۱۸ | کسي غر ادبي حوزه | ۱۳۱۲٥ |
| ۱۹ | ملتان ادبي حوزه او نورې سیمې | ۱۳۱۲۸ |
| ۲۰ | د دویم څپرکي لنډیز | ۱۳۱۳۳ |
| ۲۱ | د دویم څپرکي پوښتنې | ۱۳۱۳٥ |

## درېیم څپرکی

## د پښتو لرغونو ادبیاتو څېړې او د کلام بېلګې


| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | امیر کروړ (جهان پهلوان) | ۱۳۱۳۸ |
| ۲۳ | هاشم د زید سرواني زوی | ۱۳۱۵٤ |
| ۲٤ | شیخ رضی لودي او نصر لودي | ۱۳۱٦۱ |
| ۲۵ | بېټ نیکه | ۱۳۱۷۰ |
| ۲٦ | شیخ اسمعیل | ۱۳۱۷۸ |
| ۲۷ | خرښبون | ۱۳۱۸٤ |
| ۲۸ | شیخ اسعد سوري | ۱۳۱۹۱ |
| ۲۹ | شیخ تیمن کاکړ | ۱۳۲۰۵ |
| ۳۰ | ښکارندوی غوري | ۱۳۲۰۹ |
| ۳۱ | ملکیار غرشین | ۱۳۲۲۱ |
| ۳۲ | تایمني | ۱۳۲۲٦ |
| ۳۳ | قطب الدین بختیار | ۱۳۲۳۱ |
| ۳٤ | سلیمان ماکو | ۱۳۲۳٦ |
| ۳۵ | شیخ متي | ۱۳۲٤۰ |
| ۳٦ | بابا هوتک | ۱۳۲۵۲ |
| ۳۷ | شیخ ملکیار هوتک | ۱۳۲۵۸ |
| ۳۸ | اکبر زمینداوري | ۱۳۲٦۳ |
| ۳۹ | سلطان بهلول لودي | ۱۳۲۷۳ |
| ٤۰ | خلیل خان نیازی | ۱۳۲۷۸ |
| ٤۱ | زرغون خان نورزی | ۱۳۲۸۰ |
| ٤۲ | زرغونه کاکړ | ۱۳۲۸۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ٤٣ | رابعه | ۱۳۲۹۳ |
| ٤٤ | دوست محمد کاکړ | ۱۳۲۹۵ |
| ٤٥ | شیخ عیسی مشوانی | ۱۳۳۰۱ |
| ٤٦ | شیخ بستان بړېڅ | ۱۳۳۰۵ |
| ٤٧ | علي سرور لودي | ۱۳۳۰۹ |
| ٤٨ | مېرمن نېکبخته | ۱۳۳۱٤ |
| ٤٩ | شیخ محمد صالح الکوزی | ۱۳۳۱۷ |
| ۵۰ | د درېیم څپرکي لنډیز | ۱۳۳۲۳ |
| ۵۱ | د درېیم څپرکي پوښتنې | ۱۳۳۳۱ |


## څلورم څپرکی

## له نورو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکي


| | | |
|---|---|---|
| ۵۲ | له عربي ژبې سره اړیکي | ۱۳۳۳۵ |
| ۵۳ | له دري ژبې سره اړیکي | ۱۳۳٤۰ |
| ۵٤ | د څلورم څپرکي لنډیز | ۱۳۳٤۳ |
| ۵۵ | د څلورم څپرکي پوښتنې | ۱۳۳٤۵ |


## پنځم څپرکی

## د لرغونې دورې نظم


| | | |
|---|---|---|
| ۵٦ | د پښتو ولسي شاعرۍ فورمونه | ۱۳۳٤۸ |
| ۵۷ | ۱- لنډۍ | ۱۳۳۵۳ |
| ۵۸ | ۲- سروکی (نیمکۍ) | ۱۳۳٦۱ |
| ۵۹ | ۳- د اتڼ نارې | ۱۳۳٦۵ |
| ٦۰ | ۴- کاکړۍ غاړې (کاکړۍ) | ۱۳۳٦۹ |
| ٦۱ | ۵- ببولاله | ۱۳۳۷۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ٦٢ | ٦- چاربيته | ١٣٣٧٤ |
| ٦٣ | ٧- مقام | ١٣٣٨٤ |
| ٦٤ | ٨- بدله | ١٣٣٨٧ |
| ٦٥ | ٩- لوبه | ١٣٣٩٠ |
| ٦٦ | ١٠- داستان | ١٣٣٩١ |
| ٦٧ | ١١- بگتۍ | ١٣٣٩٦ |
| ٦٨ | د پښتو د ولسي ادبياتو ارزونه او شننه | ١٣٤٠٨ |
| ٦٩ | له نورو ژبو څخه د نظم راغلي فورمونه | ١٣٤١٢ |
| ٧٠ | ١- قصيده | ١٣٤١٥ |
| ٧١ | ٢- غزل | ١٣٤١٧ |
| ٧٢ | ٣- مثنوي | ١٣٤٢٢ |
| ٧٣ | ۴- رباعي | ١٣٤٢٤ |
| ٧٤ | د پنځم څپرکي لنډيز | ١٣٤٢٦ |
| ٧٥ | د پنځم څپرکي پوښتنې | ١٣٤٢٨ |


## شپږم څپرکی

## د لرغونې دورې نثر


| | | |
|---|---|---|
| ٧٦ | د سالو وږمه | ١٣٤٣١ |
| ٧٧ | تذکرة الاولياء | ١٣٤٣٢ |
| ٧٨ | تاريخ سوري | ١٣٤٤٧ |
| ٧٩ | اعلام اللوذي في اخبار اللودي | ١٣۴۴٧ |
| ٨٠ | لرغوني پښتانه | ١٣۴۴٩ |
| ٨١ | د شيخ ملي دفتر | ١٣۴٥٠ |
| ٨٢ | د کجو خان تاريخ | ١٣۴٥٣ |

٨٣ د شپږم څپرکي لنډیز ١٣٤٥٨

٨٤ د شپږم څپرکي پوښتنې ١٣٤٦١


## اووم څپرکی

## د لرغونې دورې د ادبیاتو لغوي شننه


٨٥ متروکې کلمې ١٣٤٦٤

٨٦ پخوانۍ خو کارېدونکې کلمې ١٣٤٦٩

٨٧ جغرافیایي نومونه ١٣٤٧٣

٨٨ د اووم څپرکي لنډیز ١٣٤٧٧

٨٩ د اووم څپرکي پوښتنې ١٣٤٧٨


## اتم څپرکی

## لرغونې دوره کې لومړنۍ منظومه ژباړه


٩٠ لومړنۍ ژباړه کوم فورم لري؟ ١٣٤٨١

٩١ د لومړنۍ منظومې ژباړې هنري ښکلا ١٣٤٨٣

٩٢ د لومړنۍ ژباړې ژبنۍ پرتلنه ١٣٤٨٥

٩٣ د اتم څپرکي لنډیز ١٣٤٨٧

٩٤ د اتم څپرکي پوښتنې ١٣٤٨٨


## نهم څپرکی

## لرغونې دوره کې لومړنۍ مشاعرې یا مناظرې


٩٥ شیخ رضی لودي او نصر لودي ١٣٤٩١

٩٦ شیخ اسمعیل او خرښبون ١٣٤٩٤

٩٧ خلیل خان نیازی او سلطان بهلول لودي ١٣٤٩٦

٩٨ د نهم څپرکي لنډیز ١٣٤٩٨

٩٩ د نهم څپرکي پوښتنې ١٣٤٩٩

## لسم څپرکی

## د لرغونو ادبیاتو محتوايي فورمونه


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ویاړنه یا فخریه | ۱۳۵۰۲ |
| ۱۰۱ | ویرنه | ۱۳۵۰۷ |
| ۱۰۲ | ستاینه | ۱۳۵۰۹ |
| ۱۰۳ | ساقینامه | ۱۳۵۱۱ |
| ۱۰٤ | د لسم څپرکي لنډیز | ۱۳۵۱٤ |
| ۱۰۵ | د لسم څپرکي پوښتنې | ۱۳۵۱۵ |


## یوولسم څپرکی

## د لرغونو ادبیاتو فکري څرنګوالی


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰٦ | اسلامي افکار | ۱۳۵۱۸ |
| ۱۰۷ | غنایي افکار | ۱۳۵۲۵ |
| ۱۰۸ | حماسي افکار | ۱۳۵۳۲ |
| ۱۰۹ | ملي او نور افکار | ۱۳۵۳۷ |
| ۱۱۰ | د یوولسم څپرکي لنډیز | ۱۳۵۳۹ |
| ۱۱۱ | د یوولسم څپرکي پوښتنې | ۱۳۵٤۰ |


## دولسم څپرکی

## د لرغونې دورې عمومي ځانګړنې


| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۲ | خپل چاپېریال | ۱۳۵٤۳ |
| ۱۱۳ | نړه والی | ۱۳۵٤٦ |
| ۱۱٤ | د نورو ژبو اغېزې | ۱۳۵٤۸ |
| ۱۱۵ | لوړتیا او ځوړتیا | ۱۳۵۵۰ |
| ۱۱٦ | د دولسم څپرکي لنډیز | ۱۳۵۵٤ |

۱۱۷ د دولسم څپرکي پوښتنې پوښتنې ۱۳۵۵۵


## دیارلسم څپرکی

## د لرغونې دورې د ادبیاتو کمیت او کیفیت


۱۱۸ څومره والی ۱۳۵۵۸

۱۱۹ څرنګوالی ۱۳۵٦۳

۱۲۰ پرتلنه ۱۳۵٦۵

۱۲۱ د دیارلسم څپرکي لنډیز ۱۳۵٦۷

۱۲۲ د دیارلسم څپرکي پوښتنې ۱۳۵٦۸


## څوارلسم څپرکی

## په لرغونې ادبي دوره کې موثرې ټولنیزې

## سیاسي څېرې او حادثې


۱۲۳ سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي څېرې ۱۳۵۷۱

۱۲٤ د پېښو کرونولوژي ۱۳۵۷٦

۱۲۵ د لرغونې دورې پای ۱۳۵۸۰

۱۲٦ پایله ۱۳۵۸۲

۱۲۷ د څوارلسم څپرکي لنډیز ۱۳۵۸۹

۱۲۸ د څوارلسم څپرکي پوښتنې ۱۳۵۹۰

۱۲۹ اخځونه ۱۳۵۹۱

۱۳۰ وروستۍ یادونه او غبرګونه ۱۳۵۹۷

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شېږم ټولگي زده کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینګار ولسوالۍ د (سلینګار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولګي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولګی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانګې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانګې د کدر غړی شو. یون پر

(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لیسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

محمــد اســمعیل یــون د طالبــانو د نظــام تــر ړنګېــدو وروســته پــر (۱۳۸۱ل)کال لومړۍ په ختیزو ولایتونو کــې د ملګرو ملتونــو د مرســتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـویې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت لـه املـه لـه خپلـې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریـک) پـه نامه د یـو ازاد، فرهنګـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرګه کـې د ننګرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلګونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلګونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یـې ځـان رسولی، د نورو ملګرو او ملي تحریک د ملګرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننګرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې

يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنگ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانگوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې يـې خلکـو تـه پـه مسـتقيم او نامسـتقيم ډول د میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کـړې ده. د مصيبت ځپلـو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځـان ورسـوي. د جگړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې ځو پروگرامونه جوړ کـړي او همدارنگه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يـې ونـډه اخيسـتې، د صـحي اوبـو لپاره يې د ژورو څاگانو په کيندنه او د چاپېريال د پـاک سـاتلو لپـاره يـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خيريه او ټولنيزو کارونو شمېر چـې يـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) گټورو او مرستندويه کارونو زياتېږي.

**ب- سياسي برخه کې:** محمد اسمعيل يون سره له دې چې لـه کوم سياسي گوند سره تړاو نه لري او نه يې غړيتوب لري، خو په خپله يـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په گډه (د افغانستان ملي تحريک) په نامـه د يو ملي، مدني، خدماتي، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسـټ ايښـی دی. ددې تحريک له لارې يې په هېواد کې يو شمېر سـياسي فعاليتونـه تـرسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنګي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلګونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنيزه برخه کې يې د (ژوندون) په نامه يو رسنيز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډيو ټلوېزيون په کې فعاليت لري، دا راډيو ټلوېزيون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلايټ او وېبسايټ له لارې يې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډميکه برخه کې يون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسيس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرگونو محصلين لري، دغه راز د يو شمېر خصوصي ښوونځيو او پوهنتونونو په جوړونه کې يې هم مرسته کړې ده. يون د (هيلي، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدير په توگه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره يې د بېلابېلو ليکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمينه برابره او د يو شمېر نورو د سمون چارې يې هم پر مخ وړې دي.

په سيمه ييزه او ملي کچه يې د (۳۰) کلونو په بهير کې تر (۱۱۰۰) زياتې ادبي، علمي او فرهنگي غونډې، سيمينارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار يې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | ژرنگوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | (لومړۍ شعري ټولگه) | دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دويمه شعري ټولگه) | دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هیرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وږمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات خلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړرو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونډ مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترځ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مونږ یې دمخه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې موږ د استاد یون له خوا ټول لیکل شوي، ژباړل شوي او راټول شوي اثار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا که دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لږه یو نیم مخ کار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې له لیکوالۍ نه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې په سلګونو بېلابېل لیکل شوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونه لا په دې کمیت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا له دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټول کارونه سره محاسبه کړو، نو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هر چا په وس پوره نه دي. هغه چا چې استاد یون سره له نږدې کارونه کړي وي، هغو ته د استاد د کار اوسېله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یې ماته تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چې افغانستان کې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخت هم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پر وړاندې چا سونې هم نه شو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطر کې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سترو ارزښتونو د لیکلو

مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملګرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې ځو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کيڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

همکاري پيل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پيل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مينه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولگي کې وم چې د (هيلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو ليکوالو يوه تذکره يا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نيمگړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولگه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳٦٦ل) کال څخه بيا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنگي دايرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووايم چې يوه ورځ هم له فرهنگي کار او روزگاره بهر نه يم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهير کې ځينې سياسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحميل شوي او ځينې ټولنيز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټينگښت او د فرهنگي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري رياست د ملي امنيت شورا دفتر د فرهنگي چارو رييس وم. دا مهال زما له منظم فرهنگي کار څخه څه باندې دوه لسيزې عمر تېر شوی و، په څنگ کې د نورو هغو ملي، سياسي او ټولنيزو کارونو پر وړاندې چې ما يې د سرته رسولو هيله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملگرو؛ ضياءالرحمن ضياء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنگي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري يې هم کم دي، تنگنظره سياسي

اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او

کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان سترې کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شېږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و

چې کاشکې يې قبر معلوم واى چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولاى واى، څو شېبې ورسره ارام غځېدلاى واى، د هغه د هغو مهربانيو قدر مې کړى واى چې زه يې پر اوږو ګرځولاى وم. بازار ته يې بيولى وم، مېلې ته يې بيولى وم، ډاکتر ته يې بيولى وم، پټې به يې جيب کې راته پيسې ايښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدايه لويه هيله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړى ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مينه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکليف شوې، د ژوند ټول ارمان يې خپل زوى ته و، زه يې د يوازيني زوى په توګه ډېر نازولى يم، ځان يې په تکليف کړى، خو زه يې سختو ته يې نه يم پرې ايښى، ماته يې د تعليم زمينه برابره کړې، د ټيکري په پيڅکې پورې تړلې پيسې يې راته رالېږلې، خو زه يې بې خرڅه کړى نه يم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې يې رڼې وې، لکه چې د خپل يوازيني زوى ليدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونيوله، داسې چې زه به يې کلک غېږ کې نيولى وم، ايا څوک به وي چې د داسې يوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په ليدو يې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړى و، د خداى په کور مې موښلى او د زمزم په اوبو مې مينځلى و.

له خپلو خوږو خويندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې يې ډېر زيات زيار ګاللى، له مشرانو او کشرانو خويندو ټولو څخه

ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان


کره کتنه
(د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګو د کره کتنې مضمون لپاره)
محمد اسمعیل یون
۱۳۹۴ لمریز کال

# کابل پوهنتون

## ژبو او ادبیاتو پوهنځی

## پښتو څانګه

# کره کتنه

د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو په پښتو څانګو کې
د کره کتنې مضمون لپاره

لیکوال

محمد اسمعیل یون




# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: کره کتنه

لیکــــــوال: محمد اسمعیل یون

لیکوال د خپرونو لړ: (۳۹)

خـپرونـدی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنگي څانگه

وېـــبپاڼـه: www.melitahrik.com

ډیـزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـــاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چــاپکـــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریک د خپرونو لړ: (۹۴)

# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې لـه خپلـو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه، چې د دې کال په بهیر کې به (شـل عنوانه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثـار خپلـې ټـولنې تـه وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پـر (۲۸)مـه نېټـه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانه علمـي اثـار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکـړه، چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) پـه نصـرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړانـدې کـوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمـت تـه اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هـم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو پـه لاس کـې دی د همدې (سل عنوانه) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چـې د چـاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخــه بــه زمــوږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملــي تحریــک لــه ټولــو هغــو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنــوي مرســتندویانو او چــاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بــل ســره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریــالی کــړی، د زړه لــه کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

# د لومړي چاپ یادښت

دا کتاب ما (یون) پر (۱۳۹۱ل) کال د (پوهنــوالۍ) علمــي رتبــې لپــاره لیکلی و او پر همغه مهال د یادې رتبې لپاره ومنل شو. تاکل شــوې وه پر همغه کال چاپ شي، خو ما غوښتل له خپلو نورو اثارو سره یې په یو ځایي ډول چاپ کړم، نو ځکه خو درې کاله راسره پاتې شو. اوس چــې زه خپل څو عنوانه نور اثار چاپوم او هم ملي تحریک غواړي سل عنوانه علمي، ادبي، دیني او تاریخي اثار چاپ کړي، نو غواړم دا اثر هم په دې لړ کې چاپ شي او د لوستونکو د ګټې وړ وګرځي. طبعي خبره ده چې دا اثر به خپلې خپلې نیمګړتیاوې هم ولري، خو ډېرې تېروتنې تر چاپ وروسته په عملي ډګر کې څرګندېږي. هیلــه ده درانــه لوســتونکي او محصلین یې د لوستلو او کتلو پر مهال هغــه څرګنــدې او راپــه ګوتــه کړي، چې په بل چاپ کې هغه نیمګړتیاوې سمې او نورې زیاتونې هــم ورسره مل شي.

په درناوي

محمد اسمعیل یون

# د سر خبرې

څو لسیزې کېږي چې د کابل پوهنتون په ګډون د هېـواد د لـوړو زده کړو موسسې د منظمو درسي مفرداتو او همدارنګـه چـاپي اثـارو لـه نشتوالي څخه کړېږي. په ځینو برخو کې که مفردات شته هم، ډېر زاړه دي او وخت پر وخت نوي شوي نه دي. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه هم دا مشکلات لري. خو په دې وروستیو کلونـو کې پښتو څانګې وپتېیله چې پر خپلو ټولو درسي مفرداتـو بیـا کتنـه وکړي. (د کره کتنې) مضمون هم په دې بیا کتنه کې شـامل و. مـا لـه نورو استادانو سره په مشوره د کره کتنې مضمون تېر مفردات وکتـل، همغه مو سره کره کړل. د همدې مفرداتو پر بنسټ مـې د (پوهنــوالۍ) علمي رتبې لپاره د اثر لیکلو کار پیل کړ. اکثره ضروري اثار مې ورپسې وپلټل او په نتیجه کې دغه اثر رامنځتـه شـو. زه خوشـاله یـم، هغـه مفردات چې پښتو څانګې ددې مضمون لپاره غوره کړي هغه تر ډېـره حده په دې اثر کې تشریح شول. ګـران اسـتاد پوهانـد محمـد صـابر خویشکی، پوهاند ډاکتر عبدالقیوم قویم، پوهنـوال احمدشـاه زغـم، استاد بخت میر وزیري، د پښتو څانګې له نورو استادانو او ګـران ورور عطاالله حیران څخه مننه کوم، چې ماسره یې ددې اثر په بشپړاوي کې مرسته وکړه. ګران ورور ضیاءالرحمن ضیاء څخه هم ډېره مننـه کـوم، چې په ډېرې اوسېلې یې ددې اثر د کمپوز چارې سمبال کړې. څرنګـه چې ما ددې کتاب په سریزه کې هم یادونه کړې چې دا اثـر د درسـي

مفرداتو په رڼا کې لیکل شوی او له لوستونکو مې هیله څرګنده کړې چې تر چاپ وروسته د اثر په باب خپل نظریات راته راولېږي. دلته یو ځل بیا یادونه کوم، چې زه به خپله هڅه او هاند کوم چې دا اثر د تدریس پر مهال نور هم پوره او بشپړ کړم او ټول هغه مسایل چې د کره کتنې په برخه کې نوي راپیداکېږي، هغه ورسره یوځای کړم او په دې ډول د محصلینو او درنو لوستونکو اړتیاوې تر یوه بریده پوره کړم.

په درناوي

پوهندوی محمد اسمعیل یون

## تـــقریـــظ

# ((کره کتنه)) زموږ د ادبیاتو یوه مهمه اړتیا

استاد پوهندوی محمد اسمعیل یون د پښتو څانگې د ډېــرو تکــړه استادانو له جملې څخه دی، چې د لیکوالۍ په برخه کــې نــږدې (۲۵) کلنه کاري تجربه لري. (کره کتنه) د استاد یون لومړنی اثر نه دی، ده تر دې دمخه هم په لسگونو عنوانه اثــار لیکلــي او چــاپ کــړي دي. پــه لیکوالۍ کې دی د افغانستان په کچه یو مطرح لیکوال دی. (کره کتنه) اثر هم د استاد یون یوه پخه تجربه ده. پوهندوی یون په ژبو او ادبیــاتو پوهنځي کې ډېره موده د (ادب تاریخ) او (خوشال پېژندنه) مضــمونونه تدریس کړي، پــه دې برخــه کــې هــم د کــافي تجربــې خاونــد دی. (ادبپوهنه) چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي یو بل مهم مضمون دی، دا ډېر کلونه کېږي چې په لومړیو ټولگیو کې د استاد یون له خوا تدریسېږي. (کره کتنــه) او (ادب تــاریخ) او همدارنگــه (ادب تیــوري) درې واړه د ادبپوهنې اساســي څــانگې دي. څــوک چــې د ادبپــوهنې مضــمون تدریسوي، د هغې پر درېواړو څانگو احاطه لري. (کــره کتنــه) او (ادب تیوري) ددې ترڅنګ چې په (ادبپوهنه) کې د هغې د څانگو پــه توگــه تدریسېږي، د (ادب تاریخ) په څېر د جلا جلا مضامینو پــه توگــه هــم تدریسېږي.

استاد یون ددې دواړو په باب هم ځانگړې تدریسي تجربه لري. هغه وخت چې استاد یون په پښتو څانگه کې د (پوهنــوالۍ) علمــي رتبــې

لپاره دا موضوع (کره کتنه) غوره کړه. نو د ځانګې استادانو یې تود هر کلي وکړ. علت دا و چې له ډېرو کلونو راهیسې (کره کتنه) د یوه مضمون په توګه تدریسېدله، خو دا تدریس لا تر دې دمه پورې اکثره د نوټونو، لکچرنوټونو په بڼه و، داسې یو منظم سیستماتیک اثر چې د ځانګې تدریسي مفردات دې هم په پام کې ونیسي او د یوه منظم تدریسي کتاب بڼه دې ولري، لا تر دې دمه یې په پښتو ځانګه کې کمی احساسېده. څرنګه چې د (پوهنوالۍ) علمي رتبې اثر باید تدریسي بڼه ولري، نو موږ هیله لرله چې استاد یون به په ښه ډول دا اړتیا پوره کړي. لکه څنګه چې زموږ هیله وه، استاد یون تر یوه اوږده کار او زیار وروسته د کره کتنې په برخه کې داسې یو اثر ولیکه چې زموږ له هیلو سره سمون خوري. په (یوولسو څپرکو) کې یې اکثره هغه څه وڅېړل او راونغاړل چې په (کره کتنه) کې ورته اړتیا وه. دا اثر په خپل ډول کې په پښتو کې تقریباً لومړنی اثر ګڼل کېږي، چې تدریسي بڼه لري او د محصلینو اړتیاوې تر ډېره حده پوره کولای شي. زه استاد یون ته ددغه ګټور اثر د لیکلو له امله مبارکي وایم، د پوهنوالۍ علمي رتبې لپاره یې دا اثر پوره او کره ګڼم او له ټولو اړوند مقاماتو څخه هیله کوم، چې ده ته ددې اثر له امله د (پوهنوالۍ) علمي رتبه منظور کړي. څرنګه چې دا یو ډېر ګټور اثر دی، زه له مربوطه ارګانونو څخه هیله من یم، چې ددې اثر د چاپ په برخه کې ژر اقدام وکړي.

په درناوي

پوهاند محمد صابر خویشکی

د پښتو ځانګې استاد

تقریظ:

# یک اثر مهم تدریسی

حدود بیست سال میشود که محمد اسمعیل یــون بــه حیــث اســتاد، دیپارتمنت پشتو پوهنځی زبان و ادبیات پوهنتون کابل ایفای وظیفــه مینمایــد. اســتاد یــون در ایــن معیــاد مضــامین، (خوشالشناســی)، (ادبشناسی) و (تــاریخ ادبیــات) را در دیپارتمنــت پشــتو وهمچنــان مضمون تدریس زبان پشتو را در دیپارتمنت مختلف فاکولته ادبیــات و پوهنځی های دیگر تدریس نموده، تجربه کــافی را در زمینــه تــدریس بدست اورده است. استاد یون چندین عنوان اثار را نیز تالیف نمــوده، که یک تعداد آن به حیث اثار تدریسی و ممد درسی در رشته مربــوط قابل استفاده است.

مضمون (نقد ادبی) یکی از مهم ترین مضامین است که در دیپارتمنــت دری و پشتو تدریس میگردد. استاد پوهندوی محمــد اســمعیل یــون ضروریات و متقضیات دیپارتمنت خــویش را در نظــر گرفتــه، مطــابق مفردات تدریسی این مضمون، موضوع (نقد) را غــرض ترفیــع علمــی رتبه (پوهنوالی) خویش انتخاب نموده. استاد یون مدت زیادی بــالای این موضوع کار کرد و در نتیجه این اثر قابل ستایش را به رشته تحریر در اورد.

این کتاب در یازده فصل تنظیم شده، بر علاوه یک مقدمه و یک نتیجه یا ارزیابی اخری دارد. در این اثر معنی لغوی و اصطلاحی نقد، اهمیــت، ضرورت، حدود و اداب نقد ادبی تشریح شده، تاریخچه نقد از یونــان

باستان شروع تا اواخر قرن بیستم بیان گردیده، انواع و مکاتب نقد تشریح شده و جریان نقد ادبی را در زبان و ادبیات پشتو نیز تشریح و توضیح گردیده. علاوه بر این، اصول و معیارهای نقد ادبی تشریح شده، فواید نقد و اوصاف نقاد نیز مشخص گردیده.

در این اثر این موضوع که: (چرا ما از نقد میترسیم؟) هم توضیح گردیده و در اخر، اثار مستقل نقد که به زبان پشتو چاپ گردیده به طور منظم و مسلسل معرفی شده اند. استاد یون در تحریر این اثر از منابع موثر داخلی و خارجی استفاده نموده، تحلیل و نظریات خود را نیز بالای آن علاوه نموده، در نتیجه یک اثر را به وجود اورده که جنبه تدریسی و اموزشی دارد. ما به نوبه خود این اثر مفید را به ترفیع علمی (پوهنوالی) مثبت ارزیابی مینمایم، از بارگاه خداوند(ج) برای استاد پوهندوی محمد اسمعیل یون ارزوی موفقیت مزید مینمایم و از همه مقامهای مربوط و زیربط خواهش مینمایم که ترفیع علمي رتبه (پوهنوالی) را به استاد یون منظور نماید. چون این یک اثر علمی میباشد، چاپ ان نیز بسیار ضروری میباشد، از مسولین محترم نشراتی تقاضا مینمایم، در زمینه چاپ این اثر اقدام نماید!

با احترام

پوهاند دوکتور عبدالقیوم قویم

استاد دیپارتمنت دری

پوهنځی زبان و ادبیات

تقریظ:

# دا اثر یوه ګټوره هڅه

(کره کتنه) د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د یوه مهم مضمون په توګه تدریسېږي. څو لسیزې کېږي چې پښتو څانګه له نوټونو او لکچر نوټونو کړېږي. که څه هم په تېرو څو کلونو کې د پښتو څانګې استادانو زیار وویست چې په هره برخه کې داسې څانګړي اثار ولیکي، چې تدریسي بڼه ولري او په دې برخه کې پخوانۍ پرتې ستونزې تر یوه حده حل کړي، خو بیا هم نور کار او زیار ته اړتیا ده. په دې وختونو کې پښتو څانګې وپتېیله، چې خپلې ټولې اړتیاوې په خپله د څانګې د استادانو له خوا پوره کړي. یوه اړتیا هم له درسي مفرداتو سره سم د (کره کتنې) په برخه کې د یوه منظم تدریسي اثر لیکل و. استاد یون چې په پښتو څانګه کې (ادبپوهنه) او (ادب تاریخ) مضمون تدریسوي، ددې اړتیا د پوره کولو لپاره راودانګل، ده د (پوهنوالۍ) علمي رتبې لپاره همدا موضوع (کره کتنه) وټاکله، موږ ټولو ځکه تائید کړه، چې له ډېرو کلونو راهیسې دا مضمون د نوټ او متفرقه لکچرنوټونو په بڼه تدریسېده او د محصلینو په لاس کې یو منظم تدریسي کتاب نه و.

استاد یون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې ددې مضمون له درسي مفرداتو سره سم، ډېره موده پر دې اثر کار وکړ. له ګڼو اخځونو، تحلیلونو او څېړنو څخه یې ګټه پورته کړه، ځان یې خورا ستړی کړ. په دې اثر کې کره کتنه له لغوي او اصطلاحي پلوه څېړل شوې، د کره

کتنې تاریخ بیان شوی، اړتیا یې په ګوته شوې، ګټې یې بیان شوي دي. د دې ترڅنګ په پښتو ژبه کې د کره کتنې مسیر تشریح شوی دی.

دا اثر د یوه تدریسي اثر په بڼه لیکل شوی دی. زه هیله لرم هغــه خــلا چې په پښتو څانګه کې له کلونو راهیسې د (کره کتنې) په برخه کې د یوه منظم تدریسي اثر د نشتوالي له امله موجــوده وه، ددې اثــر پــه رامنځته کېدو سره اواره شي. دا اثر به نه یوازې په پښتو څانګه کــې د یوه تدریسي اثر په توګه تدریس شي، بلکې د هېــواد نــورو پوهنتونــو اړوندې څانګې هم ترې ګټه پورته کولای شي.

زه ددې اثر لیکنه نه یوازې د استاد یون یوه ګټوره هڅه او بــری ګــڼم، بلکې د ټولې پښتو څانګې یو بری یې ګڼم. اســتاد پوهنــدوی محمــد اسمعیل یون ته ددې اثر له امله مبارکي وایم، هیله لرم چې قلم یې نور هم همداسې تاند او هڅانــد وي او د پښــتو څــانګې د ژبــو او ادبیــاتو پوهنځي په ګډون، له ټولو اړوند مقامونو څخه هیله کــوم چــې اســتاد یون ته ددې علمي اثر له امله د (پوهنوالۍ) علمي رتبــه منظــور کــړي همدارنګه زه د نشراتي چارو له مسولینو څخه هیله من یم چــې ددې اثر د ګټورتیا له امله ددې اثر د چاپ لپاره هڅه وکړي.

په ډېر درنښت

پوهنوال احمدشاه زغم

د پښتو څانګې استاد

# بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

کره کتنه د ادبپوهنې یوه خورا مهمه څانګه ده. دنده یې دا ده چې ادبیات، د ادبیاتو له اساسي مسیره بلې خواته لاړ نه شي. (ادبیات) د (ادبیاتو) په توګه مطالعه شي، لوستونکي، لیدونکي، کتونکي، اورېدونکي او په خپله د ادبي پدیدې پنځونکي ته روښانه لاره وښیي، له تېروتنې یې بچ او د پرمختګ خراغ ورته بل کړي. د لیکوال وړه تېروتنه د هغه لویه خواري په سیند لاهو کولای شي. همدا کره کتونکی دی چې د لیکوال د فکر ثمر له خطره ژغوري. کره کتنه د (اوزون) د طبقې په شان هغه فلتر دی، چې د لمر وړانګې تصفیه کوي، د لمر خطرناکې وړانګې په همدې طبقه کې فلترېږي. یوازې همغه وړانګې یې ځمکې ته راځي، چې ټول بشري ژوند ته ثمر لري، خو خطر نه لري، که د اوزون دا طبقه نه وای، نو د لمر وړانګو به ځمکه ان د ژوند له نعمته هم ایستلې وای. کره کتنه هم داسې یو فلتر دی، چې د یو ادبي اثر نیمګړې او کمزورې برخې فلتر کوي او لوستونکو یا کتونکو ته یو روڼ او مثمر اثر وړاندې کوي. هر هغه لیکوال چې نه غواړي اثر یې له دې فلتره تېر شي، طبعاً چې له

تېروتنې سره مخامخ دی. کره کتنه نه یوازې په ادبــي برخــه کــې د ادبپوهنې د یوه مهم عنصر په توګه د کارونې وړ ده، بلکې په ټــولنیز ډګر کې هم د اساسي توکي په توګه کارول کېږي. انتقاد، نیوکه او په ټوله مانا کره کتنه د ولسواکۍ د یوه اساسي او رغنده توکي په توګه د بشري ټولنې د پرمختګ یو لوی لامل دی. زموږ ټولنه لکه څنګه چې په نورو برخو کې له پرمختللو ټولنو څخه شاته پاتې ده، پــه دې ډګــر کې هم لا مطلوبې پایلې ته نه ده رسېدلې.

په نړۍ کې د ادبي کره کتنې په باب تر شمېره وتي اثار لیکل شــوي، چې د هرې ټولنې کره کتونکو پرې د خپلو ټولنو ادبیات د لاپرمختګ لوري ته برابر کړي، خو زموږ په ټولنه کې زموږ د ادبیاتو د ټولیز حجم په انډول د کره کتنې برخه کمه ده، په بله وینا د ادبي اثارو په انډول د ادبپوهنې د اثارو شمېر کم دی. دا طبیعي خبره هم ده، ځکــه پــه ټولنه کې لیکوال او ادیبان زیات، خــو د ادبپوهــانو شــمېر کــم دی. ادبپوهنه یوه کسبي او مسلکي پوهه ده او د ادبیــاتو پنځونــه بیــا د ځینو کسبي زده کړو ترڅنــګ خــدایي، طبیعــي او فطــري پــوهې، استعداد او ذوق ته هم اړتیا لري.

داسې هم نه ده، چې زموږ په ټولنه کې د کره کتنې په برخه کې هېڅ اثار نه دي لیکل شوي؛ د هېواد د بېلابېلو لیکوالو له خوا په پښــتو او دري ژبه یو شمېر داسې کره کتنیز اثار لیکل شوي، چــې د نظــري او عملي کره کتنې دواړه برخې رانغاړي، وروسته به یې موږ پــه ترتیــب سره معرفي کړو. په کوزه پښتونخوا کې هم د کره کتنــې یــو شــمېر ځانګړي اثار لیکل شوي، دې اثارو زموږ د ادبیاتو په رڼاوي کې خپلــه

خپله ونډه لرلې ده، خو لا هم ددې اړتیا شته چې پــه دې ډګــر کــې لازیات کار وشي او نور سیستماتیک اثار رامنځته شي. له هغې ورځې چې په هېواد کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځی او بیــا وروســته پــوهنځي رامنځته شوي، نو ادبپوهنه د یوه ځانګړي مضمون په توګــه پــه دې پوهنځیو کې تدریسېږي. دا پوهه نه یوازې د یو ځانګړي مضمون پــه توګه لوستل کېږي، بلکې د هغــې درې واړه اساســي څــانګې ( ادب تاریخ، ادبي کره کتنه او ادب تیوري) هم د جلا جلا مضامینو په توګه تدریسېږي. د ادب تاریخ څو بېلابېل اثار، چې د پښتو ادب بېلابېلــې دورې تشریح کوي، لیکل شوي دي. دا اثار تر یوه حده د محصــلینو اړتیاوې پوره کولای شي او په دې برخه کې نورو اثارو تــه هــم اړتیــا شته، خو د ادبي کره کتنې او ادب تیورۍ په باب لا هم د نورو داسې اثارو کمی احساسېږي، چې له نویو علمي میتودونو سره ســم لیکــل شوي وي؛ تدریسي بنه ولري، د تحصیلي نصاب له مخې جــوړ شــوي وي او د ادبیاتو پوهنځیو د ادبپــوهنې د یــوې برخــې پــه توګــه دې تدریس شي. دا اثر چې اوس ستاسو په لاس کې دی، تر ډېره حده په کې کوښښ شوی چې په دې ډګر کې زموږ د علمي او فرهنګي ټولنې اړتیاوې تر یوه حده پوره کړي. ما په دې اثــر کــې هڅــه کــړې چــې محصلین خپله هم په کار ولوېږي او د کره کتنې په برخه کې عملي او نظري کار وکړي. دې کې هم شک نه شته چې د کره کتنې په برخــه کې یو ځانګړی اثر ټولو اړتیاوو ته ځــواب نــه شــي ویــلای، خــو پــه تحصیلي ډګر کې به دا اثر د محصلینو یو څــه غوښــتنې او اړتیــاوې ځواب کړي. لازمه به وي چې د تدریس پرمهال ددې اثر نیمګړتیــاوې څرګندې او هغه اړتیاوې هم په ګوته شي، چــې پــه دې برخــه کــې

احساسبږي. ددې اثر د بيا بيا چاپ په صورت کې به هغه نيمګړتياوې پوره کبږي او همدارنګه د کره کتنې د مضمون په برخه کې بــه ددې اثر ترڅنګ، د نورو نويو اثارو ليکلو هدف ته زمورږ د رسېدو لاره لنډه کړي. تر چاپ وروسته د هېواد له ټولو ليکوالو، قلموالو، کره کتونکــو، د ادب پوهنځيو استادانو او ګرانو محصلينو څخه هيلــه کــوم، چــې ددې اثر د بشپړتيا او غځونې لپاره ماته خپــل ګټــور او کــره کتنيــز نظريات راولبږي.

په همدې هيله

پوهندوی محمد اسمعيل يون

# لومړۍ څپرکی

# کره کتنه

د ادب، ادبپوهنې، ټولنپوهنې، بشــرپوهنې او نــورو ټــولنیزو علومــو تعریفونه د ساینسي علومو په شان کانکریټي نه دي، چې سل په سلو کې پرې توافق راځي. د ټولنیزو علومو او هنري پدیدو تعریفونه نسبي توافق ته نږدې وي؛ د منطــق، حقیقــت او واقعیــت یــو لــړ څرګنــد معیارونه په پام کې نیول کېږي او د همــدغو معیــارونو پــه رڼــا کــې تعریفونه جوتېږي. کره کتنه هم د ادبپوهنې د یوې مهمې څانګې پــه توګه د تعریف له دې حالته مستثنی نه ده. د کره کتنې پر تعریف هم لکه د نورو ادبي پدیدو په شان سل په سلو کې توافق نه شته، خــو د نظري او عملي کره کتنې د خصلت او محتوا له مخــې د کــره کتنــې جوهر، مانا او تعریف څرګندېدلای شي.

دلته به لومړۍ د کره کتنې لغوي، اصطلاحي مانا، اهمیت او اړتیا یــې، حدود او اداب یې په ترتیب سره وڅېړو او بیا به د کــره کتنــې نــورو برخو ته داخل شو:

## الف- د کره کتنې لغوي مانا:

(کره) په پښتو کې د (پوره)، (بشپړ) یا (مکمل) مانا لري، چې ضد یې نیمګړی او نابشپړ دی. یا هغه څه چې نیمګړتیا او عیب ونه لري. (کتنه) هم د (لیدنې) یا (مشاهدې) مانا لري او یا د هغو نسبي مترادف، خو دواړه کلمې چې سره یوځای شي، نو یو شی، څیز، شکل یا محتوا ته د پوره کتنې یا پوره څېړنې او پلټنې مانا ورکوي. په پښتو کې د ادبي او نورو اثارو د ارزونې لپاره د (کره کتنې) نومونه یا اصطلاح په همدې نیت کارول کېږي، چې هغه موضوع یا شی په هر اړخیز ډول وڅېړل شي. کره کتنې ته په عربي ژبه کې (نقد) وایي. نقد کلمه په حدیث شریف کې هم راغلې ده، په یو حدیث شریف کې راغلي چې: ((زید بن ارقم او براء بن عازب سپین زر په نقدو او پور رانیول، نو کله چې دا خبره نبي کریم(ص) ته ورسېدله، هغه امر وکړ: څه چې په نقدو دي ویې منئ او څه چې په پور دي ور رد یې کړئ.)) (۲۷: ۱۲۲).

د (نقد) کلمه نه یوازې د (نقدو) په مانا، بلکې وروسته د اصلي او جعلي یا اصلي او کوټه دینارو او درهمو د بېلولو په مانا هم وکارېدله او نقاد یې هم هغه چاته وایه چې اصلي دینار یې له کوټه دینارو څخه جلا کول. ځینو فرهنګونو یې لغوي مانا(( وینا پېژندنه، د خبرو سنجونه، رښتیني قضاوت او د ادبي اثارو ارزښت معلومونه هم راخیستې ده.)) (۲۶: ۳۱).

په پخوا زمانو کې پیسې له لویه سره دوه ډوله وې: د سپینو زرو پیسو ته یې (درهم) او د سرو زرو پیسو ته یې (دینار) ویل، کله کله به یې

په پيسو (دينار) کې جعل کاري کوله او مس به يې ورسره ګډول، په دې ډول به د سرو زرو معيار (کچه او اندازه) راټيټېده، تر یو څه مهاله به له سرو زرو سره د مسو دا ګډېدا په سترګو نه ښکارېده، تر یو څه وخت وروسته به مس لږ لږ تورېدل، ځکه به يې نو په غټو معاملو کې زر د صراف يا نقاد دکان ته وروړل، چې هغه يې د زرو د سوچه والي کچه وټاکي. په بازار کې به د صرافۍ ډېر دوکانونه وو، صراف يا نقاد به په محک ( د زرو د ازموينې توره ډبره) وهل، د هغو کوټه او کره به يې سره معلومول.

د نقد کلمه په پخوانيو متونو کې د عيب لټولو، د یوشي د پټ پټ ليدلو او یوه شي ته د پټ پټ کتلو، يا یوه شي ته تر سترګو لاندې کتلو او همدا راز د څه کار په اړه د مناقشې په مانا هم راغلې ده. نقد ته يې د ډېر ښه شي د غوره کولو، خبرتيا، فهم، موازنې او پرېکنده حکم ماناوې هم کارولي دي.

په دري ژبه کې کره کتنې ته د عربي په شان نقد ويل کېږي او کره کتونکي ته د (نقاد) کلمه کارول کېږي. که څه هم په فارسي کې (سخن سنجي) او (سخن شناسي) اصطلاحات هم کارول کېږي، په دري کې خو زياتره همدا د نقد کلمه کارول کېږي. ځينې کره کتونکي وايي ((د نقد لغوي مانا له ناکره و ښخه د کره و بېلول دي.)) (۱۹: ۲۵).

((کره کتنې ته په انګرېزي کې 'Criticism' )) په فرانسوي کې (Lacritque) او په الماني کې (Kritik) وايي. دا ټولې اصطلاحګانې د يوناني ژبې له (Krites) څخه، چې ((د حکم، نياوګر او قاضي)) مانا

ورکوي، مشتق شوي دي. د (Kritneina) کلمه چې د قضاوت او تميـــز مانا ښندي، له همدغې مادې څخه را اخيستل شوې ده.

(کرتيکيوس) هغه چاته ويل کېږي چـــې قضـــاوت او کـــره کولـــو کـــې مهارت ولري.)) (۱۵: ۸).

د پښتو (کره کتنه) هم تصادفاً د (کرتيکيوس) له اصطلاح سره لفظي ورته والی لري.

د نقد کلمې د پورتنۍ مانا له مخې، دا کلمه د جعلي او اصلي دينـــارو له معلومولو څخه ورو ورو د علم او ادب نورو برخـــو تـــه ولېږدېدلـــه. وروســـــته دا کلمـــــه د ليکوالـــــو او اديبـــــانو د کـــــارونو د څـــــارنې، تعقيب،ارزونې، د هغو د ليکنـــو د نيمګړتيـــاو د څرګنـــدولو او هـــم د سمون لپاره وکارېدله، څرنګه چې د نقد کلمه له (کره درهمو) څخه د (کوټه) هغو د لرې کولو لپاره کارېدله، نو په همدغه مانا د ادب د دواړو ډولونو: شعر يا نظم او نثر د کره کولو لپاره هم وکارېدله. پـــه دې مانـــا چې د يو ادبي اثر نيمګړتياوې څرګندوي، ګټورې او کره خواوې يـــې يوې خواته او نيمګړې يې بلې خواته سره جلا کوي او د عيبجنو برخو د سمون لپاره يې هڅه کوي. کره کتونکی بيا همغه چاته ويل کېـــږي چې دا عمليه تطبيقوي او بشپړوي يې.

## ب- د کره کتنې اصطلاحي مانا:

لکه څنګه چې په ټولنيزو علومو کې تعريفونه د ساينسي هغو په شان فکس نه دي، نو کره کتنه چې د ادبپوهنې يوه مهمه څانګه ده، ددې تعريف هم سل په سلو کې کوټلی او د ساينسي تعريفونـــو پـــه شـــان

فکس نه دی. موږ به دلته د بېلابېلو پوهانو له نظره د کره کتنې ځینې تعریفونه وړاندې کړو او بیا به په پای کې د هغو له منځه یو نسبي او پراخ تعریف ته هم اشاره وکړو. ځینې ادبپوهان وايي: [((کره کتنه، د شخصي ځکې یا د ښکلا پوهنې د متداولو معیارونو پر اساس د یوه هنري اثر اګاهانه ارزونې او کره کولو ته ویل کېږي.)) ډاکتر عبدالحسین زرین کوب، په خپل اثر (نقد ادبي) کې وايي: (( ادبي کره کتنه چې هغې ته وینا پېژندنه او د خبرو سنجونه هم ویل کېږي، د ادبي اثارو د ارزښت او قیمت پېژندنې او د هغو له شرحې او تفسیر څخه عبارت ده، په داسې ډول چې د هغو اثارو ښه او بد او منشا وپېژندل شي.)) (۱۷: ۵). (بریتا نیکا دایره المعارف) د کره کتنې په باره کې نسبتاً جامع تعریف وړاندې کوي، داسې لیکي: (( کره کتنه د هنرونو په باره کې یوه مستدله او سیستماتیکه مباحثه ده، چې د هغو تخنیکونه او محصولونه توضیح او ارزیابي کوي. په دې ترتیب کره کتنه له اسیتیتک کتنو، عکس العملونو او کره کولو سره توپیر لري.))

(امریکانا انسایکلو پېډیا) د کره کتنې په تعریف کې ایستیتکي تجربې ته ځای ورکړی دی. کره کتنه په دې ډول تعریفوي: ((د یوه هنري اثر تنقیح، ارزونې او له هغه څخه انطباع اخیستنه د ایستیتیکي تجربې یوه حتمي او ضروري برخه ده.)) د فرانسې نامتو لیکوال (ویکتور هوګو) د کره کتنې په باره کې وايي: ((دا اثر ښه دی که بد همدا د کره کتنې ساحه ده.))](۱۵: ۸-۱۹).

انګرېزي کره کتونکی او شاعر (میتیو آرنلډ) (Mathew Arnold) وايي: (( په نړۍ کې چې ډېرې ښې خبرې شوې دي او یا کوم ښه او غـــوره اندونه رامنځته شوي دي، د هغو د بـــې پـــرې پېژنـــدنې او عـــامونې د هیلې نوم کره کتنه ده.))

[ په ایټالوي دایره المعارف (Encyclopedia Italian) کـــې راغلـــي دي: ((کره کتنه د هغه عمل یا ذهني خوځښت نوم دی، چې د یوه شي یا ادبي ټوټې د هغو ځانګړنو امتیاز وکړي، چې ارزښت ولري.)) (اې اې. رچرډز) وايي: (( کره کتنه د یوه انصاف لرونکي لیکوال شننه، مدللـــه څېړنه او په پای کې د ښکلاییزو ارزښتونو په اړه پرېکړه کـــول دي.)) (ابرامز) وايي: (( ادبي کره کتنه د ادبي اثارو تعریف، توصـــیف، طبقـــه بندي، شننه او ارزونه ده)).

(کادن) وايي: ((ادبي کره کتنه هغه هنر یا علم دی، چې د ادبي اثـــارو پرتلنې، سپړنې او څېړنې، شننې، تفسیر او ځیرنې ته ځانګړی شوی دی.))

(احمد امین) وايي: ((کره کتنه د ادبپوهانو په اصطلاح د هر هنري اثر، چې موضوع یې ادب، یا انځور یا موسیقي وي، درسته ارزونه، دهغه د خپل ځاني ارزښت سپړنه او د هنر په ورشو کې د هغه د کچې ټاکنـــه ده. هغه ملکه چې دغه ارزونه رامنځته کوي، ذوق دی او دا ذوق کوم بسیط او ساده شی نه دی، بلکې له ډېرو شیانو څخه مرکب دی، چې ځینې یې د عقل له قوې او ځینې یې د شعور له قوې څخـــه عبـــارت دي.))

(دکتور هاشم صالح مناع) وايي: ((کره کتنه د هنري کار ارزول، له هر اړخه د هغه ارزښت ټاکل او پر هغه باندې د اغېز ښـــندونکو عواملـــو شنل، سپړل، علت ښودل، پېژندل او د هغه د مثبتو او منفي خـــواوو څرگندول او بیا پر هغه باندې حکم کول دي.))

(پوهاند عبدالقیوم قویم) وايي: ((ادبي کره کتنه دنده لـري، چـې د ادبیاتو زېږوني تحلیل او ارزښت يې څرگند کړي، د ادب د روان بهیر تاریخي ریښې مشخصې کړي. راتلونکې پرمختیا يې وټاکي او ځای او اغېز يې د ادبي وضعې د لوړاوي لپاره جوت کړي. ادبي کره کتنه پـه حقیقت کې د مهال د ډېرو مهمو ادبي پېښو پر وړاندې عکس العمـل او د هغو د ارزښتونو ټاکنه ده.))] (۲۷: ۱۲۷-۱۳۱).

(استاد حبیب الله رفیع) وايي: ((کره کتنه د ادب ساه او ورح ده، کـه کره کتنه نه وي، ادب مري او که ژوند ولري هم، نـو ادب ژونـدی نـه گڼل کېږي، کره کتنه معراج او معیار ته د ادب د رسېدو لاره ده، که دا لاره شاړه وه، نو بیا له ادب نه د معیار توقع مه لرئ.))

روسي کره کتونکی (کولیشوف) وايي: [((کره کتنه د اوسنۍ زمانې او د هغې د څېړنو روح جوړوي. اوس هر څه کره کتنې پورې اړه لري، ان په خپله کره کتنه.))

ستر روسي شاعر (الکساندر پوشکین) وايي: ((کره کتنه هغه پوهه ده چې په هنري ادبي اثارو کې ښکلاوې او نیمگړتیاوې رابرسېره کوي.))

بل نامتو روسي کره کتونکی (گریگوریوویچ بېلنیسکي) وايي: ((کـره کتنه د ټولنیزو عقلي قوانینو روح دی. کره کتنه د ښکلا خوځوونکې

او لمسوونکې ده، دغه خوځون باید نه یوازې دا چې د هنـري اثـارو کچه وټاکي، بلکې په لوستونکو کې باید د ذوق د روزنـې دنـده هـم ولري.))](۵: ۱۸). دا ټول او دېته ورته نور تعریفونه که راټول کړو، نو د کره کتنې په باب ویلای شو: کره کتنه هغه علم دی چې پـه نـاپېیلي ډول له هر پلوه د یو ادبي اثر، څېړنه، شننه، ارزونه او تلنـه کـوي، د هغه کره او ناکره خواوې سره بېلوي او د نیمګړو خواوو د کـره کولـو حل لارې هم په ګوته کوي.

## ج- د کره کتنې اهمیت:

د کره کتنې اهمیت د هغـې لـه تعریـف او یـا لـه تعریفونـو څخـه څرګندېږي. کره کتنه د یوه اثر ارزښت معلوموي او له بېلابېلو خـواو هغه تحلیلوي او ارزوي یې، کله چې د یوه هنري اثر ارزښـت معلـوم شو، بیا یې مونږ پر ماهیت او اهمیت پوهېږو، کره کتنه د یو اثر لیکوال له نیمګړتیاوو او تاریکیو ژغوري او سمې لارې ته د هغـه لارښـوونه کوي، کره کتنه د اثر سم او بشپړ پوهاوي لپاره لاره اواروي، له شـاعر او لیکوال سره د هغه د کار په پرمختیا کې مرسته کـوي، د یـوه اثـر عیبجنې برخې په ګوته کـوي او حـل لارې ورتـه ورښـیي. د ایـران نومیالی کره کتونکی (ډاکټر زرینکوب) وایي: ((که چېرې نیوکـه پـه منځ کې نه وي د هنري اثارو رښتینی ارزښت نه معلومېږي، که چېرې په خپل وخت کې د هنر خطا و سیر معین نـه شـي، ورو ورو ادب او هنر له ځنډوخنډ سره مخامخېږي او دې سره د تقلید په پېچومو کې خپله لاره ورکوي.))(۱۷: ۲۸). د ټولنې د هر ډګر لپاره د کـره کتنـې شتوالی خورا مهم دی. هغه ټولنې چې ځان یې له کـره کتنـې سـره

روږدی کړی، ځانته یې د پرمختګ لارې پرانیستې دي. کره کتنه په اشخاصو، ټولنو، علمي او فرهنګي مرکزونو، پوهانو او لیکوالو کې د زغم روحیه روزي. د زغم روحیه او د یو بل زغمل په ټولنه کې د کړکېچ د مخنیوي سبب ګرځي، په لیکوالۍ کې هم د کره کتنې اهمیت خورا زیات دی. کره کتنه دومره مهمه ده لکه یو زرګر چې زرو ته ځلا او ښکلا ورکوي، زر خو پرته له هغه هم زر دي، خو کله چې زرګر هغه ته اب یا ځلا ورکړي، نو ښکلا یې څو ځله زیاته شي. که یو ادبي اثر هم د کره کتنې له فلتره تېر نه شي، نو که هر څومره محتوایي پانګه ولري، د ښکلا عنصر به یې کمزوری وي. کره کتنه نه یوازې د یو اثر شکلي اړخ ته پاملرنه کوي، بلکې محتوا یې هم څېړي، شکلي ښکلا او محتوایي سمون د کره کتنې پاتې کار دی. کره کتنه یو ادبي اثر داسې صیقلوي لکه زرګر چې زرو ته ښکلا ورکوي. مخکې تر دې چې یو هنري ادبي اثر ولس ته وړاندې شي، باید د کره کتنې له فلتره تېر شي. اکثره لیکوال چې د کره کتنې پر اهمیت پوه دي، مخکې تر دې چې خپل اثر خپلې ټولنې ته وړاندې کړي، د کره کتنې عملیه پرې تطبیقوي. کره کتنه د یوه هنري ادبي اثر د تائید، تثبیت او ثقه والي وروستی پړاو دی.

## د- د کره کتنې اړتیا:

په انساني ټولنه او د علومو په هره برخه کې هر شی د یوې اړتیا له مخې رامنځته کېږي، که په یوه ټولنه کې د یو شي ضرورت نه وي، اصلاً هغه شی رامنځته کېږي نه. کره کتنه هم د ادبیاتو په ګډون د ژوندانه د ټولو ډګرونو یوه مهمه اړتیا ده. همدا کره کتنه ده چې د

ادبي پديدې په ګډون د ژوند د هرې بلــې ښــکارندې د نیمګړتیــاوو مخه نیسي، د رڼاوي، پرمختګ او بشپړتیا لارې چارې ورته برابروي. د کره کتنې له ګټې سره سره بیا هم ځینې کسان شته چې د هغې پــه باب اعتراض لري او دا داسې یوه پدیده ګڼي چې تر ګټې یې زیانونــه زیات دي.

ځینې کسان کره کتنه یو تعمیري عمل نه، بلکې یــو تخریبــي کړنــه ګڼي او ځینې یې د ازاد تخلیق پر وړاندې لوی خنډ ګڼي. خو لــه دې اندېښنو سره سره کره کتنه پر خپل وخت او ځای ډېر ارزښت لــري، هر وخت ورته اړتیا وه، ده او وي به، که په سمه توګه وکارول شي، نو تر زیانونو یې ګټه څو ځله زیاته ده. کره کتنه داسې یــوه وســیله ده؛ چې حقایق راسپړي، لوستونکي او کتونکي د ادب روح ته ننباسي، د ادبیاتو روح او ماهیت تشریح کوي، ارزښــتونه یــې ټــاکي، نیمګــړي اړخونه یې بشپړوي او د لا بشبړاوي لپاره یې لارې چــارې پــه ګوتــه کوي. کره کتنه نه یوازې د لوستونکو لپاره کار اسانوي چې د یوه اثــر یا پدیدې تل ته کوز شي، بلکې خپله د لیکوال او پنځوونکي لپاره هم د لارښود حیثیت لري. لیکوال هم اړ دی چې یو څوک ورته لارښوونه وکړي. لیکوال اکثره د ولولو تر چتر لاندې یوه لیکنه رامنځته کوي او کره کتونکی د علم په وسیله یو اثــر څېــړي، چــې پــه هغــه کــې د احساساتو برخه کمه او د علم برخه درنه ده، نو کره کتنه د یوه علــم په توګه ددې زمینه برابروي چې لیکوال له تېروتنو وژغوري.

(هوراس) وايي: (( کره کتنه په ټولنه کې د هغه ګرځنده اعــلان نــوم دی چې د خلکو اشعارو او تالیفاتو ته پام کوي او خپل قــام د هغــو د

اثارو کتنې او مطالعې ته هڅوي او د دوی د تالیفاتو ادبــي او ثقــافتي سویه برابروي.))

((کره کتنه په واقعیت کې پر عامه افکارو د اغېز له لارې، د لیکوالو او لوستوالو پر افکارو او عقایدو هم تاثیر کــوي او پــه دې ډول د ادبــي بدلون تګلوری څرګندوي او روښانوي.)) (۱۷: ۳۴).

## هـ- د کره کتنې بریدونه:

کله کله چې له کره کتنې څخه وېره احساسېږي، یو علت یــې دا دی چې د کره کتنې حدود یا بریدونه تر پښو لاندې کېږي، د کره کتنــې اصول نه مراعتېږي، معیارونو ته یې پام نه کېږي، کله چې د کره کتنې اصول تطبیق نه شي او د هغې تر بریدونو، حدودو او معیــارونو پښــه واوړي، نو طبیعي ده چې کره کتنه هم خپل ارزښت له لاسه ورکوي، نه یوازې مثبت تاثیرات نه لري، بلکې منفي اغېز هم ښــندي او لــه غبرګون سره هم مخامخېږي. کله چې کره کتونکی پر یــو ادبــي اثــر باندې بحث کوي، نو که پر اثر باندې د بحث پرځای د هغه پر لیکــوال یا پنځوونکی بحث پیل کړي او کله که د هغه شخصي حریم ته داخل شي، نو دلته ویلای شو چې د کره کتنې حدود مات شول. د لیکوال پر کرکټر او چلند بحث یوه جلا موضوع ده او د هغه اثر یوه جلا، البته کله کله داسې وي چې د لیکوال کرکټر په مستقیم او نامستقیم ډول د هغه په اثر کې ځلېږي، یا د هغه په اثر کې د راغلو کرکټرونو تر شــا پټ وي، کله چې کره کتونکی ددې اتلانو شخصیت تشــریح کــوي او هغو ته منطقي ځوابونه پیدا کوي، مجبور دی د لیکوال د شخصــیت څېړنې ته هم تم شي، له کرکټرونو سره د لیکوال پر روحي او اروایــي

رابطې پوهېدل هم د تشریحي کره کتنې لپـاره ضـروري ده، خـو دا تشریح او توضیح تر هغه حده نه ده چې د اثر تـر تشـریح د لیکـوال تشریح زیاته شي. کره کتنه د شخصیتونو سـپکاوي تـه اجـازه نـه ورکوي، کره کتونکي ته یوازې د هغو پرنسپونو په رڼا کې د یـوه اثـر تشریح، توضیح، سمون او رغونې جواز شته چې د اثر لـه بشـپړاوي سره مرسته کولای شي.

کله کله داسې هم پېښېږي چې د یوه اثر کره کتنه، د کره کتنـې لـه محوره وځي او د نورو علومو برخې ته داخلېږي، د یـوه اثـر عـاطفي هنري څېړنه چې خپله د یوه ادبي اثر بنه خپلوي، هم د کره کتنې له بریده وځي. پر دې ټول متفق دي، چې کره کتنه علـم دی او د یـوه ادبي اثر پنځونه هنر- د ادبي اثر ژبه له علمي ژبې سره توپیر لري. په علم کې عواطفو، احساساتو، تخیل او زیاتو ولولو ته اړتیا نه شته، خو د یوه ادبي اثر په پنځونه کې دا توکي ضروري دي.

ناپېیلتوب، ناتبعیضي، ځیرتیا، پوهه، د موضوع تعقیب او د پرنسیپونو تطبیق، د کره کتنې اصول، معیارونه او بریدونه دي. د کره کتنـې پـر وخت باید دا ټول په پام کې ونیول شي. که چېرې دا حدود عملي نـه شي، نو کره کتنه خپل اصلي هدف ته نه شي رسېدلای.

## و- د کره کتنې اداب:

د کره کتنې اصـلي هـدف د یـوه اثـر سـمون، ښـکلا زیاتونـه او د نیمګړتیاوو له منځه وړنه ده. توهین، تحقیر، سپکاوی د کره کتنې په آدابو کې ځای نه لري. د کره کتنې آداب دا دي چې یو اثر په داسـې

توګه وارزول شي، چې لیکوال یا پنځوونکی هغه د اثر د بشــپړاوي او سمون لپاره یوه نېکه هڅه وګڼي، نه د خپل ځان سپکاوی. هــر کلــه چې لیکوال پر دې باوري شي، چې کره کتنه دده لپاره په ګټه ده، نــو هغه هېڅکله له کره کتنې ســره حساســیت نــه ښــیي. د کینــې او حساسیت مسله هغه وخت رامنځته کېږي، چې د کــره کتنــې آداب مراعت نه شي، له موضوع وتل، د عقدې څرګندول، په قصــدي ډول ځنګزني مسایل مطرح کول او په شعوري توګه د یوه اثر غندل، نــه د کره کتنې په اصولو کې راځي او نه یې په آدابو کې. لکه څنګه چې په ټولنیزو، سیاسي او مذهبي چارو کې سالم اخلاق د یوه رغنده عنصر په توګه مطرح دي، دغسې د کره کتنې په آدابو کې هم اخلاق یو مهم عنصر دی. له اخلاقو څخه هدف همغه ټولنیز قراردادونه دي، چــې د هغو په مراعتولو سره په ټولنه کې عامه نظم ټینګېږي، د ټولنې د ټولو وګړو پرې توافق وي، په تطبیق سره یې بل چاته زیان نه رسېږي او هر شخص د هغو په رڼا کې خپل ځان خوندي احساســوي. د ټــولنیزو او کره کتنیزو اخلاقو په رعیت سره تر کره کتنې لاندې شــخص خپــل هویت او شخصیت خوندي احساسوي او د کره کتنې پر وړاندې منفي غبرګون نه ښیي. بې ځایه خواخوږي او تــر علمــي اصــولو د پورتــه احساساتو څرګندونه هم د کره کتنې په آدابو کې نه راځــي. دا کــار لیکوال بې ځایه غرور او کاذب شهرت ته هڅوي. خپله د کره کتونکي لپاره هم په دې پلمه چې څه نو د قلم توره زما په لاس کې ده او هــر

څه چې وایم وروستی حد زه یم، دا هم د کره کتنــې آداب او اصــول زیانمنوي. همدا د کره کتنې له اصولو او آدابو څخــه ســرغړونې دي، چې د یو بل علم او عمل ضرورت هم رامنځته کوي، (پر کره کتنې کره کتنه). که په (لومړۍ کره کتنه) کې ټول اصول او آداب مراعت شــي، نو دویمې هغې ته اړتیا نه پېښېږي. خو د ځینو کره کتونکو تېروتنــو دېته لاره اواره کړه، چې پر (کره کتنې) د (کره کتنې) اړتیا رامنځتــه شي.

د هېواد نومیالی کره کتونکی کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي د کره کتنې د آدابو په باب وایي: [کره کتنه د اشتباهاتو د سمولو او د نیمګړتیاوو د لرې کولو یوه اغېزمنه او ګټوره طریقه ګڼل کېــږي. هــر هغه څوک چې د خپل شخصیت له بشپړولو او تکامــل ســره علاقــه لري، باید د خپل زړه دروازې د انتقاد لپاره خلاصې پرېږدي، هــم پــر خپل ځان انتقاد وکړي او هم د نورو انتقاد ته غــوږ کېــږدي، بشــري تفکر همېشه د ودې په حال کې دی، هېڅوک په زغرده نه شي ویلای چې دده مفکوره وروستنۍ او بشپړه مفکوره ده. د بشري تفکر بهیــر مخ پر وړاندې روان دی، علوم او هنرونه خپلې ساحې پراخوي او هــر وخت د پوهې په سمندر کې نوې نوې مرغلرې لاس ته راځي. پــر دې اساس هېڅوک ادعا نه شي کولای چې دی لــه اشــتباه او تېروتنــې څخه کاملاً مصئون دی.

یو چا په دې برخه کې ډېر ښه ویلي دي: ((پوه سړی هغه نه دی چې اشتباه ونه کړي، ځکه هر څوک اشتباه کوي، بلکې پوه شخص هغه دی چې د خپلې اشتباه تلافي وکړي.)) پښتانه یو متل کوي چې: (ارمان چې وروستی عقل ړومبی وای) ددې خبرې مانا داده؛ چې انسان د تجربې په اثر نوي معلومات ترلاسه کوي او پوهه تکامل کوي. سربېره پر دې انسان د نورو پر اعمالو هم قضاوت کوي او له قضاوت کولو څخه ډده نه شي کولای. د هر فرد د ذهن په محکمه کې یو قاضي ناست دی، ځینې کارونه او حرکتونه ښه او ګټور بولي او ځینې نور بد او زیان رسوونکي بولي. موږ هرومرو په یوه پایله سوچه قضاوت او انتقاد کوو، دا شرط نه دی چې انتقاد دې هرومرو منفي اړخ ته متوجه وي. همدا چې له یوه هنري اثر څخه خوند واخلو په حقیقت کې مو پر هغه باندې له ځان سره یو انتقاد کړی دی. ادبي کره کتنه د ادبي اثارو په برخه کې اګاهانه او سیستماتیک قضاوت ته ویل کېږي، چې د هغې په وسیله د یوه اثر ښه والی او بدوالی، کره توب او ناکره توب، ښکلا او بدرنګي، خوندورتوب او بېخوندي څرګندېږي، ادبي کره کتنه ځانته ټاکلي موازین او معیارونه لري، که چېرې کره کتونکي د ادبي کره کتنې آداب مراعات نه کړي، کره کتنه به خپل ارزښت له لاسه ورکړي. هغه کره کتنه چې پر شخصي عقدو، کسات اخیستلو، د شخصیت سپکاوي، کنځلمارۍ او ځان ښودنې باندې بنا شوي وي، ښایي ډېره ژر رسوا شي. دغه ډول کره کتنه چې د یوه شخص د

توهین او تعجیز په منظور نه وي لیکل شوې او هدف یې لاربنوونه وي، د فرهنګ د سطحې په لوړولو کې مرسته کوي او د ادب او پوهې د ودې او پراختیا لپاره لاره هواروي. که داسې نه وي کره کتونکی به خپل مخ په هنداره کې وګوري او له انعکاس څخه به یې خوند وانخلي. ډېر ځله لیدل شوي چې یو مؤدبانه انتقاد په تشکر سره منل شوی دی او بالعکس ډېر معقول انتقادونه چې د تذلیل په غرض لیکل شوي دي، په کنځلو سره مقابله شوي دي. نو که چېرې موږ غواړو د کره کتنې دروازه خلاصه کړو باید د کره کتنې آداب په نظر کې ونیسو. د مثال په توګه، کله چې د یوه شخص نظر زموږ لپاره د منلو وړ نه وي ددې پرځای چې ووایو د پلاني نظر غلط دی، ویلای شو چې د محترم .... صاحب نظر زما په فکر د تامل وړ دی. یا دا چې د پلاني صاحب نظر داسې دی، خو زه په خپله بل ډول نظر لرم. له بده مرغه ډېر ځله لیدل شوي، چې په کره کتنه کې د مفکورو ترمنځ معارضه د شخصیتونو ترمنځ د مقایسې او مقابلې بڼه غوره کوي.]

(۱۶: ۱۱۴۰-۱۴۳).

# د لومړي څپرکي لنډیز

کره کتنه: کره کتنه په پښتو کې د (پوره) (بشپړ) یا (مکمل) مانا ورکوي. د نقد کلمه په پخوانیو متونو کې د عیب لټولو، د یو شي د پټ پټ لیدلو او یو شي ته د پټ پټ کتلو، یا یو شي ته تر سترګو لاندې کتلو او همدا راز د څه کار په اړه د مناقشې په مانا هم راغلې ده. نقد ته یې د ډېر ښه شي، د غوره کولو، خبرتیا، موازنې او پرېکنده حکم ماناوې هم کارولي دي.

کره کتنه له اصطلاحي پلوه هغه علم دی، چې په ناپېیلي ډول له هر پلوه د یوه ادبي اثر څېړنه، شننه، ارزونه او تلنه کوي، د هغه کره او ناکره خواوې سره بېلوي او د نیمګړو خواوو د کره کولو لپاره یې حل لارې هم په ګوته کوي.

د کره کتنې اهمیت په دې کې دی، چې د یوه ادبي اثر ارزښت معلوموي، لیکوال له نیمګړتیاوو ژغوري او د یوه ادبي اثر په اړه سم پوهاوی رامنځته کوي.

د کره کتنې اړتیا په دې کې ده، چې لیکوال او لوستونکي دواړو ته لاره ښیي، که کره کتنه نه وي، د لیکوال د تېروتنو سمون به څنګه

کېږي، د یو عالم په وینا: ((کره کتنه په ټولنه کې د هغه ګرځنده اعلان نوم دی، چې د خلکو اشعارو او تالیفاتو ته پام کوي او خپل قام د هغو د اثارو کتنې او مطالعې ته هڅوي او د دوی د تالیفاتو ادبي او ثقافتي سویه برابروي.))

کره کتنه خپل بریدونه او معیارونه لري، ناپېیلتوب، بې تعصبي، ځیرتیا، پوهه، د موضوع تعقیب او د پرنسیپونو تطبیق، د کره -کتنې اصول، معیارونه او بریدونه دي. د کره کتنې پر مهال د کره کتنې د اصولو او معیارونو تطبیق خورا مهم دی، که هغه تطبیق نه شي، کره کتنه له خپل اصلي مسیره وځي او د هغې پر وړاندې حساسیت راپیداکېږي.

په کره کتنه کې د هغې د ادابو مراعتول خورا مهم دي، په کره کتنه کې د چا شخصي توهین، سپکاوي او رټنې ته ځای نه شته، کره کتنه د نیمګړتیاوو د لرې کولو یوه اغېزمنه او ګټوره طریقه ګڼل کېږي. په کره کتنه کې سالمه، خوږه ژبه د کره کتنې د ادابو له جملې څخه ده. که په یوه کره کتنه کې د هغې علمي اصول، معیارونه، اداب، ژبه او نور اړونده توکي په پام کې ونه نیول شي، نو یوه سالمه کره کتنه نه شي رامنځته کېدلای.

# د لومړي څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱- د کره کتنې لغوي مانا څه ده؟
۲-د کره کتنې پر لغوي مانا نور څه زیاتولای شئ؟
۳-په پښتو کې د (کره کتنې) نومونه، د (نقد) لپاره مناسبه ده واضح یې کړئ؟
٤-کره کتنه له اصطلاحي پلوه څه ماناوې لري؟
٥-کولای شئ پر یادو تعریفونو څو نور تعریفونه ورزیات کړئ؟
٦-ستاسو په نظر د کره کتنې کره تعریف کوم یو دی؟
۷-ایا کولای شو په ادبپوهنه او ټولنپوهنه کې د هرې اصطلاح لپاره یو بشپړ تعریف پیدا کړو؟
۸-کره کتنه څه اهمیت لري؟
۹-ایا زموږ په ټولنه کې د کره کتنې د اهمیت پېژندلو لپاره پوره کار شوی دی؟
۱۰-د کره کتنې اړتیا څه ده؟
۱۱-که کره کتنه نه وي، د ادبیاتو برخلیک به څنګه شي؟
۱۲-د کره کتنې بریدونه کوم دي او څه وخت ماتېږي؟
۱۳-که د کره کتنې آداب مراعت نه شي، د لیکوال او کره کتونکي ترمنځ د څه شي د پېښېدو اتکل کېدی شي؟

# سپارښتنې

- استاد دې محصلینو ته ددې څپرکي د بېلابېلو عنوانونو او په هغو کې د راغلو غټو محتویاتو د زیاتې توضـیح، څېړنــې، شــننې او ارزونې په خاطر، جلا جلا کورنۍ دندې او سیمینارونه وسپاري.
- استاد دې د ټولنیزو پدیدو په اړه د واحد تعریف د نشــتوالي علتونه محصلینو ته څرګند کړي.

# دویم څپرکی

# د کره کتنې پیدایښت

د کره کتنې د پیدایښت په هکله د ادبپوهانو په نظرونو کې اختلافات لیدل کېږي، لکه د ځینو تاریخي او نورو ادبي او ټولنیزو پدیدو په شان د کره کتنې دقیق تاریخ هم څرګند نه دی. ((د ځینو ادبي تیوریسنانو په نظر ادبیات او کره کتنه یو ځای منځته راغلي دي، ځکه هر وخت چې شعر ویل شوی دی او یا ډرامه ښودل شوې ده، هرو مرو یې پر اورېدونکو او لیدونکو باندې یو ډول اغېزه کړې ده)).

څرنګه چې کره کتنه په خپله ساده بڼه کې د یوه ادبي اثر په مقابل کې د عکس العمل څرګندولو ته ویل کېږي، نو طبعاً هر چېرې چې ادبیات دي، هلته کره کتنه هم شته. اما ځینې نور له دې نظر سره پوره موافقه نه کوي، ځکه چې د دوی په پوهه، کره کتنه یوه اګاهانه او سیستماتیک عکس العمل ته ویل کېږي. د لومړني کره کتونکي د پېژندلو په باب د ادبي مورخانو ترمنځ اختلافات لیدل کېږي، د ځینو په عقیده کره کتنه په لرغوني یونان کې تر میلاد شپږ پېړۍ مخکې منځته راغلې ده. وایي چې (زنیوفنیز) او (هراکلیتس) یوناني فیلسوفانو به د نامتو شاعر (هومر) پر شعرونو باندې اخلاقي ایرادونه نیول او نورو له (هومر) څخه دفاع کوله. په دې ترتیب په لرغوني

یونان کې د مريي ساتنې په اجتماعي- اقتصادي فورماسیون کــې د کره کتنې زړی زرغون شو او ورو ورو یې وده وکړه.

(پیزمیسترات) د (اتن) نـامتو ســردار او دیکتــاتور (۶۰۰-۵۲۵ ق.م) ظاهراً لومړنی شخص دی، چې د کره کتونکي په توګه یاد شوی دی. د ځینو نورو په عقیده (فیلیتاس philitas) چې په څلورمه قبل المــیلاد پېړۍ کې يې ژوند کاوه، لومړنی کره کتونکی دی چې یونانیانو د شاعر او کریتیکوس (Kritikos) په نامه یاداوه، سربېره پر دې هغه وخت چې په یونان کې شعر او ډرامه د ترقۍ لوړې څــوکې تــه وختــل او ادبــي مسابقې پیل شوې، د (ارخونانو) په نامه قاضیان وټاکل شــول، چــې ډرامې ارزیابي کړي او تر ټولو ښې ډرامې ته جایزه ورکــړي. (ارخــون archon) په حقیقت کې د کــره کتــونکي بــل نــوم و. وایــي چــې د (سوکرات) فیلسوف په زمانه کې د (اریستوفان) پــه نــوم یــوه کــره کتونکي ژوند کاوه، چې په نقد او د طنز په لیکلو کې یې پوره مهارت درلود. یوناني فیلسوف (اپلاتون) د ارسیتوفان نوم داسې یــادوي: (( کله چې د ذوق خاوندانو د خپلو ځانونو لپاره نه ړنګېــدونکی معبــد لټاوه، دوی د ارستوفان نوم خوښ کړ.)) که څه هم (اپلاتون) د خپــل استاد (سوکرات) ډېر درناوی کوي او له هغه څخه يې سخته دفاع هم کړې ده، لیکن د ارستوفان په مقابل کې چې پــر (ســوکرات) بانــدې ملنډې وهي، لــه عالمانــه زغــم او پــراخ نظــرۍ څخــه کــار اخلــي. (ارستوفان) د (وریخو) او (چونګښو) په نامه دوه ډرامې لیکلي، چــې په هغو کې یې پر (سوکرات) فیلسوف او (یوریپدیز) ډرامه لیکــونکي باندې انتقادونه کړي دي، له دغو ډرامو څخه ښکاري چې په لرغوني

یونان کې شاعرانو او ډرامه لیکونکو کـولای شـول چـې پـر اربـاب الانواعو، واکمنانو، شاعرانو، فیلسوفانو او حتی د حـرم پـر مېرمنـو باندې په ډېره بېباکۍ انتقاد وکړي.

(اپلاتون) په خپل اثر (جمهوریت) کې پر (هومر) او ځینو نورو شاعرانو باندې انتقادونه کړي دي. (اپلاتون) د ښوونې او روزنې د فلیسوف په توګه د (هومر) د اشعارو هغه اړخونه غندلي دي، چې د ماشومانو پـر سلوک باندې ناوړه اغېزه کوي او هغو ته د درواغو، ټګـۍ او غولـونې درس ورکوي.))(۱۵: ۱۷-۱۹). لکه څنګه چې مو په پیل کـې یادونـه وکړه، یو زیات شمېر کره کتونکي او ادبپوهان په دې نظر دي چې کره کتنه له یو ادبي اثر سره هممهاله رامنځته شوې ده. د دوی په نظر (( د ادبي کره کتنې هنر د انسان په ژوند کې د نورو ادبي فنونو غوندې لرغونی دی، خو ددې هنر اصول او مبادي ډېر مهال وروسته د نـورو فنونو له راڅرګندېدو سره او د وګړو د تفکر او عقایـدو د ملکـې لـه ودې سره تړاکل شوي دي. تر ټولو لومړی، لیکوال یا شاعر د خپلو اثارو د تخلیق پر مهال پر هغو کره کتنه کوي او په خپل اند سمون وربښي، بیا چې دغه اثار ټولنې ته وړاندې شوي دي، عام وګړي او پوهان ځنې متاثر شوي دي او هرو مرو یې د هغو د ښېګڼو او بدګڼو په ګوته کولو سره کره کړي هم دي.)) ځینې پوهان کره کتنه د خپل پیدایښت لـه مخې پر دوه ډوله وېشي: (( یوه هغه کره کتنه  ده چې د هنري اثـر د زېږونې پر مهال د هنرمند له خوا ترسره کېږي او بله هغـه ده چـې د هنري اثر تر بشپړونې وروسته د نورو له خوا ترسـره کېـږي. پـه دې

حساب ویل کېدی شي چې کره کتنه د ادبي اثارو له رامنځته کېدو سره یوځای رامنځته شوې ده.))

ددې ترځنګ ځینې پوهان په دې نظر دي چې کره کتنه تر (ادب تاریخ) دمخه رامنځته شوې ده، د دوی په نظر ادب تاریخ هغه وخت لیکل کېږي، چې د هر ولس ادبي میراث راټول یا غونډ شي. خو د عملي کره کتنې چې منظم لیکلي اسناد او اثار ور څخه پاتې دي، اکثره پوهان په دې نظر دي، چې د نقد عملي بېلګې له لرغوني یونان څخه پیلېږي تر یونان وروسته د روم یادونه هم کېږي.

د یونان د قدامت په هکله یو ادبپوه (ډاکتر وهاب اشرفي) وايي: (( د حیرانتیا خبره ده چې د دوو دوونیمو زرو کالو په تېرېدو سره بیا هم د (افلاتون)، (ارسطو)، (هودیس)، (لان جینوس) او نورو پر ادبي سترتوب باندې د مهالونو دوړې نه دي لوېدلي. د هغو د لیکنو له لوستلو پرته د ادبي کره کتنې څېړنه ترې پاتې کېږي او له کره کتنې پرته پر ځینو بنستیزو او اهمو ربړو باندې د غور او اند بصیر نه رامنځته کېږي.))(۲۷: ۲۷۷).

ډاکتر زرین کوب وايي: (( په هنر او ادبیاتو کې د یونانیانو پرمختګ او سترتوب د نړۍ د ولسونو په تاریخ کې له ډېرو عجیبو چارو څخه شمېرل کېږي. ددې ولس عقلي خوځښت او د ښکلا د ښکارندو له ادراک سره د دوی تل تر تله مینې او علاقې د هنري ابداعاتو نوي نوي ډولونه رامنځته کړي دي. د دې ولس نبوغ او حیرانوونکی استعداد د نړۍ د تمدن او فرهنګ په بشپړتیا او پراختیا کې ستره او مهمه برخه لري. په شعر او ا دب کې یونان یوازینی هېواد دی چې د

منظم، پرله پسې بدلون او غوړېدو خاوند دی او د ټولنیزې بشپړتیا په هر پړاو کې يې هغه اثار او انواع چې د بدلون د اړوندې لړۍ غوښتنه وي، رامنځته کړي دي)).

د روم ولس د ادبیاتو پیل له هغه مهاله بولي، چې رومیانو یونان وینو او د یونان تمدن او فرهنګ، د دویمې میلادي پېړۍ په شاوخوا کې په دې ولس کې خپور شو. تر دې دمخه ان هغوی نه پوهېدل چې شعر څه ته وايي، په دې توګه لاتیني ادبیات رامنځته شول او روم هم د یونان غوندې په تمدن او فرهنګ کې شهرت پیدا کړ.

د قاهرې پوهنتون استاد (احمدالشایب) هم په خپل اثر ((اصول النقد الادبي)) کې وايي: ((یونانیان له همغو لومړیو وختونو څخه د حس له دقت او د ژبې له طلاقت څخه برخمن وو او د لفظ، مانا، وزن او انشا په اړه به يې د خپلو شاعرانو د شعرونو نیمګړتیاوې او ښېګڼې په ګوته کولې)).

څکه نو ادبپوهان او کره کتونکي د کره کتنې تاریخ له یونان څخه راپیلوي.

## ۱- کره کتنه په زاړه یونان کې:

لکه څنګه چې د کره کتنې د پیدایښت په بحث کې مو وویل، د کره کتنې لومړي لاسته راغلي اثار ښيي، چې پخوانی یونان ددې علم لومړنۍ زانګو ده او لومړني معلوم کره کتونکي او کره کتنې په همدې ځای کې راټوکېدلې دي. نو موږ هم غواړو لومړی د کره کتنې دې لومړني ټاټوبي او په هغه کې د کره کتنې څرنګوالي ته تم شو:

[(اپلاتون) په خپل اثر (ایون) کې شعر ته د یوه لاهوتي موهبت په نظر ګوري او وایي چې ((شاعر د تفکر او تامل له مخــې شــعر نــه وایــي، بلکې، د (میوز muse ) رب النوع خپلې خبرې مور ته د شــاعرانو لــه خولې اوروي. کله چې شاعران شعر وایي، نــو دوی پــه خپــل اصــلي نورمال حالت کې نه وي، بلکې دوی د شاتو له فوارې څخه چې د هنر د رب النوع په باغونو کې فوران کوي، خپلې خوږې سندرې راټولوي او د جذبې په حالت کې یې زمور غوږو ته رارسوي. نو شــعر د هنــر د رب النوع اختراع ده او مــور نــه شــو کــولای چــې د (تنیخــوس) او (خاسیدیان) ښکلي نظمونه د بشري فکر محصول وبولو. شــاعران د ارباب الانواعو ترجمانان دي او د جذباتو په عالم کې سندرې وایي. که داسې نه وي نو څنګه کېدی شي چې د ډېرو عادي اشخاصو له خولې دې دومره ښکلې سندرې واورېدل شي؟))

که دا خبره سمه وي، نو دلته پوښتنه راولاړېږي، چــې (اپلاتــون) پــه خپل اثر (جمهوریت) کــې ولــې د (هیســید hesiod) او (هــومر) پــر شعرونو باندې انتقاد کوي؟ اپلاتون اجازه نه ورکوي، چــې د (هــومر) منظوم داستانونه دې ماشومانو ته ولوستل شي، ځکــه چــې پــه دې شعرونو کې ارباب الانواع او قهرمانان په درواغــو ویلــو، ټګــی، غــچ اخیستلو او ډول ډول خیانتونو تورن شوي دي. (اپلاتــون) شــکایت کوي چې د (هومر) او ځینو نورو شاعرانو په نظمونو کې ارباب الانواع په بدلو جامو کې څرګندېږي او حتی ګدایي کوي؛ دوی د خپلو ملګرو او خپلوانو پرضد دسیسې چاغوي او د هغو په مقابل کې وســلې تــه لاس غځوي، د خپلو ناوړه غرضونو د سرته رسولو لپاره درواغ وایــي.

(اپلاتون) له (هومر) او نورو شاعرانو څخه د یو شمېر مثالونو په راوړلو سره خپلو خبرو ته دوام ورکوي او وایي: ((نو موږ له (هـومر) او نــورو شاعرانو څخه غوښتنه کوو چې د دغو او د دوی په شان نورو مثالونو له راوړلو څخه پر موږ باندې په قهر نه شي، نه په دې خاطر چې که هر څومره د هغو شاعرانه طلسم زیات دی، دوی باید د هغو ماشومانو او سړیو غوږونو ته ونه رسېږي چې د ازاد ژوند کولو لپاره پیداشوي دي او مړییتوب تر مړینې بد تر ګڼي.))

په داسې حال کــې چــې (اپلاتــون) اربــاب الانــواع یــوازې د خیــر پیداکوونکي بولي، نو هغه شعرونه چې خلــک شــرارت او فســاد تــه ورلمسوي، له کومې فوارې څخه لاسته راغلي دي؟ (اپلاتــون) د دوی له ښکلا او شعریت څخه انکار نه کوي او حتی په همدې دلیــل چــې ساحرانه او زړه وړونکي دي او د ماشوم پــه مغــز کــې ژورې ریښــې ځغلولای شي، پر نوموړو شعرونو انتقاد کوي. په هر صورت، تــر کــوم ځایه چې د کره کتنې له تاریخ سره اړه لري (اپلاتــون) پــه پــوره زړه ورتوب پر (هومر) او نورو نامتو شاعرانو وردانګلي دي. دی د اخلاقــو مدافع او د یونان د ښاري دولت د برم او پرتم ساتندوی دی. (اپلاتون) له دې وېرېږي، چــې د (هــومر) شــعرونه بــه د هېــواد ســاتندویان (Guradians) د جبن او اخلاقي فساد په جبه زار کې ډوب کړي او پــه هغو کې به غلامانه ذهنیت خلق کړي. سره له دې چې (اپلاتون) شعر ته د ملکوتي الهام په نظر ګوري، خو چېرته چې دغه (اسماني خبرې) د یونان د خلکو پر سرنوشت ناوړه اغېزه کوي، فیلسوف پر هغه باندې بېرحمانه انتقاد کوي.

ددې پورتنیو څرګندونو له مخې ویلای شو چې (اپلاتــون) لــه هغــو لومړنیو کره کتونکو څخه دی چې پر ادبي اثارو باندې يې اګاهانه او د ټاکلو اخلاقي موازینو پر اساس انتقاد کړی دی. د (اپلاتون) کره کتنه د (اریستوفان) له هغې څخه توپیر لري. په دې مانا چې لــومړنی پــه رښتیا نقد کوي او وروستنی طنز او کترې وايي. که څه هم چې طنــز هم د کره کتنې یوه بڼــه ده. د (اریســتوفان) د کــره کتنــې انګېــزه محافظه کارانه تمایل دی او څرنګه چې (سوکرات) فیلسوف پر ارباب الانواعو او یوناني معتقداتو باندې لګېږي، دی هڅــه کــوي چــې پــر (سوکرات) باندې ملنډې ووهي. همدغه انګېزه د (یوریپــدیز) نــامتو ډرامه لیکونکي په مورد کې هم صدق کوي.

(یوریپدیز) زیــار ایســتلی دی د اربــاب الانواعــو لاســونه د بشــري سرنوشت له ټاکلو څخه لنډ کړي، خو په عــین زمــان کــې د یونــاني عنعناتو او روایاتو له دایرې څخه بالکــل نــه شــي وتــلای. د ځینــو مورخانو په نظر، (اریستوفان) د کره کتنې په ساحه کې تر (اپلاتــون) مخکې دی، ځکه چې (اپلاتون) پــر شــعر بانــدې یــوازې د سیاســي هدفونو په رڼا کې تبصره کړې ده، خو د (اریستوفان) کره کتنــه څــو اړخیزه ده. د (چنګښو) په ډرامه کې (اریستوفان) سربېره پر اخلاقي مسایلو، خاصو ادبي مسایلو ته هم پاملرنه کوي.

د (چونګښو) په ډرامه کې پر (یوریپدیز) باندې انتقاد شوی دی چــې حماسي او تراژیدي اتلان يې د معمولي خلکو مقام تــه راټیــټ کــړي دي. په داسې حال کې چې یوناني عنعنې اکثر اتلان د ارباب الانواعو مقام ته پورته کــول. همدارنګــه (اریســتوفان) شــکایت کــوي چــې

(یوریپیدیز) لرغوني پاچایان له برم او حشمت څخه بې برخې کړي دي او د دربارونو جلال او پرتم یې له نظره غورځولی دی. (اریستوفان) د یو محافظه کار کره کتونکي په توګه، پر (یوریپیدیز) باندې انتقاد کوي چې طبقاتي اداب او رسوم یې په نظر کې نه دي ساتلي او د ډرامې کرکټرونه ټول په هماغه ساده او عامیانه ژبه خبرې کوي په داسې حال کې چې د واکمنې طبقې ژبه او د معاشرت اداب د عوامو له ژبې او ادابو سره څرګند توپیر لري. (اریستوفان) زیاتوي چې (یوریپیدیز) د ژوند عادي او معمولي پېښې په خپلو ډرامو کې تمثیل کړي دي او د ټیټې طبقې ناکامه مینې، محرومیتونه او دربه دره ژوند یې د سوژې په توګه انتخاب کړي دي. همدارنګه (اریستوفان) د (اشیل) قهرمان له خولې پرده باندې ایراد نیسي چې ډرامې یې مبتذلې او یو نواخته دي؛ په ډیالوګونو کې یې مغالطې او سفسطې لیدل کېږي او له متناقضو اصولو څخه یې کار اخیستی دی او سربېره پر دې ټولو، د ډرامو موسیقي یې بېخونده او مبتذله ده او په هغو کې اوازونه یو تر بله سره ګډ شوي او پرېشانه دي.

البته کاملاً طبیعي ده چې د نن ورځې د معیارونو له نظره د (اریستوفان) ځینې انتقادونه وارد نه دي، خو که چېرې د مریيتوب د ټولنې معیارونه (چې د حاکمې طبقې کلتور منعکسوي) په نظر کې ونیسو په رښتیا سره (یوریپیدیز) د بادارانو د طبقې ارزښتونه تر پښو لاندې کړي دي او د مسلط کلتور ټولنیز اړیکي یې نه دي تمثیل کړي. لیکن داسې احتمال شته چې (یوریپیدیز) یا (اوریپید) دې په ارادي او اګاهانه ډول دغه ډرامې لیکلې وي او د ټیټې طبقې مبارزه دې پکې

ښودل شوې وي. (یوریپدیز) زیار باسي چې د اربــاب الانواعــو مقــام راکښته کړي او داسې وښیي، چې ګویا هغوی د انسانانو د سرنوشت په ټاکلو کې لاس نه لري، قهرمانان او باداران له عــادي خلکــو ســره توپیر نه لري او محکومه طبقه له ناکامې مینــې، رنځونــو او کړاوونــو سره مخامخ کېږي. حتی کومه موسیقي چې ده د ډرامې صــحنې تــه ورمعرفي کړې ده، د محافظه کارانو له ذوق او څکې سره ســمون نــه خوري.

دا سمه ده چې (اریستوفان) یو مترقي کره کتونکی دی، لیکن په کره کتنه کې یې له ډېرو اساسي موضوعګانو ســره تمــاس نیــولی دی او ویلای شو چې هغه د کلاسیک نقد یو غوره ښکارندوی دی. دده پــه کره کتنه کې مضمون او شکل دواړه مــنعکس شــوي دي. هغــه پــر لیکوال باندې د خپل عصر د متداولو نورمونو له مخې قضاوت کوي او په اګاهانه ډول او فلسفي انداز کې خپل انتقاد وړاندې کوي.

یو زیات شمېر ادبي مورخان په دې عقیده دي، چــې د یونــان ســتر فیلسوف او لوی مفکر (ارستو) د کره کتنې موجد دی، ځکه چې ده د (شعر فن) (poeties) په نامه د ادبي کره کتنې په برخه کې یوه نــامتو رساله لیکلې ده، چې لاتراوسه د کره کتنې په باب یو عمده اثر ګڼــل کېږي. ځینې وایي چې دغه رساله د ارستو (۳۲۲-۳۸۴ق.م) د کــوم شاګرد له خوا د استاذ د لکچر له مخې تدوین شوې ده او ځینې نــور په دې عقیده دي، چې (ارستو) خپل یادښــتونه راغونــډ کــړي وو او ښایي چې وروسته به یې د کتاب په بڼه اړول. ددغو توجیهاتو اصــلي

علت دادی چې د (پوتیکا) رساله له یوې خوا نیمګــړې ده (او داســې احتمال شته چې د رسالې ځینې برخې دې ورکې شوې وي).

او له بلې خوا ځینې بې ربطه عبارتونه په کې لیدل کېږي ( چې ښایي تحریف، تصرف او یا زیاتونه پکې راغلي وي) سره له دغو نیمګړتیاوو، صرف نظر له دې چې (ارستو) یا کــوم شــاګرد تــه منســوب شــي د (پویتکس) یا (پوتیکا) رساله ستر تاریخي اهمیت لري او لومړنی مهم انتقادي اثر ګڼل کېږي. ویل کېږي چې تر ۱۹۲۸ کال پــورې ددغســې رسالې (یو زر او پینځه سوه درې اتیا) ترجمې او شرحې پــه اروپــایي ژبو خپرې شوې دي.

په پښتو ژبه دا اثر (کتاب الشعر) په نامه د مولوي محمد اسرافیل لــه خوا ژباړل شوی او پر ۱۹۵۸ م کال په پېښور کې د پښتو اکــاډمۍ لــه خوا چاپ شوی دی.

ادبي مورخانو او کره کتونکو ددې اثر زیاته ستاینه کړې ده، د المــان نامتو کره کتونکی (لیسنګ) وایي چې ((د ارستو د شعر فن رســاله د اقلیدس د هندسې په شان غلطي نه لري)). فرانسوي کــره کتــونکی (برون تېر) لیکي چې (( نن ورځ هم د کره کتنې د فن مسالې هماغه د ارستو د وخت مسالې دي. که څــه هــم چــې ځینــې تعبیرونــه او اصطلاحات په بله بڼه اړول شوي دي، خو اصــلي مطالــب او مســالې هماغه دي او حتی کوم ځوابونه چې ارستو ورکړي دي بې تغیره پاتې شوي دي.)) د فرانسې شکاک فیلسوف (پېرل) د فلسفې په قــاموس کې د (ارستو) دغه اثر ته دده پر نورو اثارو ترجیح ورکوي. اسپانیایي محقق او کره کتونکی (انتونیولولو) عقیده څرګندوي چې ((د ارستو

ذوق د ټولو شاعرانو تر ذوق زیات متین او محکــم دی او دی لــه هــر شاعر څخه په دې ښه پوهېږي چې په یو شاعرانه اثر کې کوم شــیان لازم او مناسب نه دي.))

سره له دې، ځینو کــره کتونکــو د (ارســتو) پــر (پــویټکس) بانــدې انتقادونه هم کړي دي، چې په خپل ځای کې به اشــاره ورتــه وشــي. اوس به وګورو چې ددغه اثر عمده مضمون څه شی دی؟ د ارســتو (د شعر فن رساله) په دې عبارت پیلېږي: ((زما منظور دادی چې پخپله شعر او د هغه بېلابېل ډولونه وڅېړم او د هر یو ډول اساسي کیفیــت په نظر کې ونیسم. د یوه ښه نظم د نخشې (Plot) د جوړښت ضروري شرایط او د نظم د تشکیلوونکو برخو شمېر او ماهیت بیان کړم...)) په دې ترتیب، (ارستو) د شعر د ماهیت، اصولو، ډولونو او اجزاوو په برخه کې مفصل معلومات وړاندې کوي. ددې رسالې سبک ښکلی نه دی او لکه مخکې مو چې وویل ښایي رساله به د یادداشتونو په توګه لیکــل شوې وي. تر دې وروسته (ارستو) د هنر په باب یوه بشپړه منسجمه نظریه وړاندې کوي او د هنرونو له جملې څخه پر شعر بانــدې زیــات لنګر اچوي.

په څلورم پاړکي کې وایي چې د شعر د ویلو لپاره دوه علتونــه شــته: لومړی تقلید او دویم وزن او اهنګ چې ټول انسانان لــه هغــه څخــه خوند اخلي.

پروفیسر بچر (Butcher) نــامتو ارســتو پېژنــدونکي او د (پــویټکس) ژباړونکي د تقلید نظریه داسې شرحه کړې ده:

( د ارستو) په نظر تقلید د یوې حقیقي مفکورې پر اساس د شیانو او پېښو تقلید ته ویل کېږي. ((حقیقي مفکوره)) یو عمومي مفهــوم دی چې ذهن یې له محسوساتو څخه په اتوماتیک ډول تجریدوي. که پــه ساده ژبه ووایو هغه شیان او پېښې چې انسان یې د حواسو لــه لارې احساسوي معمولاً نیمګړي او بې ربطه وي خو عقل هغو تــه انســجام ورکوي او د هغو ماهیت رابرسېره کوي. د هرې ځانګړې پدیدې تر شا یو ایډیال شکل شته چې په ناقصه بڼــه څرګنــدېږي. هنرمنــد دغــه نیمګړې حسي پدیدې ته د حقیقي مفکورې جامه وراغونــدي او پــه ایډیال صورت یې انځوروي. پر دې اساس هنر یو ابداعي تقلید دی نه سطحي او تش تقلید.

(ارستو) په څلورم پاړکي کې لیکي چې د تقلید غریــزه پــه انســاني طبیعت کې له کوچنیوالي څخه اغړل شوې ده. د انسان او نــورو ژوو ترمنځ یو عمده توپیر دادی چې دی د ټولو ژوندیو مخلوقاتو په نسبت زیاتې پېښې کوي او د همدغو پېښو (تقلید) په سبب خپــل لــومړني درسونه زده کوي او له تقلید څخه خوند اخلي. له تجربوي واقعیتونو څخه څرګندېږي چې له یو شمېر شیانو څخه چې موږ کرکه کوو. کــه د یوه ماهر مقلد له خوا په ښه توګه تقلید شي له هغــه څخــه خونــد اخلو. نو تقلید د انساني طبیعت غریزه ده، همدارنګه وزن او اهنــګ هم غریزه ګڼل کېږي. په پنځم پاړکي کې (ارستو) د کمیډي، تراژیدي او حماسې په باب بحث کوي. پــه راتلونکــو پــاړکیو کــې (ارســتو) د نخشې په باره کې په مفصله توګه غږېږي. داسې ښکاري چې پــه دې بحث کې (ارستو) د خپل استاد (اپلاتون) نظریې ته په نامستقیم ډول

ځواب ورکوي. د ځينو ادبي مورخانو په عقيده، ارســتو (د شــعر فــن رساله) د (اپلاتون) په ځواب کې ليکلې ده، بې له دې چې پــر خپــل استاد باندې مستقيماً حمله وکړي. ځينې نور وايي کېدی شي، چــې پر (هومر) او نورو شاعرانو باندې د (اپلاتون) بې رحمانــه انتقــاد دې (ارستو) دې ته لمسولی وي چې د شعر په باب جامع اثر وليکــي او د هنر مخصوصاً د شعر د منځته راتلو علتونه او اهداف په مفصله توګــه وڅېړي. خو کتاب فقط د (اپلاتون) په ځواب پورې نه دی منحصر.

(اپلاتون) سره له دې چې د عالي ذوق خاوند دی او دده (جمهوريت) نه يوازې مهم فلسفي اثر دی، بلکې يو ادبي شهکار هم ګڼل کېــږي، خو کله چې شاعر د حقيقت لــه ډګــر څخــه لــرې کېــږي او يــا دده ساحرانه خبرې د ماشومانو ذهــن تخــديروي نــو پــر شــاعر بانــدې راګرځي. لومړی د هغه غاړې ته امېل وراچوي او بيا د خــدای پامــانۍ لپاره لاس ورغځوي او داسې ورته وايي: هر چېرې چې ځې پــه مخــه دې ښه! لطفاً زموږ ښار ته بېرته مه راځــه. د اپلاتــون خپــل عبــارت داسې دی: ((کوم وخت چې يو مقلد شاعر چې هر ډول تقليد کولای شي موږ ته راشي او پېشنهاد وکړي چــې حاضــر دی خپــل نمــايش ورکړي او خپل شعرونه راته ولولي، موږ به د تعظيم لپاره خپل سرونه ورته ټيټ کړو او د يوه خواره، مقدس او نادر موجود په توګه بــه دده لمانځنه او پرستش وکړو، خو په عين زمان کې به دده په حضور کــې عرض وکړو چې زموږ په دولت کې ده ته د اوسېدو اجازه نــه ورکــول کېږي او قانون ده ته د پاتې کېدو اجازه نه ورکوي. ورپسې بــه پــر ده عطر وپاشو، غاړې ته به يې وړين امېل ورواچوو او بل ښار ته بــه يــې

واستوو)). ليکن (ارستو) د شاعر د شړلو او تبعيدولو پلــوی نــه دی. (ارستو) تر هر څه دمخه (ګڼه ور هنرونه) له (ښکلو هنرونــو) څخــه بېلوي. د هغه په نظر، (ګټه ور هنرونه) د ژوند مــادي اړتيــاوې پــوره کوي او (ښکلي هنرونه) د خوند او لذت لپاره دي او په عين زمان کې د نفس د تزکيې او د روح د تصفيې لپاره پکارېږي.

د شعر منبع هم انساني غرايز دي. هر ډول هنري اثــار د يــوه ټــاکلي هدف لپاره منځته راځي او د بشري عواطفو له تهذيب او تصفيې سره مرسته کوي. که په شعر کې د تخيل او مبالغې برخې زياتې دي علت يې دادی چې شاعر ايډيال شکلونه او حقيقي مفکوره پــه نظــر کــې نيســي. د (ارســتو) پــه نظــر د تراژيــدي هــدف د روح ســپېڅلتيا (Catharsis) ده، چې په انسان کــې زړه ســوی او د وېــرې احســاس پيداکوي. دده په نظر، د تراژيدۍ قهرمان بايد ډېر متقي او پرهېزګــار شخص نه وي ځکه چې شرافتمن کسان بايد لــه کړاوونــو او ناکــامۍ سره مخامخ نه شي. همدارنګه د تراژيدۍ اتــل بايــد ظــالم او شــرير کسان هم نه وي، ځکه چې ننــدارچي بايــد لــه ظــالمو او بــداخلاقو اشخاصو سره مينه پيدا نه کړي او زړه يې پرې ونه سوزي. د تراژيدۍ اتل بايد معمولي خلک وي چې د يوې اشتباه په اثر د خوشبختۍ لــه مانۍ څخه د بدبختۍ کندې ته ورغورځېدلای وي.

سره له دې چې د (يوريپديز) ډرامې له دې اصــل ســره ســمون نــه خوري، خو (ارستو) هغه نه ملامتوي او وايي چې دده اثار د انسان پــر روحياتو سخته اغېزه کوي او کولای شــو چــې لــه نــورو څخــه يــې مستثنی کړو. په پينځه ويشتم پاړکي کې (ارستو د تقليد په برخه کې

داسې وايي: ((شاعر چې د نقاش يا بل هنرمند په شان مقلد بلل کېږي؛ بايد شيان هرومرو په دغو درو شکلونو سره تقليد کړي: شيان لکه څنګه چې وو يا دي، شيان لکه څنګه چې د هغه په باره کې خبرې کېږي او يا فکر ته راځي، شيان لکه څنګه چې بايد وي. د افادې عراده ژبه ده، سربېره پر دې، د صحت معيار په هنر او سياست کې يو له بله توپير لري او همدارنګه هغه څه چې په شعر کې رښتيني ګڼل کېږي له هغو شيانو سره چې په نورو هنرونو کې رښتيا بلل کېږي توپير لري.))

په دې ترتيب، موږ ګورو چې د ادب د تيورۍ د ډېرو زياتو بحثونو زړي د (ارستو) په اثارو په تېره (پويتکس) کې راغلي دي. په لويديځ کې (هنر د هنر لپاره) مفکوره او د (کانت) د ښکلا پېژندنې تيوري او داسې نور مهم موضوعات د لومړي ځل لپاره په يوه يا بله بڼه د (ارستو) له خوا طرح شوي دي، چې د هغو تفصيل جلا بحث غواړي.

تر (ارستو) وروسته په کره کتنه کې (لانجينوس) ډېر شهرت لري. کوم کتاب چې ده ته منسوب شوی دی په انګرېزي کې د (On the sublime) په نوم ژباړل شوی دی، (Sublime) لوړ، مافوق، اوچت، برميال او عاليشان ته ويل کېږي يانې هغه اثر چې د ژبې او فکر په لحاظ لوړ مقام لري. ځينې ادبي مورخان نوموړی اثر (پلوتارک) او يا نورو ليکوالو ته منسوبوي. د کتاب د ليکنې نېټه هم نه ده څرګنده، خو غالب احتمال دادی چې په دربيمه ميلادي پېړۍ کې به ليکل شوی وي. په هر صورت، د (برميال په باب) کتاب چې هر چا ليکلی وي فعلاً د (لانجينوس) په نامه ختم شوی دی. دغه اثر د ادبي کره

کتنې په برخه کې یو عمده اثر ګڼل کېږي. نوموړی اثر تر شپاړسمې پېړۍ پورې چا نه پېژانده او د هغه وخت د ادبیاتو په تاریخ کې نه دی یاد شوی.

په ۱۵۵۴م کې (روبرتیلي) دغه مهم اثر خپور کړ او په اووه لسمه پېړۍ کې یې زیات شهرت وموند او په ځینو ادبي محافلو او ټولنو کې د (طلایي کتاب) په نامه مشهور شو. دا اثر د مضمون او روحیې په لحاظ د (ارستو) له (پویټکس) سره توپیر لري او په هغه کې زیاتره د سبک د لوړوالي، تخیل، ذوق او بلاغت په باب تفصیلات ورکړل شوي دي. د (لانجینوس) په نظر، برمیال اثر هغه دی چې مهمې مفکورې، شرافتمندانه عواطف او عالي بیان په کې یوځای شوی وي.

د (لانجینوس) د لیکنې یوه ښېګڼه داده چې دی په خپل قضاوت کې له قومي تعصب څخه کار نه اخلي. ویل کېږي چې دی په اصل کې د (شام) اوسېدونکی و او ډېر عمر یې په (اتن) کې تېر کړی دی. په یوناني او عبراني ژبو یې پوره احاطه درلوده او د کره کتنې په ترڅ کې له یوناني او عبراني اثارو څخه شواهد او مثالونه راوړي. له (ارستو) څخه تر (لانجینوس) پورې په شپږو پېړیو کې ډېر زیات کره کتونکي تېر شوي دي، خو د ادبي مورخانو په نظر دوی دواړه (لومړنی او وروستنی) تر ټولو زیات پاخه کره کتونکي دي.] (۱۵: ۱۹-۳۰).

## ۲- کره کتنه په لویدیځ کې:

تر لرغوني یونان وروسته په لویدیځ کې د کره کتنې بـل مهـم ځـای پخوانی روم دی. د روم امپراتورۍ نه یوازې په سیاسي، اقتصـادي او پوځي ډګر کې ډېره مطرح وه، بلکې د دې امپراتورۍ په لمـن کـې د ادبیاتو د پنځونې لپاره هم ډېر ښه شرایط برابر وو.

[د روم نامتو شاعر (ورجیل) د رومیانو په باب ویلي دي چې دا قوم د هنر لپاره نه دی پیدا شوی، بلکې د جګړې لپاره پیـدا شـوی دی. د (ورجیل) دا خبره دده د نیکونو په باره کې رښـتیا وه خـو وروسـته رومیانو تر یوې اندازې هنر ته مخه کړه او مخصوصاً د خطابې په فـن کې یې ترقي وکړه. کله چې د یونان فلسفه او ادبیـات پـه روم کـې خپاره شول، رومیانو له ادبیـاتو او تـاریخ سـره مینـه وښـوده او د (ورجیل)، (هوربس)، (ناسیتوس)، (مارکوس)، (اورلیوس)، او (دانتې) په شان لیکوال او شاعران یې د هنر په ډګر کې پلـې کـړل. د کـــره کتـنې په بـرخـه کې د هـوریـس (Horace) د شـعـــر فـــن (Ars poctick) پوره شهرت لري. (شکسپیر) د انګلستان نامتو ډرامـه لیکونکی په (تیوس) کې د (جیرون) له خولې داسې وایي: (( اوه، دا د هوریس شعر دی. زما ښه په یاد دي، ما ډېر مخکې هغه په ګرامر کـې لوستلی و.))

له دې پورتني عبارت څخه څرګندېږي، چې پخوانیـو لیکوالـو بـه د ګرامر او انشا په موضوعاتو کې د (هوریس) شعرونه د استناد په توګه راوړل. د (هوریس) ځینې فقرې لا تراوسه په کره کتنه کې مستعملې دي، لکه: (( شعر د نقاشۍ په شان دی.)) ((شعر د ګټې لپاره؛ شـعر د

خوند لپاره)) او داسې نور. (د شعر فن) کې (هوريس) لومړی د يووالي پر اهميت باندې خبرې کوي او له شاعر څخه غــواړي چــې د عمــل، شکل او هدف يووالی په نظر کې ونيسي.

دده په نظر ساده ګي، تناسب او يووالی د شعر د ماڼۍ غــوره ســتنې دي. د شعر د ژبې په باب وايي چــې شــاعرانو تــه د نويــو لغتونــو د استعمال جواز شته هماغسې چې موسمونه بدلېږي د ژبې لغات هــم تغيير کوي او نوې کلمې د زړو ځای نيسي. د (هوريس) پــه نظــر هــر ډول شعر له مضمون سره تناسب، وزن او بحر ته اړه لري. (هومر) چې د اتلانو د کارنامو د ښودلو لپاره کوم بحر انتخاب کړی دی له موضوع سره پوره متناسب دی. د هنري اثارو کرکټرونه بايد د حال له مقتضې سره سم خبرې وکړي. شعر دوه ډوله هدفونه لري: ګټــه او خونــد او شاعران بايد دا دواړه هدفونه تعقيب کړي.

د کتاب په پای کې پر ځينو شعري نيمګړتياوو انتقــاد شــوی دی. دا پورتنۍ جملې يوازې د نمونې په توګه راوړل شوې او په هېڅ صورت د کتاب لنډيز نه ګڼل کېږي او حتی ددې ادعا هم نه شو کولای چــې د کتاب غوره او چاڼ شوې برخې را اقتباس شوې دي.

د لرغونو وختونو له نورو نامتو کره کتونکــو څخــه يونــاني ليکــوال (پلوتارک) او (لوسيان) دي او د لاتين ليکوالو له ډلې څخه (سيسرو)، (سنيکا)، (پيترونيوس) او نور دي.

د يو زيات شمېر مورخانو په نظر منځنۍ پېړۍ د روم د امپراتورۍ لــه سقوط يانې پينځمې پېړۍ څخه پيل کېږي او د څوارلسمې پېړۍ تــر نيمايي يانې د رنسانس تر دورې پــورې دوام کــوي. پــه بلــه ژبــه، د

مریبتوب د اجتماعي - اقتصادي فرماسیون له زوال څخه د کپیتالیزم د زړي تر زرغونېدو پورې په لویدیځه اروپـا کـې فیـوډالي دورې تـه منځنۍ پېړۍ ویل کېږي. په دې دوره کې فلسـفې سـقوط وکـړ او د ادبیاتو په ساحې کې کوم عمده اثار منځته رانغلل. لویدیځه اروپا پـه دې عصر کې د لرغوني یونان او روم له فرهنګي میراث څخه نـاخبره وه او ټول علوم او فنون د کلیسا په سیوري کې واقع شـوي وو. ددې وخت ادبي اثارو یوازې تعلیمـي بڼـه درلـوده او د مـذهبي نصوصـو تشریح ته وقف شوي وو. سره له دې په منځنیو پېړیو کې په اسپانیه کې د (ال سید) حماسه، په فرانسه کې د (شاتون دورولان) اثـر، پـه جرمني کې د (نیبلونګیلید) منظومه او د (دانتــې) (ربـاني کمیـدي) نامتو اثار بلل کېږي.

ددې وخت په کره کتنه کې اکثر بحثونه د مجاز، استعارې، د بلاغت د اصولو او بدیعي صنایعو په باره کې دي. د منځنیو پېړیو په اخـر کـې ایټالوي شاعر (دانتې ) د کره کتنې په برخه کـې د عامیانـه بلاغـت (Devulgari Elo qucntia) په نامه یو مشهور اثـر وکـښن. (دانتــې) د منځنیو پېړیو یوه روښانه څېره او ستر ویاړ ګڼل کېږي. ده د لـومړي ځل لپاره (کمیدیا) په نامه اشعار د ایټالیې په محلي ژبـه وویـل او دا یې ثابته کړه، چې له یوناني او لاتیني ژبو پرته په محلي ژبو هم فصیح او بلیغ شعرونه ویل کېدی شي. د (دانتې) د (کمیدیا) اثر وروسـته د (رباني کمیدي) په نامه شهرت وموند. (دانتې) د کره کتنې په برخـه کې د (عامیانه بلاغت) اثر په لاتیني لیکلی دی، خو په هغه کې یې له عامیانه یا محلي ژبې څخه دفاع کړې ده او په هغه کې یې ویلـي دي

چې د شعر لپاره د خلکو ژبه ډېره مناسبه، پخه او طبیعي ده. همدارنګه (دانتې) په دې اثر کې د وینا د ادابو، تقلید، سبک، د شعر ماهیت او نورو مربوطو موضوعګانو په باب مفصل بحثونه کړي دي.

## ۳- کره کتنه په ختیځ کې:

د اثارو د قدامت له مخې د ختیځ په انډول په لویدیځ کې کره کتنیز اثار دمخه ټوکېدلي، خو د اثارو د څرنګوالي او څومره والي له پلوه ختیځ هم تر لویدیځه کم نه دی. دلته هم په بېلابېلو سیمو او وختونو کې داسې ادبي، علمي، ټولنیز او کره کتنیز اثار رامنځته شوي، چې د نړۍ فکري لوري ته یې بدلون ورکړی او د ټولې نړۍ ګډه پانګه ګڼل کېږي.

[د اسلام په صدر کې، کله چې به اعراب د حج د فریضې د اداکولو لپاره معظمې مکې ته راتلل، نو د مختلفو قبایلو خلک به د شلو ورځو لپاره د (عکاظ) په سارا کې سره راغونډېدل. دلته به یو لوی بازار جوړ شو. له یوې خوا به په دې ځای کې د سوداګرۍ بازار ګرم و؛ له بلې خوا به دلته شعرونه لوستل کېدل او خطابې به ورکول کېدې.

ډېر ځله د مشاعرې په ترڅ کې مناقشې او شخړې پیل کېدې او بیا به د ښه شعر د معلومولو لپاره یو حکم یا قاضي ټاکل کېده. ددغو قاضیانو په ډله کې (نابغه ذبیاني) چې پخپله هم نامتو شاعر و، ډېر شهرت لري. کوم شعر به چې د (نابغه) له خوا د ښه شعر په نامه انتخاب شو هغه به یې په کعبه کې ځړاوه او په عربو کې به یې شهرت موند. سره له دې د اسلام په اوایلو کې شعر ته پاملرنه نه کېده، ځکه

چې په هغه وخت کې اکثرو شعرونو د ویاړنې او مفاخرې بڼه درلــوده او د قبایلو ترمنځ به یې تفرقې او اختلافونه پیداکول. د امویــانو پــه دوره کې چې زیات ملکونه فتح شول او زیات ثروت لاس تــه راغــی، شعر او موسیقۍ ته زیاته پاملرنه وشوه او د دربارونو بــرم او شــوکت زیات شو. په دې وخت کې له شعر څخه زیــاتره د تبلیــغ او مــداحۍ لپاره ګټه اخیستل کېده. اموي خلیفه (عبدالملک بن مروان) د شعر په ارزیابۍ کې پوره مهارت درلود. کله چې به دده په دربار کــې شــعر ولوستل شو، ده به د شعر ښېګڼې او نیمګړتیاوې په ګوته کــولې. یــو ځلي (ذوالرمه) دده په حضور کې قصیده ولوسته، چې په هغــې کــې یې د خلیفه ستاینه کړې وه. (عبدالملک بن مروان) ورته وویل چــې په دې شعر کې تا د خپل اوښ ډېره ستاینه کــړې ده. لطفــاً اوښ تــه ووایه چې تاته انعام درکړي. همدارنګه (سلولي) چې په خپله قصیده کې یې د ځان ستاینه کړې وه، خپل شعر یې (عبدالملک بن مــروان) ته ولوست. خلیفه وویل: ((والله، چې تا بې له خپل ځانه د بل چا مدح نه ده کړې)) ویل کېږي چې (مامون الرشید) هم په نقد کې پوره لاس درلود، یو ځلي (مروان بن ابي خفصه) دده په مدح کې وویل چې نور خلک په دنیاوي چارو بوخت دي او خلیفه تل د دین په کــار بوخــت دی. (مامون) په ټوکو ورته وویل چې تا خو له مانه بوډۍ جوړه کــړې ده چې شپه او ورځ به تسپې اړوم، که زه دا کار وکړم نــو د مملکــت چارې به څنګه سرته ورسوم، بهتره به وه چې دا قصیده دې د (عمــر بن عبدالعزیز) غوندې پرهېزګار شخصیت په باره کې ویلې وای نه زما په باره کې.

په هر صورت د کره کتنې په باب دغه ډول ډېر زيات روايتونــه شــته، خو د هغو کسانو له جملې څخه چې په دې برخه کې يې اثار ليکلــي دي ابو عبدالله محمد بن سلام جمحي، ابن قتيبه دينــوري، جــاحظ، ابوالعباس احمدبن ثعلب، قدامه بن جعفر، ابوالقاسم حسن بــن بشــر امدي، عبيدي، قاضي جرجاني، قاضي ابــوبکر بــاقلايي، عبــدالقاهر جرجاني، ابن اثير او نور دي. ويل کېږي چــې پــه عربــي ژبــه کــې د (جمحي) کتاب (طبقات الشعراء) ظاهراً لومړنی اثــر دی چــې د کــره کتنې په باب ليکل شوی دی. (جمحي) د بصرې اوسېدونکی و. ده په (طبقات الشعراء) کې د جاهليت او اسلام د دورو شــاعران پــر لســو (طبقو) وېشلي دي او د هرې طبقې د اثارو خواص يې ښودلي دي. په دې اثر کې يې د لغوي او تاريخي دلايلو پر اساس د جاهليت د دورې اصلي او مجعول شعرونه يو له بله بېل کړي دي. (ابن قتيبه دينوري) د (جمحي) په پيروي د (الشعروالشعراء) په نامه کتاب ليکلــی دی او په هغه کې يې د اشعارو د خوښولو معيارونه شرح کړي دي. (جاحظ) په خپل اثر (البيان والتبيين) کــې د کــره کتنــې او بلاغــت عمــده پرنسيپونه بيان کړي دي او د ځينو په عقيده دی د (بيــان) موســس دی. ده د مضمون او شکل په باب جالب بحثونه کړي دي او د لرغونو او معاصرو شاعرانو شعرونه يې ارزيابي کړي دي. د (مامون) په وخــت کې د يوناني اثارو تر ترجمه کېدو وروسته په کره کتنه کــې يــو څــه تحــول راغــی. (متــي بــن يــونس) د (ارســتو) مشــهور اثــر (پويټکس=بوطيقا) په عربي واړاوه. که څه هــم پــه دې ترجمــه کــې ځينې نيمګړتياوې هم ليدل کېږي، لکه کميدي او تراژيدي چــې پــه مدح او هجو ژباړل شوې دي. سره له دې عربي پوهانو ته ددې زمينه

برابره شوه چې د تخيل نيلی په پراخ ډګر کې وځغلوي. (قدامــه بــن جعفر) چې په (۳۳۷ق) کې مړ شوی دی په خپل اثر (نقد الشعر) کې زيار وايست چې عربي نقد له يوناني نقد سره عيار کړي. په دې کتاب کې د شعر د ماهيت په باره کې تيــوريکي بحثونــه ليــدل کېــږي او ليکوال له دې ټکي څخه ملاتړ کوي چې په شعر کې تناقض، مبالغه او حتی غلو عيب نه ګڼل کېږي. د څلورمې هجــري قمــري پېــړۍ پــه وروستيو وختونو کې د شاعرانو ترمنځ مقايسه او پرتلنه د بحث مهمه موضوع وګرځېده. د متنبي شاعر پر اشعارو باندې ډېر بحثونه وشول او کتابونه پرې وليکل شول. د (قاضي جرجاني) کتاب (الوساطة بــين المتنبي و خصومه) په دې باب ډېر عادلانه فيصله ګڼل کېږي. قاضي صاحب په خپل قضاوت کې ښو ته ښه او بدو تــه بــد ويلــي دي. پــه داسې حال کې چې نورو کره کتونکو به يوه خوا نيوله. تر دې وروسته د کره کتنې په برخه کې ډېر اثار ليکل شوي دي، چې د هغو له جملې نه د (ابوالفرج اصفهاني) کتاب (اغاني) چې پــه (ســلو ټوکونــو) کــې ليکل شوی دی د يادونې وړ دی. دا کتاب په حقيقت کــې د شــعر او ادب دايره المعارف ګڼل کېږي. يو بل نامتو اثر (الکامل فی التاريخ) د (ابن اثير) تاليف دی. ويل کېږي چې دا کتاب د لطايفو او د قايقو پــه لحاظ بې ساری دی، خو څرنګه چې مولف د خپل ځان ډېره ســتاينه په کې کړې ده، نو ځينو ته يې زور ورکړی دی او پر ده باندې يې بــې رحمانه انتقادونه کړي دي. د ادبي مورخانو په عقيده تر (ابــن اثيــر) وروسته تر معاصرو وختونو پورې په عربي نړۍ کې کــوم نــامتو کــره کتونکي سر نه دی راپورته کړی.](۱۶: ۱۲۱-۱۲۴).

د دوی ترڅنګ، نابغه دوبیاني، طرفه بن العبد، عمر بـن ابـي ربیعـه، فرزدق، جریر، اخطل، ابو عمرو بن العلا، مفضل ضـبي، خلـف احمـر، اصمعي، مبرد، ابن معتز، قدامه، ابن عبدربه، ابوعلي قالي، ابو الفبرح اصفهاني، صولي، آمدي، قاضي جرجاني، ابومنصور ثعالبي، ابـوهلال عسکري، ابو العلاء معري، ابن رشیق، ابن الاثیر، ابـن خلـدون، ابـن خلکان، صفدي، قلقشندي، خفاجي، بدیعي او نـور هغـه لیکـوال او نامتو کره کتونکي دي، چې په عربو کې د جاهلیـت لـه دورې څخـه رانیولې د اسلامي دورې په لومړیو وختونو، (اموي، عباسي حاکمیـت پر وختونو) د عربو په بېلابېلو سیمو، حجاز، عراق او شـام کـې ان د عربو تر ویښتایي پېر پورې یې د کره کتنې په برخه کې پـه سـلګونو اثار لیکلي او د عربي ادب په سمون، پرمختیا، بریالیتوب او بډاینه کې یې خپله خپله ونډه اخیستې ده.

[په دري ژبه کې ظاهراً (ترجمان البلاغه) د کره کتنې په برخـه کـې لومړنی اثر دی، چې تر څه وخته پورې د (فرخي) اثر ګڼل کېـده خـو اوس ثابته شوه چې دغه اثر (محمدبن عمر الرادویانی) لیکلی دی. په دې اثر کې د بلاغت او ادبي صنایعو په باب مفصله څېړنه راغلـې ده. په همدې وخت کې (رشیدالدین وطـواط) د کـره کتنـې او بـدیع د مسایلو په هکله د (حدایق السحر فی دقایق الشعر) په نامه یو مهـم اثر لیلکی دی. په دې اثر کې (وطواط) پر ځینو شعرونو باندې انتقـاد کوي او د ځینو ښېګڼې رابرسېره کوي. د مثال په توګـه دی پـر یـو شاعر باندې انتقاد کوي چې ولې یې (انګار) د (مشکو له دریاب) سره چې طلایي وړانګې خپروي، تشبیه کړی دی، نه د مشکو دریاب شته

او نه طلایي وړانګې لري. د (نظامي عروضي) (چهار مقاله) هم د شعر او ادب په باب ډېر دقایق څېړلي دي. پــه تېــره د شــعر د تعریــف او اهدافو په باره کې یې جالب ټکي وړاندې کړي دي. د (شــمس قــیس رازي) اثر (المعجم فی معاییر اشعار العجــم) هــم ډېــر پــه زړ پــورې انتقادونه لري او د ځینو شاعرانو د وینا نیمګړتیاوې یې ښــودلې دي. د ځینو په نظر د کره کتنې په باب تر هغه وخته پورې ددې پــه شــان بل اثر نه دی لیکل شوی. په دري ژبه کې ځینې نور مهم انتقادي اثار، لکه: آتشکده اذر، هفت اقلیم، مراه الخیال، ریاض الشــعراء، ســفینه خوشګو، تذکره خزین او نور دي.](۱۵: ۳۵-۴۰).

پر پورتنیو کره کتونکو سربېره قاضي حمیدالــدین بلخــي، بهاالــدین بغــدادي، منتجــب الــدین حضــرتي، عنصــر المعالي،محمدعوضــي، دولتشاه، امیرخسرو، شېرخان لودي، غــلام علــي ازاد، خــان ارزو او نورو د کره کتنې په برخه کې اثار لیکلي او په دې برخه کــې یــې پــه بېلابېلو وختونو کې ډېر کار کړی دی.

طبیعي ده چې په لویدیځ او ختیځ کې د کــره کتنــې پــه هکلــه لــه رنسانس څخه بیا تر نن ورځې پورې په زرګونو کتابونه خپــاره شــوي دي چې د هغو ټولو تفصیل ځانته جلا دایره المعارف غــواړي.] او پــه یوه لیکنه، کتابګوټي او ان څو کتابونو کې نــه ځــایېږي. پــه درېــیم څپرکي یانې د کره کتنې د پایښت په برخه کې به ځینــو تــه اشــاره وشي.

# د دويم څپرکي لنډيز

ادبپوهان په دې نظر دي، چېرته چې ادبيات دي، کره کتنه هم هلتــه پيداکېږي. د لومړني کره کتونکي د پېژندلو په باب د ادبــي مورخــانو ترمنځ اختلافات ليدل کېږي. د ځينو په عقيده کره کتنه په لرغــوني يونان کې تر ميلاد شپږ پېړۍ مخکې منځتــه راغلــې ده. وايــي چــې (زنيوفنيز) او (هراکليتس) يوناني فيلسوفانو به د نامتو شاعر (هومر) پر شعرونو باندې اخلاقي ايرادونه نيول او نورو له (هومر) څخه دفــاع کوله. په دې ترتيب په لرغوني يونان کې د مريي ساتنې په اجتماعي- اقتصادي فورماسيون کې د کره کتنې زړی زرغون شو او ورو ورو يــې وده وکړه.

(پيز ميســترات)، (فيلتيــاس)، (ارســتوفان)، (اپلاتــون)، (ارســتو)، (لانجينوس) او ځينې نور د لرغوني يونان لــومړني او مخــکښ کــره کتونکي دي. دوی د کره کتنې په برخه کې نظــري او عملــي کارونــه ترسره کړي او تر دوی وروسته د نړۍ ګڼ شمېر کــره کتونکــو د دوی نظريات پسې تعقيب کړي او شنلي دي.

تر لرغوني يونان وروسته په لويديځ کې د کره کتنې بــل مهــم ځــای پخوانی روم دی. د روم امپراتوري نه يوازې په سياسي، اقتصــادي او

پوځي ډګر کې ډېره مطرح وه، بلکې ددې امپراتورۍ پــه لمــن کــې د ادبیاتو د پنځونې لپاره ډېر ښه شرایط برابر وو.

په روم کې د کره کتنې په برخه کې د (هوریس) د (شــعر فــن) ډېــر شهرت لري. په دې اثر کې (هوریس) لومړی د یووالي پر اهمیت باندې خبرې کوي او له شاعر څخه غواړي چې د عمل، شکل او هــدف یــو والی په نظر کې ونیسي. دده په نظر ساده ګي، تناســب او یــووالی د شعر د ماڼۍ ستنې دي.

(مسیرو)، (سنیکا) او (پیترروینوس) او نور د لرغوني روم له مطرح کره کتونکو څخه دي.

د منځنیو پېړیو په بهیر کې بیا تر رنسانس پورې مهال کې فلسفې او علم سقوط وکړ او د ادبیاتو په ساحې کې کــوم عمــده اثــار منځتــه رانغلل، که څه هم ځینې اثار رامنځته شول، لکه په اسپانیه کې د (ال سید) حماسه، په فرانسه کې د (شاتون دورلان) اثر، په جرمني کې د (نیبلونګیلید) منظومه او د (دانتې) (رباني کمیدي) نــامتو اثــار بلــل کېږي.

ددې وخت په کره کتنه کې اکثره بحثونه د مجاز، استعارې، د بلاغت د اصولو او بدیعي، صنایعو په باره کې دي. د منځنیو پېړیو په اخر کې ایټالوي شاعر (دانتې) د کره کتنې په برخه کې د (عامیانه بلاغت) په نامه یو مشهور اثر وکېښ.

د اثارو د قدامت له مخې د ختیځ په انډول په لویدیځ کې کره کتنیــز اثار دمخه ټوکېدلي دي، خو د اثارو د څرنګوالي او څــومره والــي لــه پلوه ختیځ هم تر لویدیځه کم نه دی.

د اسلام په صدر کې، کله چې به اعراب د حــج د فریضــې د اداکولــو لپاره معظمې مکې ته راتلل، نو د مختلفو قبایلو خلک به د شلو ورځو لپاره د (عکاظ) په سارا کې سره راغونډېدل. دلته به یو لوی بازار جوړ شو. له یوې خوا به په دې ځای کې د سوداګرۍ بازار ګرم و، لــه بلــې خوا به دلته شعرونه لوستل کېدل او خطابې به ورکول کېدې.

ډېر ځله د شاعرۍ په ترخ کې مناقشې او شخړې پیل کېدې او بیا به د ښه شعر د معلومولو لپاره یو حکم یا قاضــي ټاکــل کېــده. ددغــو قاضیانو په ډله کې (نابغه ذیباني) چې پخپله هم نامتو شــاعر و، ډېــر شهرت لري.

اموي خلیفه (عبدالملک بن مروان) د شعر په ارزیابۍ کې پوره مهارت درلود. (مامون الرشید) هم په نقد کې پوره لاس درلود.

هغو کسانو چې د کره کتنې په برخه کې یــې اثــار لیکلــي دي، ابــو عبدالله محمدبن سلام جمحي، ابن قتیبه دینوري، جاحظ، ابوالعباس احمد بن ثعلب، قدامه بن جعفر او نور دي.

په دري ژبه کې ظاهراً (ترجمان البلاغه) د کره کتنې پــه برخــه کــې لومړنی اثر ګڼل کېږي.

# د دویم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-د کره کتنې د پیدایښت په باب د پوهانو ترمنځ اختلاف تشریح کړئ؟

۲-د کره کتنې لومړنۍ نښې نښانې او عملي بېلګې په کوم ځای کې څرګندې شوي دي؟

۳-کومو پوهانو په لرغوني یونان کې د کره کتنې لومړني اثار ولیکل؟

۴-د ارستو او اپلاتون د کره کتنیزو نظریاتو ترمنځ اختلاف واضح کړئ؟

۵-په لرغوني روم کې کره کتنه څنګه او د چا له خوا رامنځته شوه؟

۶-په عربي نړۍ کې کومو لیکوالو کره کتنې ته ډېر کار کړی دی؟

۷-د فارسي ادب نامتو کره کتونکي څوک دي او کوم اثار یې لیکلي دي؟

۸-کره کتنې په لرغونې دوره کې په ادبیاتو کې کوم تحول راوست؟

۹-ستاسو په نظر په لرغونې دوره کې کره کتنه په سیستماتیک ډول مطرح وه که نه؟

۱۰-لرغونې کره کتنه د هغې دورې د ادبیاتو له تولیز حجم سره معادله وه تشریح یې کړئ؟

# سپارښتنې

- استاد دې له محصلینو وغواړي: د لرغونې کره کتنې، د هغې د ګټې او جانبي عوارضو په باب خپل نظر څرګند کړي.
- هر محصل دې د لرغونې دورې د یوه کره کتــونکي نظریــات تحلیل او وارزوي.

# درېیم څپرکی

# د کره کتنې پایښت

لکه څنګه چې مو په لویدیځ او ختیځ کې د کره کتنې پر تاریخي شالید لنډه رڼا واچوله او د هغې له لومړنیو مراحلو خبر شو. اوس غواړو د کره کتنې پر دوام او پایښت څه ناڅه رڼا واچوو. دا برخه هم غواړو پر دوو برخو ووېشو؛ لومړی به په لویدیځ کې د کره کتنې پر دوام، پایښت او څرنګوالي خبرې وکړو او بیا به په ختیځ کې د هغې پر څرنګوالي لنډه رڼا واچوو.

## الف-کره کتنه په لویدیځ کې:

تر میلاد مخکې او وروسته څو پېړیو کې کره کتنې په نړۍ، په تېره بیا په یونان، روم او د لویدیزې نړۍ په ځینو نورو برخو کې یو ښه طلایي پړاو تېر کړ. دې پړاو نږدې نیمه زریزه دوام وکړ، خو کله چې په غربي نړۍ کې مذهبي افکارو او یا له هغو څخه افراطي تعبیرونو، د ټولنې بېلابېلې خواوې تر اغېز او انحصار لاندې راوستې، نو د کره کتنې غږ هم چوپ غوندې شو.

د علمي او مذهبي افکارو ترمنځ ټکر او د مذهبي عناصرو مطلق واک ددې سبب شو چې نږدې یوه زریزه، ژوند په ډېرو ډګرونو کې سالمه

وده ونه کړي. ادبیات او کره کتنه هم له دې اغېزو څخه لرې پاتې نــه شول. په دې موده کې هغه شان کار، ونه شو چې تر میلاده دمخــه او وروسته څو پېړیو کې شوی و. دې حالت ان تــر منځنیــو پېړیــو او د رنسانس یا نویوالي تر دورې پورې دوام وموند، کلــه چــې پــر غربــي ټولنې حاکم مذهبي جریان خپل واک وځواک له لاسه ورکړ، نــو ورو ورو په دې برخه کې د پرمختګ او نوښت نوي څرکونه ولګېدل. لکــه څنګه چې مو په لرغونې دوره کې ورته اشاره وکړه؛ په یونــان او روم کې د کره کتنې موثر جریانونه رامنځته شــوي وو او ډېــره فرهنګــي شتمني راټوله شوې وه. ((د لرغوني یونان او روم دا فرهنګي شتمني یوازې په هغو سیمو کې محدوده پاتې نه شوه، د هغو تــاثیرات نــورو سیمو ته هم ورسېدل، په تېره بیا په کره کتنه کــې دا تــاثیرات ډېــر محسوس او څرګند وو. بېلابېلو اروپایي هېوادونو د منځنیو پېړیو لــه پیل څخه دا تاثیرات راخپل کړل، یو زیات شمېر شاعرانو او لیکوالو، د لیکوالۍ ترڅنګ کره کتنې ته هم مخه کړه.

پــه زیــاتو اروپــایي هېوادونــو او ژبــو کــې د (کریتــک- critic) او (کریتیسیزم- criticism) اصطلاح وکارېدله، د رنسانس پــه دوره کــې چې اروپا په علمي ډګر کې نوې بریاوې ترلاسه کولې، د (کریتکــوس) نومونه په خپلې پخوانۍ مانا وکارېدلــه، پــر (۱۴۹۲م) کــال د (پــولي زیانو- poliziano) په نوم یو ایټالوي عالم څرګنده کړه، چې پخوانیــو ((ګراماتیکو سانو)) صلاحیت درلود چې په ښه ډول د اثارو کره کتنه وکړي او هغوی یې د (کریتکوس) په نامه نومولي وو. په همــدې دوره کــې (ګرامــاتیکوس)، (لارښــود)، (کریتکــوس)، (کــره کتــونکی) او

(فیلولوګ) (ژبپوه) نومونې ټولې د یو بل پرځای کارېدلې. وروسته بیا (هیومانیستاتو) (بشرپالو) د (کریتـک) او (کرتسـیزم) نومـونې پـه ځانګړي ډول د لرغونو متونو د سمون او کره کولو په مانـا وکـارولې. لکه څنګـه چـې د اوولسـمې پېـړۍ د لیکوالـو لـه ډلـې څخـه د (کاسپرشوپ- kaspar schoppe) په نوم یو لیکوال څرګندده کړه، چې د (کریتک) دنده یوازې د لیکوالو د اثـارو سـمون او کـره کـول دي. (کرتیزم) یې د اروپاپوهنې له اساساتو پیل کړ. پـه دې ډول پـه نـورو اروپایي هېوادونو کې له هغې جملې څخه پـه ایټالیـا او نـورو کـې د (کرتسیزم) نومونه د هغوی له ژبنیو غوښتنو سره سمه وکارېدله. تـر نولسمې پېړۍ دا کلمه په انفرادي ډول د ځینو لیکوالو او وروسته په ډله ییز ډول د زیاتو لیکوالو له خوا وکارېدله.

په المان کې د (کانت) (۱۷۹۰) د اثارو په یوه عبارت کې د (Kriticism) اصطلاح وکارېدله، (شلنګ) بیا د (کرتسیزم) اصـطلاح پـر (۱۷۹۶م) کال په فلسفي مفهوم وکاروله.

(جاکوبي Jacobi) پـر (۱۸۰۱م) کـال، (هیګـل) پـر (۱۸۱۴م) کـال د (kriticismus) اصطلاح د فلسفې په برخه کې د یوه خاص مفهوم لپاره وکاروله.

د نولسمې پېړۍ پـه وروسـتیو کـې (الـوس ریـل Alois Riehl) ددې نومونې پر کارونې لاس پورې کړ.

(لسینګ، هردر او شیګل) هر یو خپل ځان ته (کرتیک) وایه. (شیګل او آدام مولر Adom muller) ادبي کره کتنې ته زیاته پاملرنه وکړه.

د رنسانس دوره په حقيقت کې هغه دوره ده چې اروپايي ټولنه يې له ډېرو سياسي، ټولنيزو او فرهنګي بدلونونو سره مخ کړه او يو ځل بيـا د بروژوازۍ دې نوي فرهنګ اروپايي ټولنه د يوناني فرهنګ او علـم خواته کش کړه. په لرغوني ادب کې د بشرپالو څېړنې او هغه فکري او صنعتي اصطلاحات چې په دې وخت کې رامنځته شــول، ددې دورې د مفکرينو فکر يې د ازاد تفکر لوري ته بوته، پر ټولنيزو اخلاقو او نورو برخو بيا کتنه وشوه، په علمي ډګر کې هم تجربه يي حکمت ته ډېـر پام وشو. ايټاليايي هنرمندانو لکه (ليونــاردو داونچـــي، ميکــانجلو او رافايل) د ذوق او ښکلا ډېره پالنه وکړه، همدارنګــه بشــرپالو هــم د رنسانس له پوهې سره سم نوې کره کتنه رامنځته کړه، په تېره بيــا د لغوي او متني کره کتنې بنسټ يې کېښود، نه يوازې (وارچي، کاستل او ترو) د ايټاليا مخورو د شعر او هنر په باب د نړيوالو پوهانو نظريــات وڅېړل، بلکې هالنډي (ارسموس) او نورو هم کره کتنې او د متنونــو څېړنې ته ډېره پاملرنه وکړه، همدا کره کتنــه او څېړنــه ددې ســبب شوه چې د اروپا کلاسيک ادبيات ډېر مثمر شي او د هغو په لمن کې د (مولير، کرني، راسين، شکسپير، داديدن) او نورو په شان لوی ليکوال راوټوکېږي او نوميالي شي. دې ادبياتو په حقيقت کې د روم او يونان له فرهنګي شتمنيو الهام اخيسته او د رنســانس دورې د نوښــتګرو هلو ځلو ثمره وه.

په هغه پړاو کې چې (فرانس بېکن) د (ارستو) له تفکر څخه د غربــي نړۍ د ازادۍ هڅه وکړه، د رنسانس تر تاثير لاندې کلاســيک ادب لا هم د ارستو د (شعر فن) او دده نورو تفکراتو ته د تعجب پــه ســترګه

کتل. ددې دورې کره کتنه لا هم د رنسانس پر لاره روانه وه، د (بېکن او دکارت) نظرياتو لا پرې کوم اغېز نه و کړی. په فرانسه کې ددې پړاو نومیالی کره کتونکی (بوالو) و. دی د (لافونتين، اسکين او مولير) پــه شان یو ښه شاعر هم و. هغه پر پخوانيو قواعدو، په تېره بیا د (ارستو) (د شعر فن) باندې ټينګار کاوه او استدلال يې کاوه، چې دا کار ځکــه باید عملي کړو چې د ارستو اصول او قواعد له عقل او منطــق ســره موافق دي. هغه داسې ګڼله چې په هنر کې د پخوانيو پوهــانو د لارې څارنه کولای شي، موږ حقيقت او ښکلا ته ورسوي. د پخوانيو پوهــانو د لارې د تعقيب سپارښتنه رومي شاعر (موراس) هم کوله.

په انګلستان کې په (بوالو) پسې، (الکساندر پوپ) هــم ددې نظريــې ملاتړ وکړ او د کره کتنې په باب يې په يوه منظومه رساله کــې خپــل نظر څرګند کړ. وروستی سړی چې د پخوانيو پوهانو د ذوق له پلــوۍ څخه يې ګټه پورته کړه هغه (ګوتشد) الماني و.

ده د فرانسوي ادب ځانګړتيا ستايله. دی د (لايــپ نيــتس وولــف) د افکارو تر اغېز لاندې و. د شعر او خطابې هنر په باب يې يو کتابګوټی هم وليکه. (ګوتشد) په دې نظر و؛ چې په شعر او ننداره کې بايــد لــه نامعقولو او ناباوره شيانو څخه ځان لرې کړو او حقيقت ته بايد مخــه کړو. په ډاډ سره ويلای شو چې په دې برخه کې د (بوالو) نظرياتو پــر ده اغېز کړی و، د هغه نظرياتو جنجالونــه راوټوکــول او د پخوانيــو او نوښتپالو ترمنځ د ناموافقو نظرونو له څرګندېدو سره ســره، ورو ورو نوې پوهې د ادب د خاوندانو پر اثارو او افکارو خپل اغېز وښنده. پــه اتلسمه پېړۍ کې پر دوديزې روزنې ټينګار عملي بڼه خپله نه کــړه او

د فرانسې انقلاب ته تر نږدې وختونو پورې دې فکر پــر شــدت ســره دوام پیدا کړ. په دې دوره کې د اروپا د پوهانو نظریات په کــره کتنــه کې د نویو افکارو د ټوکېدو سبب شول. د ساري په توګــه د (تــامس هابز، جان لاک او کندیاک) د نظریاتو پر بنسټ، زیــاتره پــر حــس او تجربې ډېره ولګول شوه، د (لایب نیتس او د کارت) د نظریاتو له مخې عقل ته ډېره پاملرنه وشوه او د ایتــالوي کــره کتــونکي (ویکــو) لــه لیدلوري بیا د ښکلا پوهنې قضاوت ته ډېر ارزښت ورکړ شو. دی پــوه شو چې دا ډول قضاوت یو ډول پېژندنه ده چې له استدلالي معرفــت او تجربه یي معرفت سره توپیر لري او د هرې ټــولنې هنــر نــه شــي کولای ښکلو قضاوتونو او دودیزو طریقو ته تسلیم شــي. البتــه ددې نظر پر وړاندې مخالفتونه پیدا شول. (ولتر) ددې دورې په ادبیاتو کې د مبارزې رنګ ورزیات کړ، سربېره پر دې یې د روښنفکرۍ دورې لــه ژوندون سره د هنر اړیکي ټینګ کړل. (دیدرو) کــره کتنــه او ادب د ټولنې او اخلاقو د خدمت لپاره وګومــارل، المــاني کــره کتــونکي او لیکوال (لیسنګ) بیا د (دیدرو) د لارې د تعقیب ترڅنګ د پخوانیــو پر وړاندې ودرېد او د فکــر د ازادۍ لپــاره یــې مبــارزه پیــل کــړه او (نیکلمان) بیا په دې نظر و؛ چې هم اقلیم موثر دی او هــم ټولنــه. دا ډول افکار البته د هغه وخت په اروپایي ټولنــه کــې دود وو او د کــره کتنې پر جوړښت او تحول یې سخت اغېز وکړ. (نیکلمان) د لرغــوني یونان هنرمندانه ساده والــی او همدارنګــه د هغــه عظمــت د ازادۍ زېږنده ګڼل او هغه ته یې د هنري ایډیال په سترګه کتــل. د همــدې تعبیر پر بنسټ، د روښنفکرۍ پړاو د ظلم او خرافاتو پر وړاندې میدان

ته ودانګل. (ولتر، روسو او شيلر) هم ددې ډول فکر ملاتـړ کــاوه او د فرانسې لوی انقلاب د دوی هيلې تمثيل کړې.

(رنه ولک) چې ( د نوي نقد تاريخ) په نامه يې په پنځو ټوکونو کې يــو ځو زره مخيز غټ اثر ليکلی، وايي چې: (( د اتلسمې پېړۍ له نيمايي او د (۱۸۳۰م کال) تر لومړۍ لسيزې پورې د مهال ټول اساسي مسايل چې لا اوس هم موږ ورسره مخامخ يو، نوې کره کتنه يې رانغــاړي. دا هغه دوره ده چې په هغې کې د نوې کلاسيکې کره کتنې اډانــه، پــه هغه بڼه چې له پخوانيو دورو څخه په ميراث پاتې وه او په شپاړســمه او اتلسمه پېړۍ کې يې په فرانسه او ايټاليا کې پراختيــا مونــدلې وه، وپاشل شوه. دا د نويو افکارو او تمــايلاتو د ظهــور زمانــه ده چــې د نولسمې پېړۍ په پيل کې د رومانتيکي غورځنګونو په بڼه کې څرګند شوي وو.))(۳۲: ۳۵).

په المان کې د (کانت) نظرياتو کره کتنه غښــتلې کــړه، هغــه خپــل نظريات د عقلي استدلال پر ستنو ودرولي وو. خو (ژان ژاک روسو) پر ذوق ډېره لګوله. ددې وضعې په پايله کــې د (رومــانتيزم ښــوونځی) رامنځته شو. رومانتيزم، د معمول تصوير پر خلاف نه ګل و نه پتنګ او نه شاعرانه منظرې سره ارتباط لري او نه تشو خيالونو سره. دا داسې يو ښوونځی دی چې د ژوند واقعيتونو ته ګوري او نړۍ ليــد يــې پــر ټاکلې فلسفې او رښتينې تعبيــر او تفســير ولاړ دی. پــه هــر ډول د (کانت او فينمته) نظرياتو د رومــانتيزم ښــوونځي پــه جوړونــه کــې اساسي نقش درلود او (هنر د هنر لپاره) نظريه تر يوه حده د (کانــت) پر نظرياتو ولاړه وه. د المان دوه ستر شاعران (شيلر او ګويته) له دې

فلسفي څخه برخمن شول او (شلایرماخر) هم د رومانتیزم په پراختیا کې د پام وړ ونډه درلوده. د رومانتیزم جنجال تـر (۱۹) پېـړۍ پـورې وغځېد او دا مهال د نویو ښوونځیو په راټوکېـدو سـره غلـی شـو. د (شوپنهاور) د نظریاتو تر اغېزې لاندې چې ویل یې، موږ هېڅکله لـه بهر څخه د شیانو پر حقیقت نه پوهېږو، هر څومره چې زیاتـه پلټنـه وکړو کوم څه ته نه رسېږو، خو الفاظ او خیالونه چې ژوند ته د فریـب له دام پرته بل څه نه دي او دې ته ورته نـور نظرونـه او همدارنګـه د هغه د شاګرد (هاتمان) فکر، د سمبولیزم ښوونځی رامنځته کـړ. دې ښوونځي، د عقلي درک پر وړاندې حساسیت او احساس ته اهمیـت ورکاوه او دې کار د (شوپنهاور او هاتمان) له نظریاتو الهام اخیسـته، رمزو او کنایو ته ددې ښوونځي پاملرنه ځینې شاعران بدبینۍ او تشو خیالو ته راکاږل او وروسته د (فروید) د نظریاتو له امله خبـره (سـور ریالیزم) ته ورسېدله.

په سور ریالیزم پسې په اروپا کې نور ښوونځي لکه (ګزستانسیالیزم)، دادایزم، ریالیزم، ناتوریالیزم) او ګڼ نور ادبي جریانونه او د کره کتنې بهیرونه راوټوکېدل. دې بهیر ان تر شلمې پېړۍ پورې دوام وکـړ. پـه شلمې پېړۍ کې په نړۍ کې ډول ډول حوادث پېښ شول. په نړۍ کې ګڼ شمېر خونړي جنګونه وشول، سیاسي، ټولنیز، پوځي او نـور ډول ډول بدلونونه رامنځته شول، بشر د علم او تخنیک په برخه کې ډېـر زیات پرمختګ وکړ. ادبیاتو هم په تېره بیا په غربي نړۍ کـې، چـې د ډېرو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو شاهده وه، د (۱۹) پېـړۍ تر پایته رسېدو مخکې نوې بڼـه خپلـه کـړه. پـه دې خـاطر چـې د

سمبولیزم، ریالیزم، سور ریالیزم او نورو په شــان ښــوونځي او ادبــي جریانونه، چې یوه غټه برخه یې اوس، په ادبي مشاجرو کې مطرح ده، جریان لري. دې حالاتو نور حوادث وزېږول، طبیعي خبره ده چې دې حالاتو پر کره‌کتنې هم خپل خپل تاثیرات درلودل. په دې پېړۍ کــې یو زیات شمېر کره کتونکو د کره کتنې پر ارزونې او د اثارو پر تحلیــل لاس پورې کړ. دا نظریات که څه هم یو څه پخوانیو نظریــاتو متــاثره کړي وو، له بل پلوه یې پخوانۍ تجربې بدایه کړې او یــو شــمېر نــوي شیان یې کره‌کتنې ته وړاندې کړل. وخت لا اوس هــم ددې نظریــاتو ټینګښت او دوام ته منتظر دی. د منلو او یا نه منلو په برخه کې یــې باید له ډېرې بیړې کار وانه خیستل شي. یو ویشتمې پېړۍ تــه بایــد انتظار وا یستل شي، چې کوم یې ګټور او موثر ګڼي. تجربو ښودلې ده چې د تېرو پېړیو کره کتنې او نظرونه هم د هغوی پر خپــل وخــت او چاپېریال کې له ستونزو او نیمګړتیاوو خالي نه وو، خو دې سره سره د هغوی په منځ کې داسې کره کتونکي وو، چې د ادبیاتو او کره‌کتنې په پراختیا کې یې خپله ونډه واخیسته او ځان تــه یــې لاره خلاصــه کړه. د هغوی کار او زیار معاصرانو ته هم د منلو وړ شو او د لویو کــره کتونکو په توګه وځلېدل. ددې مسلې د پلي کېــدو یــوه وســیله پــه شلمه پېړۍ کې د انساني اړیکو پراختیا او ماشیني وسایلو وده وه.

د یادونې وړ ده چې په شلمه پېړۍ کې د ډول ډول او پېچلو حوادثــو حالت، نه یوازې د بدیعي اثارو په دودولو او ټوکولــو کــې خپــل رول درلود، بلکې د کره کتنې د ډولونو او طریقو د څرنګوالي په برخه کې یې هم رول درلود. غالباً د نړۍ په ګوټ کې چې یو ادبي ښوونځی او یا

کره کتنیز جریان رامنځته شوی، تاثیر او غبرګون یې پر ډېر لږ وخت په خپل ځای کې ځرګند شوی او له هغو سره نــوي مســایل یوځــای شوي دي.

د شلمې پېړۍ د کره کتنې له ځانګړتیاوو څخه یوه داده، چــې د دې پېړۍ کره کتنه دا مشخصوي، چې د ادبیاتو د پخوانیو لویــو لیکوالــو نشتوالی او هغوی ته د مراجعې تشیال دی. په حقیقــت کــې د تېــرو پېړیو پر خلاف چې د (پوپ، بوالو، سنت بوو، بیلنسکي) او نورو اکثرو مثالونو د تېرو لیکوالو د ځواکمنې یادونه کوله، هغه کره کتنــه چــې جریدو، اوونیزو او میاشتنیو کې خپرېده او کله کله یې هغه د مبارزې کره کتنې په نامه یادوله، د یو نوي جمهوري فکر ښکارندویه شوه. په دې کره کتنه کــې پخوانیــو تــه د مراجعــت او فرصــتونو د تســاوي نشتوالی، ځینې ادبي مشاجرې د کره کتنې له دایرې څخه وویستلې. له کره کتنې څخه دا ډول انګېرنه په واقعیت کې درومانیک ښوونځي له فکره الهام اخلي.

په شلمه پېړۍ کې د کره کتنې یوه بله ځانګړنه، تطبیقي اړخ ته تمایل دی. د شلمې پېړۍ پر کره کتنې د تطبیقي روح غلبې علت د روابطــو پراخوالی، ژباړې، د رسنیو او نورو تبلیغي ذریعو زیاتوالی دی.

ددې پېړۍ د کره کتنې بله ځانګړنه د فلسفې او ټــولنیزو ښــوونځیو اغېز دی.

کله چې شعر ددې ډول بهیرونو تر اغېز لاندې راشي، کــره‌کتــونکی وغواړي او که نه، په یو نه یو ډول به یې تحلیل، ارزونه او قضاوت ددې ډول تمایلاتو تر اغېزې لاندې راځي. نو ځکه خو د شلمې پېړۍ کــره

کتونکی ددې پر ځای چې په تولیز ډول واقعیتونــه ووینــي، د ادبــي پدیدو په څېړنه کې د خپلو عقایدو او افکارو تر اغېزې لاندې راځــي. غالباً داسې کره کتنې ته لاره اوارېږي چې یوه لوري تــه بــه ژمنتیــا ولري. لکه څنګه چې په ځینو برخو کې د وخت د اخلاقي، ټــولنیزو، ارواپوهنیزو او فلسفي ښوونځیو تر تاثیر لاندې ده، نو ځکه خو د نوي عصر له فکري او علمي جریانونو پرته د شلمې پېړۍ پــر کــره کتنــه پوهېدنه ګرانه ده.

ښه به وي چې ددې پېړۍ کره کتنه د لویدیزې نړۍ د کره کتونکو له نظره مطالعه کړو. چې دوی په دې برخه کې څه وایي.

شلمې پېړۍ ته نږدې د کره کتنې په ډګر کــې پــه انګلســتان کــې د (ماتیو ارنولــد) (۱۸۸۸م) تعلیمــات څرګنــد وو. د ده بــل هېــوادوال (والستر پاتر) (۱۸۹٤م) هم په دې برخــه کــې ښــه شــهرت درلــود. (ارنولد) شعر ته ډېر ارزښت ورکاوه، هغه فکر کاوه چې شعر د انســان د ژوندانه ترجماني کوي. هغه کره کتنه د انسان د فکر محصول ګڼله او له کره کتونکي څخه یې هیله کوله چې تل د ځان پېژنــدنې هڅــه وکړي، لوستونکي ته ښه لارښوونه وکړي او خوښي ورته وروبښي. ده هڅه کوله د پخوانیو او معاصرو کره کتونکو د نظریاتو تــرمنځ انــډول وساتي. (ارنولډ) په کره کتنه کې د شاعر او لیکوال د ژوند او احوال او همدارنګه د محیط پېژندنه مهمه ګڼله او ښکلا ته یې زیاتــه پاملرنــه کوله، خو (والتر پاتر) بیا لذت ته ډېر فکر کاوه او (وسوین برن ګو) بیا په خپله زمانه کې (هنر د هنر لپاره) مفکورې ترویج ته زیات کار وکړ. په انګلستان کې د شلمې پېړۍ د لومړیو وختونو لــه کــره کتــونکي

 څخه یو هم (جرج سینتبوري) و چې تاریخي او تحلیلي کره کتنې ته يې پام وکړ، (کالیربج) بیا د ادبي اثر په کره کتنه کې (تحلیل) ته زیات اهمیت ورکړ او په خپل اثر ( له ادبیاتو سره کره کتنیز چلند) کې يـې همدا مسله مطرح کړه. د ده کره‌کتنې تحقیقي بڼه درلودله. (تـي. ای هارلم) بیا د ناپېیلي یا بې طرفه نقد توصیه وکړه، ده غوښـتل ثابتـه کړي چې کره کتنه د ژوندانه یوه مهمه برخـه ده، ځکـه نـو بایـد د ژوندون ورځنیو اړتیاوو ته ځواب ووايي.

(تي، اس، الیون) بیا په خپل کتاب ( د شعر او کره کتنې ګټـې) کـې خپل نظر د کره کتنې په باب بیان کړ، هغه نـه یـوازې کـره کتنـه د معاصرینو د اثارو د نقد، بلکې د پخوانیو لیکوالو د کره کتنې لپاره هم لازمه وګڼله. د ساري په توګه د (ارستو) په باب يې ولیکل: ((فکر کوم د شعر په باب د ارستو هغه لیکنې چې تـر مـوږه رارسـېدلي دي، د یونان د تراژیدۍ د لیکوالو په باب يـې زمـوږ درک لا ډېـر ژور کـړی دی.)) (الیوت) په شعر کې انځور ته ډېـر ارزښـت ورکـاوه. د انځـور ترڅنګ يې عاطفه هم مهمه ګڼله. دی سره له دې چـې د معاصـرې نړۍ سړی دی، د خپلو معاصرینو پام د پخوانیو شاعرانو شعر ته اړوي او له هغو سره د اړیکو پر ټینګولو ټینګار کوي.

(ورجنیا وولف) (۱۸۸۲- ۱۹۴۱م) په کره کتنه کې په دې نظر و، چـې د یو هنري او ادبي اثر اهمیت په هغه حالت او احوال کې نغښتی چې دا اثر په کې منځته راغلی دی.

د اثارو پر تاریخي ارزښت سربېره يې د اثر ښکلاییز اړخ تـه هـم پـام کاوه.

په فرانسه کې کره کتنې د هغې د پخوانۍ غښتلې سابقې له امله پــه شلمه پېړۍ کې نوره وده هم وکړه.

د شلمې پېړۍ په پیل کې د (برونه تیر، امیل فاګه، ژول لومتر، اناتولي فرانس او ګوستاولانسـون) نومونــه د هــر چــا پــه ژبــه ګرځېــدل. (ګوستاولانسون) تاریخي او علمي کره کتنې ته ډېره پاملرنــه کولــه. (امیل فاګه) د فرد حال او د هغه خوی او خُلق ته پر پاملرنې ټینګــار کاوه. هغه په یوه اثر کې د لیکوال اخلاقي او رواني شېبو تــه پاملرنــه کوله. (رمي دوګورمون، پیرلاســر او ژلوســتر) د فرانســې نــور مهــم کره‌کتونکي وو. پر دې سربېره د (ژان پل سارتر) نوم هم د یادونې وړ دی. هغه په کره کتنه کې د یو زیات شمېر ادبــي ټولنــو پــام ځانتــه راواړوه او ((ادبیات څه دي؟)) نومي اثر کې یې لیکوال او کره‌کتونکي ته د تعهد او التزام اړتیا روښانه کړه. پر پورتنیو کره‌کتونکــو ســربېره (اندره مالرو، البرکامو، اندره ژید) سره له دې چې لوی او بــا اعتبــاره لیکوال وو، کله کله یې کره کتنه هم کړې ده.

په (اسپانیا) او (ایټالیا) کې که څه هم ادبي کره کتنې خپل شور وځوږ درلود، خو د ځینو نورو هېوادونو په اندول ډېره قوي نه وه. په تېره بیا د فرانسې، المان او امریکا په اندول. په دې هر هېواد کې ډېر ځواکمن کره کتونکي وټوکېدل. په اســپانیا کــې کــره کتنــه د هومــانیزم یــا بشرپالنې د روح تر اغېزې لاندې وه. په ایټالیا کې بیا کره کتنې نسبتاً زیات قوت درلود. په ایټالیا کې (بندتوکروچه، جوانی جنتله) نومیالي کره کتونکي وو. په تېره بیا (کروچه) د ایټالیا کره کتنې کې نوې ساه

پو کړه. که څه هم د (کروچه) نقـد فلسـفي اړخ درلـود، خـو ښـکلا پېژندنې ته یې هم ډېره پاملرنه وکړه.

په شلمې پېړۍ کې په المان کې کره کتنې بیا خپلې ځانګړنې لرلــې. په پیل کې کره کتنې د (ناتوریالیزم) پر لیدلوري ولاړې وې. د شلمې پېړۍ په پیل کې (ینرش هارت، (۱۸۵۵-۱۹۰۶) نوم چې اصلاً شاعر او لیکوال و، د کره کتونکو په نوملړ کې راغی. دده ورور (بویوس هــارت (۱۸۹۰- ۱۹۳۰) د ناتوریالیزم پر اساســاتو د ادبیــاتو څېړنــه کولــه. د (هرمان بار ۱۸٦۳- ۱۹۴۳) په فعالیتونو سره د ناتوریالیزم اساســاتو او اصولو ته زیان ورسېد، د( رومانتیک، سمبولیزم، تعبیر پــالنې) او دې ته نور ښوونځي راوټوکېدل او ادبــي کــره کتنــه د نــوي رومانتیــک ښوونځي اساساتو ته داخل شوه.

(شپتلر) او (شتفن ګیورګه) په ادبیاتو کې د لویو قالبونو او مضمونونو په لټه کې شول. د (الکساندر شرودر) او (ویلیم شــولیس) پــه شــان نورو کره کتونکو د شعر، کیسې او نندارلیک پر کره کتنو پیل وکړ.

د دویمې نړیوالې جګړې په پایته رسېدو او د المان تر تجزیې وروسته له شک پرته کره کتنه په یوه حالت کې پاتې نه شوه، ادبي کره کتنــه پر بېلابېلو لیدلورو ووېشل شوه.

ادبي کره کتنه په امریکا کې د شلمې پېړۍ له پیل څخه زیات اهمیت حاصل کړ. د (نوي نقد) یا تخلیقي نقد په باب د (جویــل ســپینګارن، (۱۸۷۵-۱۹۳۹) نظریاتو خپرېدل د هیومانیزم انګېرنې غښتلې کــړې او د (نوي هیومانیت) مفکورې پلویان د نویو معیارونو د پیداکولو پــه لټه کې شول. د (ه. ل. نکن) په نامه یو نومیالی کره کتــونکی پــه دې

نظر دی چې: (( ژوند لکه څنګه چې دی باید همغسې انځور شي.)) د نومیالیو کره کتونکو په ډله کې یو (عرزاپاوند) دی، او (ا. مک لـیش) هم کولای شو په دې ډله کې حساب کړو. (مک لیش) د خپلـو نـورو نظریاتو ترڅنګ هم له یوې خوا د تخیل پر ارزښت ټینګار کاوه او لـه بلې خوا یې داسې انګېرله چې د شعر د لتې په خاطر د انسان د ټولو هڅو هدف دادی چې د هغه ماهیت باید پیـداکړي. هغـه (د شـعر او تجربه) په نوم په خپل اثر کې د شعر د ژوندانه لپاره تخیل تـه زیـات ارزښت ورکوي.

(مک لیش) د شعر او نورو ادبي ډولونو د کره کتنې پـه برخـه کـې د شکل او مانا پیوند په پام کې نیسي. لـه همـدې کبلـه هغـه وایـي، ناشونې ده چې کره کتونکی په شعر او یا بل هنر کې مانا ته د رسېدو وسایل، له مانا څخه جلا کړي.

دده په نظر د وسایلو همدا نفس دی چې مانا تضمینوي.

په واقعیت کې په ادبي کره کتنه کې د (عرزا پاونـد، مـک لـیش) او (والیوت) نظریات د (ریچاردز) له نظریاتو سره ورتوالی لري، خـو دې سره سره یې د ادبي کره کتنې په باب کتـاب (د ادبـي کـره کتنـې اصول) کې لیکلي چې ارزښتونه کولای شو د ارواپوهنې پـه وسـیله وپېژنو. البته له ارزښت څخه دده مقصد انساني تجربـې دي. کېـدی شي ادبي وي او یا نورې. لکه څنګه چې مو یادونه وکړه ده د ارزښـت مسالې ته ډېر پام وکړ، په خپل کتاب کې یې له ارزښت سـره د نقـد اړیکي مشخص کړل.

په هر حال (ریچاردز) د ادبي کره کتنې په برخه کې ځرګند رول ولوباوه. کوم څه چې دده په نظریاتو کې راڅرګند شول او د ادبي کره‌کتنې په اصولو کې د ارزښتونو د نظام یو ډول فلسفه ترې جوړه شوه، همدا نظریه (عرزاپاوند) او (الیوت) د یوه تحلیلي نقد په توګه ځرګنده کړه.

د امریکا په ادبي ټولنو کې د (عرزاپاوند) انتقادي کتنې په تېره بیا تر لومړۍ نړیوالې جګړې دمخه مهال زیاتې پراخې شوې. ده د (رومانس روح) په نامه په خپل لومړني انتقادي اثر کې د (ریچاردز) د وینا اساسي جوهر په ساده ډول انځور کړ. په واقعیت کې (ریچاردز، پاوند) او (الیوت) په امریکا کې د (نوې کره کتنې) د ښوونځي اصول او مبادي په خپلو ځانګړو بیانونو سره رامنځته کړل. د یادونې وړ ده چې د (پاوند) کره کتنې زیاتره عملي بڼه درلودله، نو ځکه خو د امریکا د ځوانانو ترمنځ زیاته دود شوه او د منلو وړ وګرځېده. ددې ترڅنګ، هغه طریقه چې په کره کتنه کې د (ریچاردز، پاوند او الیوت) له خوا وکارېدله، دا وه چې کره کتونکی باید د یو اثر د پېژندنې لپاره خپله اثر ته ډېره پاملرنه وکړي، نه هغه چاپېریال ته چې دا اثر په کې ټوکېدلی دی. ځینې نورو کره کتونکو لکه، (تیت آر یی، بلاکمر او کنت برک) زیاتره د شعر قالب او ظاهري بڼې ته کتل، ځکه (بروکس) او (وان دیک) ددې ساحې ځینو څېړونکو پورتني اصول د قالب پالنې اصول ګڼل. یو بل امریکایي کره کتونکی بیا ادبي اثار د سیاسي او ټولنیزو مسایلو له نظره څېړل، خو (وی. ال پارینګون) بیا ادبیات د ولسواکۍ د معیارونو له مخې سنجول. ځکه نو په امریکا کې د ادبي

کره کتنې جریانونو د ځینو نورو کره کتونکو په رامنځته کېدو سره، له مشخصو ځانګړنو سره دوام پیدا کړ.))(۲۱: ۴۱-۵۱).

## ب- کره کتنه په ختیځ کې:

په غربي نړۍ کې د مذهبي افکارو او له مذهب څخه د ناسمو تعبیرونو حاکمیت که څه هم نړۍ نږدې یوه زریزه په تیاره کې وساتله او دې بهیر تر رنسانس پورې دوام وکړ، خو شرقي نړۍ په تېره بیا اسلامي نړۍ له دې تیارو څخه تر ډېره حده لرې پاتې شوه. په اسلامي نړۍ کې بیا عربي نړۍ تر ټولو زیاته مطرح ده، دلته غواړو د عربي نړۍ ته تم شو.

## ۱- کره کتنه په عربي نړۍ کې:

کره کتنه په ختیځ کې اوږد تاریخ او تسلسل لري. دا تسلسل لکه د غربي نړۍ په شان غوڅ شوی نه دی. په تېره بیا په عربي نړۍ کې تر اسلام دمخه او وروسته او بیا هم د اسلامي دورې په بېلابېلو پړاوونو، سیمو او واکمنیو کې کره کتنې خپل شتوالی ساتلی دی، چې مخکې مو څه ناڅه رڼا پرې واچوله او د مهمو کره کتونکو نومونه مو یاد کړل. په ختیزه نړۍ کې په سوونو ژبې او تمدنونه دي، چې د کره کتنې په برخه کې پر ټولو بحث کول د یوه اثر یا څو کتابونو له اوسېلې څخه وځي، خو دلته غواړو هغه ژبې او ټولنې چې له کلتوري، ژبني او ادبي پلوه زموږ له کلتور، ژبې، ادبیاتو سره څه ناڅه ارتباط لري، په معاصره یا اوسنۍ دوره کې ددې ژبو د کره کتنې پر ځرنګوالي او د

کره کتنې پر مخکښانو لنډه رڼا واچوو. لومړی راځو د عربي نــړۍ پــه تېره بیا د دوی د ویښتیایي پېر کره کتونکو ته.

له هغو ادیبانو او کره کتونکو څخه چې د عربو د بیــا ویښــتیا پېــر د ادبي کره کتنې د بشپړتیا او پرمختیا غورځنګ مخکښان بلل کېږي، ځینې په لاندې ډول درپېژنو:

## ۱- احمد فارس الشدیاق:

(۱۸۰۵- ۱۸۸۷م کلونه) د احمد فارس د ژوند کلونــه دي. (فــارس بــن یوسف الشدیاق) د لبنان د (بعشــقوت الکســروانیه) پــه کلــي کــې زېږېدلی دی، له (عین ورقه) مدرسې څخه فارغ شوی. د عمر پر لسم کال یې شعر ووایه او ډېر هغه کتابونه یې چې د پلار په کتابتون کــې وو، په غور او مینه ولوستل. ډېــر بېــوزلی و او د کتــابونو د نســخو د لیکلو په اجوره یې ګوزاره کوله. کله چې امریکایي عیسوي دعوتګرو د هغه د پوهې اوازه واورېده، مصر ته یې وروغوښت چې عربي ورزده کړي. په مصر کې هم پر زده کړه بوخت شو او د ((الوقائع المصریه)) د عربي څانګې د لیکنې کار هم ور وســپارل شــو. بیــا لــه مصــره پــر (۱۸۳۴م) کال (مالټا) ته د امریکایانو په مدرسه کــې د زده‌کــړې او د هغو د خپرونو د تصحیح لپاره ولېږل شو. هلته یې د مالټا پــر تــاریخ کتاب ولیکه، بیا د کیمبرج پوهنتون د انجیل د ژباړنې ټولنې، لنــدن ته وغوښت، هلته یې ددغه کتاب په ژباړه کې برخــه واخیســته او د انګرېزي ټولنې په هکله یې څېړنې وکړې. بیا پاریس ته ولاړ او هلتــه یې فرانسوي او انګرېزي ژبې ښې زده کړې. لــه پــاریس څخــه نــورو

اروپايي هېوادونو ته ولاړ او خپل یونلیک ((کشف المخبــاعن فنــون اوربا)) يې ولیکه. دغه مهال يې د ((الساق علــى الســاق فــى مــاهو الفارياق)) په نامه کتاب هم ولیکه. په پاریس کې يې د عثماني پاچــا عبدالمجيد په مدح کې قصیده وویله، هغه وروغوښت، خو دغه مهال د تونس ((بای)) (د تونس مشر واکمن) په پاریس کې پرې پېښ شو، د هغه په مدح کې يې د عربي نامتو شاعر کعب بــن زهیــر پــه تقلیــد قصیده وویله. کله چې هغه خپل هېواد ته ورسېد، ور ويې غوښــت او ډېر عزت يې ورکړ. هلته په رسېدو سره د ((الرائد التونسي)) رســمي جریدې د لیکنې ډلې مشر وټاکل شو او د اسلام پر سپېڅلي دين هم مشرف شو، بیا د (احمدفارس) په نامه ونومول شو او په ټولــو عربــي هېوادونو کې يې په پوهه او ادب کې نوم وایســت. بیــا د (آســتانې) عظمی صدارت وروغوښت او پر (۱۸٦۰م) کال هلته ورسېد. هلته يــې ډېر درناوی وشو او د ((الجوائب)) په نامه ورځپاڼه يې راوایستله. پــر (۱۸۸۷م) کال په آستانه کې مړ شو، خو د هغه له وصیت سره ســم د بېروت په یوه هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

د شدیاق په لیکنو او نظریو کې بنسټپالنه لیدل کېږي. د ژوند ناخوالو ډېر ځورولی و. پر هغه چا چې دی يې تنګاوه، ډېر په غوسه کېــده او کلک غچ به يې ځنې اخیسته. هغه پــر پورتــه يــادو شــويو کتــابونو سربېره نور ډېر کتابونه هم لیکلي دي.

**الف- ټولنیزه کره کتنــه يــې:** (حنافــاخوري) وايــي: شــدياق سودايي مزاجه و. د خلکو عیبونو او ناوړو کارونو تــه بــه يــې خُلــق تنګېده او ځوراوه به يې، خو چې ملنډې به يې پرې ووهلې، خوښ به

شو، وایي چې دده پلار او نور خپلوان عثماني دولت فراري کــړي وو، ځمکې یې ورضبط کړې وې او له ډېرو کړاوونو سره یې مخامخ کــړي و، له دې امله دی هم له واکمنو څخه د غچ اخیستنې په لټه کې وو او څنګه چې ځنې وېرېده، د هغو خدمت یې د زړه له اخلاصه نه کاوه. له دیني عالمانو سره یې هم نه وه جوړه، ځکه هغو دده د رایو او تمایلاتو مخالفت کاوه، له بله پلوه څنګه چــې یــې د خپــل هېــواد وروســته پاتیوالی د اروپایي هېوادونو له پرمختیاوو سره پرتله کړ، نو یې خپــل قلم کره کتنې ته وګوماره.

د شدیاق کره کتنه، افرادو او ټولنې دواړو ته متوجه وه، هغه به خپلې خبرې په جرایدو کې د ((جمل ادبیة) تر سرلیک لاندې تل په ((مــن الناس)) پیلولې او د خلکو پر ناوړه خویونو او دروغو ویلــو او داســې نورو شیانو به یې نیوکې کولې. د کورنیو په اړه د هغه دا رایه وه چــې ښځه د نر له استبداده وژغورل شي او اولاد د والدینو له نــاپوهۍ، او همدارنګه په روزنه کې د هغو له ناسمو کــړو وړو ازاد شــي. ښــځې د (شدیاق) په اند د لوی څښتن یو غوره مخلوق دی، د ژوندانه کچه یې باید لوړه شي او په ګټورو پوهنو وپسولل شي.

څنګه چې یې په لویدیځ کې لیدلي وو، چې علــم، ښــوونه او روزنــه هلته پرمخ تللي، نو هیله یې لرله چې دده په هېواد کــې هــم علــم، ښوونه او روزنه هغسې وي، ځکه یې پر خپــل هېــواد مســلط جهــل غنده، تل به یې د خپلو لیکنــو لــه لارې پــه لویــدیځ کــې د علمــي پرمختیاوو معلومات خپرول او خپل ولس به یې د هغه ځای له نــورو اکتشافاتو خبراوه.

**ب- ادبي کره کتنه يې:** (شدياق) له ادب سره ډېره مينه درلوده او د لرغوني او نوي ادب په اړه يې بشپړ معلومات درلودل. له تقليدي بنديزونو څخه بېزار و، پر دې اساس يې د عالمانو او اديبانو پر مروجو اسلوبونو نيوکې کولې، که څه هم دی په خپله نه دی بريـالی شــوی چې په خپلو ځينو منظومو او منثورو اثارو کې لــه هغــو څخــه ځــان وژغوري.

څنګه چې هغه په خپلو سفرونو کــې د لويــديزو ادبيــاتو او اروپــايي ليکوالو د اندونو او تعبيرونو په هکله معلومات ترلاسه کړي وو، نو يې د عربي ادبياتو پر پخوانيو طريقو او متداولو اسلوبونو نيوکې کــولې او د عربي نحوې، د هغې له سختو او مشکلو طريقو، د بيان او بديع او د هغو د اړوندو صنايعو لــه بــې ګټــې اســلوبونو څخــه يــې ناخوښــي څرګندوله.

هغه په خپلو لغوي کتابونو کې ځانته بېله لاره غوره کړې وه او د کلمو ماناوو ته يې ټول پام اړولی و. د کلمې اصــل او مانــا او د تــوري عــام مدلول او خصايص به يې پلټل او په دې توګه د ډېرو لغتونو پر اسرارو داسې پوهېده چې نور ډېر لږ عالمان به پرې پوهېدلي وي.

هغه شعر د مناسباتو له بنديزونو او پخوانيو اسلوبونو څخه ازاداوه. له دې امله هغه پر شاعرانو ځورونکې نيوکې کولې، خو دې سره ســره يې بيا هم ځان له همغو مناسباتو ازاد نه شو کړای.

د نثر پر پخواني دوديز شکل يې هم کلک بريدونه کول او له پخــواني شکل څخه يې د نثر د ازادولو هڅه کوله.

## ۲- شیخ ابراهیم یازجي:

شیخ ابراهیم یازجي له (۱۸٤۷-۱۹۰٦م) کلونو پورې ژوند کـړی دی. د نومیالي پوه او لیکوال، (شیخ ناصیف یازجي) زوی دی. په بیروت کې زېږېدلی. تر تحصیل وروسته یې پر (۱۸۷۲م) کال د ((النجاح)) په نامه جریده راوایستله، بیا له عیسویانو سره (نهه کاله) د (انجیل) د عربي ژباړې پر سمون بوخت شو او د دې ترڅنګ یې د عیسوي پادریانو په غوښتنه د لغتونو کتاب (( الفرائد الحسان مــن قلائــد اللســان)) پــر لیکلو پیل وکړ. د بېروت په (بطریرکیه) مدرسه کې یــې د ښــوونکي دنده هم ترسره کړه او ددې ټولو چارو ترڅنګ یې بېل بېــل کتابونــه تصحیح او د پلار ځینې نابشپړ کتابونه یې بشپړ او ځینې یې لنــډ او خلص کړل. بیا یې د ((نجعة الرائد)) کتاب ولیکــه. بیــا یــې د درېــو ډاکترانو په ملګرتیا د ((الطبیب)) په نامه مجله راوایستله، کله چــې یې په مصر کې ډېره ازادي ولیدله، د ادب او خپرونې د کار قــدر، نــو اروپا ته یې سفر وکړ او د ځینو اړتیا وړ سامانونو او شیانو تر برابرولــو وروسته مصر ته ولاړ. لومړی یې خپل یوه پخواني ډاکتر ملګري ســره یوځای د ((البیان)) په نامه مجله راوایستله، خو یو کال وروسته سره بېل شول او بیا یې پر (۱۸۹۸م) کال د ((الضیاء)) په نامه مجله خپــره کړه او اته کاله یې د خپلې مړینې ترمهاله وچلوله. هغه پر دې سربېره چې عالم، شاعر، لیکوال، ورځپاڼــه لیکــونکی او ویــي پــوه و، کــره کتونکی هم و.

هغه ادبي اثار له مانیز او هنري پلوه کره کول او په دې هکلــه د نظــر خاوند او د سلیم ذوق څښتن و.

## ۳- سلیمان البستاني:

(۱۸۵٦- ۱۹۲۵م) کلونه دده د ژوند زمانه ده. (سـلیمان البسـتاني) د (لبنان) په (بکشتین ) نومي ځای کې زېږېـدلی دی. د (بېـروت) پــه (المدرسة الوطنیة) کې یې زده کړه کړې او په خپل ځاني کوښښ یې انګرېزي، فرانسوي، الماني، یوناني، ایتـالوي، اسـپانوي، بلغاریـایي، هنګري او پرتګالي ژبې زده کړي او په ریاضي، کیمیا، حقوقو، کرنــه، سوداګرۍ، کانپوهنه او ټولنپوهنه کې یې مالومات ترلاسه کـړي دي. عراق او د عربو ټاپو وزمې ته یې سفرونه وکړل او بیا یې په بېروت کې له (سلیم البستاني) سره د (دایره المعـارف) پـه لیکلـو کـې برخــه واخیسته. بیا بېرته بغداد ته ولاړ، هلته یې له یوې ښـځې سـره واده وکړ. بیا یې په مصـر کـې د (هـومر) د (ایلیـډ) منظومـه پـه عربـي وژباړله،سریزه او شرح یې پرې ولیکله.

بیا یې پر (۱۹۰۸م) کال د ((عبره و ذکری)) په نامه کتاب خپـور کـړ، دې کتاب له هغه سره د هغه د وطنوالو مینه زیاته کړه او د (بېـروت) له ولایت څخه پارلمان ته وټاکل شو. بیا د پارلمان د دویم مشـر پــه توګه انتخاب شو، بیا د عثماني دولت د استازي په توګــه د اروپـایي هېوادونو پلازمېنو ته ولاړ. پر (۱۹۱۳م) کال د کرنــې او سـوداګرۍ د وزیر په توګه غوره شو. دغه مهال یې کوښښ وکړ چې عثماني دولت په جګړه کې برخه وانه خلي، خو چې خبره یې ونه منل شـوه وزارت یې پرېښود او د درمنلې لپاره سویس ته وخوځېد. تر جګړې وروسته مصر ته ولاړ، پر (۱۹۲۴م) کال امریکا ته ولاړ، هلته یې د خپلو کډوالو

هېوادوالو له خوا تود هرکلی وشو او امریکایانو هم په درنــه ســترګه ورته کتل، خو وروسته په سترګو ړوند او پر (۱۹۲۵م) کال مړ شو.

د (بستاني) کره کتنه له هغه ځایه چې په هغه کــې د یــوه رښــتیني کره‌کتونکي اوصاف شته د عربي کره کتنې په غورځنګ کې یو ښېــل پړاو جوړوي. د هغه پراخه مطالعه د (ایلیډ) پر منظومه باندې د هغه له تعلیقاتو څخه په ګوته کېږي، البستاني د هغو رښتینو پوهانو په ســر کې راځي چې د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپــاره یــې هــر ډول ستونزې زغملي. هغه د (ایلیډ) پر عربــي کولــو او ســپړلو بانــدې د شاوخوا سلو شاعرانو اثار، د یونان او عربو ډېــرې مهمــې ســرچینې پلټلي، د لاتیني، انګرېزي او فرانسوي ژبو په اشــعارو یــې استشــهاد کړی، د ډېرو کره کتونکو نظریې یې پرې را اخیستي او ډېر جغرافیوي او نور مسایل یې په کې څېړلي او ځای کړي دي.

ددې ترڅنګ یې د (ایلیډ) په شننه کې له ډېره دقته هم کار اخیستی دی او ډېر کتابونه یې ورته کتلي دي، تر دې چې د یوه بیت د موندلو لپاره یې، چې د دلیل په توګه یې وړاندې کړی، درست کتاب لوســتی دی.

پر (بستاني) باندې د علمي او فلسفي لېوالتیا ذوق دومره غالب و چې هغه به د (هومر) شعر د خپل فلسفي تمایل له مخې څېړه او د یوناني او عربي ادب توپیرونه به یې له دغه نظره په ګوته کول، پــه تــاریخي، ژبنیو او اخلاقي مسایلو کې یې له زیاتې څېړنې څخه کار اخیســتی. خو کره کتنه یې د ادبي فنونو، ځیرکتیا او پوهې څخه برخمنه وه.

## ۴- جرجي زيدان:

(۱۸۶۱-۱۹۱۴م) کلونه دده د ژوند زمانه ده. (جرجي زيدان) په (بېروت) کې زېږېدلی په (مدرسه ثلاثة اقمار) کې يې څه زده کړه وکړه، بيا په داسې حال کې چې کوچنی و په بېروت کې د ناکراريو او مذهبي شخړو له امله اړ شو، چې سبق پرېږدي او له پلار سره د کورني خرڅ په پيداکولو کې مرسته وکړي، له علم او ادب سره يې زياته مينه درلوده، ډېر کتابونه يې ولوستل، انګرېزي ژبه او ډېر نور څه يې زده کړل. پر (۱۸۸۱م) کال په بېروت کې امريکايي پوهنتون ته شامل شو او د روغتيايي علومو او درمل جوړولو په برخه کې تر څه زده کړې وروسته يې بېرته هغه پرېښود، بيا مصر ته وخوځېد او د ((الزمان)) د جريدې د خپرولو چارې يې پرغاړه واخيستې، بيا يې پر (سوډان) باندې د انګرېزانو د حملې پر مهال د مصريانو او سوډانيانو د ژباړن په توګه دنده ترسره کړه.

پر (۱۸۸۵م) کال بېروت ته لاړ او د ختيځ د علمي ټولنې د غړي په توګه وټاکل شو، بيا يې انګلستان ته سفر وکړ او بېرته مصر ته لاړ او هلته د تاليف، ژباړې او مجلې ليکلو پر کار بوخت شو. پر (۱۸۹۲م) کال يې د ((الهلال)) مجله راوايستله او ان د خپلې مړينې تر مهاله يې وچلوله.

هغه د تاريخ، جغرافيې، ادبي او لغوي علومو او کيسو په باب کتابونه وليکل، مشهور يې ((تاريخ مصر الحديث))، ((تاريخ التمدن

الاسلامي))، ((تراجم مشاهیرالشرق)) او ((تاریخ آداب اللغة العربیة)) دي.

(جرجي زیدان) د عربي ژبې له هغو معاصرو لیکوالو څخه دی چې ډېر مهم او په زړه پورې کتابونه یې لیکلي، ((تاریخ آداب اللغة العربیـــة)) اثر یې له ډېرو ادبي فوایدو څخه ډک دی او په (الهلا) مجله کې یـــې علمي، دقیق او معتدل کره کتنیز ذوق ټولو ته څرګند دی.

## ۵- ابراهیم عبدالقادر المازني:

(۱۸۹۰-۱۹٤۹م)کلونه ددې کره کتونکي د ژوند مهـــال دی. (ابـــراهیم عبدالقادر المازني) د هغو کسانو له ډلې څخه چې د عربي کره کتنې وروستی بنسټیز غورځنګ دده د هلو ځلو زېږنده بلل کېـــدی شـــي، دې چارې ته یې ځانګړی پام اړولی و او په دې هکله یـــې ارزښـــتناک اثار پرې ایښي دي.

دغه مصري ادیب د انګرېزي ادب او فرهنګ په باب هم معلومات لرل، هم شاعر و او هم یې کیسې لیکلې. د کره کتنې له کتابونو څخه یـــې ((الشعر وغایاته)) او ((بشاربن برد)) دي. د لیکنو ټولګې یې هم چـــې د ((حصاد الهشیم)) او ((قبض الروح)) تر ســـرلیکونو لانـــدې خپـــرې شوې دي، د کره کتنې په اړه ډېر مواد لري.

## ۶- عباس محمود العقاد:

(۱۸۸۹-١٩٦٤م) کلونه د عباس د ژوند کلونـه دي. ( عبــاس محمــود العقاد) په (اسوان) کې زېږېدلی دی، تر دودیزو زده کړو وروسته مصر ته ولاړ او هلته یې د ((الامة)) له ګوند ســره اړیکــې ټینــګ شــول، ورځپاڼو ته یې لیکنې ورکولې او په ازادو مدرسو کې د لوست ورکولو پر کار بوخت شو، بیا چې د ((الوفد)) له ګوند سره یوځای شــو (نهــه میاشتې) بندي شو. پر (۱۹۳۸م) کال د عربي ژبې د ټولنې د غړي پــه توګه وټاکل شو. هغه ډېر ګټور اثار لیکلي دي چې له هغو څخــه یــې ځینې دادي:

۱-((الدېوان))، دغه کتاب یې ابراهیم عبدالقادر المازني سره په ګــډه لیکلی دی. دا کتاب دوه ټوکه دی او په هغه کې یې د ځینو معاصــرو شاعرانو پر شعرونو کره کتنه کړې ده.

۲-((شعراء مصر و بیئاتهم في الجیل الماضي))

۳-((ابن الرومي، حیاته و شعره))

۴-((ابو نواس الحسن بن هانئ))

۵-((هتلر في المیزان))

۶-((الامام علي کرم الله وجهه))

۷-((فاطمة الزهراء))

۸-((فاطمیون))، یې نور اثار دي.

د بېروت (دارالکتب اللبنـــاني) پـــر (۱۹۷۴م) کـــال د (اســـتاد عبـــاس محمود العقاد) د اثارو بشپړه ټولګه په دوه ویشتو ټوکونو کـــې خپـــره کړه. عقاد چې له معاصرو سترو لیکوالو، کره کتونکو او شاعرانو څخه دی، تر هغه چې مړ کېده د نازیانو، فاشیستانو او ښکېلاکګرو پر ضـــد یې مقاومت وکړ او په خپلو اثارو کې یې د سمونپالو (مصـــلحینو) لـــه هلو ځلو سره مرسته وکړه. البته کوم څه چې د ده اثار ځانګړي کوي، هغه دده د حقیقت پلټلو او ازادۍ غوښتلو ذوق دی. ان د ده پـــه انـــد ((ادب او هنر په خپلـــه د ازادۍ او ازادۍ خوښـــوونې د اروا ډېـــر لـــوړ څرګندوی او بیانوونکی بلل کېږي.))

(عقاد) په کره کتنه کې د شاعرانو او لیکوالـــو د مهـــال او چاپېریـــال بیانولو ته په ځانګړې توګه پام اړوي. د ((شعراء مصـــر وبیئـــاتهم فـــي الجیل الماضي)) په سریزه کې کاږي: (( په هر ولس او هر پېـــر کـــې د شعر او ادب د کره کتنې لپاره د چاپېریال پېژندلو ته ضرورت دی، خو دا ضرورت د مصر په هکله په تېره بیا کله چې د هغه د تېـــر تـــوکم د شعر او ادب خبره په منځ کې وي، لا زیات دی.)) هغه په خپله هم په دغه کتاب کې د شاعرانو چاپېریال څېړلو ته ډېر زیات پام کړی دی.

په ((ابن الرومي، حیاته و شعره)) کتاب کې یې پر بهرنـــي چاپېریـــال سربېره د شاعر باطني او اروایي احوالو ته هم پـــام اړولـــی دی. دغـــه کتاب یې له ځینو اړخونو د انګرېزي کره کتونکي او لیکوال (هازلیټ) بحث او کره کتنه سرې ته ور په یادوي او داسې ښکاري چـــې ددغـــه کتاب په لیکلو کې به یې د هغه کړنلاره په پام کې نیولې وي.

## ۷- محمد حسين هيکل بک:

محمد حسين هيکل بک پر (۱۸۸۸م) کال زېږېدلی دی. **نومـــوړی** د مصر اوسمهالی کره کتونکی، ليکوال، څېړونکی او ټولنيز منتقد دی، هغه سربېره پر دې چې د نامتو جريدې ((السياسة)) ليکونکی و او په هغې کې يې مهمې او په زړه پورې ليکنې خپرولــې، د ادبــي او کــره کتنيزو ليکنو ټولګه يې هم د (فی اوقات الفراغ) تر ســرليک لانــدې خپره شوې ده، نور اثار يې دادي: (تــراجم مصــرية وغربيــة)، (ثــوره الادب)، (ولدي)، (حياه محمد) او (في منازل الوحی).

هيکل بک د مصري ادب د تجدد او تحول له مخکښانو څخه شمېرل کېږي، هغه په مصر کې د فرانسوي ژبې او ادب او د فرانسوي اديبانو او شاعرانو د اندونو او اسلوبونو د خپرولو لپاره ډېر زيار وايســت. دده په اند د ټولو عربي ولسونو معارف او فرهنګ يو دی او ټول عرب بايد په ټولو عربي هېوادونو کې د هغو د پراختيا او پياوړتيا لپاره هلې ځلې وکړي.

د هغه په نظر د عربي ادب بيا رغښت مهم کار دی او لار يې هم داده، چې ليکوال د زړو او متروکو بې مانا الفاظو له کارولو ډډه وکړي، ځکه رښتينی اديب هغه نه دی چې له زړو او مشکلو الفاظو سره بلــد وي، بلکې واقعي اديب هغه دی چې وکولای شي افکار او ماناوې د داسې الفاظو په بڼه وړاندې کړي، چې د دغو مانااوو ښکلا له الفاظو څخه هم احساس او څرګنده شي. له دې امله هر څومره چې الفاظ ډېر ســاده وي، هغومره پر غوږو ښه لګېږي او زړه ته نږدې کېږي.

# ۸- احمد امین:

پر (۱۹۵۳م) کال مړ شوی. (احمد امین) د مصر له معاصرو کره کتونکو او څېړونکو څخه دی. هغه سره له دې چې د عربي ادب او تاریخ په خپرېدو کې یې کارنده ونډه واخیستــه، له اروپایي ادب او فلسفې سره یې بلدتیا لرله. د هغه له مهمو اثارو څخه د ((فجرالاسلام))، ((ضحی الاسلام))، ((ظهرالاسلام)) او ((یوم الاسلام)) کتابونو لړۍ ده، چې د اسلام د تاریخ، تمدن او فرهنګ په هکله یې لیکلي او په هغو کې یې د تاریخي کره کتنې اصول او قواعد په ډېر ښکلي ډول کارولي دي. (عمراحمد عثماني) چې د دغې لړۍ ((فجرالاسلام)) یې په اردو ژبه ژباړلی دی، د احمد امین د دغو کتابونو په هکله وایي: ((پروفیسر احمد امین د خپلو کتابونو په دغه لړۍ کې د اسلام تاریخ لیکلی دی، نه د مسلمانانو، تر کومه ځایه چې زما فکر کار کوي دغه خبرې مورږ ته تر دې وړاندې نه دي ویل شوي. په دغه کتابونو کې به تاسې ووینئ چې اسلام یې د یوه داسې بهاند سمندر غوندې ښوولی، چې خپلې سرچینې ته نږدې ښېخي صاف، شفاف او سپېڅلی ښکاري. خو وروسته له یوې او بلې خوا، لښتي او ویالې پرې ګډې شوي او هغه یې اغېزمن کړی دی. که په سطحي کتو ورته وکتل شي، دغه بهرني عناصر عیناً اسلام ښکاري، خو که لږ څه یې تل ته پام وشي، نو د دغو راغلو لښتیو او ویالو اوبه د اصلي سمندر له روانو اوبو څخه ګرد سره بېلې ښکاري. (علامه احمد امین) د اسلام تاریخ په دغسې ژورلید څېړلی دی او په دغه ډول یې د تاریخ خپله دغه لړۍ وړاندې کړې ده.))

(علامه احمد امين) بل کتاب د ((النقد الادبي)) په نامه د کره‌کتنې د تاريخ او اصولو په هکله ليکلی دی. ددغه کتاب د ليکنې کار يې پر (۱۹۵۲م) کال په قاهره کې سرته رسولی دی او له هغه مهاله تراوسه څو واره چاپ شوی دی. د احمد امين دغه کتاب په کره کتنه کې د هغه د کلونو کلونو تجربې او د مصر په (فوادالادول) پوهنتون کې ددغې موضوع د کلونو کلونو تدريس محصول دی. د (علامه احمد امين) د ليکنو ټولګه هم د ((فيض الخاطر)) تر سرليک لاندې په (اتو ټوکونو) کې خپره شوې، چې د کره کتنې په هکله ګڼې ليکنې په کې شاملې دي.

## ۹- ډاکتر طه حسين:

(۱۸۸۹-۱۹۷۳م) کلونه دده د ژوند زمانه ده. مصری ليکوال، کره کتونکی، څېړونکی او اديب (طه حسين) چې د مصر د (مغاغه) نومي ځای په يوه کلي کې زېږېدلی دی. په کوچنيوالي کې د سترګو له نعمت څخه بې برخې شو. هغه لومړی د ((الازهر)) په پوهنتون کې زده کړې ترسره کړې، بيا يې په ((الجامعة الاهلية)) کې لوړو زده‌کړو ته دوام ورکړ او د عربي ادب په څېړنه کې يې د ختيځپوهانو او د نوي فرهنګ د مخکښانو د کړو کارونو زده کولو ته مخه کړه. بيا فرانسې ته لاړ، لرغوني ادبيات او فلسفه يې ولوستل او د فرانسې د معاصر ادب په هکله يې پوهه ترلاسه کړه. کله چې مصر ته ستون شو په (الجامعة الاهلية) کې استاد شو. کله چې پر (۱۹۲۵م) کال ((الجامعة المصرية)) نوې پرانيستل شوه، د هغې د ادبياتو د پوهنځي استاد او مشر وټاکل شو. دېرې ليکنې يې مجلو ته ورکړې او د ((الوفد)) په

اخبارونو کې یې هم سیاسي لیکنې خپرې شوې. بیا د ((جامعة الاسکندریة)) مشر، ورپسې د پوهنې وزیر او بیا د ((اللجنة الثقافیة للجامعات العربیة)) رئیس وټاکل شو.

ادبي او کره کتنیزې لیکنې یې ډول ډول او بېخي ډېرې دي. له هغو څخه یې ځینې دادي:

۱-(ذکری ابی العلاء) پر دغه کتاب یې پر (۱۹۲۵م) کال د مصر له پخواني پوهنتون څخه دوکتورا اخیستې ده.

۲-(ابن خلدون و فلسفته الاجتماعیة) دغه کتاب یې د (ډي لټ ډګرۍ) ( په ادبیاتو کې د دوکتورا) لپاره د (پاریس) د (ساربون) پوهنتون ته وړاندې کړی دی. (عربي ژباړه یې پر (۱۹۲۵م) کال خپره شوه).

۳-(في الادب الجاهلي) ددغه کتاب پر خپرېدو ډېر ستر شور ماشور جوړ شو. ادیبانو او استادانو پر هغه نیوکې وکړې او ډېر ایرادونه یې پرې ونیول او ویې ویل؛ چې هغه هڅه کړې ده چې د جاهلي شعر او ادب په نه منلو سره په حقیقت کې د عربو له ټول ادب، تاریخ، ژبې، دودونو او ویاړونو څخه انکار وکړي او د هغه په رد کې یې لیکنې او کتابونه خپاره کړل.

(ډاکتر زرین کوب) په خپل اثر (نقد ادبي) کې وایي: ((که څه هم په دغه کتاب کې د طه حسین رایې او عقاید له مبالغې خالي نه دي، خو کومه غوڅه لهجه، لطیف او ساده بیان چې په هغه کې شته، هغه ته یې ډېر ارزښت ور په برخه کړی دی او طه حسین بې له شکه چې په

عربي نوې کره کتنه کې تازه ساه پوکړې ده او نور کــره کتــونکي پــه تېره نوي ځوانان تر ډېره د هغه تر احسان لاندې دي.))

۴-(حديث الاربعاء) دغه کتاب يې سرې ته دفرانســې د نــامتو کــره کتونکي (سنټ بوو) اثر ( د دوشنبې ليکونه) ورپه زړه کــوي. لــه آره (طه حسين) په کره کتنه کې د فرانسوي کره کتونکو، پــه ځــانګړې توګه د (سنټ بوو)، (تين) او (برونتير) طريقو ته تمايل لري او د عربي ادب په کره کتنه کې د هغو د طريقو او اسلوبونو پلوي کوي. خــو لــه دې سره سره په کره کتنه کې د هغه ډډه يوازې پر علم او عقل نه ده، بلکې ذوق او عاطفه هم د هغه په کره کتنه کې خپل ځای لري او دغه ټکي د هغه د کره کتنې له ښېګڼو څخه شمېرل کېږي.

۵-(الوان)

۶-(نقد و اصلاح)

۷-(مع المتنبی)

پورتني څلور کتابونه هم د هغه د کره کتنې د ليکنو ټولګې دي، چې ډېرې کره کتنيزې ګټې لري.

## ۱۰- محمد کرد علي:

پر (۱۸۸۹م) کــال زېږېــدلی دی. (محمــد کــرد علــي) د (دمشــق) اوسېدونکی او د ادب او څېړنې د ډګر ســتر ســړی دی. د ســوريې د فرهنګ وزير شو. د ((المقتبس)) مجله يې تاسيس کړه او د دمشق د فرهنګي چارو د رياست مشري يې هم کړې ده. څو ځله يې اروپا تــه

سفرونه وکړل. د ډېر ښه استعداد څښتن دی او د تاریخ لیکلو کار یې په ښه توګه سرته رسولی دی. په ادبي کره کتنه کې یې غالباً د پخوانیو اشخاصو په هکله لیکنې کړې او په خپله د زړه له کومي (د پخواني ژوند د نوي کولو)) د غورځنګ پلوی دی. د (کرد) مهم اثار دادي: ((رسائل البلغاء)) (د لرغونو متنونو ټولګه)، ((غرائب الغرب))، ((القدیم والجدید))، ((خطط الشام)) (شپږ ټوکه)، ((الاسلام والحضاره العربیة))(دوه ټوکه).

## ۱۱- زکي مبارک:

(زکي مبارک) پر (۱۸۹۱م) کال زېږېدلی دی. نوموړی د مصر اوسېدونکی او ښکلی او غوڅ اسلوب لري. له شور او ځوږه ډک غنایي شعر وایي، مډرنې ادبي څېړنې کوي او خپل شخصي او خپلواک عقاید په کې بیانوي. کله کله داسې مخالفت کوي چې شخصي او خپلواک عقاید په کې بیانوي. کله کله داسې مخالفت کوي او یا له استهزا ډکې لیکنې کوي چې د ځینو د سپکاوي، زړه بداوي لامل ګرځي، دښمني او ناوړه تفاهمات راپاروي. که په لیکنو کې یې یو څه ډېر صمیمیت وای، اثارو به یې ډېر مینوال درلودل.

د (زکي مبارک) مهم اثار: ((حب ابن ابي ربیعه))، ((البدائع))، ((مدامع العشاق))، ((الاخلاق عندالغزالي))، ((الموازنة بین العشراء))، ((ذکریات باریس))، ((النثر الفني في القرن الرابع)) (د ده د هغې رسالې عربي ژباړه ده چې د دوکتورا لپاره یې په فرانسوي لیکلې او

په پاریس کې پر (۱۹۳۱م) کال چاپ شــوې ده.) ((وحــی بغــداد)) او ((التصوف الاسلامي)) يې نور اثار دي.)) (۲۷: ۴۲۸-۴۳۹).

د یادونې وړ ده چې د عربي ژبې د ادبیاتو په معاصره دوره کې نور پــه سلګونو کره کتونکي شته، چې د ټولو پېژندنه دلته ناشونې ده دا یــو څو تنه د بېلګې په توګه یاد شول.

## ۲- کره کتنه په دري کې:

عربي ژبه او کره کتنه پر پښتو ژبې او کره کتنې خپل خپــل تــاثیرات لري، زموږ یو زیات شمېر لیکوالو د خپلو ادبیاتو په وده کې د عربــي ژبې له معنوي پانګې څخه ډېره زیاته ګټه اخیستې ده. په پښتو ادب کې نږدې (۱۴) شعري فورمونه له عربي ژبې راغلي دي. په پښتو کې د بدیع او بیان علم تطبیقي اړخ اکثره د عربي ژبې د بدیع او بیان علم څخه الهام اخلي.

زموږ یو زیات شمېر شاعرانو او لیکوالو له عربي ژبــې څخــه هــم پــه کلاسیکه او هم په اوسنۍ دوره کې ګڼ شمېر اثار ژباړلي دي. عربــي ژبه لا تراوسه زموږ د دیني نصاب اصلي ژبه ده. د کره کتنې په برخــه کې هم له عربي ژبې څخه ځینې کتابونه او لیکنې ژباړل شوي دي.

د عربي ژبې ترڅنګ د فرهنګي شتمنیو له پلوه بله بډایه ژبه فارسي ده. په افغانستان او ایران کې په فارسي ژبې ګڼ شمېر اثار ټوکېــدلي دي. په دې اثارو کې د کره کتنې اثار هم د پام وړ دي. په تېره بیا پــه ایران کې په دې برخه کې ډېر زیات کار شوی دی. ایرانیانو نه یــوازې

په خپله د کره کتنې په برخه کې ګڼ شمېر اثــار لیکلــي دي، بلکــې دنړۍ په نورو ژبو کې، چې په دې برخه کې کوم اثار لیکل شوي هغــه یې ډېر ژر په فارسي ژبه ژباړلي او چاپ کړي دي. خو د ایران په اندول په افغانستان کې په معاصره دوره کې دري کره کتنې ته ډېر کــار نــه دی شو.

زموږ په هېواد کې د دري ژبې کره کتنه په اوسني مفهــوم ډېــر اوږد تاریخ نه لري. ادبي کره کتنه په افغانستان کې د دري ژبې د شــعر او ادبي نثر په اړه ظاهراً تر (۱۳۱۰ل، ۱۹۳۱م) کال وروســته د مقــالو پــه لیکلو سره تر څېړنې لاندې نیول شوې ده. پر همدغه کال نامتو پــوه او ادیب، (هاشم شایق) د ((منتقد کیست و انتقاد کدام؟)) تر سرلیک لاندې لیکنې د ((ایینه عرفان)) خپرونې د لومړي کال په څلورمه ګڼه کې خپره کړه، چې له دغه کال څخه تر اوسه اتــه لســیزې تېرېــږي. وروسته ددې برخې مینه والو څېړونکو د ادبي کره کتنې په بشپړتیا کې ستره ونډه واخیسته.

پر (۱۳۳۲ل) کال د (محمد حیدر ژوبــل) لیکنــه د ((امکــان نقــد در ادبیات دری)) تر سرلیک لاندې د همدغه کال د (ادب) د مجلې پــه لومړۍ ګڼه کې چاپ شوه. پر (۱۳۴۱ل) کال (پوهانــد محمــد نســیم نګهت سعیدی)، د(رنه ویلک) او (اوستن واردن) د ((ادبیاتو نظریې)) د کتاب ځینې برخې، چې په ادبي کــره کتنــې پــورې اړه لــري، لــه انګرېزي څخه وژباړلې او پر همدغه کال یې د (ادب) مجلې په (پنځمو او شپږمو) ګڼو کې خپرې کړې. پــر (۱۳۴۹ل) کــال د ((بحثهــای در زمینه ادبیات)) تر سرلیک لاندې یو کتاب چې (پوهانــد عبــدالقیوم

قویم) لیکلی دی، د کابـل پوهنتـون د ادبیـاتو او بشـري علومـو د پوهنځي له خوا د کابل پوهنتون په چاپخونه کې چاپ شو، چـې پـه هغه کې د ادبي کره کتنې په هکله هم بحث شوی دی. پـر (۱۳۵۴ل) کال یوه بله لیکنه چې (لطیف ناظمي) لیکلې وه د ((نقد مطبوعاتی و دشواریهای آن)) تر سرلیک لاندې د پښتون غږ مجلې پـه اوومـه او اتمه ګڼه کې خپره شوه. پر (۱۳۵۷ل) کال د همدغه لیکوال یوه بلـه لیکنه د ((چرا از نقد بترسیم؟)) تر سرلیک لاندې د(آریانا) مجلې په لومړۍ ګڼه کې چاپ شوه. پر (۱۳۵۸ل) کال د ((تیوریهای ادبی و نقد ادبی) په نامه کتاب، چې (پوهاند محمدرحیم الهام) ژباړلی او تـالیف کړی دی، د ادبیاتو پوهنځي له خوا د کابل پوهنتون په چاپخونه کـې چاپ شو. پر (۱۳۶۱ل) کال یوه لیکنـه د ((نگرشـی بـر نقـد، رونـد افرینش ادبی و نقد ادبی)) تر سرلیک لاندې د (رهنورد زریـاب) لـه خوا د (عرفان) مجلې په (اوومه) ګڼه کې خپره شـوه. بلـه لیکنـه د ((وظیفه اموزشی نقد ادبی)) تر سرلیک لاندې د پوهاند عبـدالقیوم قویم له خوا د (عرفان) مجلې په (۵-۶) ګڼه کې خپره شوه. بله لیکنه د ((درباره نقد ادبی)) تر سرلیک لاندې د (بیرنگ کوهدامنی) له خوا په ((مجموعه لکچرهای اموزشی)) کې چاپ شوه. د (رهنورد زریاب) لیکنه دویمه پلا د ((حاشیه ها)) په کتاب کې هم پر (۱۳۶۶ل) کال د افغانستان د لیکوالو د ټولنې له خوا چاپ شوه.

پر پورته یادو شوو مقالو او کتابونو سربېره نورې ډېرې لیکنې هم پـه دغه کلونو او تر هغو په را وروسته کلونـو کـې د هېـواد پـه مجلـو، ورځپاڼو او جریدو کې د ادبي کره کتنې په هکله چاپ شوي دي. دغه

راز په دې اړه سیمینارونه او د کیسـو او شـعر لوسـتلو او د هغـو د کره‌کتنې غونډې هم جوړې شوې دي. چې د ځینو بهیرونه له راډیـو او ټلوېزیون څخه هم خپاره شوي او په دې توګه د ادبي کـره کتنـې بهیر ورځ تر بلې وده او پیاوړتیا موندله.

د دري ژبې د ادبي کره کتنې په هکله پر پورتنیو ادبپوهانو سربېره یو شمېر نورو ادبپوهانو لکه (پوهاند ډاکتر جاوید)، (پوهاند غلام سـرور همایون)، (استاد واصف باختري)، (پویا فاریابي)، (عبدالرازق رویین)، (سرور انوري)، (نیلاب رحیمي)، (پرتو نادري) او ځینو نورو هم د قدر وړ کار کړی دی.

پیاوړي استاد (پوهاند عبدالقیوم قویم) چې له درېو لسیزو راپـه دې خوا یې د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې د دري ژبې او ادبیاتو په څانګه کې د ادبي کره کتنې، ادبي نظریـې او ادبـي فنونـو او ادب تاریخ درس ورکړی او ددې برخې له مخکښانو څخه شمېرل کېـږي، هم د ((نقد ادبی)) په نامه یو په زړه پـورې کتـاب لیکلـی دی، چـې تراوسه پورې څو ځله چاپ شوی دی. (۲۷: ۴۶۱-۴۶۳).

البته په ایران کې په سلګونو کره کتونکو د فارسي کره کتنـې لپـاره ډېر کار کړی دی. هم د ژباړې له لارې او هم په خپله د کره کتونکو د اثارو له پلوه. (داکتر رضا براهني، شفیع کدکني، داکتر زرینکوب، رضا سید حسیني او نور) یوازې د ایران نه، بلکې د سیمې په کچـه غـټ کره کتونکي ګڼل کېږي.

## ۳- کره کتنه په اردو ژبه کې:

اردو ژبه بله هغه ژبه ده چې زموږ په ګاونډ کې په سوونو ملیونو وګړي پرې ګړېږي او اوس د نړۍ له ډېرو ګڼ ویونکو ژبو څخه ګڼل کېږي. که څه هم اردو ژبه د پخواني ادب د کاروني ډېره اوږده سابقه نه لري، خو له کوم وخته چې دا ژبه د رسنیو، حکومت، هنر او سیاست ژبه شوې، نو ډېر چټک پرمختګ یې کړی دی.

د اردو ژبو په سیمو کې د ولسواکۍ او تمدن چټکــې ودې د دې ژبــې پراختیا او په تېره بیا د کره کتنې عامېدلو تــه لاره اواره کــړه. دلتــه غواړو په اردو ژبه کې د کره کتنې پر څرنګــوالي او شــومره والــي او همدارنګه د لویو کره کتونکو په باب لنډه رڼا واچوو:

## یو- د اردو کره کتنې لومړنۍ بېلګې:

دا چې په اردو ژبه کې له (وجهي) څخه تر (حسرت موهاني) پورې هر ښه شاعر د کره کتنې یو ښه شعور هم لري، خو څنګه چې پــه شــعر کې (قافیې)، (ردیف) او د (وزن) قید د خیال په بیان او پرلــه پســې څرګندونه کې ستونزې پیدا کوي، له دې امله تر شعر لا پــه تــذکرو، بیاضونو، تقریظونو، دیباچو او داسې نورو لیکنو کې د کره کتنې پانګه له پیله په ډېره څرګنده توګه موجوده ده. ځکه نو موږ د اردو ژبې پــر لرغونې شعري پانګې باندې د پوهېدلو او د هغــې د څېړلــو لپــاره د لرغونو کره کتنیزو اندونو د راسپړلو په لټه د اردو شــاعرانو د تــذکرو پاڼې را اړوو.

## دوه- د اردو ژبو شـاعرانو تـذکرې او د کـره کتنـې لومړني څرکونه:

د اردو ژبې د شاعرانو تذکرې د دې ژبې پخوانۍ او ارزښـتناکه ادبـي پانګه ده او په دې ژبه کې د کره کتنې بنسټ د همدغو تذکرو په مټ ایښودل شوی دی. په دغو تذکرو کې چې د کره کتنې بېلګې ترلاسه کېږي، هغو ته سمه او بنسټیزه کره کتنه ویل ستونزمنه خبره ده، خو هغه د اردو کره کتنې لومړۍ کرښې خامخا بلل کېدی شي.

د هند پر نیمه وچه باندې تر انګرېزي واک دمخه، اردو ادب له عربـي او فارسي ادب څخه اغېزمن و او ددغو دوو ژبو ادبپوهانو تر لفظ مانـا ته زیات ارزښت ورکاوه. د شاعرۍ د کره کولو لپاره یې معاني، بیـان، بدیع، عروض او قافیې ته مراجعه کولـه. د کـره کتنـې دغـه معیـار پخوانۍ اردو کره کتنې هم خپل کړ او ددغو پوهنو له مخې یې شعر او ادب څېړل کېده. لکه د فصاحت، بلاغت، تشـبیه، اسـتعارې، لفظـي صنعت، معنوي صنعت، سلاست، روانۍ، خوږ لهجې، خوږ ژبې او جادو کلامۍ غوندې الفاظو او اصطلاحاتو کارونه د کره کتنې پـه پخوانیـو خیالاتو کې عامه شوه.

د (میر) تذکره چې وکتل شي د هغه د کره کتنې بصـیرت بـه ومنـل شي. هغه تر عام دود تېر شوی، بې پرې رایه ورکوي او په کـره کتنـه کې مراعت نه کوي. په (نکات الشعراء) کې چې د (میر) د کره کتنـې کومې نظریې اوډل شوي دي، د هغو لنډون دادی: (( شاعري یوازې د ګل او بلبل بیان نه دی، له دې پرته نور ډېر شان هم بیانوي. د شاعر د

نويو اندونو په اړخ کې د ژبې ښکلا هم باید په پام کې ونیول شي او د الفاظو په ټاکلو کې ډېر احتیاط وشي. د بیان سوچه والی او د الفـاظو او محاورې سمون ته پاملرنه ډېره ضروري ده. د فصـاحت او بلاغـت اصول هېڅ ډول نه ښايي چې له پامه وغورځول شي.))

د (میر) په کره کتنه کې چې تر ټولو لویه ځانګړتیا تر سترګو کېـږي، هغه دده ترخې خبرې دي. دده لهجه زیاتره تونده او کره کتنه یې لـه طنزه ډکه وه. (حاتم) غوندې ستر شاعر هم دده له طنز او خندا څخه لرې نه و پاتې شوی.

(مصحفي) په خپلو تذکرو کې سوچه او ساده ژبـه وکارولـه. هغـه د لفظونو تور نه غوړاوه، بلکې په څرګندو الفاظو به یې رایه ورکولـه. د هغه کره کتنه یوازې تر سترو شاعرانو محدوده وه. خو رایه یې کره او متوازنه وه، په قضاوت کې هغه تر (میر) وړاندې دی. هغـه لـه خپلـو حریفانو څخه غچ نه اخیست، بلکې د هغو پـر وینـاوو بـه یـې هـم نیاومنه رایه ورکوله. (مصحفي) د (انشا) له شاعرۍ سره جوړ نه و، خو کله چې د هغه پر وینا باندې د رایې ورکولو وخت راغی، نو له دیانتـه یې کار واخیست او د هغه وړتیا یې وستایله او دا یې هم ولیکل چـې (انشا) په کم عمر کې په دریو ژبو شعر وایه، خو ځانګړې پام یـې اردو ته اړولی و. د هغه مثنـوي ((وریجـې او شـیدې)) د روانـې ژبـې او فصاحت ډېره ښه بېلګه ده. (مصحفي) له (بقا) سره دوستي درلـوده، خو هغه د (بقا) د شاعرۍ پر نیمګړتیاوو پرده ونه غوړوله. (مصحفي) د خپلو هممهالو په اړه سوچه او کره رایې ورکـړې دي. د (سـودا) د غلطیو او توارد یادونه یې هم کړې ده، خو د هغه روانه طبع یـې هـم

ستايلې ده او هغه يې د اردو قصيدې ((لومړی انځــورگر)) بللــی دی. هغه په خپلو تذکرو کې ځوان شاعران هم له پامه نه دي غورځولي. د خپلو شاگردانو د ښېگڼو او نیمگړتیاوو په هکله هم بــې پــرې رايــه ورکوي. د خپل شاگرد (آتش) په هکله يې وړاندوينه کړې چې: ((کــه عمر وفا ورسره وکړي، نو د خپل مهال له وتلو شاعرانو څخه به يو دی وي.)) خو د خپل بل شاگرد (رنگين) بې علمي يې منلې ده.

(شيفته) د خپل پېر بل باشعوره او پوخ کره کتوکی دی. د هغــه يــوه کارنامه دا هم ده چې هغه په ((گلشن بې خار)) کې د شاعرانو مستند حالات او غوره ويناوې راغونډې کړي او د هغو د راتلونکي کره کتنې لپاره يې لار اواره کړې ده. (شيفته) ژور کره کتنيز نظر درلود، هغــه د (مير) غزلې د هغه تر قصيدو ښې بولي او د (ســودا) پــه هکلــه يــې ليکلي چې د هغه غزل تر قصــيدې او قصــيده تــر غــزل ښــه ده. د (مصحفي) د منتخبو اشعارو ښېگڼې يې ستايلي دي. (غالــب) هــم د (شيفته) د کره کتنې نظر مانه، په يوه فارسي شعر کې (غالب) ويلــي دي چې که زما کوم شعر د (مصطفی خان شيفته) خوښ نه شو، نو زه هغه په خپل دېوان کې نه پرېږدم. په دې کې مبالغه شوې ده، خو چې څوک (گلشن بې خار) مطالعه کړي، د شيفته د کره کتنې بصيرت به هرومرو ومني.

د اردو ژبې په شعر کې د کره کتنې لومړنۍ بېلگه د (وجهي) په (قطب مشتري) مثنوي کې ليدل کېږي او په تذکرو ليکونکو کې لومړنی کره کتونکی (مير) بلل کېږي.

لکه څنګه چې (میر تقي میر) په شاعري کې د استاد درجې ته رسېدلی دی. دغسې په تذکره لیکنه کې د لومړیتوب له امله لومړی کره کتونکی هم بلل کېږي.

په هر ډول د څېړنو له مخې د (میر تقي میر) تذکره ((نکات الشعراء)) تراوسه تر ټولو لومړنۍ تذکره بلل کېږي، په دې کې د (۱۰۲) تنو اردو ژبو شاعرانو یادونه شوې ده. د (مولوي عبدالحق) د استدلال له مخې دغه تذکره پر (۱۷۵۲م) کال لیکل شوې ده. دغه تذکره (ډاکتر عبادت بریلوي) پر (۱۹۸۰م) کال په لاهور کې چاپ کړه. هغه په خپله سریزه کې لیکي چې (مولوي عبدالحق) هغه له خپلې سریزې یوځای د (۱۹۳۵م) کال په جون کې د اورنګ اباد (دکن) له (انجمن ترقي اردو) څخه خپره کړه.

د (میر) او (حمیدالدین) تر تذکرو یو کال وروسته د اردو ژبو شاعرانو (درېیمه تذکره) د (فتح علي حسین ګردیزي) ((تذکره ریخته ګویان)) ده. چې د (۹۸) شاعرانو یادونه په کې شوې ده، له هغو څخه د (۲۵) تنو شاعرانو یادونه (میر) نه ده کړې. تر دې وروسته د اردو تذکرو شمېر ډېر شوی دی. (سید وقار احمد رضوي) په خپل ((تاریخ نقد)) او (سلیم اختر) په ((اردو ادب کې مختصر ترین تاریخ)) کې د څه دپاسه (پنځوسو) تذکرو نومونه یاد کړي دي، خو دغه تذکرې تقریباً ټولې په فارسي ژبه دي. یوازې د (میرزا لطف علي) تذکره ((ګلشن هند)) (۱۸۰۱م) لومړۍ تذکره ده، چې په اردو لیکل شوې ده.

د کره کتنیزو رایو له پلوه تر (میر) وروسته د (مصحفي) (تذکره هندی ګویان) د (میر حسن) (تذکره شعرای اردو) او د (شیفته)

(ګلشن بې خار) ډېر ارزښت لري. د شیفته تذکره پــر (۱۸۳۵م) کــال بشپړه شوې، خو وروسته خپره شوې ده. په دې تذکره کــې د (۶۴۴) تنو شاعرانو یادونه شوې ده. دا تذکره د (ګلشن بې خزان) په نامه پر (۱۸۴۵م) کال (غلام قطب الدین باطن) په اردو ژباړلې ده.

د (۱۸۵۷م) کال د ازادۍ د جګړې په پایله کې له بده مرغه مسلمانان مات او انګرېزي ښکېلاک واکمن شو. په دې اوښتون کې نه دا چې د مسلمانانو ځانونه، شته، عزت او ناموســونه قربــاني شــول، بلکــې د انګرېزي ښکېلاک په بري او شتون کې د پخواني فرهنګ او اســلامي تمدن مرګ هم تر سترګو شو. په دغه حال احوال کــې د نــورو هڅــو ترڅنګ د ادب نامتو وګړو ادب ته هم پام واړاوه او پــه دې لتــه کــې شول چې په ادب کې ژوندي پاتې کېدونکي عناصر پــه ګوتــه کــړي. دغه مهال د لویدیځ نوې ادبي کره کتنه له پیاوړي او ځواکمن روایت سره رامنځته شوې وه. دغه روایت د خپل طبیعت او معیار له مخې نه یوازې د هند د نیمې وچې د ادبي کره کتنې، بلکې د ختــیځ د ادبــي کره کتنې له معیار او مزاج سره سر نه خوړ. ددغه نوي بهیر تر اغېزو لاندې د نوو اندونو یو شمېر ادبي کره کتونکي رامنځته شول چې پــه هغو کې څرګند نوم د (خواجه الطاف حسین حــالي) دی. (حــالي) د اردو کره کتنې لومړنی باقاعده کره کتونکی بلل کېږي او د هغه کتاب (د شعر او شاعرۍ سریزه) د اردو ادبي کــره‌کتنــې لــومړنی معیــاري کتاب دی.

## درېیم- د اردو ادب منځمهال پېر:

د (سرسیداحمدخان) تر غورځنګ وروسته تر (۱۹۳۶م) کال پورې، یا د هند تر پرمختیا خوښي غورځنګ دمخه موده، له دې امله چې پــه دغه موده کې په ادب کې کوم بنسټیز ادبي غورځنګ نه و رامنځتــه شوی د اردو ادب منځمهالی پېر بلل کېږي.

په دغه پېر کې د ادب د نورو اصنافو په پرتله کره کتنې تــه ځــانګړې پاملرنه نه ده شوې، خو د (مولوي عبدالحق)، (نیــاز فــتح پــوري) او (ډاکتر عبدالرحمن بجنوري) د لیکنو پــه بنــه کــې د موضــوعاتو او اسلوبو تنوع احساسېږي. بیا (مولوي عبدالحق) لومړی محقق او بیــا کره کتونکی بلل کېږي. (عبــدالرحمن بجنــوري) د (محاســن کــلام غالب) په کښلو سره د اروپا له نامتو شاعرانو سره د هغه پــه پرتلنــې سره، د غالب د کلام ښېګڼې جوتې کړې دي، په دې ډول د هغه دغه کتاب د ((د پرتلیزې یا تقابلې کره کتنې) یوه څرګنــده بېلګــه ګڼــل کېدی شي. (نیاز) د کره کتونکي په توګه عصري کره‌کتنه له هره پلوه اغېزمنه کړې ده. پر دوی سربېره د (مهدي الافــادې)، (وحیدالــدین سلیم)، (عبدالاسلام ندوي)، (کلیم الدین احمد) او نورو نوموته هم د یادونې وړ دي.

## څلور- پرمختیا خوښی ادبي غورځنګ:

هر نوی ادبي غورځنګ له خپل مهال څخه بېل د متصادم یــا منفــرد ادب د تخلیقولو له امله پخوانی کره کتنیز معیــار ناکــافي ګڼــي او د ځان لپاره نوې کره کتنې رامنځته کولو ته اړ کېږي. پر دې بنســټ د

اردو د پرمختیا خوښو تخلیقاتو د کره کولــو او لــه دې ســره ســره د پخوانیو اسلوبونو او روایاتو د څېړلو او پلټلو لپاره چې کومه نوې کره کتنه له (۱۹۳۶م) کال څخه رامنځته شوې، هغــه د خپلــو اصــولو او قوانینو له مخې مارکسیستي (کمونیستي یا اشتراکي) کره کتنه ده. ددې کره کتنې بنسټ د (پریم چند) له وینا څخه کېښودل شــو. دده تر وینا دمخه لیکنې زیاتره تبلیغي وې. (پریم چند) اعلان کړه چــې: ((د ادیب موخه خوښي، د مجلس تودېدل او تفریح نه بلل کېږي. ادب په هېواد پالنه او سیاست پسې تلونکی حقیقت نه دی، بلکې داســې حقیقت دی چې ددې دواړو پــه مــخ کــې ډېــوه نیســي او وړانــدې درومي.))

د هر غورځنګ په پیل کې د نظریې او ډلو پر مهال نظریاتي مباحث او شخړې هم رامنځته کېږي. له دې امله د کره کتونکو لومړنی ډله ډېر ارزښت لري. لکه چې د دغه غورځنګ پــه مخکښــانو کــې (ســجاد ظهیر)، (ډاکتر عبدالعلیم)، (مجنون ګورکپوري)، (احتشام حسین) او (ډاکتر اختر حسین رای پوري) یادېږي. له دوی څخه ځینو د نظریاتي کره کتنې په ترخ کې ډېر څه ولیکل. وروسته (سردارعلي جعفــري)، (ممتاز حسین)، (عزیزاحمد)، (باري) او نور هــم لــه دې ډلــې ســره یوځای شول او د ډیالکټیکي ماټریالیزم په رڼا کې یې د ادب او ټولنې د اړیکو د جاج اخیستلو په ترخ کــې د هنــر او هنرمنــد حیثیــت او اهمیت وټاکه. د اردو کره کتنې په تاریخ کې دغه پېر ځکــه ارزښــت لري چې یوازې مارکیسیتي کره کتنې د یوه بنسټیز ښــوونځي بنــه

غوره کړه او له دې پرته د کره کتنــې نــورې ټــولې نظريــې يــوازې د انفرادي تمايلاتو حيثيت لري.

د پرمختيا خوښي غورځنګ په پيل کې د بنسټپالنې په ځوړ کې لــه پخوا سره د بېلتون تمايل، په ځرګنده ښکارېده او لــه (ميــر) څخــه نيولې تر (غالب) پورې ځينې ښه شاعران يوازې په دې ګناه چې پــه طبقاتي جګړو کې يې په هېڅ ډول برخه نه ده اخيستې، ټول له پامه ولوېدل.

د پاکستان د رامنځته کېدو پر مهال د (سيدعابد علي عابد)، (مولانا صلاح الدين احمد) او تر دوی وروسته د (نياز فتح پوري) کره کتنه په ادب کې د ښکلا پېژندنې پر ارزښتونو او د امريکــايي کــره کتــونکي (جويل سپينګارن) پر تاثراتي کره کتنه منحصره وه، خو د اردو ژبــې په مشرو او معاصرو کره کتونکو کې زيــاتره هغــه ښــاغلي دي چــې مشکله ده ځوک يې په ځانګړې توګه د کره کتنې لــه کــوم مســلک سره وتــړي. لکــه (خليفــه عبــدالحکيم)، (ډاکتــر تــاثير)، (حميــد احمدخان)، (ډاکتر سيد عبدالله)، (ډاکتر محمداحسن فاروقي)، (وقار عظيم)، (ممتاز شيرين). تر دوی وروسته نور کره‌کتونکي لکه: (ډاکتر ابوالخير کشفي)، (ســحر انصــاري)، (ډاکتــر خواجــه محمــدذکريا)، (جيلاني کامران)، (انيس ناګي)، (جميل جالبي)، (ډاکتر وزيــر اغــا)، (فتح محمد ملک)، (ډاکتر سهيل احمد)، (احمد همــداني)، (ډاکتــر طاهر تونسوي)، (شېرزاد منظر)، (انواراحمد)، (نجيب جمال) او داسې نور ډېر د يادونې وړ نومونه دي. د کره کتنــې پــه اړخ کــې د (اقبــال

پېژندنې) او (غالب پېژنــدنې) مــاهرین هــم شــته، خــو د لیکنـــې د اوږدوالي له امله د هغو له یادولو ډډه کېږي.

په اردو ژبه کې د کره کتنې او څېړنې په هکله لږ کار کېږي، خو څــه چې کېږي د معیار او ارزښت له پلوه بشپړ دي، چې دا لویه خبــره ده. هسې هم د کره کتنې لپاره د ځانګړي ذهنـــي روزنـــې، د مطــالعې د پراختیا او زیار اړتیا ده چې دا د هر چا په وس کې نه ده.)) (۴۶۵:۲۷-۴۸۲).

# د درېيم څپرکي لنډيز

په لویديځ کې په منځنيو پېړيو کې علــم و ادب اکثــره د کليســا تــر انحصار لاندې و، نو ځکه پردې مهال په شعر و ادب او په تېره بیا پــه کره کتنې کې د پاملرنې وړ پرمختګ ونه شو. دې پړاو ان تر رنسانس مهاله دوام وکړ.

د رنسانس په دوره کې چې اروپا په علمي ډګر کې نوې برياوې ترلاسه کولې، (کرتیکوس) نوмونه په خپلې پخوانۍ مانا وکارېدله.

پر (۱۴۹۲م) کال یو ایټالوي عالم (پولي زانیو) د کره کتنــې پــه بــاب څرګندونې وکړې. وروســته (بشــرپالو) د (کریتــک) او (کرتســیزم) نومونې په ځانګړي ډول د لرغونو متونو د سمون او کره کولو په مانــا وکارولې.

وروسته بیا (کانت)، (شــلنګ)، (جــاکوبي) او (هیګــل) دا اصــطلاح وکاروله.

په نولسمې پېړۍ کې (الوس ریل) پر دې نومونې لاس پورې کړ او تــر دې وروسته نورو ګڼو لیکوالو دا اصطلاح د کــره کتنــې پــه مفهــوم وکاروله. تر دې وروسته (شیګل او اګلام مولر) ادبي کره‌کتنې ته زیاته پاملرنه وکړه.

د رنسانس په دوره کې (بشرپالو) د لغوي او متني کره کتنې بنسټ کېښود.

په انګلستان کې په (بوالو) پسې (الکساندرپوپ) او په المان کې (ګوتشد) د کره کتنې لړۍ پسې وغځوله. (ګوتشد) په دې نظر و چې په شعر او ننداره کې باید له نامعقولو او ناباوره شیانو څخه ځان لرې کړو او حقیقت ته باید مخه کړو.

د فرانسې انقلاب ته په ورشېرمه وخت کې د اروپا د پوهانو نظریات په کره کتنه کې د نویو افکارو د ټوکېدو سبب شول. د (تامس هابز، جان لاک او کندیاک) د نظریاتو پر بنسټ زیاتره پر حس او تجربې ډډه ولګول شوه. د (لایب نیتس او دکارت) د نظریاتو له مخې عقل ته ډېره پاملرنه وشوه او د ایټالوي کره کتونکي (ویکو) له لیدلوري بیا د ښکلا پوهنې قضاوت ته ډېر ارزښت ورکړ شو.

په المان کې د (کانت) نظریاتو کره کتنه غښتلې کړه. (ژان ژاک روسو) پر ذوق ډډه ولګوله. ددې وضعې په پایله کې د (رومانتیزم ښوونځی) رامنځته شو. رومانتیزم د معمول تصویر پر خلاف نه ګل و نه پتنګ او نه شاعرانه منظرې سره ارتباط لري او نه تشو خیالونو سره. دا داسې یو ښوونځی دی، چې د ژوند واقعیتونو ته ګوري او نړۍ لید یې پر ټاکلې فلسفې او رښتینې تعبیر او تفسیر ولاړ دی.

د (فروید) د نظریاتو له امله خبره (سور ریالیزم) ته ورسېدله. په (سور ریالیزم) پسې په اروپا کې نور ښوونځي لکه (ګرستانیالیزم، ریالیزم، دادایزم، ناتوریالیزم) او ګڼ نور ادبي جریانونه او د کره‌کتنې بهیرونه راوټوکېدل او ان تر شلمې پېړۍ یې دوام وکړ.

په شلمې پېړۍ کې کره کتنې ښلابښل اړخونه پيداکړل. ددې پېړۍ د کره کتنې يوه ځانګړنه د هغې تطبيقي اړخ دی. ددې کار علت د روابطو پراخوالی، ژباړې، د رسنيو او نورو تبليغي ذريعو زياتوالی دی. ددې پېړۍ د کره کتنې بله ځانګړنه د فلسفې او ټولنيزو ښوونځيو اغېز دی.

په شلمه پېړۍ کې په انګلستان، فرانسې، المان، امريکا او نورې لويديځې نړۍ کې ګڼ شمېر کره کتونکي راوټوکېدل او په کره‌کتنې کې نوي نظريات رامنځته شول.

په عربي نړۍ کې، احمد فارس الشدياق، شيخ ابراهيم يازجي، سليمان البستاني، جرجي زيدان،ابراهيم عبدالقادر المازني، عباس محمود العقاد، محمدحسين هيکل، احمدامين، ډاکتر طه حسين، محمدکرد علي، ذکي مبارک او نورو ډېر کره کتنيز اثار وليکل. په ايران کې ډاکتر رضا براهنی، شفيع کدکني، داکتر زرينکوب، رضا سيدحسيني او نور د ايران غټ کره کتونکي دي. په اردو ادب کې هم کره کتنې ته ډېر کار کړی دی. (مير تقي مير)، (مصحفي)، (مصطفی خان شيفته)، (مهدي الافادي)، (وحيد الدين سليم)، (عبدالسلام ندوي)، (کليم الدين احمد) او ځينې نور د اردو ژبې مهم کره کتونکي ګڼل کېږي.

# د درېیم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-په فرانسه کې د معاصرې کره کتنې مخکښان څوک دي؟

۲-په معاصره کره کتنې کې الماني کره کتونکي څوک وو او نظریات يې څه وو؟

۳-په امریکا کې معاصره کره کتنه څنګه رامنځته شوه؟

۴-د معاصرې او پخوانۍ کره کتنې ترمنځ اړیکي تشریح کړئ؟

۵-په شلمه پېړۍ کې د انګلستان، هسپانیې او ایټالیا د کره‌کتونکو نومونه واخلئ؟

۶-د عربي ژبې ادبیات او کره کتنه پر پښتو ادبیاتو څه اغېز لري؟

۷-د ایران نومیالي کره کتونکي څوک دي؟

۸-په افغانستان کې د دري ژبې نومیالي کره کتونکي څوک دي؟

۹-په اردو ژبه کې د معاصرې کره کتنې څرک چېرته لیدلای شو؟

۱۰-د اردو ژبې معاصر کره کتونکي څوک دي؟

# سپارښتنې

- محصلين دې د عربي ژبــې د معاصــرې دورې يــو يــو کــره کتونکی وپېژني.
- محصلين دې له ګاونډيو ژبو سره زمونږ د ژبــې ادبــي- کــره کتنيز اړيکي د خپلو علمي سيمينارونو له لارې تشريح کړي.

# څلورم څپرکی

## کره کتنیز او ادبي ښوونځي

د کره کتنې په بېلابېلو چاپ شویو اثارو کې د کره کتنې جریانونه او د ادبیاتو بېلابېل ښوونځي اکثره د ادبیاتو د ښوونځیو تر چتر لاندې څېړل شوي دي. کله چې یو ادبي ښوونځی رامنځته شوی او یوه مشخصه محتوایي او شکلي بڼه یې غوره کړې ده، نو بیا ادبپوهانو یا کره کتونکو همغه اثار چې ددې ښوونځي ساحې ته داخلېږي، د همغه ښوونځي د ځانګړنو په رڼا کې مطالعه کړي، شنلي او څېړلي دي. د یوه ادبي ښوونځي د پولو او ځانګړتیاوو تشخیص هم د ادبپوهانو او کره کتونکو له خوا په ګوته کېږي. نو که موږ غواړو د کره کتنې د ښوونځیو په باب رڼا واچوو، ضروري ده چې د ادبیاتو بېلابېل ښوونځي هم وپېژنو، د همدغو ښوونځیو پېژندنه په حقیقت کې د کره کتنې د ښوونځیو بڼه اسانوي. په ځینو څېړنیزو اثارو کې د کره کتنې ښوونځي، ادبي ښوونځي او د کره کتنې ډولونه تر یوه چتر لاندې څېړل شوي دي، په تېره بیا د کره کتنې ښوونځي او ډولونه. د کره کتنې د ښوونځي او د هغه د یو ډول ترمنځ یو څه توپیر په کار دی. په یوه کره کتنیز ښوونځي کې کېدی شي، د کره کتنې څو ډولونه مطرح شي، خو په پښتو او دري کې اکثره کتابونو کې ددې موضوعګانو په باب توپیرونو ته ډېره پاملرنه نه ده کړې.

دلته لومړی غواړو کره کتنیزو ښوونځیو ته لنډه نغوتــه وکــړو او بیــا ادبي ښوونځینو ته لاړ شو.

## ۱- کره کتنیز ښوونځي:

لکه څنګه چې د مخه مو یادونه وکړه، یو شمېر ادبپوهانو د کره کتنې ډولونه، ښوونځي او ادبي ښوونځي د ځینو ګډو خصوصیاتو له امله یو له بله نه دي جلا کړي، دوی تاریخي کره کتنه چې پر یوه ادبي اثر او د هغه پر پنځوونکي باندې د تاریخي حالاتو او حوادثو د اغبــز څېړنــه کوي، هم د کره کتنې یو ډول ګڼلی او هم یوه کره کتنیــز ښــوونځی. (پارناس) ښوونځی چې په فرانسه کې رامنځته شوی و، (هنر د هنــر لپاره) نظریه یې وړاندې کړې او د ښکلاییزې کره کتنې بیان توجیــه کوي، هم یو کره کتنیز ښوونځی ګڼل شوی او هم د کــره کتنــې یــو ډول. ددې تر څنګ ارواپوهنیزه کره کتنه چې د (فروید) د نظریاتو پر بنسټ رامنځته شوې او د انسان دورني او پټ ضمیر له پلوه یو ادبــي څېړې، هم یو ښوونځی او هم د کره کتنې یــو ډول ګڼــل شــوی دی. مارکسستي کره کتنه هم یو ډول ښوونځی بلــل شــوی دی، پــه دې ښوونځي یا د کره کتنې په ډول کې داستان اوتــولې اړیکــي څېــړل کېږي، په دې کره کتنیز ډول کې تخلیق د اقتصادي اړیکــو او مــادي حقیقتونو تابع ګڼل کېږي، دوی (ادب د ادب) نظریه هم راولي.

رومانتیکه کره کتنه هم د کره کتنــې یــو ډول یــو غورځنــګ او یــو ښوونځی ګڼل شوی دی. ددې ښوونځي اساس پر مســرت حســن او

جذباتو ابښودل شوی دی او په یوه ادبـي اثـر کـې هـم موضـوعات څېړلي. ځينو تحليلي نقد هم د نقد يو ډول او يو جلا ښوونځی ګڼلی او ځينو نورو يې مخالفت کړی دی.

استقرايي کره کتنه هم په همدې ډول ده، چا يو ښوونځی او چا د کره کتنې يو ډول ګڼلی دی. دا نقد د ادبي اثر تعريف او غندنې ته اړتيا نه لري، استقرايي نقد د ساينسي څېړنو په ادبي اثـر کتنـه او مطالعـه کوي. دا ښوونځی يا د کره کتنې ډول ادبي قوانين په خپله په ادبـي اثارو کې لټولي او ادبيات هم د فطري مظاهرو په څېر ارتقـالي عمـل سره تړلي بولي. دې ته ورته نظريات د کره کتنې په نورو ډولونو کـې هم شته چې چا د کره کتنې ښوونځي او چا د کره کتنې ډولونه بللي. تفصيلي بحث به په شپږم څپرکي کې وشي خـو اوس دلتـه پـر دې لنډې يادونې بسنه کوو.

## ۲- ادبي ښوونځي:

تر اوسه پورې ادبپوهانو په نـړۍ کـې ګـڼ شـمېر ادبـي ښـوونځي راپېژندلي دي، چې د ټولو سپړل، شنل او معرفي کول دلته ممکن نه دي خو، مورږ غواړو دلته دا ادبي ښوونځي په درېو ډلبنديو کې وڅېړو او لنډه رڼا پرې واچوو.

## الف- لویدیز ادبي ښوونځي:

په لویدیځ کې ګڼ شمېر ادبي ښوونځي چې ځینو ادبپوهــانو د کــره کتنې ښوونځي هم ګڼلي دي، رامنځته شوي دي. مــوږ دلتــه غــواړو ددې ښوونځیو له جملې څخه ډېر مهم یې په لنډیز سره معرفي کړو.

### ۱- کلاسیزم:

د کلاسیزم ترکیبي کلمه چې له ((کلاس)) یا ((کلاسیک)) کلمو څخه د ((یزم)) روستاړي (لاحقې) په مرسته جوړه شوې، لغوي مانا یې پــه فرهنګونو کې پخوانی یا لرغونی، اولنی، تاریخي، هغه څــه چــې پــه لرغونو او پخوانیو زمانو پورې اړه لري، راغلې ده او په ادبي اصــطلاح هغه هنري ادبي ښوونځی (مکتب) دی چې د اروپا د هنر او ادبیاتو په ډګر کې یې لږو ډېر درې پېړۍ ( له پنځه لسمې نه تر اتلسمې میلادي پورې) رواج درلود. ښکلا پیژ اصول او لارې یې د لرغوني یونان او روم له هنر او ادبیاتو څخه اخیستې دي. ځینو په ادبي څېړنــو کــې ددې ادبي مکتب د پیدایښت لومړنی ټاټوبی انګلستان، ګڼلی خو په زیاترو کې فرانسه ښودل شوې ده، چې له هغه ځایه المان او د اروپــا نــورو هېوادونو ته خپور شوی دی.

## اصول او ځانګړنې:

۱- د لرغونو تقلید: ددې ادبي ښوونځي پلویانو تل دا هڅه کړې چې د لرغونې زمانې د ادبیاتو او ادبپوهانو ادبي نظریات مطالعه کړي او خپل اثار د هغوی په تقلید ولیکي.

۲- د طبیعت تقلید یا پېښې: ددې ښوونځي هر پلوی مجبور و، چې تر هر قانون او قاعدې مخکې د طبیعت تقلید وکړي.

۳- د عقل اصالت: ددې ښوونځي پلویان (عقل) په وینا او کړنه کې د انسان لارښود ګڼي او د عقلاني اصولو پلوي دوی ته ډېره مهمه ده.

۴- لنډون او څرګندتیا: ددې ادبي ښوونځي په ټولو اثارو کې دې اصل ته پاملرنه شوې ده.

۵- یووالی: د دریو وحدتونو (د زمان ، مکان او د موضوع یووالي) قانون ته پاملرنه ده.

۶-اخلاقي:  په ادبي اثارو کې دیني او اخلاقي مسایلو ته ډېره پاملرنه شوې ده.

۷-کرکټرونه: خیالي او فوق العاده نه دي، بلکې طبیعي او د لوړو اخلاقو په لرلو سره هر چاته د منلو وړ دي.

۸-ساده ګي او رواني خوښوي

۹-د اثر په ټولو برخو کې تناسب او هماهنګي مراعاتوي.

۱۰-فصاحت او بلاغت ته زیاته پاملرنه کوي.

د کلاسیزم نومیالی استازي: په فرانسه کې (راسین)، (بوالو)، (پاسکال)، (لافونتین)... په انګلستان کې: (جان میلتون)، (درایدن) او په ایتالیا کې: (الفیری) او (ګلدوني) دي.

## ۲- رومانتیزم:

رومانتیزم د (رومان) له کلمې څخه اخیستل شوی، چې لغوي مانا یې خیالي، افسانوي او عشقي ده او په ادبي اصطلاح د یو ادبـي مکتـب نوم دی، چې د اتلسمې میلادي پېړۍ په پای کې د کلاسـیک ادبـي مکتب د مخالفت له امله په اروپا کې رامنځته شو. په (۱۹مـه) پېـړۍ کې د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې خپور او د ادب او هنـر پـه بېلابېلـو څانگو، په ځانگړې توگه انځور گرۍ (نقاشۍ) کـې یـې ډېـره وده او پرمختیا وموندله.

### ځانگړنې:

۱- د خیال او فکر ازادي او بې پروایي.

۲-لوړ تخیل او الوت.

۳-د ښکلا او جمال ستاینه.

۴-د لغتونو او ژبنیو تعبیرونو پراختیا.

۵-له ادبي قید و بند نه ځان خلاصول، ددې مکتب یوه پیاوړي لاروي (ویکتور هوگو) به ویل: ((رومانتسیزم یانې د شرایطو له بې ځایه قیدونو څخه د ادبیاتو ازادي.))

ددې ادبي مکتب نومیالي استازي: په فرانسه کې: (ویکتورهوگو)، (شاتوبریان)، (د ولامارتین)، په انگلستان کې: (ویلیام شکسپیر)، (والترسکاټ او شلي)، په روسیه کې: (میخایل لرمانتوف)، (الکساندر

پوشکین)، په ایټالیا کې: (الکساندر مانزوني) او په مجارستان کې: (شاندر پتوفی) دي.

## ۳- ریالیزم:

دا ادبي ښوونځی تر رومانتسیزم وروسته په فرانسه کې رامنځته شو. دغلته يې لـومړنی بنسـتګر (بـالزاک) ګڼـل شـوی دی. دې ادبـي ښوونځي د نولسمې پېړۍ تر لومړۍ نیمايي وروسته رواج وموند او د اروپا د خلکو پاملرنه يې له خيالي او رومانتيکو افکارو څخـه د ژونـد واقعيتونو ته واړوله.

ددې ادبي ښوونځي پلويانو د ژوند د ورځنيو مسايلو او پېښو په هکله خبرې کولې او واقعيتونه به (ښکلي وو، ناوړه او که بدرنګ) په خپلـو ادبي اثارو کې بيانول.

### ځانګړنې:

۱-په دې ادبي ښوونځي کې د ژوند، چاپېريال، موجـودات او ټـولنيز مسايل څنګه چې دي، هسې بيان شوي دي.

۲-د ادبي کيسو موضوعات هغه عينـي مسـايل دي، چـې د ټـولنې زياتره خلک ورسره مخـامخ دي، لکـه: لـوږه، بـدمرغي، رنځـوري، دوستي، دښمني، کرکه او کينه، زياتره د خلکـو روحـي او جسـمي غوښتنې او اړتياوې.

۳-د کیسو اتلان  د ټولنې له هرې طبقې څخه غوره کېږي، کړنې، اخلاق او عادات یې باید واقعي او عیني وي، نه دا چې خیالي او له واقعیت څخه لرې.

۴-په ادبي اثارو کې د پېښو د ټولو جزئیاتو او اړخونو ژورې او دقیقې راخیستنې ته ډېره پاملرنه.

۵-د واقعیتونو د درک لپاره ډېر غور، دقت، ځیرکتیا، څېړنه او پلټنه، د ادبي اثارو د لیکوال لپاره ډېره ضروري وه.

لنډه دا چې: رښتیا، اسانتیا، ښکلا او د واقعیتونو بیانول ددې ادبي ښوونځي غوره ځانګړنې دي.

استازي: په فرانسه کې: (بالزاک)، (استاندال)، (مادام بواری)، په انګلستان کې: (چارلیزدیکنس)، (ویلیام ثاکري)، په روسیه کې: (تولستوی)، (داستا یوفسکی)، (ماکسیم ګورکي)، په المان کې: (دهمل) او (هولتز) په امریکا کې: (ارنست همینګوی) او (ویلیام فاکنر).

## ۴- ناتورالیزم (نچرلیزم):

ناتورالیزم کلمه له ادبي پلوه په ادبیاتو کې د طبیعت دقیق تقلید او د ډېرې زیاتې ستاینې په مانا ده او په اصطلاح کې د یو ادبي ښوونځي نوم دی، چې په ادبیاتو کې د علمي او تجربه یي طریقې پر کارولو باندې باور لري.

دا ادبي مکتب د نولسمې پېړۍ په پای کې په فرانسه کې رامنځتــه او د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې یې ډېره وده او پرمختیــا وکــړه، ډېــر پلویان یې پیداکړل.

ددې ښوونځي پلویانو باور درلود: څرنګه چې هر لیکوال یــا شــاعر د خپل چاپېریال او طبیعي شرایطو، لکه: نژاد، روزنې او د خپل وراثت د عواملو تر اغېز لاندې وي، جسمي او روحي ځانګړنې یې پر اثارو هــم اغېزه کوي، لکه څنګه چې علمي مسایل څېړل کېــږي، د دوی اثــار دې هم دغه ډول تر څېړنې او کره کتنې  لاندې ونیول شي. دوی پــه دې هڅه کې وو چې د ادبیاتو لپاره هم لکه د نورو علومو پــه څېــر د سنجش معیارونه پیداکړي.

ځانګړنې:

۱-دا چې لیکوال یا شاعر د خپلو تجربو او ازماېښتونو بیانوونکی دی، باید په لیکنه یا شعر کې د خپل تخیل او هیجاناتو له دخالت څخه ځان وژغوري.

۲- په شعر او ادب کې دې دیني او اخلاقي مسایل نه راوړي.

۳-د ادبي اثارو په تخلیق او پنځونه کې دې د خلکو د محاورې ژبه وکاروي، چې لیکوال او شاعر د واقعیتونو په بیانولو کې ټینګ پاتې شي، څه کمی او زیاتی دې په کې ونه کړي.

۴-پر جبر باندې د باور لرلو او د خلکو ذات ته په کتو، ددې مکتب پلویان د انسانانو باطن ته ګوري او په هغه کې چې څه ناولتیاوې او فسادونه ګوري، هماغه د خپل قضاوت بنسټ او اساس ګرځوي.

۵-په دې ادبي ښوونځي کې د وراثت مساله ډېره ارزښت لري او د دوی په نظر د ادیبانو او هنرمندانو روح او فکر د جسماني او طبیعي عواملو تر اغېز لاندې راځي.

نومیالي استازي: په فرانسه کې: (امیل زولا)، (ګي دومو پاسان)، په امریکا کې: (جک لندن)، په انګلستان کې: (جوج مورو)، په المان کې (کرتزر) او (هولتس) او په هالنډ کې (مارسل امانتس) دي.

## ۵- سمبولیزم:

د (سمبول) لغوي مانا (نښه) یا (علامه) ده. سمبولیزم په اصطلاح کې هغه ادبي ښوونځی دی، چې د (۱۹)مې پېړۍ په پای کې د (ریالیزم) (ناتورالیزم) او (پارناس) ادبي مکتبونو پر خلاف، په فرانسه کې د نومیالي شاعر ( شارل بودلر) په مشرۍ منځته راغی. دوی اعلان وکړ چې په شعر کې هېڅ ډول قید او بند نه مني. شعر باید د وزن او قافیې له قید څخه ازاد وي؛ ساده، روان، ښکلی او اهنګوال وي، خو دا لازمه نه ده چې د ټولنې د ټولو طبقو لپاره دې وړاندې شي. دوی په شعر کې عجیبه نا اشنا مسایل مطرح کول، له ژوند او ټولنې څخه یې لرې کاوه، داسې څه به یې په رمز او اشارو وایه چې عام خلک پرې نه پوهېدل.

ځانګړنې:

۱-په شعر کې ابهام او په څرګند ډول د مسایلو له بیانولو سره مخالفت.

۲-د ژوند په هکله بدبیني او ناهیلیتوب او پر نېکمرغۍ باور نه لرل.

۳- پر غیبي او له دې نړۍ څخه پرته پر یوې بلې نړۍ باور او عقیده لرل.

۴-پر دې نړۍ باور نه لرل او پر دې باور نه کول چې زموږ شته والی دی، چې دې نړۍ ته شکل وربښي.

۵-د ادبي مطالبو په بیانولو کې د یوې داسې لارې اختیارول، چې هر څوک یې لولي په مخصوص ډول په کې له خپلې روحیې سره سم خپل حال او مقام درک کړي.

نومیالي استازي: په فرانسه کې: (شارل بودلر)، په بلژیک کې: (موریس مترلینګ)، په ایرلنډ کې: (ویلیام باتلر)، په روسیه کې: (ولادیمیرسولوویف) او په انګلستان کې: (دیوید هربرت لارنس) او نور.)) (۲۶: ۹۷-۱۰۳).

## ٦- سور ریالیزم:

سور ریالیسم ښوونځی پر (۱۹۲۴م) کال د (اندره برتون) پـه وسـیله رامنځته شو، هغه وایي: ((ادبیات باید د هغـه فکـر لـه تظـاهراتو او څرګندتیاوو، چې له ټولو بندیزونو ازاد وي، پرته نور له هېڅ شي سره سروکار ونه لري، نوموړی وایـي: (( سـور ریالیسـم هغـه خپلسـری فعالیت دی چې د هغه په واسطه کولای شو، په ګړنی یا لیکنۍ او یـا هم په کوم بل ډول د فکر د حقیقي او واقعي فعالیت بیـان وړانـدې کړو.)) سور ریالیسم له هر هنري او اخلاقي قید څخه ازاد، د عقل له ملاتړ پرته، د فکر له وړاندې کولو څخه عبارت دی.

څرنګه چې (اندره برتون) او د هغــه دوســت (لــویي اراګــون) دواړه ډاکتران وو، نو ځکه خو غواړي د (فروید) هغــه نظریــه چــې د (پــټ ضمیر) په اړه یې درلودله، ادبیاتو ته داخله کړي. ددې ډلې په اند هر څه چې د انسان په مغز کې ګرځي، که چېرې تر تفکر دمخه ولیکــل شي، دا داسې نا اګاهانه مطالب او داسې خپلسرې خبــرې دي، چــې بېواکه له خولې څخه راوځي. سربېره پر دې خیــال او تصــور د ســور ریالیسم لومړني مواد ګڼل کېــږي، (ســور ریالیســتان) وایــي اکثــره تخیلات او تصورات د انسان په فکر کې شته، خو انســان د اخلاقــي، سیاسي، ټولنیزو او دودیزو بندیزونو له امله د هغو له بیان څخــه ډډه کوي او دا تصورات د خپل پټ ضــمیر تــل تــه ســپاري، خــو دا ډول تخیلات بیا اکثره په ټوکو ټکالو، خوبونو او هغو خبرو کــې، چــې لــه کومې ارادې پرته د انسان له خولې راوځي، ځان څرګندوي.

(سور ریالیستان) بیا په رښتیني او صادقانه ډول ددغه ډول وهمونو، افکارو او نظریاتو د بیان پلویان دي. په لنډه توګه ویلای شو چې سور ریالیستان په حقیقت کې همغه فعالیتونه د انسان اصــیل فعالیتونــه ګڼي چې د انسان په درانه کې د یو خوب او خیال پــه شــان موجــود وي، خو واقعي بڼه نه لري، یانې همغه د ناخبرې پټې نړۍ فعالیتونه. د (سور ریالیستانو) په فکر شعر د انسان د همدغې پټې داخلي نړۍ یو ډول غــږ او فعالیــت دی. د ســور ریالیســتانو د ښــوونځی نــامتو شخصیتونه پر (برتون) او (اراګون) سربېره، (بل الوار) او (اپولیز) دي. (۱۸: ۱۲۳).

## ۷- اگسزسيتانسياليزم:

((سره له دې چې اگزيستانسياليزم په واقعيت کې يــو ډول فلســفي ښوونځی دی، خو (ژان پل سارتر) هغه ادبياتو تــه داخــل کــړی دی، سارتر د ((د وجود اصالت)) ته معتقد دی او وايي: (( پــه انســان کــې هستي تر ماهيت وړاندې ده، يانې لومړی ((وجــود)) دی او تــر هغــه وروسته همدا وجود ((ماهيت)) پيدا کوي، دا نو په واقعيت کې خپله انسان دی چې خپل ماهيت ټاکي، ځکه خو نو يو سړی بايد پر هغــې لارې لاړ شي چې دده خپله ځانگړتيا ده او د هغې په غــوراوي کــې ازاد دی. څرنگه چې انسان خپل ماهيت په خپله جوړوي، نــو ځکه د همېشنۍ هڅې په لټه کې دی، ځکه نو انسان په هېڅ وجــه د طبيعت او تاريخ د لاس نانځکه نه ده، ذاتاً ازاد دی او د هغــه د ژونــد ماهيت د همدې ازادۍ په حقيقت کې دی. خــو دا ازادي يــوازې پــه انتخاب کې ده. انسان پر دې ازادۍ محکوم دی او نه شي کــولای لــه هغې څخه وتښتي. له همدې کبله ذاتاً مسول او ژمن دی. ځکــه خــو سارتر په دې ډول ((ادبي التزام)) او ((مســوليت)) تــه رســېږي او د ادبياتو اصلي جوهر همدا ((ژمنتيا او التزام)) گڼي.

د (سارتر) په نظر انسان ددې لپاره چې خپل ماهيت جوړ کړي، پر يو ډول عمل لاس پورې کوي او دا ((عمل)) ادبيات دي. نو څرنگه چــې موږ په خپله په يو عمل ځان بدلوو، دغه کار په خبرو هم کــوو. د يــو ليکوال کار دادی چې نړۍ او په تېره بيا يو انسان نــورو تــه څرگنــد کړي، چې هغوی د هغه شي پر وړاندې چې ورڅرگند شوی دی، خپل مسوليت څرگند کړي او مسوليت ومني. ليکوال بايد داسې کار وکړي

چې هېڅوک له نړۍ څخه ناخبره پاتې نه شي او هېڅوک ونه کړای شي خپل ځان له هغې څخه جلا وانګېري. لیکوال یې ښکاره کوي او لوستونکی یې پنځوي، یانې هغه نړۍ چې ده ته د ادبي اثر له لارې وړاندې شوې، هغه له سره پنځوي. په دې ډول نو لوستونکی نور ناپېیلی او ناکاره نه دی. په عمومي ژوند کې خپله ونډه او مسوولیت پر غاړه اخلي. د (سارتر) په نظر ادبي نړۍ باید له واقعي نړۍ څخه ارماني او تحولي نړۍ ته د تېرېدو لاره وي او هم باید د هوسونو ښار ته د تېرېدو مورچل وي.)) (۱۸: ۱۲۴).

## ۸-سینتیمنتالیزم:

((دغه ګرنه یا اصطلاح له فرانسوي کلمې (Sentimental) څخه چې مانا یې احساسي یا احساساتي کېدی شي، اخیستل شوې ده. دا ادبي ښوونځی د اتلسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې رامنځته شوی دی.

څېړونکي وایي: دا مکتب په اروپا کې د کلاسیزم د ادبي مکتب پرځای د فیوډالي نظام د زوال او د پانګوالي نظام له ودې سره یوځای په هغه مهال کې ایجاد شوی و.

دا هغه مهال و چې د فیوډالي او پانګوالي سیستمونو ترمنځ سخته مقابله او مبارزه روانه وه. ددغه هنري ادبي میتود د پیدایښت لومړنی ځای انګلستان ګڼل شوی (هلته فیوډالي نظام له پښو لویدلی او د پانګوالۍ له واکمنۍ سره یوځای نوموړي ادبي مکتب خپل شتون، د کلاسیسزم د پاتې شونو پر وړاندې څرګند کړی دی.)

ددې ادبي ښوونځي بنسټ ایښودونکی انګلیسي لیکــوال (لــورینس ستیرن) ګڼل شوی دی. ده په فرانسه کې د خپل مسافرت د خاطراتو یو اثر (سینتیمینتال)، (د عاطفي مسافرت، د احساســاتو مســافرت) ولیکه، له همدې کبله دې ادبي مکتب تــه د (ســینتیمنتالیزم) نــوم غوره شو. د نوموړي ادبي مکتب پالونکو او پلویانو د لــوړې طبقــې د ظلمونو او تېریو پر وړاندې د مظلوم ولس غږ اوچتــاوه او هــم یــې د کارګرې طبقې د زیار او زغم ستاینه کوله، د کلاسیزم د (تعقل پالنې) پر ځای یې د (عاطفي او احساس پالنې) پلوي کوله. ددې ادبي مکتب د انځورونې چاپېریال بېوزله کورنۍ وې. په دې ادبــي مکتــب کــې د ریالیزم او رومانستیزم د ادبي مکتبونو ځانګړنې هم څرګندې دي.

د ځینو سینتیمنتالیستانو، لکه (روسو، دیدرو، لیسنګ) په اثارو کې د ریالیزم نښې او ځانګړنې هم شــته. همــدا ډول د (تومــاس ګــري، یونګ) په اثارو کې بیا د رومانتیزم ځانګړنې ډېرې دي.

د نوموړي ادبي مکتب استاد او زده کوونکو هڅه کوله، چې د ټیپیکو اشخاصو او تکرارېدونکو پېښو پر ځای، په چاپېریال کې واقعي پېښې او کسان انځور کړي. له همــدې املــه د دوی پاملرنــه د چاپېریــال د شرایطو د ترسیم او تصویر پرځای، په ژوند کې د واقعــي اشخاصــو د ژوند پېښو، کړو وړو، احساساتو، دردونــو او د هغــو د داخلــي نــړۍ انځورونې او ترسیم ته ور اوښتې وه. ځکه خو د دوی اثارو تر ډېــره، د مستندو مکاتبو او ورځنیو یادښتونو بڼه او رنګ درلــود. دوی تــل د انساني احساس داخلي او روحــي نــړۍ لــه مبــالغې ســره یوځــای انځوروله، دوی د مبالغې په مرسته په ټولنه کــې ځــانګړې پېښــې او

فوق العاده اشخاص په هنري انځورنه لوستونکو ته وړاندې کول. دغو پېښو ته يې په ټولنه کې تعميم نه شو ورکولای، ترسيم به يې ټيپيک نه و، ځکه خو يې د رياليستي مکتب ځانګړنې خپلې نه کړای شوې.

ددې ادبي مکتب اصلي زانګو انګلستان بلل شــوی دی. هلتــه ددې ښوونځي پلويانو، بې عدالتي او بــې انصــافي غندلــه، خلــک يــې د پرهېزګارۍ، تقوا او شرافت لور ته هڅول، د (پســيميزم) تلقــين يــې کاوه چې په دې لړ کــې د (هولډســميت)، (يونــګ) او نــورو نومونــه يادېږي. په جرمني او فرانسه کې بيا سينيتمنتاليزم نه يوازې عواطف او احساسات ترسيمول، بلکې د مبارزې خواته يې هم بلنــه ورکولــه، چې له انګلستان سره يې توپير درلود. په روسيه کې بيا پــه ځــانګړو شرايطو کې دغه ادبي مکتب راوټوکېد،له لويديځ ســره يــې ښــکاره توپير درلود. دغه ادبي بهير په روسيه کې د خواصو په خدمت کې و، له بلې خوا د بزګرانو له پاڅون څخه يې هم وېره درلوده. مخ پــر ودې پانګوالۍ څخه يې هم وېره درلوده، نه يې غوښــتل چــې فيــوډالي او نيمه مريتوب مناسبات په ټولنه کــې پايتــه ورســېږي.)) (۱۴: ۲۳۷-۲۳۸).

## ۹- نهيليزم:

((په ادبياتو کې يو بل جريان يا مکتب بيا د (نيهيليــزم) پــه نامــه يادېږي د نيهيليزم ګړنه يا اصطلاح د لاتيني ژبــې لــه (nihil) څخــه جوړه شوې، چې مانا يې ده: (هېڅ شی) دا يو داسې فلسفي او ادبــي جريان دی چې هر ډول مثبتې نظريې په مطلق ډول ردوي، منلو تــه

یې غاړه نه ږدي. نوموړې ګړنه د لومړي ځل لپاره د جرمني فیلسوف (جاکوبي) له خوا وټاکل شوه، وروسته بیا د ډېر مشهور ادبي مکتـب په نامه نومول شوې ده.

## ۱۰- فورمالیزم:

فورمالیزم کلمه د لاتیني له (forma) څخه چې بهرنۍ، ظاهري، شکل او بڼې ماناوې لري، اخیستل شوې ده. دې ته پـه ادب کــې د نقــد او ادبي تیورۍ له نظره یو ارتجاعي ادبي بهیر ویل شوی دی. د مضــمون منځپانګه او مفکوره په پام کې نه نیسي، یوازې ظاهري بڼې، د الفاظو ترتیب، ترکیب او ښایستونو ته پاملرنه کوي؛ ظاهري ښکلا ته ارزښت ورکوي.

فورمالیستان په شعر او ادب کې له قــافیو، فنونــو، مبــالغې، پېچلــو ترکیبونو او ظاهري جمال سره مینه لري، هنري اثــار لــه واقعیــت او حقیقي ښکلا او جمال څخه لرې کوي.

## ۱۱- ایماژینیزم:

ایماژینیزم هم یو کوچنی ادبي جریـان یـا مکتــب دی چــې ځینــو فورمالیستیک ادبي جریان ته ورته او ځینو یې یو جز ګڼلی دی، چې ډېر شهرت نه لري. دغه ګړنه د فرانسوي (Emage) (شکل، بڼــه) لــه کلمې څخه جوړه شوې ده، چې د (ایماژیزم) پــه شــکل هــم لیــدل کېږي. د دې جریان په نظر په ادبي اثر کې باید ژبه په ظاهري توګه په داسې نوې بڼه وکارول شي، چې وړاندې یې ساری موجود نه وي. اثر کې باید فکري تسلسل او منطــق موجــود نــه وي. (هیــوم پاونــد)،

(لوبیل) او داسې نور ددې جریان پلویـان ګڼـل شـوي دي. دوی پـه روسیه کې د (ایماژیستانو) په نوم یوه مطبعه هم درلوده. د دوی شعار د نوي فورم ایجاد و چې هېڅ مفکوروي اړیکي ونه لري او له مضمون څخه فورم خپلواک وي.

## ۱۲- پارناس ښوونځی:

د (۱۸۶۰م) کال په شاوخوا کې د ادبیاتو په باب شدید بحثونـه پیـل شوي وو. یوه ډله هغه شاعران چې د رومانیزم پر ضد یې سـر پورتـه کړی و او (هنر د هنر لپاره) د نظریې تر سخت تاثیر لاندې راغلـي وو. سره راټول شول، ادبي ټولنې یې جوړې کړې، ددې شاعرانو پـه سـر کې (لوکنت دولیل) و، چې شاوخوا ټول شاعران یې تر اغېـز لانـدې راوستي وو. د باید ددغه ادبي ښوونځي تر ټولو مهم اسـتازی وګڼـل شي. ده پر (۱۸۶۶م) کال د معاصرو (پارناسانو) په نوم ددې شاعرانو د شعرونو یوه ټولګه خپره کړه، څرنګه چې دا کتاب د لوستونکو خوښ شو، تر یو مهال وروسته یې د هغې دویم او دریـیم ټـوک هـم پسـې خپاره کړل، ورو ورو دا شاعران د (پارناسیانو) په نامه یاد شـول. پـه پای کې د (اندره تریو) په نامه یوه کره کتونکي، په خپل یوه اثـر کـې چې (پارناسیانو) شاعرانو تـه یـې ځـانګړی کـړی و. د (پارناسـیزم) اصطلاح وکاروله.

## ۱۳- امپرسیونیزم:

دغه ګړنه له فرانسوي کلمې (impression) څخه اخیستل شوې چې مانا یې (خاطره، تاثر) کېږي. نوموړی نـوم یـې پـه (پـاریس) کـې د

انځورګرۍ له یوه مکتب څخه اخیستی دی. دا د پانګوالۍ ادب یو هنري ادبي مکتب پېژندل شوی، چې د نولسمې پېړۍ په (۶۰) کلونو کې رامنځته شو، په وروستیو دېرشو کلونو کې، چې د شلمې پېړۍ پیل و، دغه ادبي مکتب په غربي هېوادونو کې وده وکړه. ددې ادبي مکتب پلویان د هنر او ادب دنده، د لیکوال او هنرمند هغه احساسات، خیالات او خاطرات بولي، چې دی ورڅخه اغېزمن شوی وي او د انځورګرۍ په بڼه یې لیدونکو ته وړاندې کوي. دا ادبي مکتب یا جریان یو څه ناتورالیزم او ریالیزم ته ورنږدې دی، د ژوند ریښتینې انځورګري کوي او فردي احساس د فورم په مبالغې کې څرګندوي.

## ۱۴- کونستروکتیویزم:

دا ګړنه د لاتیني ژبې له (construcio) څخه چې مانا یې (جوړونه) کېږي، اخیستل شوې ده. نوموړی ادبي مکتب تر لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته رامنځته شوی دی.

د ادب او هنر د مفکورې او فکري مضمون له ټولنیز ارزښت څخه سترګې پټوي. ددې ښوونځي د منځته راتلو وخت د طبیعي علومو او تخنیک د بریو وخت ګڼل شوی دی، پلویانو ته یې همدا ویل کېدل چې باید پوهې او تخنیک ته درناوی وشي؛ که دغه پوهه (علم، تخنیک) د هرې ټولنیزې طبقې په لاس کې وي. ددې ادبي مکتب پلویانو فکر کاوه چې د زړې نړۍ ادب او هنر زاړه شوي دي اوس نه پکاریږي. د زړو شیانو ځای اوس نوي ماشین، نوي تخنیک او نورو پرمختیاوو نیولی دی. دوی وایي چې زموږ د وخت هنري اثار همدغه

پرمختللی ماشین ګڼل کېږي. دغه ډله لـومړی، پــر (۱۹۲۴- ۱۹۳۰م) کال په پخواني شوروي اتحاد کې جــوړه او د (کونستروکتیویســتانو مرکز) تر سرلیک لاندې یې فعالیت کاوه. د دوی په ادبي هنري اثــارو کې د (کونسترکتیویزم) اغېزې موجودې وې، خو وروسته بیا د هغــو په هنري اثارو کې هغه ناوړې اغېزې ژر له منځــه ولاړې او ډېــر ښــه هنري اثار ایجاد کړل.

## ۱۵- اوربانیزم:

له لاتیني کلمې (اوربان) څخه چې (ښاري) مانا ښندي، را اخیســتل شوې کلمه ده. فرانسوي اوربانیزم د شلمې پېړۍ د دویمــې لســیزې په شاوخوا کې رامنځته شوی و.

یوه پانګواله تیوري ده، چې غواړي ټولــه کلیــوالي مــادي او معنــوي شتمني باید په لویو ښارونو کې تمرکز ومومي او د بانډو او کلیــو پــه زیان ګام اوچت کړي. دوی په هنر او ادب کې پانګوالي نظام، په لویــو ښارونو کې صنعت، تجارت، ترانسپورت او د تخنیک حرکت ستایي. د انسان پر ځای ماشین ته ارزښت ورکوي او د پانګوالۍ سندرې وایي.

## ۱٦- دادایيزم:

نوموړې ګړنه له فرانسوي کلمې (Dadaisme) څخه اخیستل شــوې ، مانا یې (دلرګي اس) ده. دغه ادبي مکتب د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال پر (۱۹۱۸م) کال ایجاد شوی دی. ډېر دوام یې نه دی کــړی، دې ادبي مکتب په شعر کې د بې مانا الفاظو او تصویرونو راوړل دود کړي او د مفاهیمو او انځورونو افاده یې خورا کمزورې وه. (دادایيزم) بیا په

سویس کې د انارشیستو روڼ اندو ترمنځ او د هغــو پــه شــکل کــې رامنځته شوی و. په فرانســه کــې تــر جګــړې وروســته، فرانســوي دادیستانو د داسې هنر او ادب نارې سورې وهلې چې له خپلې ملــي دندې څخه بې برخې وي. په فرانسه کــې یــې بیــا د میلیتــاریزم او پانګوالي نظام پر وړاندې څرګندونې کولې.

## ۱۷- اونانیمیزم:

فرانسوي کلمه ده له (unanime) اخیستل شــوی مانــا یــې (متفــق، یووالی) ده، دې ادبي جریان د بشرپالنې تبلیغ کاوه.

## ۱۸- ویریزم:

دا کلمه له لاتیني ریښې ویروس (verus) او له ایټالیایي ژبــې (vera) څخه اخیستل شوې ده، مانا یې (رښتیا- ریښتوني) کېــدی شــي.)) (۱۴: ۲۵۳-۲۵۶).

د نړیوالو ادبي ښوونځیو ترڅنګ، په پښتو او دري ژبو کې هم د ځینو ادبپوهانو او کره کتونکو په باور او نظر یو شمېر ادبي ښوونځي شــته، که څه هم ددې ښوونځیو په باب د نظر اختلاف شته، چا د ښوونځیو، چا د سبکونو او چا هم د ادبي جریانونو په نومونو یاد کړي دي، دلتــه به ددې ښوونځیو په باب هم لنډه رڼا واچوو:

## ب- پښتو ادبي ښوونځي:

((مخکې تر دې چې د پښتو ځینې ادبي ښــوونځي دروپېژنــو، بایــد ووایو چې د پښتو، د ادبي جریانونو او مکتبونو په باب تراوسه بشــپړ، منظم او اکاډمیک څېړنیز کار نه دی شوی او په دې باب نــورو ډېــرو څېړنو ته اړتیا لیدل کېږي. کله چې د پښتو د ادبي تاریخ زرینې پاڼې را اړوو د ځینو داسې سترو ادبي جریانونو بېلګې مخې ته راځي چــې د ادبي مکتب بنسټیزې ځانګړنې په کې څرګندې دي، زمــوږ پیــاوړو څېړونکو او ادبپوهانو په خپلو لیکنو کې دغه ادبي جریانونه د پښــتو ادبي ښوونځي بللي او نومولي دي)) لکه څنګه چې مو پورته یادونــه وکړه، ځینو نورو  بیا دا ادبي ســبکونه بللــي اوځینــو ورتــه د ادبــي جریانونو نوم ورکړی دی. د نظر له دې اختلاف سره مــوږ غــواړو پــه نسبتاً معموله مانا دا جریانونه، ښوونځي یــا ســبکونه دلتــه دادبــي ښوونځو تر نامه لاندې په لنډه توګه دروپېژنو:

### ۱- روښاني ادبي ښوونځی:

دغه ادبي مکتب د لسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمایي کې رامنځته شوی، بنسټګر یې پیاوړی عالم او لیکوال بایزید روښان دی. نوموړي د خپلې تصوفي او عرفاني لارې د تبلیغ او خپراوي لپــاره فرهنګــي هلې ځلې پیل کړې. په لیکنو کې یې ځانګړې لاره او سبک رامنځته کړ، ډېر پلویان یې وموندل، هغوی دده لاره تعقیــب کــړه او دغســې روښاني ادبي تصوفي ښوونځی جــوړ شــو. ددې ښــوونځي د پیــاوړو لیکوالو او شاعرانو په ډله کې دا لاندې نومونه د یادونې وړ دي:

ملا ارزاني، علي محمد مخلص، دولت لواڼی، ابابکر کندهاری، واصل روښاني، میرخان روښاني، میرزاخان انصاري، اورکزی، قادر داد او نور...

## ادبي ځانګړنې:

۱-د تصوف او عرفان پېچلو مسایلو او اصطلاحاتو په پراخه کچه پښتو ادب ته لاره کړې. یا په بله وینا: عرفان د یو مسلک په توګه پښتو ادب ته راغلی دی.

۲-د عربي او فارسي شاعرۍ زیاتره شکلي فورمونه، لکه: قطعه، رباعي، قصیده او نور پښتو ادب ته راننوتي او شاعرانو د عربي او فارسي ژبو د شاعرانو په څېر مردف دېوانونه جوړ کړي دي.

۳-په نثر لیکنو کې مسجع نثر رواج شوی دی.

۴-اخلاقي او دیني مسایل په شعر او ادب کې زیات شوي، حماسي او ملي روحیه په کې ډېره تته او کمزورې ښکاري.

۵-دا چې ددې دورې زیاتره لیکوال او شاعران د هند پر ځمکو اوسېدلي او یا هلته تللي راغلي دي، د هندي فرهنګ اغېزې پرې جوتې لیدل کېږي.

۶- پر پښتو ادب د عربي او فارسي ادب اغېز ډېر زیات شوی دی. ددې دورې لیکوالو او شاعرانو په خپله هم په عربي او فارسي ژبو اثار لیکلي او هم یې ژباړې ترې کړې دي.

## ۲- خوشال ادبي ښوونځی:

دغه ادبي ښوونځی کله کله په ادبــي څېړنــو کــې د ((ختکــو ادبــي مکتب)) په نوم هم یاد شوی دی. په یوولســمه هجــري پېــړۍ کــې منځته راغلی او بنسټ ایښودونکی یې د پښتو ژبې پیاوړی شــاعر او لیکوال، د تورې او قلم خاوند (خوشال خان خټک) و.

د نوموړي ادبي لاره دده زامنو، لمسیانو او نورو پلویانو د زړه په وینــه او مینه پاللې او (خوشال ادبي مکتب) یې جوړ کړی دی.

ددې مکتب نومیالي پلویان: اشرف خــان هجــري، عبــدالقادر خــان خټک، سکندرخان خټک، صدرخان خټک او نــور دي. د خوشــال د کورنۍ پر غړو سربېره نورو ګڼو شاعرانو هم د خوشال ادبي ښوونځی پسې تعقیب کړ.

### ادبي ځانګړنې:

۱-پښتو ادب یو نوي پرمختیایي پړاو ته داخلېږي او د ودې او پراختیا لپاره یې شعوري هڅې پیل کېږي.

۲-د مسجع او متکلف نثر پرځای ساده، روان او د خلکو محاورې تــه نږدې نثر لیکنه پیل کېږي او د ختکو ځانګړی سبک رامنځته کېږي.

۳-په شاعرۍ کې حماسي، رزمي او ملي روحیه ډېره پیاوړې کېږي او د پښتنو له ټولنیز ژوندانه رنګ اخلي.

۴-پښتو شعر د مضمون لــه پلــوه بشــپړېږي. پــر پخوانیــو عشــقي، عرفاني، وعظیه او اخلاقي موضوعاتو سربېره د ټولنیز ژوند بېلابېــل

موضوعات، تاریخي پېښې، پر ټولنه انتقاد، له وطــن او قــوم ســره د مینې احساسات په شعر او ادب کې په پراخه کچه منعکس کېږي.

۵-پښتو ادب ته د شرقي شاعرۍ ټول انواع؛ پر غزل، قصیدې، رباعي، مثنوي او مربع سربېره چې موږ یې تر دې دمخه دوره کې هم نمونې لرلې، مسدس، مثمن، ترکیب بند، ترجیع بند، ذوالقافیتین او نور ډولونه په پښتو شاعرۍ کې په پراخه کچه رواج مومي.

۶-د پښتنو ملي کیسې (لکه ادم خان او درخانۍ، دلی او شهۍ) ولیکل شوې، له نورو ژبو څخه هم ډېرې کیسې وژباړل شوې او د پښتو د کیسه ییز او حکایتي ادب پانګه درنه شوه.

۷-ددې دورې ادبیات د موضوع د رنګارنګۍ او هنري ارزښتونو له پلوه ښه بډایه او د سیمې له ادبیاتو سره د سیالۍ جوګه شول.

۸- ددې دورې شاعران پر خپلې مورنۍ ژبې سربېره په فارسي ژبه هم شعرونه ویل.

## ۳- رحمان بابا ادبي ښوونځی:

د پښتو پیاوړي شاعر رحمان بابا د یو ځانګړي تصوفي عرفاني ادبــي سبک خاوند و، پر همدې وجه هغه له زیات ټولنیز مقبولیته بــرخمن شو، پر خپل وخت او راوروسته زمانه کې یې ډېر پلویان وموندل چــې د بابا ادبي لاره یې تعقیب او د وخت په تېرېدو یې د یو ادبي ښوونځي بنه غوره کړه، چې په ادبي څېړنو کې د رحمان بابا تصــوفي عرفــاني ادبي ښوونځي په نوم یاد شوی دی.

ددې ادبي ښوونځي نوميالي پلويان: يونس خيبري، معز الله مومنــد، اخون ګدا، حافظ الپوري، ميا نعــيم متــي زی، عبــدالعظيم رانيــزی، عبدالرحيم هوتک، مطيع الله او نور دي.

ادبي ځانګړنې:

۱-ددې ادبي مکتب پلويان زياتره د اخلاقو او نصايحو د بيان خواته ډېره پاملرنه کوي.

۲- په ساده، روانه، خوږه او رنګينه ژبه د تصوف او عرفان د پېچلو مسلو بيانول، د ددې ادبي ښوونځي ستره ځانګړنه ده.

۳- ددې ادبي ښوونځي له لارې د عربي او فارسي ژبو کلمات، اصطلاحات، تشبيهات او استعارات پښتو شاعرۍ ته هم راننوتې دي.

۴-د پښتو شعر وده موندلې او ډېرو شاعرانو د خپلو اشعارو دېوانونه ترتيب کړي دي.

۵-په دې ادبي ښوونځی کې د پښتني چاپېريال خپل رنګونه په ځلېدو دي او د هندي سبک اغېزې په کې ډېرې نه ليدل کېږي.

۶-ددې ادبي ښوونځی د پلويانو شاعرانو په ځينو اشعارو کې د هنر او شاعرانه خيالونو نړۍ خپلې ځانګړنې لري، انځورونه او خيالونه يې ساده، خو ډېر ښکلي، په زړه پورې او له لوړ ادبي معياره برخمن دي.

۷-ددې ادبي مکتب پلويان واقعيتونو ته ډېر پاملرنه کوي او د خيال پلويتوب او تابعيت په کې ډېر زيات دی.

۸-ددې مکتب پلویانو پر پښتو سربېره په فارسي او هندي ژبو هم شاعري کړې ده.

## ۴- حمید-شیدا ادبي ښوونځی:

د پښتو د نازکخیالۍ ادبي ښوونځی د دولسمې هجري پېړۍ په اوږدو کې د هندي مکتب تر اغېزو لاندې رامنځته شوی دی. بنسټګر یې د پښتو نازکخیاله شاعر عبدالحمید مومند ( تر ۱۱۴۷هـ ق پورې ژوندی) او بشپړونکی یې کاظم خان شیدا (۱۱۳۵-۱۱۹۴هـ ق) ګڼل شوی دی.

سره له دې چې د دوی دواړو ادبي سبکونه یو له بله څه نا څه توپیر او تر یوې اندازې بېلې ځانګړنې لري او له زماني پلوه هم یو له بله څو لسیزې وړاندې وروسته دي، خو دا چې دواړه د هندي سبک د لږو یا ډېرو اغېزو په منلو دنازکخیالۍ لاره تعقیبوي او د ډېرو پیاوړو ادبي سبکونو خاوندان کېږي، د خپل وخت یا وروسته زمانې ډېر شاعران د دوی د ادبي لارې پلویتوب کوي، د دغو بېلابېلو سبکونو له ګډون څخه یو ادبي ښوونځی منځته راځي چې په ادبي څېړنو کې د ((حمید او شیدا د نازکخیالۍ ادبي ښوونځی)) نوم ورکړل شوی دی.

ددې ادبي مکتب پیاوړي استازي پر (حمید مومند) او (کاظم خان شیدا) سربېره چې ددې مکتب بنسټګر بللي شوي، قلندر اپریدی، محمدي صاحبزاده، حنان بارکزی، کامګار خټک، بېدل هشتنغری، علي خان او نور دي.

**ادبي ځانګړنې:**

**۱-اوچت تخیل، نازکخیالۍ، نوښت، نادرې استعارې او تشبیه ګانې ددې ادبي ښوونځي بنسټیزه ځانګړنه ده.**

**۲-ددې ادبي مکتب پیروان غزل ویونکي دي او دغه ادبي ډول یا فورم یې کمال ته رسولی دی.**

**۳-د اشعارو موضوع زیاتره د مینې او محبت مسایلو ته وقف شوي؛ شعرونه یې له سوزوسازه ډک دي.**

**۴-سره له دې چې دا ادبي ښوونځی د هندي مکتب تر اغېز لاندې رامنځته شوی، پښتني ژوند او چاپېریال هم په کې په خپله بڼه انځور شوی، استعارې او تشبیه ګانې یې په دغه خم کې رنګ شوي دي.**

**۵-د خیال پر نازکۍ او د مانا پر باریکۍ سربېره په الفاظو او عبارتونو کې د ښکلا، سوز او ساز پیداکول، ددې مکتب غوره ځانګړنه ده.**

**۶- ددې ښوونځي په شعرونو کې متلونه، عامې محاورې او سیمه ییزه اصطلاحات ډېر استعمال شوي دي.**

**۷-د فارسي ژبې او ادب اغېزه هم ددې مکتب پلویانو منلې ده.**

**۸-حکایتي ادب او له نورو ژبو، په ځانګړې توګه له فارسي څخه ژباړو ډېر عمومیت موندلی دی.**

## ج- فارسي ادبي ښوونځي:

نومیالي ادیب ملک الشعرا بهار په خپل مشهور اثر (سبک شناســي) کې په فارسي شاعرۍ کې په عامــه توګــه دا څلــور ادبــي مکتبونــه ښودلي دي:

۱-خراساني ادبي ښوونځی

۲-عراقي ادبي ښوونځی

۳-هندي ادبي ښوونځی

۴-د مراجعت دورې ادبي ښوونځی

مخکې تر دې چې دا پورتني ادبي مکتبونه په لنډه توګــه دروپېژنــو، دلته یو ځل بیا ددې خبرې یادونه ضروري بولو چې دا یاد شوي ادبي مکتبونه په زیاترو پخوانیو ادبي څېړنو کې د (ادبي سبکونو) په نــوم یاد شوي، خو ځینې ادبپوهان دا یوه تېروتنه ګڼي چې په ادبي څېړنو او لیکنو کې پرله پسې تکرار شوې او اوس هم زموږ ډېر لیکوال ادبي مکتب او سبک نه سره توپیروي او یو د بل پرځای یــې اســتعمالوي، حال دا چې دواړه ځانګړې ادبي اصطلاح ګانې دي، دا ادبي جریانونــه ادبي مکتبونه وو چې هر یوه په پراخو جغرافیوي ســاحو کــې نفــوذ درلود او د ځانګړو ادبي سبکونو د پلویانو له یــو ځــای کېــدو څخــه رامنځته شوي او تر پېړیو یې دوام موندلی دی.

## ۱- خراساني ادبي ښوونځی:

دې ادبي مکتب ته کله کله ترکستاني ادبي مکتب هم ویل شوی دی. دغه ادبي مکتب په خپله پراخه لمن ک د فارسي شعر جریان له معلومې ابتدا او پیلامې نه راپدېخوا د اوومې هجري پېړۍ تر نیمایي پورې رانغاړي او د طاهریانو، صفاریانو، سامانیانو، غزنویانو، غوریانو، سلجوقیانو او... د واکمنیو د بېلابېلو پېړیو په پوړیو کې د ځلاندو او پیاوړو ادبي بهیرونو څرگندویي کوي. ددې ښوونځي په پلویانو کې: د فردوسي، فرخي سیستاني، خواجه عبدالله انصاري، حکیم ناصر خسرو بلخي، مسعود سعد سلمان، سنایي غزنوي، انوري، خاقاني، نظامي گنجوي، شیخ فریدالدین عطار او نورو نومونه د یادونې وړ دي.

ادبي ځانگړنې:

۱- واکمنو او نورو زورواکو ته د زیاتو مدحو د ستاینو او قصایدو ویل.

۲-په شعر کې د کیسو او حماسو رواجېدل، لکه د فردوسي (شاهنامه) او د (خمسه نظامي) ځینې مثنوي گانې.

۳-د غزل او اخلاقي شعرونو کموالی.

۴-په شعر کې د درنو او ثقیلو کلمو، اوږدو او مشکلو بحرونو کارول.

۵-لفظي او بدیعي صنایعو ته لږه پاملرنه او د شعري سبک ساده‌والی.

## ۲- عراقي ادبي ښوونځی:

دا د فارسي ژبې ډېر په زړه پورې ادبي مکتب ګڼل شوی، چې د اوومې هجري پېړۍ له نیمايي څخه د لسمې هجري پېړۍ تر وروستیو پورې يې د دري ژبې په حدودو، په ځانګړې توګه د افغانستان او ایران په ځینو برخو کې، دوام موندلی دی.

ددې مکتب په نومیالیو پلویانو کې: مولانا جلال الدین بلخي، سعدي شیرازي، امیر خسرو دهلوي، مولانا عبدالرحمن جامي، حافظ شیرازي، کمال خجندي، بابا فغاني شیرازي، وحشي باقفي او نور د یادونې وړ دي.

ادبي ځانګړنې:

۱-په دغه ادبي مکتب کې غزل ډېر د پاملرنې وړ ګرځېدلی دی.

۲- ادبي بدیعي صنایع او د شعر بېلابېل اصناف او ډولونه رواج شوي.

۳-عرفاني او تصوفي افکارو په شعر کې ډېر او ژور منعکس شوي دي.

۴-عربي لغات او اصطلاحات فارسي ژبې او ادب ته ډېر راننوتي دي، خو ددې مکتب د پلویانو د ځانګړي مهارت له مخې په شعر او ادب کې کومه پېچلتیا نه پېښوي.

۵-ددې ښوونځي د پلویانو په شعرونو کې معنوي صنایع، کنایه، ابهام او تمثیل، تشبیه او استعاره ډېر کارول شوي دي.

۶-د شعر او ادب لفظي او معنوي ځانګړنو ډېره پیاوړتیا موندلې ده.

## ۳- هندي ادبي ښوونځی:

د فارسي شعر او ادب دغه ښوونځی د لسمې هجري پېړۍ له پایه یا د یوولسمې هجري پېړۍ له پیل څخه رامنځته شوی، تر دولسمې پېړۍ پورې یې په ایران او تر ډېره پورې په هندوستان، افغانستان او نــورو سیمو کې دوام کړی دی.

ددې ادبي ښوونځي پــه پیــاوړو او نومیــالیو پلویــانو کــې د: عرفــي شیرازي، غني کشمیري، صایب تبریزي، میرزا عبدالقادر بېدل، میرزا اسدالله غالب او نورو نومونه د یادونې وړ دي.

## ادبي ځانګړنې:

۱-د نویو او تازه خبرو لپاره هڅه.

۲-مضمون پنځونه.

۳-د لفظي او معنوي صنعتونو په زیات استعمال سره د وینا پېچلتیــا او کړکېچ.

۴-په مبالغه کې غلو او افراط.

۵-د مضمون او تشبیه د رامنځته کولو لپاره له چاپېریال څخه ګټــه اخیستنه.

۶-د ارسال المثل صنعت زیاته کارونه.

۷-د تخیل زیاته ژورتیا.

## ۴- مراجعت ادبي ښوونځی:

دغه ادبي ښوونځی د دولسمې هجري پېړۍ پــه وروســتيو کــې پــه اصفهان کې رامنځته شوی دی. ددې مکتب پلویانو هڅه وکــړه چــې ځان د هندي ښوونځي له پېچلتيا څخه وژغوري او د هغــوی خــلاف مضامين او موضوعات په ساده ژبه بيان کړي.

ددې چارې لپاره دوی بېرته د فارسي ادب لرغونو مکتبونو (خراساني او عراقي) ته مخه وکړه، نو ځکه ورته د مراجعت يا ((بازگشت)) ادبي ښوونځی وايي. ددې مکتب زياترو پلويانو به د (سعدي شيرازي) او يا (حافظ) په پيروۍ شعرونه ويل.

ددې ادبي مکتب په سر لارو کې د (ســيد محمــد شــعله اصــفهاني) (۱۱۶۰هــ ق مړ) (ميرزا محمد نصير اصفهاني) (۱۱۹۲هــ ق مــړ) (ميــر سيد علي مشتقا اصفهاني) (۱۱۷۱هــ ق مړ) او نورو نومونه د يــادونې وړ دي. (۲۶: ۸۶-۹۶).

همدارنګه يو شمېر نور ادبي ښوونځي، سبکونه او ادبي جريانونه پــه ختيځ او لويديځ کې رامنځته شوي چې دا څو يې مورږ داساسي بېلګو په توګه ياد کړل او د ټولو څېړل يې د يو جلا اثر د ليکلو ايجاب کوي. د ځينو ادبپوهانو په نظر ادبي ښوونځي د کره کتنې له ښــوونځيو يــا ډولونو سره ډېر ارتباط لري. د همدې ښوونځيو د اصولو، معيــارونو او پرنيسپونو له لارې يو ادبي اثر څېړل کېږي، همدا ښوونځي دي چــې کره کتنې ته ليد لوري، تګلوري او پرنيسپونه ټاکي. ځينو څېړونکــو خو ان ادبي ښوونځي د کره کتنې د ښوونځيو او ډولونو مترادف بللي

دي، موږ دلته دا څېرکی ځکه تر ډېره حده ادبي ښوونځیو ته ځانګړی کړ چې کره کتونکي ته د مرستې لاس ورکړي چې یو اثر پـه اسـانۍ سره تحلیل او وارزوي او دا ورته څرګنده کړي چې کوم ادبـي اثــر د کومو ځانګړنو د شتوالي له امله له کوم ادبي ښوونځي سره اړه پیــدا کوي. لوستونکو سره هم د ادبي ښوونځي معرفي دا مرسته کوي چې له بېلابېلو ادبي جریانونو، لیدلورو او تګلورو سره اشنا شي.

# د څلورم څپرکي لنډيز

تر اوسه پورې چې د کره کتنې په باب بېلابېل اثار چاپ شوي دي، په هغو کې اکثرو د کره کتنې ښوونځي او ډولونه ځنګ په ځنګ څېړلي دي. خو ځینو ادبپوهانو بیا د کره کتنې ډولونــه جــلا څېړلــي دي او ادبي ښوونځي جلا، په هر ترتیب په هر ادبــي ښــوونځي کــې د کــره کتنې ځرکونه لیدل کېږي. ځینو بیا خپله د کره کتنې ډولونــه د یــو ځانګړي ډول او کله هم د یوه ښوونځي په توګه څېړلــي دي. پــه دې ډول د کره کتنې ډولونه، ښوونځي او همدارنګــه د ادبــي ښــوونځیو څېړنې ته لا زیاته اړتیا ده. کره کتونکو او ادبپوهانو د ادبي ښوونځیو په لړ کې ګڼ شمېر ادبي ښوونځي پېژندلي، چې ځینو ته یــې مــوږه اشاره وکړه. دا هغه ښوونځي دي چې په نړۍ کې د زمانې په بهیر کې رامنځته شوي او زیات مطرح دي:

**کلاسیزم:** دا هغه هنري ادبي ښوونځی دی، چې د اروپــا د هنــر او ادبیاتو په ډګر کې یې لړ و ډېر درې پېړۍ (له پنځــه لســمې تــر اتــه لسمې پېړۍ) پورې رواج درلود. د لرغونې زمــانې د اثــارو مطالعــه او تقلید ددې ښوونځي ځانګړنه ده. (بوالو)، (پاسکال)، (لافونتن)، (جان ملیتون)، (درایدن)، (الفیــري) او (ګلــدوني) ددې ښــوونځي غــوره استازي دي.

**رومانتیزم:** دا هغه ادبي ښوونځی دی چې د اتلسمې پېړۍ په پـای کې د کلاسیک ادبي ښوونځي د مخالفت له امله په اروپا کې رامنځته شو. لوړ تخیل، د ښکلا ستاینه، د خیال او فکر ازادي ددې ښــوونځي ځینې ځانګړنې دي.

**ریالیزم:** دغه ادبي ښوونځي د نولسمې پېــړۍ تــر لــومړۍ نیمــایي وروسته په اروپا کې رواج وموندو او د اروپا د خلکو پاملرنــه یــې لــه خیالي او رومانتیکو افکارو څخه د ژوند واقعیتونو ته واړولــه. عینــي واقعیتونه او د ژوند پېښې لکه څنګه چې دي، په دې ښــوونځي کــې همغه شان منعکسېږي.

**ناتورالیزم:** دا ادبي مکتب د نولسمې پېړۍ په پای کې پــه فرانســه کې رامنځته شو او د شلمې پېړۍ تر لومړیو یې ډېــره وده او پراختیــا وکړه. ددې ښوونځي پلویانو باور درلود، لکه څنګه چې علمي مسایل څېړل کېږي، دغسې باید د لیکوال اثار هم د هغه د ژوند او چاپېریال د شرایطو په رڼا کې تر څېړنې او کره کتنې لاندې ونیول شي.

**سمبولیزم:** دا هغه ادبي ښوونځی دی چې د نولسمې پېړۍ په پـای کې د (ریالیزم)، (ناتوریالیزم) او (پارناس) ادبي مکتبونو پر خلاف، پــه فرانسه کې رامنځته شو. دا ښوونځی په شعر کې هېڅ ډول قید و بند نه مني. دوی په رمز، نښو او اشارو کې خپل مفهوم وړاندې کاوه.

د پورتنیو ښــوونځیو ترڅنــګ د ســور ریــالیزم، اګزسیتانســیالیزم، سینتمنتالیزم او ځینې ښوونځي هم ډېر مطرح دي.

په پښتو او دري ژبو کې هم یو شمېر ادبي ښوونځي مطــرح دي. پــه پښتو کې د روښان ادبي ښــوونځی، د خوشــال ادبــي ښــوونځی، د رحمان بابا ادبي ښوونځی، د حمید-شیدا ادبي ښوونځی مطــرح دي. په فارسي کې بیا خراســاني، عراقــي، هنــدي او د مراجعــت ادبــي ښوونځی ډېر زیات مطرح دي.

پر دې سربېره ځینې نور ادبي ښوونځي هــم د زمــانې پــه بېلابېلــو پړاوونــو کــې مطــرح وو، لکــه فورمــالیزم، پارنــاس، امپرســیونیزم، کونستروکتیویزم، اوربانیزم، دادایزم، نانیمیزم او نور... چې مورِ ورتــه پر خپل ځای نغوته وکړه.

# د څلورم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-په لویدیځ کې کوم ادبي ښوونځي زیات مطرح دي؟

۲-پښتو کې د مطرحو ادبي ښوونځي نومونه واخلئ؟

۳-د خوشال بابا د ادبي ښوونځي ځانګړنې په ګوته کړئ؟

۴- په فارسي ژبه کې د عراقي ادبي سبک ځانګړنې په ګوته کړئ؟

۵-د کلاسیزم او رومانیزم ادبي ښوونځیو غټې ځانګړنې کومې دي؟

۶-د ریالیزم او ناتوریالیزم ښوونځیو مخکښان څوک دي؟

۷-سور ریالیزم او اګسزسیتانیسالیزم ادبي ښـــوونځي چـا رامنځتـــه کړل؟

۸-د خوشال، رحمان بابا او حمید ادبي ښوونځیو پلویان څوک دي؟

۹-په فارسي ادب کې کوم ښوونځي زیات مطرح دي؟

۱۰-د هندي ادبي ښوونځي ځانګړنې څه دي او پلویان یې څوک دي؟

# سپارښتنې

- هر محصل دې په دې څپرکي کې یو یاد شوی ادبي ښوونځی په خپله خوښه انتخاب او د هغه په باب دې تفصیلي لیکنه وکړي.
- هر زده کوونکی دې د خوشال، رحمان بابا او حمید په پلویانو کې د یوه تن اثار تحلیل او وارزوي.

# پینځم څپرکی

## کره کتنه په پښتو ادب کې

لکه څنګه چې مو په تېرو برخو کې يادونه وکړه ادبي کـره کتنــه تــر ادبياتو وروسته رامنځته کېږي. که پر یوه مهال هم رامنځته شي، نــو لومړی به یو ادبي اثر وي او بیا کره کتنه. که ادبي اثر موجود نــه وي، نو کره کتنه به پر څه شي وشي؟ د یوه ادبي اثر تر لیکنــې او د ادبــي تجربو تر مسلسل تکرار وروسته د کره کتنې اړتیا پیداکېږي، یو ادبي اثر هم هغه وخت د یوه فورم بڼه خپلوي چې ډېر اثار په یــوه واحــده بڼه تر ځینو ورته اصولو، قواعدو او معیارونو لاندې ولیکل شي. کــره کتنه هم د یوه علم په توګه د یو ډول اصولو او پرنســیپونو مجموعــه ده، چې اساس يې خپله د یوه ادبي اثر په اصلي جوهر کــې خونــدي دی. پښتو شفاهي ادبیات طبعاً تر لیکنیو ادبیاتو دمخــه راټوکېــدلي دي. ګړنۍ کره کتنه هم تر لیکنۍ هغې دمخه رامنځتــه شــوې، خــو څرنګه چې ګړنۍ کره کتنه ګړنۍ وي، نه لیکنۍ ، ځکه خــو يــې اوس موږ کومې لیکنۍ بېلګې په لاس کې نه لرو. البته په پښتو ګړني ادب کې د محتوا له پلوه د کره کتنې ډېــر څرکونــه لــرو. دلتــه غــواړو د تاریخي تسلسل له مخې په پښتو ادب کې کره کتنې بهیر تــه کتنــه وکړو. دلته غواړو د تاریخي تسلسل له مخې په پښتو ادب کې د کره کتنې بهیر ته کتنه وکړو.

## الف- پخوانۍ دوره:

پښتو لیکنۍ ادب چې څرګنده بېلګه یې د امیر کروړ سوري له شعره پیلېږي، محتوایي پانګه یې ویاړنه ده، تر هغه وروسته په منظوم ادب کې ځینې داسې شعرونه شته چې په خپله محتوا کې د نقـد تومنــه لري، د (شیخ رضي لودي) او (نصر لودي) شعري مناظره یا تبادله هغه بېلګه ده چې د انتقاد، نیوکې او کره کتنې ځرک په کــې شـــته. ددې کلام بېلګې دا دي:

((د الحــاد پــه تــور دې ترپلــل ګــروه دې زمــوږ وکــوراوه
مـــوږ رونلــې پـــه زیارنـــه تـــا پـــه تـــور وتـــوراوه
لرغـــون ولـــې ګروهېـــدلې چـــې دې ګوښـــې اړاوه
هغــه ګــروه دې اوس اړه کــړ چـــې پلـــرو دې رنـــاوه
لودي ستا پـه نامـه سپک شو کــه هــر څــو مــو درنــاوه
نصـره نــه مــو یــې لــه کهالــه لــودي نــه یــې پــه کــاوه
زمـوږ رغـا ده سـتا لـه ګروهـه د ورځلــوی پــه رغــاوه.))

(۲۸: ۷۰).

د شیخ رضي لودي د کلام بېلګه:

د پټې خزانې له مخې شیخ رضی لـودي، د شــیخ حمیـد لـودي د پاچاهۍ په زمانه کې د اسلام د مقدس دین د تبلیغ لپاره پښـــتونخوا ته تللی، دی دوه کاله په کسي غره کې ګرځېـده او ډېـر خلـک یــې مسلمانان کړل، شیخ رضی لودي ته دا مهال خبر رسېدلی و، چې دده د تره زوی (نصر لودي) له اسلامه اوښتی او د الحــاد لاره یــې غــوره

کړې ده، نو ځکه یې پورتنی شعر ورته ووایه. کله چې دده دا شعر (نصر لودي) ته ورسېد، نو هغه ژر غبرګون وښود او دده د شعر په ځواب کې یې دا شعر ووایه:

((د الحاد په تور تورن شوم — زه لرغون خو ملحد نه یم
زما د ښنه هسې تورا کړي — که ملحد یم د ښنه یم
له اسلامه نه تر پلمه — تورانو ځخه په ترپله یم
ګروه مې هغه لرغون دی — اوس هم کروړ په لرغونه یم
د اسلام پر هسک به ځلم — و تورانو ته تیاره یم
د لودي زوی سنتي یم — د حمید له لوړ کهاله یم
تورانې د ښن چې وایي — زه له ګروهه په اړه یم
دا یې تور تاسې دروهوي — زه مومن ستاسې په تله یم
د د ښنو ویناوې مغرېږه — زه لودي یمه ځو زه یم.))

(۷۲:۲۸)

دا دواړه نظمونه چې د سوال و ځواب په بڼه راغلي، په پښتو لرغونو نظمونو کې هغه نظمونه دي چې پر یو بل په کې نیوکې، تنقید او د هغو معقول ځوابونه لیدل کېږي.

د ابو هاشم ابن زید السرواني په لومړنی منظومه ژباړه کې هم د نقد ځرک شته:

((ژبــه هــم ښــه وینــا کانــدي چــې یــې وینــه
د خاونـــــد پـــــه لاس کـــــې زر او درهمونـــــه
ژبـــــور ورلـــــه ورځـــــي وینـــــا یـــــې اوري
د درهـــم خاونـــدان تـــل وي پـــه ویاړونـــه
کـــه درهـــم یـــې ځنـــې ورک ســـو ســـي نتلـــی
پـــر نـــړۍ یـــې وي پـــه خـــړو پېژندنـــه
کـــه بـــډای ســـوښي وبـــولي خلـــک وایـــي
دا وینـــــا ده رښـــــتاینه لـــــه رښـــــتونه
کـــــه بېـــــوزلی ووایـــــي رښـــــتیا خبـــــره
نـــور ووایـــي دا خـــو ســـوښي دی تېرونـــه
هـــو درهـــم ښـــندي هـــر چـــا لـــه لویـــه برخـــه
د درهــــم د خاونــــد هــــر ځــــای پرتمونــــه
در هـــم ژبـــه ده کـــه څـــوک ژبـــور کېـــږي
ده وسله که څوک پـرې کاندي قتالونه.)) (۳۰: ۷).

په دې ژباړل شوي شعر کې د ټولنې د افرادو له خوا، مـادي شـیانو، پیسو او مالي پانګې ته پر زیات احترام، سـرټیټی او ارزښـت نیوکـه شوې ده، شاعر، خلک اخلاقي ارزښتونو ته رابولي او په ټولنه کـې د مادیاتو پر نامعقول رول باندې نیوکه کوي. که څه هـم دا شـعر یـوه عراقي شاعر (محمدابن خلاد) ویلی دی، محتوا یې هم د هغه وخت د عربي ټولنې ټولنیزو واقعیتونو ته ورګرځي، خو شاعر داســې ټـاکلې محتوا ته اشاره کړې، چې په هره ټولنه کې د همدې یوشان ارزښـت

لرونکې ده. له هغه وخته نږدې دولس سوه کاله تېرېږي، خو بیا هم دا محتوا نه ده بدله شوې او تقریباً په همدې بڼه کارول کېږي.

د (شیخ اسعد سوري ویرنه هم د نقد ځینې ځانګړتیـاوې لـري، لـه فلکه ګیله، پر ناخوالو انتقاد، له ظلمه فریاد او نور هغه څه دي چې په دې قصیده کې د نقد څرک لګوي:

((د فلـــک لـــه چـــارو څـــه وکـــړم کوکـــار
زمولـــوي هـــر ګـــل چـــې خانـــدي پـــه بهـــار
هـــر غتـــول چـــې پـــه بیـــدیا غوړېـــده وکـــا
ریـــژوي یـــې پـــانې کانـــدي تـــار پـــه تـــار
ډېـــر مخونـــه د فلـــک څپېـــړه شـــنه کـــا
ډېـــر ســـرونه کـــا تـــر خـــاورو لانـــدې زار
د واکمـــن لـــه ســـره خـــول پرېباســـي مـــړ شـــي
د ببوزلـــو وینـــې تـــوی کانـــدي خونخـــوار
څـــه تېـــرى څـــه ظلـــم کانـــدې ای فلکـــه!
ســـتا د لاســـه نـــه دی هـــېڅ ګـــل بـــې لـــه خـــار
پـــه ویرژلـــو، لورنـــه کـــړې پـــه زړه کراړیـــه
پـــــر نتلیـــــــو اوروې د غـــــــم ناتـــــــار
کلـــه غورځـــوې واکمـــن لـــه پلازونـــو
کلـــه کښـــېنوې پـــه خـــاورو کـــې بـــادار
زموږ پـــر زړونـــو دې نـــن بیـــا یـــو غشـــی وویشـــت
ودې ژوبللـــه پـــه دې غشـــي هـــزار

پــــر ســــوریو بانــــدې ویــــر پرېــــوت لــــه پاســــه
محمــــد واکمــــن چــــې ولاړی پــــه بــــل دار.))
(۲۸: ٤۰-٤۸)

(شیخ اسعد سوري) د (امیر محمد سوري) د دربار شاعر و او کله چې (امیرمحمد سوري) د (سلطان محمود) د لښکرو په لاس اسیر او بیا د ډېر ظلم له امله مړ شو، ده دا قصیده ویلې وه، په دې قصــیده کــې د زمانې پر جبر په دې خاطر انتقاد شوی، چې ولې عدل او انصــاف پــه کې نه شته، له فلک نه شکایت شوی چې له دلیل پرته تنکــي ګــلان رژوي. که څه هم دا قصیده په خپل ذات کې یوه ویرنه یــا مرثیــه ده، خو د قصیدې په منځ کې ګڼشمېر داسې بیتونه شته چې انتقادي او کره کتنیزه روحیه لري.

په لرغونې دوره کې نور هم داسې نظمونه او شعرونه شته چې د نقــد څرک ترې لګي، خو اوس راځو منځنۍ دورې ته:

## ب- منځنۍ دوره:

د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره له پیر روښان او د هغه د پلویانو د اثــارو له مهاله پیلېږي. د روښاني پیر شاعرانو او ناظمانو په کلامونو کې هم د نقد ډېر مواد شته او کله چې د روښاني غورځنګ پر ضد د (اخونــد درویزه) تحریک پیل شو، نو بیا د دواړو خواوو له خوا د یو بل پر ضــد لیکنې وشوې، خپله د (اخوند درویــزه) (مخــزن الاســلام)، د (پیــر روښان) د (خیرالبیان) پر وړاندې یو غبرګون دی. د روښان او د هغه

د پلویانو او همدارنګه د اخوند درویزه او د هغو د پلویانو تنقیدونو اکثره مذهبي محتوا درلودله، اساس یې هم پر مذهبي اساساتو د نظریاتو اختلاف و، ادبي یا هنري برخه یې ډېره بډایه نه وه، خو بیا هم د نثر او نظم په بڼه دواړو خواوو یو پر بل تنقیدونه کړي دي. دغه راز د هر یو پلویان او یو بل هم ارزولي دي.

د روښاني پېر شاعر (دولت لوانی) د (میرزاخان روښاني) په باب وایي:

هېڅ افغان ده غوندې شعر کړی نه دی
دی په خپل عصر کې له هر چا نه بهتر و.

د علي محمد مخلص په باب وایي:

((شاه طبعانو یې زده قدر
ښه کلام دُر عدن دی
همه دان مخلص دولته
ددې درو په سفتن دی.)) (۲۳: ۱۷۰).

د اخوند درویزه او د هغه د پلویانو له خوا پر روښان او د هغه پر پلویانو نیوکې زیاتره د مذهبي مسایلو پر محور راڅرخي، که پر اثارو یې هم نیوکې کړي، نو د مذهبي ملاحظاتو له مخې دي، هنري جوهر او یا د کلام د ښکلاییز اړخ له مخې نه وې.

خو کله چې د خوشال بابا پېر ته راځو، نو دلته خپله خوشال د یو مفکر او نوښتګر سترګور کره کتونکي په توګه څرګندېږي، څرنګه

چې خوشال بابا د کره کتنې په برخه کې ډېر ګټــور او اساســي کــار کړی، نو دلته لازمه ده چې پر کره کتونکي خوشال او دده پر انتقادي روحيې زيات بحث وکړو.

خوشال تر هر چا دمخه کره کتنه له خپله ځانه پيل کړې ده:

((د خوشال بابا ژور او تېز نظر د ژونــد هــره خــوا او د هنــر بېلابېــل ډګرونه په خپل کلام کې رانغاړلي دي، داسې يې کره کتنه، نيوکــه او بيا د سمون لاره هم له ياده نه دي ايستلې. خوشال بابا لکــه څنګــه چې د پښتو ژبې او ادب پلار ګڼل کېږي، داسې په علمي، ټولنيز، ادبي او سياسي ډګر کې هم يو ستر او ژور کره کتونکی دی.

له يوې هنري ښکارندې (شعر) څخــه رانيــولې بيــا تــر يــوې لــوړې ټولنيزې پېښې او عمل پورې چې هر يو دده په نظر نيمګــړی معلــوم شوی، هغو ته يې د انتقاد ګوته نيولې او بيا يې د سمون لاره هم ورپه ګوته کړې ده.

خوشال بابا يو زړور کره کتونکی و، نه يې د چا مدح کولــه او نــه يــې ځانستاينې ته اړتيا لرله، خوشال له فکري، اقتصادي او ټولنيز پلوه په داسې يو دريځ کې و، چې د ســالم انتقــاد لپــاره يــې وړ صــفتونه او ظرفيتونه لرل، نو ځکه خو ده له خپل ځانه نيولې تر خپلو اولادونــو، کورنۍ، قبيلې او ټولو پښتنو پورې څه شی چې په کې د انتقــاد وړ وو هغه يې څرګند کړي او نيوکه يې پرې کړې، همداسې يې په ادبــي او سياسي برخه کې د سمون او اصلاح لپاره ډېرې نيــوکې کــړې دي. د خوشال بابا د نيوکې محتوا ځکه پر خلکو ښه لګېږي چې حقيقتونــه څرګندوي او د رښتياينې پر بنسټ ولاړه ده.

بابا دومره اخلاقي جرئت لري، چې که په ځان کې یې هـم نیمګړتیـا وي هغه نه پټوي او په ډاګه یې وایي:

((د مغـــول نمـــک مـــې وخـــوړ شـــپږ پېـــړۍ
مـــا د زرو پکـــې روغـــې کـــړې ببـــړۍ
رعیـــت مـــې یوســـفزیه درســـت ختـــک وو
پـــه عـــزت او پـــه حرمـــت کـــې یـــې څـــه شـــک و
د مغـــــول لپـــــاره مـــــا تـــــورې وهلـــــې
پښـــتنو بـــه راتـــه کـــړې ډېـــرې کنځلـــې.))
(۲۹: ۲۸۳).

یادا چې:

چـــې منصـــب مـــې د مغـــول خـــوړ یـــو ملـــک وم
چـــې منصـــب دمغـــول نـــه شـــته اوس ملـــک یـــم.

خوشال بابا بیا په دویم ګام کې پر خپلو ځینو زامنو او د کورنۍ پر غړو چې دده پر وړاندې په ناحقه راولاړ شوي یا یې نافرماني کړې او یا هم د خپل ولـس پرضـد ودرېـدلي، سـخت انتقادونـه کـړي او د هغـو شخصیتونه یې څېړلي، شنلي او څېړې یې ورته څرګندې کړې دي:

((نـــا خلـــف مـــې حوالـــه کـــړ پـــه تقـــدیر
نصـــیحت وربانـــدې نـــه کانـــدي تـــاثیر
خـــوی خصـــلت چـــې ازلـــي وي نـــه نـــورکېږي
پـــه ارشـــاد او پـــه تلقـــین د کامـــل پیـــر

بـــد فرزنـــد دې خـــدای د هېچـــا پیـــدا نـــه کـــا
په خصـلت یـې پـلار پـه ځـان دی مـور پـه ویـر.))
(۲۰: ۳۸).

یا دا چې:

((زمـــا زویـــه د ننـــګ نـــه دې غرېتـــار دي
پـــرې پـــوهېږم چـــې همـــه واړه مـــردار دي
نــه یــې لویــه اندېښــنه نــه یــې لــوی کــار شــته
د مغولـــــو وطبـــــاخ وتـــــه تیـــــار دي
د منصــــب د اضـــافو خبـــرې کانـــدي
پـــه عـــزت، پـــه حرمـــت کلـــه خبـــردار دي
اتفـــاق، یګـــانګي یـــې ســـره نـــه شـــته
همګـــــي روان پـــــه بېلـــــه بېلـــــه لار دي
نـــه د نـــوم دي نـــه د شـــرم نـــه د ننـــګ دي
اندېښـــنې یـــې د نـــاکس، د ناســـردار دي
شـــکایت لـــه نـــورو مـــه کـــوه خوشـــاله
چې خپل زویه هم په ننـګ لـه تـا ویـزار دي.)) (۹: ۴۳۹).

***

چـــې پیـــدا دي همګـــي زمـــا لـــه ځانـــه
کـــه پنځـــوس دي کـــه شـــپېته دي داغ د زړه دي

***

یـــــو و پــــلار نیکــــــه تـــــه نـــــه شـــــو
همګـــــــــي د مــــــــور پـــــــه شـــــــان

***

اشـــــرف ســــر تــــر ســــره نفــــس امــــاره دی
پــــه حســــد پــــه حماقـــــت کـــــې اواره دی

***

د مــــــور پــــــلار نیکــــــه تــــــه نــــــه دي
دا نـــــــــاکس دي لابـــــــــل شـــــــــان
پــــه ژونـــــدون مـــــې خپــــل ځـــــای ورکــــړ
بانــــــــــدې زه شـــــــــوم مهربـــــــــان

***

یـــو څـــو لا پــــه کـــې افــت شـــول تــر دا میانــه
څـــوک ((بهـــرام)) غونــدې بــدبخت بخیــل شـــي

***

چــــې هــــېڅ کــــار نیـــولی نـــه شـــي اســـتوار
پـــه شــامت یـــې خېلخانــه شـــي تــار پــه تـــار
څوک ((ســدو)) غونــدې نــامراد عبدالزوجــه شـــي
پـــه تنګســـه لـــه خپلـــه پـــلاره شـــي ویـــزار
څـــوک ((مـــالو)) غوندې((جلو))غونـــدې پیداشـــي
سراســـــــر واړه نـــــــابود او نـــــــا بکـــــــار.

***

مـــــرګ  د نــــا اهلـــــو ســــبا بېګــــاه غــــواړم
دعـــــــــا مــــــــــې داده الله غـــــــــــواړم
زمــــا توبــــــه ده د بهــــــرام لـــــــه خیـــــره
دده لــــــه شــــــره امــــان پنــــاه غـــــواړم.

***

زمــــا زړه لــــه چـــا نــــه روغ نــــه دی بهرامــــه
د هرچـــا ســــره مــــې زیســــت دی لــــه ناکامــــه
نور دي نـــوم زمـــا پـــه زویـــو کـــې حســـاب مـــه شـــه
د خوشــــال ختـــک وینــــا پـــه دا تمامــــه.

***

چـــې پـــه ځـــای یـــې نـــا قابـــل زویـــه خـــاني کـــا
د خوشــــال خـــاطر پـــه دا پـــاره پـــاره دی.

لکه څنګه چې خوشال خان پر خپل ځان او هم پر خپلو زامنو نیوکه کوي او نیمګړتیاوې یې رابرڅېره کوي داسې پر خپلې قبیلې (ختکو) هم نیوکې او انتقادونه لري او د هغو له ځینو عملونـو او نیمګړتیـاوو څخه هم ناخوښي څرګندوي.

لـــه ختېکـــو نـــه مـــې هـــومره زړه نـــاخوښ دی
چـــې توبـــه دهمګـــي ختېـــک لـــه نامـــه
د نعمـــت پـــه قـــدر هـــېڅ خبـــردار نـــه دي
نـــوم ختـــک بـــه مـــې خـــلاص نـــه وي لـــه انعامـــه
ختېـــک واړه د دودام دي کـــه يـــې ګـــورې
ځـــوک بـــه ځـــه غـــواړي د خپلـــو لـــه دودامـــه
د وفـــا پـــه ځـــای همـــه واړه جفـــا ده
چـــې بـــه ماتـــه رســـېده لـــه خپلـــه قامـــه
که په تـــوره ختـــک خپـــل کـــړې ګنـــې خپـــل شـــي
کنـــه هـــېڅ بـــه يـــې خپـــل نـــه کـــړې لـــه اکرامـــه.

***

چـــې زمـــا اختيـــار يـــې خـــوار کـــړ
خـــدای دې خـــوار هغـــه ختېـــک کـــا.

***

((درســـــت ختېـــک زمـــا پـــه دور
نـــامور شـــو پـــه دوران
کـــه ختېـــک پـــه مځکـــه پـــروت و
پـــاس مـــې يـــووړ پـــه اســـمان.))
(۱۳: ۳۱-۳۲).

***

تفحـــص کـــه ځـــوک د خـــوږ زړونـــو کانـــدي
د خپـــل قـــام لـــه لاســـه ورک خوشـــال ختـــک دی.

خوشال بابا د ختټکو تر انتقادي دایرې او نیوکې وروسته، پښتانه په خپله انتقادي دایره کې داخل کړي او هغه نیمګړتیاوې چې په پښتنو کې دي هغه یې یوه یوه څېړلې ده. په پښتنو کې به د خوشال بابا غوندې هېڅ داسې بل لوی لیکوال تر سترګو نه شي، چې د بابا په څېر د پښتنو پر رواني چلند او ټولنیز ژوند بلد وي او هغو ته یې په خپلو اثارو کې په دې کچه ځای ورکړی وي. خوشال بابا د خپل فطري بغاوت او ژور فکر له مخې د پښتنو نیمګړتیاوې هم څېړلي او نیوکې یې پرې کړي دي. د خوشال بابا اثار د پښتنو د ژوند هنداري دي، چې د هغوی ښېګڼې او بدګڼې ټولې په کې په ښه روښانه ډول څرګندېږي:

لېوني شول پښتانه په منصبونو
خدایه ما ژغورې له هسې غضبونو.

***

پښتانه لکه مګس وربانـدې ګرځي
ورته ایښی دی مغل د حلوا تال.

***

شرم دی ننګ دی که ډار د سر دی
سمه مې پرېښوه ځای مې غر دی
پښتانه واړه دمغول شوروا خوري
ماته یې پاتې دا شور و شر دی.

***

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي
کوټه سپي دقصابانو د جوس دي

اوښ لــــه بـــاره پـــه ولجـــه پـــه کـــور ورغلـــی
پـــــه ولجــــــه د اوښ د غـــــاړې د جــــــرس دي.

***

درســــت جهـــان پـــه ناپوهـــانو ســـره ډک دی
ولــــې زيــــات کـــه پکـــې وګـــورې افغـــان دی.

***

کـــه رښـــتیا وايـــم شېرشـــاه دا هســـې نـــه و
لکـــه مـــورږ يـــو نـــن پيـــدا لـــه کوهســـتانه
پښـــتانه چـــې بـــې ننګـــي کـــا ځـــوک يـــې څـــه کـــا
ګورســـــتان لـــــره بـــــه درومـــــو لـــــه ارمانـــــه.

***

((که په نور خلکـو کـې ښـه سـړي مونـدل شـي
ولــــې ښـــــه ســــړي بــــه لــــږ وي افغانــــان
هــــره چــــار د پښــــتانه ترمغــــل ښــــه ده
اتفــــاق ورســــره نــــه شــــته ډېــــر ارمــــان
د بهلـــــــول او د شېرشـــــــاه خبــــــرې اورم
چـــې پـــه هنـــد کـــې پښـــتانه وو بادشـــاهان
شـــپږ او اووه پيـــړۍ يـــې هســـې بادشـــاهي وه
چـــې پـــه دوی پـــورې درســـت خلـــک وو حيـــران

یـــا هغـــه پښـــتانه نـــور وو دا ثـــه نـــور شـــول
یـــا دخـــدای دی اوس دا هســـې شـــان فرمـــان
کـــــه توفیـــــق د اتفـــــاق پښـــــتانه مـــــومي
زوړ خوشـــال بـــه دوبـــاره شـــي پـــه دا ځـــوان.))
(۱۱: ۱۵۳-۱۵۴).

***

پښـــــــتانه د ادم زاد لـــــــــه زاده نـــــــــه دي
د عفریـــت دی کـــه د دیـــو دي کـــه د دد دي.

خوشال بابا د پښتنو ترڅنګ مغول هم د خپل انتقاد پـه دایـره کـې شامل کړي دي. د خوشال بابا د ژوند او مبارزې یوه زیاتـه برخـه لـه مغولو سره په دوستۍ اودښمنۍ کې تېره شوې ده. لکه څنګـه چـې بابا ته پښتانه معلوم وو، داسې ورته مغول هم ښه معلوم وو. نو ځکـه خو یې د هغوی ظلمونو، بدو عملونو او نورو نیمګړتیاوو ته هم نغوتـه کړې او انتقادونه یې پرې کړي دي. مغول پاچـا (اورنګزېـب)، چـې د خوشال بابا د سیاسي مبارزې یو اړخ ورسره تړاو لري، د بابا په کـلام کې ډېر زیات یاد شوی دی او غندل شوی دی او همدارنګه نور مغول هم.

تفـــاوت د خپـــل پـــردي وربانـــدې نـــه شـــته
کـــه یـــې ګـــورې اورنګزېـــب بادشـــاه ګمـــراه دی
دا لاڅـــــه چـــــې هندوســـــتان تـــــوره تیـــــاره ده
پـــــه هـــــر ځـــــای دده د خویـــــه بویـــــه اه دی
د اورنـــــګ بادشـــــاه پـــــه دور ارام نـــــه شـــــته
چـــا ویـــل چـــې جهـــان ځـــای د ارامګـــاه دی

کـــه زينـــت و تـــه يـــې ګـــورې يـــو يزيـــد دی
کـــه طاعـــت وتـــه يـــې ګـــورې اهـــل الله دی.

***

وخــت د اورنــګ شــاه دی د هر چا تسـپې پـه لاس دي
خــدای(ج) ځينــې خبــر دی په اخلاص که پـه لبـاس دي

***

((پـــلار يـــې پـــه بنـــد، ورور يـــې بنـــد بنـــد کـــړ
ځـــان يـــې هـــم شـــيخ، هـــم دانشـــمند کـــړ
اوس پـــه غـــزا کـــې خپـــل ځـــان غـــازي بـــولي
په څو څو رنګ يې، خپل ځان څرګند کړ.)) (۱۰: ۱۷).

***

خانـــــان يـــــې واړه تـــــلاوت خـــــوان کـــــړل
د هنـــــد هنـــــدوان يـــــې دانشـــــمندان کـــــړل
وخـــت داورنـــګ دی عمـــل يـــې هـــېڅ نـــه شـــته
خـــو کتابونـــه يـــې پـــه عـــالم ګـــران کـــړل.

***

ددې دور شــــیخان ډېـــــر دي لــــور پــــه لــــور
اورنګزېــــــب بادشــــــــاه د واړو دی انځــــــــور
پـــه هغـــه چـــاړه قلـــم ســـازکا قـــرآن کښـــي
پــــه هغــــه چــــاړه شــــهرګ پــــرې کــــا د ورور.

***

نو ځکه خو خوشال بابا دداسې واکمن اطاعت نه کوي:

اطاعت د اولو الامر ځکه نه کړم
خلیفه د زمانې په زړه کافر دی.

بابا د نورو مغولو په باب هم انتقادونه لري:

د هند په تخت چې عالمګیر کېناست
پــه خـلکو کاږی د اسمان پـرېــــوت.

بابا د مغولو پرضد په مبارزه لاس پورې کـوي او د پښـتنو د یـووالي هیله کوي، چې ټول پښتانه باید له کندهار تر اټکه د ننګ په کار کې پټ اوښکاره سره یو شي، چې د مغولو له ستم نه ځان خلاص کړي.

ټـــول پښـــتون لـــه کنـــدهاره تـــر اټکـــه
ســـره یـــو د ننـــګ پـــه کـــار پـــټ او اشـــکار.

***

ناګهـــانې پـــه دا ملـــک فســـاد بنیـــاد شـــو
د مـــا هـــم د تلافـــۍ کـــار را پـــه یـــاد شـــو

***

نـــــن د واړو پښـــــتنو پـــــه ننـــــګ ولاړ یـــــم
دا چـــې هســـې پـــه هـــر در درنـــګ ولاړ یـــم
چـــې پښـــتون شـــوم پـــه داهســـې ســـپینه ږیـــره
نور مـــې خـــدای مـــه کـــړه مغـــول وایـــم پـــه خیـــره.

***

و مغـــــول و تـــــه بـــــه نـــــن کـــــړم اټـــــک پولـــــه
ملـــک بـــه خـــلاص کـــړم د مغـــول لـــه غالـــه غولـــه.

خوشال بابا نه یوازې په ټولنیز ژوندانه کې د ټولنیزو نیمګړتیاوو نقاد دی او پر دغو برخو یې نیوکې کړي، بلکې پر هغه چا یې هم ســختې نیوکې کړي، چې د ریا عبادت یې د خپل ژوند د اړتیـاوو د خـړوب وسیله ګرځولی او خلک پرې تېرباسي. خوشال تـل دا ډول شـیخان غندلي او له دې ډول ملایانو سره یې ورانه ده.

حقیقـــي ســـجده هغـــه ده چـــې د یـــار پـــه لـــور یـــې کـــړې
و کعبـــې تـــه چـــې ســـجده شـــي دا ســـجود دی مجـــازي.

***

هر چېرته چې ګرځې په لاحول ورنه تېرېږه
سل بلا په زړه کې سل داني تسپې په غاړه.

***

د ابلـــیس غونـــدې مکرونـــه یـــې پـــه زړه کـــې
پـــه فریـــب کـــې تـــر ابلیســـه لا مـــاهر دی.
***

ډېر دي چـې تـر تـا نـه، خپـل ځـان ملـک کـا
پـــه ښـــو خبـــرو، ځـــان پـــه فلـــک کـــا
نغـــوذ بـــالله، چـــې ښـــه یـــې ځیـــر کـــړې
شـــیطان تـــر ځـــان پـــورې، لکـــه کـــودک کـــا.
***

پـــه خولـــه یـــې ذکـــر پـــه زړه کـــې نـــور فکـــر
فســـــــــاد د دور دانـــــــــا شـــــــــیخان دي
***

((چـــې د کنـــز د قـــدوري شـــي ځـــان مـــلا کـــا
هـــر حـــلال حـــرام پـــه ځـــان بانـــدې روا کـــا
نـــه د کنـــز پـــه دقیقـــو ځـــه خبـــر شـــوي
نـــه پـــه مـــخ د قـــدوري مبصـــر شـــوي
کتابونـــه پـــه ســـر کېـــږدي ځـــان مـــلا کـــا
پـــه هـــر کلـــي علـــت ګرځـــي ټګـــي غـــلا کـــا
کېنـــي شـــرع پربکـــوي پـــه رشـــوتونو
ځـــان قاضـــي کـــا پـــه غلـــط روایتونـــو

و هرچاتـــــه مســــــلې د ســـــخاوت كـــــا
خپلـــه خونـــه ډكــــوه بلـــه غـــارت كـــا
پـــه مســـجد راځـــي پنځـــه وختـــه اذان كـــا
چـــې ذكـات سرسـایه نـه وي مسـجد وران كـا
د میـــراث مالونـــه خـــوري لـــه ظالمـــانو
نـــوم پـــه ځـــان بانـــدې كېـــږدي د عالمـــانو
پـــه دا هســـې علـــم برنـــد كېنـــي مـــلا يـــي
و عـــالم تـــه میـــراث خـــور د انبیـــا یـــي
نه يې كښل زده، نـه لوسـتل زده، تـل ټګـل كـا
تعویذونـــه وركـــوي پـــه دروغ كښـــل كـــا
پـه نـاروغ يـې خوښـي لا زیاتـه تـر روغ شـي
څښت، تعويذ، دعـا، هیكـل كـې پـه دروغ شـي
لا رنځـــور غريـــب صـــحت نـــه وي مونـــدلای
چـــې اخـــون وي اخیســـتو تـــه ور نیـــولای
كه په وركړه كې څه درنـګ څـه خـو تعطیـل وي
پـه غوغـا پـه شـور و شـر يـې قـال و قیـل وي
چـــې دا زر هســـې ناســـازې كـــا اغـــازې
خپل مقصـود مطلـوب حاصـل كـا پـه ناسـازې
چې څوک ترس له خدايه نـه كانـدي غلـول كـا
اس به پرېږدي زين بـه بانـدې پـه جاهـل كـا.))
(۱۲: ۳۴-۳۶).

***

په خوله کلیمه لولي نمونځ روژه کاندي کــافر شـــته
دعــوې کــا د شــیخیه، تــر شــیطانه لا بتــر شـــته
لــه کــوره لوټــه واخلـــي، اســتنجا لــره روان شـــي
تقوی تر هسې حده، په ولجه یــې وړي کــه زر شـــته
یوځــای الــوده نــه دی پــه دا هســـې درویشـــانو
په دا دور که ګورئ دا ناپــاک پــه هــر کشــور شـــته
چې خاص د زمانې دي حال یــې دادی، نــور وګــړي
د غوا وو د خرو د کلي دی خالي نوم باندې بشر شته
چــې حــال د پرهېزګــار و سراســر واړه دروغ شـــو
رښتیا غواړي له چانــه چیرتــه پــاتې دا هنــر شـــته.

***

شـــیخان چـــې هســـې اوږده نمونځونـــه کـــا
پـــه کـــې باغونـــه اســـونه جونـــه کـــا
په کې رنګــین رنګـین ګنـډې وریښــمین سـکڼي
پـــه کـــې د ســـپینو د ســـرو ګنجونـــه کـــا.

***

نمـــونځ، روژه چـــې د ریـــا دپـــاره کېـــږي
لـــه اســـمانه بـــه لعنـــت بانـــدې اورېـــږي.

***

کتابونــــــه د اســــــمان د ځمکــــــې لــــــولي
پــه عمــل يــې فــرق د ځمکــې د اســمان دی.
پـــه بـــاطن يـــې زړه ګومـــان ســـره تړلـــی
پـــه ظـــاهر ويـــل پـــه ژبـــه مســـلمان دی
پــه خبــرو کــې يــې فــيض مونــده نــه شــي
مذبــذب پــه قــول پــه عهــد پــه پيمــان دی
پــه طاعــت پــه عبــادت کــې کــه بلعــم شــي
پـــه اخـــر انـــس پـــه نغوتـــه بـــې ايمـــان دی
زه خوشـــال ختـــک بنـــده د هغـــه چـــايم
چـــې يـــې رو د زړه د خـــولې ســـره يکســـان دی.

***

تـــل قـــرآن د وړانـــدې ايښـــی قـــرآن لـــولي
ولـــې هـــيڅ عمـــل يـــې نـــه وي پـــه قـــرآن.

***

خوشال بابا د يو لوی مفکر او سالار اديب په توګه، ادبي برخې هم له نظره نه دي غورځولي، د خپلو ليکوالو ادبي نيمګړتياوو ته يــې هــم ګوته نيولې، آن پر داسې ليکوالو يې نيوکې کړي، چې تر ده وړانــدې

پرې چا د انتقاد جرئت نه شو کولای، خو ده د خپل فنان ذهن او ژور لید له مخې د هغوی اثار وتلل او نیمګړتیاوو ته یې ګوته ونیوله.

تر بابا دمخه دېر لوی شخص چې مذهبي شهرت او اغېزیې تر لیکنـو زیات و، هغه (اخوند درویزه) و، چې چا پرې د انتقاد کولو جرئـت نـه شو کولای او هغه وخت په ټولنه کې مطرح شخص او لیکـوال و، خـو خوشال بابا د هغه اثار وتلل او بیا یې پرې داسې نیوکه وکړه:

درویـــــزه لــــه یــــوه لــــوري راپیداشــــو
پــه لــړ علــم پــه دا ملــک کــې لــوی مــلا شــو
د روښـــــان خیرالبیـــــان یـــــې ولیـــــدلی
هغـــــه هـــــم مجهـــول بیـــان و ناســـپندلی
ده چې خوشې میـدان بیـا مونـد سـخنګوی شـو
پــه ویــل کــې یــې چــې زړه و هســې تــوی شــو
درویــزه چـــې بیـــان کـــړی خپـــل کتـــاب دی
نـــوم یـــې مخـــزن الاســـلام کـــړی جنـــاب دی
کـــه یـــوه مســـره پـــه شـــل بلـــه پـــه ســـل ده
نامربوطـــــه ناموزونـــــه پـــــه ویـــــل ده
مســـلې لـــس نظـــم کـــړي پـــه پښـــتو دی
درتـــه څـــه وایـــم چـــې څـــه دي د ایســـتو دي.

د اخوند درویزه د (مخزن) په باب زیاتوي چې دا یـو مجهـول او بـې وزنه کتاب دی او هغه د عربي قصیدې بوصیري ترجمه ښیي.

هــر هــر بیــت د قصــیدې چــې در مرجــان دی
پـــه پښـــتو کــې تراوربشـــو لا ارزان دی
قصـــیده د بوصـــیري ترجمـــه کـــړې
عربـــي یـــې تـــر پښـــتو مضـــحک راوړې.

***

مخزن مې د اخون چــې تمـامي پــه نظـر کښــېوت
په دې کې عروض نه شته نــه یــو بحــر مــا مونــدلی
یـــو کتـــاب دی درویـــزه ســـره جـــوړ کـــړی
د ســـوات خلــک یــې لــه کــل علمــه مــوړ کــړی
نــا معقــول مجهــول بیــان پــه کــې بــې ځایــه
پــه کــې بــد د حســین وایــه یزیــد ســتایه
پـــه حیـــرت بـــه واړو ګـــوتې وچیچلـــې
د اخـــون پـــه مخـــزن چـــاګوتې کښـــېولې.

خو هغه چا چې پوره او کره شعر ویلی، خوشال بیا هغه ســتایلی دی، لکه میرزا خان انصاري:

له چانه په پښــتو کــې مــا میــزان میــندلی نــه دی
میـــرزا پـــه دا زبـــان کـــې ویـــل کـــړي دي تللـــې.

خوشال بابا په یوه قصیده کې د ځینو نورو شــاعرانو ارزونــه داســې کوي:

یــو پــه حـــال او پــه ماضــي کـــې داســـې نـــه و
چـــې ښـــکاره یـــې د خبـــرو راتـــه خونـــد کـــړ
د میـــرزا دېـــوان مـــې ومنـــده پـــه ګـــوډي
مســـخره مـــې ارزانـــي خویشـــکی زمنـــد کـــړ
کـــه دولـــت و کـــه واصـــل و کـــه دا نـــور وو
پـــه خبـــرو مـــې د هـــر یـــوه ریشـــخند کـــړ
کلمـــې مـــې ورتـــه ســـازې کـــړې د قنـــدو
د اوربشـــو پـــه ډوډۍ چـــې بـــه یـــې شـــخوند کـــړ.

***

هـــــر چـــــې لاف وهـــــي د شـــــعر
نـــــن پـــــه دا دور دي ډېـــــــر
خـــدای دې نـــه کـــا چـــې بـــه وایـــم
حـــــال د دیـــــو تېـــــر و بېـــــر
څـــوک پـــاوي څـــوک نـــیم پـــاوي دي
قلنـــــدر پـــــه کـــــې نـــــیم ســـــېر
چـــــې د مـــــوره پـــــه حســـــاب دي
هـــېڅ مـــــې نـــــه دی واصـــــل هېـــــر
بـــــل دولـــــت فقیـــــر درې پـــــاوه
نـــــه تـــــرې څـــــو سرشـــــاهي ســـــېر.

***

د هغـــــه شـــــاعر دانـــــې وشـــــه پـــــه ژبـــــه
چـــــې د شـــــعر دردانـــــې پلـــــوري پـــــه مـــــال.

***

د هغـــه شـــاعر مـــخ تـــور شـــه چـــې پـــه طبعـــه
و هـــــــر در و هـــــــر دربـــــــار و تـــــــه ولاړ وي.))
(۳۳: ۶۸-۸۸).

د خوشال بابا او رحمان بابا ترمنځ هم شعري مکالمه تبادلـه شـوې، خوشال د رحمان بابا د شعر پر یوه بیت نیوکه کړې او ویلي دي، چې په خپل منځ کې تناسب نه لري او رحمان بابا بیا د هغه پـر وړانـدې غبرګون ښودلی دی:

خوشال او دولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

***

یو خوشال او یو کم سل ختهکه نوره
ځار شه د رحمان د سړبن له یوه فرده

که چېرې خوشال بابا د رحمان بابا پر شـعر نیوکـه نـه وای کـړې، د رحمان بابا له دې غبرګون سره نه مخامخېده. همدارنګه د رحمان بابا په کلام کې چې د سترو انساني او روحاني ارزښتونو پالونکی او له دې ارزښتونو څخه د سرغړونکو ډېر پوخ کره کتونکی دی، دده په کلام او

د ده پلویانو کې د کره کتنې ډېر څرکونـه ښـکاري هـم. پـه پښـتو کلاسیکه دوره کې کره کتنه د نظم په بېلابېلـو فورمونـو کـې ډېـره څرګندېږي، خوشال نه یوازې د یوه کره کتونکي په توګه د نظـم پـه برخه کې خپل کره کتنیزه بریا څرګنده کړې، بلکې د یو ټولنیز کـره کتونکي په توګه یې په خپل نامتو اثر (دستار نامه) کې هم د ټولنې د سمون لارې چارې په ګوته کړي او د ټولنمشر؛ دستار سړي لپاره یـې کره معیارونه هم په ګوته کړي دي.

د خوشال د شاعرانو زامنو په کلام کې هم د کره کتنې بېلګې شـته. اشرف خان د خوشال د شعر د ارزونې په باب وایي:

((اولاً بـه د اسـتاد لـه حـاله وایـم
چـې یـې شـعر جهـانګیر لکـه د قمـر دی
پـه پښـتو ژبـه چـې شـعر چـا بیـان کـړ
د همـه وو نظـم سـتوري، دی نمـر دی
ځـه خـوبي د هغـه نمـر وایـې مهجـوره
چـې یـې نـام دهـر نیـولی سـر پـه سـر دی.))
(۸: ۲٤۷-۲٤۸).

د خپل شعر په باب وایي:

((په پښتو ژبه مې سیال د شعر نه شته
د معنو په جهان شاه اشرف خټک یم.))
(۷: ۲۶).

د حمید بابا او کاظم خان شیدا په شعرونو کې هم د کره کتنې څرکونه شته:

((د حمید له فکره مه پو ښته عام خلک
د زربفتو قدر، څه زده بوریا باف
د حمید د مینې کوټ به کره ووځي
که پرې ځیر شي قدر دان، دانا صراف.))
(۲۴: ۱۱۹).

د کاظم خان شیدا ختک په دیوان کې ( د پښتو شعر حسب حال) تر عنوان لاندې چې کومه اوږده مثنوي چاپ شوې ده، د دې مثنوي له مطالعې څخه موږ ته د پښتو شعر په باب د شیدا انتقادي نظر ښکاري. دا مثنوي د پښتو شاعرۍ د هغه مهال د ادبي کره کتنو په لړۍ کې حسابولای شو. (۳۱: ۵).

پیرمحمد کاکړ هم د پښتو شاعرانو د شعرونو د فکر او ښکلا د ارزونې په ترخ کې وایي:

((تل په شعر کې هم سیال د خوشال نه شته
که څه درشت دی، دا دده سخندان شعر
که څوک بحر مواج وایي ورته ښایي
په دیوان کې یې مونده شي هر سان شعر
هېڅ تر شعره د رحمان به ډېر کم نه وي
و منصف ته د ختک خوشال خان شعر

د میـــرزا شـــعر بـــه جـــوړ وای ولـــې درېغـــه
پـــه وحشـــي الفـــاظو ده کـــړو ویـــران شـــعر
چـــې انصـــاف زه پیرمحمـــد کـــړم لافـــې نـــه کـــړم
په همعصـــرو کـــې مـــې خـــوښ دی د ځـــان شـــعر.))
(۲۲: ۴۲).

دا لړۍ نوره هم غځېږي، (عبدالله کندهاری) د (احمدشاه بابا) د شعر د ارزونې په باب وایي:

هر غزل یې عشق او بز دی — او هر بیت یې درد امېز دی
حقیقت دی که مجاز دی — دده دواړو ســـــره ساز دی
هم عالم دی هم شـاعر دی — په نکتو کې ډېر مـــاهر دی
په تحقیق سره هیـــرا دی — چې دده دېـــوان هیـــرا دی
تر هیرا، بـلکې فایـق دی — مشتمل پـــه دقـــایـق دی.

د تېمورشاه دراني د زمانې شاعر (بېدل هشنغري) په خپل دېوان کې د عبدالرحمن بابا د کلام د مزایاوو په باب وایي:

((چـــې مشـــهور پـــه پښـــتو ژبـــه یـــې دېـــوان دی
شـــــعراوو کـــــې هغـــــه عبـــــدالرحمن دی
قـــال و حـــال یـــې ســـره ســـم زیـــات وکـــم نـــه دی
مســـــلم ځکـــــه د هـــــر دانـــــا نـــــادان دی

پـــــه ســـــــلطان الشـــــعرا دی ملقــــــب دی
چې يې بيت مصرع پــه هــر ځــای کــې برهــان دی
دغـــــــه واړه ځيـــــــر کـــــــي د بصـــــــيرت ده
چـــې يـــې فکـــر شـــکريز کـــړی بيـــان دی.))
(۶: ۲۱۲-۲۱۳).

د پښتو ادب په کلاسيکه يا منځنۍ دوره کې (کره کتنه) يوه پــه زړه پورې موضوع ده، چې پراخ بحث او اوږدو ليکنو ته اړتيا لري، خو موږ دا څو بېلګې يوازې ددې دورې له کره کتنې سره سره د اشنايۍ لپاره وړاندې کړې.

## ج- اوسنۍ دوره:

د ادبياتو په تاريخ کې يوه ستونزمنه مسله هم د ادبي دورو ټاکنه ده. ادبي دورې د تاريخي او سياسي هغو په شان نه دي، چې ثابت مهــال په غېږ کې رانيسي، د يوې ادبــي دورې تــاثيرات پــه بلــه کــې هــم محسوس وي او د يوې دورې افکار او اغېز بلې ته هــم غځېــږي. پــه پښتو کې د اوسنۍ کره کتنې د پيل مسله هم داسې يوه مسله ده. د افغانستان يو نوميالی څېړونکی او ادبپوه (سرمحقق زلمی هېوادمل) وايي: [ ادبي کره کتنه په اوسنۍ مانا په پښتو ادبياتو کــې د شــلمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي په دوران کې پيل شوې ده. دغه مهال لر او بــر کې د پښتو د ودې او پرمختيا لپاره سرکاري او ولســي اداري فعــالې شوې، نوي ادبي جريانونه او د پرمختللې نړۍ ادبي نظريــات د هنــد،

ایران او اروپا له لارې پر پښتو ادبیاتو اغېـــزمن واقــع شــول او زمـــوږ ځینې فرهنګیان او ادبپوهان د ادبي کره تنې د پخوانیو شرقي سنتي اصولو تر څنګه د ادبي کره کتنې په باب له نویو خبرو، نویو مسالو او نویو نظریو څخه هم خبر شول او زموږ ادبیاتو ته هم ادبي کره کتنـــې له نویو غوښتنو او نویو ځانګړنو سره لار پیدا کړه، خو له هماغه وخته تر ننه پورې، لکه څنګه چې ښایي هسې نه، بلکې ماته ګوډه تر موږه راورسېده.))

سرمحقق زلمی هېوادمل د ادبي کره کتنې په باب تیوریکو اثـارو تـه اشاره کوي، وایي: ((که چېرې موږ ووایو چې په پښتو کې د ادبي کره کتنې د مختلفو خواوو په باب لارښودي اثار نه شته، نو دا هــم ســمه خبره نه ده، خو که چېرې موږ دغه اثار په پښتو کــې د ادبپــوهنې د نورو څانګو د اثارو په پرتله له یوې خوا او د منطقي په نورو ژبو کې د ادبي کره کتنې په خصوص کــې د لارښــودو اثــارو د موجودیــت پــه تناسب له بلې خوا مطالعه کړو، نو ښکاره به شي چې زموږ په ژبه کې دغه اثار ډېر لږ، بلکې ناڅیز دي.))

سرمحقق زلمی هېوادمل وایي: (( د اروانښاد سیدرسول رســا (۱۹۹۰م مړ) (ادبي تنقید) د ښاغلي قلندر مومند (تنقیــد) ( د ۱۹۶۳م) کــال چــاپ) او نظمیــات (ترجمـــه) ( د ۱۹۶۳م کــال چــاپ)، د مولـــوي محمداسرافیل له خوا ترجمه کړی (کتاب الشعر)، د پروفیسور محمد نواز خان طایر له خوا د مولانا حالي د (مقدمه شعر و شاعری) پښـــتو ترجمه، داسې مستقل اثار دي، چې مطالعه یې د ادبي نقد لېوالانو او زده کوونکو ته بې ګټې نه ده، خو د یادونې وړ خبره داده چې لوړ یاد

شوي اثار د کره کتنې د معیارونو، ادابـو، روشـونو، ډولونـو او نـورو ځانګړنو په باب ډېرې خبرې نه لري. د مثال په ډول د سـید رسـول رسا (ادبي تنقید) زیاتره د شعر په باب د بحثونو پر محـور چـورلي او ددې لړۍ ځینې نور اثار همداسې درواخله.

دلته باید دا یادونه وشي، چې ایا په پښتو کې د ادبي کره کتنـې پـه باب مشخص لارښودي اثار هم شته او که نه؟ ددې پوښـتنې ځـواب هم مثبت دی، په لوړو یادو شوو اثارو کې هم ځینې لارښودی ارزښت لري. پر دې سربېره کابل مجلې، د زېري جریدې او د پېښور پـه (لار، رهبر) او نورو مجلو کې هم کله ناکله د ادبـي کـره کتنـې پـه بـاب لارښودي اثار خپاره شوي دي، چې موږ په دې خصـوص کـې ددغـو اثارو له پدله هم سترګې نه شو پټولای.

پر دغو متفرقو مقالو سربېره د کاندید اکاډمیسن روهـي پـه (ادبـي څېړنې) نومي اثر کې د کره کتنې په خصوص کې ځینې مطالب خپاره شوي دي، چې د کره کتنې د معرفۍ، تاریخي پـس منظـر، هـدفونو، اصولو او معیارونو او ادابو په خصوص کې بحثونه لري. ددې اثر د کره کتنې بحثونه له هغه چا سره ښه مرسته کولای شي، چې غواړي ځان د کره کتنې پر مسایلو پوه کړي.

همدا ډول دده په بل اثر ( د ادب او فولکلـور پـه بـاره کـې) هـم د کره‌کتنې دروشونو په باب یوه لیکنه شته، چې عنواني یې دی: ( پـه ادبي کره کتنه کې د (ولې، څومره، څنګه؟) پوښتنو ته ځوابونـه). دا لیکنه هم په تیوریکو اثارو کې حسابېدی شـي. کاندیـد اکـاډمیس محمد رحیم الهام چې کوم کارونه په دې برخه کې کړي دي، له هغـو

هم سترګې نه شو پټولای، دده په (ادبي مسالې) نومي اثر کې د (ادبي کره کتنه) او (زمونږ د دوران د ادبي کره کتنې مسالې) تر عناوینو لاندې دوی لیکنې راغلي دي. دغه راز په (افغان یاد) نومي مجموعه کې هم مونږ د کره کتنې په باب دده یوه ښه مقاله موندلای شو، چې لارښودی ارزښت لري. د استاد پوهاند دوکتور تړي او استاد سعدالدين شپون ددې برخې لیکنې هم د هېرولو نه دي.

ګل افضل ټکور چې د زېري جریدې له بېلابېلو ګڼو (۱۳۵۵- ۱۳۵۶) څخه یې د ادبي نقد په خصوص کې ددې جریدې د اقتراح مضامین ټول کړي او د کره کتنې په نامه یې په یوه مجموعه کې چاپ کړي دي، د دې ټولګې ځینې لیکنې هم لارښودی ارزښت لري او د کره کتنې نوي زده کوونکي ګټه ځنې پورته کولای شي.

دغه راز د متن د نقد په باب هم زمونږ ژبې تر وروستیو کلونو پورې لازم تیوریک اثار نه درلودل او زمونږ پوهانو چې په دې ساحو کې کوم کارونه کول، زیاتره د عنعنوي میتودونو تابع وو او یا یې هم یو پر بل پسې د اقتدا پر اساس دا کار سرته رساوه.)) سرمحقق زلمی هېوادمل زیاتوي: ((ماته خپله د متن نقد په باب کومه لارښودې او تیوریکه مقاله نه وه معلومه، په وروستیو کلونو کې چې ما د متن د نقد، تحقیق او تدوین په باب ځینې مقالې له اردو ژبې څخه په پښتو ترجمه کړي، په هغو کې ځینې مطالب داسې هم شته، چې د متن د نقد په باب لارښودی حیثیت لرلای شي. د څلوېښتمو کلونو په جریان کې کابل مجلې د استاد رښتين يوه لیکنه چاپ کړې ده، چې زیاتره د خطي نسخو د تصحیح او تدوین پر مسایلو بحث کوي، نه د

نقد،خو لکه چې دمخه مې عرض وکړ، دغه اثار او مقالې په هېڅ ډول کافي نه دي او زموږ فرهنګي موسسو ته ښايي چې لــه ځوانــو کــره کتونکو او په خاص ډول له هغو کره کتونکو سره چې پر خارجي ژبو نه پوهېږي، د مرستې په منظور په پښتو کې نوي او نور ډېــر لارښــودي اثار وراضافه کړي.))

د پښتو ادبي کره کتنه په برخه کې، په تېره بيا په معاصره دوره کــې چې د کره کتنې په باب کومه بله پوښتنه مطرح کېږي، هغــه د کــره کتنې د وېش ساحې دي؟ په کومه برخه کې کار شــوی او پــه کومــه برخه کې نور کار په کار دی. دې پوښتنې ته سرمحقق زلمی هېوادمل ځواب وايي:

((کومې عملي کره کتنې چې د شلمې پېړۍ په دوران کې زموږ کــره کتونکو او ادبپوهانو په پښتو کې کړي دي، زما د عقيدې او مطالعې له مخې په څلورو ساحو کې دي:

الف- ( د تخليقي اثــارو کــره کتنــې، ب) متنــي کــره کتنــې، ج) د ادبپوهنې د ځينو څانګو د تحقيقي اثارو په باب کره کتنې، د) د کــره کتونکو پر کره کتنو، کره کتنې.

د رواني پېړۍ په دوران کې لر او بر او حتی جنوبي پښــتونخواه کــې پښتو نقادانو د پښتو د تخليقي اثارو د نقد په خصوص کــې يــو څــه کارونه کړي دي او د همدې لړۍ په کارونو کې په لســګونو تخليقــي اثار، د اشعارو مجموعې، ځانګړي شعرونه، د کيسو مجموعې، د پښتو د يوې دورې شعري بهير او نور تخليقي اثار يې نقد کړي او له خپلــو برداشتونو سره سم يــې دا ډول کارونــه ســرته رســولي دي. دا ډول

نقدونه په طلوع افغان، کابل مجله، زېري، اصلاح، انیس، هېواد، ولس، رهبر، لار، ننګیالی، جمهوریت، ژوند، پښتو، شهباز، هېواد، وحدت، انجام او نورو ورځپاڼو، مجلو او جریدو کې خپاره شوي دي.

په دې لړ کې ډېرو ښاغلو قلم چلولی دی، چې د څو تنو نومونه یې دادي: استاد عبدالحی حبیبي، استاد الفت، استاد رښتین، پوهاند عبدالشکور رشاد، اروابښاد شهید پوهاند دوکتور مجروح، پوهاند دوکتور حبیب الله تږی، کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمدصدیق روهي، سعدالدین شپون، داکتر مجاوراحمد زیار او حبیب الله رفیع. په پېښور کې: دوست محمد خان کامل، قلندر مومند، ایوب صابر، همېش خلیل، مهدي شاه پاچا، تقي شراب هاشمي، قمر راهي، افضل رضا، ایاز داودزی، ربنواز اورکزی، قاضي احمد سعید، ولي محمد شویان، محمد اعظم اعظم، پروفیسور محمد نوازخان طایر. په کوټه کې: پروفیسور سیال کاکړ، صاحبزاده حمیدالله او نور...

زموږ په ځوانو نقادانو کې زرین انځور، دوکتور لطیف بهاند، خالق رشید، عبیدالله محک، ګل افضل ټکور، نورمحمد سهیم او نورو نومونه د یادونې وړ دي. د تخلیقي اثارو د نقد په لړ کې د استاد شپون مقاله معاصر پښتو شعر ته یوه کتنه او د زرین انځور اثر (شعرونه او نقدونه) د یادونې وړ اثار دي، چې زموږ ځوان کره کتونکي ښه ګټه ځنې پورته کولای شي.

که چېرې د متن د تحقیق سوابق موږ په پام کې ونیسو، نو ان د نولسمې پېړیو له لومړۍ نیمایي څخه په اروپا کې د پښتو متونو د چاپ او نشر په لړ کې موږ په ځینو متني اثارو کې د متن د تحقیق

بېلګې راپیداکولای شو، چې دا لړۍ تر ننه پورې د ختیځپوهانو په حلقو او دغه راز افغانستان، پښتونخوا او جنوبي پښتونخواه کې راروانه ده. په دې تحقیقي متونو کې ځینې د متني کره کتنې له اصولو سره برابر تهیه شوي دي. د متني کره کتونکو په لړ کې مور د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، پوهاند عبدالشکور رشاد، پوهاند محمد رحیم الهام، استاد عبدالروف بېنوا، استاد رښتین، بسم الله ځیرمن، سرمحقق دوست شینواری، حبیب الله رفیع، سرمحقق عبدالله بختانی او زلمی هېوادمل او نورو؛ په پېښور کې د: استاد کامل مومند، قلندر مومند، صنوبر حسین مومند، همیش خلیل، خیال بخاري او ځینو نورو نومونه نه شو هېرولای، دغو یادو شویو کسانو هر یو د پښتو زیات متون په تحقیقي ډول ترتیب، تدوین احیا او بیا چاپ کړي دي، چې د ځینو کارونه د کره کتنې برخې هم لري.

د تخلیقي اثارو او زړو متونو ترڅنګه په پښتو کې د تحقیقي چاپ شوو اثارو کره کتنې هم شوي دي. دغه کره کتنې زیاتره د هغو کسانو دي، چې د نقد په نورو ساحو کې یې هم کار کړی دی، لکه: استاد حبیبي، استاد رشاد، استاد رښتین، استاد کامل، محمد نواز خان ختک، قلندر مومند، صنوبر حسین مومند، سرفراز خان عقاب ختک، ایوب صابر، حبیب الله رفیع، همیش خلیل، عبدالله بختانی، دوست شینواری، پروفیسور سیال کاکړ، زلمی هېوادمل، پوهنمل حکیم حلیم او نور.

د ښاغلي هېوادمل په وینا: [په دې کره کتنو کې زیاتره د پښتو ادبي تاریخ، تذکرو او دغه ډول پر معلوماتي مقالو کره کتنې شوې دي، چې

که په مجلو او ورځپاڼو کې خپرې شوي دغه ډول کره کتنې وشمارو، نو شمېر به يې ډېر اوږد شي. دلته به له دغه ډول کــره کتنــو څخــه ځینې هغه کره کتنې یادې کړو، چې په مجموعو کې چاپ شوي دي:

۱- پښتو چاپ اثارو ته یوه کتنه. دا د پوهاند رښتین یوه مقاله ده چې د پښتو تذکرو ځینې عمده تېروتنې یــې ښــوولي دي. دا مقالــه پــه (پښتو چاپي اثار) نومي مجموعه کې چاپ شوې ده.

۲- د پروفیسور سیال کاکړ ځینې دغه ډول کــره کتنــې د (کســي د لمنې پښتانه لیکوال) دواړو ټوکونو او (ادبي انځور) نــومي مجموعــه کې چاپ شوي دي.

۳- د همیش خلیل یو نقد (د یو تنقید بازګشــت) د یــوې ځــانګړې رسالې په توګه په پېښور کې چاپ دی. دا نقد د لوی خــان خوشــال خټک په باب د ښاغلي فضل احمد غازي د یوې کښل شوې مقالې په ځواب کې لیکل شوی دی. دا نقد کېدی شي سړی د کره کتنې (کره کتنه) وبولي، خو په واقعیت کې دا کره کتنه، کره کتنه نه بولم او هغه دا چې د غازي مقاله کره کتنه نه ده، په دې کې یو لــړ عنــدیات دي، چې سړی هر ډول عندي خبرې کره کتنه نه شي بللای.

۴- د ښاغلي قلندر مومند (پټه خزانه فی المیزان) او ( د خیرالبیــان تنقیدي مطالعه) مقدمه داسې نقدونه دي، چــې زه یــې پــه دغســې څېړنو کې ضرور یادوم، خو دا یادونه ددې مانا نه لري، چې زه ورسره موافق یم، زه د دغو نقدونو په سلو کې له نوي خبرو سره موافق نه یم او دغه اثار د نقد له اصولو او معیارونو ډېر په کروهونو لرې اثار بــولم. ما د دغو دواړو نقدونو د ځینو برخو په رد کې (د محمد هوتک ژونــد

او مزار) او (د پښتو د ادبي تاريخ د منابعو پېژندنه او ارزيابي) او نــورو اثارو کې څه ليکلي دي. له دې نقدونو سره نه يوازې زه، بلکې زما په څېر په لسګونو نور ليکوال او ادبي محققين هم نه دي موافق.

۵- د پښتو د ادبي تاريخ له منابعو څخه د ځينو اثارو کــره کتنــه، دا مقاله د (زلمي هېوادمل) ده او د پښتو د ادبــي تــاريخ ميتودولــوژي نومي مجموعه کې چاپ شوې ده. په دې مقاله کې د پروفيسور دورن (۱۸۰۵- ۱۸۸۱ع) د خريستو ماتې پر مقدمه، فرهنګ ادبيــات پښــتو دوهم جلد، د پښتو غزل او د هشنغر ادب نومو اثارو باندې کره کتنه شوې ده.

۶- د پښتو د ادبي تاريخ د منابعو پېژندنه او ارزيــابي، دا کتــاب هــم (زلمي هېوادمل) ليکلی دی او د پښتو د ادبي تاريخ د ځينــو منــابعو تاريخي تېروتنې په کې له وسې ســره ســمې شــوې دي. دا کتــاب د منابعو د پېژندنې ترڅنګه په بېلابېلو برخو کې د نقد برخې هم لري.

۷- د سرفراز خان عقاب خټک ځينې نقدونه پــه خوشــحاليات او د تواريخ حافظ رحمت خاني او اخلاقنامې نقدونه يې په خوشالنامه کې چاپ شوي دي.

۹- د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي ځينې کره کتنې په ((پښتو نثر ته کره کتنې)) نومي مجموعه کې چاپ شوي دي.

د کره کتنو کره کتنې او همدا راز ځوابي کره کتنې هم زموږ د پښــتو کره کتنې په ساحو کې شاملې دي.

په افغانستان کې ددې لړۍ پخوانۍ کــره کتنـــې هغــه دي، چـــې پــر (۱۳۲۲هــ ش) کال په انیس ورځپاڼې کې نشر شوي دي. د (ترین) په نامه یوه لیکوال د پښتو پر شعري بهیر یوه انتقادي لیکنه پــه انــیس کې نشر کړې ده، ددې مقالې ځینې برخې پر پخوانیو، لکــه خوشــال بابا، حمید بابا او نورو باندې انتقاد و، دې انتقادي لیکنې زموږ د هغې زمانې ادبا او شعرا پارولي او دده پر کره کتنه یې کره کتنې کــړې دي او یا دا چې د ده ځوابي کره کتنې یې کښلي دي. په دې لړ کې ډېرې کره کتنې کښل شوي، د ځینو کره کتونکو نومونه یې دا دي: اســتاد عبدالروف بېنوا، استاد سید شمس الدین مجروح، حیدر ژوبل او نور. د لوی استاد پوهاند حبیبي ددې لړۍ د کره کتنې عنوان و: (( ایا حق لرو چې پر پخوانیو تنقید وکړو؟))

ځوابي کره کتنې زیاتره د اثارو د لیکوالو له خوا د نقادانو پــر نقــدونو لیکل شوي دي، چې مثالونه یې ډېر دي، لکه: د (میا شرف) د پښـــتو عروضو پر چاپي نسخه کره کتنه، چې د استاد رشاد له خوا شـــوې ده او وږمې مجلې چاپ کړه او استاد رښتین یـــې ځـــواب ویلـــی دی، دا ځواب هم په وږمه مجله کې چاپ شوی دی، یا لکه پر (ادبي ستوري) چې استاد رښتین کومه کره کتنه وکښله، استاد حبیب الله رفیع یې ځواب ووایه دا دواړې کره کتنې د کابل مجلې د ۱۳۵۴هــ ش کال پــه دوو ګڼو کې نشر شوي دي.

همدا راز د زېري جریدې د ۱۳۵۶هــ ش کــال پــه ګڼــو کـــې چـــې د زبردست، فقیر احمد اخوندخېل او احمد دېجکۍ او د (طب نــامې) او (بازنامې) د ځینو لغاتو په باب کومې کره کتنې او ځوابي کــره‌کتنـــې

نشر شوي، دا هم ددې لړۍ یوه کړۍ ده، دا کره کتنې د استاد رشاد، استاد رښتین، استاد رفیع او زلمي هېوادمل له خوا لیکلی شوي دي. د کره کتنو کره کتنې څو کاله دمخــه د لیکوالــو انجمــن پــه ځینــو محافلو کې ښې باب شوي، زرین انځور په دې لړ کې ګټور کارونه کړي دي.

د ګل افضل ټکور پر شعرونو چې سرمحقق دوست شینواري کوم نقد لیکلی و، د هغه پر نقد بیا زرین انځور نقد کړی دی، دا نهضت ډېر ښه پرمخ روان شوی و. د کره کتنو، د کره کتنې بل ډېر ښه مثال د قلندر مومند د (پټه خزانه فی المیزان) نقد دی، چې لومړی ځل پر ۱۹۷۶ع کال پښتو مجلې د یوې مقالې په ترڅ کې نشر کړ. دده پر کــره کتنــه دغو لاندې ښاغلو کره کتنې ولیکلې او نشر شوې: پروفیسور ســیال کاکړ، عبدالرحیم مجذوب، همېش خلیل او نورو، خو کله چې دا کــره کتنه د کتاب په شکل نشر شوه، نو لومړی ځل زرین انځــور او اصــف صمیم پرې یو کتابي اثر ولیکه او په پېښور کې یې چاپ او خپور کــړ چې ((د پټې خزانې میزان رښتیا میزان دی؟)) نــومېږي. ددې لــړۍ نورې کــره کتنــې هــم شــته چــې د ټولــو یــادول خبــره اوږدوي.]

(۳۱: ۵-۱۸).

ددې ترڅنګ یو شمېر ختیځو پوهانو هم د کره کتنې په برخه کې کار کړی چې دلته یــې نومونــه د یــادونې وړ دي او همدارنګــه د افغــان لیکوالو چې په متفرقه ډول یې کار کړی دی.

## د- د کره کتنې په برخه کې متفرقه کار:

پر پورتنیو ځانګړو اثارو سربېره یو زیات شمېر پښتانه لیکوال شته، چې په پښتو کره کتنه کې یې خپله ونډه اخیستې، د پورتنیو ځانګړو اثارو ترڅنګ یې د کره کتنې په برخه کې ځینې نورې لیکنې هم خپرې شوي، چې هغه لا په دې اثارو کې شاملې نه دي، خو د هغو لیکوالو ترڅنګ چې مستقل او متفرقه لیکنې یې خپرې کړي، په لسګونو داسې لیکوال نور هم شته چې د کره کتنې په برخه کې یې عملي او نظري کارونه کړي او متفرقه لیکنې یې په بېلابېلو وختونو کې په چاپي رسنیو کې خپرې شوي دي، په دې لیکوالو کې بهرني لیکوال هم شامل دي او خپله پښتانه لیکوال هم. دلته به د هغو بهرنیو او پښتنو لیکوالو نومونه واخلو چې پر متفرق ډول یې د پښتو کره کتنې په برخه کې لیکنې کړي دي.

## ۱- ختیځپوهان:

پروفیسور برنهارډ ډورن، میجرهاري جارج راورټي، ډاکتر هنري والسټر بیلز، جیمز ډارمستتر، سي. ای. بډلف، ډاکتر میکنیزي، سراولف کیرو، سرایولن هاول، پادري هیوز، ولادیمیر واسیلوویچ کوشیف.

او ځینې نور، دغو ښاغلو ختیځپوهانو د پښتو ژبې بېلابېل متفرق او مستقل منظوم او منثور اثار راټول کړي، اوډلي، متني سمون یې په کې کړی، په سم ډول یې ثبت کړي، تحلیل کړي دي، د مرګ له خطره یې ژغورلي ځینې یې د خپل ژوند پر مهال چاپ کړي او ځینې

یې د دوی تر مړینې وروسته نورو ختیځپوهانو او افغان لیکوالو چاپ کړي دي. د ختیځپوهانو په دې کاروزیار کې د کره کتنې برخه هم له یاده نه شي ایستل کېدی او دا برخه یې هم خورا مثمره او ګټوره ګڼل کېږي.

## ۲- پښتانه کره کتونکي:

هغه پښتانه چې مستقل کره کتنیز اثار یې لیکلي د دوی په ګډون ګڼ شمېر داسې نور لیکوال هم شته چې په متفرقه ډول یې لیکنې په چاپي خپرونو کې چاپ شوي دي. دلته به یوازې د هغو نومونه واخلو، پوهاند علامه حبیبي،استاد ګل پاچا الفت، مولانا قیام الدین خادم، پوهاند اکاډمیسین عبدالشکور رشاد، استاد عبدالروف بېنوا، پوهاند صدیق الله رښتین، کاندید اکاډمیسین محمدصدیق روهي، پوهاند مجاوراحمد زیار، استاد حبیب الله تږی، استاد سعدالدین شپون، سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار، سرمحقق زلمی هېوادمل، سرمحقق نورمحمد نعیم، زرین انځور، ډاکتر لطیف بهاند، اسد اسمایي، اسدالله غضنفر، نورالحبیب نثار، مصطفی سالک، عبدالمالک همت، اصف صمیم، عبدالخالق رشید، ایمل پسرلی، اجمل پسرلی، محمدمعصوم هوتک، عبدالغفور لېوال او نور...

همدارنګه په پښتونخوا کې مولوي احمد، قاضي عبدالسلام زیارتي، دوست محمد کامل، نصرالله خان سفر،مهجور خویشکی، شعید ګوهر، مجروح یوسفزی، زبیر حسرت، حنیف خلیل، سیدصابرشاه

صـــابر، میـــا ســـهیل انشـــا، همـــېش خلیـــل، قنلـــدر مومنـــد، محمدعبدالشـــکور، عقـــاب ختـــک، ایـــاز داودزی، دوکتـــور اســـرار، پروفیسور صاحب زاده حمیدالله... او ګڼ شمېر نور.

په افغانستان کې د فعالو او کره کتونکو له جملې څخه یو هم ښاغلی زرین انځور دی. ده په شپېتمو لمریزو کلونو کې د عملي او نظري کره کتنو ډېرې ښېلګې ټولنې ته وړاندې کړي چې اکثره یې ډېرې مـــوثرې واقع شوي او تر یوه حده یې د پښتو شعر د شعاري کېدو مخه ونیوله. لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه زرین انځور پـــه دې برخـــه کـــې د (شعرونه او نقدونه) په نوم یو مستقل اثر هم لیکلی دی چې د عملي کره کتنې یوه ښه بېلګه یې ګڼلای شو. دلته به له دې کتـــاب څخـــه ((په پښتو اوسني شعر کې د نوښت مساله) یوه لیکنه د عملـــي کـــره کتنې د بېلګې په توګه وړاندې کړو.

## په معاصر پښتو شعر کې د هنري نوښت مساله:

د شعر او ټولو هنري څانګو یوه اساسي او بنســـټیزه ځانګړتیـــا داده، چې باید نوي وي. دغه نوښت باید د شعر په رګ رګ کې ولیدل شي او که ددغه عنصر شته والی سوچه له یاده وویستل شي، نو هغه شعر به څو کرښې وي، کاغذ بـــه پـــرې تـــور شـــوی وي، د جـــوړونکي یـــا لوستونکي او اورېدونکي، وخت به پرې نیول شوی وي، خو شعر به نه وي او له هنري ارزښت څخه به خالي وي.

زموږ ځینې معاصر شـــعرونه همداســـې دي او زمـــوږ ځینـــې معاصـــر شاعران او د نن ورځې شاعران همداسې، هغه نوښت چې باید شـــعر

يې ولري، زموږ په شاعرۍ کې ورته ډېره پاملرنه نه کېږي او دا زموږ د معاصر پښتو شعر يو ستر بحران دی. ددې خبرې يو علــت دا کېــدی شي چې زموږ ځينې شاعران (بې ضرورته) شعر ونه ليکي. که شعر د يوه ژور ضرورت له مخې وليکل شي يا وويل شي شايد پــه دغــه ژور ضرورت کې د يوه نوښت څرک هم وليدل شي يا بايد وليدل شــي. د (کنستانتين فدين) په نامه يو ليکوال ليکي: ((يو ليکوال يوازې، هغه وخت بايد قلم ته لاس کړي، چې يوه مشخصه او دروني هيله او اړتيا هغه دې کار ته اړ کړي. که يو داسې څه ليکي چې د نورو له کار ســره توپير ونه لري، نو اصلاً يې د څه لپاره ليکي؟ اخر لــه دې ځنــې څــه لذت ورلی شي؟ تل او په هره لاره کې بايد يو انسان هڅه وکړي چــې خپل ځان پيدا کړي او د ليکنې په کار کې د خپل کار لاره پيدا کړي. ليکوال بايد د هنر په هره څانګه او هره برخه کــې خپــل خلاقيــت، انفراديت او ځانګړی توان وښيي..))

همدغه خبره ده چې شاعر بايد خپله لار پيدا کړي او هر شعر که پــه مجموع کې د شاعر د مشخصې لارې لارويان وي، بايد پــه جــلا ډول هم د هغه هر يو شعر يو ځانګړی خصوصيت، ابتکار او نوښت ولري او د هغه هر يو شعر هم د ضــرورت د جلاوالــي پــر بنســټ بايــد د يــو مشخص خصوصيت لرونکی وي.

شايد ځينې کسان د ابتکار په بحث کې د شــکونو درلــودونکی وي، يانې دا چې د تقليد او ابتکار په لړ کې ورسره پوښتنې پيــدا شــي. د يوه ليکونکي نظر په دې ډول دی چې وايي: ((... هېڅ داسې يو هنري او ادبي اثر نه شته چې هغه ته له يوې مخې ابتکاري ووايــو، حتــی د

شاعرانو او لیکوالو په خیالي تراابداعاتو کې هم د نورو هنرمنـــدانو د خیال د ترکیب اجزا لیدلی شو. په دې توګه هر ډول ابتکار تــر یــوې اندازې په بل ځای پورې تړلی او راغلا شوی دی. خو دغه موشګافي او زیات افراط په هېڅ ډول له پوهې او منطق ســره ســر نــه خــوري. د (ګویته) او (شکســپیر) لپــاره فولکلــوري او ولســي کیســې او زاړه پېښلیکونه د کار ماده شمېرله کېدله. داسې لکه تیږه او چونه چې د معمار او مجسمه جوړوونکي د کار اصلي مواد ګڼل کېږي ایــا کېــدی شي سړی معمار او مجسمه ساز هم په دې خبره ملامت کــړي، چــې ولې د خپل کار اصلي ماده یانې تیږه او چونه خپله نه خلقوي چې له طبیعت نه یې اخلي.))

معمار او مجسمه جوړوونکی په دې خبره نه شي ملامتېدی، خو کــه هغه ټکي په ټکي د کوم بل مجسمه جوړوونکي کار تقلید کړي، څوک به ورته د هنرمند نوم ورنه کړي.

لیکوال یا شاعر هم په طبیعت کې له یــوې اجتمــاعي پدیــدې(ژبې) څخه د خپل کار د وسیلې یا مادې په توګه کار اخلي. که هغه د نمونې په ډول یوازې د ولسي کیسو او فلکلــوري ادبیــاتو ثبتــوونکی وي او خپل هنري نوښت یې نه وي ورسره ملګری، نو شاعر یا هنرمنــد نــه دی، د فلکلور یا ولسي ادب د راټولوونکي نــوم بایــد ورکــړي او پــه همدې ډول که د هغه په کار کې د خپل ولس د ادبي جریان له تېــرو تجربو سره توپیر ونه لیدل شي بیا هم شاعر یا هنرمند نه دی.

په ټولو هنري ادبي پدیدو کې اصلي او د پــام وړ موضــوع داده چــې هنرمند یا شاعر څه غواړي ووایي یا څه وایي؟ که غواړي یو داسې څه

ووايي چې تر هغه مخکې ويل شوي او حتی په ښه توګه ويل شــوي، نوبيا ويلو او يا اورېدلو ته يې ضرورت څه دی؟ له همدې کبله خــو د يوه ښه شعر ويل يا د يوې نوې هنري يا شعري خبــرې کــول دومــره سخت ګڼل شوي لکه يو علمي کشف. يوه شاعره وايي: (( د يوه ښــه شعر ويل دومره سخت دي او دومره غور، کار او زيار غواړي لکه د يوه علمي کشف غوندې. فکر کوم هر هغه څوک چې په هنري کار بوخت دی، لومړی بايد خپل ځان جوړ او بشپړ کړي بيا له خپل ځانه رابهــر شي او خپل ځانته هم د هستۍ د يوې برخې په توګه وګوري. پــه دې توګه به هغه وکولی شي خپلو ټولو فکرونو، حسونو او غوښتنو ته يــو عمومي حالت وروښيي.))

کله چې په يوه شعر کې د يوه کشف په اندازه دقت او غــور لازم دی، نو ايا داسې شاعري به څومره په درد خوړونکې وي او څومره به نوې وي. د (علمي کشف) خبره دلته د مفاهيمو پر اساس ياده شــوې او د دقت او پاملرنې د راوړلو لپاره ورته اشاره شوې ده.

هره هغه خبره چې نوې نه وي، شعر نه دی خو هره نــوې خبــره هــم شعر نه دی. هره نوې خبره د شعر تر حده بايد راښکونکې او ښــکلې شي، بيا يې يو سړی د شعريت پر امکاناتو باوري کېدی شي. هسې له ســاده، ســطحي او سرســري نــوې خبــرې څخــه شــعر نــه شــي جوړېدی.داسې خبره يا موضوع چې د شعر جوړولو استعداد ولري او يو باصلاحيته شخص ( چې بايد شاعر ورته وويل شي) هغه تر شعريته ورسوي. يو ليکوال کاږي: ((ساده ګي د شعر لوی صفت دی. خــو پــه دې شرط چې هغه پيغام، هغه ليد او هغه تجربه چې رابرسېره کــوي

یې مبتذله نه وي، هغه خیال یا (امیج) چې په شعر کــې وي هرومــرو باید داسې وي چې په عادي ورځني ژوند کې که څه هم موږ ورســره مخامخ کېږو، خو د شعور مرحلې ته یې نه شو را ایستلی.))او د شاعر ابتکار په همدې کې دی چې هغه د (شعور) تر مرحلې او د (شعر) تــر مرحلې ورسوي او د ژوند هره تجربه چې تــر دې ځایــه راورســېدله (شعر) دی او هغه چې یې دغــه تجربــه تــر دې ځایــه رارســولې ده (شاعر). هره تېره شوې تجربه که په هماغه بڼه بیا بیا تکرارېږي، شعر نه شي ورته ویل کېدی، دا ځکه چې د یوه شعر د جوړښت او سکښت یو اصلي ټکی (نوښت) به په کې نه وي. یو بل لیکوال لیکي: (( شاعر هغه څوک دی چې له ژوند څخه یې ځانګړی او نوی مفهوم مونــدلی وي. هغه د بیان په قالب کې نغاړي او نورو ته یې انتقالوي. یو تــازه او خاص مفهوم ځکه چې که نورو پیدا کړی او بیان کړی وي، د شاعر د دویم ځلي لټون هڅې بېهوده شمېرل کېږي... ته که نړۍ هماغه ډول ګورې چې یوه بل شاعر بیان کړې وي، ښه به دا وي چې خپل وخــت او زموږ وخت ضایع نه کړې، ځکه له همدغه ځایه څرګنــدېږي چــې شاعر نه یاستئ!))

وایي چې محمود طرزي په خپلو لیکنو کې له یو غربي منتقــد څخــه نقل قول کوي چې: (( هغه څوک چې  د لومړي ځل لپاره یې د خپلې مینې مخ له ګل سره تشبه کړ، شاعر و او هغه څوک چې د دویم ځل لپاره یې دا کار تکرار کړ، بې شعورا)) شاید د شعر د نوښت په بحــث کې د غربي منتقد دا خبره یو څه (افراطي) تصور شي، خو په مجموع

کې د پرنسیپ له پلوه جالبه خبره ده. تقلید که په هره پیمانــه وي، د غندلو او ردولو وړ دی.

زموږ په معاصر شعر کې ددغسې تکراري شعري تجربو زیاتې او پرلــه پسې نمونې لیدل کېږي. د یوه معاصر شاعر یوه مشهوره څلوریزه ده چې:

پتنګ نه دی په ډیوه چې ستي نه شي

بلبل نه دی چې په ګل فریادي نه شي

زړه یې مه بوله تور کاڼی د صحرا دی

په لیدو د زخمي زړه چې زخمي نه شي

او زموږ د راوروسته شاعرانو له خوا همدغه خبره اړول شــوې را اړول شوې ده. خو د دې پر ځای چې ښه او له نویو تجربو سره یوځای شي، په سرچپه ډول مبتذله شوې، تکراري شوې او سخته کمزرې شــوې ده. یوه نمونه یې زموږ د یوې ځوانې شاعرې(!) دغه شعر دی:

ښه هغه دی چې د بل په درد دردمن وي

په لیدو د زخمي زړه یې زړه غمجن وي

اصلاً یې شاعر څه غواړي ووایي؟ هغه څه چې دا یې غــواړي ووایــي، مخکې ویل شوي و تر دې  په ښه توګه ویل شوي دي. دې بې ځایــه خپل ځان سترې کړی دی. که زموږ په اوسني شعر کې ابتکار نه وي، که دغه ډول انفرادیت (په خپل عمومي هنري مفهوم سره) په کې نه وي او که نوي مفاهیم او نوي مضامین په کې نه وي، نو چېرې به هم د

منل شوي معاصر شعر او د نمونه يي شعر په بڼه تائيد نه شي. د ((شعر او هنر)) ليکوال ليکي: (( هغه هنرمند د ازادۍ دعوا کولای شي چې ذوق، سليقه او فکر يې د بل چا اسير نه وي. مقلد څرنګه ازاد دی؟ هغه څوک چې د ذوق او فکر لاس او پښې يې بند وي چې هډو د خلاصون امکانات يې هم نه شي ليدل کېدی، ولې د شعري خپلواکۍ غورې کوي! غواړي ازاد وي، ددې لپاره چې بندي پاتې شي؟ ازاد وي چې له ځايه ونه خوځېدی شي، ازاد وي چې د بدمرغو بنديزونو زنځيرونه ونه شلولای شي! شايد دا د ازادۍ يوه نوې بڼه وي(!) زما په فکر په هنر کې هم د ټولنې په څېر د ازادۍ لپاره هلې ځلې په کار دي، جرات په کار دی او د ازادۍ د لټولو خاوند بايد پر خپل ځان متکي وي... ازاد هنرمند هغه دی چې پر خپل ځان باندې په باور لرلو سره له هغه څه نه خپل ذهن خلاص کړي چې نورو ورته بښلي دي. داسې ګومان وکړي چې تر هغه وړاندې هېچا هم ددې پراخې دنيا د وصف لپاره تکل نه دی کړی او هغه د لومړي ځل لپاره موظف شوی دی چې نړۍ هم خپله وپېژني او هم يې نورو ته وروپېژني. که کوم هنرمند پر دغه لار لاړ او کوم سوغات يې له ځانه سره راووړ، د هغه دغه ډالۍ به تازه، نوې او د زيات ارزښت لرونکې وي...))

په ادبياتو او يا په شعر کې د تقليد پر ځای او د بل په پل د پل ايښودلو پر ځای د (نوښت) اصلي کيفيت په دې کې پروت دی، چې د شاعر په قلم او ژبه بايد د ولس ادبيات او د ولس ژبه غني شي د ژبې پر وړاندې او د ژبې د ادبياتو پر وړاندې شاعر ستر مسووليت لري. په

شعر کې هره کلمه باید حساب شوې وي. د هغه هر شعر او د شعر هر نوی مفهوم باید د ژبې د ذخیرې لپاره یوه نـوې او حسـاب شـوې او معتبره پانګه وي. د نړۍ یو نامتو منتقد (تي، اس، الیـوت) لیکـي: (( خپله ژبه له هغه شکل څخه چې وه په پراخه، پاکـه او دقیقـه توګـه راتلونکو ته سپارل،دا دی د شاعر په عنوان د شاعر سـتر او ممکـن بریالیتوب)).

که شاعر د ژبې لپاره دومره کار وکړي دا به رښتیا هم لوی بریالیتوب وي او هغه چې شاعر دی باید هم دومره بریـالیتوب وګټـي. زمـوږ د پښتو ژبې په کلاسیک شعر کې خوشال، رحمن او حمید او نورو ځکه مخکښان ګڼل کېږي چې هغوی خپله ژبه بډایه کړې ده. هغوی د ژبې په شعر کې مفاهیم وضع کړي دي او ځکه خو زموږ د شعر ځلندې او بلندې څېرې دي او ډیوې. د خوشال په شعر کې که له یـوې خـوا د وخت د پښتني ټولنې د ژوند دایره المعارف پروت دی، نو له بله پلوه هغه پښتو ژبه د شعري پرېمانه نویو او خوږو مفاهیمو لـه لارې غنـي کړې ده. شاید زموږ ځینې کلاسیک شاعران د همدغو لارو لارویـان وي، چې ځکه یې شهرت نه دی موندلی او د مخکښانو نـوم نـه دی ورکړ شوی.

زموږ د معاصر پښتو شعر د ځینو او زیاترو شاعرانو نیمګړتیـا پـه دې کې ده چې هغوی نه یوازې دا چې دې ټکي ته پاملرنه نه کوي، بلکې اصلاً ورته دا خبره مطرح هم نه ده.

هغوی ژبه بډایه کوي نه، نیستمنه کوي یې، غني کوي یې نه، بې وسه کوي یې او دا څومره لویه بدمرغي ده! څومره د افسوس وړ خبره ده!

هغوی ددې پرځای چې د ژبې پانګه بډایه کړي حتی د ژبې له تېرې او موجوده پانګې څخه هم په سمه توګه کار نه شي اخیستلی او دا زموږ د شعر ستره نیمګړتیا ده.

خبره داده چې د ټولنې د پرمختګ له بهیر سره سم د ټولنې ادبي بهیر هم بدلون مومي او باید بدلون وموميي. دا یوه ډېره عمومي او حتی (چوکاټي) خبره ده، خو زموږ ځینې اوسني او ځوان شاعران له دغه منل شوي (چوکاټي) پرنسیپ سره هم زیاته اشنایي نه لري. هماغه تېرې خبرې، همغه تېر مفاهیم او هماغه د لیلی او مجنون کیسې او مفهومونه او هماغه زړې شوې تکراري خبرې د نویو او اوسنیو شعرونو په نامه وړاندې کوي. د (ژوند او فن) لیکوال او شاعر لیکي: ((... د امیر کروړ او بېټ نیکه زمانه د خوشال او د رحمن له زمانې بدله وه. ځکه یې په شاعرۍ کې د وخت د بدلون په لحاظ د موضوعاتو او اقدارو تبدیلي واضحه ښکاري. د خلیق او عبدالاکبرخان اکبر زمانه د خوشال او د رحمان زمانه نه ده، نو ځکه یې د ادب اقدار هم د زمانې په مناسبت بدل شوی... د سوسیایټي له بدلون سره به د ادب انداز بدلېږي، که دا د چا خوښه وي هم او که نه وي خوښه نو هم، ځکه چې که بېټ نیکه وایي:

لو یه خدا یه لو یه خدا یه ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوي کې ټوله ژوي په زاري کې

نو په خپل ساده ماحول یې په پاک ذهن او زړه عکس غورځولی دی. دغه وخت دغه د معاشرې ژوند و. که خوشال ووایي چې:

بله هېڅ لیدلی نه شي تر دا منځه یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار

نو د وخت حالاتو ورته دا احساس وربښلی و، ځکه داسې وايي...))
زموږ په معاصر پښتو شعر کې نــه یــوازې دا چــې د پرمختــګ دغــه مجموعې بهیر ته په شعوري توګه پاملرنه نــه کېــږي، بلکــې د تېــرو شعري تجربو او د تکراري او زړو مفاهیمو هماغه زیاته تکــراري بڼــه چې اوس مبتذله ده، رواج لري.
کومه بله خبره چې دلته یې یادول ضروري دي، هغه داده چې د ژوند د تجاربو ځینې عادي برخې زموږ د معاصر شعر زیاتې نمونې جوړوي، داسې نمونې چې نه په کې شعري ابتکار شته او نه هنري تخیل. زموږ د یوه اوسني خپاره شوي شعر یوه برخه لولــو او وینــو چــې څــومره عادي خبرې دي؟

څومره تکرار شوې او منلې شوې خبرې:

کــار دی چــې مــوږ تــه محبــت بښــي　　کــار دی چې مـوږ تـه ستر نعمت بښـي
کـار دی چــې معمـار بـه وي د نـوي ژونـد　　کـار دی چې نـړۍ تـه بـه زینـت بښـي
کار دی چې به جنګ او جګړه ختمه کړي　　کـار دی چې بـه سـوله امنیـت بښـي
کـار دی چــې بــه واړه ســره وروڼــه کــړي　　کـار دی چې کـارګرو تـه وحدت بښـي
کـار دی چــې ســیندونه خیــژوي پــه غــرو　　کـار دی چې رغـو تـه طـراوت بښـي
کــار دی د ســتړیاوې د دمــې ضــامن　　کـار دی چې بشـر تـه سـعادت بښـي
کـار دی چې بـه رنځ بیمـاري ورکـه کـړي　　کـار دی چې صحت او سـلامت بښـي
کـار دی چــې د لــوږې بــد بختــۍ پــر ضــد　　مــوږ تــه استحکام اسـتقامت بښـي
کـار دی چې څـوک نـه شي تمبـولی بیـا　　څـرخ چـې د تـاریخ تـه حرکـت بښـي
کار دی چې به موږ پرې مخ پر وړاندې ځو　　کـار دی چې بـه مـوږ تـه دا جرات بښـي

وګورئ! سمې خبرې دي او معقولې خبرې! د کار ارزښت همدومره او حتی تر دې هم زیات دی، خو خبره دا ده چې له دغو خبرو سره او له دغو نصیحتونو سره د شاعر خلاقیت څه شی دی؟ همدومره خبرې چې (کار ښه دی، ډېر ښه دی، ښېخي زیات ښه دی) دا خو نو عمومي خبرې او د شعر لپاره حتی سطحي خبرې دي، شاعر څه غواړي ووايي او په څه ډول يې غواړي ووايي؟ شاعر په دغه شعر کې کوم نوی ټکي بيانول غواړي؟ هېڅ نوی ټکی نه شته هماغه زوړ واعظ دی او زړې خبرې.

یا مثلاً دا چې د دهقان ارزښت او مقام د زياتې ستاينې وړ دی، خو که زموږ معاصر شاعر د هغه د دريځ تشريح کول غواړي، بايد دا کار د نويو موضوعګانو او نويو مفاهيمو له لارې وکړي، په دې ډول چې سړی پوه نه شي چې کوم شعر دی او که د نباتاتو د پوهنې کوم فصل! د يوه نوي شاعر يو شعر ته پاملرنه کوو:

((ګرانه دهقانه))

راغی موسم د بهار ښايسته ښکاري ګلزار

نباتات واړه بيدار د ځوان بزګر انتظار

وطن مو کار غواړي زيار بېشمار غواړي

ګرانه دهقانه

پنبه غنم وکره په دغه دم وکره

په زړه بې غم وکره له چانه مه کوه ډار

وطن مو کار غواړي زيار بې شمار غواړي

او ګرانه دهقانه !...

**او په همدې ډول درواخله، زموږ ځينې نـور شـعرونه. پـه دغـه ډول شعرونو کې يوازې خبرې شته او څرګنده ده چې يوازې خبرې شـعر نه شي کېدی. شعر بايد يو نوی ټکی او د بيان يو نـوی ډول ولـري او دغه بيان بايد يوازې د شاعر په ژبه او قلم پورې منحصـر وي. ځکـه چې هغه شاعر دی، هغه بايد ددې صلاحيت لرونکی وي او د هغه پـه قلم او ژبه کې بايد دومره توان پروت وي.**

**زموږ د معاصر پښتو شعر يوه بله ځانګړتيا او يوه بلـه نيمګړتيـا داده چې که يو ځلې کوم شاعر يوه نوې، يوه ښه او يوه شـعري او هنـري خبره وکړه، هماغه خبره بيا هنګامې پيدا کـوي او هـر شـاعر يـې د تقليد لپاره راپاځي. هماغه ډول شـعر ليکـي، خـو تـر اصـل شـعره کمزوری او مبتذل. يوه نمونه وړاندې کېږي:**

**يوه لوی معاصر شاعر په دې موضوع چې زه شاعر يم او دا چې شاعر بايد څنګه وي؟ يو ښکلی شعر ليکلی دی، يوه ډېره لـږه برخـه يـې داسې ده:**

ته د سلطان د دربارونو شاعر زه د محرومو ولسونـو شاعر

تـه د خمونو او جامونو شاعر زه د پېـړی د قـيامونو شاعر

ته د مانـی د اقبالونو شـــاعر زه د کېږدی او ادبـارونـو شاعر

ته په بزمو کـې د نـازونـو شاعر زه په زندان کې د مرګونو شاعر

تــه د نېکمرغو پسرليو برېښنا　　　زه د بــدمــرغــو بــارانــونو ژړا
ته مابنامي کې د بـزمونــو نــڅا　　　زه سباوون کې د تېغونو څلا...

او وروسته نو زموږ شاعرانو قلمونه راخیستي دي او همدغه چيغې يې شروع کړي دي چې: بس زه د ولسونو شاعر او زه دردونــو او غمونــو شاعر او زه د پاڅونونو شاعر او همدغسې نورې خبرې چې د لومړني ښکلي او اصلي شعر بې ځايه تحريف په کې ليدل کېږي. يا يــوه بلــه نمونه: زموږ يوه بل معاصر نامتو شاعر په خپل وخت کې يو ډېر ښکلی شعر زمزمه کړ. داسې شعر چې زياتې هنګامې او انګازې يــې جــوړې کړې. شعر د خپل وخت يو لوی پيغام په ډېر هنري ډول په خپل ځان کې نغښتی و، يوه برخه يې داسې ده:

نسيم ووې د ګل غوږ کې
بدل شو د يارانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی
بدلوي د زمانې رنګ
ورسره نوي رنګونه
رنګا رنګ تحولونه
کړي سمسور به راغ راغونه
موسم بل دی هم بل شوی
د بلبل د ترانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی

بدلوي د زمانې رنګ

دړې وړې زوړ رباب دی

زوړ مطرب خانه خراب دی

زوړ اهنګ د روح عذاب دی

هم شو نوی د نغمې رنګ

غلی شانته انقلاب دی

بدلوي د زمانې رنګ

نوی دام نوی صیاد دی

نوی چل نوی بیداد دی

نوی آه نوی فریاد دی

هوښیاري صید لره بویه

بدل شوی د دانې رنګ

غلی شانته انقلاب دی

بدلوي د زمانې رنګ...

ددغه ښکلي شعر تر خپرېدو وروسته، بیا هم زموږ شـاعرانو مـلاوې وتړلې، متې یې راونغښتې او قلمونه یې راواخیستل، هېڅ داسې شعر به نه وي چې د (نوي) نوم به په کې نه و اخیستل شوی. هر څه نوي، شاعر نوی، شعر نوی، ژبه نوې، قلم نوی، سـاقي نـوی، پیالـه نـوې، میخانه نوې او پیمانه نوې.

زمونږ زیاتو شاعرانو خپلو شعرونو ته دغــه ډول (نــوی) خــو تکــراري شکل ورکړ. هماغه خبرې ډېرې ډېرې او بې ځایه بې ځایه کارېدلې.

دغه ډول تقلیدي شعرونو زمونږ د مطبوعاتو پاڼې ډکې کړې. ددې پرله پسې لړۍ یو (نمونه یي) شعر دلته لیکو:

موســـم نـــوی بهـــار نـــوی ارغـــوان تـــازه تـــازه
چمـــن نـــوی ګلشـــن نـــوی بلـــبلان تـــازه تـــازه
محفـــل نـــوی شـــاعر نـــوی ســـاقیان تـــازه تـــازه
ربـــاب نـــوی ســـرود نـــوی نغمـــه خـــوان تـــازه تـــازه
عشـــق نـــوی جانـــان نـــوی عاشـــقان تـــازه تـــازه
جمـــال نـــوی وصـــال نـــوی ســـره لبـــان تـــازه تـــازه
جهان نـــوی زمـــان نـــوی ســـور اســـمان تـــازه تـــازه
دوران نـــوی ژونـــدون نـــوی ارمغـــان تـــازه تـــازه
تقـــدیر نـــوی تـــدبیر نـــوی طـــرازان تـــازه تـــازه
جنـــت نـــوی نعمـــت نـــوی جنتیـــان(!!) تـــازه تـــازه
...خیـــال نـــوی فکـــر نـــوی طراحـــان تـــازه تـــازه
معمـــار نـــوی تعمیـــر نـــوی نقاشـــان(!) تـــازه تـــازه
طبیـــب نـــوی درمـــل نـــوی هـــم درمـــان تـــازه تـــازه
شـــربت نـــوی ګـــیلاس نـــوی تشـــنګان تـــازه تـــازه
معلـــم نـــوی تـــدریس نـــوی شـــاګردان تـــازه تـــازه
شکل نـــوی مضـــمون نـــوی هـــم عنـــوان تـــازه تـــازه
بیـــان نـــوی ادب نـــوی ادیبـــان تـــازه تـــازه
نثـــر نـــوی نظـــم نـــوی شـــاعران تـــازه تـــازه

باغوان نوی بوستان نوی گلستان تازه تازه
له خزان دې په امان وي سره گلان تازه تازه

ښه نو دا خبرې، دا لیکنې او دا ډول تشې قافیې شعر گڼل کېدی شي؟ نه! نه! هېڅکله هم نه!

زموږ په معاصر پښتو شعر کې که د عشقي سندرو جاج هم واخیستل شي، له بده مرغه چې په زیاترو شعرونو کې هماغه زړې خبرې او هماغه تکراري خبرې بیا بیا تکرارېږي. د سر زوري او سرتېري مین لپاره هماغه لېونی مجنون نن هم زموږ د شعر سمبول دی. هماغه د قرنونو لیلی لا زموږ د شعر د ښایست اتله ده او هماغه سرې شونډې، زرین شال، تورې سترگې او تورې زلفې لا زموږ شعري مفاهیم دي چې په ډېرو لږ توپیرونو سره د یوه او بل شاعر له خوا په شعر کې په پرله پسې ډول کارول کېږي او که د قافیې ضرورت وي، نو بیا خو زرین شالان، تور چشمان، تور زلفان او سره شونډان هم د معاصر شاعر د شعر مضامین جوړېدلای شي.(!)

د نن ورځې د شاعر سندره هم باید د قرنونو له سندرو سره توپیر ولري.

دا یو عمده ضرورت دی او دا ځکه چې که موږ وایو: ( معاصر پښتو شعر)، نو باید د خپل عصر ټول خصوصیات له ځانه سره ولري او که نه خو که یې تاریخ او د شاعر نوم ورسره ونه کښل شي، شاید معلومه نه شي چې دغه یا هغه شعر نن او پرون ویل شوی او که په لسمه یا دولسمه هجري پېړۍ کې. او بیا دا چې که زموږ د شعر مفاهیم

**همداسې په مبتذل ډول دوام وکړي شاید د معاصر شعر د رشد لپاره د امکاناتو په لټون کې مو څه بریالیتوب په برخه نه شي. د یوه تقریباً ښه عشقي شعر نمونه دلته وړاندې کوم او وینو چې څـومره ښــه او خواږه شعري مفاهیم په کې کارول شوي دي. دا د پخوا وخت یو شعر دی خو یو نسبي ابتکاري شعر یې ګڼلای شو:**

سپیدې مـګر خـیال د چـوولـو لري — چــې زړه تــلاش د تېپېدلو لري
او ښکه به څو وي په زانګو د سترګو — دا هلک وخت د تلو راتللو لري
د وصـل صیـد پـه دعا رام کلـه شي — وحشي خو خوی د ترهېدلو لري
د خـــال دانــې پــه هــوا زړه الـوزي — دا مــرغـــه ذوق د الــوتـلو لري
پــه ښکلـي مخ کې خنتما نه او سي — خط دې نـوبـت د راوتلـو لــري
نــازو نـخرې بـه رسـا قد کوې څو؟ — دا سبر وخت د کــرېدلــو لـري
لکـه سـحر تـاجر په مینه کې ستا — نوبت د خپل ګرېوان څیرلــو لــري.

**معاصر شاعر باید خپل شعر ته د واعظ د خبرو یا د ناصح د پند رنــګ ور نه کړي. هغه باید په شعر کې د لویو او وړو نیمګړتیاوو پر وړانــدې راپورته شي او په خپل شعر کې داسې خبرو ته ځای ور نه کړي چــې له ده پرته پرې حتی ټول عادي خلک هم پوهېږي. هغه باید ژورتیاوې راوسپړي او په ډېر دقت یې راوسپړي. هغه باید په خپل شــعر کــې د خپلې ژبې لپاره نوي مفاهیم وړاندې کړي. د غني دغه شعر همداسې یو نوښت لري او دقت ورته په کار دی:**

## ((پیدایش))

او ما ځان له ساز کړ پخپله جوړ — د خپل خوب نه، د خپل خیال نه
د خپل غم نه، د مستۍ نه — د خپل تول نه، د خپل تال نه
او ماځان له یار کړ پخپله جوړ — د خپل سوز نه، د ارمان نه
د خوبونو نه، د رنګونو نه — د ګلونو نه، د خزان نه
او ما ځان له غم کړ پخپله جوړ — د خندا نه، د خوشالۍ نه
د وصال نه د خمار نه — د بهار نه د لولۍ نه
او ماځان له ژوندون کړ پخپله جوړ — د امید نه، د رڼا نه
د تیارو نه، د ښېرو نه — د غمونو نه د سودا نه
او ما ځان له مرګ کړ پخپله جوړ — د ژوندون نه، د مستۍ نه
د پسرلي د زېړو ګلو نه — د لالونو نه، د ځوانۍ نه

خبره رالنډېږي او وایو چې د نن ورځې شاعران باید یوازې (خبرې) د شعر په نامه وړاندې نه کړي. د نن ورځې شعر د پېړيو پېړيو پخوا زمانو شعر نه دی. خو زموږ ځینې شاعران نه یوازې دا چې د نن ورځې شاعران نه دي، بلکې هغه د پېړيو پېړيو پخوانۍ عنعنه یې هم نه ده یاده او نه پرې پوهېږي.

او د (فضل الحق شیدا) یو بیت زموږ د معاصر پښتو شعر د ابتکار یا تقلید د بحث د پای ټکی جوړوي. موږ یې معاصر شعر او معاصر شاعر ته خطاب ګڼو:

تېل یې وچېږي خپلې وینې په کې ژر واچوئ
هسې نه مړه شي د جونګړو مو ډیوه ملګرو!))

(۳: ۲۶-۴۴).

**ادبي بهیرونه:** لکه څنګه چې دمخه یادونه وشــوه، پــر لیکوالــو سربېره یو شمېر ادبي او علمي مرکزنو هم وخت پر وخت د کره کتنې عملي غونډې جوړې کړي، له هغې جملې څخه په شپېتمو کلونو کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې او په تېره بیا د هغې د ځوانــو لیکوالــو ځانګې وخت پر وخت کره کتنیزې غونډې جوړولې، دې غونډو خپل خپل تاثیرات درلودل. د تنظیمي جګړو پر مهال دا غونډې له منځــه لاړې. وروسته په اویایمو کلونو کې په پېښور کې افغان ادبي بهیر جوړ شو، په دې بهیر کې هره اوونۍ د کره کتنې غونډې جوړېدې، وروسته بیا په کوزه پښتونخوا، کابل، ننګرهار، کندهار، خوست، پکتیا، کندوز، بلخ، لغمان او د هېواد په ګڼ شمېر نورو ســیمو، ولایتونــو او علمــي مرکزونو کې ادبي خوځښتونه رامنځته شول. په دې بهیرونــو کــې د کره کتنې په سوونو عملي بېلګې وړاندې شوي چې تر دې دمه یې په هېواد کې ساری نه و لیدل شوی، دا کره‌کتنیزې غونډې اوس هم ښې په درز کې روانې دي.

# د پنځم څپرکي لنډيز

له هغه وخته چې په پښتو ادبياتو کې ليکنى ادب رامنځته شوى، نــو کره کتنه هم ورسره ټوکېدلې ده. البته دا کره کتنه لــه ادبــي اثــارو څخه جلا د مستقلو اثارو په توګه نه ده ترلاسه شوې، کله چې موږ په لرغوني دوره کې پښتو ادبيات ګورو، نو د کره کتنې محتويات يې هم په متن کې تر سترګو کېږي. په لرغونې دوره کې د (شيخ رضى لودي) او (نصر لودي) په شعري مناظره يا مکالمه کې د نقد لومړني څرکونــه شته، د ابو هاشم ابن زيد السرواني په لومړني ژباړل شوي شــعر کــې هم د کره کتنې محتويات راغلي، د شيخ اسعد سوري قصيده هم کره کتنيزه او انتقادي مالګه لري او همدارنګه د ځينو نورو شــاعرانو پــه شعرونو د کره کتنې ځينې ځانګړنې ليدل کېږي.

د پښتو ادبياتو په منځنۍ دوره کې بيا د لرغونې هغې په انډول د کره کتنې برخه زياته شوه، د روښاني دورې د شاعرانو په اثارو کې د کــره کتنې محتويات راغلي، که څه هم دا نيوکې اکثره پر مذهبي اساساتو راڅرخېدلې، د اخوند درويزه او د هغه د پلويانو اثار چې يوه برخه يې د روښاني غورځنګ پر وړاندې غبرګون و، هم انتقادي محتويات لري. تر هغه وروسته بيا (خوشال) په ډېره غوڅه ژبه د دواړو جريانونو پــر اثارو ډاګيزه کره کتنه کړې ده. د خوشال په منظومو او منثورو اثــارو دواړو کې د کره کتنې جوهر شته، خو په منظومو اثارو کې يــې کــره

کتنیز جوهر زیات ځلېږي. تر خوشال وروسته هم د منځنۍ دورې ګڼ شمېر شاعرانو په خپلو شعرونو کې د کره کتنې محتوا ځای کـړې، د شعر او نظم په ژبه یې د نورو شاعرانو د شعرونو شننه او ارزونه کــړې ده. خو په منځنۍ دوره کې چې خوشال کره کتنې ته ځومره پاملرنــه کړې، بل هېڅ شاعر او لیکوال د کره کتنې په برخه کې دومره کار نــه دی کړی. خوشال له خپل ځانه نیولې، بیا تر خپلې کــورنۍ، قبیلــې، ټولو پښتنو او ټولو افغانانو پورې پر هر یوه پر خپل ځــای کــره کتنــه کړې ده. پر خپل چاپېریال او په هغو کې یې د ملایانو او نورو په ګډون پر بېلابېلو ټولنیزو کرکترونو ټینګې نیوکې کړي او په دې دوره کې د یوه لوی کره کتونکي په توګه ځرګند شوی دی.

د پښتو معاصرو ادبیاتو په بېلابېلو پړاوونو کې کره کتنــې تــه زیاتــه پاملرنه وشوه.

ددې دورې په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېلې ادبي ټولنې جوړې شوې، کره کتنیزې غونډې یې جوړې کړې او مستقل اثار یې رامنځته کړل. د سیدرسول رسا (ادبي نقد)، قلندر مومند (تنقید) د مولوي محمــد اسرافیل له خوا ترجمه کړی (کتاب الشــعر)، د کاندیــد اکاډمیســین محمدصدیق روهي (د کره کتنې تاریخي پس منظــر او معیارونــه)، د پوهاند محمدرحیم الهام (ادبي کره کتنه) او ځینې نور اثار د یــادونې وړ دي.

د شلمې پېړۍ پ بهیر کې د پښتو کره کتنې په برخه کې ګــڼ شــمېر لیکوالو لکه، استاد عبدالحی حبیبي، استاد الفت، استاد صــدیق الله رښتین، پوهاند عبدالشکور رشاد، پوهاند دوکتور بهاوالدین مجروح،

دوکتور حبیب الله تږی، کاندید کاندمیسین محمدصدیق روهي، استاد سعدالدین شپون، دوکتور مجاوراحمد زیار، حبیب الله رفیـع، زریـن انځور، لطیف بهاند، دوست محمد خان کامل مومند، قنلـدر مومنـد، ایوب صابر، همېش خلیل، مهدي شاه باچا، افضل رضا، قمر راهي، ایاز داودزی، محمداعظم اعظم، پروفیسـور سـیال کـاکړ، صـاحب زاده حمیدالله او نور ګڼ شمېر لیکوال او کره کتونکي د یادونې وړ دي.

# د پنځم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-په پښتو لیکني ادب کې د کره کتنې څرک له کومه وخته لیدل کېږي؟
۲-د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې کومو لیکوالو پر یو بل کره کتنې او یا نیمه کره کتنې کړي دي؟
۳-د خوشال د کره کتنې، کرکترونه، چاپېریال او محتویات کوم دي؟
٤-ایا موږ په پښتو لرغونې او منځنۍ دورو کې د خوشال په شان بل کره کتونکی لرو؟
٥-خوشال ولې کره کتنې ته ډېره پاملرنه کړې ده؟
٦-د پښتو د معاصرو ادبیاتو په پیل کې کومو لیکوالو کره کتنې ته ډېره پاملرنه کړې ده؟
۷-په معاصره دوره کې له پښتو ادبي اثارو سره د کره کتنیزو اثارو اندول برابر دی؟
۸-په معاصره دوره کې کوم کره کتنیز اثار د تائید او کوم د تامل وړ دي؟
۹-د لیکلو اثارو ترځنګ ادبي بهیرونه هم دکره کتنې د بهیر لپاره موثر دي او که نه؟
۱۰-کومې ستونزې دي چې په معاصره دوره کې یې پښتو کره کتنه ډېرې ودې ته پرې نښوده؟

# سپارښتنې

۱-محصلین دې په خپلو څېړنو هغه پښتو اثار او کره کتونکي په ګوته کړي، چې په دې اثر کې يې یادونه نه وي شوې.

۲-هر محصل دې له خپل لیدلوري پــه معاصــره دوره کــې د پښــتو کره‌کتنې پر ستونزو یوه تحلیلي او څېړنیزه لیکنه وکړي.

# شپږم څپرکی

# د کره کتنې ډولونه

څومره چې د ادبیاتو محتوایي او شکلي ډولونه زیاتېږي، د کره کتنې ډولونه او د ادبیاتو د تشریح او توضیح میتودونه او لارې چارې هم ورسره زیاتېږي.

ادبپوهانو کره کتنه د خپلې محتوا او تخصص له امله پر بېلابېلو برخو وېشلې ده. سره له دې چې پر بېلابېلو ډولونو او په تېره بیا د کره کتنې د وېش پر ثابت شمېر د کره کتونکو د نظر یووالی نه شته، خو پر دې ټول ادبپوهان متفق دي، چې کره کتنه په لومړي سر کې پر دوو ډولونو: (نظري او عملي کره کتنې) وېشل کېږي.

[نظري نقد یو لړ اصول او روشونه رانغاړي، چې د همدغو روشونو په مرسته په نظري کره کتنه کې له ادب او هنر سره د مربوطو مسایلو او مباحثو ارزونه کېږي، جاج یې اخیستل کېږي او د ادبي مېچونو او چنهولو له لارې د تخلیقي اثارو د معیارونو تجزیه او تحلیل کېږي.

ادب څه شی دی؟ کره کتنه څه ارزښت لري؟ له تخلیق سره د کره کتنې څه ارتباط دی؟ نقاد څه مقام لري؟ او د بېلابېلو ژانرونو د فني ښېګڼو او بدګڼو د ټاکلو لپاره د لارښودو اصولو تشکیل او تحلیل، د دغو او داسې نورو پوښتنو لپاره د ځوابونو پیداکول، د نظري نقد کار دی. یوازې دانه، بلکې د لوړو ټولو پوښتنو پر ټولو ځوابونو نقد هم په

نظري نقد کې شاملېږي، یا په بله ژبه نظري کره‌کتنه، د کره کتنې کره کتنه هم ده.

کله چې د نظري نقد د وضع شویو اصولو په رڼا کې او یا د یــوې بلــې ذریعې له لارې، د ادبي تخلیقي اثارو ښېگنې او بدگنې وښودل شي، نو دې کار ته بیا عملي نقد ویل کېدی شي. د عملي او نظري نقد لــه جلا او ځانگړو یادونو څخه مطلب دا نه دی، چې گونــدې مــوږ کــره کتونکی هم په عملي کره کتونکو او نظري کــره کتونکــو ســره جــلا کولای شو؟ اصلي خبره داسې نه ده، ځکه چې یــو کــره کتــونکی د کره‌کتنې د نظریو د جوړونې تر څنگه عملي نقد هم کولای شي.

د یو څېړونکي په وینا: (( د کره کتنې د نظریو او عملــي کــره کتنــې ترمنځ بېلتون تر زیاته حده مصنوعي دی، خو په دغــو دواړو ډولونــو کې توپیر کول کاري ثابتېږي. دا پوښتنه چې ادب څه شی دی؟ او یا د یو خاص ادبي اثر د ځانگړنو د ښودلو عمل که څه هم په خپلو منځــو کې سره مربوط او هماهنگ ښکاري، خو دغــه دواړه د یــو ځــانگړي نوعیت لرونکی دی او د هغو ځانگړې مطالعه په یقیني ډول د اثر پــه پوهېدنه کې د صراحت او اسانتیا سبب گرځي.))

په دې لړ کې دا هم باید په نظر کې ولرو، د نظریې جوړونې لپاره چــې ځومره اساسي او ژور فلسفیانه شعور، منطقي استدلال او رسا ذهــن ته اړتیا لیدل کېږي، هماغومره زیاتره نقادان لــه دې ذهنیــت څخــه محروم دي، نو له همدې امله د خپلو نظریاتو په رڼا کې پر خپلو نظریو ولاړ عملي کره کتونکي ډېر لږ پیــدا کېــږي. کــه کــوم ســتر نظریــه جوړوونکی دومره همه گیر ثابت شي، چې ډېر نور نظري کره‌کتونکي

ترې بالواسطه یا بلا واسطه ګټه واخلي، نو په دغسې مــواردو کــې د هغې نظریې انفرادیت یوازې په هغه حالت کې ټینګ پــاتې کېــدلای شي، چې دوی په پټو سترګو د چا تقلید، ونه کړي.

ددې لپاره چې موضوع یو څه نوره هم روښانه شي، غواړو د نظري او عملي کره کتنې په باب لږ څه نوره رڼا هــم واچــوو او د کــره کتنــې ډولونه له همدې نظري کره کتنې پیل کړو:

## ۱-نظري کره کتنه:

د نقد ددغه ډول بل نوم Literary Aesthtics هــم دی. دا ډول نقــد د بېلابېلو ادبي او تنقیدي مسایلو په باره کې پــر مبــاحثو او نظریــاتو خبرې لري. ځینې ادبپوهان پر همدې اساس وایي موږ دا ډول نقــد د کره کتنې د ځانګړي ډول په توګه نه شو منلای. ځکــه د ارســطو لــه بوطیقا څخه نیولې د نن ورځې تر کره کتونکو پورې ټول نقــادان پــه پرله پسې ډول د نظریاتو پر نوي کولــو او جوړولــو مصــروف دي. پــه انګلستان کې د اسپانیا او ایټالیا د کره کتونکو په څېــر J.C.Scaliear او vives تر اغېز لاندې د (سډني) په زمانه (۱۵۷۰ع) کې نظریاتي نقد لږو ډېر ظهور وکړ او په غالب ګومان د (رچرډ ډیلز) کتاب De,poetical کولای شو، د نظریاتي نقد په لاره کې لومړنی اثر حساب کړو. دا کتاب پر (۱۷۷۳ع) کال خپور شوی دی. په شپاړسمه پېړۍ کې (سډني) تر ټولو زیات مشهور شو، ګواکې دی بالعموم لومړنی انګرېزي نقاد منــل کېږي، خو دده د مشهور تالیف د لیکنې تــاریخ پــه بــاب د نظریــاتو

اختلاف دی دی. عام قیاس دادی چې دا اثر پر (۱۵۸۰ع) کال پای تــه رسېدلی دی او یا پر ۱۵۸۱ع کال بشپړ شوی دی، البته دا کتــاب دده په ژوند کې چاپ نه شو، بلکې دده تر مړینې نهه کالــه وروســته پــر ۱۵۹۰ع کال چاپ شو. ددې کتاب دوه ایډېشنه خپاره شوي دي، پــه یوه ایډېشن کې یې نوم Anapology for poetire او په بل ایډېشن کــې یې نوم The Defence of poesie راغلی و او له دې څخه ښکاري چــې مسوده یې بې عنوانه وه.

دا د نظریاتي نقد پیل و او تر دې وروسته ددغه ډول نقد په پانګه کې زیــاتوالی راغـــی او لکـــه: (هـــابس)، (اډیســـن)، (بـــرک)، (کـــولرج)، (میتوارنولډ)، (اوتی)، (اس ایلیت) او نورو له ادبیاتو او نقد سره تړلــي مباحث له فلسفیانه مسایلو سره اشنا کړل.

لنډه دا چې نظري نقد د یوه ادبي اثر د ارزونې په باب نظر یې وړاندې کوي، په حقیقت کې د نقاد د نظریو یوه مجموعه ده چې په دې کې د کره کتنې معیارونه پرنیسپونه او میتودونه ټول شاملېږي.

## ۲-عملي کره کتنه:

عملي کره کتنه د کره کتنې تطبیقي اړخ دی. په دې کره کتنــه کــې هغه اصول، معیارونه او پرنسیپونه چې په نظري کره کتنه او یا هــم د کره کتنې په نورو ډولونو کې بیان شوي، هغه په عمل کې پلي کېــږي یا د هغو په رڼا کې یو اثر شنل کېږي. عملي کره کتنه تر نظــري هغــو

ځکه سختته ده چې دلته ټول معیارونه او پرنسیپونه عملاً پر یــو اثــر تطبیقېږي.

عملي کره کتنه له عملي بېلګو پرته ممکنه نه ده. یو اثر باید موجــود وي، چې پر هغه د کره کتنې عملیه تطبیق شي. په دې مرحلــه کــې باید له ډېر احتیاط څخه کار واخیستل شي.

له نظري کره کتنې سره د نظریاتو اختلاف وي، خو دا اختلافــات لــه عملي کره کتنې سره ډېر زیات دي، که په عملي کره کتنې کې له ډېر دقت څخه کار وانه خیستل شي، نو د کره کتنې او کره کتــونکي پــر وړاندې ډېرې ستونزې راولاړولای شي. ( په پښتو اوسني شعر کــې د نوښت مساله) لیکنه چې مخکې راوړل شوه، د عملي کره کتنې یــوه بېلګه ده، چې دلته د شعر یا نظم عملي بېلګې راوړل شوي او پر هغو کره کتنه شوې ده. عملي کره کتنه کېدی شي د هنري ادبي اثر پر هر ډول ترسره شي.

## ۳-تاریخي کره کتنه:

تاریخي نقد یا کره کتنه د نقد یو ډول دی، چې ځینو کره کتونکو هغه د نقد یو ځانګړی ښوونځی او ځینو یو ډول معرفي کړی دی. د (کــره کتنیز او ادبي ښوونځي) څېرکي کې مو دې ډول کره کتنې ته ځینې اشاره کړې ده. باید وویل شي چې د ادب په تخلیق کې ډېر او بېلابېل عوامل دخل لري، د ادبي ایجاد ګر لــه خــوا قلــم او چتــول او د اثــر ایجادول کومه میخانیکي بڼه نه لري، بلکې د هغه تخلیقي شعور تــه

خاص جهت ورکول، په پوره اندازه یو پېچلی عمل دی. څنګه چې ډېر ځله د محرکاتو او عواملو له یوځای کېدو څخه خاص نظــر را زېــږي، ددغو عواملو او محرکاتو شننه او بیا د هغو د اهمیت ټاکنه د نقد پــه مهمو مسایلو کې راځي، ددغه مقصد لپاره پر ادب او ادبــي ایجــادګر باندې د تاریخي حالاتو او حوادثو د اغېزمنۍ کتل او جــاج اخیســتل لازمي بربېښي او په نقد کې تاریخي نظریه یا ښوونځی د همدې اړتیا د پوره کولو لپاره رامنځته شوی دی. (عابد علي عابــد) پــه خپــل اثــر (اصول انتقاد ادبیات) کې کښلي دي:

(( په تاریخي لحاظ د ادبي انتقاد منظم پیل د اوه لســمې پېــړۍ لــه ابتداء څخه شوی دی. پر ۱۶۷۵ع کال د (دنپلز) فلسفي رساله (نــوی علم) خپره شوه. دا رساله د تاریخ پر فلسفه بحث کوي. په دې رساله کې غالباً په تاریخ کې لومړی ځل د ادب د اجتماعي تعبیــر کوښــښ وشو او وروسته تر دې دغه تصویر ډېر زیات مقبولیت وموند، چــې د هنر او ادبیاتو مطالعه او تشریح او تعبیرول له دې لوري په کــار دي او دا خبره واضح شوه، چې د ادبیاتو او هنر د پوهېدنې لپــاره لازم دی، ټول هغه سیاسي، اجتماعي، تاریخي او فرهنګي حالات باید مطالعــه شي، چې ادبیات یې تر اغېز لاندې ایجاد شوي دي.

له زماني او مکاني اړخ سره سره (جانسن) دغه ډول نظر وړاندې کړی دی، لکه: (( د یوه تخلیقي اثر په باره کې د سمې پرېکړې لپاره موږ اړ یو، چې د هغې زمانې عمومي فضا ځانته ښکاره کړو او دا وښیو، چــې خلکو څه ډول ژوند کاوه، د خلکو غوښــتنې څــه ډول وې؟ او ادبــي

ایجادګر د خلکو د غوښــتنو د پــوره کولــو لپــاره څــه ډول وســایل استعمال کړي دي.))

(جانسن)، د (ایډمنډ شیرر) Edmondscherer په څېر تاریخي نقاد نــه و، خو له دې اقتباس څخه ضرور دومــره څرګنــدېږي چــې پخوانیــو نقادانو ته هم د تاریخي عواملو ارزښت څرګند و او پــر اهمیــت یــې پوهېدل.

د تاریخي نقد منظم پیل د فرانسوي نقاد (ایډمنډ شــیرر) لــه زمــانې څخه ګڼلای شو. ده پر (ملټن) باندې د (والټر)او (میکــالی) انتقــادي نظریات مطالعه کړي وو. (شیرر) پر دې خبرو ټینګار کاوه چــې د یــو ادبي اثر په انتقادي مطالعه کې باید تر ټولو دمخه شخصي خوښه یا نه خوښه او د خپلې زمانې ادبي تعصبات یوې خواته کېږدو او اثــر تــه د خپلو شرایطو په رڼا کې کتل په کار دي. ددې مقصد د ښه ترسره کولو لپاره د ادبي اثر د مفصلې او هر اړخیزې کتنې تر څنګ د ادبي اثــر د ایجاد ګر شخصي ژوند، د هغه د ژوند زمانه، ماحول او په هغه زمانــه کې د سیاسي، اجتماعي او ادبي عواملو شننه او کتنه هم ضرور ده او دا باید ښکاره شي چې دغو عواملو پر ادبي اثر بانــدې پــه څــه ډول مثبت یا منفي اغېز ښندلې دی.

د ریچارډ مولټن (Rechard Moulton) په څېر (شیرر) هــم لــه معیــار ټاکنې او درجه بندۍ سره مخالف دی، دده په خیال د نقاد وظیفــه دا نه ده، چې دی د ادبي اثارو بیه وټاکي، د نقاد وظیفه داده چې دی په بېطرفۍ سره د تاریخي او نورو عواملو په رڼا کې ادبي اثر وشني او بیا د اثر د معیار او ارزښت پرېکړه لوستونکي ته پرېږدي. فرانسوي نقــاد

(سان) د (شیرر) نظریاتو ته زیاته پراختیا ورکړه. پته دې نه وي چې (سان بو) خپل علمي ژوند د طب له مطالعې څخه پیل کړی و. د همدې لپاره دی په نقد کې د نسل او نسلي وراثت اغېزمنۍ ته هم په زیات اهمیت قایل دی او په همدې علت دی وایي چې د ادبي اثر تر مطالعې دمخه د ادبي ایجاد ګر مطالعه هم ضروري ده. ده یو ځل یو ځای ویلي وو: (( زه ادب او ادبي تخلیق له انساني تنظیم څخه کوم بېل څیز نه ګڼم)).

د (سان بو) نظریاتو ته بیا بل فرانسوي نقاد (دالاتین) زیاته پراختیا ورکړه، (تین) د ادب د تفهیم او د تخلیقي محرکاتو د شننې لپاره پر خپلو وضع کړیو اصولو تر دې حده ټینګار کاوه چې هغو د یوې خاصې فارمولې حیثیت ځانته غوره کړی و، هغه فارموله داده: (نژادي ماحول او د تخلیق شېبه) ددې نظریې له مخې ادیب د خپلې زمانې پیداوار دی هغه له یو خاص نژاد سره تړلی دی او په یو جلا ټولنه کې زېږېدلی دی او سربېره پر دې د کوم ځانګړي مقام او تاریخي شېبو د خاصو اثراتو له یوځای کېدو څخه دده شخصیت جوړ شوی، ادبي شعور او تخلیقي استعداد په یو مخصوص قالب کې اچوي او په یو خاص ډول د اظهار جامه وراغوندي.

تاریخي کره کتنه له دې امله هم ډېر اهمیت لري، چې لومړی ځل یې د هغو اجتماعي عواملو تاریخي محرکاتو او نژادي اثراتو اهمیت څرګند کړ چې په یو ډول نه یو ډول د ادیب شخصیت په یو خاص قالب کې اچوي او د تخلیقي شعور لپاره یې په یو مخصوص انداز کې سره تنظیموي. څنګه چې تاریخي نقد یوازې هغو مسایلو ته اهمیت

ورکوي، چې سرو کار ورسره لري، نو د همدې لپاره ډېر ژر يې خـــامۍ هم څرګندېږي.

(متيو ارنلډ) ځان له افراط او تفريط څخه ساتي او د تاريخي نقــد پــه باره کې ډېر زيات متوازن نظر ورکوي، دی ليکي: (( په موجوده زمانه کې تاريخي نقد ډېر مهم او مشهور دی، خو ددې خبرې يادوه هم پــه کار ده، چې که ووايو يوازې ددې مطالعې له لارې د ادب سم تفهــيم کېدی شي نو دا يوه خطرناکه نظريه ده.))

د ايران مشهور ليکوال او کره کتونکي عبدالحسين زرينکــوب بيــا د تاريخي کره کتنې په باب وايي: ((که چېرې يو کــره کتــونکی د يــوه ادبي اثر د تحليل او ارزونې لپاره، تاريخي حوادثو، يا هم تاريخ پــورې نورو اړوند مسايلو ته لاس وروړي، يا هم د يو شاعر شعر څېړي او يا د هغه همعصره شاعرانو اثار تحليل کېږي، يا د اثــارو تــاريخي قــدامت څېړل کېږي، دغه ډول کره کتنې ته تاريخي کره کتنه ويل کېــږي. دا ډول کره کتنه د کره کتونکي د استعداد په اندول د هغه ډېر زيار تــه اړتيا لري، ځکه چې په دې ډول کره کتنه کې يوه اثر تــه لــه ذوقــي ليدلوري ډېر نه کتل کېږي. ځکه نو کره کتونکی د يو اثــر لــه هنــري درک او ارزښت څخه عاجزېږي. په دې ډول ويلای شو چــې تــاريخي کره کتنه د يوه شهکار ادبي اثر پر واقعي تحليل نه بريالی کېږي.))

## ۴- تشريحي او توضيحي کره کتنه:

د (جارج واټن) په خيال تر (۱۶۶۰ع) کال دمخه انګرېزي نقــد قــانون

جوړونکی او یا نظریه جوړونکی نقد و. (ډرایډن) لومړنی نقاد دی، چې په خپل (Dramatic poesie) نومي اثر کې يې توضيحي نقد په عـام او پراخ مفهوم استعمال کړ. دا کتاب پر (۱۸۲۸ع) کال چاپ شو او په یوه وینا د نقد تاریخ له ده څخه پيلېـږي او پـر همـدې اسـاس (ډاکتـر جانسن) دی د ((نقد بابا)) بللی دی؛ پـه دې بـاب دده خپـل الفـاظ دادي: ((ډرایډن بې له شکه د انګرېزي نقد بابا ګڼلای شو، ځکه چـې ده لومړی ځل ادبي اثار د ستاينې د اصولو په رڼا کې راوپېژندل.))

## ۵- ښکلاییزه کره کتنه:

ادبپوهان په دې نظر دي چې د ښکلاییز نقد او د هغـه د اصـولو تـر مطالعې او کتنې دمخه د ښکلا پوهنې اجمالي مطالعه هم ضروري ده، ځکه چې له ښایسته زیاتې زمانې څخـه، د شـاعرۍ او نـورو ښـکلو هنرونو په نقد کې ښکلا پوهنه له ډېرو مهمو مباحثو څخـه شـمېرل کېږي. د ښکلا پوهنې مطالعه له دې پلوه هم مهمه ده، چې په ښـکلا پوهنه کې د (کروچه) په څېر فلاسفه هم تېر شـوي دي، د (کروچـه) مفکورې د ادبي نقد پر معیارونو او له هغه سره پر تړلو مباحثو له یوې نوې زاويې څخه رڼا اچوي.

(ذموقراطیس) لومړنی فیلسوف دی، چې د هغه په اقوالو کې مـوږ د ښکلا پوهنې په باب ځینې اشارې پیداکولای شو، خـو دده افکـار د ښکلاپوهنې په اړه اساسي اهمیت نه لري، ده په منظمه توګه د ښکلا پوهنيزو مفکورو د وړاندې کولو کوښښ نه دی کړی او دا خو افلاطون

و، چې په منظم ډول یې دې خوا ته مخه وکړه او په خپلو اثارو کې یې له ښکلاپوهنې سره تړلي اصول او قوانین تدوین کړل.

اوس په دې برخه کې له تاریخي کرونولوژیک بحث څخه تېرېږو او اصلي مسئلې ته راځو او ګورو چې حسن او د هغه رنګارنګ مظاهر په یو نه یو ډول انساني ژوند اغېزمن کړی دی، خو تراوسه د هغه د ماهیت ژوره مطالعه لانه ده شوې او په همدې علت د هغه جامع تعریف موږ نه شو وړاندې کولای. دا په دې مانا چې له خالص جسماني نظري لوري نیولې تر صوفیانه نظریاتو پورې په دې باب بېلابېلو خلکو د کره کتنې زیارونه ایستلي دي او د ځوانۍ د خوب غوندې، د ښکلا هم په سلګونو تعریفونه دي، خو خبرې لا هسې بنیاد نه دی پیدا کړی او ددې وجه داده چې د نېکۍ، شر، خیر، محبت او نورو په څېر حسن هم یو مجرد کیفیت دی. ارسطو چې د استنباطي منطق د تعریف لپاره څومره قواعد وضع کړي دي، د هغو اطلاق د هغو پر مجردو کیفیاتو نه شي کېدی، دغسې د رنګونو د حسي تاثر، له محسوسولو سره موږ د ژېړ، سور او نیلي رنګ تعریف نه شو کولای. دا د انسان بدمرغي ده چې حسن ګوري او د هغه له ساحرانه کیفیاتو مدهوش کېږي، خو خپل دغه احساسات په الفاظو کې نه شي راوستلای، پر همدې اساس د حسن په باره کې چې کوم تعریفات وړاندې شوي دي، هغه یوازې د الفاظو شعبده بازي ده.

اوس یوه ډېره با اهمیته پوښتنه دا راپیدا کېږي، چې حسن انسان څنګه متاثر کولای شي؟ او ددې وجه څه ده چې د ګلاب ګل،

کهکشان، سرې شونډې، نیلي سترګې، شفق، د بـــوډۍ ټـــال او نـــور څنګه پر انسان تاثیر کولای شي؟

په دې لړۍ کې د ښکلا او د هغه د لیدونکي ترمنځ یوه اړیکه یا رشته شته او هغې ته لوی اهمیت حاصل دی، موږ په ښکلا کې لــه اســراره ډک یو کشش حس کوو او موږ ددغه کشش له امله په ښکلا کې یــوه لېوالتیا محسوسوو. دلته بیا سوال پیداکېږي، دا لېوالتیا د څــه شــي زېږنده ده؟ دا لېوالتیا تخیل رازېږوې ده؟

د ښکلا په باب تر لوړې اجمالي او لنډې یادونې وروسته، د ښـــکلاییز نقد وار رارسي، خو په پیل کې یوه خبره څرګنده په نظر راځي، چې د نقد هره طریقه تر یوه حده پورې د اظهار او ابــلاغ پــه وســیله کــې جذابت پیدا کوي، خو ښکلاییز نقد، د نقد له نورو ښـــوونځیو پـــر دې پیلېږي، چې په دې نقد کې د ښکلا او ښکلاییزو مســـایلو مطالعــه د تنقید اساس نه منل کېږي او پر دې سربېره کوم بل څیز هم نه مني، د همدې لپاره یو ښکلاییز نقاد په ادبي تخلیقاتو کې د حســـن او زړه راکښون د ځانګړنو تحلیل ته په خپل قضاوت کـــې اساســـي اهمیـــت ورکوي.

د ښکلا پوهنیز نقد اصطلاح مشهوره او زیاته ده، خو زیاته پخوانۍ نه ده، حال دا چې د حسن فلسفه، حسن او ښکلا زیات پخواني دي.

دا چې د ښکلاییز نقد اصطلاح ولې پخوانۍ نه ده، وجه یې داده چې د ښکلا پوهنې اصطلاح تر دوو سوو کلونو زیاته پخوانۍ نه ده.

(بام ګارټن) (۱۷۱۴- ۱۷۶۲ع) تر هر چـا دمخــه د ښــکلا Aesthetics اصطلاح وضع کړه. دا اصطلاح ډېره پخوانۍ نه ده، خو دغه الفاظ بــې حده پخواني دي. او دا ټول له دوو یوناني لفظونو څخه مرکب شــوي دي او مطلب یې داسې شی دی چې د پنځه ګونو حواسو پــه وســیله یې درک کېدل ممکن وي، خو (ګارټن) دا پخپله تر لغوي حده پــورې نه محدودوي او په عام ډول یې د ښکلا فلسفې لپاره استعمالوي.

د ښکلاییز نقد اساسات د حسن د هغو مظاهرو پر ادراک پورې تړلــي دي، چې ادبیات یې پــه یــو نــه یــو ډول اظهــار وي. د ادبــي اثــر د پنځوونکي شعوري ژورتیا چې کله د حسن لــه صــورت منلــو ســره مرسته کوي او یا یې په یوه ځانګړي بڼه اظهاروي، نو دا بیا ښــکلاییز تخلیق دی. ښکلاییز نقد هم د ښکلا او هنر له بېلابېلو صورتونو سره تر حده زیاته لېوالتیا لري، چې ښکلا څه شی دی؟ او تر دې هم مهمه دا چې څه شی ښکلا نه ده؟ ایا د حواسو په وســیله د حســن بشــپړ ادراک ممکن دی؟ ایا ادبي ایجاد ګر د بشپړ حسن په اظهار قادر دی؟ ایا لوستونکی په ادبي اثر کې د حسن د وړانګو د لیدنې  او کره کتنې د صلاحیت حامل دی؟ له دغو سوالونو او ځوابونو څخــه د ښــکلاییز نقد معیارونه جوړېږي، خو که په دقیــق ډول وکتــل شــي، دا ګــرده سوالونه د نوعیت په لحاظ فلسفیانه دي.

په ادبي تخلیق کې د حسن د مخصوص کیفیت د اندازه کولو لپــاره د ښکلاییز مېچ اصطلاح استعمالوي. پــه دې ضــمن کــې کلــه کلــه د جمالیاتي حسن د اصطلاح نوم هم اورېدل کېږي او د همدغه حســن په وسیله هر انسان له ښکلا څخه تر یــوې انــدازې پــورې د خونــد

اخیستلو صلاحیت پیدا کوي. ګنې د ښکلا د ادراک لپاره انسان پنځه ګونو حواسو ته اړ دی، خو له دغه ادراک سره تړلي کیفیـات د خپـل بې حده لطف له امله د انسان په زړه کې خپې او په روح کې مســتي پیداکولای شي. د لطیفو احساساتو د څښتنانو شدید ښکلاییز حس په نسبي ډول زیات قوي وي. همدا حس لومړی د ایجـادګر شـعور او وجدان په یوه بڼه اغېزمنوي، بیا د همدې ښکلا تر اغېزې لاندې دې ایجاد ته تمایل پیداکوي، خپل دغه کیفیات په یوه ځانګړي قالب کې اچوي او د نړیوالو مخې ته یې د یوه هنري اثر په بڼه وړاندې کوي. په دې ترخ کې د لطیف حس، سـلیم مـذاق، ذوق او وجـدان غونـدې اصطلاحات هم استعمالېږي او ددې ټولو مطلب دادی چې د همـدغو ذوقونو په مرسته انسان له یوه هنري اثر او د هغه له بېلابېلو کیفیاتو څخه د خوند اخیسـتلو صـلاحیت لـرلای شـي. تـر دغـو اساسـي اصطلاحاتو وروسته باید ووایو، چې ښکلاییز نقـد، د نقـد لـه نـورو ډولونو سره په ځینو اساسي مسایلو کې د بېلوالي لـه املـه ځینـې اساسي توپیرونه لري، یانې دا چې د ادبي اثـر د تشـریح، تفهـیم یـا ارزښت ټاکلو لپاره د هغه د بېلابېلو اجزاوو یا مهمو خصوصیاتو تحلیل نه کوي، دویمه دا چې د اثر د ارزښت د ټاکنې لپاره پرېکړه خو کوي، خو دغه پرېکړه د نقد پر ځینو اصولو، یا ژبنۍ قاعدې او کومې هنري طربقي باندې د ټینګښت زیـار نـه باسـي او ددې مقصـد لپـاره لـه پخوانیو مهمو انتقادي نظریاتو څخه د مرستې غوښتلو کوښـښ نـه کوي.

ښکلاییز نقد په اصل کې (ادب د ادب لپاره) د مفکورې ضمني زېږنده و. ددې نظریې له مخې ادب له ژوند سره کوم تعلق نــه درلــود او پــر همدې اساس ښکلاییز نقد هم له ژوند او د ژوند له مختلفو مظــاهرو سره خپل اړیکي شلوي.

(ادب د ادب لپاره) نظریې په څېر ښکلاییز نقد هــم د جــان رســکن (John Ruskin) د معیار خوښوونې او اخلاق پالنې پر ضد یــو عکــس العمل ګڼلای شو او ښایي پر همدې اساس وي چې ښکلاییز نقاد هــم هر هغه شی چې د ښکلا او له هغې څخه د حاصل شوي خوند خلاف وي، د هغو پر مستردولو ټینګــار کــوي. والترپیټــر (Walter peter) د ښکلاییز نقد مهم مخکښ ګڼلای شو، ده چــې د خپــل کتــاب ( The Reaiscance) په سریزه کې د کومو خیالاتو بیان کړی دی، هغــه پــه حقیقت کې د ښکلاییز نقد نچوړ دی. ددې سریزې پر بنسټ کله چې ښکلاییز نقاد د کوم ادبي ایجادګر د اثارو شننه کوي، پر دغــه خبــره ورته فکر په کار دی چې دغه اثر پر ذهن څــه ډول نښــې پرېــږدي او اغېزمني یې تر کومه حده ثابتېږي؟ ښکلاییز نقاد دغه ډول ســوالونه پیداکوي: دغه ادبي اثر څه شی دی؟ ددغه اثر له مطالعې څخــه څــه ډول اثرات را زېږي؟ له هغه څخه خوښي پیداکېږي که نه پیدا کېــږي او بالاخره دغه خوښي څه ډول خوښي ده؟

دده په فکر د ښکلاییز نقاد فریضه هم ده، چې هغه د ادبي اثــر هغــه خواوې راڅرګندې کړي، چــې د خپــل حســن پــر بنســټ د خونــد موجبات جوړوي. په دې ترڅ کې به ده د ځینو ښکلاییزو اغېزمنیو د

ماخذونو وضاحت کاوه او ورسره به يې پر دې خبره هم رڼا اچوله چې دغه اغېزمني څنګه رامنځته کېږي.؟

په اوسنۍ زمانه کې د ايټالوي فيلسوف (کروچې) افکارو هم پر ښکلاييز نقد ژور اغېز پرې ايښی دی. هغه په ښکلا پوهنه کې د (Expressionism) له بنسټګرو څخه دی. دی په ځينو برخو کې (والترپيتر) او (اسکروواېلډ) ته نږدې دی. د مثال په ډول (کروچه) هم د هر ډول موخې او خارجي حقيقت ليکنې مخالف دی. دی له ادب څخه له ښکلا له پرته د بلې هرې افادې د اوچتولو مخالف دی. (کروچه) د ادبي پنځونو د ښکلاييزو کيفيتونو پر سم ابلاغ باندې ټينګار کوي. په نقد کې تجزيه، تحليل او عقلي جواز ضروري او مهم نه ګڼي، دده په فکر په يوه هنري اثر کې د حسن د بشپړ ابلاغ قوت په خپله يو ضرورت دی، نو پر همدې اساس په هنري اثر کې د اخلاقو، مقصد او منطقي صداقت تلاش بې ګټې کار دی، ځکه چې تخليق ځانته د ښکلا خپل جهان دی. د تخليق د ښکلا په دې جهان کې د عقل نه، بلکې د وجدان سکه چلېږي. هغه، تجزيه او تحليل د نقد لپاره نا ضروري څيز ګڼي، دده په فکر مانا، صور، مواد، اډانه او اسلوب دا ګرده عناصر په يو ناوېشلي لوړوالي کې د ښکلا د ابلاغ سبب ګرځي، له وجدان څخه مرسته غواړي او له هغه څخه ګټه اوچتوي، چې په علمي طريقو سره ددې چارو تحليل ممکن نه دی.

د (کروچه) په فکر تخليق تر څلورو مرحلو وروسته بشپړېږي.

۱- تر ټولو دمخه پنځوونکی اغېزمن کېږي.

۲- تر دې وروسته د خپل تخیل او ښکلاییز ذوق په مرسته په یو نوي ډول د خپل ذهن او وجدان له امتزاج څخه کار اخلي، چې دی ورتـه (Expression) وايي.

۳- له دغه وجداني ترکیب او امتزاج څخه پنځوونکی ښکلاییز خوند اخلي ( په دې خوند کې دده د اثر لوستونکی هم شریک دی).

۴- تر دې وروسته دغه ټولې اغېزمنې او د هغوی ښکلاییز ترتیـب، د وینا، رنګ، اواز او اهنګ په بڼه نورو ته د رسېدلو جوګه کېږي. (ډاکتر زرینکوب) بیا د ښکلا ییزې کره کتنې په باب وايي((دا هغه کره کتنه ده چې په یوه اثر کې د هغې له خاصې محتوا پرتـه د هنـر ښـکلاییز جوهر څېړي. ددې ډول کره کتنې اساس او ریښه کولای شو په اروپا کې د (کالیریج) او په امریکا کې د (ادګارالن پـوه) پـه نظریـاتو کـې ومومو. (الن پوه) هنر ته د ښکلا پېژندنې له لیدلوري ګوري او په هنر کې د اخلاقو عنصر پردی ګڼي، د ده په نظر هنرمند ته چې کوم شـی اهمیت لري دا نه دی چې کومه خاصه نظریه بیان کړي او کـوم فکـر څرګند کړي، بلکې هغه ته دا مهمه ده چې پر لوستونکي یو واحـد او ټولیز تاثیر پرېباسي. دده په نظر ادبي اثار هغه ودانۍ ده چې یو معمار یې جوړوي، خو کوم څه چې په دې کې ارزښت او اهمیت لري، د هغې انډول او هماهنګي ده.

په فرانسه کې د (پارناس) (هنر د هنر لپاره) ادبي ښوونځي هم په یوه ډول د همدغې کره کتنې بیان توجیه کوي. که څه هم (هنـر د هنـر لپاره) تعبیر د لومړي ځل لپاره (ویکتور هوګو) اعلان کړ، خو وروسته بیا (تئوفیل ګویته) د هغه پر توجیه او دودونې لاس پورې کړ. هغـه د

هنر په باب وايي: (( د هنر ګټه څه شی دی؟ ښــکلیتوب، ایــا همــدا کافي نه ده؟ لکه ګلونه، عطرونه، الوتونکي او نور هغه شیان چې بشر نه شي کولای له خپلې لېوالتیا سره سم یې تغیر او ضایع کــړي. پــه ټولیز ډول هر هغه څه چې ګټور شي، نور نه شي کولای ښکلي اوسي، ځکه چې ورځني ژوند ته داخلېږي.))

## ٦- حکمي کره کتنه:

دا کره کتنه د یو لړ داسې اصولو او معیارونو لــه مخــې کېــږي، چــې دمخه وضع شوي. کره کتونکی د نقد پر وخت پخواني ټاکلي معیارونه مخې ته ږدي او د هغو په رڼا کې د ادبي اثر په هکله حتمــي فیصــله ورکوي. ادبپوهان په دې کره کتنه کې یوه لویه نیمګړتیا دا ګڼي، چې د کره کتنې دا روش له هغو ادیبانو سره زیاتی دی، چې په ادب کــې ارتقا او بدلون ته قایل دي. په لنډه وینا ویلی شو چې د کره‌کتنــې دا لاره په ادب کې د نویو لارو چارو د رامنځته کېدو پر وړاندې لوی خنډ دی.

## ٧- ارواپوهنیزه کره کتنه:

د ارواپوهنیز یا اروایي کره کتنې ښــوونځی اوډول ډېــر زوړ نــه دی، څنګه چې په ډېره لږه موده کې اروا پوهنیزو تحلیلونو د انساني فکر لوری بدل کړ او د مذهب، معاشرې، اخلاقو او ښکلا په اصولو او طریقو کې یې د یو نوي انقلاب هنګامه توده کړه، دغسې اروایيز نقد هــم د ادبي او تخلیقي نظریو په پوړیو کې اساسي بدلونونه راوستل، وینــا او پیغام د بېلابېلو تجربو لپاره د تهیج د برابرولو سبب شو.

د اروايي کره کتنې اساس د (فروید) په نظریاتو کــې نغښــتی دی، د وروستیو اروا پوهانو نظریاتو ورته ژوروالی وباښه او حتی نــن د ایــرا پروګوف (Ira progoff Depth psycoloty) په بڼه اروا پوهنې او د هغې تر څنګ اروايي نقد زیاته پراختیا موندلې ده. د اروايي نقد تــر نقادانــه مطالعې دمخه پر دې خبره پوهېدل په کار دي، چې نن په ادبیاتو کې د اروا پوهنیزو مباحثو مقبولیت او یــا پــه نقــد کــې د اروا پــوهنې د اصطلاحاتو د عام منښت دا مطلب نه دی، چې د کره‌کتنې لــه دغــه ښوونځي څخه ړومبی هېڅکله کوم نقاد له اروا پوهنې څخه کومه ګټه نه ده پورته کړې او نه لــه دې دا پوهېــدل پکــار دي، چــې یــوازې د (فروید) او (ایدلر) او (رژنګ) غوندې د لویو مفکرینو تعلیماتو په ادبي کره کتنه کې اروايي مسایل راداخل کړل او له دغو مسایلو څخه یــې ګټه واخیسته. څنګه چې روحیات د انساني ذهن او دده د چلنــد او کړو وړو د تفهیم نوم دی، نو دا ښکاره خبره ده، چې لــه اروا پوهــانو څخه دمخه هم ځینو خلکو او ایجاد ګرانو له دغسې ذهني کیفیتونو سره لېوالتیا لرله. همدا وجــه ده چــې لــه اوســنۍ اروا پــوهنې او د اروا پوهنې له اصطلاحاتو څخه ناخبره پخوانیو نقادانو، ځینې داســې اروايي څرګندونې کړې وې، چې په هغو کې اروا پوهیز بصــیرت ځــلا موندلې وه، لکه: (ډیوډ ډیشــز) (David Daisches) چــې دی اروايــي پوهه ان تر افلاطونه پورې رسوي. دده په فکر افلاطون چې پــه (Ion) که د ادبي تخلیق د عمل پېچلتیاوې په کوم ډول څرګندې کړې وې، هغه په نفسیاتي طریقې پورې اړه لري.

همدارنګه ایټالوي نقاد لان جینس (Lon Ginus) په خپــل کتــابګوټي (On the subline) کې د خپلې ادبي نظریې د څرګندولو په تــرڅ کــې ځینې داسې افکار څرګند کړي، چې هغه موږ د اروایي نقد تر عنوان لاندې راوړی شو. (ډاکټر زرینکوب) د ارواپوهنیزې کره‌کتنې په بــاب وایي: ((په دې ډول کره کتنه کې کره کتونکی هڅه کوي چې د شاعر او لیکوال باطني او رواني احوال درک او بیان کړي او د هغه استعداد، ځواک او هنري ذوق وسنجوي، د هغه د عواطفو او تخیلاتــو ځــواک وټاکي او له دې لارې هغه تاثیرات چې د چاپېریال، دودونو او ټــولنې له خوا ددې جریان پر ټوکېدو واردېږي، مطالعه کړي. ځکــه نــو کــره کتونکي، د ادبي اثارو د پوهېدنې لپــاره اروا‌پــوهنیزو ارزښــتونو تــه پاملرنه مهمه ګڼي او د کره کتنې د نــورو ډولونــو او برخــو دخــولي دروازه یې ګڼي، په حقیقــت کــې شــعر او ادب د شــاعر او لیکــوال اروا‌پوهنه ګڼي.

د انسان د روح د لیدلورو څېړنه لــه ډېــر پخــوا څخــه د یونــان پــه ډراماتیک شعر کې موجوده وه، وروسته بیا په اروپا کې د (راســین)، (شکسپیر)، (ایبسن)، (متیرلینګ) او (داستایوفســکي) پــه شــان ا شخاصو دې پلټنې ته دوام ورکړ او دې سره یو نوی فکــري فلســفي بهیر، ددې سبب شو چې ادبیات د اروا‌پوهنې له نظره وڅېړي او دا د (فروید) (یونګ) او (ادلر) د نظریاتو تاثیر و.

د (فروید) په نظر: د انسان روان د مــرګ او ژونــد د غریــزې تــرمنځ کشمکش دی. د انسان ارامي د هغه ژوند د غریــزې بریــالیتوب او د نارامۍ هغه یې د مرګ د غریزې بریالیتوب دی.]((۱۸: ۲۱-۴۱).

له لوړو عمومیاتو نه چې ورتېر شو اروايي نقد په عمومي ډول د اثــر جاج داسې اخلي:

ـ د ایجادګر د شخصیت د نفسي اساس پیداکول او بیا د هغه په رڼـا کې د تخلیقي شخصیت مطالعه.

ـ د ارواپوهنیزو اصولو په شیاق او سباق کــې د مخصوصــو تخلیقــي پلټنو تشریح او توضیح او بیا د هغه د ادبي مرتبې ټاکنه.

د اروايي نقد د عمل د دایرې له دې ټکو څخه څرګندېږي، چې اروايي کره کتونکي پر یوه وخت د تخلیقي عمل او ایجادګر له مطالعې څخه یوې نتیجې ته درسېدو کوښښ کوي. تخلیقي عمل د ایجاد په ډګــر کې د ځینو داسې مخصوصــو تعبیراتــو ســبب ګرځــي، چــې دده د شخصیت لپاره د ځینو ارواپوهنیزو ګټو باعث کېږي او هغه د یوه لــه مطالعې سره، د بل مطالعه لازمي ګڼي. که اروايي کره‌کتونکی یــوازې په ایجادګر پورې ځان محدود کړي، نو دا به د روحــي معــالج د کــار خبره وي او که ددې برعکس دی په تخلیقاتو کې د اروایــي مســایلو لټون وکړي، نو دا به بیا د غشي ویشتونکي خبره شي. له اروايي نقد څخه دمخه تاریخي نقد او ټولنیز نقد هم د ایجادګر د شخصــیت او د چلند د محرکاتو د پېچلتیاوو پر پوهېدنه ټینګار کوي، خو په اروایــي نقد کې دې چارې ته زیات ارزښت ورکول کېږي.

د (فروید) د لاشعور نظریه او د هغې پر نتایجو بنــا د اروایــي تحلیــل نظریه اوس هم متنازع فیه حیثیت لري، خو دلته زموږ ددې نظریې له ښه والي او یا بدوالي سره کوم کار نه شته دلته یــوازې دومــره ویــل کافي دي چې اروايي تحلیل، ارواپوهنې ته یوه نوې پراختیا ورکــړه او

ژوروالی يې ور وباښه، لکه څنګه چې د ژوند او هنر د نورو څانګو پــه څېر يې ادبي نقد هم له اغېزمنتيا څخه په امان کې نه پــاتې کېــږي. (فرويد) د نفسي تحليل نظريه د عصبي ناروغانو د شفا لپاره وړاندې کړې وه. اما تر ده وروسته د ده شاګردانو او مقلدينو زيــاتې څېړنــې وکړې او د اروايي مسايلو د اهميت په باب يې مواد راټول کــړل. ددې نظريې ځلېدلو پراخ حيثيت غوره کړ. که څه هم (فرويد) نه ادبي نقاد و او نه ده د خپلو نظرياتو په رڼا کې د ادبي نقد طريقې تــدوين کــړې دي. خو هغه (داستايوفسکي) او نور وو، چې پر دې موضوع يې مقالې وليکلې او د (موناليزا) پر خالق (ليو ناردو) يــې هــم مفصــله مقالــه وليکله. اما د دغو ليکنو لومړنی مقصد د ادبي مباحثو تفهــيم نــه و، بلکې د جنس او د هغه د کارونو دتنوع د څرګندتيا لپاره د شــواهدو ټولول وو.

تر (فرويد) وروسته د ده شــاګردانو او لــه ارواپــوهنې ســره د ژورې لېوالتيا لرونکو کره کتونکو په پرله پسې او پېيلي ډول د ادبي شــننو او د ليکوالو د حالاتو د څېړنې لپاره د اروايي تحليل ځراغ روڼ کړ. په دې لړ کې د (فرويد) د شاګرد او د هغه د مشــهور ســوانح ليکــونکی (دکتر ارنست جونز) ځانګړې يادونه په کار ده. دی پــه خپــل کتــاب (Hamlet and Oedipus) کې د (شکسپير) (هملت) لــه اروايــي پلــوه تحليلوي، پر (۱۸۵۹ع) کال دکتر، جي، سي، بکنل (Dr.J.C. Bucknil) په خپل کتاب (Psy chloty of Shakespeare) کې تــر (دکتــر ارنســت جونز) څخه څه وړاندې دا خبره کړې وه، چــې د (هملــت) انتقــادي

مطالعه د اروا‌پوهنې له لارې پکــار ده، ده خپلــه د (هملــت) اروایـــي مطالعه وړاندې کړه.

په دې لړۍ کــې د (فرویــد) یــو بــل شــاګرد داکتــر هــنس ســاش (Dr. Hans sachs) نوم هم اخیستلای شو. ده د (شکسپیر) یوه بلــه ډرامه (Measure for measure) د اروا‌پوهنې د اصولو له مخې مطالــه کړه. د ده کتاب (Crative unconscious) ډېر مشهور دی. ده د ځینــو ځانګړو ادبي اثارو له مطالعې سره سره د ادبیاتو اروایي تحلیــل هــم وکړ.

د ادبي اثارو له اروایي تشریح سره سره د اروایي نقد بله مهمه فریضه د لیکوال یا شاعر د اروایي جوړښت ټاکنه او بیا د هغه په رڼــا کــې د هغه د تخلیقي اثارو شننه او کتنه ده.ځینې وختونه دغسې شننې او کتنې یوازې په تخلیقي اثارو پورې محدودې پاتېږي، ځینې وختونــو کې ددې خبرې لټون کېدی شي دا په ډاګه کړي چې دغه تخلیقــات تر کومه حده پورې د لیکوال د اروایي جوړښت او له دغــه جوړښــت څخه د رازېږېدلو پېچلتیاوو زېږنده دي.

د اروایي جوړښت د پیداکولو لپــاره لــه لانــدې طریقــو څخــه کــار اخیستلای شو:

۱- د ادبي ایجادیاتو له تجزیې څخه دداسې طریقو را ایستنه چــې د هغو په مرسته د ایجادګر پر نفسي وارداتو هم رڼا واچوي. ددې مقصد لپاره خو په کار دي، چې دده ټول ایجادي اثار وکتل شــي او وشــنل شي. که نه وي دا سې تخلیقات خو دې ضرور مخې ته پراته وي، چې

مهم او د استازو تحقیقاتي اثارو د ارزښت له لرلو سره سره د اروایي اهمیت لرونکی هم وي.

۲- د ایجادګر (لیکوال) د ژوند له خارجي واقعاتو سره سره شخصي خطوطو، ورځپاڼو، د ځان لیکلوسوانحو، اعترافاتو ،تذکرو او نورو دغسې اثارو په مرسته د لیکوال دشخصیت او دده تخلیقي ذهنیت د جوړوونکو عواملو له ټاکنې څخه دې دده د ژوند د مهمو اروایي حوادثو پته ولګوي او بیا دې د هغو په رڼا کې دده د ایجادیاتو عمومي شننه وکړي او یا دې ځانګړي ادبي اثار تر څېړنې لاندې ونیسي. دا طریقه ډېره ګټوره او د مخنۍ طریقې په پرتله څو ځله زیاته سمه او خوندي ده او زیاتې اروایي څېړنې ددې طریقې په وسیله ترسره کېدی شي. کله چې (هربرت رید) پر (بربایرن) باندې د خپلې مقالې پر لیکنه پیل وکړ، نو ده نه یوازې خپل نقادانه مسلک څرګندکړ، بلکې د اروایي څېړنې اهمیت یې هم ددې طریقې په کالب کې په ډاګه کړ، د ده په وینا: ((د بایرن د ژوند او هنر د نوي طرز د شننې لپاره یوازې همدا یوه طریقه کېدی شي، د استناد وړ وي او هغه دا چې د دده ټولو منظومو، لیکونو او د ژوند له نورو شخصي کیفیتونو څخه مور په بشپړ ډول ځان خبر کړو.))

۳- د لوړو یادو شویو دوو طریقو له یو ځای کولو څخه کولای شو، دریېمه طریقه هم وضع کړو، یانې دا چې د ایجادګر د ژوند حالات او دده د پنځونې څنګ په څنګ سره کېښودل شي، بیا د هغو کتنه او شننه وشي او بیا دې ځانګړی ایجادي اثار د ژوند د ځانګړو حوادثو د

اروايي پېښو او حالاتو تابع شي، نو دا طريقه به هغه وخت زياته ګټوره او سودمنه واقع او په زړه پورې پايله به ترې ترلاسه شي.

د (داستايوفسکی) ژوند په ځانګړي ډول يو ښه داستان دی او دده ځينې ناولونه لکــه: (The Gambler, the House of the dead) او ( The idiot) او نور دده د ژوند د بېلابېلو دورو ښکارندوی دي. ده څو کالــه په (سايبريا) کې تېر کړي دي. دده لــومړی نــاول د ده د ژوند ددې دورې په باره کې دی. دغسې (منشي پريم چنــد) هــم درواخلــه. دا طريقه په زړه پورې خو ده، ليکن يوازې ددې طريقې جواز ليوالتيا نه پيداکوي، بلکې دا د کره کتونکي وظيفه ده چې خپلو لوستونکو تــه داسې شواهد پيدا کړي، چې د هغو په رڼا کې د تخليق ځينــې نــوي ځنګونه راڅرګند کړي او پر هرې ځانګړتيا يې له يوې نوې زاويې رڼــا واچوي او يا د تخليقي محرک له ټاکنې څخه، د تخليــق پــس منظــر روښانه کړي او بيا يې ارزښت او بها وټــاکي. ددغســې مقاصــدو تــر بشپړونې وروسته، بيا نو ددې طريقې کارول جواز لري.

د ارواپوهانو لپاره د ټولو اساطيري فرضيو يا پخوانيو مفکــورو تائيــد ضرور نه دي، خو اروارپوهانو پر شاعرانه لېونتوب ډېر غور کړی او هغه يې تائيد کړی هم دی. اروايي حالات او پېښې پخوا هم پېښــېدلې او اوس هم پېښېږي، د افهام او تفهيم لپاره تــوپير يــوازې لــه ژبــې او اصطلاحاتو څخه پيداکېږي. په دې ترڅ کې د (رژنګ) خبرې د اورېدو دي: (( د هنرمند رباني لېونتوب تر خطرناکه حده پورې د ناروغتيا له حالاتو سره اړه لري، تر يوې زمانې په اروايي نقــد کــې ددې نظريــې سکه چلېدله، خوتر ژورو څېړنو وروســته ددې نظريــې پــر خــلاف د

احتجاج اواز لوړ شو، دا طلسم باطل شو او پــه مخــالفتونو کــې يــې (لايلي ترننگ) د ځانگړي اهميت لرونکی دی، هغه په خپل مضــمون (Art and neurosis) کې چې ډېر مشهور دی وويل : (( موږ تــه ددې حقيقت ياد ساتل په کار دي، چې اديب د خپل کار د ځانگړتياوو لــه مخې له يو ډول نه يو ډول فانتيزي سره په ارتباط درلودلو مجبور دی. دده کار دادی چې که دی د خپل لاشعور اظهارول وغواړي، د وسايلو رنگارنگي دده د لاشعور د جامو د بدلولو زيار باسي، خو د جامو دغــه بدلون ځان پټول نه دي، بلکې حقيقت دادی چې که چېرې يو اديــب د خپلو تخليقاتو له خپل ذات او باطن څخه د ځان پاللو کولو کوښښ وکړي يو څه زيات دده شعور په څرگند ډول مخې ته راځي.))

د ادبي تيورۍ مولفينو، (رنه ويليک) او نورو هم په دې بــاب ځينــې ښې خبرې کړې دي. د دوی د فکر بنيادي پوښــتنه دا ده، چــې ايــا عصبي خلل د اديب لپاره د موضوع د تخليق يا محرک سبب گرځي؟ د دوی په عقيده عصبي خلل د تخليق موجب گڼل يوه غلطه نظريــه ده او له سرې څخه لاره ورکوي، خو په انتقالي ډول کېدی شــي يــو اديب پر عصبي خلل مبتلا وي، مگر د عصبي خلل هر مبــتلا نــاروغ ادبي ايجادگر نه شي کېدی.

## ۸- متني کره کتنه:

متني کره کتنه لوستونکی د متن له رموزو، ماناگــانو او قرينــو ســره اشنا کوي او د يوه اثر د صحت او سقم په باره کې ژوره څېړنه کوي. د

متني كره كتنې هدف دادی چې د مختلفو نسخو له مخې د يوه اثـر اصلي متن احيا كړي. د نولسمې پېـړۍ تـر نيمـايي پـورې د متنـي كره‌كتنې عمده هدف دا و چې تر ټولو ښه نسخه لاس ته راوړي. خـو اكثرو كره كتونكو ددې هدف د تحقق لپاره كـوم منلـی مېتـود نـه درلود. (كارلپخين) پر (۱۸۳۲م)كال يو نوی تخنيک رامنځته كړ چــې په هغه كې دوی مرحلې په نظر كــې نيــول شــوې دي: بيــا كتنــه او سمونه. په بيا كتنه (recension) كې ټولې هغه نسخې پلټل كېږي چې احتمالاً له لرغونو نسخو سره اړه لري او د يوې مشكلې پروســې پــه ترڅ كې هر ډول جزييات په نظر كې نيول كېږي. په دويمه مرحله كې د ټولو نسخو له پرتلنې څخه اصلي نســخې تــه ډېــره ورتــه نســخه ترتيبېږي چې دې مرحلې ته سمونې (emendation) ويل كېږي.

## ۹-ماركسستي كره كتنه:

ماركسستي نقد هم د تاريخي او ټولنيز نقـد پــه څېــر لــه ټــولنې او معاشرې سره تړلو عواملو ته اهميت وركوي او دا ښيي چې ټولنــه او معاشره اديبان او ادبيات څنګه متاثره كوي. په لومړي نظر د ټــولنيز نقد او ماركسستي نقد ترمنځ كوم توپير نه محسوسېږي. د كره‌كتنې دواړه ښوونځي له انساني معاشرې څخه بحث كوي، خو دا يو شانوالی سطحي دی او دا ځكه چې ټولنيز او تاريخي نقد له معاشــرې ټــولنې سره لېوالتيا لري، خو د ټولنې او معاشرې له جوړوونكــو او اساســي عناصرو او محركاتو سره كوم تعلــق نــه ســاتي. د كــره كتنــې دواړه ښوونځي يا ډولونه انساني معاشره، لكه څنګه چې ده هسې مني. خو

کله چې مارکسستي نقاد دغه مسایل تر کتنې لاندې نیسي، د کومو پر بنسټ چې معاشره جوړه شوې ده، نو د هغــو محرکــات شــني او تجزیه کوي یې. د کره کتنې له نورو ښوونځیو څخه د مارکسستي نقد د بېلتون یوه اساسي وجه داده، چې ددغه نقد پیــل خــاص د ادبــي مقاصدو لپاره نه و او دا نقد تر یوې اندازې پورې له ارواییي نقــد ســره نږدېوالی لري، دا دواړه ښوونځي د ادبي نظریاتو او نقادانه غورځنګونو زېږندوی نه دي او دا دواړه د ځانګړو علومو ضمني زېږنده دي.

د مادي ایجادیاتو په رڼا کې چې څوک د ادب مطالعه کوي، نو هغــوی ایجاد د تفریح څیز نه بولي، بلکې وایي چې تخلیق، د فرد او ټولنې د همېشني ارتباط او طبقاتي مبارزې ترجماني کوي. په اشتراکیت کــې شعور، فکر او تخیل هم د مادي حقیقتونو او اقتصادي عواملــو تــابع وي، پر همدې اساس په دې سیستم کې مادې او د هغې مظاهرو تــه اساسي اهمیت ورکول کېږي؛ حال دا چې خیال او شعور ته ثانوي. په مارکسیستي نقد کې د ادبیاتو د مطالعې لپاره له اجتمــاعي حــالاتو، طبقاتي وېش او د تاریخ د مادي عواملو جایزه اخیستل تر حده زیات ضروري برېښي او ددغو ټولو عواملو له سمې تجزیې پرته پــر ادبیــاتو سم تنقید نه شي کېدی. د نقد نور ښوونځي، لکــه: ښــکلاییز نقــد، ارواییي نقد او نور، لوړو یادو شویو عواملو ته ډېــر زیــات ارزښــت نــه ورکوي، اما مارکسستي نقد او د کره کتنې دا ډول نور ښوونځي بیا دا ډول فکر د ادبیاتو لپاره نه یوازې ناموزون ، بلکې بې ګټې بولي چــې له سړي څخه لار ورکوي. ځکه نو مارکسستي نقادان پر ارواییي نقد او د نقد پر نورو ښوونځیو انتقادونه لــري او د نقــد دغســې نظریــې د

پانګوالي نظام مولود ګڼي. په مارکسستي نقد کې ادبیــات د ژونــد او ټولنې په مادي ارتقاء کې شــریک بــولي او وایــي چــې ددې ارتقــا د بېلابېلو پوړیو انځور هم وړاندې کوي. د مارکسستي نقاد په ګروهه که چېرې ادب د ژوند پراخه او پېچلې مبارزه کې د عوامو ترجماني ونــه کړي، نو له دغه ډول ادبیاتو څخه کومه ګټه نه ده متصــوره. لنــډه دا چې په دې ډول نقد کې د ادب او ژوند مرکز مزدور انســان وي، لکــه چې (مارکسسم ګور کي) ویلي دي: (( زموږ د لیکنو هیرو او قهرمــان باید مزدور وي، یا په بله وینا هغه زیار کښ انســان چــې پــه زیــار او زحمت ژوند کوي.)) د مارکسستي نقد له مخــې (ادب د ادب لپــاره) نظریه غلطه ده. دوی وایي دا داسې نظریــه ده چــې لــه خلکــو لاره ورکوي او وایي چې دا ډول ادبي نظریات د عوامو پــه اســتثمار کــې موثریت لري. ادب د ژوند لپاره پر همدې هدفمن ادب چې دغــه ډول نقد څومره زور اچوي، ښایي. تر دې دمخه د نقد یوه ښــوونځي هــم پرې دغه رنګه ټینګار نه وي کړي. د مارکسستي نقاد لپــاره اساســي سوال دادی چې ادیب په طبقــاتي کشــمکش کــې د کــومې طبقــې حمایت کوي؟ څنګه هغه د پربوتو ارزښتونو او مراتبو سندرې وایي او د مړه نظام بوللې بولي؟ او که په ژوند کــې د مادیــت صــفت کــوي؟ پاڅونوالو عوامو او زیار کښانو ته اوږه ورکوي او پرمخ درومي؟ که دی د زیار کښانو او خلکو دوست وي، نــو دا ســمه خبــره ده او د ادبــي تخلیقاتو مقصد همدا دی او دا دی د مارکسستي ادبي نقــد مقــام او منزل.

## ۱۰- قانون جوړوونکې کره کتنه:

ددغه ډول نقد کار د عملي نظریو په بیان کې ددغسې اصـولو وضـع ده، چې هغو اصولو او قوانینو ته په پاملرنه شاعر ښه شعر ویلای شي او په دې ډول نقد کې د نقاد کار د خرابو شعرونو د خامیو ښوول او د ښو شعرونو د ویلو لپاره تر مشـورې ورکولـو پـورې محـدودېږي. د سرفلپ سډني (Sir Philip Sidney) له استثنایي مثاله که تېر شو، پـه ټوله شپاړسمه پېړۍ کې او د اوه لسمې پېـړۍ تـر نیمـایي پـورې د انګرېزي نقد همدا شکل و. له دغه ډول نقد سره د لوستونکو لړه، خو د لیکوالو او شاعرانو ډېره لېوالتیا وه. په اوه لسمه پېـړۍ کـې جـان ډرائیدن (John.Drydin) ددغه نقد او راتلونکي نوي نقد ترمنځ د یوې کړۍ حیثیت غوره کړ. ددغه نقد قوانین قوي، اصول یې ګـران او تـر کره کتنې لاندې اثر سخت ګیرۍ یې، نه یوازې د زغم وړ نه و، بلکـې کله کله دغه روشونه د تخلیقاتو لپاره ضـرر رسـوونکي هـم وو، پـر همدې اساس کله چې ددې کره کتنې زور مات شو، نو بیا د همـېش لپاره د کره کتنې دا طریقه متروکه شوه.

## ۱۱- ټولنیزه کره کتنه:

د تاریخي نقد نظریه یې د نژاد، چاپېریال او د تخلیق د شېبو پر درېو بنیادونو متکي ښوولې ده، دغه رنګه د ټولنیز یا د ځینو په اصـطلاح اجتماعي نقد له دغو درېو عناصرو څخه یوازې د چاپېریال له عنصـر سره سروکار لري او ماحول په ژور ډول تر کتنـې او تجزیـې لانـدې

نیسي. په دې نقد کې نقاد له چاپېریال سره تړلي بېلابېل عوامل لــه یوې محدبې هېنداري څخه مطالعه کوي. د ادبي اثارو د تخلیــق او د ایجادګر په تشکل کې د ټولو اجتماعي محرکاتو تــلاش تــه اساســي اهمیت ورکوي، او دا کار ادبي نقــد تــه د اجتمــاعي عواملــو د یــوې ځانګې حیثیت ورکوي.

تر ټولو دمخه ددې خبرې څرګندونه لازمه ایسي، چې په ټولنیز نقــد کې ټولنه، چاپېریال او ټولنیزو عواملو غوندې اصطلاحات پــه خپلــه محدوده مانا نه استعمالېږي، بلکې ټولنه یوه لویه دایره ده، چــې پــه هغې کې کلتوري عناصر او تمدني عوامل هم شامل دي. څنګه چې د ټولنې په تشکل کې کلتوري او تمــدني محرکــات اساســي حیثیــت پیداکوي، نو د هغو ځانګړې مطالعه هم په خپل ذات کې موږ تــه پــه علم کې نوي څنګونه روښانه کوي.

که څه هم په یوه ټولنه کې ځینې انګېرنې، رواجونه او رسمونه یا هم کرکې، کرنې او نور په څرګنده ازاد، او خپلســري ښــکاري، خــو پــه حقیقت کې دا ټول یو له بله سره اړه لري او په شالید کې یې د پېړیو پېړیو لرې زمانو انساني شعور ځای لري. یوه عقیده په یوه ټولنه کــې په اسانۍ سره ریښه ځغلوي او وده مومي او همدا عقیده بیا پــه یــوه بله ټولنه کې د یو پردي نیالګي په ډول مړاوې کېږي. دا خبــره ولــې داسې ده؟ دې او دې ډول نورو پوښتنو ته د ځوابونو د برابرولو لپــاره باید علم الانسان (بشر پوهنې) ته مخه شي. د انسان او د انسان پــه لاس د جوړ شوي تمدني او هم کلتوري تغیراتو مقایسه یي کتنــه بــه کېږي او په دې ډول به د پخوانیو نا متمدنو ټولنو او اوسنیو معاشــرو

ترمنځ د فکري مسیرونو ورتوالی او توپیرونه څرګندېږي، په دې مانــا چې پخوانی فکري څرنګوالی او اوسنی په کومو برخو کې سره یو شی او په کومو برخو کې سره توپیرونه لري. دغه ډول مسایل هــم مــوږ د بشر پوهنې په رڼا کې حلولای شو.

د ټولنیز کره کتونکي دوه مهمې دندې دي، یــو دا ده چــې تــر ټولــو دمخه باید له یوې خاصې ټولنې او معاشرې ســره تړلــي رجحانــات تجزیه کړي او د یوې ځانګړې زمانې ذهني شالید باید وټاکي، پــه دې لړ کې باید د ټولنې له هرې هغې ځانګې څخه مرسته وغواړي، چې په یو نه یو ډول دده په مطالعاتو کې د نویــو لیــدلورو د راپیداکېــدو سبب ګرځي. د دغه ذهنــي شــالید او د هغــه د جوړوونکــو تمــدني عناصرو تجزیه ځکه اهمیت لري، چې کــره کتــونکی د همــدغو پــه مرسته د ادبي پنځوونکي، ادبي تخلیقات مطالعه کوي.

د ادبي تاریخ د مطالعې په بهیر کې که موږ له ځینو استثنایي مثالونو تېر شو، نو راڅرګندېږي، چې په بېلابېلو زمانو کــې د ځینــو خاصــو فکرونو او نظرونو څراغ روښان شوی دی او د همدغسې فکرونــو تــر اغېزې لاندې یو خاص ډول ادبي اثار تخلیق شوي او همــدا د ټــولنیز نقد تر ټولو لویه ګټه ده، موږ د هغو په مرسته دا اندازه لګــولای شــو، چې په یوه خاصه زمانه کې څنګه او څه ډول د یوې زمانې ادبي ایجاد ګر د بلې زمانې له ادبي ایجادګر څخه څنګه او څــه ډول بېلېــدی او توپیرېدی شي؟

ددې مسلې یا سوال ځواب (هډسن) داسې ویلی دی:

په انګرېزي ادبیاتو کې د ناولونو د مطالعې لپاره له ټولنیز نقد څخه په خاص ډول ګټه پورته کېږي او ددې وجه داده چې په نــاول یــا لنــډه کیسه کې لیکوال ژوند ته د هغه په ټولنیز مفهوم ګوري. کېدی شي د نظر څرنګوالی بالکل شخصي وي، ژوند ته هم له یو خاص لیــدلوري څخه وګوري او لوستونکو ته یې هم له یوې مخصــوص زاویــې څخــه وښیي، خو بیا هم دی کولای شي، چې د ټــولنې بېلابېــل تصــویرونه وړاندې کړي، د همدې لپاره ټولنیز نقد په دې ساحه کې ډېــر ګټــور تمامېدی شي.

(ایډمنډولسن)، (چارلس دکنز) او (کیپلنګ) د ټولنیز نقد پر اســاس خپله مطالعه کړې ده. همدا ډول د (همفری هاوس) د کتاب ((ډکنــز ورلډ)) نوم هم په دې لړۍ کې یادولای شو. که له ټولنیز نقد څخــه د هر ډول ناول او لنډې کیسې په کره کتنه کې ګټه وانه خلو، نو د هغو ناولونو او افسانو په نقد کې خو باید ضرور ترې ګټه پورته شي، چې پر ټولنیزو مسایلو بحث کوي او که نقاد پر دغسې اثارو د بحث پر وخت له ټولنیزو عواملو سترګې پټې کړي، نو دا په خپله یو لار ورکی عمــل دی. دلته د یوې بلې خبرې یادونه هم ضرور او د دغسې اثارو د نقاد لپاره لازمي ده،هغه داده چې نقاد باید د هماغې ټولنې پر خصوصیاتو او ټولنیز ژوندانه پوه وي. که چېرې نقاد ته په خپله د ټولنې په بــاب څه نه وي معلوم، نو دی به څنګه حقیقت راوسپړي او پر حقیقت بــه پوه شي؟

له لوړو مثالونو څخه ښایي ځینو کسانو ته دا فکــر پیــدا شــي، چــې ټولنیز نقد به یوازې د کسییز ادب لپاره لارښودی ارزښت ولري، خــو

خبره داسې نه ده، شعري تخلیقات هم موږ ددغه ډول نقد په مرسته کتلای او شنلای شو.

په دې کره کتنه کې د ټولنې او ادبیاتو ارتباط څېړل کېږي، پر ادبیاتو د ټولنې او پر ټولنې د ادبیاتو اغېزې شنل کېږي. ټولنیزه کره‌کتنه تل ادبیات د ټولنې او ټولنیز چاپېریال محصول ګڼي. ځکه نـو وروســتیو کره کتونکو هڅه کړې چې په ادبیاتو کې هــر ډول تحــول او بــدلون یوازې په ټولنه کې د ټولنیزو بدلونونو له لیدلوري بیان کــړي. د دوی په نظر که شعر د شاعر د زړه د عواطفو ترجمان او ژبه ده، خو کوم څه چې دا عواطف یې راټوکولي هغه د ژوند له چاپېریال، زمان او مکــان پرته بل څه نه دي. ځکه نو د شخص د عواطفو او احوال د دقیق درک لپاره د ټولنیزو حوادثو د علومو له پیداکولو پرته بله لار نه شته.

نامتو فرانسوي کره کتونکی (هیپولیت تــن) پــه دې نظــر دی، چــې ادبیات د ((زمان)) ((ټولنیز چاپېریال)) او ((نژاد)) محصــول دي. دده په نظر ټولنیز حوادث او احوال د دغو درېو پورتنیو عواملو نتیجه ده.

## ۱۲- رومانتیکه کره کتنه:

رومانتیک نقد د روماني ادبي غورځنــګ محصــول دی، پــر همــدې اساس که چېرې موږ رومانیت یا روماني ادبي غورځنګ په پام کې ونه نیسو، نو بیا موږ د رومانتیک نقد کتنه او مطالعه نــه شــو کــولای. د رومانتسیزم له پرمختیا سره سم رومانتیکې کره کتنې هم پرمختیــا وموندله او د هغه له زوال سره دې ډول نقد هم زوال وموند؛ اوس نــه

روماني ادبي غورځنګ ژوندی دی او نه رومانتیک نقد تر سترګو کېږي، خو رومان، روماني فکر، رومانیت، روماني احساس، روماني طرز، روماني فکر او نور داسې الفاظ او اصطلاحات نن هم استعمالېږي، خو په زړه پورې خبره یې داده چې له استعمال سره سره یې په مفهوم کې کوم قاطعیت نه شو پیداکولای، په ډېرو حالتونو کې دا مفهوم د غوټې د خلاصونې پرځای تر زیاته حده انجړبنجړ او پېچلی بهیر پیدا کوي. په رومانیت او له هغه سره په اړوندو مباحثو کې رومان د کیلي حیثیت لري، د رومانیت د څرګندونې لپاره په عام ډول له کلاسیکیت سره د هغه موازنه کېدی شي، خو په دې ترخ کې دا خیال ساتل په کار دي، چې د رومانیت برعکس کلاسیکیت د کوم ادبي غورځنګ نوم نه دی او دا یوازې د ښکلو هنرونو او ادبي تخلیقاتو د ازمېښت لپاره د یوه ځانګړي فکري ډول نوم دی. په غالب ګومان تر ټولو دمخه (ګویته) پر رومانیت باندې د کلاسیکیت پر مفهوم بحث پیل کړی و، د هغه په قول ((رومانیت ناروغي ده او کلاسیکیت روغتیا)). د مقایسوي بحث دغه طریقه د منلو وړ ده او راتلونکی نقادان بالعموم د کلاسیکیت او رومانیت موازنه کوي او پر دې هم باید پوه شو چې څه شی چې کلاسیکیت دی، هغه رومانیت نه دی، په بله وینا که موږ کلاسیکیت مثبت فرض کړو، نو د نفې په حالت کې یې د رومانیت خصوصیات راڅرګندېږي.

کله چې (شال دال) د کلاسیزم برعکس رومانیت د زمان غوښتنه او د وخت اواز ومانه، نو یې کلاسیزم ته یو عمومي حیثیت ورکړ. د همدې نظریې پر اساس ټولې اساسي ادبي پنځونې لومړی روماني

دی او بیا تــر عــامې مننـــې وروســـته کلاســیکه بڼــه غــوره کــوي. (ویکتورهوګو) د (کراسول) په سریزه کې رومانیت په ادبیاتو کې لــه ازادۍ خوښوونکو رجحاناتو سره مرادف باله.

اوس دلته پوښتنه پیداکېږي چې د کلاسیزم د پردې تر شا رومانیــت په څه ډول موجود دی؟ ددې خبرې ځواب د رومانیت له دې تعریــف څخه، چې (هر برت رید) وړاندې کړی دی، ترلاسه کېږي. دده په فکر ((د رومانیت اصول  په دې تصور کې نغښتي دي، چې هغه ته د تخیل (رغانده قوت) وویل شي او دا هغه ځواک دی، چې دوه عنصــر ســره یوځای کوي او یوه نوې جامه ور اغوندي. له ډول ډول عناصرو څخــه رازېږېدلی دغه وحدت یا سکښت ته هنري اثر ویلی شو.))

په بله وینا همدا رغانده قوت دی، چې په هره دوره کې جــاري وي او د رومانیت د تشکل سامان راټولوي او زمینه ورته برابروي.

دا هغه اساسي مباحث دي چې د روماني غورځنګ او روماني نقــد د تفهیم لپاره د یو تناظر حیثیت اختیاروي.

د رومانیت د غورځنګ تر مطالعې وړاندې ذهن ته ددې خبرې سپارل په کار دي چې تر ډېرو وختونو پورې انګرېزي، فرانســوي او جرمنـــي ادبیات، یوناني او لاتیني تخلیقات د نقد د اصولو په رڼا کې ګام په ګام پرمخ درومي، چې نتیجه یې د انفرادي فکر په مرګ کې ځان ښــکاره کوي.

په انګلستان کې (ډرایډن) او په جرمني کې (ویلک مــین) تــر ټولــو دمخه د یوناني اصولو او ضوابطو د زنځیرونو دما تولو زیار ویوســـته او

پر دې خبره يې ټينگار کاوه، چې موږ د خپل عصر ازاد ترجمانان يــو. په انگلستان کې تر (ورډزورتهــ ) پخوا (وليم بليک) لومړی شــاعر و، چې انگرېزي شاعري يې له يوناني اثراتو څخه وژغورله او پر دې خبره يې ټينگار کاوه چې: ((موږ ته په خپلو ادبياتو کې د رومن يــا يونــاني مثالونو څه ضرورت نه شته، موږ ته يوازې له خپل تخيلي قوت څخه، چې زموږ له روماني قوت سره تړلی دی، د پلوی ضرورت دی.))

(بليک) شاعري يو الهامي څيز باله او تر دې حده ازادي خوښوونکی و، چې له پخوانيو عروضو څخه يې د ځان ژغورلو هڅه کوله، (بليک) د تخيل قوت ته قايل و او شاعری يې يو الهــامي څيــز گڼلــه او ددې مفهوم د بيان لپاره يې  د نويو قالبونو پر لټون ټينگــار کــاوه، نــو پــر همدې اساس نقادان د رومانيت اثرات د همده له ليکنو څخه پيلوي.

په جرمني کې (لسينگ) (LeSSing) ډېر مهم نقاد و، د هنري کــارونو او ادبياتو د مطالعې په ترڅ کې يې په هنري اثر کې پــر ښايســت او د هغه د اغېزمنې پر ځانگړنو زيات ټينگار کاوه. پر دې سربېره (گويته) او ځينو نورو فيلسوفانو ويل چې  ((د علم د حصول لپــاره رومانيــت يوه ذريعه ده، لکه څنگه چې جذبات، احساسات او مسرت تر مناسب او موزون حالت لاندې زموږ لپاره د خير ښېگڼې سبب گرځــي او لــه همدغه حالت څخه موږ د پوهې او محبت د حصول په لاره کې ممکنه مرسته ترلاسه کولای شو.))

لنډه دا چې مسرت، حسن او جــذبات د رومانيــت اســاس جــوړوي، (ورډزوتهــ) په خپله سريزه کې ځينې داسې سوالونه هــم رامنځتــه کړي چې تر هغه وخته پورې جدي توجه نه وه ورته شوې، لکه: شاعر

څوک دی؟ شاعر له کومو تخلیقي عملیو څخه تېرېږي او په کوم ډول ذهني حالت کې هغه تخلیق ته لېوالتیا پیداکوي؟ دا داسې سـوالونه دي، چـې پـه اروا‌پـوهنیز نقـد کـې اساسـي حیثیـت پیـداکوي. (ورډزورتهـ) په شاعرۍ کې ژبې ته په خاص اهمیت قایـل دی او دی زیار باسي چې له ادبي تخلیق سره تړلي جذبات، احساسات او د هغو د اظهار لپاره د کوټلې ژبې خپل منځي روابط څرګند کړي. څنګه چې هغه د فطرت او ادبي ایجادګر هماهنګي خوښووله، نو د همدې لپـاره هغه د فطرت په څېر د سمې، ساده او له تصنع څخـه د پـاکې ژبـې تلقین کاوه.

د (کولرج) په فکر د یو نظم لومړنی او اساسي مقصد یوازې د صداقت ترجماني نه ده، نظم باید خوښي هم وبښي، دی وایي، کـه څـه هـم شاعري باید په مجموعي ډول د خوشالۍ ښنلو ترڅنګ صداقت هـم ابلاغ کړي، خو د نظم لپاره د خوښۍ ښښل لومړنی شرط دی. یو نظـم چې څومره د خوښۍ په انتقال کې بریالی وي، هـومره خپـل نظمـي حیثیت هم لرلای شي او ښه نظم هغـه دی، چـې لوسـتونکي تـه د خوښۍ اسباب برابر کړي. ددې کار لپاره شاعر ته ښایي، چې د ژبـې خواته هم زیاته پاملرنه وکړي، ځکه چې د موزونو او مناسبو الفاظو د استعمال له لارې د خوښۍ د انتقال په لاره کې بریالی کېدی شي، په دې برخه کې د ده دا لاندې وینا د غور وړ ده:

(( د ډېر ښو الفاظو استعمال نثر دی، خو کله چې ډېر ښه الفـاظ پـه ((ډېر ښه هنري ډول استعمال شي، نو هغه بیا شعر شي.)) د همـدې لپاره ده د شاعرۍ لپاره معیار وضع کړ او ویل یې چې ښـه شـاعري

هغه ده چې د هغې له هر ځل لوستو څخه خوښي ترلاسه شـــي. کـــه چېرې په کوم شعر کې د الفاظو په تغییر او تبدیل سره کـــوم اثـــر نـــه پرېوځي، نو هغه شعر بېکاره او د شعریت درجه یې پرېوتې ده. )) تـــر (ورډزوتهـ) او (کولرج) وروسته درېیم کره کتونکی (شـــیلي) ګـــڼلای شـــو، پـــر ده هـــم د(ورډزورتهـــ) او (کـــولرج) مفکـــورو ژوره اغېـــزه درلوده.(شیلي) هم د دوی په شان الهامي قوت ته قایل و او شـــاعري یې د جذباتو او احساساتو د اظهار وسیله بلله. د قیدونو او عروضو پر وړاندې ده هم باغیانه فطرت درلود، دده په فکر تخلیقي اظهار د یوې منظمې ژبې له لارې کېدی شي. روماني نقد او رومـــاني شـــاعري پـــه اصل کې د هغه وخت په لرغونپالي انګلستان کې یو داسې بغـــاوت و، چې د تخلیق په کچه یې ځان ځرګند کړ. په روماني نقد کې چـــې پـــر حسن، مسرت، جذباتو او احساساتو کـــوم ټینګـــار شـــوی و، د هغـــو غبرګون په وروستیو ادبي غورځنګونو کې لا ډېر تېز و، لکـــه څنګـــه چې نورو ادبي غورځنګونو او د کره کتنـــې نـــورو ښـــوونځیو ټینـــګ نقدونه پرې وکړل.

## ۱۳- تحلیلي کره کتنه:

(ډېوډ ډیشنز) د کره کتنې دغه ډول د یو ځانګړي ښوونځي په توګـــه نه مني. دده په ګروهه دا د ادبیاتو د پوهېدنې یـــوه طریقـــه ده، چـــې مثالونه یې مور په پخوانیو کره کتنو کې لټولای شـــو. ددې ډول نقـــد یادونه، (ارسطو)، (ډرایدن)، (ډاکتر جانس) او (کولرج) او نـــورو کـــړې ده. که چېرې د (ډېوډ ډیشنز) نظریه ومنو او تحلیلي نقد تـــه د یـــوه

ځانګړي ښوونځي مفهوم ورنه کړو او په پراخ مفهـوم یـې اسـتعمال کړو، نو بیا د نقد هره طریقه تحلیلي ګڼلای شو.

که له عمومیاتو تېر شو، نو دا ډول نقد د کره کتنې د یو ښوونځي پـه توګه تر ټولو دمخه (ولیسم ایمپسن) Wiliam Epson مشهور کړ او دی یې تر ټولو مهم لارښود ګڼلای شو. (ولیم) د (دریچـاردز) شـاګرد و. (ریچاردز) چې له الفاظو سره کومه لېوالتیا لرله، هغه له چا څخه پټه پناه خبره نه ده، څنګه چې ده هم د خپـل نقـد بنسـټ د هغـه پـر نظریاتو بنا کړی دی، نو دده نظر هـم د الفـاظو لـه بېلابېلـو مـانیزو څنګونو څخه پیدا شوی، د بېلابېلو پیغامونو ځـانګړې کتنـه یـې د خپل کار اصلي مقصد ګاڼه.

د (ایمپسن) په فکر د شاعر، شعر د جلا جذباتو او احساساتو له مخې ممتاز حیثیت نه غوره کوي، بلکې دا د ژبې استعمال دی، چې هغه له عامو خلکو او نثر لیکونکو څخه بېلوي، یا په بله ژبه شاعري د ژبې د یوې ځانګړې بڼې د منلو نوم دی.

د (ریچاردز) په فکر نقاد د الهام په مرسته ژبې ته یـو نـوی صـورت وربښي، دغه نظریات بیا (ایمپسن) د خپلو انتقادي نظرونو د بنسـټ په توګه ومنل، په دې برخه کې دده څـه اسـتدلالونه دادي، چـې د شاعرۍ اساس ژبه ده او د ژبې اساسي پیغام رسول دي. پـر همـدې اساس شاعري هم یو پیغام دی، نو څرنګه چې د شـاعرۍ مـانۍ پـر پیغام ولاړه ده، نو د پیغام له تحلیلي مطالعې څخه درې مسالې مخې ته راځي:

۱- د تخلیق پر مهال یا د پیغام د عمل تر جوړښت منلو دمخه د شاعر ذهني کیفیتونه څه وو؟

۲- ددې پیغام په نتیجه کې د لوستونکي په ذهن کې کوم کوم بدلون راځي؟

۳- که چېرې مور د پیغام جایزه واخلو، نو دا پیغام د شاعر او لوستونکي ذهنونه له څو ډوله کیفیتونه سره مخامخوي؟

(ریچاردز) د پیغام له امله د شاعر او لوستونکي په اذهانو کې د روحیاتي مطابقتونو مطالعې او د هغه روحي اهمیت خواته هم توجه کړې وه.

د (ایمپسن) د افکارو له پورتنۍ لنډې یادونې څخه دا څرګندېږي چې تحلیلي کره کتونکی د ادبي اثر د تفهیم لپاره الفاظو ته لکه څنګه یې چې زړه غواړي، برابر، برابر داسې طلسمي اهمیت ورکوي، چې له هغو سره د ټرلو ټولو مفاهیمو د روښانولو زیار باسي. دی په دې نظر دی چې د لوستونکي او لیکوال ترمنځ الفاظ د پیغام رسولو وسایل دي، نو پر همدې اساس کره کتونکي ته پکار دي، چې دی د الفاظو د استعمال له ټولو ممکنو توکو څخه خبر وي، تر دې وروسته دې لوستونکي ته ټول مربوط مفاهیم ورتفهیم کړي. دا د کره کتنې هدف او دا هم د کره کتونکي کار دی. د همدې لپاره د کره کتنې په دې ښوونځي کې پر ادبي اثارو د پرېکړې پر وخت د مرتبې د ټاکلو څه اړتیا نه پېښېږي او په دې توګه د لیکوال د افکارو او اندونو د ښوولو په څېر هومره ارزښت نه لري، لکه څومره چې د پیغام دی. څنګه چې

لفظ د پیغام کیلي ده، نو پر همدې بنسټ دې ډول کره کتنې ته یوازې الفاظ په زړه پورې دي.

له الفاظو سره د تحلیلي کره کتنې تر زیاته حده لېوالتیا، د ختیځ، د کره کتنې له هغه روایت سره، چې کره کتونکی یوازې د صرف و نحوې او د بیان د علم پر اساس د اشعارو ښېګنې او بدګنې څرګندوي، ډېر نږدېوالی لري. د ختیځ په زیاترو تذکرو کې د کره‌کتنې دغه ډول جریان درلود.

د اثر د مرتبې ټاکنه او د هغه په باب پرېکړه د نقد اساس ګڼل کېږي، خو د کره کتنې دغه ښوونځی دا دواړه توکه مستردوي. د تحلیلي کره کتونکو په فکر پرېکړه یو فلسفیانه عمل دی. کره کتونکی باید د یو ساینسپوه په شان له بشپړ ناپېیلتوب څخه کار واخلي او د ادبي اثر تشریح او توضیح وکړي، لکه څنګه چې (ولیم ایمپسن) ویلي دي: (( د نوي تحلیلي نقد په هر پړاو کې دې لوستونکی د اصلي متن مراجعې ته اړ باسي، دا چې لوستونکی د نقاد له تشریحاتو سره موافقه کوي یا یې نه کوي، دا خبره هومره مهمه نه ده، خو د کره کتونکي د استدلال او د بحث د پوهېدو لپاره ده ته د اصلي متن د محتاطانه مطالعې اړتیا پېښېږي، دا چې لوستونکی د کره کتونکي دلایل نه مني دا پر کره کتونکي کوم اغېز نه لري، ځکه چې تحلیلي کره کتونکی یوازې خپله رایه څرګندوي او پر نورو یې د منلو هڅه نه کوي.))

## ۱۴- استقرايي کره کتنه:

د کره کتنې ددغه ښوونځي بنسټګر پروفيسور (ريچارډ مولټن) (Prof. Richord Moulton) دی. دده په فکر کره کتنه هم بايد د ساينس په څېر بېطرفي ولري، د کره کتونکي وظيفه دا نه ده، چې د تخليقاتو ښېګڼې او بدګڼې څرګندې کړي او د هغوی ادبي مرتبه وټاکي. دده په وينا: (( نن سبا د کره کتنې په مروجو طريقو کې د مرتبې ټاکنه تر ټولو زيات ارزښت لري او ددغه مقصد لپاره د پرتلې له لارې د تخليقاتو د مقام د ټاکنې زيار ايستل کېږي.))

دی د معيار پالنې تر نامه لاندې کېدونکو کره کتنو، نقادانه پرېکړو او د مرتبې ټاکنې پر هر ډول هڅې سخته نيوکه کوي او د استقرايي نقد ادبي مقام داسې بيانوي: ((ددې ډول کره کتنې مقصد دادی، چې ادبي کره کتنه دې د استقرايي علومو په لړۍ کې شامله کړای شي.))

په نقد کې د اثر د مرتبې د مقام د ټاکنې لپاره موازنې او مقايسوي مطالعې ته بنيادي ارزښت ورکول کېږي او د هرې زمانې کره کتنه پر هغې باور کوي، خو (مولټن) ته دا مسايل د منلو وړ نه دي، دده په وينا: لکه څنګه چې د بوټو يو پېژندونکی د ګلابو يو ګل او نورو ګلانو په ډله کې يو ته ښه او بل ته بد نه وايي، بلکې دی ټول بېلابېل ګلان بولي او هر يو په ځانګړي ډول مطالعه کوي، د هغو د ودې او زياتوالي قوانين پيدا کوي، دغه ډول نقاد هم ددې حق نه لري، چې دی د دوو شاعرانو د کلام موازنه او مقابله وکړي او بيا دې يو پر بل وړ ثابت کړي، استقرايي نقاد د معيار پالنې تر نامه لاندې له ټولو نقادانه نظرياتو سره مخالفت کوي. د هغه په فکر څنګه چې په ساينسي

پوهنو کې له اصولو او قوانینو د باندې کوم عمل نه شــي نافذېــدی، بلکې د زیاتې مطالعې په منظور مشاهده او تجربه د خپــل لټــون لــه لارې د لارښود په توګه قبلوي، نو دغه ډول نقاد هم باید تر هــر څــه دمخه له موجودو اصولو، پخوانیو روایاتو او د کره کتنې له فورمولونو څخه ځان وساتي او د ساینسپوه په څېر د ایجاد ګر د ټولو ایجادیاتو تر مطالعې وروسته پر هغو د کره کتنې لپاره، د کــره کتنــې د اصــولو لټون وکړي، ګنــې دا ډول نقــد د دوو بېلابېلــو شــاعرانو د کــلام او اندېښنو جاج د یو معیار په وسیله نه اخلي، بلکې د هر یوه د اثارو تر ځانګړې مطالعې وروسته، د ځینو لارښودو طریقو له لارې لټون کوي او یوازې د همدغو طریقو په رڼا کې د هر یوه د اثارو شننه او تحلیــل کوي. د استقرایي نقد اصول له معیار پالنې سره مخالفت لري او هــر ادبي صنف او هر ادیب په ځانګړي ډول مطالعه کوي او د هر اثــر پــه مطالعه کې نقادانه اصول هم بدلېږي. دا ډول نقد نه څوک غټ ثابتوي او نه د چا غندنه کوي. (مولټن) لیکلي دي: ((استقرایي نقــد د ادبــي اثر تعریف یا غندنې ته اړتیا نه لري، استقرایي نقد د ساینسي څېړنــو په څېر د اثر کتنه او مطالعه کوي، دا ډول نقد ادبي قوانین، په ادبــي اثارو کې لټوي او ادبیات هم د فطري مظاهرو په څېر له ارتقایي عمل سره تړلي بولي.))

د کره کتنې په ځینو ښوونځیو په خاص ډول په ښــکلاییز نقــد کــې، ذوق او وجدان ته اساسي اهمیت ورکول کېږي، خو استقرایي نقد یې مستردوي، لکه څنګه چې ساینسپوه د خپلې ځاني خوښــې یــا نــه خوښې پرځای پر تجربه، مشاهده، څېړنو او له هغو څخه پر استخراج

شویو استثنایي جولو ډډه لګوي، نو ددغسې بېطرفۍ توقع لــه نقــاد څخه هم کېدی شي او دا په دې مانا چې نقاد باید د ذوق په نامه لــه خپلې شخصي خوښې، نه خوښي او د معیار پالنې له تعصباتو څخــه لوړ وي او په یوه بېطرفه موقف کې دې کره کتنه وکړي.

استقرایي نقد تعصب او تنګ نظري غندي او د کــره کتنــې د زیــات درنښت او قطعې کولو زیار باسي.

خو استقرایي نقاد یو اساسي حقیقت هېروي او هغه دا چې ادب لــه احساساتو او جذباتو سره اړه لري او ادیب د هغو تر اغېز لاندې ژونــد داسې انځوروي، چې د لوستونکي هېجانات او احساسات پــه خــاص ډول اغېزمن کړي، خو ساینسپوه برعکس د ژونــد دا اړخ نــه وینــي، ځکه هغه هر څه د علمي مشاهدو او لابراتواري تجربــو پــه رڼــا کــې ویني. سربېره پر دې د ادبي اثر په تخلیق کــې، اجتمــاعي، روحــي، اقتصادي او تاریخي محرکات مهم نقش ادا کوي، اســتقرایي نقــد دا ګرده له پامه غورځوي.

دغه ډول د ژبې په استعمال کې هم توپیر شته، ساینسپوه د طبیعت د پیداکولو لپاره پر اصطلاحاتو انحصار نه کوي، بلکې په لیکنه کــې د کفایت او په تفهیم کې د سهولت لپاره اشارات (Signs) وضع کوي او هره نقطه له خپلې لغوي مانا سره سمه استعمالېږي، خو پــه ادبیــاتو کې د اغېز ښندلو لپاره الفاظ نه یوازې په مجــازي او نــا لغــوي مانــا استعمالېږي، بلکې د مبالغې او ادبي صنایعو په مرسته په نا شــعوري ډول د له قطعیت څخه مفهوم د پاکولو کوښښ کوي.

لنډه دا چــې د ســاینس او ادب لــه دې مقایســوي مطــالعې څخــه راښکاري، چې په اساسي ډول د دواړو ترمنځ کوم معیــار او ارزښــت شریک نه دی، نو بیا د یوه د پوهېدنې لپاره له بل څخه څنګــه ګټــه پورته کېدی شي؟

د کره کتنې استقرایي ښوونځی د منازعې وړ یــو ښــوونځی دی. پــر (مولټن) سربېره (ګریوز)، (مس ســټل) او ځینــو نــورو هــم پــه دې ښوونځي کې نوم پیدا کړ. اکثریت نقادانو دا ښوونځی نه دی منلی، د مثال په ډول (ریچارډ) په خپــل مضــمون (Speculative Instrument) کې دا ډول نقد یوه مضحکه بللې ده. (هر برت د نګل) پــه ( Science and litery Criticism) کې پر ساینسي کره کتنه سخت انتقاد کړی دی او د کره کتنې دا ډول یې مسترد کړی دی. همدارنګه (ایس، ایلیــت) په خپل مضمون (For ntiers Criticism) کې په څرګندو ټکو کې ویلــي دي:

((نقد نه ساینس دی او نه له هغه څخه ساینس جوړېدی شي.))

## ۱۵- پرتلییزه کره کتنه:

د مقایسوي نقد له مطالعې څخه ددې خبرې څرګندول ضروري دي، چې مقایسوي نقد یوه طریقه ده او دا د کره کتنــې کــوم مخصــوص ښوونځی نه دی. دا طریقه د ادبي تخلیقــاتو لــه مــوازنې، مقــابلې او پرتلنې څخه د اثر د معیار او مرتبې د ټاکنې زیار باسي.

که له نقادانه بحثونو او علمي اصطلاحاتو تېر شو، نو په عامــه ذهنــي سطح کې هم لوستونکی په شعوري او یا نا شعوري ډول په خپلو ادبي پرېکړو کې له مقایسوي نقد څخه کار اخلي، لکه د ډېرو ادیبــانو لــه جملې څخه یوه ته ته ځانګړی ارزښت ورکول او یا پر یوه موضــوع د څو اثارو له جملې څخه د یوه خوښونه، په عام ژوند کې د مقایســوي نقد عام مثالونه دي. د ادبي نقد په تاریخ کې ډېرو مهمو نقــادانو لــه مقایسوي نقد څخه کار اخیستی دی، لکه: له (درایدن) او (جانســن) څخه نیولې تر (متېو ارنلد واتي)، (ایس ایلیت) پورې نقــادان. کــه د هرې مفکورې نقادان دي، دوی په یو نه یو ډول لــه مقایســوي نقــد څخه کار اخیستی دی. په عام ډول د دوو لیکوالو مقایسوي موازنــه، مقایسوي نقد ګڼل کېدی شي. ددې نقد تر ټولو منلی شــکل دا دی، چې د دوو شاعرانو تر مقایسوي مطالعې وروســته یــوه تــه تــرجیح ورکول کېږي، خو ددې ترجیح لپاره بېطرفي لازمــي شــرط دی. کــه چېرې نقاد په خپل قضاوت کې بېطرف نه وي، نو ګڼې دا نقد، نقد نه دی. د مقایسوي نقد پر پورته ډول سربېره ددې نقــد بــل ډول دادی چې د یوې ژبې په ادبي اثارو کې د یوې ځانګړې موضوع اثار او اشعار له پیله تر پایه پورې په مقایسې ډول تحلیل او تجزیه شي. د مثال په ډول د یوې ژبې په ادبیاتو کې د ویرنو جاج اخیستل کېــږي. پــه دې ډول پرتلیز نقد کې یوازې دانه ویل کېږي، چې چا د ویرنې په تکنیک کې ښه تجربه کړې ده او چا په کې نوې موضوعات ورځای کــړي دي، بلکې دا هم ورسره ویل کېږي چې د چا مرثیې ډېرې ښې دي.

د پرتلیز نقد وروستی صورت دادی، چې د دوو یا زیاتو ژبو یا هېوادونو د ادبیاتو یو خاص ادبي ژانر د لیکوالو او ویناوالو د بېلابېلو اړخونــو د ځرګندونې په منظور په مقایسوي ډول مطاله شي.

د مقایسوي کره کتنې بېلابېلې بڼې البته د نقاد لپاره ګټورې دي، خو ددې مانا دا نه ده چې د نقد دا طریقه له خامیو او اعتراضــونو څخــه لرې ده. د نقد پر دې ډول تــر ټولــو لــومړنی اعتــراض دادی، چــې د ارواپوهنې له مخې ان په یوې کورنۍ کې دوه وروڼه بېلابېلې طبعې او خصوصیات لري، رواني تمایلات یې سره بېل دي، نو بیا څنګه کېدی شي چې د دوو ادبي ایجادګرو مقایسوي مطالعه دې وشي، هغــه هــم په دې دلیل چې دواړه ادیبان دي او په یوه عصر کې اوســېدلي دي؟ په اروايي لحاظ دا ډول مطالعه ناممکنه ده.

له دې او داسې نورو اعتراضونو څخه لږ تر لږه ضــرور دا ځرګنــدېږي چې مقایسوي نقد ګټه ور دی، خو له دې نقادانه مطالعې څخــه چــې کوم نتایج ترلاسه کېږي، د هغو د نتایجو په باره کې د احتیاط ســاتل پکار دي.](۳۱: ۳۲-۶۳).

## ۱٦- لغوي کره کتنه:

[دا په یوه ادبي اثر کې د ژبې او ګرامر د اصولو، قاعــدو او ګرامــر لــه کارونې سره سروکار لري او همدا برخه ارزوي. ځرګنده خبره ده چې یوه کلمه هغه وخت کولای شي خپل مانا په ښه ډول وښندي چې په ښکلې او ظریفانه ډول پر خپل ځای وکارول شي.

له هغه پرته د کلمې مانا له ستونزو سره مخامخېږي او دې سره د یوه اثر ارزښت راټیټېږي. ځینې کره کتونکي بیا په دې نظر دي چې د ژبې له معمولو قواعدو څخه سرغړاوی، په ژبه کې یو ډول تحول او حرکت رامنځته کوي او دا کار د یوه اثر جذابیت ثرګنـدوي، خـو دې سـره سره ځینې نور بیا په دې نظر دي چې لیکوال باید د ژبې نور نورمـال قواعد مراعت کړي او خپل کلام ته هماهنګي ورکړي، پـه دې برخـه کې باید مانا له ابهام سره مخامخ نه کړي. کره کتونکي باید لیکوال ته ثرګنده کړي، چې تر کومه حده د ژبې له قواعدو سـرغړاوی کـولای شي او تر کومه بریده باید د ژبې قواعد مراعت کړي.

د کلمې سمه کارونه، د ښـکلو تعبیراتـو او نـورو شـیاتو پنځونـه او جوړونه او دا چې یوه کلمه د جملې په کوم ځـای کـې راشـي، هغـه مسایل دي چې په لغوي کره کتنه کې پرې بحـث کېـږي. مترادفـې کلمې که له شکلي پلوه وي که له محتوایي پلوه، هم پـه لغـوي کـره کتنه کې راځي.))

## ۱۷- فني کره کتنه:

دا کره کتنه په نثر او نظم دواړو کې د بلاغت بېلابېل فنون څېـړي، د هغوی ارزښت او اعتبار مطالعه کوي. ددې کره کتنې بنسټ په یونان کې د (ارسطو) او (اریستاک) او پـه روم کـې د (هـوراس) لـه خـوا ایښودل شوی دی او د سکندریه د پوهانو له خوا پالل شوی دی. پـه عربي او فارسي ادب کې هم دا مهمه کره کتنه ګڼل کېږي، په عربـي ادب کې د (قدامة بن جعفر)، (ابـو هـلال عسـکري) او (عبـدالقاهر

جرجاني) په شان پوهانو دې کره کتنې ته ډېر کار کړی دی.

په فارسي ادب کې (رشید الدین وطواط) او (شمس قیس رازی) ددې کره کتنې اصول او قواعد وضع کړي دي. په عمومي ډول په دې کره کتنه کې د مانا، بدیع او بیان په ګډون د بلاغت پر ټولو اړخونو بحث کېږي. خو د هغې پر اصولو او قواعدو پوهېدل ددې مانا نه ورکوي چې لیکوال یا شاعر دې د یو اثر په پنځونه بریالی شي، خو پر دې اصولو پوهېدل له لیکوال سره د یو اثر په ښکلا کې مرسته کولای شي.

## ۱۸- اخلاقي کره کتنه:

په دې کره کتنه کې اخلاقي ارزښتونه د کره کتنې اساسي اصل ګڼل کېږي، کېدی شي د ادبي کره کتنې ډېر پخوانی ډول وي. اپلاتون په شعر او ډرامه کې د هغو اخلاقي او ټولنیزو تاثیراتو ته توجه کوي، له شعر او ادب څخه يې په همدې خاطر انکار کاوه چې کېدی شي د ځوانانو اخلاقو ته زیان ورسوي. (ارسطو) هم په دې باور دی چې د شعر په تېره بیا د تراژیدي هدف باید د نفس تصفیه او تذکیه وي. (هوراس) بیا د شعر ارزښت د هغه په ګټورتیا او ښکلا کې ګوري. په هر حال اکثره پخواني مفکران د شعر او ادب روزنیز او اخلاقي اړخ ته قایل وو.

په اروپا کې په منځنیو پېړیو کې یوازې د کلیسا پلویانو، په دې خاطر چې شعر د اخلاقو په خدمت کې نه و، د شیطان غذا ګڼله، د اوولسمې پېړۍ کلاسیکانو هم د شعر لپاره د ظاهري ښکلا ترڅنګ

اخلاقي هدفونه هم لازم ګڼل. په اتلسمه پېړۍ کې فرانسوي (دیدرو) پاکي پالنه، د ازایلو غندنه، او د عیبونو راسپړنه د هر ډول هنر اهداف ګڼل. ویل به یې (( د یو ادبي اثر هدف دادی چې په سړي کې د مینې او تقوا روحیه وروزي او له وحشت څخه یې لرې کړي.)) د همدې پېړۍ انګلیسي لیکوال (دکتر جانسون) په دې نظر دی چې شاعر باید نړۍ لکه څنګه چې ده تر هغې ښکلې انځور کړي)).

د شلمې پېړۍ په پیل کې (تولستوی) او ګڼ شمېر نورو کره کتونکو د ادبیاتو پر اخلاقي اړخ ټینګار وکړ او نورو لیکوالو او کره کتونکو هم دا لاره تعقیب کړه.

د کره کتنې دغه پوره بېلابېل ډولونه چې هم د کره کتنې د بهیرونو او هم د ښوونځیو په نامه یاد شوي دي، دلته مو په لنډېز سره معرفي کړل، خو یو زیات شمېر ادبپوهانو چې کله هم د کره کتنې ښوونځیو ته اشاره کړې، نو هلته یې ادبي ښوونځي معرفي کړي دي، ددې ښوونځیو تشخص یې په واقعیت کې د کره کتنې د ښوونځیو تشخص ګڼلای دی. د کره کتنې پر پورته ډولونو سربېره چې ځینو پوهانو د کره کتنې د ښوونځیو په نامه هم یاد کړي دي، د کره کتنې ځینې ډولونه، لکه تاثراتي، نیوهیومانیستي ، فتوایي، محاکاتي، عیني، صوري یا شکلي، ټولنیزه-کلتوري، انطباعي او ځینې نورې کره کتنې هم شته، خو پورتني ډولونه یې هغه دي چې ډېر کارول شوي او لا هم کارېږي.

# د شپږم څپرکي لنډیز

لکه څنګه چې دمخه مو (د ادبي ښوونځیو) په څپرکــي کــې یادونــه وکړه، یو شمېر لیکوالو او څېړونکو د کره کتنې ډولونه، د کره کتنــې ښوونځي او ادبي ښوونځي سره څنګ په څنګ څېړلي، یو بل کې ډېر نغښتي او یو بل سره اوډل شوي، په تېره بیا د کره کتنــې ډولونــه او ښوونځي، دلته غواړو د کره کتنې د ډولونــو پــه بــاب ډېــرې لنــډې څرګندونې وکړو:

کره کتنه په لومړي پړاو کې پر دوو لویو برخو وېشل کېږي: نظري کره کتنه او عملي کره کتنه او په نظري کره کتنې کې د کره کتنې فکري لیدل لوری، نظرونه، پرنسیپونه، اصول او معیارونه راځي. پــه عملــي کره کتنه کې عملاً یو اثر تر څېړنې، ارزونې او شــننې لانــدې نیــول کېږي.

د کره کتنې له بېلابېلو ډولونو څخه یو قانون جــوړونکی نقــد دی. دا ډول کره کتنه د عملي او علمي نظریو د بیان لپاره اصول وضع کوي.

په تاریخي کره کتنه کې یو ادبي اثر د تاریخي شرایطو او چاپېریال له مخې ارزول کېږي.

په ټولنیزه کره کتنه کې بیا په یوه اثر کې د نژاد، چاپېریال او تاریخي شېبو رول ارزول کېږي.

په رومانتیک نقد کې، مسرت، ولولې، رومانیت ددې ډول کــره کتنــې اساس جوړوي.

په ښکلا پېژند نقد کې په یوه هنري ادبي اثر کې د هغه اثر د ښکلا پېژ اړخ تحلیل او تجزیې ته زیاته پاملرنه کېږي.

په تحلیلي کره کتنه کې کره کتونکی ناپېیلی پاتې کېږي. په دې ډول کره کتنه کې د ادبي اثر پیغام تحلیلېږي، پر لوستونکي یې اغېز ته پام کېږي، روحیاتي مطابقتونو ته پام کېږي، خو کره کتونکی کومه فیصله یا حکم نه صادروي.

په استقرایي کره کتنه کې وایي چې کره کتنه باید د ساینس په څېر بې طرفه وي. ددې ډول کره کتنې هدف دادی چې ادبي کره کتنه د استقرایي علومو په لړۍ کې شامله شي.

په مارکسیستي کره کتنه کې د ټولنې او ادبیاتو ترمنځ اړیکي شنل کېږي.

په ارواپوهنیزه کره کتنه کې په یوه ادبي اثر کې د پنځوونکي نفسي اساس ته توجه کېږي او د هغه په رڼا کې د تخلیقي اثر د پنځوونکي شخصیت څېړل کېږي.

په مقایسوي او پرتلیز نقد کې بیا د کره کتونکي له خوا د یوه لیکوال اثر د بل لیکوال له اثر سره پرتله کېږي او یا هم د یوې ژبې د یوې دورې اثار د هغې ژبې د بلې دورې له اثارو سره مقایسه کېږي. همدارنګه د کره کتنې نور ډولونه چې پر هر یوه یې په خپل ځای کې رڼا اچول شوې ده.

# د شپږم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-نظري کره کتنه کومې کره کتنې ته وايي؟

۲-عملي کره کتنه څه ډول کره کتنه ده؟

۳-رومانتیک نقد څه ډول نقد دی، بنسټګر یې څوک دي؟

۴-تحلیلي کره کتنه څه ډول کره کتنه ده، چېرته رامنځتــه شــوه او پلویان یې څوک دي؟

۵-د استقرايي کره کتنې اساسي محتويات څه دي؟

۶-ايا مارکسستي کره کتنه اوس هم د چلند او تطبيق ساحې لري؟

۷-د اروپاپوهنيز نقد بنسټګر څوک دی او ددې کره کتنې اساسات پر څه شي ولاړ دي؟

۸-ايا پرتليزه کره کتنه يوه ګټوره او ممکنه کره کتنه ده؟

۹-ښکلاييز نقد څه ارزښت لري؟

۱۰-پر پورتنيو کره کتنو نورې کره کتنې کومې دي؟

# سپارښتنې

- هر محصل دې له دې پورتنیو کره کتنو څخه یوه په نښه او پر هغې دې ځانګړې څېړنیزه لیکنه وکړي.
- محصلین دې په یادو کره کتنو کې دوه په نښه او یــوه دې له بلې سره پرتله کړي او په ټولګي کې دې په ګړنــي او یــا لیکني ډول نورو محصلینو تــه وړانــدې کــړي او د هغــوی پوښتنو ته دې ځواب ووایي.

# اووم څپرکی

# د کره کتنې اصول او معیارونه

کره کتنه د یوه علم په توګه ځانګړي اصول او معیارونه لـري، خــو دا معیارونه د ساینسي هغو په شان فکس او کانکرېټي نــه دي، لکــه د ټولنیزو علومو د نورو برخو په شان، دلته هم معیارونه د یــوه نســبي توافق تر حده پورې دي.

د ارزونې لید لوري هم کله کله توپیر کوي. کره کتنه اکثره د شکل او محتوا د ځانګړنو له مخې ترسره کېږي. د شکل لپاره معیارونــه څــه دي؟ او د محتوا لپاره څه معیارونه په کار دي؟ ((هنري یــا ادبــي اثــر کومې ځانګړنې لري؟ د ادبي اثر مضمون مهم دی که یې شــکل؟ کــه شکل مهم دی نو خصوصیات یې څه دي؟ که مضــمون تــه ارزښــت ورکول کېږي، په هغو کې کوم اړخ تــر نــورو دمخــه دی؟ ښــکلاییز، اخلاقي، عقیده یي، سیاسي او که بل څه؟ په ادبي اثــر کــې څــومره واقعیت او څومره تخیل شته او افاده یې په کوم ســبک شــوې ده؟ د ادبي اثر هدف او غرض څه دی؟ تر لاس لاندې متن ثقه دی؟ د ادبــي اثر ژبه صریحه او خوږه ده؟ د ادبي اثر د تخلیق چاپېریــال څــه ډول دی؟ له عصري معیار سره سم یې ښکلاوې او عیبونه کــوم دي؟ اثــر

ابتکاري دی که مبتذل او تکراري؟ د لیکوال دریځ او په اثر کې کلتوري انعکاس څنګه دی؟ اثر په کوم ادبي جریان پورې اړه لري؟ د لیکوال هدف او ارزښتونه څه دي؟ ایا ادبي عنعنې په کې مراعات شوي دي او داسې نورې پوښتنې او غوښتنې...)) (۲۶: ۳۵-۳۶).

که څه هم ادبپوهانو د کره کتنې د معیارونو په باب بېلابېل نظریات څرګند کړي چې پر خپل ځای به ورته اشاره وشي، خو دوه معیارونه یا اصول یې تر نورو زیات مطرح ګڼلي دي، غواړو په پیل کې د کره کتنې دې دوو اصولو او معیارونو ته په لنډیز سره اشاره وکړو:

## ۱- مطلق اصول او معیارونه:

یو شمېر ادبپوهان په دې نظر دي چې په کره کتنې کې یو لړ داسې مطلق اصول او معیارونه شته چې هغه پر هر ځای او هر زمان کې پر یوه ادبي اثر د تطبیق وړ دي. ښکاره پیغام، اخلاقي ارزښتونه، تصویر او نور هغه معیارونه او اصول دي، چې د هغو په رڼا کې یو ادبي اثر ارزول کېدی شي او یو ادبي اثر باید دا ځانګړنې ولري، چې ورته ادبي اثر ووایو، دا اصول او معیارونه د زمان او مکان حدود نه پېژني، په واقعیت کې نړۍ شموله دي او د هرې ژبې پر ادبي اثر د تطبیق وړ دي.

## ۲- نسبي اصول او معیارونه:

یو شمېر نور ادبپوهان بیا په دې نظر دي چې د کره کتنې اصول او معیارونه مطلق نه دي، بلکې نسبي دي، یو کره کتونکی یو اثر ته له

یوې زاویې ګوري او بل ورته له بل لیدلوري. په دې کتنه کــې د کــره کتونکي شخصي نظر، فکر او ذوق هم دخیل دی او د اثــر چاپېریــال هم، چې دا ډول د بل کتونکي له اثر او چاپیریال سره توپیر کــوي، د دوی په نظر د کره کتنې اصول او معیارونه د ساینســي فورمونــو پــه شان مطلق نه دي، بلکې نسبي دي، دا دواړه نظریې خپل پلویــان او مخالفین لري او دواړه خپل خپل دلایل. ددې لپاره دا دلایــل لا ښــه څرګند شي او همدرانګه د کره کتنې نور ډولونه او معیارونه راته پــه ډاګه شي، خپل بحث به پسې وغځوو. که څه هم مــوږ د کــره کتنــې ډولونو ته په شپږم څپرکي کې اشاره کړې، خو دلته یو ځل بیا غواړو د کره کتنې ځینې ډولونه او د هغو معیارونو ته په لنډیز ســره نغوتــه وکړو او په دې برخه کې د ځینو ادبپوهانو نظریات هم څرګند کړو:

د افغانستان نامتو کره کتونکی او ادبپوه استاد محمدصدیق روهي د کره کتنې د اصولو او معیارونو په باب وایي: (( ایا په کــره کتنــه کــې جهانشموله (Universel) معیارونه او اصول شته؟ په دې برخه کې دوه ډوله نظریې لیدل کېږي: ځینې، معیارونه نسبي ګڼي او وایي چــې د کره کتنې معیارونه له یوې خوا د شخصي ذوق او څکې تابع دي او له بلې خوا د هر کره کتونکي معیارونه د هغه له نړۍ لید او د تفکــر لــه څرنګوالي څخه مشتق کېږي. پر دې اساس د ادبي اثــارو ارزیــابي د جهانشموله قوانینو غبرګې ته ځان سپاري او په عندي بڼه پاتې کېږي. ځینې نور د مکلفیت پر خوا دي او ادعا کوي چې سربېره پــر نســبي معیارونو ځینې مطلق معیارونه هم شته چې پر ټولو ادبي اثارو په هــر هر ځای کې او هر وخت د تطبیق وړې دي... د مثال په توګه موږ حتی

په شلمه پېړۍ کې د (هومر) له حماسې څخه خوند اخلو او لــه هغــې څخه داسې فلمونه جوړوو، چې لګښت يې تر عادي فلمونو زيات دی. د (هومر) د ژوند داستان د روايتونو په غبــار کــې پــټ شــوی دی او هېڅوک په يقيني توګه نه پوهېږي چې دی چېرته او څه وخت پيــدا شوی دی. په يوه حساب دی له نن څخه نږدې (درې زره) کاله مخکې ژوندی و. خو د ادب په نــړۍ کــې هېڅوخــت نــه دی مــړ شــوی. د (سوفوکليز) د (اوديپ) ډرامه دومره تاريخي شهرت او ارزښــت لــري چې د (فيورټي) په اصطلاح يوه کتابتون کتابونه ورباندې ليکل شوي دي. همدارنګه د (شکسپير) او (مولير) ډرامې لا تراوسه د نــړۍ پــه اکثرو تياترونو کې ښودل کېږي.

په دې ترتيب موږ ګورو چې يو زيات شمېر کلاسيک ادبي اثار په هــر وخت او هر ځای کــې د ســتاينې او پــاملرنې وړ ګرځېــدلي دي او د ادبياتو په تاريخ کې لوړ مقام لري. دغسې نــامتو اثــار هرومــرو ګــډ ارزښتمن خصوصيات لري چې د تاريخ پر پيکر باندې د قيمتي غميو په شان ځړېدلي او ځلېدلي دي او خپل ارزښت يې له لاســه نــه دی ورکړی، نو ويلای شو چې سربېره پــر نســبي معيــارونو، ادب ځينــې مطلق معيارونه هم لري چې د زمان او مکان له قيودو څخــه ازاد دي. ددغو اصولو او معيارونو تشخيص او پلټنه طبعاً مشکل کار دی، خو له موجوديت څخه يې سترګې نه شو پټولای. له بلې خــوا د نســبيت د نظريې پلويان همېشه پوښتنه کوي چې ايــا د کلاســيکو اثــارو کــره کتونکي کولای شــي يــو ډول معيارونــه ومنــي؟ د مثــال پــه توګــه (شکسپير) يوه وتلې او نامتو ادبي څېره ده، خو کلــه چــې دده اثــار

ارزيابي کېږي مختلف کــره کتــونکي دده د اثــارو مختلــف اړخونــه ستايي، ځينې يې مضمون ته پاملرنه کوي او ځينې يــې شــکل تــه، ځينې يې ټولنيزه قرينه کې ګوري او نور يې د سايکالوجۍ برخــه پــه نظر کې نيسي. ځينې يې د (نرۍ) هنر په تله کــې تلــي او نــور يــې د اخلاقي ارزښتونو له موازينو سره برابروي. پر دې اساس ويــلای شــو چې د کره کتونکو معيارونه بيا هم نسبي بڼه غوره کــوي او نــه شــو کولای چې يو مطلق او د ټولو له خوا منل شوی معيار ورباندې تطبيق کړو. له دې پورتنيو کتنو څخه دې نتيجــې تــه رســېږو چــې د کــره کتونکو نظرونه يو له بله توپير لري.)) (۱۵: ۴۱-۴۳).

پوهاند عبدالقيوم قويم چې (نقد ادبي) په نامه يې يو کتــاب ليکلــی دی او په پوهنتون کې د نقد مضمون تدريسي اثر ګڼل کېږي پــه دې نظر دی چې: (( کره کتونکی د يوه اثر د ارزونې لپاره بېلابېل معيارونه په پام کې نيسي، خو ښه کره کتونکی همغه دی چې يو معيار مطلــق ونه ګڼي. پوهاند قويم د لفظ يا کلمې د کارونې څرنګوالی د کره کتنې بل معيار دی په دې برخه کې د (لوناچارسکي) يــو مثــال ورکــوي او وايي، چې د (مايافسکي) په شان په هره بڼه چې وغواړي پــه همغــه ډول يې ترکيبوي. د پوهاند قويم په نظر په يو اثر کې د هنري ارزښت ارزونه د کره کتنې بل معيار دی، کره کتونکی يو اثر د هغــه د خپــل هنري ارزښت له مخې ارزوي. نوښت، ابتکار او نويوالی بل معيــار دی چې کره کتونکی يې په پام کــې نيســي. ټــولنيز پرنســيپونه هــم د معيارونو له جملې څخه ګڼل کېږي.)) (۲۱: ۸۰).

په ادبي کره کتنه کې پر مطلقو معیارونو نه توافق او د نسبي معیارونو رنګارنګي او څو اړخیزوالی ددې سبب شوی چې ډول ډول معیارونــه رامنځته شي، د کره کتنې هر ښوونځي د یوه اثر د تحلیل او ارزونــې لپاره یو لړمعیارونه وضع کړي دي، یو ښوونځی یو اثر له ښکلاییز، بل یې له فکري، بل یې له رواني، بل یې له شکلي او بل یې له بــل اړخــه څېړي، خو ددې ټولو ترمنځ مشترک ټکي هم شته، مشــترکات دادي چې د کره کتنې معیار دا معلوموي چې یو ادبي اثر رښتیا هم ادبي اثر دی که نه؟ ادبي جوهر لري او که نه؟ له عادي کلام څخه د ادبي کلام بېلول دا د کره کتنې دنده ده.

ددې لپاره چې د کره کتنې پر معیارونو مو یو څه رڼا اچولي وي، ښــه به وي چې دا معیارونه د بېلابېلو ادبپوهانو او د کره کتنې د بېلابېلــو ډولونو له نظره هم وګورو چې یو ادبپوه او د کره کتنې یــو ډول د یــو ادبي اثر د څېړنې او شننې لپاره کوم لید لوري لري: ((اپلاتــوني کــره کتنه ادبي اثارو ته د اخلاقي او سیاســي هــدفونو لــه نظــره ګــوري. اپلاتون پر (هومر) او د یونان پر ځینو نورو شاعرانو باندې د اخلاقــي ارزښتونو پر بنا ځینې انتقادونــه کــړي دي او ویلــي یــې دي، هغــه شعرونه دې ماشومانو ته نه لوستل کېږي چې د درواغو، ټګــۍ او بــې زړه توب درس ورکوي. دی وړاندیز کوي چې د داسې شعرونو ویونکي دې د (اتن) له ښار څخه وشــړل شــي. نــو د اپلاتــون د کــره کتنــې معیارونه د اخلاقو او ګټې پر بنسټ دربېدلي دي. لیکن د (ارستو) پــه نظر د یوه ادبي اثر ارزښت باید د هغه په داخلي جوړښت، منطقــي او صوري خصوصیاتو کې وپلټل شي. په بله ژبه، ارستو که څه هــم پــه

ادب کې د اخلاقي ارزښتونو په مقابل کې بې تفاوته نه پاتې کېږي، خو دده په عقیده ادبي اثارو ته باید د ادب له نظره وکتل شي. په حقیقت کې ویلای شو چې د (ادب د ادب لپاره) مفکــوره پــه مســتتر ډول د لومړي ځل لپاره د ارستو له خوا وضع شوې ده.

د کره کتنې دوه نور متضاد معیارونه د مطلقیت او نسبیت له مفکورو سره اړه لري. د مطلقیت پلویان وایي که چېرې کره کتنــه عنــدي او ذهني شکل غوره کړي، انارشي او ګډوډي به منځته راشي چې دا کار به ادبیاتو ته ډېر زیان ورسوي. د مطلقیت پلویان ټینګار کوي چــې د ادبي اثارو په ارزیابي کې همېشه باید فقط یو ډول معیارونه او اصــول تطبیق شي. له بلې خوا نسبیون عقیده لــري چــې د ادبــي اثــارو د ارزیابۍ لپاره د جهانشموله او مطلقو معیارونو موندل یــو ناشــونی او ناممکن کار دی. معیارونه نسبي دي او له مختلفو فلسفي تمایلاتو او نړۍ لیدونو سره اړه لري. د مثال په ډول، یــوه طبقــاتي ټولنــه کــې استثماروونکې طبقه ادبیاتو ته یوازې د تفنن او تجمل له نظره ګوري او د هغو په زعم ادبیات باید فقط د سرګرمۍ او تفریح وسیله وي. په داسې حال کې چې استثمار شوې طبقې غواړي چې ادبیات د خلکو د ویښولو، لمسولو او د هغــوی د طبقــاتي شــعور د لوړولــو وســیله وګرځي.

د تفسیري انتقاد پلویان ادعا کوي چې کره کتونکی کولای شــي پــه نسبي توګه نا شخصي او بېطرفه معیارونــه وضــع کــړي. د دوی پــه عقیده، هر ادبي اثر یو سند دی. د کــره کتــونکي وظیفــه داده چــې ددغه سند ماهیت او اصلي کرکتر (اوبژکتیف) ډول وڅېړي او خپــل

عندي تمايلات په کې داخل نه کړي. کله چې يو ادبي اثر د بېلابېلــو تعبيري کره کتونکو له خوا وڅېړل شي د هغه اصلي څېره په روښانه توګه ليدل کېږي.

متني کره کتنه لوستونکی د متن له رموزو او معناګانو او قرينو ســره اشنا کوي او د يوه اثر د صحت او سقم په باره کې ژوره څېړنه کوي. د متني کره کتنې هدف دادی چې د مختلفو نسخو له مخې د يوه اثــر اصلي متن احيا کړي.

د متني کره کتنې په برخه کې چې تاريخي سابقه هم ولري او يــا پــه اصطلاح د تاريخي متنونو، هغه څه نظم وي که نثر، کــره کتنــه ډېــر دقت غواړي، ددې ډول کره کتنې او دا چې له کومو معيــارونو څخــه بايد په کې کار واخيستل شي، ښه به وي چې د هېواد د يــو پيــاوړي ليکوال کانديد اکاډميسين پوهاند محمدرحيم الهام يوه داسې ليکنه را واخلو، چې يــو تــاريخي مــتن يــې د متنپــوهنې او ســبکپوهنې ميتودونو له مخې ارزولی او پر هغه يې عملي کره کتنه هم کــړې ده:

[محمد هوتک او محمد يو شاعر دی که بېل کسان دي؟

سرمحقق زلمی هېوادمل د لیننګراد د ختيځپوهنې د انستيتيوت په خطي کتابونو کې د (فوايدا شريعت) د يوې خطي نسخې په پای کې د ((محمد)) په نامه د يوه شاعر يوه غزله مونــدلې ده. ده دا غزلــه ((د پښتو ادبي تاريخ خطي منابع)) په رساله کې رانقل کړې او ويلې يــې دي، چې ښايي دغه ((محمــد)) د ((پټــې خزانــې)) مولــف ((محمــد هوتک)) وي چې دغه يوه غزله يې په دې نسخه کې نقل او خونــدي شوې ده. هېواد مل دغه غزله له هغې غزلې سره پرتله کړې ده، چــې

محمد هوتک د پټې خزانې په پای کې د خپل شعر د نمونې په توګه راوړې ده او دې نتیجې ته رسېدلی دی، چې د فوایدا شریعت د قلمي نسخې غزله چې دده د کتاب ((د پنځمې برخې یوولسمه نمره غزله ده، له محمد هوتک څخه پرته د بل شاعر نه شي کېدی.)) خو سره له دې هم، ښاغلی هېوادمل چې یو دقیق او ځیرک سرمحقق دی، غواړي چې دغه مساله نوره هم وسپړله شي چې مبادا ده په خپل دغه قضاوت کې اشتباه کړې وي. نو له مانه یې هم وغوښتل چې خپله رایه په دې باب کې څرګنده کړم، چې که دی په خپل قضاوت کې تېروتلی وي خپله سهوه اصلاح کړي. ما د سرمحقق هېوادمل دا غوښتنه ومنله او دا دی هڅه کوم چې که وکولای شم د پرتلیزې سبک پوهنې د اصولو په رڼا کې دغه مساله وڅېړم.

## سوال:

ایا هغه غزله چې هېوادمل په لیننګراد کې د (فوایدا شریعت) په خطي نسخه کې موندلې ده د پټې خزانې د مولف (محمد هوتک) ده که د کوم بل (محمد) چې لاتراوسه پېژندلی شوی نه دی؟

دې سوال ته د یوتقریبي سم ځواب د موندلو لپاره لومړی د هغه میتود چوکاټونه راوړم چې دلته یې تطبیقول غواړم.

د ځینو پوهانو په عقیده، د سبکپوهنې ساحه پر نهو برخو باندې په دې ډول وېشله کېږي:

۱- سیمه ییز واحد سبک

۲- ملي سبک

۳- په یوه دوره کې د یو ملت د سبک شریکې ځانګړتیاوې

۴- د یو دریځ، مکتب یا نهضت سبک

۵- د یو لیکوال فردي سبک

۶- د یو لیکوال فردي سبک د لیکوالۍ په یوه خاصه دوره کې.

۷- د یو اثر سبک

۸- د یو اثر د یوې برخې سبک

۹- د یو عصر سبک چې پر ټولو یادشوو هنري پوړیو باندې اغېزه کوي.

ددغو دوو غزلونو په برخه کې د دوو فرضیو د اقامې امکان شته:

لومړۍ فرضیه: دا دوې غزلې به د دوو تنو وي.

دویمه فرضیه: دا دوې غزلې به د یوه شاعر وي.

د دواړو فرضیو د ازمویلو لپاره له ورته میتود نه کار اخیستلای شو. زموږ لومړۍ هڅه به دا وي چې په پاسنیو (نه ګونو) ساحو کې هغه چوکاټ پیدا کړو، چې دغه دوه غزلې د قرینې، منطق او کمیت له مخې په کې واچولای شو. پاتې دې نه وي، چې د یوې علمي فرضیې د سموالي او نا سموالي د ثابتولو لپاره د data کمیت ډېر اهمیت لري.

یعنې هر څومره چې data زیاته وي، همغومره د څېړنې نتیجه ډاډمنه وي. خو له بده مرغه data ډېره کمه ده، یعنې صرف له دوو لنډو غزلونو څخه د سبکي عناصرو او ددغو عناصرو دجوړښت د کلیت پشانتیا او بېلوالي په یقیني توګه نه شو معلومولای.

خو موږ به خپله هڅه ونه سپموو.

اوس خپله data رانقلوو: د محمد هوتک غزل:

ســـاقي، پاخـــه، د ســـرو ملـــو ډک یـــو جـــام را
ســـتا لـــه غمـــه نـــا ارامـــه یـــم، ارام را
بـــې لـــه میـــوو د ســـهار ننـــدارې څـــه کـــړم؟
پســـــرلی ســـــو، د خوښـــــۍ ښـــــه پیغـــــام را
دنیـــا پاتـــه ده، ښـــادي مـــو یـــو ګـــړۍ ده
یـــو ګـــړۍ مـــې خـــوښ کـــه، مـــی کـــړی انعـــام را
د ښېلتـــون پـــه تـــاریکو کـــې مـــې زړه شـــین ســـو
رڼـــا لمـــر د جـــام د میـــوو پـــه ظـــلام را
ناکـــامیو د دنیـــا مـــې کـــام راتـــریخ کـــا
چـــې مـــې خـــوږ کـــا کـــام، ترخـــه و مانـــا کـــام را
نه نشاط سته، نـه مسـتي سـته، نـه رنـدي سـته
چـــې ســـم رنـــد هغـــه اوبـــه علـــی الـــدوام را
پـــه اوبـــو مـــې ســـوړ زړګـــی لـــړ څـــه راتـــود کـــه
محمـــد تـــه د اور ډک یـــو هســـې جـــام را.

د محمد غزل:

نـه کـړې پـه هېڅـا بانـدې صـرفه هجرانـه، تـه
یار دې لـه مـا بېـل کـړ مـا پـه دوه سـترګو کاتـه
دا ترابه مـا نـه ول چـې بـه یـار لـه مـا جـدا کـا
ځکـه مـې پـه ځیـر د یـار و مـخ وتـه کاتـه

مه وایه خنـــدان ګــل دې ببــل کــړی لــه بوســـتانه
ولاړه پــــه ارمـــــان بلبــــل لـــــه ګلـــو الواتـــه
تـــور بانـــه دې غشـــي نـــاوکي کـــړه مـــا پـــه وژنـــې
ولـــې صـــرفه نـــه کـــړې، تـــر زړګـــي مـــې وخاتـــه
نجونـــه زلمـــي واړه تـــورو خـــاورو لـــره درومـــي
تـــــور اوبـــــل و ځنـــــې و لحـــــد تـــــه پربواتـــــه
ولاړه د ... کـــــــــړه ولاړه نـــــــــه ســــــــتنېږي
یـــار یـــې ځنـــې ببـــل کـــړئ محمـــد یـــې وناتـــه

اوس، راشئ وګورو چې خپله data په کومو چوکاټونو کـــې ازمـــویلای شو:

۱- سیمه ییز واحد سبک: زموږ data په دې چوکاټ کې ځېړل کېدی شي.

۲- ملي سبک: په دې چوکاټ کې ځېړل کېدی نه شي.

۳- په یوه دوره کې د یو ملت د سبک شریک خصوصـیتونه: پـه دې چوکاټ کې هم ځېړل کېدی نه شي.

۴- د یو دریځ، مکتب، یا نهضت سبک: په دې چوکاټ کې هم نه شي ځېړل کېدی.

۵- د یو لیکوال فردي سبک: په دې چوکاټ کې ځېړل کېدی شي.

۶- د یو لیکوال فردي سبک د لیکوالۍ په یوه خاصه دوره کې: په دې چوکاټ کې نه شي ځېړل کېدی.

۷- د یو اثر سبک: په دې چوکاټ کې هره غزله لــومړی جــلا څېــړل کېدلای او بیا دواړه سره پرتله کېدی شي.

۸- د یو اثر د یوې برخې سبک: په دې چوکاټ کــې نــه شــي څېــړل کېدی.

۹- د یو عصر سبک چې پر ټولو یاد شوو هنري مرحلو بانــدې اغېــزه کوي. په دې چوکاټ کې هم څېړل کېدی نه شي.

## لومړی:

د سیمه ییز واحد سبک په چوکاټ کې.

دواړه غزلې د ژبنیز جوړښت له مخې په لهجوي لحاظ په دې لاندینیو پوړیو کې تحلیل او پرتله کوو:

۱- فونو لوژیک جوړښت.

۲- لگزیک جوړښت

۳- مورفولوژیک جوړښت

۴- سنیتا کتیک جوړښت

موږ پوهېږو، چې د محمد هوتک لهجه د کندهار داده، چې په خپله د پټې خزانې د نثر متن یې ثابتوي.

## الف- فونولوژیکه پرتله:

د پښتو په گرافیمي سیستم کې ددې ژبې ټولې فونتیکي ځانگړتیاوې نه شي منعکسېدی. په غزله کې ، سره له دې هــم، د پټــې خزانــې د

قلمي نسخې د ليک دود له مخې يوازې يوه کندهارۍ ځانګړنه موندلای شو:

((پسرلی سو، زړه شين سو، نه نشاط سته، نه مستي سته، نه رندی سته، چې سم رند.))

دکندهار په لهجه کې د ((سول)) د مادي ټول مشتقات په (س) ويل کېږي او دغه فونيم په همدې کلمه کې د نورو لهجو له (ش) سره تقابل لري:

| کندهار | نورې لهجې |
|---|---|
| سوم | شوم |
| سوو | شوو |
| سوی | شوی |
| سواست | شوئ |
| سو | شو |
| سول | شول |

خو د محمد په غزله کې د کندهار د لهجې د فونيميک جوړښت بېلګې نه شته.

## ب- لګزیکه پرتله:

د محمد هوتک په غزله کې د کندهار د لهجې خاص لګزیکي عناصر نه لیدل کېږي. خو د محمد د غزلې د دویم بیت په لومړۍ مصرع کې د ((ترا)) کلمه او د ((مانه ول)) جمله چې د نورو لهجو له ((ما نه ویل)) سره تقابل لري، د کندهار د لهجې څرګندې لګزیکې بېلګې دي. همدغسې د محمد دغزلې په مقطع کې چې وایي:

یار یې ځنې بېل کړئ محمد یې وناته

د کندهار د لهجې دوه نورې بېلګې شته دي: ((کړئ)) او ((ناته)).

په کندهار کې د ((کړئ- کی)) شکل ( چې مورفولوژیک خصلت هم دی) د واحد غایب د صیغې لپاره د نورو لهجو له ((کړ- که)) سره تقابل لري او ((ناته)) د ((نتل)) له مادې څخه ما په خپله په نورو لهجو کې نه دی اورېدلی او زما له پوهې سره سم دغه شکل هم د کندهار د لهجې ممیزه ګڼل کېدی شي.

## ج- مورفولوژیکه پرتله:

د محمد هوتک په غزله کې د ((کا)) او ((را)) شکلونه د ((کړ)) او ((راکړه - راکه)) پر ځای؛ ((پاته ده)) د ((پاتې ده))؛ ((دبېلتون په تاریکو کې)) د ((بېلتانه په تاریکیو کې)) پر ځای ((کاته، الواته، وخاته، پربواته، وناته)) د ((کوت، الوت، وخوت، پربووت، وکوت ( چې مانه دی اورېدلی) پر ځای او ((وما ناکام را)) د ((ما ناکام ته راکه)) پر ځای ټول د کندهار د لهجې مورفولوژیک ممیزات څرګندوي. په دې

غزله کې ((کا)) او ((کړ)) دواړه راغلې دي. په همدې توګــه ((نجونــه زلمي واړه)) باید د نورو لهجو په شان ((نجونې زلمي واړه)) وي.

نو د مورفولوژیک جوړښت له مخې د محمد شعر د کندهار د لهجــې خورا زیات ممیزات لري.

## د- سنتاکتیکه پرتله:

د محمد هوتک په غزله کې ((یو ګړۍ دی)) د ((یــوه ګــړۍ ده)) پــر ځای؛ او بله پلا ((یوګړۍ)) د ((یوه ګړۍ)) پر ځای؛ ((رڼا لمــر)) د روڼ لمر)) پر ځای، (( ناکامیو ددنیا)) د ((دنیا دناکامیو)) پر ځای ( چې په پټه خزانه کې ډېر زیات راغلی دی) کارونې د کنــدهار د لهجــې او د محمد هوتک د سبک له ممیزاتو څخه دي.

د محمد په غزله کې (( په دوه سترګو)) د (( په دوو سترګو)) پر ځای؛ (( د یار ومخ وته)) د (( د یار مخ ته) پر ځای ((یار له مــا جــدا کــا)) د ((یار له مانه (څخه شکه) )) پر ځای او ((ولحد ته)) د ((لحد ته)) پــر ځای کارونې د کندهار د لهجې د عباراتو د جوړونې ممیزې دي.

له دې پرتلې څخه دا نتیجه لاس ته راځي چې: د محمد په غزله کې د کنــدهار د لهجــې فونولوژیــک عنصــر نــه شــته، مګــر د لګزیــک، مورفولوژیک او سنتاکتیک جوړښتونو او عناصرو له مخــې د ســیمه ییز واحد سبک دومره کافي ځانګړنې لري چې په پــوره یقــین ســره ووایو: (محمد) د (محمد هوتک) په شان کندهارۍ لهجه لرلــه او نــو څکه کندهاری دی.

## دويم: د فردي سبک په چوکاټ کې

**الف- شکلي جوړښت:** په متعارفه مانا دواړه ټوټې غزلې دي. د محمد هوتک غزله ((۷)) بيته او د محمد دا ((۶)) بيته لري او د وزن له مخې د عبدالحميد مومند د هغې غزلې غبرګون دی چې داسې شروع کېږي:

الـهي د مـحبت سـوزو ګـذار را
په دې اور کې د سهي سمندر ساز را

چې د فاعلاتن فاعلاتن فاعلاتن عروضي وزن لري. خو د محمد غزله بېل وزن او بېله قافيه لري او د مفتعن مفتعن مفتعن فع په عروضي وزن که ده.

د محمد هوتک د غزلې د مطلع لومړۍ مصرع او د مقطع وروستۍ مصرع د ((جام)) شايګانه قافيه او د محمد د غزلې مطلع او دويم بيت د ((کاته)) شايګانه قافيه لري. د محمد هوتک د غزلې د دويم بيت دويمه مصرع، يانې ((پسرلی سو د خوښۍ ښه پيغام را)) د وزن سکته ګي لري او بايد داسې ولوستله شي: ((پسرلی سو د خوښيه ښه پيغام را)). د محمد د غزلې د پنځم بيت دويمه مصرع، يانې:

((تور اوربل و څڼې و لحد ته پرېواته)) ګرامري نيمګړتياوې لري: لومړی دا چې ((تور اوربل و څڼې)) بايد ((تور اوربل او څڼې)) ولوستل شي او دويم دا ((پرېواته)) فعل دوه فاعله: ((تور اوربل او څڼې)) لري، خو فعل مفرد دی او د عدد له نظره د جملې ددې دوو

توکونو ترمنځ مطابقت نه شته. د ګرامري جوړښت په لحاظ باید دغه مصرع په دې ډول وي: ((تور اوربل او څنې و لحد ته پرېوتل)).

نو دشکلي جوړښت په لحاظ دواړه شعرونه نیمګړتیاوې لري، په تېره بیا په دواړو غزلو کې له شایګانه څخه د ځان ژغورلو پروا نه ده ساتل شوې.

**ب- محتوایي جوړښت:** دواړه غزلې لریک خصلت لري؛ خو د دواړو اصلي تیمونه سره توپیر لري. د محمد هوتک په شعر کې، شاعر ساقي ته خطاب کوي او شراب ترې غواړي او ډېر شراب غواړي او مدام یې غواړي او شراب ځکه غواړي چې شاعر د ساقي له غمه غمجن دی، نو په پسرلي کې هم له ښادۍ نه برخه نه لري. د بېلتانه په تاریکو کې یې زړه شین دی. په دنیا کې ناکامه دی، نشاط، مستي او رندي نه لري او دنیا هم بې بقا ده. په شعر کې د عرفاني روحیې سوز او صمیمیت منعکس شوی دی. د غم او ښادۍ د تضاد موضوع د شعر محتوا ته فلسفي رنګ او د دنیا بې بقاتوب ورته دیني، عرفاني پرداز ورکوي، دغه ټوټه که څه هم غزله ده او په غزلو کې عرفاً د موضوع وحدت، چې شراب غوښتل او ددغې غوښتنې دلایل دي، په ډېره ښه وجه ساتل شوي دي او شعر ته یې منطقي- عاطفي قوت ورکړی دی.

خو محمد په خپل شعر کې ((هجران)) ته خطاب کوي او سر ترپایه دغې موضوع ته انکشاف ورکوي. دغه ټوټه په حقیقت کې ((مرثیه)) ده، ځکه د شاعر محبوبا داسې تللې ده، چې بیا نه راستنېږي: تور اوربل او څنې یې په لحد کې پرېوتې دي. په دغه شعر کې ((هجران))

د ((مرګ)) سمبول دی. شاعر هم د خپلې محبوبې په مـرګ کـې غمجن دی او هم په خپله خپل ځان ته تسل ورکوي. په دې شعر کې هم عرفاني روحیه منعکسه ده او دا چې وایي نجـونې او زلمـي واړه تورو خاورو لره درومي د خپل ځان د تسل لپـاره منطقـي اسـتدلال کوي او د محمد هوتک په شان خپل شعر ته منطقي- عـاطفي قـوت ورکوي. په دې شعر کې هم د موضوع وحدت او تمامیت ساتل شـوی دی. نو دواړه شعرونه په سبکي لحاظ عمومي پشـانتیاوې لـري او دا فرضیه قوي کوي، چې دواړه شعرونه به د یوه سړي وي.

## دریېیم هنري جوړښت:

په دې برخه کې بایـد ددغـو دواړو غزلـو د خیـال صـورتونو (یـانې ایماژونو) چې تشبیهاتو، استعاراتو، کنایاتو، اسـاطیرو، سـمبولونو او تشخیصاتو (یعنې د بېځایه شیانو ذیروح انګـارلو) شـرحه او پرتلـه وشي.

د محمد هوتک په شعر کې طباق، تجنیس او استعارې، مګر ډېـر لـږ راغلي دي، یانې ایماژونه په کې کم دي، خو د شعر ژبه، وزن، د الفاظو انتخاب او رواني په دې حد کې دي، چې دغه ټوټه ماته سهل محتنع غوندې برېښي او په نسبي صورت یو ښه مکمل شعر دی.

خو د محمد غزل ایماژونه ډېر لري. سمبول لـري، تشـخیص لـري، د اشعات صفت په کې شته او په عمومي توګه د محمد هوتک تر شـعر هنري بډایتوب لري، مګر د محمد هوتک د شعر په شـان روانـي نـه لري. زه د اختصار د رعایت په خاطر له تفصیل نه تېرېږم.

## نتیجه:

۱- محمد هوتک او محمد د یوه سیمه ییز سبک پیروان، یانې دواړه د خپلو شعرونو د فونولوژیک، مورفولوژیک، سنیتاکتیک او لګزیک جوړښتونو په لحاظ ښځي مشارکت لري. نو دواړه د یوې سمیې، یانې د کندهار دي.

۲- دواړه د غزلو په ویلو کې پوره مهارت لري او دواړو د شعر په دې ډول کې د موضوع تمامیت او کلیت سالتی دی.

۳- دواړه په خپلو شعرونو کې په قافیو کې ((شایګان)) لري، یانې په دې برخه کې بې پروا دي.

۴- د دواړو د غزلو په محتوا کې په فکري، عاطفي لحاظ یو ډول طرز لیدل کېږي.

دغه مشترک وجوهات دې فرضیې ته قوت ورکوي، چې ګوندې دغه دواړه غزلې د یوه شاعر وي. یانې دواړه د محمد هوتک د قریحې محصولات دي.

ددې فرضیې قوت عجالتاً په سلو کې اتیاو ته رسېږي، شل په سلو کې نور هغه وخت اثباتېدی یا زموږ دغه فرضیه بالکل نفې کېدی شي، چې د محمد هوتک او د محمد نور منظوم یا منثور اثار هم پیدا شي او زموږ د کمیت د څېړنې لپاره دومره کافي شي، چې د غوڅ قضاوت علمي امکان میسر شي.](۲: ۵۸-۷۳).

دا وه د سبکپوهنې او متنپوهنې د اصولو لــه مخــې د یــوه تــاریخي منظوم متن ارزونه. غواړو اوس د کره کتنې په باب خپــل بحــث نــور پسې وغځوو او دا څرګندوو چې د کره کتنې بېلابېل ډولونه د کومــو بېلابېلو معیارونو له مخې یو اثر ارزوي یانې دا چې د کره کتنــې هــر ډول د یو اثر د ارزونې لپاره خپل خپل معیارونه لري.

انطباعي (امپریسیونیستي) کره کتنه پر دې اصل ولاړه ده، چــې یــو ادبي اثر پر کره کتونکي باندې څه ډول اغېزه کوي. دلته کره‌کتونکی د یوه اثر تر لوستلو وروسته خپل احساس او خپله انطباع څرګندوي.

د (اناتول فرانس) په عقیده، انطبــاعي کــره کتنــه: (( د شــاهکارونو ترمنځ د یوه حساس روح مــاجراجویي ده)). امپریسیونیســتي کــره کتنه، د ځینو په عقیده، درومانتیک انفرادیت او معاصرې ځان پــامۍ زېږنده ده. انطباعي کره کتونکی په دې پسې ډېــر نــه ګرځــي چــې واقعیت څه شی دی، بلکې دی تاثرات او برداشــتونه انځــوروي او د هغو له مخې پر یوه ادبي اثر باندې قضاوت کوي او داسې ښکاري، لکه یو څوک چې پر خلکو باندې د هغو د څېرو له مخې قضاوت کوي.

پر دې اساس انطباعي کره کتنه د افراطــي ذهنیګــرۍ او (اندیویــدو الیزم استازیتوب کوي، لکه پورته چې یادونه وشوه، که د چا له قیافې څخه یې ښه راغلل نو هغه سړی ښه دی او کــه بــالعکس د شــخص څېــره یــې پــه لــومړي نظــر خوښــه نــه شــوه نــو دا د لیــدونکي (امپریسیونیست) تقصیر نه دی، بلکې د لیدل شوي شخص نیمګړتیا ده چې ولې یې د لیدونکي په ذهن کې په زړه پورې انطباع نه ده پرې ایښې.

د ژبنۍ کره کتنې له نظره، ادب يو داسې هنر دی چې د ژبې لــه لارې تحقق مومي. له دې امله په هر ادبي اثر کې ژبه ځرګند او عمده نقش لري او حتی ویلای شو چې د ادبي اثر تحلیل په واقعیت کې یــو ډول ژبنی تحلیل دی. د ژبنۍ کره کتنې پلویان له یوې خوا د یوه ادبي اثر مفهومونه او ماناګانې روښانوي او په دې وسیله د ناسم پوهاوی مخه نیسي. له بلې خوا، دوی لوستونکي د الفاظو او عباراتو لــه ښــکلا او اغېزې څخه خبروي. په ژبنۍ کره کتنه کې ژبه فقط د ژبې په حیث نه ازمایل کېږي، بلکې دلته ژبه په خپله د یوه صنعت او هنر بڼــه غــوره کوي.

اکثر ادبي اثار ساده او بېطرفه الفاظ په داسې قرینه کې اســتعمالوي چې هلته يو ارزښت پیداکوي. یو معنوي پس منظر زېږوي، څو ډولــه سیوری پیداکوي او کله کله خپله کلمه له منځه ځي خو سیوری یــې پاتې کېږي. ادبي ژبه له علمي ژبې سره توپیر لري ځکه چې ادبي ژبه غالباً رمزي او سمبولیکه وي او کېدی شي چې په یوه وخت کــې تــر یوې زیاتې ماناوې پیدا کړي. د (لیوپیپڅر) اتریشي ژبپوه او مورخ پــه نظر باید ژبپوهنه او ادبي کره کتنه سره یوه شي.

د کره کتنې په ډولونو کې تاریخي کره کتنه خــاص مقــام او شــهرت لري. که څه هم کره کتنه په لرغونو وختونو کې موجــوده وه، خــو د اکثرو ادبي مورخانو په عقیده، تاریخي کــره کتنــه لــه اوه لســمې او اتلسمې پېړیو څخه د هغې په اصلي مفهوم پیل کېــږي، چــې غــوره استازي یې (درایدن) او (جانسن) دي. (درایدن) عقیده درلوده چــې هر شاعر تر یوې اندازې په ((یوه عصر) پورې اړه لري. د (جانسن) پــه

نظر: (( د دې لپاره چې پر اوسني وخت باندې قضاوت وکړو هغه باید له تېرې زمانې سره پرتله کړو.))

سره له دې، تاریخي کره کتنه په نولسمه پېړۍ کې دوو تنو فرانسوي لیکوالو (شارل اکوبستین سن بوو) او (هیپولت ادولف تین) په لیکنو کې تبارز او عمومیت پیدا کوي. (سن بوو) ویـل چــې دی غــواړي د ادبیاتو طبیعي تاریخ ولیکي. ده پر بیو ګرافي باندې زور واچــاوه او د یوه ادبي اثر ((شخصیت)) یې د لیکوال له شخصیت سره تاړه. دده په نظر موږ تر هغه پورې چې لیکوال په سمه توګه ونه پېژنــو دده ادبــي تخلیق هم په سمه توګه نه شو ارزیابولای: (( لکــه ځنګــه چــې ونــه هماغسې یې مېوه.))

د (سن بوو) شاګرد (تین) تر ده یو ګام مخکې ولاړ او د طبیعي پوهنو له مېتود څخه د پیروي په اثر یې د علت مقولې ته پاملرنــه وکــړه او خپل ادبي تحلیل ته یې د علت او معلول د بیانولو له لارې انکشــاف ورکړ. دده په پوهه د ادبي کره کتنې معیارونه: ملي کرکتــر، تــاریخي دوره او ټولنیز چاپېریال وو. ویل کېږي چې په راوروسته کې (ټــولنیز کلتوري میتود) هم د (تین) له نظریې څخــه الهــام اخیســتی دی. د (سن بوو) او (تین) نظریو د اروپا په لویه وچه کې ډېر زیات نفوذ وکــړ او حتی په هماغه پېړۍ کې یې امریکې ته هم لاره پیدا کړه. اروپــایي کره کتونکو د (سن بوو) او (تین) په پیروۍ د ادبــي اثــارو د ارزونــې پرمهال کوښښ کاوه چې د لیکوال د تفکر څرنګوالی، دده بیوګرافي، دده تاریخي او ټولنیز چاپېریال او د هغــه ادبــي منبــع وڅېــړي. پــه امریکا کې تر (۱۹۲۰م) کال پورې همدغه تاریخي کره کتنه مروجه وه،

خو تر دغې نېټې وروسته د فورمالیزم له مقاومت سره مخامخ شوه او پر (۱۹۲۰م) کال یې دفاعي حالت غوره کړ.

د نوبل د جایزې وړونکی (سن کلو لیویس) پر (۱۹۳۰م) کال د کتــرې په ډول تاریخي کره کتنې ته د اشارې پــه تــرڅ کــې وویــل: ((زمــوږ امریکایي پروفیسوران داسې ادبیات خوښوي چــې څرګنــد، ســاړه تخلیق او بالکل بې روحه وي. که په لنډ ډول ووایو تاریخي کره کتنه د یو ادبي اثر د ارزونې پرمهال کې د متن اصالت، ژبني خصوصــیات، کلتوري ارزښتونه، ادبي عنعنې، د لیکوال د ژوند جزییــات، د مــادي کلتور اغېزې او د هماغه اثر ټول منابع په نظر کې نیسي.))

د اخلاقي، مقایسوي او قضایي کره کتنو له تفصیل څخه تېرېږو، ځکه په اسانۍ سره پوهېدی شو چې په اخلاقي کره کتنــه کــې یــو اثــر د اخلاقي ارزښتونو په تله کې تلل کېږي. مقایسوي کره کتنه هم ادبــي اثار سره پرتله کوي او زیار باسي چې په دې وسیله د ((عصــر روح)) کشف کړي او قضایي کره کتنه هم د یو لړ منــل شــوو معیــارونو پــر اساس د یوه اثر ښېګڼه او بدګڼه بیانوي او زیاتره اخلاقي بڼــه غــوره کوي.

صوري یا شکلي کره کتنه (Formalist criticism) پــه انګلســتان او د امریکې په متحده ایالاتو کې ډېر زیــات عمومیــت لــري او پــه دواړو هېوادونو کې په وروستیو څو لسیزو کې یو مسلط مېتود ګڼل کېږي. فورمالیزم په ادبیاتو کې یو ریالستي ضد تمایل دی، چې پر هغــه یــو زیات شمېر ادبي مکتبونه، لکه کیوبیزم، نــړه هنــر، ســور ریــالیزم، دادایزم، پیوریزم، فاویزم، ټاچیزم او پریمتیویزم ګډ شوي دي.

ددې ادبي مکتب مشترک خصوصيات دادي چې هنـر لـه واقعيـت څخه لرې کوي، شکل ته د مضمون په نسـبت تـرجيح ورکـوي او د شکل خپلواکي او لومړيتوب ته قايل دي. ددې مکتب تيوريکي اصـل دادی چې ګويا هنر يوازې له خوند او ښکلا سره اړه لري او بايـد لـه ټولنيزو مفکورو او د خلکو له حياتي اړتياوو څخه لرې وسـاتل شـي. فورماليستي کره کتنه کله کله د (ارستويي کره کره کتنې) پـه نامـه هم يادېږي او ددې علت دادی چې د (ارستو) په نظر يو ثابت، لايزاله او ايډيال شی دی، په داسې حال کې چې ماده نيمګړې او متغيره ده.

(ارستو) په ادبياتو کې پر شکل او جوړښت باندې تکيه کـوي او هـر څومره چې به يوه ادبي اثر کې شکل کمال او بشپړتيا ته نږدې وي، په هماغه تناسب يې بديعي او هنري ارزښت زياتېږي. ماده په هغه وخت کې کمال ته رسېږي چې له ايډيال سره عياره شي. په دې وروسـتيو وختونو کې ځينې بورژوا فزيک پوهان هم ادعا کوي، چـې مـاده پـه خپل نهايي تحليل او تجزيه کې پر شکل منتهـي کېـږي او شـکل د جهان د پيدايښت مبدا ده. دغه فلسفه له علمي فلسـفې سـره پـه متضاد قطب کې واقع شوې ده او کوم علمي ارزښت نه لري. جهان له اشکالو څخه نه دی جوړ شوی او نه خالص شـکل وجـود درلـودلای شي.

اوس به راشو د فورماليستي کره کتنې عمده خصوصياتو ته. تر ټولـو دمخه بايد ووايو چې فورماليستي کره کتنـه د تـاريخي کـره کتنـې عکس العمل دی. فورماليست کره کتونکی وايي چې د يوه ادبي اثر د ارزونې لپاره د ليکوال څېړنه په کار ده. په خپله ليکوال په اثـر کـې

مدغم شوی دی او د خپل تفکر څرنګوالی یې په خپل اثر کې ښوولی دی. په دې ترتیب، فورمالیست نقاد د هغو عواملوله تحلیل څخه ډډه کوي چې لیکوال یې د ټاکلي اثر تخلیق ته مجبور کړی یا هڅولی دی. فورمالیست کره کتونکی د اوضاعو او د چاپېریال لـه تحلیـل څخـه وېرېږي ځکه چې پـه دې صـورت کـې د بورژواټـولنې خصوصـیات رابرسېره کېږي او د فردي ازادۍ او (انډیویـډوالیزم) اصـلي ماهیـت افشا کېږي. فورمالیست هڅه کوي پر ادبي اثر باندې فشار واچوي او هغه د لیکوال له شخصیته بېل کړي او له ماضي څخه یې جلا کـړي. داسې ښکاري، لکه چې لیکوال په خلا کې اثر ایجاد کړی وي. نو باید د هغه جوړښت او شکل مطالعه شي. مثلاً بایـد وکتـل شـي چـې د لیکوال په لیکنه کې تضاد شته که نه؟ د تکرار او نوښـت برخـه یـې څومره ده او داسې نور. د (شیکاګو) مکتب چې د فورمالیسـتي کـره کتنې یو ډول دی پر هر ادبـي اثـر بانـدې د خونـد او لـذت معیـار تطبیقوي. یو شمېر نور کره کتونکي پـر ادبیـاتو بانـدې احصـاییوي قاموس تطبیقوي. ځینې نور، لکه انالوجستان د شـعر د جوړښـت د څېړنې لپاره هغه ټـوټې ټـوټې کـوي او اجـزا یـې مطالعـه کـوي. د فورمالیستي نقد په باره کې ویل شوي چې هغه د ښکلا پېژندنې لـه نظره کلاسیک، د ټولنیزو او سیاسي تمایلاتو له پلوه ارستو کراتیک او د مذهبي عقایدو له اړخه محافظه کار دی.

د کره کتنې له ډولونو څخه یـوه هـم ټـولنیزه کلتـوري کـره کتنـه (Socio-cultural cri ticism) ده. دا کره کتنه په خپلو معیـارونو کـې تاریخي کره کتنې ته ډېره ورته ده خو له هغې څخه یو څه توپیر هـم

لري. (اډميونډويلسن) په خپله مشــهوره مقالــه (د ادبيــاتو تــاريخي تفسير) کې ټولنيزه کلتوري کره کتنه داسې تعريفوي: (( د اجتماعي، اقتصادي او سياسي اړخونو له پلوه د ادبياتو تعبير او تفسير)) ټولنيزه کره کتنه، د تاريخي کره کتنې پر خلاف، د ليکوال تاريخي پس منظر او د يو ادبي اثر منابعو، متن، ژبنيو کيفيتونو، ژانر او عنعناتو ته فقــط يوه عبوري کتنه کوي او پر همدې موضوعاتو باندې زيات توقــف نــه کوي.

دلته کره کتونکی د يوه ادبي اثر اړيکي له ژوند سره ( په تېره بيا لــه سياسي، اخلاقي او کلتوري خواوو سره) مطالعــه کــوي. د ټــولنيزې کلتوري کره کتنې په منځته راتګ کې د (اپلاتون)، (هيګل)، (تــين)، (مارکس) او (متيو ارنولډ) اغېزه ليدل کېږي، ځکه چې (اپلاتون) پــه شعر کې د التزام پلوی دی او شعر ته د اخلاقي او سياسي هدفونو له مخې ارزښت ورکوي او يا يې نفې کوي. (هيګل) هــم د (۲۳- ۱۸۲۲) په لکچرونو کې پر دې ټکي ټينګار کړی و، چې ادب د ټــولنيز ژونــد مظهر او د ټولنې د مسلطو افکارو انعکاس دی. (تين) توصــيه کــوي چې ادبي کره کتنه بايد ملي کرکټر، تاريخي دوره او ټولنيز چاپېريال په نظر کې ونيسي. د علمي نړۍ ليد بنسټ ايښودونکو دا ثابته کــړه چې توليدي اړيکي د هر ډول سياسي، حقــوقي، فلســفي او هنــري مفکورو او موسساتو بنسټ (زيربنا) ګڼل کېږي او په دې ترتيب مــوږ نه شو کولای ادبيات د توليد طرز له چوکاټ څخــه دبانــدې مطالعــه کړو. (متيو ارنولډ) هم په ادبي کره‌کتنه کــې پــر اخلاقــي، فکــري او ټولنيزو معيارونو ډېره ټکوي او فورماليستي کره کتنــه ردوي. ځينــې

بورژوا مفکرين په ساده ګۍ سره ټولنيزه کلتوري کره کتنه (اپلاتوني) بولي او ځينې نور هغه (چپ لاس) ته منسوبوي او پلويان يې په تــور لست کې نيسي. مګر حقيقت دادی چــې د ټــولنيزې کلتــوري کــره کتنې پلويان مختلفې درجې لري او ټول يو ډول سياسي تمايــل نــه لري. ځينې سياسي او ځينې نور يې ټولنيزو-اخلاقي او کلتوري برخو ته زياته پاملرنه کوي، خو په عمــومي ډول درې واړه لــه نــږه هنــر او فورماليزم سره مخالف دي. د (ګريبشــتاين) پــه عقيــده د ټــولنيزې کلتوري کره کتنې عمده خصوصيات دادي:

۱- ادبي اثر په هغه صورت کې په سمه توګه ارزول کېدلای شي چې د چاپېريال او کلتور په غبرږ کې دننه مطالعه شي او د يوې ځــانګړې او مجردې پديدې په نظر ورته ونه کتل شــي. هــر ادبــي اثــر د پېچلــو ټولنيزو او کلتوري عواملو محصول دی.

۲- د يوه ادبي اثر مفکورې د هغه د شکل او تخنيک په اندازه اهميت لري. شکل او تخنيک په خپله تر يوې اندازې د مضمون او مفکورو په واسطه ټاکل کېږي او له هغه څخه الهام، اخلي هېڅ عمده اثر تر هغې پورې د ادبياتو قلمرو ته لاره نه شي پيداکولای تر څو پورې چــې پــر ژورو، مهمو او ګټورو مفکورو باندې ډډه ونه لګوي. سطحي، مبتــذلې او له شرارت نه ډکې مفکورې يو اثر ته مقبوليت نه شي ورکولای.

۳- هر ادبي اثر بايد د کلتور اخلاقي او منل شوي ارزښتونه مــنعکس کړي او له ژوند سره نه بېلېدونکې اړيکي ولري.

۴- په ادبي اثر کې بايد التزام او مسووليت نغښتل شوي وي.

۵- ادبي اثار طبقاتي ماهیت لري او له ټولنیزو غوښتنو او اړتیاوو څخه ځان نه شي جلا کولای.

۶- کره کتونکی د تېرو زمانو او اوسنیو ادبیاتو په مقابل کې له مسوولیت نه ډک چلند کوي او د هر نسل اړتیاوې د خپل وخت د معیارونو پر اساس په نظر کې نیسي.

په همدې ترتیب، د کره کتنې ځینې نور ډولونه شته چې اکثره یې یو له بله جزیي توپیرونه لري او یو په بل کې متداخل دي. په عمومي ډول، د بورژوا ټولنې کره کتنه د لوړو او منځنیو طبقو علایق او ذهنیتونه منعکسوي. البته په دغه ټولنه کې ځینې کره کتنې خپل معیارونه له انتقادي ریالیزم څخه را اخلي او د کپیتالیستي ټولنې مزمنې ناروغتیاوې، استثمار او اقتصادي بحرانونه، ملیتاریزم، هیپي ګري، کانګېستریزم او د ډول ډول جنایتونو شبکې افشا کوي.

د نولسمې پېړۍ له نیمايي نه راپدېخوا یو شمېر مترقي لیکوالو او هنرمندانو د ټولنیزو، دموکراتیکو ایډیالونو د تحقق او د پانګوالۍ له جغ څخه د خلکو د پرګنو د خلاصون لپاره پراخې مبارزې پیل کړې دي. د انتقادي ریالیزم سترولیکوالو، لکه: (ستاندال)، (بالزاک)، (ډیکنز)، (ګوګول)، (تورګنیف)، (ګنچاروف)، (شیدرین)، (نیکراسوف لیف تولستوی)، (دپین) او نورو د انتقادي ریالیزم په پلوۍ د ملاکانو، بورژوازي او بیروکراتیکو اصولو پر ضد بې امانه قلمي مبارزه کړې ده او خپل قهرمان یې له زیار ایستونکو او انقلابي روښنفکرانو څخه انتخاب کړی دی. په راوروسته وختونو کې (چارلي چاپلین)، (همینګوی)، (ګرین) او نورو د خلکو د ازادۍ، سولې او نېکمرغۍ

لپاره خپل غړونه پورته کړي دي. یو شمېر کــره کتــونکي د انتقــادي ریالیزم په پله روان شوي دي، د هغو هدفونه او معیارونه یې د اثارو د ارزونه په برخه کې تطبیق کړي دي. د ټولنیزې کره کتنې دېره لــوړه مرحله د سوسیالستي ریالیزم پر معیارونو باندې ولاړه ده چې عمــده پرنسیپونه یې پرولتاري لیکوالو او شاعرانو، لکه: (ماکسیم ګورکي) او (د بیان بیدني) له خوا وضع شوي دي. ددې مکتب عمــده اصــول د علمي نړۍ لید له لیدلوري د ژونــد د واقعیتونــو روښــانول، مترقــي کارګري ایډیالوژي ته ځان وقفول، د خلکو خــدمت، سوسیالیســتي هیومــانیزم، انټرنیشــنلیزم تــاریخي اپټیمیــزم، د ذهنیګــرۍ او فورمالیزم ردول، د سولې، ازادۍ، برابرۍ او نېکمرغۍ لپاره کار کــول دي.](۱۵: ۴۴-۵۵).

د کره کتنې پورتنیو ډولونو ته په کتنې ویلای شو، چې د کره کتنــې هر ښوونځی او هر ډول د یوه اثر د ارزونې لپاره خپل خپل معیارونــه لري، نسبي او مطلق معیارونه دواړه موجود دي او ددې ترمنځ بیا هر ښوونځی یا هر ډول خپل خپل معیارونه لري.

# د اووم څپرکي لنډیز

کره کتنه یو علم دی، هر علم خپل ځانګړي اصول او معیارونه لــري. ادبپوهانو یو وخت د  کره کتنې دوه ډوله معیارونه په ګوته کړي وو.

یوه ته یې (نسبي معیار) ویل او بل ته یې (مطلق معیار). وایه دا چــې دا دواړه معیارونه پر یوه اثر د تطبیــق وړ دي، پــه دې برخــه کــې د ادبپوهانو ترمنځ د نظر اختلاف و او لا هم شــته. د شــکل او محتــوا معیارونه هم مطرح وو او دي، ځینو د یوه اثر د ارزونې لپاره شکلي او ځینو نورو محتوایي مهم ګڼل. د ځینو ادبپوهانو پــه نظــر د ځینــو د ارزونې لپاره نسبي معیارونه د تطبیق وړ دي، خو ځینې پــه دې نظــر دي چې په ادبیاتو کې یو شمېر داسې مطلق معیارونه هم شته چې د هرې ټولنې پر ادبیاتو یو شان د تطبیق وړ دي. ځینې نور معیارونه هم مطرح دي چې هغه هم اکثره د کره کتنې له ډولونو سرچینه اخلي، د ساري په توګه انطباعي کره کتنه پر دې اصل ولاړه ده، چې یوه ادبي اثر پر کره کتونکي باندې څه ډول اغېزه کړې ده.

د ژبنی کره کتنې له نظره بیا ادب داسې یو هنر دی چــې د ژبــې لــه لارې تحقق مومي، له دې امله په هر ادبي اثــر کــې ژبــه څرګنــده او عمده نقش لري او حتی ویلای شو چې د ادبي اثر تحلیل په واقعیــت کې یو ډول ژبنی تحلیل دی. تاریخي کره کتنــه بیــا خپــل اصــول او

معیارونه لري، اخلاقي کره کتنه په یوه اثر کې اخلاقي مسایل څېړي، صوري یا شکلي کره کتنه خپل، فورمالیستي خپل او همداســې هــر ډول کره کتنه خپل اصول او معیارونه لري، خو په مجموعي ډول، بې طرفي، بې تعصبي، علمیت او دقت د کره کتنې هغه معیارونه او اصول دي چې د کره کتنې په هر ډول کې باید مراعت شي.

# د اووم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-د کره کتنې نسبي اصول او معیارونه کوم دي؟

۲-د کره کتنې مطلق اصول کوم دي؟

۳-د مطلقیت او نسبیت نظریاتو کې پر کوم یوه ټینګار په کار دی؟

۴-متني کره کتنه کوم مسایل څېړي او معیارونه یې څه دي؟

۵-د سبکپوهنې ساحه پر کومو برخو وېشل کېږي؟

۶-د شکلي کره کتنې ځانګړنې کومې دي؟

۷-ایا یو ادبي اثر پر یو مهال د مطلقیت او نسبیت اصولو په رڼا کې څېړل کېدی شي؟

۸-په کره کتنه کې نړۍ شموله معیارونه شته؟

۹-د ارستو او اپلاتون د کره کتنیزو نظریاتو ترمنځ توپیرونه کوم دي؟

۱۰-ژبنۍ کره کتنه ادب له کوم لید لوري څېړي؟

# سپارښتنې

- که په دې څپرکي کې د سبکپوهنې د اصولو له مخې پر متن شوې عملي کره کتنه تاسې تـه د منلـو وړ وه؟، نـو علتونه يې وليکئ!
- محصلين دې په خپله خوښه د نظم او نثر يوه ټوټه وټاکي، هغه دې د کره کتنې د يو ډول اصولو په رڼا کـې وارزوي او په ټولګي کې دې خپلو ټولګيوالو ته واوروي.

# اتم څپرکی

# د کره کتونکي ځانګړتیاوې

لکه څنګه چې هر علم ځانته خپل اصول، معیارونـه او میتودولـوژي لري، کره کتنه هم د ادبپوهنې د یوې ځانګړې څـانګې او پـوهې پـه توګه ځانګړي معیارونه او اصول لري. کره کتونکی هم د یوه عـالم او ادبپوه په توګه مشخص عام او خاص معیارونه لري. که کره کتونکی د کره کتنې لپاره لازم ظرفیت، کیفیت او معیار، ونه لري، نو هېڅوخت سالمه کره کتنه نه شي کـولای، د ځانګړتیـاوو، وړتیـاوو او معیـار د نشتوالي په حالت کې کره کتنه له خپل علمي مسیره وځي او خپـل پوهنیز خصوصیت له لاسه ورکوي، لکه څنګه چې کره کتنه علم دی، دغسې اجرا کوونکی یا رامنځته کوونکی یې هم بایـد عـالم وي او د علم د خپلې ټاکلې برخې پر ټولو حدودو خبر او واکمن وي. ادبپوهانو د کره کتونکي لپاره یو لړ ځانګړتیاوې او ځینې خاص صـفات ټـاکلي دي. هر کتونکی چې دا خصوصیات ولري، کولای شي په تـول پـوره کره کتنه وکړي؛ له تېروتنو ځان وژغوري، د لیکوال په اثر کې سمون راولي، نیمګړتیاوې یې لرې او لیکوال ته د بریـالیتوب مسـیر او لاره اسانه کړي. په دې ځانګړتیاوو کې پوهه او بصیرت، عـدل او انصـاف، ناپېیلتیا، بې تعصبي، پر اصولو ټینګار، زړورتیا، د کره کتنــې د ادابـو

درناوی او ځينې نورې ځانګړتياوې شاملې دي، دلته به په ترتيب سره پر دې برخو لنډ لنډ بحث وکړو:

## ۱- پوهه او بصيرت:

د کره کتنې په باب دا خبره ثابته ده چې کره کتنه علم دی، نه هنر. کره کتونکی په حقيقت کې عالم دی او ليکوال يا پنځوونکی هنرمند. هغه چاته عالم ويل کېږي چې د پوهې پانګه يا علمي زېرمــه ولــري. ځوک چې ځانته کره کتونکی وايي، د پوهې او بصيرت لرل ورته خورا ضروري دي. کره کتونکی د همدې پوهې په برکت د يوه اثر تيــاره او مبهم ګوټونه روښانوي، نيمګړتياوې يې په ګوتــه کــوي او حــل لارې ورته ښيي. د يوه روسي ليکوال (لوناچارسکي) په وينا ((کره کتونکی د شاعر يا ليکوال استاد يا پلار دی، خو که چېرې لــه کــره کتــونکي څخه ډېره وړه تېروتنه وشي، نو خبره سرچپه کېږي.))

نو ځکه خو پوهه او بصيرت يا ژورليد د کره کتونکي لپاره يو اساســي توکی دی. کره کتونکی د خپلې پوهې په برکت د يوه اثــر د تحليــل، ارزونې او شننې لپاره معيارونه ټاکي. کله چې پر يوه اثر باندې د هغه د تحليل او شننې لپاره علمي معيارونه تطبيــق شــي، ليکــوال هــم ورسره توافق کوي، په دې ډول د ټولنې پرمختګ او د يوه اثر ســمون ته لاره اوارېږي.

له پوهې او بصيرت پرته د يو اثر څېړنه او ارزونه په تيارو کې د هــدف په نښه کول دي. نه يوازې مطلوبې نتيجــې تــه نــه رســېږي، بلکــې

معکوس جانبي عوارض هم راټوکوي. د کره کتنې، کره کتونکي او هم ددې عامې پروسې پر وړاندې د مخالف ټوکېدو ته هــم لاره اوارېــږي. بې پوهې او بصیرته کره کتنه کول اصلاً هېڅ جواز نه لري.

## ۲- عدل او انصاف:

د ژوند په هر ډګر کې د عدل او انصاف ټینګښــت د هغــې پدیــدې د ژوند د دوام او ثبات سبب کېږي. که چېرې د یوې موضوع په حل کې له عدل او انصاف څخه کار وا نه خیستل شــي، د لنــډ وخــت لپــاره کېدی شي، هغه موضوع ثابته او یا د منلو وړ شي، خو دا ثبات مقاوم او دایمي نه دی. که د یوې ادبي پدیدې په تحلیل، ارزونه او شننه کې هم د عدل او انصاف عنصر کمزوری وي، هغه تحلیــل ډېــر دوام نــه کوي، په رد کې یې د شننې زیات احتمال راپیــداکېږي او همدارنګــه ټولو هغو خواوو ته چې په یو نه یو ډول له موضوع سره لېوالتیا لري د منلو وړ نه ګرځي. نو ځکه د کره کتنې اصول کره کتونکي ته توصــیه کوي، چې په خپلو تحلیلونو، ارزونو او وروستۍ نتیجه کــې لــه ډېــر دقت، عدل او انصاف څخه کار واخلي. که یوه ادبي موضوع له علمــي پلوه هم څېړل شوې وي، خو د متواترو دلایلو په لړۍ کې عــدالت او انصاف نه وي مراعت شوی، نو بیا هم کره کتنــه لــه ســتونزې ســره مخامخېږي او کره‌کتونکي ته هم مشکلات پیداکېدی شي. نو ځکه د پوهې او بصیرت ترڅنګ د عدل او انصاف درلودنه د کره کتونکي یوه ځانګړنه ګڼل کېږي.

## ۳- ناپېيلتيا:

د کره کتونکي يوه بله ځانګړتيا، بې طرفي يا ناپېيلتيا ده. که چېرې کره کتونکي د يوه اثر په ارزونه کې خپله ناپېيلتيا وساتله او خپل شخصي، فکري، عقده يي، سياسي او نور تمايلات يې د ارزونې په بهير کې داخل نه کړل، نو ښکاره خبره ده چې د بري پر لوري يې يو ګام پورته کړی دی. ناپېيلتيا ددې زمينه برابروي چې عدالت او انصاف هم تطبيق شي. که چېرې يو کره‌کتونکی د ناپېيلتيا اصل تر پښو لاندې کوي، نو کولای شي د خپلې پوهې په زور د يوه اثر ښېګڼې د بدګڼو کچې ته راټيټې کړي. د عام لوستونکي ذهن ډېر نازک دی، هغه د يوه ليکوال او کره‌کتونکي په شان د يوه اثر په باب هغومره ژور فکر نه کوي، لوستونکی يو اثر يوازې د خوند او د مالوماتو د زياتونې لپاره لولي، خو که يو کره کتونکی وغواړي، له خپلې پوهې ناسمه ګټه واخلي، ناپېيلتيا ته ژمن نه وي، عدالت هم تر پښو لاندې کړي، نو کولای شي د عامو لوستوالو ذهن کږې خواته بوځي. په همدې خاط د کره کتنې علم د کره کتونکي په ځانګړنو او صفاتو کې ناپېيلتيا هم د يو مهم عنصر په توګه انګېري او پر هغې ټينګار کوي.

## ٤- ناتعصبي:

له کينې، بغض، تعصب او شخصي غرضونو څخه ځان لرې ساتل د کره کتونکي يو بل خصوصيت دی. تعصب، عصبيت چې د (عصبه) له

ریښې سره تړاو لري، داسې یو حالت دی چې انسان په کې نورمال نه وي؛ فکري تمرکز يې پرځای نه وي. هر هغه څوک چې عصبي تکلیف ولري، طبعاً ناروغ ګڼل کېږي، عصبیت یا تعصب اکثره وخت د نورو پر وړاندې د توپیري چلند په مانا هم کارېږي. تعصبي چلند فکري اساس نه لري، زیات وخت له نامعقول احساس، شخصي اغراضو او ځاني ګټو څخه سرچینه اخلي. که یو څوک په یوه کار کې له تعصب څخه کـار اخلي مانا دا چې د تفکر عنصر يې کمزوری دی. یو کره کتـونکی کـه وغواړي د یوه لیکوال یا د هغه د اثر په ارزونه کې له تعصب څخه کار واخلي، هغه کولای شي په یوه اثر کې کوچنۍ نیمګړتیـا ډېـره غټـه وښيي، د اثر په باب د لوستونکي لیدلوري ته هم بـدلون ورکـړي. دا هڅه نه یوازې د یوه اثر د منفي ارزونې سبب کېږي، بلکې د لیکـوال استعداد هم مړاوی کوي، د لیکوال او کره کتونکي تـرمنځ د کرکــې سبب هم ګرځي، په نتیجه کې د ادبیاتو د ودې پر بهیـر نـاوړه اغېــز کوي. د ایران یو نامتو کــره کتــونکی (رضــابراهني) وایــي: ((د کــره کتونکي کار دا نه دی چې بې ځایه ستاینې وکړي او په غرضي ډول د یو اثر بې ارزښته وښيي ، بلکې هغه ادبیاتو ته لیدلوري ورکوي، هغــه بډایه کوي او له ابتذال څخه يې ژغوري. کره کتــونکی بایـد د خپـل ګټور کار له امله د ادبیاتو د نیمګړتیاوو په اړه د خلکو ذهــن روښــانه کړي او د ادبیاتو د پنځونې لپاره باید یو ښه بنسټ کېږدي.)) (۴: ۱۳). موږ په خپله ټولنه کې د کره کتنې په نوم داسې ببلګې لرو چــې لــه سیاسي، مذهبي او ان شخصي تعصب څخه يې سرچپه اخیســتی. دا ډول کره کتنې د کره کتنې عمومي بهیر ته خورا زیان رســوي. ددې

ډول کره کتنو، چې د تعصب عنصر په کــې شــامل و، د یــوې عملــي بېلګې کیسه به درته وکړم.

(( د ډاکتر نجیب الله د حاکمیت پرمهال به په کابل کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې، وخت پر وخت د کره کتنې غونډې جوړولې، (د خلکو دیموکراتیک ګوند) د یوه غړي د لنډو کیسو یوه ټولګه چــاپ شــوې وه، ټاکل شوې وه دا ټولګه کره کتنې ته وړاندې شــي. د کــره کتنــې لپاره د همدې خلک دیموکراتیک ګوند یوه بل غړي دنده اخیســتې وه. سره له دې چې لیکوال او کره کتونکی د یوه ګوند غړي وو، خو د یوه ګوند دوو بېلابېلو فرکسیونونو پورې یې اړه درلودله، زړې دښمنۍ او سیالۍ د دواړو ترمنځ ذهني واټن او تعصب رامنځته کــړی و. کلــه چې پر ټولګې ((کره کتنه)) پیل شوه، نو له ورایه د سیاسي تعصــب، غچ او نیوکې څرک ترې ولګېد. د کره کتنې ډېرې برخــې د سیاســي افکارو تاثیر لاندې وې. په غونډه کې ناست یو شمېر کســان یــې پــر سیاسي افکارو ووېشل، غونډه تاوجنه شوه، یو شمېر ازادو لیکوالو پر (کره کتنې) (کره کتنه) وکړه. غونډه له ســتونزو ډکــه شــوه، ډېــره بېخونده او پیکه پایته ورسېده، د لیکوال او کره کتونکي ترمنځ کرکه نوره هم پسې زیاته شوه. زه اوس هم دا دواړه لیکوال پېژنم. له هغــې نېټې تراوسه (ددې اثر تر لیکلو پورې) نږدې (۲۵) کاله تېر شوي، خو بیا هم د هغه (لیکوال) او (کره کتونکي) ترمنځ زړه بداوی دوام لري. )) دغسې کره کتنې چې د تعصب عنصر په کې دخیل وي، کره کتنه له اصلي مسیره اړوي، نو ځکه خو ادبپوهنې د کره کتونکي لپــاره دا ضروري ګڼلې چې په خپل ذهن او فکر کې هېڅ ډول تعصب ته ځــای

ور نه کړي، له هره ډول تعصب څخه ازاده کره کتنه په حقيقت کې رښتينې کره کتنه ده.

## ۵- پر اصولو ټينګار:

نه يوازې په کره کتنه کې، بلکې د ژوند په هره برخه کې چې اصول او پرنسيپونه تر پښو لاندې شي، توازن له منځه ځي او ګډوډي ته لاره اواربږي. که يو کره کتونکی د کره کتنې پر مهال خپل اصول مراعت کړي، لوستونکو ته ښه نتيجه په لاس ورکوي، ليکوال ترې نه خوابدی کېږي او د ادبياتو ودې ته هم لاره برابربږي.

د ارستو په باب دا خبره مشهوره ده، چې پر خپل استاد (اپلاتون) به يې ډېرې نيوکې کولې. ارستو د علم پر اصولو ولاړ سړی و. د حقيقت په لټه کې و، نو ځکه يې د پوښتونکو په ځواب کې ويل چې: (( خپل استاد اپلاتون راباندې ګران دی، خو حقيقت تر هغه هم راباندې ګران دی.)) نو يو څوک چې د حقيقت د اصولو په پام کې نيولو سره هڅه، پلټنه او نيوکه کوي، پر چا ډېر بد نه لګي. خپله ليکوال هم د کره کتنې پر اصولو پوهېږي. اصول او پرنسيپونه د علمي لارښوونو په رڼا کې تنظيمېږي او ټاکل کېږي. کله چې ليکوال وګوري، کره کتونکی د علمي اصولو په رڼا کې کره کتنه کوي، حساسيت ورسره نه ښيي، دا ډول علمي کره کتنه تر هر چا زياته په خپله د ليکوال په ګټه ده، نو څوک نه غواړي چې ګټه له لاسه کړي. کره کتنه پر خپلو اصولو ټينګار کوي، کره کتونکي ته په کار دي چې د کره کتنې پر مهال دا

اصول په پام کې ونیسي، د کره کتنې د نورو اصولو ترڅنګ، همدا پوهه، عدل او انصاف، ناپېیلتیا، بې تعصبي، زړورتیا او نور چې د کره کتونکي د شخصیت رغوونکي توکي دي، دا ټول په حقیقت کې د کره کتنې اصول هم دي، نو که یو کره کتونکی غواړي عادلانه کره کتنه وکړي، بایده دي چې د کره کتنې پر اصولو ټینګار وکړي او هغه عملي کړي.

## ٦- زړورتیا:

انتقاد، ګوتنیونه، نیوکه که په هر نیت وي، په واقعیت کې یې هغه څوک کولای شي چې یو ډول جرئت ولري، نیوکې که مثبتې هم وي، په لومړي ګام کې د مقابل لوري یو ډول حساسیت راپاروي. نیوکې هر ځای سختې وي، په تېره بیا په هغو ټولنو کې چې د تحمل کلتور پـه کې عام شوی نه وي او د نیوکو ډېره اوږده سابقه ونه لري. په ختیـزو ټولنو په تېره بیا زموږ په ټولنه کې د تشدد په اندول د تحمل کلتـور ډېر عام نه دی. نو ځکه خو دلته د سمون په نیت نیوکه هم په خپلـه سمونچاري ته د دښمنۍ مانا لـري. دلتـه داسـې مـدبرو او مفکـرو اشخاصو ته اړتیا ده، چې د فکر او تدبر ترڅنګ جرئت او زړورتیا هـم ولري. په لومړي ګام کې زړورتیا یو څه ستونزه راولاړوي، خو وروسته یې مېوه خوږه وي. که یو څوک د یوچا پر ټولـو نیمګړتیـاوو، پـه دې خاطر چې حساسیت راولاړ نه شي، سترګې پټې کړي، نو د نیمګړتیاوو تسلسل به همداسې وغځېږي. داسې هم نه ده چې په هر ځـای کـې باید له زړورتیا څخه کار واخیستل شي. زړورتیا هغه وخت یـو سـړی

هدف ته رسي چې له هغې سره معقول تفکــر، منطــق او پــوره علــم ملګری وي. کله کله داسې هم وي چې یو لیکوال یا کــره کتــونکی د یوه اثر پر ټولو نیمګړتیاوو خبر وي، خو د ویلو جرئت یې نه لري، د بې جرئتۍ په وجه نیمګړتیا همداسې پاتې شي. دلته د پــوهې او جرئــت ترمنځ یو منطقي انډول په کار دی، د استاد الفت په نظر کله کله ډېره پوهه وهم تقویه کوي او ان یو څوک د مضر احتیاط درجې ته پورتــه کوي. کره کتونکي ته زړورتیا په کار ده، خو معقوله زړورتیــا، داســې زړورتیا چې د علم او منطق په ګانه سمبال وي. زړورتیــا داســې یــو عنصر دی چې که کره کتونکی د کره کتنې نور ټول عناصر ولري، خو چې دا عنصر ورسره نه وي، له هغــو یــوه څخــه هــم کــار نــه شــي اخیستلای.

## ۷- د کره کتنې د ادابو درناوی:

یوه کره کتونکي ته په کار دي چې د کــره کتنــې د اصــولو او ادابــو درناوی وکړي. که کره کتونکی په خپله د کره کتنــې اصــول او اداب مراعت نه کړي، نو نورو تطبیقوونکو څخه دې هم د هغو د منلو هیله نه کوي. زموږ په ټولنه کې اکثره وخت داسې وي چې مــوږ لــه نــورو څخه د قوانینو او اصولو د تطبیق هیله کوو، خو خپله ورته غــاړه نــه ږدو، همدا علت دی چې د وینــا والــو او نــورو خلکــو تــرمنځ واټــن رامنځته کېږي او پر ویناوالو د باور کچه راټیټېږي. د کــره کتنــې پــه ادابو کې د سپکو سپورو کلمو د کارونې جواز نه شته، د چا تحقیــر او توهین لپاره ځای نه شته، یوازې د علمي اصولو له لارې چــې د ژبــې

ټول مهارت او خوږلني ورسره ملګري وي، د مفهوم انتقـال ضـروري دی. ژبنی تفاهم او د خوږو کلمو کارونه د کره کتنې د ادابو یوه برخه ده، د مقابل لوري د شخصیت خوندیتوب بل عنصر دی چې باید پـام ورته وشي.

که چېرې په یوه کره کتنه کې د هغې اداب مراعت نه شي، نو طبیعي خبره ده چې د کره کتنې تطبیقي اړخ ته سخت زیان رسي، نـو کـره کتونکي ته په کار دي چې د کره کتنې ادابو ته دقیق پـام وکـړي، د همدې ادابو مراعتول په حقیقت کې د کره کتونکي د شخصیت یـوه برخه جوړوي.

د پورتنیو ځانګړنو ترڅنګ ځینو ادبپوهانو، ژبنـي مهـارت، تجربـه، عاطفي مشارکت، فردي اصالت، پلټنــه، ذهنـي روښـانتیا او نـورې ځانګړتیاوې هم د کره کتونکي لپاره ضروري ګڼي او دا ممیزات د هغه د کار په ښه والي کې موثر ګڼي.

# د اتم څپرکي لنډیز

لکه څنګه چې کره کتنه یــو علــم دی او هــره  پوهــه ځانتــه خپــل معیارونه لري، دغسې د یوه عالم په توګه کره کتونکي ته هم ځینــې خاص معیارونه او ځانګړنې په کار دي.

د کره کتونکي د ځانګړنو له جملې څخه یوه دا ده چې دی باید پوهه ولري او په خپله څانګه کې تخصص او تجربه ولري، بــې پــوهې کــره کتنه ممکنه نه ده. له پوهې او بصیرت پرته د یوه اثر څېړنه او ارزونــه اصلاً په تیارو کې د هدف په نښه کول دي.

عدل او انصاف د کره کتونکي بله ځانګړنه ده. که یوه ادبي موضوع له علمي پلوه هم څېړل شوې وي، خو که د متواترو دلایلو په لړ کې په کې عدالت نه وي مراعت شوی، نــو کــره کتنــه لــه ســتونزې ســره مخامخېږي.

ناپېیلتیا او بې طرفي د کره کتونکي بله ځانګړنه ده، چې که کره کتنه کې مراعت نه شي عدالت زیانمنېږي او په نتیجه کــې عادلانــه کــره کتنه نه رامنځته کېږي.

کره کتونکي ته په کار دي چې د کره کتنې پر مهال ځان له هــر ډول تعصب، کینې او شخصي بغض څخه وژغوري.

کره کتونکی باید پر خپلو اصولو ټینګار وکړي او د کره کتنې پر مهال هغه عملي کړي. که دکره کتنې اصول مراعت شي، لوستونکو ته ښه نتیجه په لاس ورکوي، لیکوال ترې نه خوابدی کېږي او د ادبیاتو ودې ته هم لاره برابرېږي.

کره کتونکی باید زړور او باجرئته وي، که یو کره کتونکی د کره‌کتنې پر نورو ټولو اصولو برابر وي، خو چې د هغو اصولو د تطبیق جرئت ونه لري، اصلاً کره کتنه نه شي کولای، نو جرئت د کره‌کتونکي لپاره خورا ضروري دي.

که یو کره کتونکی دا ځانګړنې ونه لري، هغه د یوه کره کتونکي په توګه اصلاً پېژندل کېدی نه شي.

# د اتم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-له پوهې پرته کره کتنه ولې ممکنه نه ده؟

۲-ایا هر پوهاند کره کتنه کولای شي؟

۳-که په کره کتنه کې له عدل او انصاف څخه کار وانه خیستل شـــي څه به وشي؟

۴-ناپېیلتیا په کره کتنه کې څه رول لري؟

۵-په کره کتنه کې تعصب د هغې روغتیا ته څه زیان رسوي؟

۶-د سالمې کره کتنې لپاره اصول څومره موثر دي؟

۷-که یو کره کتونکی د کره کتنې ټول معیارونه او ځـانګړنې ولــري، خو چې جرئت ونه لري، کره کتنه کولای شي؟

۸-د کره کتنې د ادابو مراعتول د کره کتونکي او لیکوال ترمنځ د څه ډول اړیکو سبب ګرځي؟

۹-ایا زموږ په ټولنه کې کره کتونکی پورتنیو ځانګړتیاوو تــه پاملرنــه کوي؟

۱۰-ایا داسې لارې چارې شته چې کره کتونکی د کره کتنې اصول او ځانګړنې عملي کړي؟

# سپارښتنې

- محصلین دې د کره کتونکي ځانګړنو څخه په خپله خوښه یوه ځانګړنه غوره او پر هغې دې تحلیلي لیکنه وکړي.
- محصلین دې پر یادو ځانګړنو سربېره ځینې نورې ځانګړنې هم په ګوته او خپلو ټولګیوالو ته دې په لیکنې او یا ګړنـــي ډول په ټولګي کې تشریح کړي.

# نهم څپرکی

## د کره کتنې ګټې، د ادبیاتو او نورو علومو په وده کې د هغې اغېز

کره کتنې د ادبپوهنې د یوې مهمې څانګې او د یوه تحلیلي علم په توګه د بشري علومو په وده کې خپل رول لوبولای دی. له هرې علمي څانګې سره یې چې کره کتنه ملګرې نه وي او پر هغې څانګې بیا کتنه ونه شي، هغه علمي څانګه مطلوبې نتیجې ته نه رسېږي او له ګڼو تېروتنو سره مخامخېږي. کره کتنه په همدې نیت کېږي چې د نیمګړتیاوو او تېروتنو مخه ونیسي. هر هغه لیکوال یاعالم چې د کره کتنې له محوره وځي او یا کره کتنې ته غاړه نه ږدي، دا مانا لري چې نه غواړي خپل کړی کار یا اثر یې اصلاح شي. کره کتنه علم دی، علم له چا سره شخصي دښمني، کینه او عداوت نه لري، البته کېدی شي کره کتونکی کله کله د شخصي تمایلاتو، غرضونو او مرضونو تر اغېز لاندې راشي، خو که علم تر دې اغېزو لاندې راغی، هغه نو بیا علم نه دی. د علم او هنر ترمنځ توپیر په همدې کې دی، چې علم شخصي تمایلات، عواطف، احساسات، کینې او عداوتونه نه مني او یا دې پدیدو ته په کې ځای نه شته. هغه یوه پېښه، پدیده او یا موضوع له

دي اړخونو نه څېړي، خو هنر بیا، چې ادبیات یې هم یـوه برخــه ده، یوه پدیده د عواطفو او احساساتو له لیدلوري څېړي. نو کره کتنه هغه علم دی چې د یوه علم په توګه یې ګټه هرې برخې تــه متصــوره ده. دلته غواړو د کره کتنې د عملي او نظري ګټو په باب او دا چې د علم او ادب د ډګر کومو خواوو ته یې څه ډول ګټه رسېږي؟ پر هرې برخې لنډه لنډه رڼا واچوو:

## ۱- عامو لوستوالو ته یې ګټې:

کله چې پر یوه هنري اثر، لیکنی وي که ګړنی یا تصویري، لکه هنــري فلم، ډرامه، ستیج ډرامه یا اورېدنی وي، لکه راډیویي ډرامه او یا هــم نور، نو که کره کتنه پرې ونه شي، د ډېرو تېروتنو د پېښــېدو امکــان شته، که کره کتنه تر خپراوي دمخه وشي، نو ګټه یــې داده چــې تــر خپرېدو دمخه د تېروتنو مخنیوي کېدی شي، خو که یو اثر نشــر تــه چمتو وي او د کره کتنې د وړاندیز شویو نظریو د تطبیق امکان په کې نه وي، نو که د نشر پرمهال کره کتنه هم ورســره خپــره شــوي، لــه لوستونکي، اورېدونکي او یا هم کتونکي سره ډېــره مرســته کــولای شي، چې د اثر د خپرېدو پر مهال د هغه په باب سم قضــاوت وکــړي. یوه لوستوال ته د یو اثر پــه بــاب د کــره کتنــې ګټــه داده چــې ((د لوستونکي د زیات وخت د ضایع کېدو مخه نیسي او هغه اثر چې پــه څو ورځو کې یې نه شي لوستلای، د کره کتنې د لوستنې له لارې یې ډېر ژر د محتوا پر روح او د لیکوال په موخه او غرض پوهېدلای شي. بل دا چې د اثر په اړه د ګټورو معلوماتو په ورکولو او یا د تیاره ګوټونو

د توضیح او تشریح له لارې، د لوستونکي معلوماتي پانګه زیاتوي او د پوهې سطحه يې لوړوي، سربېره پر دې د اثر ادبي ارزښــتونه درک او له ښو او بدو اړخونو يې خبرېږي.)) (۲۶: ۳۲-۳۳).

کره کتنه یو عام لوستونکی، کتونکی، لیدونکی یا اورېدونکی له ګڼــو تېروتنو ژغوري او د یوه اثر په باب يې قضاوت اسانه کوي. په تېره بیا هغه اثار چې د حقوقي، مذهبي، تاریخي او نورو مسایلو په باب لیکل شوي دي. په حقوقي اثارو کې د یوې کامې(،) ، نــدايي (!) او یــا هــم ټکي (.) بېځایه کارونه ستر حقوقي پرابلمونــه پیــدا کــولای شــي. د مذهبي اثارو او افکارو په باب لیکلي اثار او یا هم په هغو کــې جزیــي تېروتنه لوی عقیدوي بحران ټوکولای شي. په همدې خاطر د مذهبي مسایلو په تشریح، توضیح او تفسیر کې خورا دقت په کار دی، حتــی یوه چاپي یا ژبنۍ تېروتنه هم کولای شي په ټولنه کــې لــوی بحــران رامنځته کړي. په هنري او ادبي اثارو کې تېروتنه د اثارو ښکلا ته زیان رسوي؛ ډېر غټ ټولنیز بحران نه راټوکوي، خو په تــاریخي، مــذهبي، سیاسي او حقوقي اثارو کې تېروتنه د لوی ټولنیز او فکــري کــړکېچ سبب کېږي. د لیکوالو له خوا تېروتنه کېدی شي قصدي وي او یا هم نا شعوري، خو دا د کره‌کتونکي دنده ده چې تېروتنې يې سمې کړي، که کره کتنه د یو اثر تر خپرېدو دمخه وشي، نو ډېره ښــه ده، خــو دا کار تل ځکه ممکن نه دی چې یو اثر خپور نه شي، نو ځنګه به د کره کتونکي او لوستوالو لاس ته ورشي. د اثارو ترخپرېدو وروســته کــره کتنه ډېره باب ده، کله چې یو لوستوال یو اثر لولي، نو که هممهاله د هغه اثر په باب شوې کره کتنه هم ولولي، نو په اثــر کــې لــه شــویو

تېروتنو څخه به خبر شي او په یوه اثر کې هغه شـعوري او ناشـعوري تېروتنې، چې کېدی شي د لوستوال ذهنیت کوږ او بلې خواته بوځي، له هغو څخه به خبر شي. کله کله داسې هم وي چې یو لوستوال پـه بشپړ ډول یو اثر نه وي لوستی، یا یې وخت نه وي پیدا کړی، نو که د هغه اثر په باب سالمه او عادلانه کره کتنه ولولي، نو داسـې ده لکـه نږدې ټول اثر یې چې لوستی وي. اوسنۍ زمانه، چې وخـت پـه کـې رښتیا هم لکه سره زره دی، د اوږدو رومانونو کتنه او لوستنه سـخت کار دی، پر هغو باندې شوې کره کتنه او یا د هغو پر شـکل او محتـوا شوې کره کتنه ددې سبب کېږي چې لوستونکي ته د هغو اثـارو پـه باب ذهنیت ورکړي. کله کله کره کتونکی په خپلـه کـره کتنـه کـې لوستونکو ته د یوه اثر د هغو برخو پـه بـاب چـې مـانیز یـا شـکلي مشکلات لري، توصیه کوي چې د ((احتیاط په قید) سره یې ولـولي. تش همدا ټکی هم لیکوال ته دا پیغام رسوي، چې پـه اثـر کـې څـه مشکلات شته، همدا یو ترکیب دا پیغام رسوي چې لوستونکی د اثـر لوستو ته ډېر ځیر شي او په اثر کې پر راغلې محتوا ژر باور ونه کـړي. تر هغه پورې چې د دې اثر د تحلیل او ارزونې لپاره د کره کتنې نـور مواد ترلاسه شي، لوستونکی هوښیاروي. کره کتنه د یـوه اثـر روح، محتوا او بڼه ټول تشریح کوي. لوستونکي ته ددې زمینه برابروي چې د مبهمو او پېچلو ټکو د مانا تل ته ورکښته شي، او هغه څـه چـې د لیکوال هدف دی، هغه ته په اسانۍ سره لاره پیدا کړي. کره کتـوکی په حقیقت کې لوستونکي ته داسې یوه غذا تیاروي چې له هر اړخـه پاکه، صافه، بې خطره او بې ضرره وي. داسې لکه یو اشپز، چې ډېرې ښې وریجې تیارې کړې وي، ښې خوندورې، خو بیا هم کومـه شـګه

ترې تېره شوې وي، کره کتونکی دې شــګې تــه هــم متوجــه دی او لوستونکي ته ښيي چې ګوره د خوندور پلو په منځ کې يوه نيمه شګه هم شته، احتياط کوه چې د خوراک پر وخت دې تر غاښ لانــدې نــه شي.

## ۲- ليکوالو ته يې ګټې:

کره کتنه د عامو ګټو ترڅنګ ځينې خاصې ګټې هم لــري. د خاصــو ګټو په جمله کې يې يوه ګټه همدا خپله ليکوال ته ده، په حقيقت کې که ليکوال لږ هم له زغم څخه کار واخلي، نو د کره کتنې تر ټولو زياته ګټه خپله ليکوال ته رسېږي. د کره کتنې په واسطه د ليکوال اثر صفا کېږي، ښکلی کېږي، نيمګړتياوې يې له منځه ځي او ټولنې ته يو پوخ اثر وړاندې کېږي. کره کتنه کولای شي ليکوال له ډېرو سترو تېروتنو وژغوري. د يوه اثر د ښه والي او پوخوالي نېکنامي او ګټه ليکوال تــه منسوبېږي، خو د سمون چارې او زيــار يــې بــل څــوک ګــالي. کــره کتونکی او کتونکی په حقيقت کې هغه پټ خدمتګار دی چې څــوک يې نه ويني، خو وړيا کارونه او خدمتونه ترسره کوي. د کره کتنې پــه حالت کې يو ليکوال د خپل اثر تر چاپ او خپراوي وروسته هم خپلو تېروتنو ته متوجه کېږي او د بيا چاپ په حالت کې هغه سموي او يــو بشپړ اثر ټولنې ته وړاندې کوي.

کره کتنه ليکول ان له سترو عقيده يي، مــذهبي، ژبنــۍ او ان ملــي تېروتنو ژغوري، سره له دې چې ليکوال نه غــواړي داســې تېروتنــې

وکړي، خو کله کله داسې پېښېږي، نو که د یـوې لیکنـې تـر شـا د کره کتنې وروستی فلتر موجود وي، ددې ډول تېروتنـو مخـه نیـول کېږي. کېدی شي په دې برخه کې یو دوه عملي بېلګې او تجربې هم وړاندې کړو: ((یو وخت ما (هیله) مجله چلوله، په دې مجله کـې مـو لیکنې او ژبني معیار ته ډېره پاملرنه کوله. د لیکنو په محتویاتو کـې مو غرض نه درلود، خو ژبنی او لیکنـی معیـار مـو پـر ټولـو لیکنـو تطبیقاوه. له همدې کبله لیکوالو زموږ له خوا، په لیکنو کې د ژبني او لیکني سمون په اړه ډېر غبرګون نه ښود، خو بیا هم ځینـې لیکـوال داسې وو چې شدید غبرګون یې ښوده.

یوه ورځ یو ملا صیب، چې نوی لیکوال شوی و، مجلې ته یوه لیکنـه راولېږله. ((اسلام د افراط او تفریط په منځ کې)). لیکنه که څه هـم د محتوا له پلوه بډایه وه، خو ګڼې املایي او انشایي تېروتنې یې لرلـې. دا لیکنه هم په پښتو کې د معمول ملایي نثر په بڼه، چې اکثره په کې مبتدا او خبر وړاندې وروسته کېږي، لیکل شوې وه. نوي لیکوال پـر املایي تېروتنو سربېره، ګرامري تېروتنې هم کوي. (لـه، د، پـر، پـه، سربېره، برسېره، تر دې، له دې) او داسې ګڼ شمېر نور عناصر، چې د یوې جملې د رغښت اساسي توکي ګڼل کېـږي، سـم نـه کـاروي. د ملاصیب په لیکنه کې هم دا ډول تېروتنې ښې ډېرې وې. مـوږ چـې معمولاً د هر لیکوال پر لیک د پښتو د معیاري امـلا او انشـا قـوانین تطبیقول، د ملاصیب پر لیکنه مو هم دا عملیه پلې کړه. په پایله کـې د ملا صیب په لیکلي متن کې له شکلي پلوه یو څه بدلون راغی، خو محتوا یې همغه وه، چې ملا صیب غوښتې وه او یا د هغه هدف و. تـر

هر څه دمخه مو لومړی سرليک سم کړ. ((اسلام د افراط او تفريط په منځ کې.)) مو ((اسلام د افراط او تفريط ترمنځ)) باندې واړوه. څو ورځې وروسته ملاصيب دفتر ته تشريف راوړ او شديد غبرگون يې وښود چې تاسې ولې زما په ليکنه کې لاسوهنه کړې؛ ما يو شی ليکلی تاسو بل شوی ترې جوړ کړی دی. موږ ورته وويل لږ ارام شه! ټولې ستونزې به په گډه حل کړو. موږ ملاصيب ته وويل، چې ستاسو ليکنه د محتوا له مخې خورا غني وه، ايا تاسو نه غواړئ چې ستا ليکنه لکه څنگه چې ستا هدف و، همغسې خلکو ته وړاندې شي. ملا صيب وويل: ولې نه، موږ وويل موږ خو همدا کار کړی دی. هغه وويل څنگه؟ عنوان مو ولې بدل کړی؟ موږ ورته وويل: ستا هدف دادی چې اسلام د عدالت او اعتدال دين دی او هېڅ ډول افراط او تفريط په کې نه شته، نه هم افراط او تفريط ته اجازه ورکوي او دا دواړه د اسلام له نظره مردود دي، هغه وويل، بالکل: موږ وويل: دلته خو جملې د ترکيب له مخې کاملاً ستاسو د هدف او مقصد معکوسه مانا ورکوي، مانا دا چې خدای مه کړه، اسلام، داسې دين دی چې هم په کې افراط دی او هم تفريط يا هم اسلام په افراط او تفريط او يا د هغو دواړو په منځ کې دی. ملاصيب وويل استغفرالله زما هدف کاملاً ددې برعکس دی. موږ ورته وويل: اوسنی جوړښت يې ستاسو د اصلي مفهوم افاده کوي. ( اسلام د افراط او تفريط ترمنځ) دا جمله دا مانا ورکوي چې اسلام داسې يو دين دی چې د افراط او تفريط ترمنځ يوه منځنۍ او معتدله لاره تعقيبوي. خو هغه ستاسو په بل ترکيب کې يوازې ( په منځ کې) ترکيب د ټولې جملې هدفمنه مانا سرچپه کړې ده. ( په منځ کې) دا مانا ورکوي لکه يو څوک، شی يا شيان چې د يو

بل شي په منځ کې وي. یو سړی یا ډله د سیند یا سیندونو پـه مـنځ کې دي، د ډوبېدو احتمال یې شته، خو یو څوک یا ډلـه د سـیند یـا سیندونو ترمنځ دي، دا مانا ورکوي چې په یوه ټـاپو کـې دي، یـا د سیند او وچې ترمنځ دي، د ډوبېدو او له منځه تلو هېڅ خطر یې نـه شته، یو سړی د اور اورونو په منځ کې دی، ډېر سخت حالت دی، خو سړی د اورونو ترمنځ دی، د مرګ له خطره بچ دی، نو دلته یوازې ( په منځ کې) او (ترمنځ) ترکیب، مانا ته دومره بدلون ورکولای شـي، نـو کله چې مو ملاصیب ته وویل، ستا هم هدف نېک و او هم محتوا ډېره خوږه وه، خو کوم شکل چې ستاسو د خپل مقصـد د افـادې لپـاره کارولی، هغه شکل یا ترکیب ستا محتوا ته سل پـه سـلو کـې زیـان رسوه، نو ځکه مورږ په کې تغیـر راوسـت، ملاصـیب توبـه وویسـتله استغفرالله، زه په دې لیکنه نږدې کفر ته پورته شوی وم، خـدای دې درسره ښه وکړي چې زما په لیکنه کې دې لاس وهلـی.)) تـر هغـه وروسته ملاصیب مورږ سره د پوره قلمي همکارۍ ژمنه وکړه او مورږ ته یې واک راکړ، چې د لیکنې په شکلي بڼه کې هر ډول بدلون راوړلای شو. دا د یوه اثر تر چاپ دمخه د کره کتنې عملي بېلګه وه چې ډېـره ګټه یې خپله لیکوال ته رسېدلې، لوستونکي هم لـه اصـلاح شـوې لیکنې خوند اخیستی، خو هغه چا چې د دې لیکنې په سـمون کـې ونډه اخیستې، هغه تردې لیکنې پورې د عامو لوستونکو له نظره پټ پاتې شوی دی. یوه بله عملي بېلګه به هم وړاندې کـړو. پـه همـدې (هیله) مجله کې یوه ورځ یوه لیکنه راغله، لیکنه د (مستورې شـال) په باب. وه(مستوره شال) د افغانستان یوه تکړه ښځینه لیکوالـه او شاعره وه. په اویایمو لمریزو کلونو کې یې له دې نړۍ خپل ابدي سفر

وکړ. یوه لیکوال د هغې په اړه یوه لیکنه راولېږله: (( د مستورې شال غمجنه مړینه)). په دې لیکنه کې که څه هم محتــوایي او انشــایي تېروتنې نه وې، خو دا ډول عنوانونه دومره تکراري او سولېدلي دي، چې نور يې د کلیشې بڼه خپله کړې او لوستونکو ته ډېــر خونــد نــه ورکوي. موږ ددې لیکنې سرلیک بدل کړ: (( مستوره د مرګ په شال کې)). دا عنوان هم اهنګین شو، هم نوی شو، هم یــې مانــا ښــکلې شوه. (مستوره) نوم دی او (شال) تخلــص، خــو دلتــه (مســتوره) د (مرګ) په (شال) کې داسې مستوره شوه؛ مرګ د انسان لپاره پرده او پوښ دی، مرګ ددې پر ده شوه او جملې عاطفي مانــا پیــدا کــړه. دا ترکیب تر هغه اولي جوړښت ډېر خوږ او عاطفي و. تر چــاپ وروســته ډېرو لوستوکو دا سرلیک خوښ کړی و.

ډېرو کسانو راته وویل، چې موږ دا لیکنه یوازې د عنــوان پــه خــاطر ولوستله، لوستونکو فکر کاوه چې خپله اصلي لیکوال دا عنوان غوره کړی دی. خپله لیکوال له ما څخه ډېره مننه وکړه چې ما يې د لیکنې عنوان ښکلی کړی دی. په دې ډول تر چاپ دمخه کره کتنه او یا پــه ټولیز ډول کره کتنه لیکوال ته څومره موثره ګټه رسوي. د یــو اثــر د ښېګڼې امتیاز تر ډېره حده لیکوال ته ځي، خو د سمون د زحمت بار پر کره کتونکي پرېوزي، خو دې سره سره بیا هم کم لیکــوال دې تــه حاضرېږي، چې د کره کتونکو ټولې خبرې ومني. اصلي خبــره دا وي چې یوه لیکنه یا یو اثر د یو لیکوال لپاره داسې وي لکه د هغه خپــل اولاد. د یوه اولاد تولد، روزنه او پالنــه د مــور او پــلار خــورا زحمــت غواړي، هر چاته خپل ماشوم ښکلی او بې عیبه ښکاري، څوک چې د

چا د ماشوم د عیب اوبدرنګۍ په باب خبرې او قضاوت کـوي، ډېـره سخته خبره ده چې مور او پلار يې ټولې خبرې ومني، لیکنه او یو اثر هم همداسې دی، لیکوال هغه په ډېر زحمت، د سختو عـاطفي او ان ستونزمنو فکري شرایطو تر چتر لاندې ټوکولی وي، هغـه تـه خپـل زحمت او کار ډېر ارزښتناک ښکاري، کله کله لیکوال دومـره سـتړی وي او پر خپل اثر يې دومره زحمت ګاللی وي، چـې د چـا د خبـرو د اورېدو اوسېله هم نه لري، نو ځکه د نقد او ان سالمې کره کتنـې پـر وړاندې هم غبرګون ښيي. زه د یوه مجلې د ایډېټر په توګه عمـلاً لـه ګڼو داسې ستونزو سره مخامخ شوی یم چې لیکوالو پـه کـې منفـي غبرګون ښودلی، نو په دې خاطر یو ځل مجبور شـوم، د (لیکـوال)، (لوستونکي) او (ایډېټر) یا کتونکی په نامه یوه لیکنه وکړم او په هغه کې هغه ټول مسیر تشریح کړم، چې دا درې کته ګورۍ خلک ورسره مخامخ دي. په دې لیکنه کې راغلي چې د یوې لیکنې د ښـه والـي امتیاز لیکوال ته راجع کېږي، محتوایي خوند او لذت يې لوسـتونکي ته، خو د سمون زیار او زحمت يې ټول د کتونکي، بیا کتونکي او کـره کتوکي پر غاړه وي. دلته کره کتونکی د زحمت هغه قرباني دی، چـې په امتیاز کې شامل نه دی، خو په مسولیت کې ورګډ دی، نو په لنډیز سره ویلای شو، چې کره کتنه تر ټولو زیاته خپله د لیکوال په ګټه ده او بیا لوستونکو ته!

## ۳- ادبیاتو ته یې کتې:

کله چې د ادبیاتو له تعریف سره مخامخېږو، نو بېلابېل تعریفونه مخې ته راځي. نه پر یوه تعریف د نظر توافق شته او نــه هــم پــر بېلابېلــو تعریفونو، خو په ټولو کې داسې مشترک ټکــي شــته چــې د ادبیــاتو محتوا او ځانګړتیا په کې ښکاره کېږي. د ادب د کلمې د ریښــې پــه باب هم اختلاف شته، دا چې دا کلمه څنګه د جامدو شیانو له شــکل څخه معنویاتو ته را انتقال شوه، په دې کې هم د نظر اختلاف شته، یو روایت داسې هم دی چې پخوا یې د مثمرو ونو نــامثمر شــاخونه لــه منځه وړل چې مثمرو شاخونو ته د ودې لاره اواره شي، ادبیــات یــې هم یوازې همغه کلام ته وایه چې سپوره، سپکې او ستغې کلمــې پــه کې نه وې، یوازې خوږې، پستې او داسې کلمې په کې پــاتې کېــدې چې د انسان پر ذهن، فکر او زړه ښې لګېدې. طبیعي خبره ده چې له سپوره څخه د ناسپوره، له ترخو څخه د خوږو کلمو جلا کېدل اسانه کار نه دی. د لیکوال تر څنګ د کره کتونکي مرستې ته هم اړتیا ده.

کره کتنه تر ټولو دمخه خپله لیکوال دې ته متوجه کوي چې د ادبیاتو په پنځونه کې له ډېر دقت څخه کار واخلي، لیکــوال پــه خپلــه پــه حقیقت کې کره کتونکی شــي، مخکــې تــر دې چــې لیکنــه یــې د کره‌کتونکي تر نظره ورسي، خپله یې په ســمون کــې برخــه اخلــي. کره‌کتنې په برکت ژبې ته یو شــفاف او ګټــور ادب وړانــدې کېــږي، کره‌کتنه ادبیات له انحرافه ژغــوري او لوســتونکو تــه همغــه برخــه رسېږي چې نیمګړې او ناګټورې برخــې یــې تــرې لــرې شــوې وي. کره‌کتنه د یوه علم او ادبیات د یوه هنر په توګه دواړه یــو بــل ســره

نږدې اړیکې لري؛ کره‌کتنه د ادبیاتو د فلتر کولو او شفافولو یوه ښه وسیله ده، که کره‌کتنه نه وي، موږ نه شو کولای ټولنې ته ښکلي ادبیات ډالۍ کړو، په دې حالت کې د عادي خبرو او ادبیاتو ترمنځ پولې له منځه ځي. که کره کتنه وي هغه برید چې اوس د کره کتنې د شتوالي له امله د ادبیاتو او عادي خبرو ترمنځ رامنځته شوی، هغه به له منځه لاړ شي، د ادبیاتو هنري جوهر به کمزوری شي او د ادبیاتو اساسي هدف (ښکلا پنځونې) ته به زیان واوړي. نو همدا کره کتنه ده چې ادبیات یې د یوه ژبني هنر په توګه د ناادبي کلام له ورګډېدو څخه ژغورلي دي.

## ٤- د پوهې پراختیا ته یې ګټې:

کره کتنه یو علم دی او علم همغه څه ته وایي، چې پر تجربې ولاړ وي. پوهه د نورې پوهې د خدمت او پرمختیا سبب کېږي، نړۍ چې نن کوم حد ته رسېدلې، دا د علم او د اوږدو تجربو د تسلسل برکت دی. علم په کره کتنه پخېږي، که پر یوه علم او تجربې، کره کتنه او بیا کتنه ونه شي، هغه د اثبات او علم پړاو ته نه رسېږي. علم خپله ددې اجازه ورکوي چې دی دې بیا بیا تجربه شي، کره کتنه دې پرې وشي تر هغه پورې چې یو تجربه یې او واقعي حیثیت خپل کړي. که کره کتنه نه وای، علم دومره پراختیا نه موندله. د پوهې هرې برخې ته کره کتنه په کار ده. هم ټولنیزو علومو او هم ساینسي علومو ته. لکه څنګه چې یو ځل د مخه مو یادونه وکړه، د (ارسطو) په باب دا خبره ډېره مشهور ده چې تل به یې پر (اپلاتون) نیوکې کولې، چا

ورته وويل چې اپلاتون دې استاد دی خفه به شي ، ارستو ورته وويل: ((اپلاتون راباندې ګران دی، خو علم او حقيقت راباندې تر هغـه هـم ګران دی.)) دې خبرې کې ډېر غټ مفهوم پروت دی. اپلاتــون هــم د ارستو په نيوکو نه خفه کېده. د (سقراط) د علم فلسفه هم پر پوښتنو او ګروېږنو ولاړه وه، تر هغه به يې يو انســان پوښــته چــې هغــه يــو واقعيت ته ورسوي. سقراط د مرګ تر بريده ورسېد، خــو د ټــولنې د سمون لپاره يې له کره کتنې ډډه ونه کړه. د سقراط قرباني د علــم د پراختيا سبب شوه. د (ګاليله) په ګډون د نړۍ ډېر پوهان د خپلې کره کتنې او تېز نظر له امله قرباني شوي، خو د خپلې قربانۍ په برکت يې علم ته پراختيا ورکړې ده. پر هر عالم چې د بل عالم له خوا کره کتنه شوې، هغه خپلو تېروتنو ته متوجه شوی، د همدغه ټکر او لارښوونې په نتيجه کې، نوي فکرونه او نوې تجربې راټوکېدلې او علــم لاپســې پراختيا موندلې ده.

# د نهم څپرکي لنډیز

کره کتنه نه یوازې د ادبیاتو د پرمختیا لپاره یــوه ګټــوره وســیله ده، بلکې د پوهې او د ژوند د نورو ډګرونو د ودې لپاره هــم یــوه ګټــوره وسیله ده.

کره کتنه د یو اثر د لوستلو لپاره تر ټولو دمخــه لوســتوالو تــه ګټــه رسوي. د لوســتونکو د زیــات وخــت د ضــایع کېــدو مخــه نیســي، لوستونکي په اسانۍ ســره د یــوه اثــر پــر روح او محتــوا پــوهېږي، لوستونکي له انحرافه ژغوري، د هغوی معلوماتي پانګه زیاتوي او هغو له تېروتنو ژغوري.

لیکوال ته یــې ګټــه داده چــې د هغــه اثــر بــکلی او صــفا کــوي، نیمګړتیاوې یې له منځه وړي او ټولنې ته یې یو پوخ اثر وړاندې کوي. کره کتنه لیکوال ان له سترو عقیده یي، مذهبي، ژبنۍ، علمي او ملي تېروتنو ژغوري. کره کتنه لیکوال دې ته متوجه کوي چې د ادبیاتو په پنځونه کې له ډېر دقت څخه کار واخلي.

کره کتنه ادبیات له انحرافه ژغوري او لوستونکو ته یې همغــه برخــه رسېږي چې نیمګړې او ناګټورې برخې ترې لرې شوې وي. کره‌کتنه د یو علم او ادبیات د یوه هنر په توګه یو بل سره نږدې اړیکي لري. کره

کتنه د ادبياتو د فلتر کولو او رڼولو يوه ښه وسيله ده. که کره کتنه نه وي، موږ نه شو کولای، ټولنې ته ښه ادبيات وړاندې کړو.

په دې حالت کې د عادي خبرو او ادبياتو ترمنځ پولې له منځه ځي.

کره کتنه د يوه علم په توګه د نورو علومو د پرمختګ سـبب کېـږي. علم پر تجربه ولاړ دی. که پر يوه علم څو ځله کره کتنـه ونـه شـي، سمون نه رامنځته کېږي. د همدې کره کتنې له کبله د تجربې اړتيـا پيداکېږي او د تجربې د تکـرار پـه نتيجـه کـې علـم د پوخـوالي او پرمختيا پړاو ته رسېږي.

# د نهم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-عام لوستونکي ته د کره کتنې ګټه څه ده؟

۲-که کره کتنه نه وي، لوستونکی له کومو ستونزو سره مخامخېدی شي؟

۳-کره کتنه لیکوال ته څه ګټه رسوي؟

۴-که لیکوال کره کتنه ونه زغمي، له کومو زیانونو سره مخامخېدی شي؟

۵-په لیکوالۍ کې جزیي او اساسي تېروتنې د کومو بحرانونو سبب کېدی شي؟

۶-کره کتنه ادبیاتو ته کومې اساسي ګټې لري؟

۷-د پوهې په پراختیا کې د کره کتنې رول څه دی؟

۸-ادبیاتو ته د کره کتنې ګټه څه ده؟

۹-کره کتونکی د لیکوال او لوستونکي ترمنځ کوم رول لوبولای شي؟

۱۰-له کره کتنې پرته ولې موږ په ادبي، ټولنیزو او نورو ډګرونو کې پرمختګ نه شو کولای؟

# سپارښتنې

۱-محصلین دې د کره کتنې د عملي ګټو په بـاب داســې یــو مثــال وړاندې کړي، چې دوی ورسره عملاً مخامخ شوي وي.

۲-هر محصل دې د یوه لوستونکي په توګه، د کره کتنې د ګټو په باب یوه یوه لیکنه وکړي.

# لسم څپرکی

## موږ ولې له کره کتنې ډارېږو؟

څومره چې زموږ فرهنګي په تېره بيا ادبـي شـتمني ده، د هغـو پـه اندول د کره کتنې په برخه کې زيات اثار نه لرو. دا کار به ډېر علتونـه ولري، له علتونو څخه به يې يو لامل دا وي چې د تاريخ په اوږدو کـې زموږ د ادبي شتمنيو يوه درنه برخه همغه ده چې د نالوستو شاعرانو له خوا رامنځته شوې ده. په تېره بيا پښتو ولسي ادب. کره کتنه بيا د لوستو اشخاصو هغه هم د همغو لوستو اشخاصو، چې په دې برخه کې تخصص او مسلکي زده کړې ولري، کار دی. دا ډول اشخاص زمـوږ د ادبي پانګې د مجموعې ظرفيت په تناسـب کـم دي. د سـالمې کـره کتنې نشتوالی بل علت دی چې دلته د کره کتنې پـر وړانـدې خنـډ دی. کله چې په ټولنه کې سالمه کره کتنه نه وي، نو د هغې پر وړاندې د زغم کلتور هم له منځه ځي، ددې زمينه نه برابرېږي چې کره کتنه عامه شي. دلته به هڅه وکړو چې دې اساسي پوښتنې ته چې، (مـوږ ولې له کره کتنې ډارېږو) د څو غټو دلايلو له مخې ځواب پيدا کړو.

## ۱- د کره کتنې ناعموالی:

د پښتو ژبې په ادبي، ټولنیز او ان سیاسي چاپېریال کې د هغو د نورو اړوندو پدیدو په انډول کره کتنه ډېره عامه نه ده، نو کله چې یو شی په ټولنه کې عام نه وي، خلک هم ورسره نه روږدي کېږي. همدا ناعموالی ددې سبب کېږي چې دلته کره کتنه لکه څنګه چې لازمه ده، همغسې وده ونه کړي.

د پښتو ژبې نامتو لیکوال سرمحقق زلمی هېوادمل وایي: (( زموږ په فرهنګي چاپېریال کې یا په عام ډول د پښتنو په ټولو فعالو فرهنګي حوزو کې د کره کتنې څه څرکونه لګېږي، مګر لږه روغه زیاته رنځوره. د پښتنو په فرهنګي چاپېریال کې کره کتنه، لکه د دوی د ګاونډیو چاپېریالونو هسې عامه نه ده. مانا دا چې زموږ د پښتو مطبوعاتو په لمن کې لا کره کتنې ته، لکه څنګه چې ښایي ځای نه شته. کله ناکله یوه نیمه کره کتنه او یا د کره کتنې په نامه ځینې لیکنې موږ په خپلو مطبوعاتو کې وینو.

خو که د پښتنو ګاونډي راواخلو، د ساري په توګه د اردو ژبیو په فرهنګي چاپېریال کې له پاکستانه نیولې تر هنده، بنګاله او حتی سریلانکا پورې چېرې چې د ا ردو ادب او اردو ژبیو د فرهنګ په اړه کتاب چاپېږي، له یوه نیولې ان تر لسو پورې نقدونه پرې لیکل کېږي. دا کار دا ښیي چې جامعه کتاب ته ارزښت ورکوي. کره کتونکی له خپل فرهنګ سره مینه لري. د لوستونکو او لیکوالو د بې لاریو مخه نیسي او له خپل رسالت سره دواړو ته لارښوونه کوي، خو زموږ په فرهنګي چاپېریال کې ډېر لږ پېښېږي، چې پر یو نشر شوي اثر دې

نقد وشي. که کله کېږي هم نو په رنځ یو اخته نقد به وي او سالم نقد خو هسې د طالعو خبره ده.

ددې علت دادی چې سالمې کره کتنې، لکه څنګه چې ښايي زموږ په فرهنګي چاپېريال کې وده نه ده موندلې. ځینې سـالم نقدونـه کـه شوي یا کېږي، هغه د ناسالمو پر وړاندې دومره بې اغېـزې دي، چـې څوک اهمیت هم نه ورکوي. رنځورې کره کتنې زیاتره د شخصي حب او بغض پر محور چورلي. نقاد په کې د یوه کینه کښ او انتقـامجو پـه څېره کې څرګندېږي، چې د نورو د تعجیز زیار باسي.)) (۱۵: ۱-۲).

نو د همدغو علتونو له امله کره کتنې زموږ په ټولنه کې پراختیا عـام منښت یا عاموالی نه دی پیدا کړی.

## ۲- د زغم کلتور نشتوالی:

په هره ټولنه کې چې اختناق حاکم وي، د فکر وزرونه تړلي وي. انتقاد عام نه وي، هلته د تحمل او زغم روحیه ډېره کمزورې وي. هره نیوکه او نوی فکر د کینې، دښمنۍ او شخصي عقدې په مانا انګېرل کېـږي. هغه ټولنې چې نن د ولسـواکۍ پـر بنسـټ خپلـې ژونـدنۍ چـارې سمبالوي، رسنۍ په کې ازادې دي او سالم انتقـاد پـه کـې دود دی، هغوی د زمانې له یوې اوږدې تجربې تېرې شوې دي. ګـڼ قـومیزې، ګڼ سیاسي او ګڼ مذهبي ټولنې د یو بل له زغملو او تحمل پرته بلـه لار نه لري، یا به د وېشنې او پاشنې خوا ته ځي او یا به هـم یـو بـل زغمي. رسنۍ هم د تحمل د کلتور په عاملو کې ډېر رول لري، رسنۍ

پټې نا ویلې خبرې، چې یو وخت پر عقدې او بیا پــر فزیکــي ټکــر او عمل بدلېږي، په ډاګه کوي او له نا ویلو خبرو څخه د عقدو د جوړېدو مخنیوی کوي. البته رسنۍ هم خپل حدوحــدود لــري او د عقــدو د ایستلو په پلمه باید د نورو نویو عقدو د ټوکېدو سبب نه شي. البتــه که بریدونه او اصول یې تر پښو لاندې شي، نو رسنۍ هم په ټولنه کې د غتې انارشۍ سبب ګرځېدلای شي.

د متحملې یا زغموالې یا نازغموالې ټولنې دوه څرګندې بېلګې هندي او افغاني ټولنې دي. په هندي ټولنه کې د تحمل روحیه ډېره پیــاوړې ده، مــذهبي عناصــرو، د ټــولنې جــوي حالــت، د نفوســو د شــمېر څومروالی او نورو ټولو عواملو په دې جوړښت کــې خپــل خپــل رول لرلی دی. هندي ازادو او دولتي رسنیو دواړو د تحمل کلتور په عامولو کې خپله ونډه لرلې ده. هند د ازادو رســنیو او ولســواکۍ یــوه اوږده تجربه لري. همدا تجربه او د هغې متواتر تکــرار، د هنــدي ټــولنې د پرمختګ او پیوستون سبب شوی دی. له یوه هندي عالم څــو څخــه پوښتنه وشوه، چې د هندي ټولنې د بري راز په څــه کــې دی؟ هغــه وویل: ((زموږ د بري راز په دې کې دی چې یو بل مو زغملي او تحمــل کړي دي.)) که چېرې په هندي ټولنه کې زغم او تحمل نــه وای، نــو سلګونو مذهبونو، ژبو او قومونو منسوبو اشخاصو به څنګه یو بل سره د ګډ ژوند ګوزاره کوله؟ د تحمل همدا کلتور دی، چې نن هندي ټولنه د پرمختګ پړاوونه وهي. دلته زموږ په ټولنه کې د رسنیو یــوازې دوه تجربې پېښې شــوې دي: لــومړۍ تجربــه د ولســواکۍ لســیزه وه، د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پــر مهــال رامنځتــه شــوه او

دویمه هغه همدا (۱۳۸۱-۱۳۹۱ل) کلونه دي. په لومړۍ هغې کې هم خپلې خپلې ستونزې وې او په دویمه کې هم د تصنعي ولسواکۍ، تنظیمي زورواکۍ او نا سالمو رسنیو ستونزې شته، وارداتي دیموکراسي او پېیلو رسنیو نه یوازې د زغم کلتور عام نه کړ، بلکې په ځینو برخو کې یې نوي مشکلات هم راوټوکول. د ټولنې نور مدني بنسټونه هم دومره پیاوړي نه دي چې د زغم کلتور عام کړي. لکه څنګه چې په ټولنیز او سیاسي ډګر کې ستونزې وې، داسې په علمي رسنیز او ادبي ډګر کې هم د تحمل کلتور ډېر پیاوړی نه و او نه دی، د تحمل کلتور د سالمې کره کتنې لپاره یو ښه بستر دی. پیاوړی افغان لیکوال، مفکر او کره کتونکی (استاد ګل پاچا الفت) د افغاني ټولنې دې نقیصې ته متوجه شوی، هغه د خلاصون لاره هم په ګوته کړې. د الفت په نظر هره ټولنه چې غواړي سمون او پرمختګ په کې رامنځته شي، هلته باید پر فکر، نظر او انتقاد بندیز نه وي، کله چې په یوه ټولنه کې فکر ازاد وي، هلته د ډېرو مرضونو لپاره د علاج لاره پیدا کېدی شي. الفت خپله مفکوره د (بې ګناه بندي) په نامه په یوه نثر کې ډېره ښه ځلولې ده، هغه د ټولنې د نجات لپاره ددې بندي د خلاصون هیله کوي، وایي: (( پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ. مه وېرېږئ، د ده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نه شته. فساد او شرارت له ده څخه نه پیداکېږي.

دده بندي کول لویه ګناه ده.

دی هغه یوسف دی، چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کې لوېدلی دی.

که دی له زندانه راوالوزي ستاسې اینده سنجولای شي او ستاســې د بلې ورځې غم خوړلای شي.

پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ.

که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړي. ستاســې ورې به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي.

تاسې دغه ښکلی موجود په تورو څاګانو کې مه غورځوئ.

په زندانونو کې یې مه اچوئ!

پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ!

دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانه خوبونو صحیح تعبیرونه وکړي.

ډېرې سختې مبهمې او مجملې غوټې به پرانیزي.

دی د راتلونکي حال پېشبیني کولای شي.

د طبیعت په رمزونو او اسرارو پوهېږي.

د جوي او فلکي اوضاعو اقتضاات ورته معلوم دي.

پرېږدئ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ!

د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زیاتېږي.

وطن رڼا کېږي او ړانده بینا کېږي.

دی له خپلو جفاکارو ورونو سره هم ښه سلوک کوي.

دی ډېر پېچومي اورولای شي.

دی ډېرې کړې سمولای او ډېر مشکلات حل کولای شي.

ما خوب ليدلی، چې دا بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني.

ښه فکر وکړئ!

دا بندي څوک دی؟

پس له ډېر فکره وايم!

فکر دی فکر!)) (۱: ۱۲-۱۴).

د الفت په نظر تر هغه پورې چې په يوه ټولنه کې فکر بندي وي، په ټولنه کې د سمون هيله نه شو کولای. هر هغه انتقاد يا نيوکه چې فکري اساس ونه لري، پر کينې بدلېږي، که مونږ غواړو په خپله فرهنګي حوزه کې سالمه کره کتنه عامه کړو، نه يوازې بايد خپل فکر ازاد کړو، بلکې پراخ يې هم کړو. خپل فکر نورو ته بيان کړو او د نورو د فکر او نيوکې د زغملو کلتور هم دود کړو.

## ۳- د سالمې کره کتنې کموالی:

زمونږ يو زيات شمېر کره کتونکي په دې نظر دي، چې زمونږ په هېواد کې کره کتنه عامه نه ده او ان په ځينو وختونو او ځايونو کې ورسره حساسيت هم ښودل کېږي، علت يې دادی چې دلته له پيله بيا تر دې دمه کره کتنه د يو سالم بهير او سالم مسير له فلتره تېره شوې نه ده. ځينې کره کتنې د شخصي کينې او انتقام له مخې ترسره شوې دي. سرمحقق زلمی هېوادمل ددې ډول ليکنو په باب وايي: ((

ددې ډول کره کتنو، لیکوالان زیاتره د کره کتنې د لیکلـو صـلاحیت هم نه لري، بلکې د ځینو ځانګړو ملاحظاتو پر بنیاد د نقد په نامه یـو څه لیکي، چې د کره کتنې د ادابو بوی هم په کې نه وي. د اثر پر ځای پر لیکوال ډېر ګړېږي. د نقد د داسې یوې ناسالمې فضا د موجودیـت په صورت کې ډېر د وړتیا خاوندان، حتی د سالم نقد لیکلو ته هم زړه نه ښه کوي او دا ځکه چې زموږ په فرهنګي چاپېریال کې پـه دې اړه ذهنیت ډېر مغشوش دی. پر یو اثر هم سالم نقد، د اثر لیکوال د خپل ځان لپاره سپکاوی بولي. که څوک د یو چا پـر اثـر سـالم نقـد هـم ولیکي، د اثر لیکوال ددې پرځای چې له کره کتونکي مننه وکـړي، د ځواب په نامه یې ښکنځلو ته مټې رانغاړي. ځواب خو ورسره وي نـه، بیا نو په اوتو بوتو سر شي او په شخصي تعرضونو، سـپکاویو شـروع وکړي او تر ټولو یې جالبه دا چې زموږ په فرهنګي چاپېریال کې هـم سالم کره کتونکی هم په دې متهمېږي چې د نورو مخه نیسي، هر څه یې ځانته اجاره کړي دي. په همدې اساس زمـوږ زیـاتره د اسـتعداد خاوند کره کتونکی د سالم فرهنګ په ګټه نقد لیکلو ته زړه نه شـي ښه کولای.)) (۱۵: ۳).

سرمحقق زلمی هېوادمل په دې برخه کې یو مثال وړاندې کوي، هغه وایي: (( ښه مې په یاد دي چې د تېرې میلادي پېړۍ د نوییمو کلونـو په جریان کې (د پښتو ادبیاتو تاریخ) په نامه یو کتاب په پېښور کـې چاپ شو. ډېرو ښاغلو دا کتاب لوستی و، چې ځینې پکې د اسـتعداد خاوندان هم وو. د کتاب پر نیمګړتیاوو یې داسې خبرې کولې چې هم د لیکوال په ګټه وې او هم د لوستونکو لپاره ګټـورې وې، خـو دغـو

کسانو یوه هم دا جرات نه شو کولای چې خپلې خبرې ولیکي، ځکه وېرېدل چې د دوی د خیر کار به نور بل ډول انګیري.))

سرمحقق زلمی هېوادمل زیاتوي: (( دا خبره باید په زغرده وکړو چې زموږ په فرهنګي چاپېریال او ټولو فرهنګي حوزو کې له کره کتنې وېره خپره ده، هم لیکوال او شاعر له کره کتنې وېرېږي او هم سالم کره کتونکی. همدې وېرې د سالمو کره کتنو مخه نیولې ده او د فرهنګ خواخوږي دا جرات نه شي کولای، چې علمي، تحقیقي او ادبي اثار د نقد له علمي موازینو سره سم نقد کړي.

دا چې ایا پښتنو عالمانو او د فرهنګ د لارې لارویانو د سالمې کره کتنې د ودې، دودېدو او د نقد پر اصولو او ادابو د کره کتونکیو د سمبالتیا لپاره څه کړي دي او که نه؟ ددې برخې په ځواب کې باید ووایو چې په دې لاره کې څه ګامونه اوچت شوي دي، خو پاخه نه دي. په دې مشخصه ساحه کې موږ څه اثار لرو مګر ډېر نه دي، زموږ یو شمېر لیکوالو د تالیف او ترجمې له لارې ځینې اثار وړاندې کړي دي، چې له لوسته یې سړی د کره کتنې د اصولو او معیارونو، ادابو او ډولونو په باب څه معلومات ترلاسه کولای شي. خو که څوک د پښتنو په فرهنګي حوزو کې د کره کتنې روان جریان له نظره تېر کاندي، نو پوه به شي چې زموږ زیاترو کره کتونکیو د کره کتنې په باب حتی په خپله ژبه کې موجود اثار هم نه دي لوستي.

د کره کتنې اوسنی روان جریان که سړی له نظره تېر کاندي سړی په یقین سره ویلای شي چې دا جریان یو سالم جریان نه دی. ناوړې ډېرې لري او د بدمرغۍ خبره په کې دا ده چې له دې رنځور حالته د

کره کتنې د ایستلو لپاره کومه هڅه هم نه لیــدل کېــږي. د ســالمې هغې په پرتله د ناسالمې پیروان هم ډېر دي.))(۱۵: ۳-۶).

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي یو بل استاد بریالی باجوړی هم پــه دې نظــر دی او (د کره کتنې ډولونه) اثر په سریزه کې وایي: (( له دغو ستونزو څخه یوه په پښتو کې د کره کتنې د تیوریکو اثارو نشتوالی دی. کوم ځانګړي کتابونه او لیکنې چې ډېر پخوا په دغه برخه کې لیکل شوي دي، د ګوتو په شمار دي، چې د موجودو ستونزو او پرابلمونو ځــواب نه شي ویلای.)) (۳۱: ۱).

تر هغه پورې چې پورتنۍ ټولې نیمګړتیاوې پوره نه کړو او د کره کتنې په برخه کې عملي او نظري کار، ونه کړو، د کره کتنې کلتور عــام نــه کړو، د تحمل کلتور دود نه کړو، نو تر هغه پورې له کره کتنې څخه که هغه معقولــه وي، کــه نامعقولــه، د خلکــو وېــره وي او دا وېــره بــه احساسېږي.

# د لسم څپرکي لنډيز

زموږ په ټولنه کې زيات وخت له کره کتنې سـره حساسـيت ښـودل کېږي. يو زيات شمېر ليکوال زړه نه ښه کوي چې خپل اثر کره کتنې ته وړاندې کړي. دا کار بېلابېل عوامل لري. د کـره کتنـې ناعـاموالی ددې علتونو له جملې څخه يو علت دی. د پښتنو په ادبي، ټـولنيز او ان سياسي چاپېريال کې د هغو د نورو اړوند پديدو په شان کره کتنه ډېره عامه نه ده، نو کله چې يو شی په ټولنه کې عام نه وي، خلک هم ورسره نه روږدي کېږي، همدا ناعاموالی ددې سبب کېږي چې دلتـه کره کتنه لکه څنګه چې لازمه ده، همغسې وده ونه کړي. پـه پښـتو کې د چاپ شويو ادبي اثارو په اندول د کره کتنې اثار زيات نه دي، ان د ادبي اثارو کره کتنيزې اړتياوې نه شي پوره کولای.

د زغم کلتور نشتوالی بل علت دی، چې دلتـه يـې د کـره کتنـې د عامولو مخه ډب کړې ده. دلته د زغم کلتور ډېر عام نه دی. کله چې د تحمل کلتور عام وي د کره کتنې عملي تطبيـق تـه ډېـره ښـه لاره اوارېږي. هر څومره چې دلته د تحمل کلتور زياتېږي، کره کتنـې تـه لاره اوارېږي. کره کتنه د تحمل او زغم کلتور په عامولو کې مهم رول لري.

زموږ په ټولنه کې چې يو شمېر کره کتنې ترسره شوي، په هغــو کــې کله کله شخصي عقده او کينه هم دخيــل شــوې ده. دا کينــه ددې سبب شوې چې سالمه کره کتنه له ځنډ و خنډ سره مخ شــي. کلــه چې په ټولنه کې سالمه کره کتنه له ځنډ و خنډ سره مــخ شــي، نــو طبيعي خبره ده چې روغه کره کتنه نه رامنځته کېږي. کله چــې پــه ټولنه کې سالمه کره‌کتنه نه وي، نو د کره کتنې د عامېدلو لپاره بستر نه برابرېږي. د سالمې کره کتنې لپاره يو څه ګامونه پورته شوي، خــو بيا هم پوره او پاخه نه دي. دغه ټول عوامل ددې سبب ګرځــي چــې دلته له کره کتنې څخه يو ډول وېره پيدا شي. ددې وېرې د ختمولــو لپاره په کار دي، ټول هغه عوامل پــه دقــت ســره وارزول شــي چــې مخکې مو يادونه وکړه او په پوره تدبير سره د هغو د اواري لپاره کــار وشي.

# د لسم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-د کره کتنې ناعاموالي زموږ کره کتنه له کومو ستونزو سره مخامخ کړې ده؟

۲-که کره کتنه عامه وای، زموږ په فرهنګي حوزه کې به اوس د کره کتنې احتمالي حالت څنګه و؟

۳-د کره کتنې په پراختیا کې د زغم کلتور څه رول لري؟

٤-د سالمې کره کتنې کموالي، د ښې کره کتنې پر وړاندې څه ستونزې ټوکولي دي؟

٥-د استاد الفت په نظر د فکر ازادي د کره کتنې په پراختیا کې څه رول لري؟

# سپارښتنې

- محصلین دې په هېواد کې د کره کتنې د پرمختیا او عوامولو لپاره خپل تحلیلي نظر په یوه لیکنه کې وړاندې کړي.
- هر محصل دې د پښتو کره کتونکو له جملې څخه یو تن په خپله خوښه غوره او د هغې د کره کتنیزو نظریاتو په باب دې یوه لیکنه وکړي او په ټولګي کې دې ټولګیوالو ته واوروي.

# یوولسم څپرکی

# په پښتو ژبه د کره کتنې چاپ شوي کتابونه

که څه هم په پښتو ژبه ډېر ادبي اثار چاپ شوي؛ د پښتو شـعر و ادب لمن ډېره پراخه ده، هم د شکل او هم د محتوا له مخې د پښـتو ادب لمن له رنګارنګ غمیو ډکه ده. که د شکل یا شعري فورمونو له مخې پښتو ادب وڅېړو، نو د نړۍ هېڅ ژبه ورسره سیالي نه شـي کـولای. زیاتره هغه شعري فورمونه چې د نړۍ په نورو ژبو په تېره بیا ختیـزو ژبو کې شته، هغه اکثره پښتو راخپل کړي دي. د لویدیز ادب شـعري فورمونه په تېره بیا ازاد شعر چې ځینې ورته سپین شعر هم وایي، هم د پښتو ژبې په لمن کې خوندي دي. پښتو د ختیزو ژبو او ادب د یوې بېلګې په توګه ټول هغه شعري فورمونه چې په عربـي ژبـه کـې دود دي، پښتو ورته په خپله لمن کې ځای ورکړی دی، لکه غزل، مثلـث، مستزاد، مخمس، قطعه، رباعي، مثمن، مسدس، معشر، ترکیب بنـد، ترجیع بند او نور...

پښتو ژبې له جاپاني ژبې څخه هم د (هایکو) شکل راخپل کړی، لـه دري سره یې دوه بیتۍ کې چې د څلوریزې په شان یو فورم دی، هـم مشترک حالت لري، خپله د پښتو ځـانګړي شـعري فورمونـه، لکـه

لنډۍ، بګتۍ، سروکي، چاربیتې، کاکړۍ، ببولالې او نور یـــې خـــو یـــې داسې خپل دي چې د نړۍ په نورو ژبو کې یې ساری نه لیدل کېـــږي، په تېره بیا لنډۍ چې د پښتو ژبې یوه امتیازي پانګه ده او د نړۍ هېڅ شعر ورسره د سیالۍ جوګه نه دی، خو د پښتو ژبې له دې پراخې لمن سره سره د کره کتنې اثار بیا دومره زیات نه دي، یو علت یې شاید دا وي چې کره کتنې اکثره د لوســـتو او متخصصـــو اشخاصـــو لـــه خـــوا رامنځته کېږي، خو د پښتو ادب د لمن د غوړېـــدو پـــه برخـــه کـــې د لوستو لیکوالو ترڅنګ نالوستو شاعرانو او ناظمانو هم پراخې هڅـــې کړي دي. او د پښتو ادب د پانګې یوه درنه د همدې نالوســـتو ولســـي ادبیاتو له خوا بشپړه شوې ده، خیر علتونه ډېر دي، مخکې مـــو هـــم ورته نغوته وکړه خو اوس راځو د کره کتنې په باب چاپ شـــوي اثـــارو ته! دلته به هغو مستقلو اثارو ته اشاره وکړو چـــې پـــه افغانســـتان او پښتونخوا کې دکره کتنې په برخه کې لیکل شوي او په ځانګړي ډول چاپ شوي دي.

## الف- په افغانستان کې:

په دې برخه کې د هغو لیکوالو مستقلو اثارو ته نغوته کـــوو، چـــې پـــه افغانستان کې زېږېدلي دي، په ختېه افغانان دي، که څه هـــم د تېـــرو لسیزو د حوادثو په بهیر کې کوزې پښتونخوا یا لـــر افغانســـتان او یـــا نورو هېوادونو مهاجر شوي او یا یې کتابونه تر هېواده بهر چاپ شوي دي. په دې کې یو شمېر لیکوال داسې هم دي، چې پـــه هېـــواد کـــې اوسېدلي، خو کتابونه یې تر هېواد بهر چاپ شوي، دا ګټه ګورۍ مو د

کتابونو د چاپ د موقعیت له مخې په پام کې نــه ده نیــولې، بلکــې د هغوی د زېږېدنې جغرافیه مو په پام کې نیــولې ده. نــو ځکــه مــوږ د پښتونخوا د پښتنو افغانانو کته ګوری په جلا ډول په پام کــې نیــولې ده. نو لومړی به د افغانستان مېشتو افغانانو مستقل کره کتنیــز اثــار معرفي کړو:

## ۱- ادب او ادبي کره کتنه:

دا اثر ښاغلي عبدالمالک همت لیکلی دی، په دې اثر کې د ژبــاړې او تالیف دواړه برخې شاملې دي، لیکوال خورا زیار په کې ګاللی دی، نه یوازې د کره کتنې په باب په کې معلومات راټول شوي، بلکې د ادب، ادبپوهنې، د ادب ښوونځي، د ادبیاتو شننه او څېړنه هم په کې راغلي دي. دا اثر ټول (۶۶۸) مخونه لري. ادب او ادبپوهنه، ادب د اســلامي نظریې له مخې، ادب او ادبپوهنه د اوسنۍ لویدیزې نظریې له مخې، ادبي کره کتنه، مفهوم او ارزښت، ادبي کــره کتنــه لــه پخــوا څخــه تراوسه، اسلامي کره کتنه، دري کره کتنه، اردو کره کتنه او پښتو کره کتنه یې اساسي سرلیکونه دي. تر دغه هر یو اساسي سرلیک لاندې بیا څو نور څنګزني سرلیکونه دي، چې هره موضوع یې په هر اړخیــز ډول څېړلې ده. دا اثــر پــه ښــکلي قطــع او صــحافت پــر (۲۰۰۶م)، (۱۳۸۵ل) کال په کویټه کې د صحاف نشراتي موسسې له خوا د یو زر ټوکو په شمېر چاپ شوی دی او دا اثر چې اوس لولئ په دې کې هم د همدې اثر (ادب او ادبي کره کتنه) اثر څخه زیاته ګټه اخیستل شوې ده.

## ۲- کره کتنه:

دا اصلاً د هغو بېلابېلو ليکوالو د کره کتنيزو ليکنو يوه ټولګه ده، چې په زېري جريده کــې پــه متــواتر ډول خپــرې شــوې دي. د (۱۳۵۵-۱۳۵۶ل) کلونو په بهير کې په زيــري جريــده کــې دوه افتراحګــانې خپرې شوې، د همدغو افتراحګانو له امله د کره کتنې په برخــه کــې بېلابېلو ليکوالو يادې جريدې ته خپلــې ليکنــې ور ولېږلــې، زېــري جريدې دا ليکنې په خپلو پاڼو کې خپــرې کــړې. دې ليکنــو ځينــو دوديزه بڼه درلودله او ځينې يې د لويديزې کره کتنې په رڼا کې ليکل شوې وې.

(افضل ټکور) دا ليکنې د زېري جريــدې لــه پــاڼو راټــولې او د يــوې ځانګړې مجموعې په توګه يې چاپ کړې. دا اثر پــر (۱۹۸۶م،۱۳۶۵ل) کال د افغانستان د قومونو او قبايلو چارو وزارت له خوا په کابل کــې چاپ شوی دی. په دې اثر کې د (ادبي نقد) په نامه د عبــدالرحيم، ( ادبي انتقاد) په نامه د متعمد شنيواري د (نقد او نقد کوونکي) په نامه د غوث خيبري، د (نقد څارنه دې وشي) د استاد بېنوا او ځينو نــورو ليکوالو ليکنې راغلي دي.

## ۳- پښتو نثر ته کره کتنه:

دا د علامه پوهاند حبيبي د ليکنو يوه ټولګه ده چــې کــره کتنيــزې ليکنې په کې راټولې شوې دي. دا ليکنې اصــلاً اســتاد حبيبــي تــر (۱۳۵۷ل) کال دمخه کړې دي او د هېواد په بېلابېلو چــاپي خپرونــو کې چاپ شوې دي. دا ليکنې د سرمحقق زلمي هېوادمــل پــه زيــار

راټولې شوي او پر (۱۹۸۱م، ۱۳۶۰ل) کال یې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ کړي دي. په دې اثر کې د تاریخ په بهیر کې د پښتو نثر پر لوړ ځوړ خبرې شوي، د (روښاني) پېر پر نثر او د (خوشال) د کورنۍ پر نثر بحث شوی دی. د (ګوهر خان ختک) د (قلب السیر پښتو)، (پښتو نثر په تاریخ مرصع کې) او (ژبې او د تکامل قوانین) په نوم لیکنې هم په دې اثر کې خوندي دي.

## ۴- ادبي څېړنې:

ادبي څېړنې د ادبپوهنې په برخه کې خورا مهم اثر دی. دا اثر کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي لیکلی دی، لومړی ځل په (۴۲۵) مخونو کې پر (۱۹۸۱م،۱۳۶۰ل) کال د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي له خوا خپور شوی دی. دا اثر دویم ځل په پېښور کې د دانش کتابتون له خوا هم په ښکلې قطع او صحافت چاپ شوی دی. یاد اثر په عمومي ډول څلور برخې لري؛ په لومړۍ برخه کې یې (ادبي تیوري) په دویمه کې یې (ادبي کره کتنه)، په دربیمه کې یې (ادبي میتودونه، ادبي مکتبونه) او په څلورمه کې یې (ادبي تاریخ) څېړل شوي دي. په ټولیز ډول دا د ادبپوهنې په برخه کې یو خورا جامع کتاب دی، ددې اثر د کره کتنې باب هم خورا غني دی. او په دې برخه کې د ((کره کتنې تاریخي پس منظر او معیارونه)) تر سرلیک لاندې د کره کتنې د پېژندنې، موضوعګانو او مسالو، تاریخي پس منظر، اصولو او معیارونو، ډولونو، هدفونو او دندو په هکله د لویدیز ادب او کره کتنې له اصولو سره سم بحث او څرګندونې شوې دي. د کره کتنې په بحث کې د کره کتنې آداب هم تشریح شوي دي.

## ۵- شعرونه او نقدونه:

شعرونه او نقدونه د تکړه کره کتونکي زرين انځور اثر دی. دا اثر پر(۱۹۸۲م، ۱۳۶۵ل) کال په کابل کې چاپ شوی دی. دا اثر د کره کتنې په تېره بيا د پښتو شعر او هغه هم معاصر شعر په برخه کې د عملي کره کتنې يوه ښه بېلګه ده. ليکوال په دې اثر کې د پښتو معاصر شعر ځينو نميګړتياوو ته اشاره کړې، څرګندې بېلګې يې راوړي، د هغو پر نيمګړو برخو يې څرګندې نيوکې کړي او د حل لارې يې په ګوته کړي دي. دې اثر پر خپل وخت عملي تاثيرات هم وشيندل او تر يوه بريده يې د پښتو شعر د شعاري کېدو او انحراف مخه ونيوله.

## ۶- ادبي مسالې:

د کانديد اکاډميسن پوهاند محمد رحيم الهام اثر دی. په دې اثر کې د پوهاند الهام پنځه عنوانه بېلابېلې ليکنې او دوه بېلابېلې ژباړې شاملې دي. دا اثر پر(۱۹۸۸م، ۱۳۶۷ل) کال په کابل کې د افغانستان د ليکوالو د ټولنې له خوا خپور شوی دی. د مخونو شمېر يې (۲۴۰) ته رسېږي. د کره کتنې په دې اثر کې د کينې ايډيالوژۍ د پلوي کره کتونکو او همدارنګه د لويديځوالو کره کتونکو دواړو نظريات راټول شوي دي.

## ۷- د کره کتنې ډولونه:

د کره کتنې ډولونه د سرمحقق زلمي هېوادمل اثر دی. په دې اثر کې د سرمحقق زلمي هېوادمل هغه ليکنې راغلي چې د کره کتنې په اړه دي. په دې ليکنو کې د پښتو کره کتنې پر تاريخي سوابقو، تيوريکو اثارو، د کره کتنې پر ستونزو او نورو اړوندو مسايلو بحث شوی دی. د سرمحقق زلمي هېوادمل پر ليکنو سربېره په دې اثر کې څلور هغه ليکنې هم راغلي دي، چې د کره کتنې په اړه دي او دده له خوا له اردو ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوي دي. دا اثر په (۱۹۹۱م،۱۳۷۰) کال د افغانستان د ليکوالو د ټولنې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

## ۸- ادبي او تاريخي سمونې:

دا د پوهاند صديق الله رښتين کره کتنيز اثر دی، چې پر (۱۹۹۲م، ۱۳۷۱ل) کال چاپ شوی دی. په دې اثر کې د يو شمېر هغو ځانګړو اثارو او متفرقه ليکنو تېروتنو ته اشاره شوې چې چاپ شوي دي. پوهاند رښتين ددې اثارو تېروتنو ته متوجه شوی، د هغو سمون يې ضروري او د ادب په ګټه ګڼلی دی، پر هغو يې بېلابېلې ليکنې کړي او پر خپل وخت يې په مجلو او جريدو کې خپرې کړي دي. تر متفرق چاپ وروسته يې بيا په دې اثر کې راټولې او خوندي کړي دي.

## ۹- منشور (کره کتنه):

منشور (کره کتنه) د مصطفی سالک اثر دی، چې پر (۲۰۰۰م، ۱۳۷۹ل) کال په پېښور کې دانش خپرندويې ټولنې خپور کړی دی. دا

اثر ټول (۱۵۰) مخه لري. ددې اثر په لومړيو برخو کې پـر ادب، شـعر، اخلاقو، ښکلا، تاريخ او ادب، معاني، بيان او بديع، فلسفه او شاعري، تخليق او مطالعې باندې بحث شوی دی. په دې اثر کــې د ختيــزې او لويديزې کره کتنې آرونه هم بيان شوي دي. (منشور) د يوه تدريسي کتاب په بڼه ليکل شوی، د ادب پوهنځي محصلين ترې د کره کتنــې په برخه کې د يوه تدريسي يا مرستندوی درسي اثر په توګه هم ګټـه اخيستلای شي.

## ۱۰- د پټې خزانې ميزان رښتيا ميزان دی؟

دا د زرين انځور او استاد محمد اصف صميم ګــډ اثــر دی، چــې پــه پېښور کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې د اســتاد صــميم او زريــن انځور يو څو هغه ليکنې راغلي دي، چې د قلندر مومند د هغو نيوکو په اړه ليکل شوي، چې ده په خپل اثر ((پټه خزانه فی الميزان)) کــې راوړي دي. دې اثر کې هڅه شوې، د علمي دلايلو له مخــې د قلنــدر مومند يو زيات شمېر هغو انتقادونو ته منطقي ځواب وويل شي چــې هغه د پټې خزانې پر ېېلابېلو خواوو څرګند کړي دي.

## ۱۱- ادبي کره کتنه:

دا اثر اجرالدين اقبال له عربي څخه پښتو تــه ژبــاړلی دی. يــاد اثــر مصري ليکوال ډاکتر محمــد مندورمصــري ليکلــی دی، ټــول (۱۳۶) مخونه لري او د (۱۰۰۰) ټوکو په شمېر دانــش خپرندويــه ټــولنې پــه پېښور کې چاپ کړی دی.

## ۱۲- د پښتو غزل تنقيدي جاج:

دا د ځوان ليکوال طاير ځلاند اثر دی، چې دانش خپرندويه ټولنې په (۱۶۷) مخونو کې د (۱۰۰۰) ټوکو په تيراژ په پېښور کې پر (۱۳۹۱) ل کال چاپ کړی دی. په دې اثر کې تصوف او پښتو نوی غزل، د غزل کره وړه، پښتو غزل کې رواني اړخونه، غزلګو شاعر څوک دی؟، پښتو غزل او علامت نګاري، پښتو غزل او انځورګري، حمزه بابا په پښتو غزل کې د بدلونونو موجد، پښتو غزل په سروتال کې، پښتو غزل په نويو پړاوونو کې، د پښتو نوي غزل تنقيدي جاج او د پښتو غزل راتلونکی، مسايل څېړل شوي دي. په مجموعي ډول دا اثر د پښتو غزل د ارزونې او کره کتنې په برخه کې يو ځانګړی اثر دی.

## ۱۳- د کره کتنې تاريخي پس منظر او معيارونه:

د کانديد اکاډميسين محمدصديق روهي اثر دی، چې پر (۱۳۸۰ل) کال د محمدصديق روهي فرهنګي ټولنې له خوا په پېښور کې چاپ شوی دی. په دې اثر کې راغلي محتويات همغه دي چې اکثره يې په ادبي څېړنې اثر کې راغلي دي، خو دلته د يوه ځانګړي اثر په توګه هم چاپ شوی دی.

## ۱۴- کره کتنه:

استاد پوهنوال عبدالخالق رشيد ليکلی او د اتيايمو کلونو په وروستيو کې د هندوستان په نوي ډيلي کې چاپ شوی دی، دا کتاب (۸) څپرکي لري،د کره کتنې تاريخچه په کې بيان شوې، کره کتنه

يې د يوه علم په توګه ارزولې او همدارنګه يې د کره کتنې ډولونه پــه ګوته کړي دي.

## ۱۵- د پښتو شعر اوسمهالي بهير کره کتنه:

د عبدالغفور لېوال اثر دی، چې پر (۱۳۸۱ل ) کال په کابل کــې چــاپ شوی دی. په دې اثر کې د پښتو د اوسني شعر په تېره بيا د طالبانو د واکمنۍ تر ختمېدو پورې يو شمېر مخکښو شاعرانو پر شعرونو باندې کره کتنه شوې، هغه څېړل شوې، شنل شوي او ارزول شوي دي.

## ب- په پښتونخوا کې:

پر افغانستان سربېره په کوزه پښتونخويا لر افغانستان کې هم د څــو لسيزو په بهير کې د کره کتنې ځينې مستقل کتابونه چاپ شوي دي. پر خپلواکو اثارو سربېره ځينې نور داسې اثار هم چاپ شوي، چې يوه برخه يې د کره کتنې پر محور راڅرخي، خو نورې برخې يې د ادبياتو يا ادبپوهنې نورې برخې رانغاړي. دلته به يوازې ځانګړو اثارو ته اشاره وکړو:

## ۱- کتاب الشعر:

دا کتاب اصلاً د يونان د نامتو فيلسوف او حکيم (ارســطو) د بوطيقــا (Poetics) پښتو ژباړه ده. دا اثر (مولوي محمد اسرافيل) ژبــاړلی او د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ مشر (مولانا عبدالقادر) پرې بيا کتنه

کړې. یاد اثر پر (۱۹۵۸م، ۱۳۳۷ل) کال په پېښور کې د پښتو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی.

لکه څنګه چې څرګنده ده، بوطیقا د شعر او شاعرۍ په اړه په نړۍ کې لومړنی منظم اثر ګڼل کېږي، دغسې په پښتو کې ددې اثر ژباړه هم د کره کتنې په برخه کې لومړنی ژباړل شوی اثر ګڼل کېږي. د ارسطو په دې اثر کې پر شاعرۍ باندې عمومي او متوازن نظر ښندلی، د شاعرۍ ډولونه یې بیان کړي، جنګي شاعري یې توضیح کړې، د کره کتونکو اعتراض او هغو ته د ځواب ورکولو اصول یې بیان کړي دي. د ارسطو دا اثر د (نظمیات) په نامه (قلندر مومند) هم ژباړلی دی او پر (۱۹۶۳م، ۱۳۴۲ل) کال یې په پېښور کې خپور کړی دی.

## ۲- ادبي تنقید:

د کره کتنې په برخه کې دا یو وړوکی کتابګوټی دی، چې (میا سیدرسول رسا) لیکلی دی، په وړه جیبي کچه په (۱۸۵) مخونو کې په پېښور کې د (یونیورسټي بوک ایجنسي) له خوا چاپ شوی دی. (میا سید رسول رسا) ددې اثر په لیکلو کې د کره کتنې په برخه کې د نړۍ له ډېرو نامتو اثارو څخه ګټه پورته کړې ده. ددې اثر ځینې برخې بشپړې ژباړې دي او ځینې برخې یې د (رسا) خپل تحلیلونه. په دې اثر کې که څه هم د کره کتنې له ختیزو او لویدیزو دواړو اصولو څخه ګټه اخیستل شوې، خو ډېری بحث یې د ښکلو هنرونو، ادبیاتو، شعر او شاعرۍ پر محور راڅرخي. ځینې لیکوال وایي د کره کتنې په اندول ددې اثر د ادبپوهنې نورې برخې درنې دي.

## ۳- تنقید:

تنقید د کره کتنې په برخه کې د (قلندر مومند) له خوا ژباړلی شوی اثر دی. دا اثر اصلاً د (ویلیم هنري هډسن) (W.H) Hudson د نامتو کتاب (An Introduction to the study of literature) د یو څپرکي لنډون او ژباړه ده. دا اثر د ماسترۍ دورې (MA) لپاره یوه برخه ده او د یوه مضمون په توګه هم تدریسېده، خو د یوه ځانګړي کتابګوتي په بڼه هم پر (۱۹۶۳م، ۱۳۴۲ل) کال په پېښور کې خپور شوی دی. ټول (۸۰) مخونه لري. دا اثر د کره کتنې د مانا او مفهوم، اړتیا، د کره کتنې د ځینو ښوونځیو، د کره کتونکي د دندو او صلاحیتونو، د کره کتنې د تاریخ او ځینو نورو موضوعګانو په اړه ګټور معلومات لري.

## ۴- پټه خزانه فی المیزان:

پټه خزانه فی المیزان د (قلندر مومند) یو انتقادي اثر دی چې د (پټې خزانې) په اړه یې لیکلی دی. دا اثر (قلندر مومند) د نږدې شلو کلونو په بهیر کې لیکلی دی. او بیا په پېښور کې چاپ شوی دی. قلندر مومند په دې اثر کې د پټې خزانې د ((بطلان)) لپاره هڅه کړې او ځینې داسې دلایل یې راوړي چې دده په خپل نظر ده ته مناسب ښکاره شوي دي. یو زیات شمېر لیکوال، ادبپوهان او کره کتونکي بیا په دې نظر دي، چې په دې اثر کې راغلي نظرونه د قلندر مومند د شخصي عقدې زېږنده دي، نو ځکه ورته د کره کتنې یو ناپېیلی اثر نه شي ویل کېدی، پر همدې بنسټ ددې اثر د رد په باب څو بېلابېل اثار ولیکل شول.

## ۵- ادب څه دی؟

دا د (سردار حبيب الرحمن سحر يوسفزي) د کره کتنيزو ليکنو يــوه ټولګه ده، چې (۲۵۶) مخه لري، لومړی ځل پر (۱۹۴۷م، ۱۳۲۶ل) کال او بيا پر (۱۹۸۰) او (۱۹۹۶م) کلونو په پېښور کې چاپ شــوی دی. پــه دې اثر کې د کره کتنې په باب بېلابېل معلومــات، دغــه راز د شــعر، ډرامې او نورو ادبي فورمونو په باب توضيحات راغلي دي. د لويــديزو او ختيزو سترو کره کتونکو نظريات هم په کې راغلي دي. له دغه اثر څخه د کره کتنې په برخه کې د يوه تدريسي اثر پــه توګــه هــم کــار اخيستل شوی دی.

## ۶- پښتو افسانه:

پښتو افسانه يو کره کتنيز اثر دی چې (محمد اعظم اعظــم) ليکلــی دی. دا اثر په (۱۹۲) مخونو کې، پر (۱۹۷۴م، ۱۳۵۳ل) کال په پېښــور کې چاپ شوی دی. په ياد اثر کې لنډې کيسې او ناولونه څېړل شوي او د پښتو لنډو کيسو په باب عملــي کــره کتنــه شــوې ده. د (ميــا سيدرسول رسا) په نظر ددې تنقيــدي اثــر ژبــه متوازنــه، نغښــتې، سکښته او راښکلې ده، په لنډو موزونو جملو کې يې ډېر څه ويلي او هر څه يې چې ويلي، د موجوده زمانې د تنقيد له معياري اصولو سره سم يې ويلي دي.

## ۷- مقدمه د شعر او شاعرۍ:

مقدمه د شعر او شاعرۍ پروفیسور محمد نواز طـایر لـه اردو څخـه پښتو ته ژباړلې ده. د اثر لیکوال د اردو ژبې نامتو کره کتونکي (الطاف حسین حالي) دی. د کتاب پښتو ژباړه د (۱۳۶۰ل،۱۹۸۱م) کـال پـه اپریل کې د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ له خوا چاپ شوې ده. په دې اثر کې د اردو ژبې د ادبیاتو پر څرنګوالي کره کتنه شوې، د کـره کتنې عام اصول بیان شوي دي. د کره کتنې دا اصول اکثره د نړۍ د نورو ژبو پر ادبیاتو هم د تطبیق وړ دي.

## ۸- پټه خزانه تول پارسنګ:

دا د کوزې پښتونخوا د یـو نـامتو څېړونکـي (همـېش خلیـل) یـو کره‌کتنیز اثر دی، چې په پېښور کې چاپ شـوی دی. دا اثـر اصـلاً د (قلندر مومند) د اثر د( پټه خزانه فی المیزان) د هغو شکونو، نیوکو او انتقادونو ځواب دی، چې هغه په خپل دې اثر کـې پـر (پټـه خزانـه) څرګند کړي دي. په دې اثر کې یو پر یو د (قلندر مومند) نیوکـو تـه ځواب ویل شوی دی.

## ۹- د خیرالبیان تنقیدي مطالعه:

دا د قلندر مومند یو اثر دی چې پـر (۱۹۸۸م) ، ( ۱۳۶۷ل) کـال پـه پېښور کې خپور شوی دی. د مخونو شمېر یـې (۳۵۶) تـه رسـېږي. قلندر مومند په دې اثر کې د خیرالبیان پر هغه چاپ چـې پـه فوټـو افسیټ ډول په کابل کې چاپ شوی او د خیرالبیان پر هغه متن چـې

په پېښور کې د پښتو اکاډمۍ له خوا خپور شــوی دی، پــر دې دواړو متنونو بحث کړی دی. د قلندر مومند په نظر هغه متن چــې دی یــې کره بولي له دغو دواړو متنونو څخه اخیستل شوی، چې د دربېیم متن بنه لري. د ( پټه خزانه فی المیزان) په شان د قلندر مومند پر دې اثر هم د نورو کره کتونکو له خوا نیوکې شوي او هغه یې سالمه کره کتنه نه ده بللې.

## ۱۰- د رنګ او بو قافله:

دا د ډاکټر اقبال نسیم خټک اثر دی، چې پر (۱۹۹۱م، ۱۳۷۰ل) کال په پېښور کې چاپ شوی دی. د کتاب د ټولو مخونو شــمېر (۴۰۲) تــه رسېږي. دا اثر د تحقیق او تنقید یو امتزاج دی یانې دا دوه برخې پــه کې رانغښتل شوي دي. په دې اثر کې د (عبدالحمید مومند)، (کامګار خټک)، (کاظم خان شیدا) او (علي خان) پر ژونــد، شــاعرۍ او هنــر باندې څېړنه او کره کتنه شوې ده. دا اثــر د یــوه تدریســي کتــاب د معیارونو په پام کې نیولو سره لیکل شوی دی او هڅه شوې چــې زده کوونکي ورڅخه د یوه ادبي تدریسي اثر په توګه ګټه پورته کــړي. دا اثر د لیکوال د ډېرو کلونو د زیار او کار ثمر دی.

## ۱۱- پښتو ادب کې تحقیق او تنقید:

د صاحب شاه صابر اثر دی، چې پر (۱۹۹۵م)، (۱۳۷۴ل) کال د کــوزې پښتونخوا د پښتو ادبي جرګې له خوا چاپ شوی دی. صــاحب شــاه صابر تر دې اثر دمخه د پښتو اکثره هغه تحقیقي او کره کتنیز اثار له نظره تېر کړي، چې دده د اثر د لیکلو تر وخته پــه پښــتو کــې چــاپ

شوي دي. ده په خپل دې اثر کې د کره کتنې اړتیا، ګټه او اهمیت پــه ګوته کړي او پر یو شمېر اثارو یې خپل کره کتنیز نظر څرګنــد کــړی دی.

## ۱۲- څېړنه او کره کتنه:

د داودخان داود اثر دی، چې پر (۲۰۰۳م، ۱۳۸۲ل) کال په پېښور کې چاپ شوی دی. دا اثر اصلاً د کره کتنې په برخه کې د داودخان داود د څو بېلابېلو لیکنو یوه ټولګه ده. په دې ټولګه کې د کره کتنــې پــر تاریخ خبرې شوي، پر دې بحث شوی چې پښتو ادب کــې څــه ډول کره کتنه پکار ده؟ د لویدیزوالو او ختیزوالو د نظریاتو پر بنسټ او که په خپله د پښتني چاپېریال له مزاج سره سمه کره کتنه؟ په دې اثــر کې هغو ستونزو ته هم نغوته شوې چې د کره کتنې په برخه کې زموږ په ټولنه کې موجودې دي.

## ۱۳-ادبي کره کتنه:

(ډایوني سیس لان جانس) لیکلی او حنیف خلیل پښتو تــه ژبــاړلی دی. دا اثر پر (۲۰۰۳م، ۱۳۸۲ل) کال په پېښور کې دانش خپرنــدویې ټولنې چاپ کړی دی.

پر پورتنیو ځانګړو اثارو سربېره یو زیات شمېر پښتانه لیکوال شــته، چې په پښتو کره کتنه کې یې خپله ونډه اخیستې، د پورتنیو ځانګړو اثارو ترڅنګ یې د کره کتنې په برخه کې ځینې نــورې لیکنــې هــم خپرې شوي، چې هغه لا په دې اثارو کې شاملې نه دي، خــو د هغــو لیکوالو ترڅنګ چې مستقل او متفرقه لیکنې یې خپــرې کــړي، پــه

سلګونو داسې لیکوال نور هم شته چې د کره کتنې په برخه کې یـې عملي او نظري کارونه کړي او متفرقه لیکنې یې په بېلابېلو وختونـو کې په چاپي رسنیو کې خپرې شوي دي، په دې لیکوالو کـې بهرنـي لیکوال هم شامل دي او خپله پښتانه لیکوال هم.

د پورتنیو ځانګړ اثارو ترڅنګ کېدی شي، د نړۍ په نورو برخو، خپله افغانستان او کوزې پښتونخوا کې په پښـتو ژبـه د کـره کتنـې نـور ځانګړي اثار هم لیکل شوي او چاپ شوي و او زما لاس ته تر اوسه نه ي رارسېدلي او یا هم زه پرې خبر شوی نه یم، خو دا هغـه ځـانګړي اثار وو چې ما یې د چاپ او څرنګوالي پر باب معلومات ترلاسه کـړي دي.

# د يوولسم څپرکي لنډيز

په پښتو ژبه يو شمېر کره کتنيز اثار چاپ شوي، خو دا اثار د پښتو ادبياتو په نورو برخو کې له چاپ شويو اثارو سره متوازن او متناسب نه دي. د کره کتنې په برخه کې د ليکوالو پر متفرقه کارونو سربېره هم په افغانستان، هم په لره پښتونخوا يا لر افغانستان او همدارنګه د نړۍ په ځينو نورو برخو کې ځينې کره کتنيز اثار چاپ شوي او همدارنګه يو شمېر کره کتنيز بهيرونه رامنځته شوي دي.

د مستقلو اثارو په لړ کې د عبدالمالک همت اثر (ادب او ادبي کره کتنه)، د افضل ټکور له خوا راټوله شوې (کره کتنه)، د پوهاند عبدالحی حبيبي (پښتو نثر ته کره کتنه)، د سرمحقق محمدصديق روهي (ادبي څېړنې)، د زرين انځور (شعرونه او نقدونه)، د پوهاند محمد رحيم الهام (ادبي مسالې)، د سرمحقق زلمي هېوادمل (د کره کتنې ډولونه)، د پوهاند صديق الله رښتين (ادبي او تاريخي سموونې)، د مصطفی سالک (منشور)، د زرين انځور او محمداصف صميم ګډ اثر (د پټې خزانې ميزان رښتيا ميزان دی؟)، د اجرالدين اقبال ژباړه (ادبي کره کتنه) او ځينې نور اثار د يادونې وړي دي.

په کوزه پښتونخوا کې د مولوي محمداسرافيل ژباړه (کتاب الشعر)، د سيدرسول رسا (ادبي تنقيد)، د قلندر مومند (تنقيد)، د سردارحبيب الله سحر يوسفزي (ادب څه دی؟)، د محمداعظم اعظم (پښتو افسانه)، د صاحب شاه صابر (پښتو ادب کې تحقيق او تنقيد) او ځينې نور اثار د يادونې وړ دي.

# د یوولسم څپرکي پوښتنې او سپارښتنې

۱-په افغانستان کې د کره کتنې په اړه چاپ شوي اثار، زموږ په ټولنه کې د کره کتنې ټولو اړتیاوو ته څومره ځواب ویلای شي؟

۲-په پښتونخوا کې د کره کتنې چاپي اثار له چاپي ادبي اثـارو سـره څومره انډول برابرولای شي؟

۳-ولې په پښتو ژبه د کره کتنیزو چاپي اثارو شمېر کم دی؟

۴-د نړۍ له مهمو ژبو څخه د کره کتنیز اثارو ژباړې ته څـومره اړتیـا ده؟

۵-په دې چاپ شویو اثارو کې کوم اثار د عملي کره کتنې څرګنـدې بېلګې دي؟

# سپارښتنې

- هر محصل دې د کره کتنې په دې چاپي اثارو کـې یـو اثـر خوښ او هغه دې تحلیل کړي.
- محصلین دې د نویو چاپ شویو او یا هغو کره کتنیزو چاپي اثارو په باب خپلو ټولګیوالو ته معلومات ورکړي، چې په دې اثر کې یې یادونه نه ده راغلې.

# وروستۍ پایله

ددې اثر په بېلابېلو برخو کې مو په پښتو کې د کره کتنې د ستونزو په باب رڼا واچوله. دا ستونزې لا هم دوام لري. په کره کتنه کې موږ نــه یوازې په محتوایي برخه کې ستونزې لــرو، د اثــارو ځــومره والــی او ځرنګوالی مو لکه څنګه چې باید وای، هغسې نه دی او زموږ اړتیاوې نه شي خړوبولای. دغسې په لیکنۍ یا شکلي برخه کې هم ستونزې لرو.
ځینې مهم نومونه، په تېره بیا، ځینې بهرني نومونه، هغه د اشخاصــو وي که د ځایونو، بېلابېل لیکوال یې په بېلابېلو لیکبڼو لیکي. په دې اثر کې هم همدا ستونزه شته. ما چې له کومو اخځونو څخه په دې اثر کې ګټه پورته کړې، د ځینو لیکوالو نومونه په یوه ځای کې په یو بــل ډول او په بل ځای کې په بل ډول لیکل شوي دي. د ساري په توګــه ځینو لیکوالو ارستو (ارسطو) لیکلی، اپلاتــون، (افلاطــون، افلاتــون، اپلاطون) سوکرات (سقراط، سقرات) او همدارنګه نور نومونه یې پــه نورو ډولونو لیکلي دي. د اکثرو بهرنیو نومونو په لیکبڼو ستونزه شته، ما کوښښ کړی، چې دنومونو په لیکنه کې یو څه یووالی راولــم، خــو بیا هم د نومونو بېلابېلو لیکبڼو د ثبت له کبله ستونزه پوره اواره نــه شوه. د نومونو ترځنګ مــا هڅــه کــړې، چــې د اصــلي محتــوا پــه خوندیتوب سره په ځینو کلمو کې، چې پخوا یو ډول لیکل کېــدې او اوس ورو ورو یو واحد معیار ته داخلېږي، په نوې دودیزه بڼه ولــیکم. له ځینو (دري) اثارو څخه ما ځینې متنونه ژباړلي، دا ژباړه هم ټکــي پر ټکي نه ده، کوښښ مې کړی چې اصلي مفهوم او لنډیز راواخلم.

ددې ترڅنګ مې د ځینو لیکوالو په هغو لیکنو او ژباړو کې هم یو څه ژبنی او لیکنی سمون راوستی، چې یا دوی په خپله کړي او یا یې لـه نورو ژبو څخه ژباړلې وې، خو په پښتو جملو کې یې د ژباړې کمزوري او لیکنۍ تېروتنې له ورایه ښکارېدې، په هغو کې مې هم پــه داســې ډول سمون راوړی، چې محتوا ته یې هېڅ ډول زیان ونه رسي.

په دې اثر کې مې هڅه کړې چې څومره ژبه اسانه کېدی شي، همغــه ژبه وکارول شي. په اثر کې یو منطقي تسلسل په پام کې نیول شــوی دی. هغه اثار چې دلته په پښتو او دري ژبو کې ترلاسه کېدلای شول، له هغو اکثرو ګټه اخیستل شوې ده. خو دې سره سره بیا هم د داسې یو اثر په توګه چې هېڅ نیمګړتیــاوې ونــه لــري او یــا ډېــرې کمــې نیمګړتیاوې لري، هغه حالت ته لا ډېر مزل پاتې دی. کله چــې دا اثــر خپور شي، د محصلینو، لوستوالو او لیکوالو لاس ته ورشي او یا هم په تدریسي ډګر کې د تدریس عملي بڼه خپله کړي، نو په تطبیقي ډګــر کې به یې ګڼې ستونزې او نیګړتیاوې راڅرګندې شي. زه هیله من یم چې قدرمن لوستونکي او ګران محصلین دا نیمګړتیاوې په ګوته او په لیکنۍ بڼه یې ما سره شریکې کړي. د بیا بیا چاپ په حالت کې بــه دا نیمګړتیاوې یوه په بلې پسې له منځه وړو او تر هغه پورې بــه دا کــار تعقیبوو چې په نسبي ډول، یو معیاري تدریسي اثر ورڅخه جوړ شي.

په درناوي

پوهندوی محمد اسمعیل یون

# اخځونه

١- الفت، گل پاچا. د الفت نثري کلیات. د محمد اسمعیل یون په زیار. ١٣٨٧ل کال. کابل: یون کلتوري یون.
٢- الهام، پوهاند محمدرحیم. د نازو انا یاد. ١٣٦٩ل کال. کابل: یون کولتوري یون.
٣- انځور، زرین. شعرونه او نقدونه.١٣٦٥ل کال. کابل: د لیکوالو ټولنه. دولتي مطبعه.
٤- براهني، رضا. طلا در مس. ١٣٤٧ل کال. ایران: انتشارات زمان.
٥- بهاند، ډاکتر لطیف. ((په پښتو ادب کې د کره کتنې تاریخ)). د دوکتورا ناچاپ تیزس مسکو پوهنتون، ١٩٩١م کال.
٦- بېدل، دېوان بېدل. د همېش خلیل په زیار. ١٩٥٧م کال. پېښور.
٧- حبیبي، پوهاند عبدالحی. د پښتو ادب لنډ تاریخ. ١٣٨٧ل کال. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
٨- خټک، اشرف خان. د هجري دېوان. د همېش خلیل په زیار. ١٣٥٨ل کال. پېښور.
٩- خټک، خوشال. د خوشال خټک مرغلرې. د پوهاند حبیبي په سریزه. ١٣١٧ل کال. کندهار.
١٠- خټک، خوشال. د خوشال رباعیات. ١٣٤٩ل کال. کابل: پښتو ټولنه. دولتي مطبعه.
١١- خټک، خوشال. د خوشال کلیات. ١٣٥٨ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ. دولتي مطبعه.

۱۲- خټک، خوشال. سواتنامه. د پوهاند عبدالحی حبیبي په زیار. ۱۳۵۸ل کال. کابل: دولتي مطبعه.
۱۳- رسا، سید رسول. ارمغان خوشال. ۱۹٦٤م کال. پېښور.
١٤- رفیق، پوهنوال محمد رفیق. د ادبپوهنې بنسټونه. ۱۳۹۰ل کال.کابل: کابل پوهنتون. د لوړو زده کړو وزارت چاپخونه.
۱۵- روهي، کاندید اکاډمیسین محمد صدیق.د کره کتنې تاریخي پس منظر او معیارونه. ۱۳۸۰ ل کال. پېښور: محمدصدیق روهي فرهنگي ټولنه.
١٦- روهي، کاندید اکاډمیسین محمدصدیق. ادبي څېړنې.۱۳٦۰ل کال. کابل: دولتي مطبعه.
۱۷- زرینکوب، داکتر عبدالحسین. نقد ادبي، جلد اول و دوم. ۱۳۸۲ل کال. ایران: موسسه انتشارات امیرکبیر. سپهر مطبعه.
۱۸- زرینکوب، عبدالحسین. نقد ادبي.۱۳۸۰ل کال. ایران.
۱۹- شمیسا، داکتر سیروش. نقد ادبي. ۱۳۸۵ل کال. ایران: انتشارات میترا. تابش مطبعه.
۲۰- صمیم، محمد اصف. گام پر گام له خوشال سره. ۱۳۷۸ل کال. پېښور: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.
۲۱- قویم، داکتر عبدالقیوم. نقد ادبي.۱۳۸۷ل کال. کابل: انتشارات سعید.
۲۲- کاکړ، پیرمحمد. د پیرمحمد کاکړ دیوان. د استاد عبدالروف بېنوا په زیار.۱۳۲۵ل کال. کابل: پښتو ټولنه. عمومي مطبعه.
۲۳- لواﺋﻲ، دولت. د دولت لواﺋﻲ دیوان. د پوهاند رشاد له سریزې سره. ۱۳۵۳ل کال. کابل: پښتو ټولنه. دولتي مطبعه.
۲٤- مومند، عبدالحمید. د عبدالحمید مومند دیوان. د زلمي هېوادمل په زیار. ۱۳٦۳ ل کال. کابل: پښتو ټولنه. گوندي مطبعه.
۲۵- مومند، عبدالرحمن. د رحمان بابا دیوان. ۱۳۵٦ ل کال. کابل: پښتو ټولنه. دولتي مطبعه

۲٦- هاشمي، سید محی الدین. ادب پوهنه. ۱۳۸۱ل کال. پېښور: د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره. احمدپرنټنگ پرېس.
۲۷- همت، عبدالمالک. ادب او ادبي کره کتنه. ۱۳۸۵ل کال. کوټه: صحاف نشراتي موسسه. اکرم پرېس.
۲۸- هوتک، محمد. پټه خزانه. ۳۹ ۱۳ل کال. کابل: د پوهنې وزارت. د پوهنې مطبعه.
۲۹- هېوادمل، زلمی. ننگیالی د زمانې. ۱۳۸۰ل کال. لاهور: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه. ملت پرنټنگ پرېس.
۳۰- هېوادمل، سرمحقق زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې).۱۳۸۰ل کال. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۳۱- هېوادمل،سرمحقق زلمی. د کره کتنې ډولونه. ۱۳۷۰ ل کال. کابل: د لیکوالو ټولنه. دولتي مطبعه.
۳۲- ولک، رنه. تاریخ نقد جدید جلد اول. ترجمه سعید ارباب شیراني. ۱۳۷۷ل کال. ایران: انتشارات نیلوفر. دیبا مطبعه.
۳۳- یون، محمداسمعیل. اندیال خوشال. ۱۳۸۷ل کال. کابل: یون کلتوري یون.



# ادب تاریخ

(د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره)

د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو

د پښتو څانګو د لومړیو ټولګیو لپاره

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ لمریز کال

## کابـل پـوهنتون

## ژبو او ادبیاتو پوهنځي

## پښتو څانګه

# ادب تاریخ

## (د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره)

د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګو د لومړیو ټولګیو لپاره

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ل کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ادب تاریخ |
| لیکـــــوال: | محمد اسمعیل یون |
| لیکمهال: | ۱۳۹۴ل کال |
| د لیکوال د خپرونو لړ: | (۴۱) |
| خـپرونـدی: | د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه |
| وېـبپاڼـه: | www.melitahrik.com |
| ډیـزایـنګر: | ضیاء ساپی |
| پښتۍ ډیزاین: | فیاض حمید |
| چـاپشمېـر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چـاپـکـــال: | ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م (لومړی چاپ) |
| د تحریک د خپرونو لړ: | (۹۶) |

# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

تقریظ:

# ((ادب تاریخ)) یو غوره تدریسي اثر

د پښتو ادبیاتو د بېلابېلو دورو په باب ډېر کتابونه لیکل شوي دي. خو ځرنګه چې ددې ادبیاتو لمن ډېره پراخه ده، نو نورو لا زیاتو اثارو او تحلیلي لیکنو ته اړتیا شته. علمي او تحلیلي اثار ادب لوستونکو ته ددې زمینه برابروي چې د یوې ژبې د ادبیاتو ماهیت او د هغو تل ته ورکښته شي. د ادبیاتو پیغام په ښه ډول درک کړي او بیا دا پیغام نورو ته هم په ښه ډول انتقال کړي.

د پښتو ادبیاتو د تاریخ په باب دوه ډوله اثار لیکل شوي دي: یو هغه ډول اثار دي چې په خپله د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د استادانو او علمي مرکزونو د څېړونکو له خوا لیکل شوي او دویم بیا هغه ډول اثار دي چې د بېلابېلو لیکوالو له خوا له خپلې ژبې او ادبیاتو سره د مینې او ادبي ذوق له مخې لیکل شوي دي.

په لومړي ډول اثارو کې بیا دوه ډوله اثار دي: یو هغه دي چې علمي، تحلیلي او تدریسي اړخ لري او بل هغه ډل اثار دي چې علمي او تحلیلي ارزښت او اهمیت لري، خو تدریسي بڼه نه لري.

د (ادب تاریخ) تر نامه لاندې دا اثر چې تاسو په لاس کې دی، دا د هغو ګوتو په شمار اثارو په جمله کې دی چې هم علمي اړخ لري، هم تحلیلي او هم تدریسي اهمیت او ارزښت لري.

استاد محمد اسمعیل یون په لیکوالۍ کې (۳۰کلنه) او په استادۍ کې (۲۳ کلنه) تجربه لري، دا اثر یې د همدې اوږدې تجربې په رڼا کې لیکلی دی.

استاد یون د تېرو (۲۳) کلونو په بهیر کې ادب تاریخ مضمون تــدریس کړی او په ادب تاریخ مضمون کې یې هم تر ډېره حده همــدا لرغــونې دوره تدریس کړې، نو یو څوک چې دوه لســیزې پــه متــواتر ډول یــو مضمون تدریس کړي، بې له شکه چې تر هر چا زیات د همغه مضــمون بېلابېلو خواوو ته متوجه کېږي. پخوا چې په دې برخه کــې کــوم کــار شوی او کوم اثار لیکل شوي، هغه ورته هــم ښــه معلــوم دي او نــوې اړتیاوې ورته هم ښې محسوسېږي. استاد یــون دا اړتیــاوې احســاس کړې او په دې اثر کې یې هغو ته ځواب ویلای دی.
دا اثر د ادبپوهنې د دریو اساسي څانګو (ادب تیوري، ادبي کره کتنــې او ادب تاریخ) د اصولو په رڼا کې لیکل شوی دی. ټول اثــر جالــب دی، خو ماته یې لغوي شننه او ارزونه هم ډېره جالبه وبرېښېده. په لرغــونې دوره کې چې کوم شعرونه لیکل شوي، نه یوازې له هنري، تــاریخي او ټولنیز لیدلوري ارزول شوي، بلکې له لغوي او ژبني پلوه هم ورته کتنه شوې ده، د هر شعر کلمې په ګوته شوي دي: کومې کلمې پښــتو دي؟ کومې دري او کومې عربي؟ په پښتو کې بیا کومې متروکې دي؟ کــومې نیمه متروکې، کومې له دورانه نه دي غورځېدلي او کومې بیا راژونــدۍ شوي دي. دې ټولو ته په دې اثر کې اشاره شوې او راسپړل شوې دي.
هر څپرکی خپل لنډیز او خپلې پوښتنې لري. که یو عام لوســتونکی د یو څپرکي تفصیلي برخه ونه لولي او یوازې لنډیز یې هم له نظــره تېــر کړي، نو د هغه څپرکي له عمومي محتوا سره اشــنا کېــږي، تفصــیلي برخه او د پوښتنو برخه یې بیا محصلینو ته ډېره ضروري ده. پوښــتنې داسې جوړې شوي چې محصلین یې ځوابونه په مــتن کــې مونــدلای شي. ځینې پوښتنې یې د محصلینو د کــورني کــار لپــاره هــم خــورا

ضروري او مهمې دي. مانا دا چې دا اثــر د داســې تدریســي اصــولو او اړتیاوو پر بنسټ لیکل شوی چې محصل او استاد دواړه مجبوروي پــه ګډه په تدریسي بهیر کې برخه واخلي او د درســي بهیــر دوه مســاوي خواوې وګڼل شي. دا کتاب ټول ځوارلس څپرکي لري، یوه سریزه چــې ددې کتاب د لیکلو طرز او اړتیا په کې روښانه شوي او یوه پایله چې په هغې کې له لوستونکو او محصــلینوڅخه ځینــې غوښــتنې شــوي او همدارنګه د پښتو لرغونې ادب پر عمومي ځانګړنو یو ځــل بیــا بحــث شوی او نچوړ یې وړاندې شوی دی. بله ښه خبره داده چــې د اثــر پــه سریزه کې د (ادب تاریخ) ټول هغه اثار معرفي شوي چې تر دې دمــه د پښتو ادبیاتو په باب په افغانستان، پښتونخوا او په نــورو ځــایونو کــې لیکل شوي دي.

که څوک غواړي د ادبیاتو په باب خپله مطالعه لاپسې وغځوي، نــو پــر دې کتاب سربېره هغو اثارو ته هم مراجعــه کــولای شــي. ددې اثــارو معرفي د پښتو ادبیاتو په باب د ټولو لیکل شویو اثارو یو لنډ جاج هــم موږ ته په ګوته کوي او دا فکر هم راکوي چې په دې برخه کــې د نــورو څومره اثارو د لیکلو اړتیا احساسېږي.

ددې کتاب ژبه خورا خوږه، روانه، عــام فهمــه، کــره او معیــاري ده. د لوستو پر وخت محصل او عام لوستونکي ترې زیــات خونــد اخیســتی شي. زه نور نه غواړم ددې اثر په باب تر دې زیات څه ووایم، په پای کې دومره وایم چې د (ادب تاریخ) دا اثر د تدریسي اصولو پــه رڼــا کــې د تدریس لپاره په تدریسي ژبه لیکل شوی، نه یوازې د کابل پوهنتــون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څــانګې د لومړیــو ټولګیــو لپــاره ګټــور دی، زه هیله‌من یم چې د هېواد ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه به لــه دې

اثر څخه د خپل تدریسي اثر په توګه ځکه ګټه واخلي چې دا د لوړو زده کړو وزارت د تدریسي کاریکولم د محتویاتو په رڼا کې لیکل شوی دی او هغه ټول محتویات رانغاړي چې د کابل پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت له خوا د (ادب تاریخ) د مضون په چوکاټ کې د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې لپاره په پام کې نیول شوي دي. استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د پوهاندۍ علمي رتبې لپاره په دې اثر کې هغه ټول په پام کې نیولي، دلته یې ځای کړي او په ښه ډول یې څېړلي دي.

زه د پوهاندۍ علمي رتبې لپاره د استاد یون له خوا دا لیکل شوی اثر پوره، بشپړ او کره ګڼم، له ټولو مربوطو څانګو څخه هیله کوم چې استاد یون ته ددې مغتنم تدریسي اثر د لیکلو له امله د (پوهاندۍ) علمي رتبه منظور کړي او د کتاب د چاپ لپاره اقدام وکړي، ددې ترځنګ استاد محمد اسمعیل یون ته د لوی خدای(ج) له درباره د اوږد ژوندانه ، زیاتو پرمختګونو او د هېواد د فرهنګ د بډاینې لپاره د لا زیات کار و زیار هیله لرم.

په زیات احترام

پوهاند محمد صابر خویشکی

د پښتو څانګې استاد

تقريظ:

# يوه اوږده تجربه او يوه ښه نتيجه

استاد پوهنوال محمد اسمعيل يون د کابل پوهنتون د ژبــو او ادبيــاتو پوهنځي د پښتو څانګې لــه فعــالو اســتادانو څخــه دی. ده د خپلــې ليکوالۍ په (۳۰کلن) بهير کې زيات شمېر علمي او ادبــي اثــار خپلــې ټولنې ته وړاندې کړي دي. په دې اثارو کې يو شمېر داســې اثــار هــم شامل دي چې ده په پوهنتون کې د خپلو علمي رتبو لپاره ليکلي  دي، علمي، څېړنيز، تحليلي او تدريسي ښه لري او له ځينو دې ډول اثــارو څخه يې همدا اوس د هېواد په پوهنتونونو کې ګټه پورته کېږي. دا اثــر (ادب تاريخ) چې اوس زموږ په لاس کې دی هم علمي او تدريسي ښــه لري. استاد يون دا اثر د (پوهاندۍ) علمي رتبې لپاره ليکلی دی. دا اثر د پښتو ادبياتو لومړۍ يا لرغونې دوره رانغاړي. په دې اثر کــې د پښــتو څانګې درسي مفردات چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا منل شــوي او تائيد شوي، هغه ټول په کې شامل دي. په خپله استاد يــون لــه (۲۳) کلونو راهيسې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبيــاتو پــوهنځي پــه پښــتو څانګه کې پر تدريس مصروف دی، د تدريس يوه اوږده تجربه لري او له نېکه مرغه د کوم مضمون په باب چې ده دا اثر ليکلی له نــږدې شــلو کلونو راهيسې همدا مضمون په تېره بيا د پښتو ادبياتو همدا لرغونې او بيا منځنۍ دوره تدريسوي هم. نو يو څوک چې په يوه واحــد مضــمون کې د تدريس اوږده او پخه تجربه لري، که هغه په ياد مضــمون کــې د شاملو موضوعاتو په باب يو علمي او تدريسي اثر ليکي، نو پوره باور دی چې هر اړخيز به يې ليکي او تر نورو به يې ښه ليکي.

استاد پوهنوال محمد اسمعیل یــون د پښــتو څــانګې پــه موافقــه د پوهاندۍ علمي رتبې لپاره همدا (ادب تاریخ) موضوع ثبت کــړه چــې هدف ورڅخه د پښتو ادبیاتو د لومړۍ یا لرغــونې دورې د ټــول بهیــر څېړنه او ارزونه وه. د څانګې هیله هم همدا وه چې په دې برخــه کــې داسې یو اثر ولیکل شي چې نه یوازې پښتو څانګه، بلکــې د هېــواد د نورو پوهنتونونو اړوندې څانګې هم د یــاد مضــمون پــه برخــه کــې د متفرقو او بېلابېلو اثارو له تدریس څخه هــم خلاصــې شــي او یــوازې داسې یو واحد تدریسي اثر چې مفردات یې د لوړو زده کړو وزارت لــه خوا تائید شوي او منل شــوي وي، ولیکــل شــي. دا مفــردات بایــد د تدریسي اصولو په رڼا کې وڅېړل شي، تحلیل شي، ارزونه یې وشــي او داسې یو اثر ورڅخه جوړ شي چې پر محصلینو سربېره عام لوستونکي ترې هم موثره ګټه پورته کړي.

له نېکه مرغه چې استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون دا اړتیا پوره کړه، په دې برخه کې یې دا ګټور اثر ولیکه. دا اثر یوه سریزه، یــوه پایلــه او څوارلس څپرکي لري. په سریزه کې د اســتاد یــون د دې اثــر د لیکلــو میتودونو ته ګوته نیولې چې تر زیاته حده په کې له کتــابتوني څېړنــې کار اخیستل شوی او د عملي تدریس تجربه هم ورسره ملګرې شــوې ده. په همدې سریزه کې یې ټول هغه اثــار هــم معرفــي کــړي چــې د لرغونې دورې په ګډون د پښتو ادبیاتو په باب لیکل شوي دي. دا کــار لوستونکو او محصلینو سره مرسته کوي چې د پښتو ادبیاتو د مطالعې، څېړنې او شننې په برخه کې ورته اخځونه او اثار تیار معلوم وي او دوی کولای شي په اسانۍ سره هغه ترلاسه کړي.

لکه څنګه چې استاد یون ورته اشاره کړې ده دا اثر د کتابتوني څېړنې

او عملي تدريسي تجربې په رڼا کې ليکل شوی، رښتيا هـم همداسـې ده، دا کتاب په اصل کې يو تدريسي اثر او د تدريسي تجربې پر بنسـټ ليکل شوی دی، بايد همداسې وای، استاد يون په خپله هم تدريسـي تجربه لري، زموږ د ځانګې او نورو اړوندو ځانګو اړتيا هم يو تدريسي اثر ته وه. له نېکه مرغه چې دا اړتيا ددې اثر په ليکلو سره خړوبه شوه.
لکه څنګه چې يادونه مو وکړه دا اثر (۱۴) څپرکي لري، په هر څپرکـي کې تر تحليل شوې او ارزول شوې موضوع وروسـته د همغـې برخـې لنډيز راغلی دی او ټول اړوند معلومات په ډېرو مختصرو ټکو کې بيـان شوي او ورپسې د همغه اړوند څپرکي پوښتنې دي. د هر څپرکي لنډيز لوستونکي سره مرسته کوي چې په تفصيلي برخه کې لوسـتل شـوي مطالب يې بيا په ذهن کې له سره تداعي شي او يا که چېـرې پـر يـوه مهال د هر څپرکي لوستلو ته وخت ونه لـري، لنـډيز يـې ولـولي. لـه محصلينو سره بيا تفصيل او لنډيز دواړه مرسته کوي چې تفصيل يې د تفصيلي معلوماتو لپاره او لنډيز يې حافظې ته د سپارلو په نيت ولـولي او پوښتنې بيا دا مرسته کوي چې محصل پـه کـار واچـوي، د اړونـدو پوښتنو ځوابونه د کتاب د متن په تفصيلي برخه کې پيداکړي. پوښتنې محصل دې ته مجبوروي چې د ياد مضمون په برخه کې کورنۍ دنـدې واخلي او په دې برخه کې سيمينارونه وليکي. مانا دا چې دا اثر محصل او استاد دواړه هڅوي چې په تدريسي بهير کې د دوو فعالو خواوو پـه توګه برخه واخلي. نو ځکه خو موږ دې اثر ته د يوه ښه تدريسي اثر پـه سترګه ګورو. په دې اثر کې د لرغونې دورې د (۲۸) شاعرانو او يو تـن نثر ليکونکي پر ژوند او د کلام پر ببلګو هر اړخيز بحث شوی، هـم لـه شکلي پلوه او هم له محتوايي پلوه د دوی اثار تحليـل شـوي دي. لـه

شکلي پلوه د لرغونې دورې د نظم برخه پر دوو برخو وېشل شوې ده: هغه شعرونه چې په ملي اوزانو کې ویل شوي او هغه فورمونه چې له نورو ژبو او په تېره بیا له عربي ژبې څخه راغلي دي. له عربي ژبې څخه په راغلو شعري فورمونو کې (قصیده، غزل، مثنوي او رباعي) څېړل شوي او د ولسي ادبیاتو په برخه کې، لنډۍ، بګتۍ، سروکي او نړدې ټول پښتو فورمونه معرفي شوي او تحلیل شوي دي.

په دې اثر کې له ګڼو اخځونو څخه ګټه پورته شوې، خو خپل تحلیلي نظر او تدریسي تجربه هم ورسره ملګرې شوې ده.

زه د خپلې تجربې پر بنسټ چې نږدې (۳۰)کاله کېږي پر تدریس بوخت یم، وایم چې دا اثر یو ښه غوره تدریسي اثر دی او استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون چې د کوم مقصد لپاره لیکلی، د هغه لپاره یې پوره او کره ګڼم. زما له نظره دا اثر د (پوهاندۍ) علمي رتبې لپاره ښه او مناسب اثر دی، نو ځکه خو له ټولو اړوند څانګو، ادارو او لوړو مقاماتو څخه هیله کوم چې استاد یون ته ددې اثر د بشپړتابه له امله د (پوهاندۍ) علمي رتبه منظور کړي او همدارنګه ددې کتاب د چاپ په برخه کې ژر اقدام وکړي.

د هېواد د ملي فرهنګ د ښېرازۍ او استاد یون ته د لا زیاتو بریاوو هیله کوم

په ډېر درناوي

پوهاند یارمحمد یزال

د پښتو څانګې استاد

## تقریظ:

# د پښتو لرغوني ادب په باب یو نوی اثر له یوه نوي تعبیر او تفسیر سره

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد ښاغلي پوهنوال محمد اسمعیل یون د پوهاندۍ علمي رتبې لوړېدا ته د څانګې د استادانو د پرېکړې له مخې د ادب تاریخ (لرغوني دوره) تر سرلیک لاندې په نږدې (شپږ نیم سوه) مخونو کې په ترتیب سره په لاندې ډول خپل تدریسي اثر بشپړ کړی دی:

دغه علمي اثر له ټاکلو مفرداتو سره سم په لومړي څپرکي کې ادبتاریخ څه ته وایي؟ ادبي تذکره څه ته وایي، پښتو څو ادبي دورې لري، تر لرغوني دورې دمخه پښتو ادب او په خپله د پښتو ادب پر لرغوني دورې باندې بحث شوی دی. په دویم څپرکي کې د پښتو لرغونو ادبیاتو حوزې (غور، کسي غر او ملتان) راپېژندل شوي دي، تر څو د هغه دور دغه مهم مرکزونه د شاګردانو ادبي هڅې لاپسې ګړندۍ کړي، په دریم څپرکي کې یې د پښتو لرغونو ادبیاتو څېرې لکه: امیر کروړ، بېټ نیکه، شیخ اسمعیل، خرښبون او نور راپېژندلي دي، دغسې په څلورم څپرکي کې یې د پښتو ژبې اړیکي له نورو(عربي او دري) ژبو سره وړاندې کړې دي، په پینځم څپرکي کې یې د لرغوني دورې پر نظم (ولسي او مشترک) بحث کړی دی، په شپږم څپرکي کې یې د لرغوني دورې په نثر بحث کړی، دا ځکه چې دغه برخه ډېره لږه ده او ځانته په مستقل سمستر کې د تدریس جوګه نه ده.

په اووم څپرکـي کـې د پښـتو لرغـونې دورې متروکـې کلمـې او جغرافیوي نومونه سپړل شوي دي، همدارنګه اتـم څپرکـي کـې پـه لرغونې دوره کې پر لومړنۍ ژباړه بحث شوی او څېړل شوې ده، دغسې په نهم څپرکي کې د شیخ رضي لودي پاړکی او په غبرګون کـې یـې د نصر لودي پاړکی او د اسمعیل د نارو (څلوریځـو) پـه غبرګـون کـې د خرښبون څلوریځ وړاندې شوي او سپړل شوي دي، په لسـم څپرکـي کې د لرغونو ادبیاتو محتوایي فورمونه، لکه: ویاړنه، ویرنه او نور تر بحث لاندې نیول شوي دي، ورپسې په یوولسم څپرکي کې د لرغونې دورې اسلامي افکار، حماسي افکار، ملي افکار او نور سـپړل شـوي دي، پـه دولسم څپرکي کې د لرغونې دورې عمومي ځانګړنې ښودل شوې دي، په دیارلسم څپرکي کې د لرغونې ادبي دورې پر کیفیت او کمیت بحث شوی او په څوارلسم څپرکي کې د لرغونـو ادبیـاتو مهمـې ټـولنیزې، سیاسي خبرې او حادثې تر څېړنې لاندې نیول شوې، تر څو د لرغونې دورې ټولنیزې او سیاسي خبرې وپېژندل شي او د حالاتو او حادثو پـه اړه معلومات ترلاسه شي.

پورته ټکیو ته په پاملرنې د ښاغلي محمد اسمعیل یون دغه تالیفي اثر په دې ډول ارزوم:

۱- دغه تالیفي تدریسي اثر له نویو اصولو او میتودونـو سـره سـم ترپایه پورې په معیاري بڼه لیکل شوی دی.

۲- تر اوسه پورې د پښـتو ادب تـاریخ لـومړۍ (لرغـونې) دورې د غسې تدریسي اثر نه درلود، یا به د چپټر په بڼه تدریسېده او یا به هـم د ناتکمیلې تدریسي محتوا له اثارو څخه کار اخیستل کېـده، زه فکـر کوم چې ددې اثر په رامنځته کېدو سره به دغه خلا ډکه شي.

۳- په دې اثر کې په راټوله شوې ډېټا ډېر زیـار او زحمـت ویســتل شوی دی، تعبیر او تفسیر یې ښه او په زړه پورې دی.

۴- د ښاغلي لیکوال په دې تالیفي اثر کې د اهمیت وړ موادو څخه کار اخیستل شوی، اوډون یې سیستماتیک دی او منځپانګه یــې هــم ډېره ښه ده، نو ځکه یې بکروالی او نوښت په خپل ځای ډېر مهــم دی، دا ځکه چې په دې برخه کې دا لومړنی ګام دی، کېدی شــي چــې پــه راتلونکي کې تر دې لا زیات ښه اثر وکښل شي، خو دا بــه یــې د لارې مشال وي.

۵- ددې اثر په لیکلو کې له پخوانیو او اوسنیو مستندو او معتبــرو مدارکو څخه کار اخیستل شوی، چې دغه اثر ته یې ښــکلی خونــد او رنګ وربښلی دی.

۶- ژبه یې خوندوره، ساده، روانه او سلیسه ده، غوټې او ابهــام نــه لري.

د پورته شپږو مادو له مخې زه د ښاغلي یون دغه علمــي تدریســي اثر مثبت ارزوم او له مربوطو چارواکو څخه هیله کوم چې ددې اثــر د بشپړاوي له امله ښاغلي یون ته د پوهاندۍ علمي رتبه منظور کړي، او هم یې د ژر چاپ سپارښتنه کوم او لیکوال ته یې په راتلونکي کــې تــر دې د لا زیاتو بریاوو هیله لرم.

په درنښت

ډاکتر محمداجان حقپال

د پښتو څانګې استاد

# سریزه

له (۱۳۷۱ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹۳ل) کال پورې پوره (۲۳) کاله کېږي چې زه (یون) د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانگه کې پر تدریس بوخت یم، د تدریس ډېره برخه مې په خپله څانگه کې پر مسلکي او اساسي مضامینو او کمه برخه مې تر پوهنځي بهر په نورو پوهنځیو او په خپله په خپل پوهنځي کې په نورو فرعي څانگو کې د پښتو ژبې او ادب پر تدریس تېره کړې ده. په دې ټول بهیر کې له ځینو وقفو پرته چې هغه هم د جگړو او ځینو نورو عواملو له امله رامنځته شوي، د تدریس ټول جریان مې په منظم ډول پرمخ وړی دی، په خپله څانگه کې ما اکثره (ادبپوهنه) مضمون تدریس کړی او په ادبپوهنه کې هم (ادب تاریخ) او په ادب تاریخ کې بیا هم تر ډېره لومړۍ یا لرغونې دوره او بیا منځنۍ دوره. لرغونې یا لومړۍ دوره مې ځکه ډېره تدریس کړې چې ما اکثره لومړي ټولگي ته تدریس کاوه چې دوه یا درې (الف، ب او ج) ټولگي به یې درلودل. په لومړي ټولگي کې له تدریس څخه زما هدف دا و چې یو خو نوي محصلین پر تدریس پیل کوي، زړونه او ذهنونه یې تازه وي، دا مهال که دوی ته پاخه بنسټونه کېښودل شي، نو د دوی د ذهني او فکري اعمار لپاره ډېر گټور پرېوزي، نو که د ادبیاتو پیل دوی ته په ښه او منظم ډول تشریح شي، د دوی مینه او لېوالتیا ورسره زیاتېږي، خپل خپل تشبثات هم کوي نو ما هم د همدغه هدف لپاره کوښښ کاوه لومړي ټولگي ته تدریس وکړم. د

(ادبپوهنې بنسټونه) او (ادب تاریخ) دواړه مضمونونه مـا تدریسـول. د پښتو څانګې د لومړي ټولګي په همدې لومړي سمستر کې محصـلین له ادب، ادبیاتو، ادبپوهنې، ادب تاریخ، ادب تیوري او ادبي کره کتنــې، ادیب، ادبپوه، شعر،شعار، نظم، نثر او ګڼو نورو اصطلاحاتو او مفـاهیمو سره مخامخېدل، یوه اساسي پوښتنه به همدا وه، خیر نـو دا ادب څـه شی دی؟ ددې پوښتنې په ځواب کې به ما دوی ته نه یـوازې لـومړنې معلومات او تعریفونه وړاندې کول، بلکې لـه دې سـره اړونـد پـورتني اصطلاحات به مې هم ورته تعریفول. د ادبپوهنې بنسټونه هغه مضمون و چې د پورتنیو اصطلاحاتو تعریفونـه او مفـاهیم یـې مشخصـول. دا مضمون مې نږدې پنځه لس کاله متواتر تدریس کړی، له دې لارې مـې له محصلینو سره د پوهاوي او راپوهاوي مستقیم اړیکي ټینک کړي او یوه مثبته تجربه مې ترلاسه کړې ده. د دې تجربې یوه برخه دا وه چې محصل باید شخصاً په تدریس کې د یوه ګډونوال په توګه مطرح شــي. ما نه یوازې دوی ته کتابي تعریفونه او توضیحات وړاندې کول، بلکې د دوی نظریات مې هم اخیستل، دوی به خپل خپل تعریفونه او مفاهیم، انګېرنې او نظرونه هم وړاندې کول او بیا به مو په ګډه هغه تعریـف تـه ترجیح ورکوله چې کلونه کلونه به پرې پوهانو کار کـړی و، د هغـوی د تجربې نچوړ به و، حقیقت او واقعیت سره به یې سمون درلود، ادیبـانو او ادبپوهانو ته به د منلو وړ و. دا خبره بایـد څرګنـده شـي چـې پـه ټولنیزو علومو کې تعریفونه د ساینسي تعریفونو په بڼـه نـه دي، چــې مطلق او ثابت دي، د نظرونو اجماع ته اړتیا نه لـري، د زمـان او مکـان موقعیت پرې هم اغېز نه کوي، ځکه چې پر تجربې ولاړ دي. هـر هغـه علم چې پر تجربې ولاړ وي، د هغه په تعریف کې د نظر اختلاف نه وي،

خو ادبیات چې یو ژبنی هنر او ټولنیزه پدیده ګڼل کېږي، د ساینسي تعریفونو په چوکاټ کې نه را ایسارېږي. په داسې یو حالت کې د استاد او محصلینو ترمنځ د مفاهیمو د لېږد رالېږد، پوهاوی او راپوهاوی، د ګڼ شمېر سره ورته او بېلابېلو تعریفونو وړاندې کول او شنل خورا مهم دي.

د (ادبپوهنې بنسټونو) ترڅنګ مې (ادب تاریخ) مضمون هم تدریساوه، د لومړي ټولګي د لومړي سمستر لپاره د تدریسي کاریکولم له مخې د پښتو ادبیاتو (لومړۍ یا لرغونې) دوره غوره شوې ده، چې نږدې نهه سوه کاله ادبي بهیر رانغاړي. ددې مضمون د تدریس په برخه کې د استاد او محصل دواړو رابطه او همکاري ملګرې وه. د دواړو مضامینو د تدریس پرمهال نه یوازې محصلین په مستقیم ډول په تدریس کې برخوال وو، بلکې ما دوی ته د کورني کار په بڼه د ادب تاریخ د همدې دورې او ادبپوهنې د مضمون ټولې اړوندې موضوعګانې ورکولې او دوی به پرې علمي سیمینارونه ترتیبول. دا موضوعګانې د کتابتوني او ساحوي څېړنې په بڼه څېړل کېدلې، د شننې او ارزونې بڼه یې هم درلوده. دوی به چې کله خپل سیمینارونه بشپړ کړل، نو دوی ته بیا ددې مجال ورکول کېده چې خپل سیمینارونه په خپل ټولګي کې ولولي او نور محصلین ترې پوښتنې ګروېږنې وکړي، دې کار به د محصلینو استعداد هم ښکاره کاوه، د هغوی جرئت به یې هم زیاتوه، نیمګړتیاوو ته به هم متوجه کېدل او ترڅنګ به یې د اړوند مضمون او په هغه کې د شاملو محتویاتو له پراختیا سره هم مرسته کوله.

پر (۱۳۸۸ل) کال مې داسې یو کار وکړ چې د لومړي ټولګي په لومړي سمستر کې د (ادب تاریخ) به مضمون کې د لرغونې دورې

شاملې (۵۶) موضوعګانې مې پر (۵۶) محصلينو ووېشلې، هر يو ته مې وويل چې دا مو د سيمينار موضوع شوه، ښه يې وڅېړئ، ويې شنئ او که چېرې ښې ليکنې مو وکړې، نو د يوه کتاب په بڼه به يې چاپ کړو او د همدې ټولګي د لومړي سمستر راتلونکو محصلينو ته به د يو مرستندوى درسي کتاب په بڼه کار ورکړي. څه زما مثبت فشار و او څه هم د محصلينو مينه، لېوالتيا. دوى ټولو خپل سيمينارونه بشپړ کړل، (۵۶) ليکنې مو په يوه واحد کتاب کې راټولې او (د پښتو ادب لرغونې دوره) نوم مو ورکړ، کتاب مو پر (۱۳۸۹ل) کال چاپ او بيا مو د محصلينو د تشويق په خاطر د ځينو محصلينو د والدينو په ګډون ورته د کتاب پرانيستې يوه پراخه غونډه هم جوړه کړه. لوستونکي اوس دا اثر په چاپي او برېښنايي بڼه ترلاسه کولاى شي. دا په افغانستان کې څه چې په نړۍ کې به لومړى ګام وي چې د يوه ټولګي محصلين دې په خپله د خپل ځان لپاره درسي يا مرستندوى درسي کتاب وليکي او عملاً دې ترې نور محصلين ګټه پورته کړي. تر دې کال وروسته مې په بل لومړي ټولګي کې بيا محصلينو ته چې ټول شمېر يې نږدې (۱۲۰) تنو ته رسېده، کورنۍ دندې يا سيمينارونه وسپارل، خو دا ځل څېړنه، شننه او يا هم سپړنه نه وه، دا ځل يوازې ژباړه وه. هغوى ټولو ته مې وويل، هر څوک چې پر هره ژبه پوهېږي، له همغې ژبې څخه دې پښتو ته يو يو اثر وژباړي. له سياسي اثارو پرته بل هر ډول، علمي، ادبي، څېړنيز او نور اثار ژباړلاى شي. محصلينو ته مې درې مياشتې وخت ورکړ او ورته مې وويل چې دا ژباړه مو د کورني کار او يا سيمينار په توګه درمحاسبه کوم او تر سيمينار هم زياتې نمرې لري. دوى خپل کار ته اوږه ورکړه او په پاى کې يې (۱۱۴) عنوانه بېلابېل ادبي، تاريخي،

علمي او نور اثار وژباړل، دا هم په نړۍ او سیمه کې یوه بې سارې بېلګه ده چې د یوه ټولګي محصلین دې خپلې ټولنې ته پر یوه وخت دومره اثار ډالۍ کړي. دا اثار که څه هم ددې کتاب د لیکلو تر وخته نه دي چاپ شوي خو اکثره یې د چاپ وړ دي او زموږ د ټولنې د علمي او ادبي اړتیاوو د خړوب لپاره یې چاپ ضروري دی.

له دې سریزې څخه مې هدف دادی چې هر استاد ته په کار دي، د تدریس په بهیر کې خپله تجربه لاپسې پخه او بل پښت ته یې وړاندې کړي، محصلینو ته ددې مجال ورکړي چې هغوی په تدریسي بهیر کې د یوې اساسي برخې په توګه ګډون وکړي، نه یوازې دا چې د یوه بې دخله مخاطب په توګه یوازې د اورېدونکي په رول کې پاتې شي.

کله چې ما د (پوهاندۍ) علمي رتبې لپاره د تېزس موضوع ټاکله، نو د پښتو څانګې له مشرتابه او استادانو سره په مشوره مې د (ادب تاریخ) همدا (لومړنۍ یا لرغونې) دوره غوره کړه، څانګې هم په تېر تدریسي بهیر کې زما ماضي او تېرې تجربې ته په کتو سره له یادې موضوع سره موافقه وکړه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي او د لوړو زده کړو وزات هم موضوع تائید کړه. تر هغه وروسته مې په دې برخه کې د ټولو لیکل شویو او متفرقو اثارو په راټولولو لاس پورې کړ. که څه هم په ټولیز ډول د پښتو ادب تاریخ او په تېره بیا د لرغونې دورې په باب ګڼ شمېر اثار لیکل شوي، اکثره یې پر خپل ځای او پر خپل وخت ګټور دي، خو داسې یو بل اثر ته هم اړتیا وه چې د تېرو لیکلو شویو اثارو مزایاوې هم ولري او په همدې مشخصه برخه کې د یوه اوږده تدریسي بهیر نچوړ او تجربه هم ورسره ملګرې وي.

نو په دې خاطر مې په ټینګه وپتېیله چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د

پښتو ځانګې محصلینو ته داسې یو تدریسي اثر ولیکل شي چې د پښتو ادب لرغونې دوره هم په ښه ډول توضیح او تشریح کړای شي او محصلینو ته هم ددې مجال ورکړي چې د تدریس پرمهال په تدریسي بهیر کې د یوه فعال عنصر په توګه مطرح شي. دلته غواړم په دې برخه کې هغو ټولو اثارو ته هم په لنډیز سره نغوته وکړم چې د پښتو ادب تاریخ د همدې لرغونې دورې په باب لیکل شوي او یا هم له دې دورې سره اړیکي لري.

په دې اثارو کې یو شمېر هغه اثار شامل دي چې په مشخص ډول د پښتو لرغونو ادبیاتو یا هم لرغونې دورې ته ځانګړي شوي دي. ځینې نور بیا داسې اثار دي چې په مجموعي ډول د پښتو ادبیاتو او په تېره بیا د هغو د بېلابېلو دورو؛ منځنۍ او یا کلاسیکې دورو په باب لیکل شوي او څه ناڅه یې پر لرغونو ادبیاتو هم رڼا اچولې ده.

د پښتو ادبیاتو پر شکلي او محتوایي اړخونو هم ځینې اثار لیکل شوي، چې هغو هم د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم او منثور کلام د بېلګو په توګه را اخیستي او هغه یې شنلي او ارزولي دي.

د یادونې وړ ده، چې دا کار به لوستونکو او محصلینو ته د پښتو لرغونو ادبیاتو په باب د شوي کار، تحلیل، ارزونې او شننې یو جاج او انځور وړاندې کړي. درانه محصلین او لوستونکي کولای شي د لا زیاتو معلوماتو لپاره یادو اثارو ته هم مراجعه وکړي او له هغو څخه هم خپله خپله ګټه پورته کړي.

[تر کومه ځایه چې د ادبي تاریخ لیکنې په بهیر پورې اړه لري، له ادبي څېړنو جوتېږي چې په معاصر مفهوم د ادبي تاریخ لیکنې بهیر د روانې لمریزې پېړۍ د دویمې لسیزې له لومړیو کلونو څخه راپیلېږي او

تراوسه یې په دې تېرو اوو اتو لسیزو کې ډېر ورو پرمختیایي حرکت لرلی دی. موږ دلته ددې پرمختیایي یون ارزونه او د لیکل شویو ادبي تاریخونو کره کتنه نه کوو، یوازې لیکلي ادبي تاریخونه او ادبي تاریخ ډوله اثار په ډېر لنډیز سره درپېژنو:

((د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي)) اثر لیکوال دغه لیکل شوي ادبي تاریخونه او ادبي تاریخ ډوله اثار په مناسب تفصیل سره معرفي کړي دي، موږ یې د نوموړي اثر په حواله په ډېر لنډیز سره درپېژنو:

**تاریخچه شعر پښتو:** په معاصر مفهوم د ادبي تاریخ لیکنې بهیر د اروابناد پوهاند عبدالحی حبیبي له (تاریخچه شعر پښتو) نومي اثر څخه کېږي. ځینو بیا دغه اثر ادبي تاریخ ډوله اثارو کې شمېرلی، خو ځینو بیا له دې امله چې د ادبي تاریخي دورو وېش او ځینې نورې ځانګړنې لري، د پښتو لومړنی ادبي تاریخ بللی دی. اروابناد استاد دغه اثر په دري ژبه لیکلی او په پرله پسې ډول په (طلوع افغان) کې خپور شوی، پر (۱۳۱۴ل) کال د زمري د میاشتې پر (۱۳)مه نېټه یې خپرېدنه بشپړه شوې ده. (دا اثر په دې وروستیو کې په کندهار کې په کتابي بڼه هم خپور شوی دی.)

**د پښتو د ادب تاریخ:** دا د پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی اثر دی چې پر (۱۳۲۳ل کال یې ادبي جایزه ګټلې وه) او لومړی ځل پر (۱۳۲۵ل) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

**پښتو ادب:** دا د پښتو ادب یوه لنډه رساله ده، چې اجمل خټک پر (۱۹۴۷م) کال په اردو ژبه لیکلی او تراوسه څو ځله خپره شوې ده.

**پښتو ادب:** دغه کوچنی ادبي تاریخ ډوله رساله پر (۱۹۵۱م) کال په کراچی کې چاپ شوې، خو د لیکوال نوم پرې نه دی لیکل شوی.

**ادبیات سرحد لومړی ټوک:** په اردو ژبه لیکل شوی ادبي تاریخ ډوله اثر دی، چې رضا همداني لیکلی او پر (۱۹۵۳م) کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

**د افغانستان ادبیات په لرغونو زمانو کې (پښتو ادبیات):** ارواښاد غلام جیلاني جلالي د پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک او پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو د ادب تاریخ پر بنسټ لیکلی او خپلې څېړنې یې هم ورسره ملې کړي دي.

**د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک:** دا ادبي تاریخ استاد حبیبي پر (۱۳۲۳ل) کال د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تر تاسیس وروسته لیکلی او بیا لومړی ځل پر (۱۳۳۸ل) کال په کتابي بڼه چاپ شوی او بیا تر ننه څو ځله چاپ او خپور دی.

( د یادونې وړ ده چې ارواښاد علامه پوهاند حبیبي دمخه پر (۱۳۲۳ل) کال د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک کښلی، چې له (۱۳۲۵ل) کال څخه تراوسه څو ځل چاپ شوی او په دریم چاپ (۱۳۵۴ل) کال پرې ډېرې زیاتونې هم شوي. دا اثر د ادبیاتو پرځای د پښتو ژبې تاریخ دی، نو ځکه (د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي) اثر لیکوال هغه د ادبي تاریخونو په لړ کې نه دی معرفي کړی.)

**پښتو علاقــايي ادب:** دغــه ادبــي تــاريخ ډولــه اثــر ســلطان محمدصابر ليکلی او د کويټې اولس مجلې د (۱۹۶۳م) کال د خصوصي ګڼې په (۲۶۱-۳۰۴) مخونو کې چاپ شوی دی.

**لغة البشتو:** دا يــو لنــډ ادبــي تــاريخ ګــوتې دی، چــې اســتاد پوهاندحبيبي ليکلی او په عربي ژبه په قاهره کې چاپ شوی دی.

**نظری به ادبيات پشتو:** د پوهانــد حبيبــي عربــي رســاله پــر (۱۳۵۶ل) کال سمندر غورياني دري ته ژباړلې او پــر (۱۳۵۷ل) کــال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا چاپ شوې ده.

**د پښتو ادبياتو تاريخ:** دا يــو درســي مــتن دی، چــې پوهانــد رښتين پر (۱۳۴۳ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبيــاتو پــوهنځي د پښتو څانګې د څلورم ټــولګي محصــلانو تــه ليکلــی دی. دا اثــر پــر (۱۳۴۶ل) کال دويم ځل لپاره بيا چاپ شوی، چې تر لومړي چــاپ پــه کې زياتوالی راغلی دی.

**د پښتو ادب تاريخ:** دا هم يو درســي مــتن دی، چــې پوهانــد عبدالحی حبيبي د کابل پوهنتون د ژبو او ادبيــاتو پــوهنځي د پښــتو څانګې د دريم ټولګي د زده کړيالانو لپاره ليکلی او پر (۱۳۴۷ل) کــال په ګستتنر ډول چاپ شوی دی.

**د پښتو ادب لنډ تاريخ:** دا هم پوهاند عبدالحی حبيبي د کابل پوهنتــون د ادبيــاتو پــوهنځي د پښــتو څــانګې د څلــورم ټــولګي زده‌کړيالانو لپاره ليکلی او پر (۱۳۴۷ل) کال د پوهنتون په چاپ خونــه کې ګستتنر شوی دی.

**پښتو زبان و ادب پر ایک نظر:** یوه ادبي تاریخ ډوله رساله ده، چې فقیر حسین ساحر پــه اردو ژبــه لیکلــې او پــر (۱۹۶۵م) کــال د پښتونخوا په پېښور کې چاپ شوې ده.

**پښتو زبان اور ادب کی تاریخ:** دا ادبي تاریخ محمــد عبــاس مدني په اردو ژبه لیکلی او پر (۱۹۶۹م) کال د پښتونخوا په پېښور کــې چاپ شوی دی.

**تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان و هند:** دا په اردو ژبــه د هند او پاکستان د مسلمانو خلکو د ژبو او ادبیاتو د تاریخونو یوه اوږده لړۍ ده، چې د دیارلسم ټوک په پیل کــې یــې د پښــتو ادبیــاتو ســتر څېړکی په (۱۸۳) مخونو خوندي کړی دی. د ادبي تــاریخ دا دیارلســم ټوک پر (۱۹۷۱م) کال د پنجاب پوهنتون له خوا د پاکستان پــه لاهــور کې چاپ شوی دی.

**روهي ادب:** په پښتونخوا پېښور کې لومړنی لیکل شــوی بشــپړ ادبي تاریخ دی، چې پروفیسور محمد نواز طــایر پــه دوو ټوکونــو کــې لیکلی او پر (۱۹۷۸م) کال د پېښور پوهنتون پښتو اکیډیمۍ لــه خــوا چاپ شوی دی. (دا ادبي تاریخ اردو ژبې تــه هــم ژبــاړل شــوی او پــه همدغه نوم چاپ دی.)

**د پښتو ادبیاتو تاریخ:** د پښتو ادبیاتو د تاریخ دا لــړۍ د کابــل پوهنتون استاد پوهنوال ډاکتر زېورالدین زېور په دریو ټوکونــو کــې د ادبیــاتو پــوهنځي د محصــلینو لپــاره، لــومړی ټــوک لرغــونې دوره (۱۳۵۹ل)، دویم ټوک منځنۍ دوره (۱۳۵۷ل) او درېیم ټــوک معاصــره دوره (۱۳۶۰ل) کال لیکلې، دا اثار د کابل پوهنتون پــه چاپخونــه کــې

ګستتنر شوي دي. (وروسته بیا دا درې واړه ټوکونه جلا جلا لـومړی د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، بیاد مومند خپرندویه ټولنې او په دې وروستیو کې د میهن خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوي دي.)

(د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي) تر اثر وروسته بـل اثر چې مورِ ته د پښتو ادبیاتو په باب لیکل شوي اثار راپېژنـي هغـه د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر دی. په دې اثر کې ادبـي تـذکرې هـم معرفي شوي دي.

البته د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر لیکوال ځینـې هغـه ادبـي تاریخونه هم راپېژني چې د پښتو د ادبي تـاریخ د منـابعو پېژندنـه او ارزیابی اثر د تالیف تر کال (۱۳۶۷لمري) څخه وروسته چاپ شـوي یـا لیکل شوي دي. مورِ دلته د نوموړي اثـر پـه اسـتناد یـوازې د ادبـي تاریخونو او د هغو د لیکوالو نومونه راوړو:

۱- تاریخچه شعر پښتو (د پوهاند حبیبي)، ۲- د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک (پوهاند عبدالحی حبیبـي)، ۳- د پښـتو د ادب تـاریخ د پوهاند صدیق الله رښتین، ۴- د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک (پوهاند حبیبي)، ۵- د پښتو ادب تاریخ (پوهاند حبیبي)، ۶- د پښـتو ادبیـاتو تاریخ منځنۍ دوره (ډاکتر زېورالدین زېور)، ۷- د پښتو ادبیاتو تـاریخ- اوسنۍ دوره د ډاکتر زېورالدین زېور، ۸- د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې)- لومړی ټوک (سرمحقق زلمی هېوادمل)، ۹- د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک (معاصره دوره) (کاندیـد اکاډمیسـین محمـد صدیق روهي)، ۱۰- د افغانستان ادبیات په لرغونو زمـانو کـې (پښـتو ادبیات) (غلام جیلاني جلالـي)، ۱۱- د پښـتو ادبیـاتو معاصـر تـاریخ (شهسوار سنګروال)، ۱۲- پښتوادب د پېړیو په پوړیو کې (حبیـب الله

رفیع)، ۱۳- لغة البشـــتو (پوهانـد عبـدالحی حبیبـي)، ۱۴- د پښـــتو ادبیاتو تاریخ (پوهاند صـدیق الله رښـتین)، ۱۵- د پښـــتو ادب تـاریخ (پوهاند عبدالحی حبیبي)، ۱۶- د پښتو ادبیـاتو لنـډ تـاریخ (پوهانـد عبدالحی حبیبي)، ۱۷- د پښتو ادب لنډ تاریخ (څېړنوال سـید محـی الدین هاشمي)، ۱۸- تاریخ ادبیات افغانستان (محمـد حیـدر ژوبـل)، ۱۹- پښتو ادب (اجمل ختټک)، ۲۰- پښـــتو ادب (د لیکـوال نـوم یـې معلوم نه دی)، ۲۱- پښتو ادب (عبدالحلیم اثر)، ۲۲- د پښـــتو شـعر و ادب تاریخ (شېرافضل بریکوټی)، ۲۳- پشتو زبـان ادب کـی مختصـر تاریخ (عبدالله جان عابد)، ۲۴- د پښتو ژبې او ادب تاریخ (پروفیسـور حنیف خلیل).

دلته ځینې هغه ادبي تاریخونه چې (د پښتو ادبي تـاریخ د منـابعو پېژندنه او ارزیابي) نومي اثر تر چاپ او خپراوي وروسته چاپ شـوي او یا لیکل شوي د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر په حواله یـې پـه ډېـر لنډیز درپېژنو:

**پښتو ادب لنډ تاریخ:** څېړنوال سـید محـی الـدین هاشـمي لیکلی، د پښتو ادبیاتو لنډ تاریخ دی، چې پر (۱۳۸۲- ۱۳۸۳ل) کال د صبا مجلې په (۴۵-۹۷) ګڼو کې پرله پسې خپور شوی دی.

**تاریخ ادبیات افغانستان:** دا اصلاً د دري ژبې او ادبیاتو تـاریخ دی، محمد حیدر ژوبل لیکلی، لومړۍ برخه کې د پښتو ژبې او وروسته د پښتو ادبیاتو په اړه ډېرې لنډې څرګندونې لري.

دا اثر لومړی پر (۱۳۳۶ل) کال او بیا تر (۱۳۸۲ل) کال وروسته څـو ځله د میوند خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

**د پښتو شعر و ادب تاریخ:** دا ادبي تاریخ شېر افضل بریکوټي لیکلی او پر (۱۳۷۴ل) کال په پښتونخوا پېښور کې چاپ او خپور شوی دی.

**پشتو زبان اور ادب کی مختصر تاریخ:** دا ادبي تاریخ په اردو ژبه عبدالله جان عابد لیکلی او پر (۱۳۸۶ل) کال په پښتونخوا پېښور کې چاپ شوی دی.

**د پښتو ژبې او ادب تاریخ:** د پښتونخوا پېښور پوهنتون د پښتو ادبیاتو د ماسټرۍ د پروګرام د لومړۍ پارچې (مضمون) لپاره پروفیسور حنیف خلیل لیکلی او پر (۲۰۰۶م) کال په پښتونخوا پېښور کې چاپ شوی دی.

**پشتو زبان و ادب کی تاریخ (ایک خاکه):** حنیف خلیل په اردو ژبه لیکلی ادبي تاریخ دی، چې پر (۲۰۰۸م) کال په پښتونخوا پېښور کې د یونیورسټي بکس پبلشرز له خوا په (۷۴۸) مخونو کې چاپ او خپور شوی دی.

پر دغو اثارو سربېره په وروستیو کې یو شمېر نور اثار چې د لرغونې ادبي دورې په باب لیکل شوي دي، په دې ډول دي:

**د پښتو ادب لرغونې دوره:** دا هغه اثر دی چې پر (۱۳۸۸ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د محصلینو له خوا په ګډه لیکل شوی او پر (۱۳۸۹ل) کال د یون کلتوري یون له خوا چاپ شوی دی. په دې اثر کې د (۵۶) محصلینو له خوا (۵۶) بېلابېلې لیکنې راټولې شوي چې ټولې د لرغونې ادبي دورې او له هغې سره پر ټرلو موضوعاتو راڅرخي. دا کتاب هم دلرغونې دورې د ادبیاتو په باب خورا

مهم اثر دی.

**د پښتو لرغونې شاعري:** د پوهنمل سیدغني غني له خوا لیکل شوی او په ننگرهار کې د مومند خپرندویه ټولنې له خوا لومړی ځل پر (۱۳۹۲ل) کال چاپ شوی دی. دا اثر د علمي ترفیع لپاره لیکل شوی او ټول شنل شوي او ارزول شوي موضوعات يې پر پښتو لرغونې شاعرۍ راڅرخي. دا اثر د پښتو لرغونې شاعرۍ د څېړنې او پېژندنې په برخه کې یو اختصاصي اثر گڼل کېدی شي.

**د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره:** دا اثر استاد (فرید هلال) لیکلی او په جلال اباد کې (کتاب خپرندویه ټولنې) له خوا په ښکلې قطع او صحافت چاپ شوی دی.

دا هم د پښتو لرغونو ادبیاتو په باب څېړنه او شنه ده او د ښوونې او روزنې پوهنځي او د دارالمعلمینو د استادانو، محصلینو د یو شمېر پوښتنو او اړتیاوو د رفع کولو لپاره لیکل شوی دی. اثر ډېره تفصیلي بڼه نه لري، خو د لوستونکو او محصلینو لپاره گټور اثر گڼل کېدی شي.

**د زړو پاڼو تول:** د زرین انځور د (۱۱) لیکنو ټولگه ده چې دوه لیکنې يې د پښتو لرغونو ادبیاتو شننې ته وقف شوي او نورې يې د کلاسیکو ادبیاتو په باب دي، دا اثر پر (۱۳۹۴ل) کال د مومند خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

((پورته مو د پښتو ژبې ځینې ادبي تاریخونه او ادبي تاریخ ډوله اثار چې په افغانستان او پښتونخوا کې چاپ شوي وو. په ډېر لنډیز سره دروپېژندل، د هغو پر منځپانگې، محتویاتو او نورو ځانگړنو مو ډېر بحث و نه کړ، خو دلته ددې خبرې یادونه ضروري بولو چې له څو گوتو په

شمېر ادبي تاريخونو پرته، زموږ د ادبياتو زياتره تاريخونه په عنعنوي او دوديزه بڼه ليکل شوي او د ادبي تـاريخ ليکنــې معاصــر معيارونــه، د ليکنې اصول او لارې په پام کې نه دي نيول شوي. سربېره پـر دې پـه پښتو ژبه او ادب کې په معاصر مفهوم د ادبي تاريخ ليکنې بهير، چې له پيلامې يې لږو ډېر اتيا کلونه تېرېږي، د نورو ګاونډيو ژبو پـه ځـانګړې توګه د پارسي او اردو په پرتله ډېر ورو او په اصطلاح د مېـږي پـه پلـه روان دی او په پښتو کې د يو جامع او عمومي ادبي تاريخ او يا د هــرې ادبي دورې په اړه د يو ځانګړي ادبي تاريخ ليکنې لپاره اکـاډيميکې او هر اړخيزې څېړنې ته اړتيا شته.)) (۴۷: ۵۰۴- ۵۱۲)

ما په خپل دې اثر کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ژبو او ادبيــاتو پوهنځي د پښتو څانګې د همدې لرغونې دورې لپاره د تصويب شــوي کاريکولم ټول محتويات په پام کې نيولي او هغو ته مې داسې څېړنيزه، شننيزه او تدريسي بڼه ورکړې چې محصلين په کې خپل ځان شــامل وګڼي. دا اثر له سريزې پرته ټول (۱۴) څپرکي لري. په لومړي څپرکــي کې يې لومړۍ يا لرغونې دوره تشريح شوې، ادب تاريخ، ادبــي تــذکره څه ته وايي؟ پښتو څو ادبي دورې لري؟ دا مسايل تشــريح شــوي، تــر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب ته هم نغوته شوې او بيــا د پښــتو ادب لرغونې دوره شنل شوې ده. په دويم څپرکي کې د پښتو ادبياتو لــويې حوزې؛ غور، کسي غر، ملتان او نورې سيمې تشريح شوي او په دربــيم څپرکي کې له امير کروړه رانيولې تر شيخ محمد صالح پــورې د پښــتو ادبياتو (۲۹)بېلابېلې څېرې؛ د هغوی د کلام بېلګې تشريح شوي، هم د دوی ژوند ته کتنه شوې او هم يې کلام ارزول شــوی دی. پــه څلــورم څپرکي کې له نورو ژبو، له عربي او دري سره د پښتو ژبې اړيکي څېړل

شوي، په پنځم څپرکي کې د لرغونې دورې نظم پر دوو برخو: د پښتو خپل يا ولسي ادبياتو فورمونه، لکه لنډۍ، بګتۍ، سروکي او نور څېړل شوي او هم له نورو ژبو څخه راغلي نظمي فورمونه لکه، قصيده، رباعي، غزل، مثنوي او نور ارزول شوي دي.

په شپږم څپرکي کې د لرغونې دورې نثر: د سالو وږمه، تذکره الاوليا او نور څېړل شوي دي. اووم څپرکي کې د لرغونې دورې د ادبياتو لغوي شننه شوې، متروکې کلمې، پخوانۍ کلمې او جغرافيايي نومونه شنل شوي دي. په اتم څپرکي کې په لرغونې دوره کې منظومه ژباړه، د هغې فورم، هنري ښکلا او د هغې پرتلنه څېړل شوي دي.

په نهم څپرکي کې په لرغونې دوره کې د شيخ رضي لودي او نصر لودي، د اسمعيل او خرښبون او همدارنګه د سلطان بهلول لودي او خليل خان نيازي ترمنځ لومړنۍ مشاعرې او مناظرې څېړل شوې دي. په لسم څپرکي کې د لرغونو ادبياتو محتوايي فورمونه لکه وياړنه، ويرنه، ستاينه، ساقينامه او نور څېړل شوي او رزول شوي دي. په يولسم څپرکي کې د لرغونو ادبياتو فکري خرنګوالی، اسلامي افکار، غنايي افکار، سياسي افکار، ملي او نور افکار څېړل شوي او شنل شوي دي. په دولسم څپرکي کې د لرغونې دورې عمومي ځانګړنو ته نغوته شوې، ددې دورې د ادبياتو خپل چاپېريال، نړه والي، د نورو ژبو اغېزو، لوړتيا او ځوړتيا ته ګوته نيول شوې ده. په ديارلسم څپرکي کې د لرغونې دورې د ادبياتو خرنګوالي او څومره والي يا کيفيت او کميت ته اشاره شوې او يو بل سره پرتله شوي دي. په څوارلسم څپرکي کې د لرغونې دورې موثرې سياسي او ټولنيزې خبرې او حادثې بيان شوي او د پېښو کرونولوژي راغلې ده او په همدې وروستۍ برخه کې د اثر پايله

یا نتیجه راغلې، چې په عمومي ډول یې د لرغونې ادبي دورې ځانګړنې یو ځل بیا په ګوته کړې دي. د یادونې وړ ده چې د هر څپرکي پــه پــای کې د هغه څپرکي محتوایي لنډیز او د محصلینو د فکر کارونې لپاره د هغه څپرکي اړوند پوښتنې هم راغلې، چې نه یــوازې محصــلین بــه د تدریس په بهیر کې له دې پوښتنو سره مخامخېږي او هغوی بــه ورتــه ځوابونه پیدا کوي، بلکې دا پوښتنې بــه دوی تــه د کورنیــو دنــدو یــا سیمینارونو په بڼه هم ورکول کېږي، هغوی به په دې برخه کې لا ډېــره پلټنه او څېړنه کوي، تشریحي، توضیحي، لنډ او تفصیلي ځوابونــه بــه ورته پیدا کوي.

دلته ددې خبرې یادونه هم ضروري بولم چې دا اثر د پښتو ادبیــاتو د لرغونې دورې په باب نه لومړنی اثر دی او نه هم وروستنی، دا د تېرو لیکلو شویو اثارو په دوام یو بل اثر دی چې د هغو پخوانیو اثارو ګټورې مزایاوې په کې هم خوندي دي او نوې زیاتونې هم لري. تر دې وروسته به نور اثار هم لیکل کېږي چې کېدی شي ددې اثــر لــه ځینــو ګټــورو خواوو ګټه پورته کړي او لا ښه پوره او کره اثر ترې ولیکل شي، بشــري ژوند د نورو تجربو او تېرو کارونو تداوم دی، علم هم پر یوه ورځ نــه دی رامنځته شوی، د یوې ژبې د ادبیاتو څېړنه هم په یوه، دوو یا څو اثــارو کې نه شي رالنډېدلای، هر اثر له یوه یا څو لیدلورو څخه د یوې ژبې پر ادبیاتو رڼا اچوي. دا اثر هم د تدریسي لیدلوري له مخې لیکــل شــوی، چې محصلین ورڅخه څرنګه ښه ګټه پورته کړي او ځان پــه تدریســي بهیر کې شامل وګڼي.

په دې اثر کې له کتابتوني څېړنې څخه زیات کار اخیســتل شــوی دی. کتابتوني څېړنه او ارزونه دلته ځکه ډېره کارېدلې چې دا د لرغونې

دورې ادبيات دي، په دې برخه کې سرې مجبورېږي ټول يا هــم اکثــره هغه اثار ولولي چې تر دې وړاندې ليکل شوي، دا اثار يو پــر بــل پســې تعقيب او تحليل کړي او ويې ارزوي او بيا خپلې ليکنې ته مسير وټاکي. ساحوي څېړنه دلته ځکه ډېره عملي نه برېښي چې اوس ددې امکــان نه شته چې څوک دې يوې ساحې ته لاړ شي او هلته دې د زر يو نــيم زر کلونو پخوانيو اثارو په باب عملي او علمي پلټنه پيل کړي او يا دې د هغه وخت ليکل شوي اثار بيا مــومي. البتــه دا کــار ممکــن دی چــې پخواني ادبيات دې د هغو په پاب د پخوانيو اثارو ترڅنګ د ادبپــوهنې او ادب تيورۍ د اصولو او نورو نويو اثارو په رڼا کې وارزول شي او وشنل شي.

په دې اثر کې د پښتو ادب د لرغونې دورې په باب له اکثرو پخوانيو او نويو ليکل شويو اثارو څخه ګټه پورته شوې او خپله تدريسي تجربــه هم ورسره ملګرې شوې ده. هيله ده درنو لوستونکو ته هغــه هــدف او پيغام په ښه ډول ورسوي چې ددې اثر د ليکلو پرمهال په پام کې نيول شوی و.

په دې اثر کې دا ټکی هم د يادونې و بولم، لکــه څنګــه چــې مــې يادونه کړې، تر دې اثر دمخه هم د پښتو لرغونو ادبياتو په بــاب پــاموړ شمېر اثار ليکل شوي او په دې اثر کې هم ورڅخه ګټــه پورتــه شــوې، ځينو ځايونو کې لکه د ليکوالو د پېژندنې په برخه کــې لــه دې اثــارو څخه په منظم ډول يوه برخه رانقل شوې، ځکه چې د پخوانيو ليکوالــو د پېژندنې په برخه کې ډېر کم څه نوي زيات شوي، خو په دې برخه کې بيا هم د نورو ليکوالو د اثارو پرتلنه ورسره شوې، کوم ځای کــې چــې پخوانۍ املا او انشا کې کوم سمون ته اړتيا وه، له سمون څخه هم کــار

اخیستل شوی، د تحلیل په برخه کې پر پخوانیو شننو سربېره نورې زیاتونې او سپړنې هم پرې زیاتې شوي، نو ځکه خو که درانه لوستونکي د یوه اثر په اخیستل شوي متن کې ځینې بدلونونه ګوري، نو دا د همدغه نوي عصر د اړتیا مطابق ترسره شوي، د یوه لیکوال د پخواني تحلیل په دننه دننه کې ځینې نور تحلیلونه هم ورزیات شوي دي. ددې ترڅنګ تر یوه حده هڅه شوې چې د لرغوني دورې پر ادبیاتو زموږ د ادبپوهانو له خوا د شویو تحلیلونو محتوا راواخیستل شي، نه کټ مټ متن او کومو ځایونو کې چې د متن کټ مټ را انتقال ته اړتیا وه، هلته متن په همغه واحده بڼه را انتقال شوی دی.

په پای کې غواړم د پښتو څانګې له مشرتابه او درنو استادانو؛ پوهاند محمد صابر خویشکي، پوهندوی بخت میر وزیري، پوهاند یارمحمد یزال، پوهندوی دوکتور محمداجان حقپال، پوهنوال محمدرفیق رفیق او نورو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې له پیله رانیولې او د اثر د بشپړاوي تر بریده پورې یې له ماڅخه خپلې ټولې ممکنه مرستې ونه سپمولې. همدارنګه قدرمن ورور ضیاءالرحمن ضیاء، چې ددې اثر په کمپوز، ډیزاین او سمون کې یې زیات زیار وګاله د ډېرې قدردانۍ وړ بولم. له خوږو محصلینو او ګرانو لوستونکو څخه هم هیله کوم چې ددې اثر تر چاپ وروسته د تدریس او لوستو پرمهال دې اثر ته بڼه ځیر شي او کله چې یې هر ډول نیمګړتیا ته پام شو، نو له ما سره دې اړیکي ټینګ کړي، چې هغه نیمګړتیا حل او په نورو چاپونو او یا هم بربښنایي بڼه کې یې سمون راولو.

په درناوي

د افغاني ادب د لا غوړېدو په هیله

پوهنوال محمد اسمعیل یون

# لومړی څپرکی

# لومړۍ یا لرغونې دوره

څرنگه چې ادبیات په ژبې او ژبه بیا په قوم یا ملت پورې اړه لري، نو ښه به وي چې دلته په پیل کې د پښتنو د اصل و نسب او د پښتو ژبې د ریښې په باب هم لږ تم شو. د پښتنو د اصل او نسب په باب پوهانو بېلابېل نظرونه څرگند کړي دي: ((افغاني پوهان پښتانه اکثره د لرغونې باختریا خلک گڼي، یو شمېر نا افغان معتبر لیکوال هم په دې عقیده دي چې پښتانه په وروسته زمانه کې له شمال څخه راغلي دي. پښتانه یو وخت د غور په غرونو کې متمرکز وو او وروسته بیا مهاجرین ورسره یوځای شوي او د هغوی ژبه او دودونه یې منلي دي.))(۴۲: ۲۶۸)

((ځینو تاریخپوهانو پښتانه سامي نژاده گڼلي، خو موجوده پوهه او تاریخي- مقایسوي ژبپوهنه بیا دا یوه افسانه گڼي. نویو علومو تاریخي واقعیتونه او د پېښو ډېر تیاره اړخونه د فني وسایلو په مرسته روښانه کړي او دې نتیجې ته رسېدلي چې پښتانه د لویو بشري کورنیو په ډله کې هندو اروپایي او په هغو کې بیا اریایي باختري توکم دی.)) (۱۸: ۵)

د نورو بېلابېلو تاریخي شننو، څېړنو، تاریخي اسنادو او تېرو پېژندونکو وروستی نچوړ او نتایج هم دادي چې ((پښتانه د اریایي

قومونو له جملې څخه یو قوم دی او دا قوم یا قبیله په لسو اریایي قومونو کې تر ټولو قوي او غښتلی قوم و.)) ((پښتو ژبه د ژبو د هندو اروپایي کورنۍ، د اریاني څانګې د ختیزو ژبو په ډله کې یوه مطرح او پاموړ ژبه ده.))

((معاصره ژبپوهنه د تاریخي او پرتلیزې ژبپوهنې د یوې نظریې په حکم اریایي مړې او ژوندۍ ژبې او لهجې پر دوو لویو څانګو وېشي چې هره یوه یې بیا دوه دوه ښاخونه لري:

## لومړي باختري ژبې:

الف- جنوبي باختري ژبې: لکه ساکي، پښتو، اورمړي او پامیري ژبې.

ب- شمالي باختري ژبې: لکه سوغدي، یغنوبي، خوارزمي، الیاني او اوسیتي.

## دویم ایراني ژبې:

الف- جنوبي ایراني ژبې: لکه زړه فارسي، منځنۍ فارسي، نوې فارسي، تاتي، بختیاري او کومزاري.

ب- شمالي ایراني ژبې: کوردي، بلوڅي، تالیشي او غلیاني.))
(۱۸: ۸)

د نړۍ د دایرة المعارف له مخې پر (۲۰۱۵م) کال په ټوله نړۍ کې د پښتنو شمېر تر (۶۰) ملیونو تنو اوړي. خو دا ټول (شپېته ملیونه تنه) پښتانه په پښتو ژبه خبرې نه کوي، یو زیات شمېر یې داسې دي چې خپله ژبه یې هېره کړې ده.

ځینې نور یې بیا داسې دي چې کورنۍ او مورنۍ ژبه یې پښتو ده، خو د ښار، دفتر او بازار ژبه یې بله ده. کېدی شي د نړۍ په کچه له هرو

دریو پښتنو څخه یوه یې خپله ژبه هېره کــړې وي، خــو لــه نســلي او روحي پلوه له پښتونولۍ څخه نه دي تېر شوي، ځان پښتون بولي او پر پښتونولۍ ویاړ هم کوي. په هندوستان او اوسني پاکستان کې په ډلــه ییز او کتله یي ډول نسلي پښتنو خپله ژبه هېره کړې او یــا هــم پــرې هېره کړای شوې ده، چې شــمېر یــې ملیونونــو تنــو تــه رســېږي. د افغانستان په یو شمېر لویو ښارونو او نورو سیمو لکه کابل، هرات، فراه او نورو کې هم یو زیات شمېر پښتنو په ډله ییز او کتله یي توګه خپلــه ژبه هېره کړې ده، سره له دې چې له نسلي او کلتوري پلوه یې له خپل قوم سره رابطه نه ده شلېدلې، خو له ژبني پلوه ورتــه ســخت زیانونــه اوښتي دي. نړیوال دایرة المعارف چې په نړۍ کې د سلو ټــاپ یــا ګــڼ ویونکو ژبو لېست خپور کړی په هغه کې یې پښتو په دوو هېوادونو کې یاده کړې ده؛ په پاکستان کې یې د څلورو ګڼ ویونکو ژبو په ډلــه کــې یاده کړې چې تر اردو، پنجابي او سندهي وروسته څلورم مقام لــري او په افغانستان کې یې د لومړۍ ژبې په توګه یاده کړې چې تر بلې هــرې ژبې زیات ویونکي لري. سره له دې چې پښتو د نړۍ په سلو ټاپ او ګڼ ویونکو ژبو کې حسابېږي او که ټول ویونکي یې په پام کې ونیول شــي، د نړۍ په (۳۰-۴۰) مخکښو ژبو کې حسابېږي، خو بیا هم لکــه څنګــه چې په کار ده، پښتو ژبې ته د بېلابېلو عواملو او ګڼو دلایلو لــه املــه هغومره کار نه دی شوی چې په کار و. دا کار بېلابېل عوامل لري چې د ټولو څېړل یې یو جلا بحث غواړي. دې سره سره چې پښــتو تــه ډېره سرکاري یا دولتي پاملرنه نه ده شوې، خو بیا هم پښتو ژبــې د ولس په مټ خپل ځان ساتلی او د نورو قوي ژبو له یرغل ســره یــې مقابله کړې ده. څکه خو نو ((پښــتو تــه د ژبپــوهنې پــه اصــطلاح (ځانساتې) یا محافظه کاره ژبه ویل کېږي او انګلیسي ژبې ته یــوه ژبخوره ژبه.))(۶۱: ۳۲) هره هغه ژبه چې د پښتو ژبــې پــه موقعیــت او

حالت کې واقع وای، ځان یې د قوي سیالانو په مقابل کې نه شو ساتلای. د پښتو ژبې په دفاعي سیستم کې د نورو عواملو ترڅنګ ادبیاتو او په تېره بیا ګړنیو ادبیاتو خپل خپل رول لرلی دی. د ادبیاتو یوه ځانګړنه همدا ده چې ((ادبیات یو ژبنی هنر ګڼل کېږي.)) کله چې ژبه نه وي ادبیات نه شته، څرنګه چې ژبه د ادبیاتو بنسټ ګڼل کېږي، دغسې ادبیات هم د ژبې په ښکلا، ځلا او بقا کې خپل رول لري. طبیعي خبره ده چې لومړی په یوه ټولنه کې ژبه رامنځته کېږي او بیا ادبیات، نو د ژبې یو معمول تعریف همدا دی چې ((د پوهولو او راپوهولو وسیله ده))(۴۶: ۴)

او یا هم (( ژبه د هغو اوازونو نوم دی چې انسان پرې خپل مطالب بیانوي، دښته په عربي کې (لسان یا لغت)، یوناني کې ورته (یوغوس)، په انګرېزي کې ورته (لینګویج) په پارسي او اردو کې ورته (زبان) په سنسکریت کې ورته (جوا) او په پښتو کې ورته (ژبه) وایي.))
(۲۲: ۲۰-۲۱)

کله چې ژبه رامنځته شي، ورو ورو وده کوي او د بېلابېلو مفاهیمو او ضروریاتو د خړوب لپاره کارېږي. ادبیات هم د انسان د اړتیاوو د نامستقیم بیان د پوره کولو لپاره کارېږي او ادبي ژبه هم د همدې اړتیا پر بنسټ رامنځته کېږي. کله چې په یوه ټولنه کې ادبیات رامنځته شي، بیا په هغه ټولنه کې ورسره ټولې تړلې نورې اصطلاحګانې لکه، ادب، ادیب، ادبپوه، ادب تیوري، ادب تاریخ او نور رامنځته کېږي. ددې لپاره چې موږ د(ادب تاریخ) پر تعریف، هدف او ماهیت باندې ښه پوه شو، ښه به وي چې تر هغه وړاندې څو پورتنیو نومونو یا اصطلاحاتو ته هم لږ تم شو او هغه هم په لنډیز سره معرفي کړو:

# ادب

ادب په هره ژبه کې ځانته خپل لغت لري، په انګلیسي کې ورته (politeness)، په لاتیني کې ورته (urbanitate)، په فرانسوي کې ورته (lapolitesse) په روسي کې ورته (вежливость) او نورو ژبو کې ورته نور لغتونه کارېږي. په عربي، پښتو، دري، اردو او ځینو نورو ژبو کې (ادب) کلمه په یو شان او تقریباً په یو مفهوم کارېږي. (ادب) د ژبپوهنې له مخې د بل هر لغت په څېر لغوي او اصطلاحي ماناګانې لري.

پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې یې د لغوي پېژندنې په اړه داسې راغلي دي: (( ۱- عزت، خاطر، لحاظ، سرېتوب. ۲- تمیز، تهذیب، تعظیم. ۳- علم، پوهه، زده کړه. ۴- حیا، پرده، تربیت، پالنه.)) (۹: ۳۰)

د فرهنګ ادبیات پښتو دربیم ټوک لیکوال د (فرهنګ معین) په حواله د ادب لغوي مانا: ((فرهنګ، پوهه، هنر، ښه سلوک، تادیب او تنبیه راخیستې ده.))

پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ په لومړي ټوک کې لیکي: ((ادب په عربي ژبه کې ښېګڼې او کناست او د ژبې او زړه ظرافت او ذکاوت ته وايي، چې ظرافت او حسن تبادل یې لنډ لغوي تعریف دی.)) اما په اصطلاح کې ادب په دې ډول تعریفېږي: ((ادب هغه پوهنه یا هغه ریاضت دی چې سړی د هغې په وسیله یو فضیلت او یوه ښېګڼه له ښېګڼو څخه مومي یا له تېروتنو او خطاوو څخه ژغورل کېږي. خلاصه: دا چې ادب د لغت او اصطلاح له مخې ښېګڼه ده، چې سړی له خطا او بدو څخه ساتي او په خوی او خلق اړه لري، چې بیان

یې د اخلاقو د علم کار دی.)) (۱۴: ۱)

استاد ګل پاچا الفت یې په (ادبي بحثونه) اثر کې داسې راپېژني: ((اصل یې (هذب) دی، بې عیبه په مانا. د هذب کلمه په اصل کې د هغې ونې لپاره استعمالېدله چې ځینې څانګې او ځینې ښاخونه به یې قطع شول او صافه به شوه، وروسته دا کلمه له محسوسیاتو نه معنویاتو ته رانقل شوه او هغه چاته هم ویل شوه، چې عیبونه به یې ورک شول، یانې مهذب به شو. اهل لغت ټول په دې باندې متفق دي چې د مهذب کلمه د یو کامل انسان لپاره د ونې له تهذیبه رانقل شوې ده... نو د هذب د کلمې (ذ) په (د) بدل شو او دغه ابدال په عربي کې ډېر مثالونه لري. لکه: هذم= هذب، جذم= جدم... نو هذب هدب شو او هدب په ادب بدل شو.

ځینې وایي چې په یوناني ژبه کې ادیب هغه چاته ویل کېده چې خبرې به یې خوږې وې او د ښه اواز او ښې نغمې خاوند به و، نو هر کله چې عربي او یوناني لغتونه یو له بل سره ګډ شوي دغه لغت هم له یوناني څخه اخیستل شوی دی.)) (۴: ۵-۶)

د (ادبي بحثونه) لیکوال په یو ځانګړي سرلیک کې د ادب د کلمې تاریخ داسې بیانوي: ((ځینې وایي چې دا کلمه (ادب) د جاهلیت په زمانه او د اسلام په ابتداء کې نه وه، ځکه چې نه د هغه وخت په ادبي اثارو کې راغلې او نه په قرانکریم کې شته، بلکې لومړی ځل دا کلمه په دې نبوي حدیث (ادبنی ربی فاحسن تادیبی) کې ذکر شوې ده.

(دا حدیث محدثینو په دغو الفاظو نه دی ضبط کړی) ځینې نور وایي چې دا کلمه د جاهلیت په زمانه کې هم وه او دا چې د هغه وخت په اشعارو او قرانکریم کې نه شته، ددې دلیل نه شي کېدی چې دا

کلمه په هغه وخت کې هډو موجوده نه وه، دوی د خپلې مدعا د ثبوت لپاره دا دليل راوړي. کوم وخت چې دا کلمه په حديث او يا د اصحابو يا د تابعينو په اقوالو کې راغله او هېچا يې د مانا او مفهوم پوښتنه ونه کړه، معلومه ده چې پخوا هم وه او ارتجلاً نه ده ويل شوې. وايي چې دا کلمه د حضرت علي(رض) په اقوالو کې هم ډېره راغلې ده او د جاهليت په وخت کې (اکثم بن سيقي) د بني تميمو مشهور خطيب ذکر کړې ده.))

همدا ليکوال د ادب تعريف سرليک لاندې ليکي: ((لغوي مانا خو يې تهذيب ده او څه شی چې له چا سره او يا کوم شي سره لايق او مناسب وي هم ادب ورته ويل کېږي، لکه د مجلس اداب، د معاشرت اداب او داسې نور...

اصطلاحاً: ادب هغه پوهه ده، چې انسان په خپله وينا او بيان کې خطا او غلطۍ څخه ساتي، ځکه ادبي علوم هماغه بلل کېږي چې د وينا ښه والی او بدوالی، غلط او صحيح، خوږوالی او پيکه توب ښيي او په منثور او منظوم کلام کې د فصاحت او بلاغت له خوا بحث کېږي.

د ادب په تعريف کې ويل شوي چې ادب د ښو الفاظو په وسيله د خپلو احساساتو او ادراکاتو يا د زړه د خبرو ښکاره کول او د اورېدونکو په ذهن کې کېنول دي، يانې ادب يوازې د افکارو او روحي حالاتو اظهار نه دی، بلکې له يوه ذهنه بل ذهن ته انتقال او ابلاغ هم په کې ملحوظ دی.

دا انتقال که په ښه ډول او مهارت سره وي، چې هم په کې ښه کلمات انتخاب شوي وي او هم د کلماتو د ښه ترکيب او ښه استعمال په لحاظ د فصاحت او بلاغت مراعات شوی وي، ادب ورته ويل کېږي.

که داسې نه وي نو عادي خبرې دي.)) (۴: ۸)

پوهاند صديق الله رښتين په خپل اثر (د پښتو د ادب تـاريخ) کـې ادب داسې راپېژني: ((ادب د عربو په لغت کې د پوهې، ځيرکۍ، بلنې او د هر شي د اندازې ساتلو په ماناوو راغلی دی او په اصطلاح کې ادب په دوه ډوله دی: يو نفسي ادب دی، چې اخلاقي فضيلت او ښـېګڼې تـه وايي او بل درسي ادب دی چې له دې څخه مطلب په ښه طريقه ويل او ليکل او خپل مطلب ښکاره کول دي.

ادب علم په اوله مانا د اخلاقو له علم څخه عبارت دی او په دويمـه مانا د ادب علم هغه پوهنه ده چې د ويلو، ليکلو او ښـې وينـا ډولونـه راښيي او د نظم او نثر حالات، ښه والی، بدوالی او نورې مرتبې بيانوي. په دې لحاظ هغه ټولې پوهنې چې سړي ته د وينا ډولونه په ښه طريقه ليکل او ويل زده کوي هغه د ادب علم بلل کېږي. هر کله چې د نظم او نثر د علومو د بيان، د تاريخ د ليکلـو او د پوهولـو راپوهولـو دوه لارې دي، نو په دې دواړو کې مهارت پيداکول او په دې واسطه خپل مطالب او خيالات بيانول او ښکاره کول د ادب غايه او غرض ګڼل کېږي. د نوي ادب په مفهوم کې انتقادي روح لرل هم داخل دي.)) (۲۰: ۵)

(د ادب مسالې) اثر ليکوال (پوهاند محمـد رحـيم الهـام د ادب د اصطلاح د پېژندنې په اړه په تفصيل سره بحث کړی چې دلته يـې پـه لنډيز سره ځينې ځرګندونې را اخلو:

((د ادب د کلمې د اشتقاق په برخه کې ډېرې خبرې شوي دي، يوه ډله لغت پوهان د ادب ريښه د اوستايي (دب) له ريښې سـره مربوطـه ګڼي، چې د ليکلو مانا لري او مونږ يې د دري ژبې (دبير)، (دبيرسـتان) په کلمو کې، چې د ليکوال، منشي، ښوونکي او ښوونځي ماناوې لـري،

راپاتې دی. ځينې وايي چې ادب د (اديپوس) له يوناني کلمې څخه چې د ليکلو مانا لري، عربي ته ورغلی دی، ځينې نور بيا ادعا کوي چې ادب په اصل کې د عربي له هذب څخه مشتق شوی، یا ددې کلمې اوښتی شکل دی.)) (۶: ۲)

د (ادب مسالې) ليکوال وايي چې ماته دغه ټولې ادعاوې سمې برېښي او ددغو کلمو په شان يې تصادفي بولم، نه تاريخي. ليکوال دې برخه کې د ادب د مقولې د مفهوم د څرګندولو لپاره د عربو د مشهور ليکوال او څېړونکي (طه حسني) او دده د همکارانو هغه اسانه او په زړه پورې تشريح راوړې، چې په ((التوجيه الادبي)) نومي اثر کې يې راوړې ده:

((ادب دوې ماناوې لري: يوه خاصه مانا او بله عامه مانا.

د ادب مادې د اسلام په پيل کې پر دوو بېلو، خو سره نږدې ماناګانو باندې دلالت کاوه:

لومړی نفس ته د اخلاقي ښېګڼو او تعليم او تمرين لپاره رياضت ورکول او بله له دغه رياضت څخه اغېزمن کېدل، ګټه اخيستل او د ښو اخلاقو کسبول.

وروسته بيا دغه مقوله د تعليم او ښوونې په مانا مستقله شوه او مودب د فاعل اسم په صيغه د ((ښوونکي=معلم)) د اصطلاح د اندول په توګه استعمال شوه او د ادب کلمې پر هغو معلوماتو باندې دلالت کاوه چې ښوونکي به زده کوونکو ته له شعر او کيسو، اخبار، انساب او نورو هغو څيزونو څخه چې د ماشوم د نفسي تهذيب لپاره ده کارول او يا يې ورسره له علم او پوهې څخه په خوند اخيستلو کې مرسته کوله.

د ادب او تاديب د کلمو استعمال په اسلامي لومړۍ پېړۍ کې رواج

وموند، په دې وخت کې عربي ثقافت یوازې دوه جنبې درلودې: دیني ثقافت او غیر دیني ثقافت. په دیني ثقافت کې قرآن، احادیث او ورسره مربوط موضوعات او په غیر دیني ثقافت کې شعر، اخبار، انساب او ورسره متعلق موضوعات شامل وو. دغه دیني ثقافت بیا وروسته د ادب موضوع شوه. په دویمه او درېیمه هجري پېړۍ کې پر عربي ژبنیو پوهنو باندې پیل وشو، نحو، صرف او لغتپوهنه د خپلواکو علمي څانګو په بڼه رایج شول. په همدې ترڅ کې د ادب د مقولې میدان پراخوالی وموند او په نظم او نثر او د هغه په شرحه او کره کتنه، اخبار، انساب او پر عربي ژبپوهنه باندې یې دلالت وکړ.))(۶: ۳)

د یاد اثر لیکوال پر فطري او اکتسابي ډولونو باندې د ادب وېش، د غور او تامل وړ بولي او یادونه کوي چې حتی سلیم عقل هم حکم کوي چې د هغو شیانو محتویات چې متقدمانو پر فطري او اکتسابي باندې وېشلي دي، ټول اکتسابي دي.

نوموړی د ادبي علومو د پېژندنې په اړه لیکي: ((پخوا ادبي علوم هغو پوهنو ته ویل کېدل چې د بلیغې وینا لارې چارې او احوال یې ښودل، نو ادبي علوم د ژبنیو علومو او ژبنیو اثارو پر ټولې مجموعې باندې اطلاق کېدل، د ادبي علومو دغې ارتې ساحې پوهان دې ته مجبور کړل چې د څېړنې د اسانتیا لپاره یې پر بېلابېلو او سره جلا، خو بیا هم مربوطو څانګو ووېشي.)) (۶: ۶)

د ادب مسالې لیکوال د ادبي علومو د څانګو پر پخواني وېش مفصل بحث کړی، چې دلته یې په لنډیز سره ځینې برخې را اخلو:

((عربي او نورو پوهانو لیکلي، چې د ادب علم منظوم او منثور کلام د فصاحت او بلاغت په لحاظ مطالعه کوي... د ادب د علم موضوع کلام

دی او څرنګه چې کلام له کلمو څخه جوړېږي، نو ادبي علـم د کلمـاتو ډولونه او حالتونه څېړي.

زموږ پوهانو د ادبي علومو څېړونکی، ادیب بللـی دی او لـه عـالم څخه یې بېل کړی دی، یانې د دوی په عقیـده کـه څـوک د متـداولو علومو په یوه څانګه کې تخصص ترلاسه کړي، عالم نومېږي، خو کـه د علومو په لویو باغونو کې له هرې څـانګې څخـه یـو ګـل وشـکوي او ګلدسته ورنه جوړه کړي، ادیب بلل کېږي.)) لیکوال یادونه کوي چـې: ((زموږ پخواني پوهان پر څانګو باندې د ادبي علومو د وېش په موضوع کې یو نظر نه لري. ځینې پوهان یې پر (اتـو) څـانګو، ځینـې یـې پـر (دولسو) او ځینې نور یې پر (څوارلسو) څانګو وېشي. که ددې موضوع په باب ټولې نظریې سره یوځای کړو، نو ادبي علوم لومړی پر دوو لویـو څانګو د اصلي او فرعي په حیث او بیا هره څانګـه پـر خپلـو ځـانګړو ښاخونو باندې وېشل شوې ده، چې دې لاندې وېش کې دغـه څـانګې (شلو) ته رسېږي.

د ادب د علم اصول پخوا هغو علومو ته ویل کېـدل چـې د ادبیـاتو اصلي او اساسي موضوعات یې څېړل او له کـلام یـا کلمـو سـره یـې مستقیم اړیکي درلودل. پر دې لاندې ښاخونو وېشل شوي دي:

۱- د لغت علم (لغتپوهنه) مفرد لفظونه یې د اصل، نوعې او مـادې په لحاظ څېړل.

۲- د صرف علم: مفرد لفظونه یې د صورتونو او شکلونو پـه لحـاظ څېړل.

۳- د اشتقاق علم، د لفظونو تـرمنځ ګـډ اړیکـي یـې د اصـالت او فرعیت په لحاظ څېړل.

۴- د نحوي علم: د لفظي شکلونو ترکیب او د اصـلي ماناګـانو لـه ایرادولو څخه یې بحث کاوه.

۵- د معاني علم: له لغوي ماناګانو پرته د افادو طریقې او ډولونه یې څېړل.

۶- د بیان علم: د مانا کیفیت او څرنګـوالی یـې د څرګنـدتوب او مهموالي له نظره څېړل.

۷- د عروضو علم: د شعرونو وزنونه او بحرونه یې مطالعه کول.

۸- د قافیې علم: د بیتونو د پای د کلمو د شکلونو څرنګـوالی یـې څېړه.

۹- د بدیع علم: د کلام لفظي او لغـوي ښـېګڼې او ښـکلاوې یـې څېړلې.

د ادب د علم فروعات هغو ته ویل کېدل چې له ادبیـاتو سـره یـې بنسټیز او نېغ اړیکي نه لرل، خو په نامسـتقیمه توګـه یـې لـه ادبـي موضوعاتو سره تعلق درلود او د ادب د علم د مرستیالو علومو په بڼـه پېژندل کېدل، پر دې لاندې ښاخونو باندې وېشل شوي دي:

۱- د خط علم: د لیک او لیکنې انځورونه یې څېړل.

۲- نقد الشعر یا قرض الشعر: د منظوم کلام کیفیتونه او څرنګـوالی یې څېړل.

۳- د انشاء علم: د منثور کلام کیفیتونه او څرنګوالی یې څېړل.

۴- د محاضراتو علم: د حاضر ځوابۍ او بدیهه ویلو اصول، طریقې او کیفیتونه یې څېړل.

۵- د تاریخ او قصص علم: د تېرو دورو د خلکـو احـوال اوضـاع او دودونه یې څېړل.

۶- د انسابو علم: د کورنیو او قبیلو خپلوي او اړیکي یې څېړل.

۷- د مسالک او ممالک علم: د ښارونو، قصـبو او کلیـو نومونـه او اوضاع یې څېړل.

۸- د امثالو علم: د متلونو پېژندنه، منبع او د کـارولو ځایونـه یـې څېړل.

۹- د تدوین علم: تدوین شوي شعرونه او د هغو مصنوعه ترکیبونـه یې څېړل.

۱۰- د اغلوطاطو علم: هغه لفظونه او ترکیبونه یې څېړل چې د ژبې له قیاسي قواعدو سره یې سمون نه درلود.

۱۱- د روایت علم: د روایاتو له احـوال او د روایـت لـه سـموالي او ناسموالي څخه یې بحث کاوه.

له هغو تعریفونو څخه چې پخوانیو عربي او ختیزو پوهـانو د ادب د علم لپاره راوړي دي، څرګندېږي چې زموږ د پخوانیو پوهانو په نظـر د ادب د مقولې مفهوم او مدلول له ژبې سـره او د ادب د علـم مانـا لـه ژبپوهنې سره برابره وه. ادبیات چې اوس یې موږ د یوې مقولې په توګه کاروو په عربو کې یې رواج نه درلود او د اټکل له مخې لـه ترکـي ژبـې څخه زموږ ژبو ته راغلي دي.)) (۶: ۹)

په (اریانا دایره المعارف لومړي ټوک) کې د ادب د کلمې د پېژنـدنې په اړه داسې لولو: ((که څه هم د نورو ټولنیزو علومو او فنونو پـه څېـر ادب کوم داسې ټاکلی او ځانګړی تعریف نه لري چې هر چېرې د هر چا لپاره یو شان د منلو وړ وي. له دې سره سره د ادبپوهانو او څېړونکو له خوا چې د ادب د کلمې د لغوي او اصطلاحي توضیح، تعبیر او پېژندنې په برخه کې څه ویل شوي دي هغه ډېر مشترک ټکي سره لري.

((ادب)) عربي کلمه ده، چې ځینو فرهنګونو یې لغوي مانا: روزنــه، ښه معاشرت، ښه کړه وړه، اخلاق او نمانځنه راخیستې او په ځینو کې یې مانا پوهنه، ځیرکي، فرهنګ او هنر راغلې دي. پخوا به د ادب کلمه په عامه توګه اصطلاحاً د لغاتو، صــرف، نحــوې، معــاني، بیــان، بــدیع، عروض، قافیه، د خط اصول، د قرائت اصول، انشاء او تاریخ پــر علومــو اطلاق کېدله، کله کله په عام مفهوم د یوې ژبې ټولو لیکلو اثارو ته هم ادبیات ویل شوي دي، خو اوس یې دغــه لفظــي او اصــطلاحي تعبیــر بدلون موندلی او د اجتماعي علومو او فنونو د یــوې ســترې او مهمــې څانګې په توګه هغه ژبنی هنر او فن دی چې ټولنیز واقعیتونه او حقایق په کې د ژبــې پــه وســیله د ذهنــي تصــویرونو او انځورونــو لــه لارې څرګندېږي.

په بله وینا: هره هغه ممتازه وینا که ګړنۍ (شفاهي) وي، که لیکنۍ، نظم وي که نثر، خو چې هنري ارزښت ولري، ادب بلل کېږي.))

(۲: ۲۵۸)

سید رسول رسا په ادبي تنقید کې ادب داســې راپېژنــي: ((د علــم ادب یا لټریچر یو جامع تعریف او تشریح که د دنیــا د موجــود خیــال مطابق وکړای شي، نو هغه به دا وي چــې د انســاني زړه لــه جــذباتو، احساساتو او انساني میلان نه لبریزه تجربه چې د ادبي الفاظو په شکل کې په یو داسې جامع او ښکلي رنګ کې وړاندې شي، چې د ویــونکي، لیکونکي یا ادیب مطلب پر اورېدونکي یا لوستونکي باندې پــه مکمــل طور واضح شي، چې د هغه د زړه جذبات او احساسات هم هغــه شــان راولړزوي، لکه څنګه چې د ادیب په زړه کې د لیک پر وخت رالړزېدلی او راپارېدلی وي او دغه شان لوستونکي یا اورېدونکي د ادیب د زړه لــه

یوې مخصوصې ادبي تجربې پوره خوند واخلي. یانې ادب یوازې د احساساتو او جذباتو د ادبي الفاظو په ذریعه اظهار نه دی، بلکې له یو ذهن نه بل ذهن یا له یو زړه نه بل زړه ته انتقال او ابلاغ هم په کې ملحوظ دی.)) (۴۷: ۵۱)

د (ادب څه دی؟) لیکوال یې ګڼ شمېر پېژندنې وړاندې کړي چې یوه په کې داده: ((ادب د ادیب د خپل ځان یا جهان په هکله هغه اظهار دی، چې په کې د هغه محسوسات، جذبات او تخیل ګډ وي، هغه که په هره موضوع لیکي، ولې خالص د بهرنیو څیزونو او هم هغه شانتې په ساده ژبه نقشه نه وړاندې کوي، بلکې خپل تخیل او احساس ورسره په داسې رنګ ګډ کړي، چې د هر چا د خوند څیز شي. په دې اولني اثر کوونکي څیز ښکلې شاعرانه ژبه او جذبه وي. په دې باندې په جذباتو کې هم هغه شانتې وړې لویې څپې پیدا شي، لکه چې ادیب محسوس کړي وي او تر هغه پس که عقل ترې فایده ولاړولی شي او هر څه ترې په ښه منطقي انداز راویستلی شي، نو وي دې.))(۴۷: ۵۳)

نوموړي لیکوال په خپل پورتني اثر (ادب څه دی؟) کې د یو شمېر بهرنیو ادبپوهانو هغه پېژندنې هم راوړي چې د ادب یا لیټریچر (Literature) د کلمې د تعریف او پېژندګلوۍ لپاره یې په خپلو اثارو کې وړاندې کړي دي. موږ دلته ځینې دا پېژندنې را اخلو:

((که له موږ نه دا پوښتنه وشي، چې ادب وایي څه ته، نو زموږ لوی لوی نقادان به په دې وینا مجبور شي چې: که له ما نه پوښتنه نه کوې، نو زه پرې پوهېږم او که له ما نه پوښتنه کوې، نو بیا پرې هېڅ نه پوهېږم.))

(سنټ اګستین انګرېزي ادبپوه)

په ادب کې منطقي رښتيا خو نه وي، ولې ادبي صــداقت يــا ادبــي رښتيا په کې موجوده وي. (ارسطو)

بل ليکوال (ارنلډبيټ) بيا وايي:

((زه به تاسو ته دا ووايم چې لټريچر (ادب) څه ته وايي؟ نه! زمــا دا ارمان دی چې ما تاسو ته دا بيانولی شوای، ولې زه به داسې ونه کــړای شم، هېڅوک دا نه شي بيانولی په دې راز رڼا غورځولی شــي، اشــارې ورکېدی شي، بس تر دې نه زيات هېڅ نه شي کېدی.))

(هيډسن) ليکي:

(( ادب پر دغو کتابونو او صرف پر دغو کتابونو باندې مشــتمل دی، چې اول د خپلې موضوع او د بيان د چل لــه کبلــه د عــامو خلکــو د خوښې ځيز شي، دويم په دوی کې د ژبې او د بيــان د ښايســت پــوره پوره خيال ساتل شوی وي.))

هيډسن په بل ځای کې د ادبي اثر مقصد داسې ښودلی دی: ((ولې د يو ادبي کتاب مقصد که هغه په معلوماتو کې زياتوالی راولي او که نه، د جمالياتي ذوق تندې سړول دي.))

د انګرېزي ژبې کره کتونکی (سکاټ جيمس) د ادب پېژندنې په اړه په زړه پورې څرګندونې لري او يوه ادبي پنځونه (تخليــق) لــه نــاادبي ليکنې څخه داسې بېلوي: (( په يو ادبي تخليق او ناادبي تخليــق کــې بېلګوټ ډېر ژرکېږي. هغه په دې رنګ چې د کوم تخليق موږ جاج اخلو که د هغه په هکله دا پوښتنې وړاندې کړې:

۱- کومې دعوې چې شوې دي هغه غلطې دي که صحيح؟

۲- دليلونه له منطقي پلوه سم دي او که نه؟

۳- پر کومو خبرو چې يې بحث کړی دی هغه له دغې مسئلې سره

څه تړون لري او که نه؟ نو دغسې تخلیق یا تصنیف به نا ادبي وي. مثلاً د اقتصادیاتو په هکله یو کتاب یا پر سیاست یوه رساله. ولې د کوم تصنیف په مطالبو کې چې له رښتیا او دروغو سره زموږ څه کار نه وي. کوم څه چې موږ یې په منطقي تله تلل ضروري ونه ګڼو، د کوم په هکله چې موږ د خپل ښایست له ذوق نه کار اخلو، کوم چې زموږ پر تخیل او وجدان باندې اثر وکړي. هغه ادبي تصنیف دی او دغو تخلیقاتو ته (اغېزناک لیک) وایي)). (۴۷: ۵۳) د (تخلیق او تنقید) اثر لیکوال هم د ادب د پېژندنې لپاره د بهرنیو پوهانو څرګندونې را اخیستې چې ځینې یې دلته را اخلو:

لیکوال (میتهوارنلډ) وایي:

((ادب د انساني ژوند تفسیر دی.))

نامتو لیکوال (نیومن) لیکلي دي:

((د ادبیاتو مراد د ژبې په ذریعه د خیال څرګندول دي، خیال څخه مې مراد د تخیل احساسات، رایې، استدلال او د انساني دماغ نورې کیسې دي.))

بل لیکوال (هیډسن) ویلي دي:

((د ادب کار دادی چې معلوماتو کې یې ترقي یا وده وي او که نه، خو چې په کوم ډول یوه موضوع وړاندې کوي، هغه دومره خوندوره وي چې د انسان ښکلاییزه تنده ماته کړي.))

د (تخلیق او تنقید) اثر لیکوال د ادب د پېژندنې په اړه د بهرنیو ادبپوهانو د بېلابېلو نظریاتو د وړاندې کولو په پای کې د ادب تحلیلي او تشریحي پېژندنه په دې ډول کوي:

((هر څه چې په ژوند کې دي، هغه په ادب کې شته، حقه خبره

داده چې ادب هڅو د ژوند له تجربو سره نه پرې کېدونکی تړون لــري، ځکه خو ادب د ژوند اظهار، یانې څرګندونه ګڼل کېــږي. ادب دی کــه ژوند، دواړه یو بل نه ځان نه شي خلاصولی، که ادب له ژوند نه ډېر څه اخلي، نو ژوند ته ورکوي هم ډېر څه، د ادب عملي او ښکلاییز اړخونه د ژوند د ګڼو فیضو څرګندونه کوي، ادب نــه یــوازې زمــوږ احساســات رالېږوي، ورسره ورسره زموږ د معلوماتو پانګه هــم درنــوي. مطلــب دا هغه څیزونه چې موږ ترې خبر نه یو ادب ترې موږه خبروي، همدغــه د ادب د عملي اړخ په کارنامو کې شامله کارنامه ده. بل د ادب جمالیاتي اړخ دی، چې د ښکلا ، حسن او جمال په نامه یادېږي، لنډه دا چې ادب د یو قوم د عروج او زوال په مرحلو کې ډېر لوی لاس لري او حقه خبره داده چې د یو قوم د اجتماعي ژوند ټول اړخونه د ټولو فنونو په نسبت په ادب کې تر ټولو نه زیات جوت دي.)) (۲۱: ۳۲-۳۹)

د (پښتوادب پوهنه) لیکوال هم د ادب په اړه د یــو شــمېر بهرنیــو ادبپوهانو پېژندنې راخیستي، چې په خپلو اثارو کې یې د ادب د تعریف په باب وړاندې کړي، موږ یې دلته ځینې پېژندنې راوړو:

لیکوال (ډسکودس) وایي:

((هغه معلومات چې له کتابونو څخه نه حاصلېږي ادب دی.))

لیکوال (بروک) لیکلي دي:

((د لایقو ښځو او سړو لیکلي احساسات او خیالات په داسې رنــګ څرګندول چې لوستونکي ترینه خوند واخلي.))

بل ادبپوه (امرسن) وایي:

((ادب د انسان هغه کوښښ دی، چې هغه په کې د خپــل حالــت د غلطیو تلافي کوي.))

په خپله د (پښتو ادبپوهنــه) لیکــوال د ادب کلمــې د اصــطلاحي پېژندنې په اړه داسې څرګندونې کړي دي: (( ادب هر څوک لولي، ولې چې ادب هغه سندره ده، چې په غم کې هم خوشالي راولي، د ژوند نــه د مزې اخیستلو لپاره انسان کې نوې جذبه راپاروي، خو ادب نــه خــو مادي څیز دی، چې مشاهده یې وکړای شي او نه د ساینس څه کوټلې فرموله ده، چې سملاسي د انسان ذهن ته کوز شي. په دې هکله ډېــر بحثونه شوي دي، خو ولې د خپلې معنوي ژورتیا او پراختیا له کبلــه د ادب یو جامع تعریف په لنډو ټکو کې چا تراوسه نه دی کړی.))

ادب ته په لویدیز کې د لیتراتوره یا لیتریچــر (Literature) اصــطلاح کارول کېږي، چې اصلاً له لاتنین کلمې څخه اخیستل شوې، چې مانــا یې توری (حرف) دی.)) (۴۷: ۵۶)

د (ادب تیوری اساسونه) اثر لیکوال لیکي: ((اوس پــه لویــدیز کــې معمولاً د (لیتراتوره) کلمه په دوو ماناوو استعمالېږي:

۱- د یوې موضوع په باب د لیکلو اثارو مجموعه، د هنــري او ادبــي صنایعو موجودیت یا نه موجودیت په کې اهمیت نه لري، لکه د طب په باب لیتراتوره (ادبیات) او داسې نور.

۲- هغه هنري اثار چې د بداعت او ښــکلا، یــانې د ادبــي صــنایعو مراعات په کې شوی وي. په دغه وروستۍ مانا په ختیځ او لویدیځ کــې په یوه مفهوم استعمالېږي...

بدیعي ادب د هنر یوه داسې نوعه ده، چــې د خلکــو پــر ذهــن او روحیاتي نړۍ باندې زښته ډېره اغېزه کوي، د تفکر طرز او احساس یې روزي او د انساني اخلاقو، بشري عواطفو په سمون او هغو ته په ســالم تشکل ورکولو کې لوی لاس لري. څومره چې لیکوال د خپل چاپېریال

او خپلې ټولنې د ژوند پـر رمزونــو پــوه او د هغــو رســا افــاده کــوي، هماغومره دده د اثارو لوستونکي ته له دغو رمزونو څخه پـرده پورتــه کېږي او د خپلې ټولنې ښه او بد درک کوي.)) (۳۱: ۳)

د ادبي مطالعاتو په لړ کې تل دا پوښتنې رامخې ته کېږي، چې څــه شی ادبيات دي؟ او څه شی په ادبياتو کې نه شو شمېرلای؟

دا پوښتنې ظاهراً ډېرې ساده او سطحي برېښي، خو ځوابونه يې بيا هومره اسانه نه دي.

د (ادبپوهنه) اثر ليکوال په دې هکله ليکي:

((د لويديځ يو ادبپوه (اډوان ګرينلا) د يوې ژبې ټول چاپ شــوي او خطي اثار په ادبياتو کې شمېري، که مونږ د نوموړي دا پورتنی نظر ومنو او د يوې  ژبې ټول چاپ شوي او خطي اثار ادبيات وګڼــو، نــو بيــا نــور ټولنيز او سايسني علوم (لکه فزيک، کيميا، بيولوژي، هندسه، تــاريخ، جغرافيه او...) څنګه د ځانګړو علومو او فنونو په توګه مطــرح کــولای شو؟ پر همدې اساس ويلای شو، چې د يوې ژبې ټول اثــار ادبيــات نــه دي.)) (۴۸: ۲)

دلته د ادب او ادبياتو د لغوي او اصطلاحي مانا پــه بــاب د بحــث دا خوره وره لمن راټولوو او د پايلې په توګه وايو:

((ادبيات د ادب جمع ده او په ننني‌و ادبي څېړنو کې يې يــوه ډېــره عامه پېژندنه داسې ده، چې ادبيات د اجتماعي علومو او فنونو د يــوې سترې او مهمې څانګې په توګه هغه ژبنی هنر او فن دی چــې ټــولنيز واقعيتونه او حقايق په کې د ژبــې پــه وســيله د ذهنــي تصــويرونو او انځورونو له لارې څرګندېږي. يا په بله وينا:

((ادبيات د يوې ژبې د ليکلو  او ناليکلو هنري اثــارو مجمــوعې تــه

ویل کېږي.)) دغه پورتنۍ څرګندونې د ادبیاتو یــوې کــوټلې او منلــې پېژندنې لپاره داسې هم افاده کولای شو: ((هره هغه وینا چې ګړنۍ وي که لیکنۍ، نظم وي که نثر، خو چې هنــري ارزښــت ولــري ادب بلــل کېږي.)) (۴۷: ۵۸)

**ادیب:** هغه چاته ویل کېږي چې ادبیات رامنځته کوي، لیکــوال او شاعر دواړو ته د ادیب اصطلاح کارېږي. یانې هر هغــه شــخص چــې د هنري ادبیاتو د پنځونې سبب کېږي، هغه ادیب دی.

**لیکوال:** موږ په پښتو کې د (ادیب) کلمې د انډول لپاره (لیکــوال) کاروو، لیکوال په عامه مانا هغه چاته ویل کېږي چې لیک کوي که هغه د ژوند په هره برخه کې وي، خو په ځانګړې او خاصــه مانــا د لیکــوال کلمه هغه چاته کارول کېږي چې هنري لیکنې کوي، مانا همدا ادبیــات پنځوي.

**شاعر:** هغه چاته ویل کېږي چې شعر لیکي، شعر هم پــه حقیقــي مانا. یانې دا چې کلام یې هنري ارزښت ولري او له ناظم سره یې تــوپیر په همدې هنري ارزښت کې دی.

**ناظم:** هغه چاته ویل کېږي چې نظم جوړوي. نظمونــه معمــولاً لــه هنري ښکلا څخه ډېر برخمن نه وي، خو وزن او اهنــګ یــې اساســي برخه ده.

**نظم:** ((په لغت کې د مرغلرو پېیلو، ترتیبولو، سینګارولو، شعر ویلو او وزنوال کلام ته ویل کېږي.)) (۳۷: ۲) او په اصطلاح کې ((همغه کلام دی چې وزن او اهنګ ولري.)) په یوه نظم کې کېــدی شــي پــر وزن او اهنګ سربېره هنري ښکلا هم ځای پرځای شوي وي، دې حالــت کــې

نظم پر خپل نظمي جوړښت سربېره شعري کیفیت هم خپلوي، خو که ښکلاییز کیفیت ونه لري یو موزون کلام بیا یوازې د نظم بڼه خپلوي.

**نثر:** ((نثر عربي کلمه ده، په لغت کې شیندلو او پاشلو ته وایي، په اصطلاح کې همغه کلام ته وایي چې مقید وزن او اهنګ نه لري.)) البته مسجع نثر د خوند، لذت او ضرورت لپاره ځای نیم وزن او اهنګ لـري او ځینو برخو کې پر قافیې سربېره له ردیف څخه هم برخمن وي. ځینو نورو بیا یوازې د وزن له قید څخه ازاد متن ته نثر وایي.

(( نثر په لغت کې پاشلو او تیتولو ته وایي، خو په اصطلاح کې هغـه کلام دی چې د وزن له قید څخه ازاد وي.)) (۲۲: ۴۱)

لنډه لنډه کیسه، لنډه کیسه، منځنۍ کیسه، اوږده کیسه او یا هـم اوږد داستان د منثورو فورمونو له مشهورو ډولونو څخه دي.

له مانیز پلوه ادبي اثار ډېر ډولونه لـري، نـږدې هـره محتـوا چـې رانغاړي تقریباً په همغه نامه یادېدلای شي. لومړی شخص چې ادبیـات یې د محتوا له مخې ډلبندي کړل، ارسطو و چې په خپـل اثـر (کتـاب الشعر) یا (بوطیقا) کې یې ادبي اثار پر دریو ډولونو: ((اپیـک، (رزمـي) لیریک، (غنایي) او ډراماتیکو اثارو ووېشل.))(۱: ۱) په پښـتو کـې هـم ددې کته ګوریو ترڅنګ ویاړنې (فخریې) ویرنې، (مرثیـې) او حبسـي شعرونه هم شته، دې ټولو ته به پر خپل ځـای نغوتـه وکـړو. دا پورتـه مسایل چې مور یې یادونه وکړه، طبیعي خبره ده چې د یوې پوهې لـه مخې شنل کېږي او ارزول کېږي او یو پوه یا عالم ته اړتیا لري چې ادبي

اثار تحليل کړي، ويې ارزوي. هغه علم چې ادبيات له هــر اړخيــز پلــوه څېړي هغه ته (ادبپوهنه) وايــي، ښــه بــه وي چــې دلتــه لــومړۍ پــر ادبپوهنې او بيا د هغې پر بېلابېلو څانګو لږ بحث وکــړو. لــه دې بحــث څخه مو هدف دادی چې کله هم د ادب تاريخ له نظره د پښتو ادبيــاتو لرغونې دوره څېړو، نو د ادبپوهنې له څانګو او د هغې له اصــولو ســره اشنا کېدل راته ضروري دي.

# ادبپوهنه

**ادب پوهنه:** د ((ادب)) او ((پوهنه)) له یوځای کېدو څخه جوړه کلمه ده، چې لغوي مانا یې د ادب یا ادبیاتو پېژندنه یا د هغې په هکله پوهه او زده کړه ده. په عام مفهوم ادبپوهنه هغه پوهه ده چې د ادبیاتو په هکله څېړنه کوي یا په بله وینا: هغه پوهنه چې ادبیات مطالعه کوي ادبپوهنه بلل کېږي.

د ادبپوهنې یوه بله پېژندنه په دې ډول ده:

((ادبي اثار، شعر او هنري نثر د هنر له ډولونو څخه دي او د ټولنیز شعور یوه بڼه ده، هغه پوهنه چې د ټولنیز شعور دغه بڼه مطالعه کوي د ادبپوهنې په نامه یادېږي.)) (۴۷: ۱۱۸)

(ادبیات) او (ادبپوهنه) ادبي څېړنې او ادبي مطالعات دوه ځانګړي اصطلاحات دي، که د دوی ترمنځ نږدې اړیکي شته، نو ترڅنګ یې د بېلتون داسې لیکه او کرښه هم شته چې دوی په خپله، خپله ځانګړتیا او جلاوالی څرګندوي.

د (ادبي تیوري او ادبي کره کتنې اثر لیکوال په دې اړه لیکي: ((پر دې باید وپوهېږو چې ادبپوهنه، ادبي څېړنې، ادبي مطالعات او ادبیات یو له بله څرګند توپیر لري، په دې مانا چې (ادبیات) یو ژبنی هنر دی او (ادبپوهنه) د هنر د بېلابېلو اړخونو علمي مطالعه ده.

دا هم جوته ده چې ((ادبپوهنه د کلمې په علمي مفهوم ساینس نه دی، خو د نورو ټولنیزو علومو په لړ کې یو ډول پوهه ده.)) (۵: ۱)

د ادبیاتو او ادبپوهنې ترمنځ یو ډېر ستر توپیر دادی چې ادبیات تخلیقي اړخ او جنبه لري، ادیب یې رامنځته کوونکی او پنځوونکی دی او ادبي مطالعات یا ادبي څېړنه (ادبپوهنه) د ادب په هکله د یو ډول پوهنې ترلاسه کول یا زده کړه ده. په دې مانا چې لوستونکی د نورو تخلیق کړي ادبي اثار لولي او تر تحلیل وروسته پرې ځان پوهوي.

همدې محتوا ته په کتنه ادب پنځوونکی یا تخلیق کوونکی هنرمند دی او ادبي مطالعه کوونکی د لوستونکي او زده کوونکي په ډله کې شمېرل کېږي.

((ځینو بیا د ادبیاتو او ادبپوهنې ترمنځ د اړیکو ښودلو په لړ کې له دې توبیر څخه له یوې مخې سترګې پټې کړي او ویلي یې دي: څوک چې په خپله ادیب نه وي او ادبي لیکنه ونه کړای شي، پر ادبیاتو نه پوهېږي، نو ځکه باید ادب څېړونکی او ادبپوه یا د ادبیاتو مطالعه کوونکی هم ادیب وبولو، یانې یو څوک هغه وخت د بل پر شعر او یا هنري نثر باندې پوهېدی شي چې په خپله یې شعرونه ویلي او ادبي نثري لیکنې یې کړې وي)). (۴۸: ۱۴)

په داسې حال کې چې واقعیت داسې نه دی، د بېلګې په توګه: موږ ډېر داسې نالوستي ولسي شاعران لرو چې نه یې ادبیات مطالعه کړي او نه یې د شعر فنون لوستي دي، نه لفظي بدیعي او نه معنوي صنایع پېژني، نه ورته تشبیه، استعاره، کنایه، مجاز، قافیه او د هغې ارکان او عیبونه معلوم دي، خو داسې غوره ادبي منظوم اثار یې تخلیق کړي او پنځولي دي، چې ډېر ستر هنري او ادبي ارزښتونه لري. همدارنګه ډېر داسې ادبپوهان او ادبي څېړونکي هم پېژنو چې د شعر پر ټولو فنونو او تلازماتو پوهېږي، خو نه شعر جوړولای او نه هم ادبي ټوټه یا لنډه

کیسه او نور ادبي ژانرونه لیکلای شي.

نو ویلای شو چې: ادبیات او د ادبیاتو په هکله پوهه او معلومات دوه بېل شیان دي، ادب په خپله د ادیب نوښت او پنځونه (تخلیق) دی.

ادبپوهنه درې اساسي څانګې لري: ادب تیوري، ادبي کــره کتنــه، ادب تاریخ.

ددې ترڅنګ ادبي تذکره، متن پوهنه او کتابپوهنه د ادبپوهنې پــه څنګزنو څانګو کې راځي، دلته غواړو د ادبپوهنې پر همدغو اساسي او فرعي څانګو هم لنډه رڼا واچوو:

**ادب تیوري:** ((ادبي تیوري)) له ((ادبي)) او ((تیوري)) دوو توکــو څخه جوړه کلمه یا اصطلاح ده چې له ((ادب)) څخه مقصد د ((ادب په تول پوره)) اثار دي او د تیوري مانا ((نظري اصول))، نظري پوهــه یــا د نظریاتو ټولګه ده چې په دې ترتیب د ((ادب تیوري)) مانا د ادب په اړه نظریې او ټولیز اصول ګڼل کېږي. (۱۶: ۱۴)

په اصطلاحي توګه ((ادبي تیوري هغه پوهنه ده چــې د ادبیــاتو پــر ماهیت، مبتدا، غایه، ارزښت، رسالت او پرمختګ رڼــا اچــوي او دغــه مسایل څېړي)).

د ((ادبي تیوري)) د پېژندنې لپاره ادبپوهانو یو شمېر توضــیحي او تشریحي څرګندونې کړي، چې ډېر سره ورته ټکي لري، دلته یې ځینې را اخلو:

کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي وایي: ((ادبي تیــوري هغــه پوهنه ده چې د ادبیاتو پر ماهیــت، مبــدا، غایــه، ارزښــت، رســالت او انکشاف باندې بحث کوي.))

دوکتور اسدالله حبیب وايي: ((ادب تیوري د ادبي پدیــدو یــا اثــارو ټولنیز ماهیت، د ځانګړنو پرمختیا، قانونمندي او ټولنیز نقــش مطالعــه کوي او د ادبي اثارو د ارزښت مونــدنې د څېړنــې لپــاره عــام اصــول ټاکي.))

یو بل تعریف کې راځي.

((ادب تیوري د ادبي مطالعاتو لپاره هغه منظمه او منسجمه لاره ده چې پر یوې نظریې ولاړه وي او د هماغې نظریې پر بنسټ د ادبي متونو مطالعه کوي.)) ځینې نور تعریفونه یې په دې ډول دي:

((ادب تیوري هغه علم یا پوهه ده چې د ادبي اثارو ټولنیز ماهیــت، ځانګړنې او د ادب د ودې او پرمختګ قوانین مطالعه کوي.))

د (ادب تیورۍ اساسونه) اثر لیکوال وايي:

((ادبي تیوري د ادبپوهنې یوه ډېره مهه څانګه ده، چې د هنرمند له خوا د ژوند د ترسیم او د هغه د درک، د ټولنې پر ذهني وده او انکشاف د بدیعي اثارو د ارزښت معلومولو، د بدیعي اثارو د انواعو، د هغو د افادو د لارو، د لیکوالو د سبکونو، ادبي مکتبونو او داســې نــورو تحقیــق او څېړنه کوي.)) (۳۱: ۴)

((ادب تیوري د ادبپوهنې ستره او اساســي څانګــه ده چــې د ادب ټولنیز ارزښتونه، د ادب د پراختیا ټاکلي پړاوونــه، د ودې او انکشــاف تاریخي عنعنه، د ادبي اثارو اساسي فورم او نورې ځانګړنې څېړي او د ادبي موادو د څېړنې لپاره عمومي لارې او اصول ټاکي.)) یو لنډ تعریف یې دادی: ((ادب تیوري د ادب د بېلابېلو برخو او مسایلو پــه هکلــه د نظریاتو مجموعه ده.)) (۴۷: ۱۶۷-۱۶۸)

د ادبي تیوري په اړه دې پورته بېلا بېلو پېژندنو له مخې ویلی شــو

چې په عامه توګه په ادب تيورۍ کې د ټولنپوهنې د علمي قوانينو لــه مخې د ادب او ټولنې ترمنځ د اړيکو، د ادبياتو د پيدايښت د عواملو، د ادبي مکتبونو، ميتودونو او سبکونو، په ادبياتو کې د شکل او مضــمون څرنګوالی... او د بېلابېلو ادبي انواعو او ژانرونو په هکله بحث او څېړنه کېږي.

د ادب تيوري ترڅنګ ادبي کره کتنه هم د ادبپوهنې مهمه څانګــه ګڼل کېږي، د ادبي کره کتنې لغوي او اصطلاحي ماناوو ته ځکه تمېــرو چې دا دواړه له ادب تاريخ سره مرسته کوي چې د يوې ژبې اثر څنګــه په ښه ډول وڅېړل شي.

**ادبي کره کتنه:** په پښتو ژبه او ادب کې د عربي ژبې د (نقــد) او (تنقيد) او د انګرېزي ژبې د (کرټسيزم) د کلمې لپاره کره کتنه وضــع شوې ده، نو لازمه ده چې لومړی يې په دغو ژبو کې لغوي مانا او مفهوم وپېژنو او بيا يې بېلابېلې اصطلاحي پېژندنې راواخلو:

فرهنګ عميد د (نقد) د کلمې د لغوي مانا په اړه ليکي: ((نقد عربي کلمه ده، مانا يې سره کول يا کره کول، د کره او کوټه پيسو جلا کول، د کلام د عيبونو او ښېګڼو څرګندول او هم د هغو پيســو پــه مانــا چــې سملاسي ورکول کېږي، د نسيه خلاف (ضد).)) (۳۲: ۹۱۴)

پښتو پښتو تشريحي قاموس څلورم ټوک د کره کتنې د کلمې مانــا داسې کړې ده: ((کره کتنه پښتو کلمه ده، لغوي مانا يې نقــد، انتقــاد، کرټسيزم (انګرېزي) رښتينې قضاوت، ادبي نقد يا د انتقــاد فــن... او د ادبي کره کتنې مانا: وينا پېژندنه، د خبــرو ســنجونه، د ادبــي اثــارو د ارزښت او قيمت پېژندنه او د هغو له شرحې او تفسير څخه عبارت ده،

په داسې توګه چې د هغو اثارو ښه او بد او منشاء وپېژندل شي.))
(۱۱: ۵۴۹)

د (ادبي تیوري او ادبي کره کتنې) اثر لیکوال په لویدیځه نړۍ کې د عربي نقد د کلمې یا اصطلاح مفهوم په هکله لیکلي دي: ((په لویدیځه نړۍ کې د (نقد) عربي اصطلاح او کلمې معادل په انګلیسي ژبه کې (criticism) په فرانسوي ژبه کې (locritique) او په الماني ژبه کې (kritik) کارول کېږي، دا ټولې اصطلاحګانې چې په پورته دریو ژبو کې مو یادې کړې ریښه یې یوه ده او له یوناني کلمې (crites) څخه، چې د (حکم او قاضي) مانا لري، مشتق شوي دي. (krinein) کلمه د (قضاوت کولو) مانا ورکوي.)) (۵: ۶۰-۶۱)

په پښتو ژبه کې د (کره کتنې) لغوي مانا ژوره، پخه، په غور او دقت کتنه او ارزونه ده.

تر کومه چې خبره د ادبي کره کتنې (ادبي نقد) په اصطلاحي پېژندنې پورې اړه لري، په دې هکله په بېلابېلو څېړنیزو اثارو کې بېلابېلې توضیحي او تشریحي پېژندنې راغلي دي، چې تر ډېره سره ورته ټکي لري، موږ یې دلته ځینې را اخلو:

د (اشنایی با نقد ادبی) اثر لیکوال یې داسې راپېژني: ((ادب نقد (کره کتنه) چې هغې ته وینا سنجونه، وینا پېژندنه او وینا پوهنه هم ویل کېږي، د ادبي اثارو له ارزښت موندنې یا پېژندنې، تشریح او تفسیر څخه عبارت دی، چې د هغې په نتیجه کې دا جوته شي چې ددغو اثارو ښېګڼې او بدګڼې (ښکلاوې او نیمګړتیاوې) یا ښه او بد څه دي او د هغو منشاء کومه ده. ځینو د نظر خاوندانو یې د پېژندنې په اړه ویلي دي: په نړۍ کې د ترټولو غوره څیز، چې پېژندل شوی او یا د انسان په

فکر او ذهن کې د ی د هغو د پېژندنې لپاره داسې هڅې او هلــې ځلــې دي چې له شخصي موخې، غرض او ګتې څخه لرې او خلاصې وي.))
(۲۵: ۲۱)

د (ادبي څېړنې) لیکوال د برېتانیکــا (دایــره المعــارف) او امریکــا (انسایکلوپیډیا) په حواله د کره کتنې پېژندنې داسې راوړي دي: ((کره کتنه د هنرونو په باره کې یوه مستدللــه او سیستماتیکه مباحثــه ده، چې د هغو تخنیکونه او محصولونه توضیح او ارزوي. په دې ترتیب کره کتنه له استیتیکو کتنو (ښکلا پېژندنو)، عکس العملونو او کــره کولــو سره توپیر لري.))

او د امریکا نادایره المعارف په حواله لیکي:

((د یوه هنري اثر تنقیح، ارزونه او له هغه څخه انطباع اخیســتنه د استیتیکي تجربې یوه حتمي او ضروري برخه ده.)) (۲۳: ۱۰۵)

د (ادبي تیوریو او ادبي کره کتنې) اثر لیکوال یې داســې راپېژنــي: ((ادبي نقد (کره کتنه) هغه پوهنه ده چې ادبي اثار د هنــري او ښــکلا پېژندنې د پدیدو په توګه مطالعه کوي، د پوهنې په دې څانګه کې د پام وړ یا موجود اثر له نورو ادبي اثارو سره له اړیکو لرلو پرته په یــوازې یــا ځانګړې توګه ارزول کېږي.)) (۵: ۵۳)

اریانا دایره المعارف ادبي کره کتنه (نقد) او نقــاد پــه توضــیحي او تشریحي بڼه داسې رامعرفي کوي:

((ادبي کره کتنه (نقد) د ادبپوهنې یوه ستره او مهمه څانګــه ده. د نقد لغوي مانا فرهنګونو: وینا پېژندنــه، د خبــرو ســنجونه، رښــتینی قضاوت او د ادبي اثارو ارزښت معلومونه را اخیستې ده. په عربــي کــې پخوا د (نقاد) اصطلاح په عامه توګه د اصلي او کوټه (ناچلو) دینارونو او

درهمونو ببلوونکي شخص لپاره کارېدله، خو اوس په ادبي اصطلاح د وینا یا لیکنې د ښو او بدو اړخونو (ښېګڼو او بدګڼو یا عیبونو) معلوموونکي ته نقاد یا (کره کتونکی) وایي.

ادبي کره کتنې ته (ادبي تنقید) یا (ادبي نقد) هم وایي، چې لغوي مانا یې محاکمه کول دي او کره کتونکی یا (ناقد) هغه څوک دی چې د نقد په وسیله د اثارو د ښه والي او بدوالي یا څرنګوالي په هکله لوستونکي ته یوه پرېکړه صادروي.

ادبي کره کتونکی د یو ادبي اثر د ژورې او هر اړخیزې مطالعې په لړ کې هغه تشریح او توضیح کوي او د اثر د محتوا پر اصلي روح، د لیکوال پر پیغام او د ادبي اثر د رامنځته کولو پر اصلي موخه او غرض لوستونکی پوهوي او د کره کتنې د ټاکلیو اصولو په رڼا کې یې ادبي ښکلا، ښېګڼې او بدګڼې، نیمګړتیاوې او کمزورتیاوې بیانوي.

یا په بله وینا: لوستونکي ته د اثر هر اړخ او د لیکوال فکر او غرض په اغېزمنه توګه ورښیي.)) (۲: ۲۷۱)

د (فرهنګ زبان و ادبیات پښتو) دریېم ټوک لیکوال یې د پېژندنې په اړه لیکلي دي: (( ادبي کره کتنه د ادبپوهنې دریېمه اساسي څانګه ده، د ختیځ او لویدیځ په ژبو کې یې ډول ډول پېژندنې وړاندې شوي، په زیاترو پېژندنو کې یې اساسي او بنسټیز ټکي دادي چې کره کتنه د یوه اثر ښه او بد یا ښکلي او بدرنګ اړخونه ارزوي. د ادبي کره کتنې عمومي موخه د وخت لپاره د هغې ارزښت موندل یا معلومول دي.))

(۵۵: ۱۷)

د (ادب او ادبي کره کتنه) لیکوال د کره کتنې د پېژندنو په اړه د ځینو لویدیزو ادبپوهانو نظریات راوړي دي چې دلته یې د کره کتنې د

بېلابېلو اړخونو د پېژندنې لپاره د نوموړي اثر په حواله په لنډیز سره را اخلو:

انګرېزي کره کتونکی او شاعر میتوارنلډ (Mathew Arnold) ویلي دي:

(( په نړۍ کې چې ډېرې ښې خبرې شوي او یا کـوم ښـه او غـوره اندونه رامنځته شوي دي، د هغو د بې پرې پېژندنې او عامونې د هیئت نوم کره کتنه ده.))

په ایټالوي دایرة المعارف کې یې لیکلي دي: ((کره کتنه د هغه عمل یا ذهني خوځښت نوم دی، چې د یو شي یا ادبي ټوټې د هغو ځـانګړنو توپیر وکړي، چې ارزښت ولري.))

یو جرمني عالم په دې اند دی: ((کره کتنه (یا ادبي ښکلا پېژندنــه) په ځانګړې توګه دا ویني چې یوه لیکنه یا ادبي ټوټه (اثـر) تـر کومـه بریده د ښکلا د هغو قوانینـو او قواعـدو مطـابق ده، چـې د تصـنیف پرمهال منل شوې ده.)) (۵۰: ۱۲۹)

نامتو کره کتونکی (لوناچارسکي) د ادبي کره کتونکي د کـار د لارو چارو په هکله داسې نظر څرګندوي: ((کره کتونکی باید تر ټولو لومړی د اثر محتوا او د هغه ټولنیزه منځپانګه وڅېړي، بیا له ټولنیزو ډلو سره د هغه د اړیکو تر څرګندولو او پر ټولنیز ژوندانه باندې د هغه د اغېـزو تر ټاکلو وروسته د هغه فورم (بڼـې او شـکل) تـه پـام اړوي او د اثـر بنسټیزو موخو سره د فورم اړیکي معلوموي او د هغو پایلو ترلاسه کولو سره مرسته کوي، چې د اثر له زیات اغېز او هنري بیان څخـه عبـارت دي.)) (۳۴: ۵)

(سپنګارن) وایي:

((کره کتونکی د انتقاد په ترڅ کې دغو پوښتنو ته ځواب ورکوي:

۱- هنرمند د څه څرګندولو لپاره کوښښ کړی دی؟
۲- ایا په خپل مرام کې بریالی شوی دی؟

په دغو پوښتنو پسې جوخت درېیمه پوښتنه راولاړېږي: ایا هغه څه چې هنرمند څرګند کړي دي په څرګندولو ارزي؟)) (۲۳: ۱۰۶)

د (اې ای رچرډز) په اند: (( کره کتنه د یو انصاف لرونکـي لیکـوال شننه، مدللـه څېړنه او په پای کې یې د ښـکلاییزو ارزښـتونو پـه اړه پرېکړه کول دي.))

(ابرامز) د ادبي اصطلاحاتو فرهنګ کې د ادبي کره کتنې په هکلـه لیکي: ((ادبي کره کتنه د ادبي اثارو تعریف، توصیف، طبقه بندي، شننه او ارزونه ده.))

د (کادن) د تعریف له مخې: ((ادبي کره کتنه هغه هنر یـا علـم دی چې د ادبي اثارو پرتلنې، سپړنې، شننې، تفسیر او څېړنې ته ځـانګړی شوی دی.))

عربي لیکوال (احمد امین) وایي: ((کره کتنه د ادبپوهانو په اصطلاح د هر هنري اثر چې موضوع یې ادب، یا انځور، یا موسیقي وي، درسـته ارزونه، د هغه د خپل ځاني ارزښت سپړنه او د هنر په ورشو کې د هغه د کچې ټاکنه ده او هغه ملکه چې دغه ارزونه رامنځته کـوي، ذوق دی او دا ذوق کوم بسیط او ساده شی نه دی، بلکې له ډېرو شـیانو څخـه مرکب دی، چې ځینې یې د عقل له قوې او ځینې یې د شعور له قـوې څخه عبارت دي.))

(دکتور هاشم صالح مناع) د خپل اثر (بدایات فی النقد الادبي) کې لیکي: (( کره کتونکو د کره کتنې ډول ډول اصطلاحي ماناوې کړي دي، چې د ټولو لفظونه بېل بېل، خو مانا یې یوه ده.)) نوموړی د یـو شـمېر

پېژندنو تر راوړلو وروسته داسې یو جامع تعریف وړاندې کـوي: ((کـره کتنه د هنري کار ارزول، له هر اړخه د هغه ارزښـت ټاکـل او پـر هغـه باندې د اغېز ښندونکو عواملو شنل، سپړل، علت ښوول، پېژندل او د هغه د مثبتو او منفي خواوو څرګندول او بیا پر هغه باندې حکم کـول دي.))

(ډاکتر سیروس شمسیا) په خپـل اثـر (ادبـي نقـد) کـې د ادبـي کره‌کتنې د پېژندنې په هکله داسې وایي: ((د ادبي کره کتنې تعریف د پخوانیو پوهانو په اند له هغه تعریف سره چې نن مهـال کېـږي، تـوپیر لري. د پخوانیو ادبپوهانو په اند له کره کتنې څخه موخه معمـولاً دا وه چې د یو اثر عیبونه بیان کړي، یا یې د الفاظو د څرنګوالي په هکله څه ووايي، یا ووايي چې مانا له بل اثر څخه اخیستل شوې ده او په ټـولیزه توګه د لفظ او مانا له څرنګوالي څخه وغږېږي، البته دغه مانا په خپله د نقد له لغت څخه هم په ګوته کېږي، ځکه نقد له (کره) څخه د (کوټـه) بېلولو ته وایي، په دې ډول پخوانیو کره کتونکو کار زیـاتره د کمـزورو نقاطو ښودل وو.)) داکتر شمسیا زیاتوي:

((په لرغوني لویدیځ کې هم خبره دغسې ده، د (ویبستر) پـه نامـه فرهنګ د (criticism) د ویي یا لغت، مانا داسې کاږي [د کره کتنې کـار چې معمولاً عیب لټول دي] اما په اوسني نوي پېر کې لـه ادبـي کـره کتنې څخه موخه د اثر د عیبونو څرګندول نه دي (که څه هـم کېـدی شي دې چارې ته هم نغوته ولري.) ځکه ادب کره کتنه د لومړۍ کچـې (لومړۍ درجې) او مهمو اثارو څېړنه کوي او په دې ډول اثارو کې زیات تر دې چې د ضعف ټکي ارزښت ولري، د قوت ټکي مطرح دي. ځکه نو ادبي کره کتونکی هڅه کوي د هغه لوړې کچې ادبي اثـر پـه شـننه او

تحلیل سره لومړی د هغه جوړښت او مانا لوستونکو ته څرګندده کړي او بیا هغه قوانین چې ددغه ادبي اثر د سترتوب لامل شوي دي، توضـیح کړي، ځکه نو ادبي کره کتنه له یوه لوري د اثر په څرګندونه کې د ادبي قوانینو کارول دي او له بله پلوه د هغو تازه او ممتازو اصولو کشف دی، چې په دغه اثر کې نغښتي دي.))

(شمسیا) وړاندې لیکي: ((ادبي کره کتنه یو خلاق کار دی او ادبي کره کتونکی باید د اثر د ښتن په کچه د ذوق او خلاقیـت ښتـن وي. البته په دې توپیر چې لیکوال او شاعر د فضیلت ښتن دی، خو د ادبي پوهنو پر ټولو اړخونو خبر نه دی. په داسې حال کې چې ادبي کره کتونکی ښایي له ټولو علومو سره په دقیقه توګه اشنا وي، چې له هغو ټولو څخه د اثر د لوړتیا د لاملونو په شننه او څېړنه کې د افزارو په توګه کار واخلي. په دې ډول کېدی شي د ادبیاتو او د هغو د اړوندو مسایلو په غوړېدو کې د ادبي کره کتنې پر ارزښت پوه شو. ځکه پـه کره کتنې سره لومړی ادبیات تل تر تله متحول او ژوندي پاتې کېږي. ځکه کره کتونکی د لوړو کچو ادبي اثارو په څېړنه کـې لـه هغـو د وسیلو له هغې برخې څخه کار اخلي چې په کار ورځـي او خپـل پـه خپله ځینې زاړه علمي او فني وسایل له منځه ځي او دویـم د لـوړو کچو اثارو په څېړنه کې نوي معیارونه او وسایل کشـفوي او د خپـل هېواد ادبیاتو ته یې وړاندې کـوي. پـه دې ډول لوسـتونکی د کـره کتونکي په مرسته داسې معیارونه تر لاسه کوي، چې لوړ کچـې اثـار وپېژني، سطحي اثارو ته پام وانه ړوي او ددې ترخنګ ددې لامل هـم ګرځي چې ادبي او فرهنګي بهیر خپل درست او سم مسیر تـه برابـر کړ. ګواکې کره کتونکی په نا مستقیمه توګه خلکو تـه ورښـیي چـې

کوم اثار بې ارزښته دي او په دې سره کېدی شي پر فرهنګي کـارونو خبته اچوونکي هم د ناوړه ګټې اخیستنې مجال ونه مومي.))
(۴۷: ۵۲۱- ۵۲۲)

د (برسمند سخن) اثر لیکـوال (ډاکتـر نـادر وزیـن پـور) د ادبـي کره‌کتنې د پېژندنې په اړه ډېرې مفصلې څرګندونې لري، چې دلته یې ځینې ټکي په لنډیز سره را اخلو:

((نقد (کره کتنه) په لغت کې له ناخالصـو زرو څخـه د چانـدي زرو بېلول او په ادبي اصطلاح د ادبي اثارو ارزښت پېژندنه او ارزښت ټاکنـه ده. د کره کتنې (نقد) د پېژندنې په اړه باید ووایو چې (نقد) یا کره‌کتنه یوازې په ادبي چارو پورې مربوطه نه ده او کېدی شي چې پر هـر ډول علمي، فني، هنري، فلسفي، تاریخي او نورو ډول ډول اثارو ترسره شي.

تر کومه چې خبره په ادبي کره کتنې پورې اړه لري، کله چې زمـوږ په ټولنو کې د (نقد) یا (انتقاد) خبره راپورته کېږي، د ځینو خلکـو پـه ذهن کې سملاسي (د عیب لټونې) په مانا او مفهوم افـاده کېـږي. پـه داسې حال کې چې له نقد څخه هدف هېڅکله هم یوازې نورو ته د یـو ادبي اثر ناوړه، کمزورې یا نیمګړې خواوې ښوول او په ګوتـه کـول نـه دي، بلکې له نقد څخه هدف د یو ادبي اثر ارزښت پېژندنه او نورو ته د هغو ښودنه ده، ځکه که د یو ادبي اثـر پـر معنـوي ارزښـتونو بانـدې پوهېدل د ټولو خلکو لپاره ممکن او شوني نه دي، د نقاد یا کره‌کتونکي د هڅې او کوښښ په نتیجه کې د هغه اثر ټولې خواوې د کره کتـونکي په وسیله په ژوره توګه تر غور او څېړنې لاندې نیول کېږي او بیا هغه د خپل کار نتیجه او ارزښت ټاکنه نورو ته خپروي. خو له بده مرغه زمـوږ په ټولنه کې ډېر ځله کله چې واورېدل شي پـر هغـه یـا دغـه کتـاب

کره‌کتنه (نقد) شوی، خلکو ته دا فکر پیــداکېږي چــې خامخــا د اثــر عیبونه او کمزوری په ګوته شوي، ځکه چې زموږ په ټولنه کې څوک له نقاد (کره کتونکي) څخه بله هیله او توقع نه لري.)) (۵۲۲-۴۷:۵۲۳)

د ادبپوهنې ددې څانګو تر پېژندنې وروسته اوس راځو خپلې اصلي موضوع (ادب تاریخ) ته! ادب تاریخ هم د ادبپوهنې له اساسي څــانګو څخه ګڼل کېږي، څرنګه چې ادب تاریخ دلته موږ ته د یوه مضمون پــه توګه مطرح دی، نو غواړو د یو مستقل عنوان په توګه یې وڅېړو، څــه ناڅه په تفصیلي ډول دلته دې بحث ته تم شو او د ادب تاریخ په بــاب خپل بحث له دې پوښتنې پیل کړو چې ادب تاریخ څه ته وایي؟ او بیــا همدې پوښتنې ته توضیحي ځواب پیدا کړو:

# ادب تاریخ څه ته وایي؟

(ادب تاریخ) له (ادب) او (تاریخ) دوو توکو څخه جوړه یا رغول شوې کلمه یا اصطلاح ده. د ادب کلمې د لغوي او اصطلاحي مانا په باب مو دمخه بحث کړی دی. او د (تاریخ) لغوی مانا نېټه، وخت، سنه، د کوم شي د وخت تعینول او د هغه کتاب نوم چې تېرې پېښې بیانوي او په اصطلاح کې ((په ځانګړې توګه د بشري پېښو مجموعې ته وایي، چې اجتماعي، سیاسي، اقتصادي، علمي، ادبي او کلتوري اوضاع او د پېښو د اړیکو څرنګوالی د علت او معلول پر اساس په کې څېړل شوی او ثمرې پرې بنا شوې وي. په عامه توګه د هر شي د تېر وخت مطالعې ته تاریخ وایي.)) (۱۰: ۹۳۴)

له اصطلاحي پلوه د ادب تاریخ د پېژندنې لپاره د بېلابېلو ادبپوهانو او څېړونکو له خوا یو لړ توضیحي او تشریحي څرګندونې وړاندې شوي، دلته یې ځینې ډېر عامې پېژندنې وړاندې کېږي:

پوهاند عبدالحی حبیبي یې داسې راپېژني:

((د یوې ژبې ادب تاریخ ټول هغه تحولات او لوړتیاوې او احوال چې له ابتداء څخه ورپېښ شوي، بیانوي.)) (۱۵: ۱۰)

پوهاند صدیق الله رښتین په خپل اثر (د پښتو د ادب تاریخ) کې د ادب تاریخ پېژندنه داسې کړې ده: ((د ادبیاتو تاریخ ډېر عام مفهوم

لري او په عامه مانا د یو ملت د علمي، ادبي، فکري ترقۍ او یا تنـــزل د حالاتو بیان ته د ادبیاتو تاریخ ویل کېږي.)) (۲۰: ۸)

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) لیکوال یې څو پېژندنې په دې ډول را اخیستي دي:

((۱- د ادب تاریخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبیاتو د پیدایښت او ودې جریان له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترڅ کې څېړي.

۲- ادبي تاریخ د انسان ژوند، لکــه څــومره چــې پــه ادب (هنــري ادبیاتو) کې تجلي کړې ده، رابرسېره کوي.

۳- د یوې ژبې ادبي تاریخ باید د هغې ژبې د ویونکــو د کلتــور پــه چوکاټ کې وڅېړل شي.)) (۲۴: ۱۸-۱۹)

اکاډمیسین دوکتور عبدالاحمد جاوید د (دري ژبــې د ادبیــاتو پــه باب) په خپل اثر کې وایي: ((ادب تاریخ هغه بحث دی چې د یوې ژبــې د ادبي افکارو وده، تسلسل، د کیفیت څرنګوالی او له منځه تلل په کې څېړل کېږي.))

( د ادب تیوري اساسونه) اثر لیکــوال یــې داســې راپېژنــي: ((ادب تاریخ د تاریخي پراختیا او انکشاف، د تاریخي اجتمــاعي شــرایطو او د هغو د چاپېریال له پلوه ادب څېړي او د تاریخ په جریان کې د بېلا بېلو تاریخي پوړیو اهمیت او اغېزه په ګوته کوي.)) (۳۱: ۵)

د ((پښتو ادبیاتو اصطلاحي قاموس)) لیکوال یې داســې راپېژنــي: ((ادب تاریخ په عامه توګه د نړۍ او په خاصه توګه د یو هېواد او قــوم د ادبیاتو د پرمختګ جریان مطالعه او تر څېړنې لانــدې نیســي، چــې د تکامل په مختلفو ټاکلو او ځانګړو دورو او مرحلو کې څرګند شــوی وي او همدارنګه د ځانګړو لیکوالو اثار هم تر تحلیل او څېړنې لاندې نیول

کېږي. په بله وینا:

ادب تاریخ په مختلفو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي پېښــو کــې د ادب پرمختیایي جریان تر څېړنې لاندې نیسي او په دغه جریان کــې د مختلفو اثارو ارزښت او مقام ټاکي.

په لنډ ډول سره: ادب تاریخ د ادبي جریــان پرمختــګ او مختلفــې پدیدې او ټاکلې دورې تر څېړنې لاندې نیسي.)) (۲۷: ۲)

د ((فرهنګ ادبیات پښتو)) درېیم ټوک لیکوال لیکي: (( ادب تاریخ د ادبپوهنې یوه څانګه ده، چې د ادبي پرمختیا بهیر څېړي او په تــرڅ کې یې د ډول ډول ادبي پدیدو ځای او ارزښت ټاکي. ادب تاریخ کلــه د یوې ټولنې او یا سیمې د ادبي جریاناتو پرمختیا په تاریخي دورو او کله هم په یوې ټاکلې دوره کې تر مطالعې لاندې نیسي.))

د ((پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر لیکوال د ادب تــاریخ پــه اړه د ګل محمد نورزي د کابل مجلې ((ادب پېژندنه)) لیکنې په حواله داسې توضیحي څرګندونې راخیستي دي: ((د ادبیاتو تاریخ د یوه فرهنګ او ثقافت د پېژندګلوۍ لپاره تر ټولو غوره وسیله ده، چې د هغه په مرسته پوهېږو ادبي اثار، افکار او ادبیات له څه تغیراتو او د کومو لاملونــو پــه وسیله له ننني پرمختګ یا مخڅوړ سره مخامخ شوي دي.)) (۴۰: ۳۰)

که د ادب تاریخ پورتنۍ بېلابېلې پېژندنې په غور سره ولولــو، ډېــر شریک ټکي به په کې وګورو، لــه دې ټولــو څخــه د ادبیــاتو تــاریخ د پېژندنې لپاره داسې مشترک ټکي وړاندې کولای شو: ((د ادبیاتو تاریخ هغه پوهنه ده چې د تاریخ د بېلابېلو پېړیو په پوړیو کــې د یــوې ژبــې علمي، ادبي لوړتیا او ځوړتیا څېړي او د ټولنیزو چاپېریالي شــرایطو او حالاتو په رڼا کې د ادبي ودې او تنزل د پېښو اصلي عوامــل پــه ګوتــه

کوي.)) (۴۸: ۲۳-۲۴)

## د ادب تاریخ موضوع:

څومره چې د ادب موضوع پراخه ده او په ادبي اثارو کې د بشري پوهنو او انساني معلوماتو او اطلاعاتو ډېرې برخې چې د شعر او ادبي نثر په بڼه بیان شوي، د ادب په ساحه کې مطالعه کېږي، دغسې د ادب تاریخ موضوع هم ډېره پراخه ده.

پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ په لومړي ټوک کې د ادب تاریخ د موضوع په اړه لیکي: ((د یوې ژبې ادب تاریخ ټول هغه تحولات او لوړتیاوې او احوال چې له ابتدا څخه ورپېښ شوي، بیانوي، نو لکه د ادب موضوع چې ډېره ارته او پراخه ده د ادب تاریخ موضوع هم دغسې ده:

د ژبې پخوانی حال او وروستني انقلابونه او ټول تحولات ښیي. په ژبه کې چې څه علوم او فنون موجود وي، تاریخ یې څرګندوي، په تفصیلي توګه د یو ملت د فکري او علمي لوړتیااوو احوال او اوضاع لیکي، د ټولو پوهانو د ژوندانه پېښې او د دوی کتابونه او علمي کارنامې او اثار ښیي.)) (۱۴: ۱۰- ۱۱)

د ادب تاریخ موضوع داده چې په پرله پسې پېړیو کې لفظي او فکر بدلونونه وځېړي او مقصد ورڅخه دا وي چې د ویناوو او افکارو ترمنځ توپیر پیداکړي او بیا ورڅخه د منطقي او فکري لارو لپاره بنسټونه پیدا کړي. سربېره پر دې ادب تاریخ زموږ د فرهنګ له تېر تاریخ سره د پېژندنې ښه وسیله ده. دا موږ ته په ګوته کوي چې موږ له کومو حوادثو لوړتیا او ځوړتیا څخه تېر شوي یو او اوسني حالت ته رسېدلي یو.

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) لیکوال د ادبي تاریخ د موضوع په اړه داسې نظر لري: ((د ادبي تاریخ د موضوع په باب بېلابېلې نظریې څرګندې شوې دي. ددې نظریو په قطب کې هغه نظریه ده چې ادب تاریخ د فرهنګ له تاریخ سره یو شانته ګڼي. ددغې نظریې پر اساس ادب تاریخ د یو ملت د علمي، ادبي، فکري او هنري ترقۍ یا تنزل د حالاتو بیان او د تاریخ د هرې دورې د حالاتو څرګندونکی دی.

په دغه تعریف کې ساینس، فلسفه، عقاید، هنر او نورې کلتوري پدیدې هم شاملې دي. په دې ترتیب د ادب اصطلاح د فرهنګ مترادفه ګڼل شوې ده.

په بل قطب کې هغه نظریه ده چې ادب تاریخ د ادبي تذکرې سطحې ته راټیټوي او په هغه کې د کرونولوژۍ پر اساس د شاعرانو او ادیبانو د ژوند حالات او اثار معرفي کوي...

ددغو دوو قطبونو ترمنځ یې مهم تعریفونه په دې ډول دي:

۱- ادب تاریخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبیاتو د پیدایښت او ودې جریان له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترڅ کې څېړي.

۲- ادب تاریخ د انسان ژوند لکه څومره چې یې په ادب (هنري ادبیاتو) کې تجلي کړې ده، رابرسېره کوي.

۳- د یوې ژبې ادبي تاریخ باید د هغې ژبې د ویونکو د کلتور په چوکاټ کې وڅېړل شي.

اوسنی عمومي تمایل دادی چې ادب تاریخ باید ژبني هنري اثار (ګړني او لیکني) له هغو شرایطو سره په ارتباط کې وڅېړي چې نوموړي اثار په کې ایجاد شوي دي.)) (۲۴: ۱۸-۱۹)

دې پورتنیو څرګندونو ته په پاملرنه که موږ د یوې ژبې ټول هغه

لیکلي اثار په پخوانۍ اصطلاح ادبیات وبولو، چې د بېلابېلو علومــو او فنونو په اړه دي (لکه کیمیــا، بیولــوژي، هندســه، ریاضــي، تــاریخ، جغرافیه، فلسفه، اقتصاد او...) نو په دې صــورت کــې د ادب تــاریخ موضوع ډېره پراخېږي او ټول علوم او فنون او د هغو تاریخي بهیــر او د ودې او پرمختیا څرنګوالی د ادبیاتو دتاریخ نــه، بلکــې دعلومــو او فنونو تاریخ بولو او که چېرې ادبیات د یوې ژبې هنري او تخلیقي اثار وي، نو په دې صورت کې بیا یوازې همدغه ډول ادبي اثار د ادبیاتو په تاریخ کې مطالعه کېږي او د ژبې هر ډول اثار د ادبیاتو په تاریخ کې نه ځایېږي. د ژبې هر ډول اثار لا څه چې اوس هغه منظوم اثار هم، چــې هنري او ادبي ارزښتونه نه لري، په ادبیاتو کې نه شمېرل کېږي، نــو د ادبیاتو په تاریخ کې هم د مطالعې مورد نه لري. لکه ځینــې مــذهبي فقهي، طبي، تاریخي او جغرافیایي او نور ډول ډول مسایل، چې زموږ په ژبه (پښتو) کې په نظم بیان شوي، خو هنري او ادبي ارزښتونه یې په نشت حساب دي.))

کله کله له ځینو خلکو سره دا پوښتنه وي چــې ادبــي تــذکره او ادبي تاریخ دواړه د یوه لیکوال پنځونې مطالعه کوي او خوندي کــوي یې، نو ددې د اړو ترمنځ توپیر څه دی؟ یا هم ځینې لوستونکي یې یو بل سره نه شي توپیرولای، نو ددې په خاطر چې د دواړو ترمنځ توپیر وشي، ښه ده چې ادبي تذکره هم په لنډېز سره دروپېژنــو او لــه ادب تاریخ سره یې توپیر هم په ګوته کړو:

# ادبي تذکره څه شی دی؟

د ادبي تذکرې د لغوي او اصطلاحي پېژندنې په اړه په اریانــا دایــرة المعارف (پښتو) لومړي ټوک کې داسې راغلي دي: ((تذکره عربي کلمه ده چې لغوي مانا یې فرهنګونو: ذکر، بیان، یادښت، یادونه، تبصره او د پېژندنې پانه ښودلې او په اصطلاح کې هغه اثر ته ویل کېږي چې په کې د پوهانو، عارفانو، دیني او ملي مشاهیرو او نورو نومیالیو شخصــیتونو، د احوالو، ژوند پېښو او اثارو پېژندنه کېږي.

په ادبي او فرهنګي مطالعاتو کې ادبي تذکره هغه اثر ته ویل کېــږي چې د شاعرانو او لیکوالانو ژوند پېښې او اثار په کې معرفي شــوي وي او ضمناً په کې د هغوی د منظومو او منثورو لیکنو بېلګې هم خونــدي شوې وي.)) (۲: ۲۶)

## د ادبي تذکره لیکنې عمومي اصول:

سرمحقق زلمي هېوادمل په خپله یوه مقاله ((ادبي تــذکره او ادبــي تاریخ)) کې د تذکره لیکنې پر اصولو مفصل بحث کړی چې دلته یې په لنډیز سره ځینې ټکي را اخلو:

((د تذکره لیکنې عمومي او کُلي اصول داسې ښودلای شو:

**۱- د شاعر یا لیکوال بشپړ احوال:** تذکره باید د شاعر، ناظم یا لیکوال نوم، تخلص، مستعار نومونه، د زوکړې نېټه، د پلار نوم، کــورنۍ، قوم، زده کړې، استادان، دوستان، شاګردان، کورنۍ وضعه، د اوســېدو

ځای، سفرونه، عقیده، مذهب، عرفاني لاره (که یې ولري) که شاعر مړ وي د مړینې نېټه، مړستون، دا چې شاعر یا لیکوال پر څو ژبو پوهېده او دې ته ورته نورې خبرې.

۲- **د شاعر اثار او ایجادات:** په ادبي تذکره کې دې د شاعر یا لیکوال د ژوند پېښو ترڅنګ د هغه منظوم یا منثور اثار هم معرفي شي.

۳- د شاعر او لیکوال د اثارو د شکلي او موضوعي ځانګړنو څرګندونه دې وشي، خو پر هغو کره کتنه او تبصره د تذکره لیکونکي نه، بلکې د ادبي کره کتونکي او ادبي مورخ کار دی.

۴- د شاعر او لیکوال د ژوند پېښو او اثارو د پېژندنې ترڅنګ د هغوی د شعرونو او نثري لیکنو بېلګې راوړل. د کلام یا لیکنو د بېلګو په راوړلو کې باید د تذکرې لیکوال:

الف- که د شاعر یا لیکوال منظم اثار په لاس کې وي له هغو څخه دې داسې ځانګړې بېلګې راواخلي چې د هغه د فکر او هنر ارتقایي بهیر ورڅخه جوت شي.

ب- که شاعر یا لیکوال څو اثره ولري له هغو څخه دې څو نمونې راخوښې کړل شي.

ج- که د نظم یا نثر یوه بېلګه په لاس کې نه وي په هغه صورت کې ادبي تذکره لیکونکی پړ نه ګڼل کېږي.))

## د ادبي تذکرو ډولونه:

د اردو ژبې پیاوړی لیکوال (ډاکتر علمدار حسین بخاري) په خپلې هغې مقالې کې چې په ((ادبي تاریخ نویسي)) اثر کې د ((اردو شاعرو

کا تذکری اور ادبی تاریخ نگاری)) د بېلابېلو ځانګړنو لــه مخــې ادبــي تذکرې پر شپږ ډوله ښودلې او وېشلې دي:

۱- هغه ادبي تذکرې چې په هغو کې یــوازې د پیــاوړو شــاعرانو او لیکوالانو د ژوند حالات او د کلام بېلګې خوندي شوې وي.

۲- هغه ادبي تذکرې چې په کې د یادونې وړ ادیبان راغلي او د هغو د نظم او نثر زیاتې بېلګې په کې وي، خو د ژوند مفصل حالات په کــې راغلي نه وي. لکه بیاضونه او نورې غورچاڼ ټولګې.

۳- هغه تذکرې چې په کې دیوې ژبې شاعري پر بېلابېلــو پړاوونــو وېشل شوې وي او له دې ډول تذکرو څخه موخه د یوې ژبې د شاعرۍ د ودې او پرمختیا ښودنه وي.

۴- هغه ادبي تذکرې چې د یوې مخصوصې یا ځانګړې ادبــي دورې د شاعرۍ څرګندویي کوي.

۵- هغه تذکرې چې د یوې ســیمې یــا یــوې ډلــې د شــعر او ادب استازیتوب کوي.

۶- هغه ادبي تذکرې چې یوازینۍ موخه یې د شعر او ادب کره کتنه او سمون وي.))

په فرهنګنامه ادبي فارسي، دویم ټوک کې یې ادبي تذکرې پــر دوه ډوله وېشلې دي:

۱- عامه ادبي تذکره: چې په کې پــه عــام ډول د یــوې ژبــې ټــول شاعران معرفي کېدی شي. لکه پــه دري ژبــه کــې د عــوفي ((لبــاب الباب)).

۲- خاصه ادبي تذکره: هغه تذکره چې په یوې خاصې زمانې پــورې اړوندېږي او په کې د هغې ځانګړې زمانې شاعران پېژندل کېږي، لکــه

په دري ژبه کې د احمدبیګ ګرجي ((تذکره اراء)) چې لیکوال په کې د خپلې زمانې شاعران معرفي کړي دي.))

## د ادب تاریخ او ادبي تذکرې توپیرونه:

دمخه مو لومړی ((ادب تاریخ)) او بیا ((ادبي تذکره)) پـه لـږو ډېـر تفصیل دروپېژندل او له هغې څخه دې پایلې ته ورسېدو چې تذکره په عامه توګه د تاریخ پوهنې څانګه ده او په تاریخي څېړنو پورې اړه لري، خو په ادبي مطالعاتو کې ((ادبي تاریخ)) او ((ادبي تذکره)) د تالیف دوه ځانګړي او جلا ډولونه دي. چې یو له بل سره لږو ډېر اړیکي لري.

په ځانګړې توګه ادب تاریخ په زیاتو مواردو کې پر ادبي تـذکره ډډه لګوي، خو ادب تاریخ ادبي تذکره نه ده او دغسې ادبي تذکره هـم لـه اوسنیو معیارونو سره سم ادبي تـاریخ نـه دی. د دواړو تـرمنځ جـوت توپیرونه شته د (ادبي تاریخ او ادبي تذکره) مقالې لیکوال دا توپیرونـه داسې ښودلي دي: ((کېدی شي په یوې ادبي تذکره کې د یوې ژبــې د بېلابېلو دورو او په بېلابېلو جغرافیوي سیمو او ان فرهنګي حوزو کې د اوسېدلو شاعرانو، ناظمانو او لیکوالانو احوال او اثار مطالعــه شــي او دا معرفي، کېدی شي په الفبایي سیستم یا د سیمو په لحاظ او یـا هــم د تاریخي تقدم او تاخر له مخې په کرونولوژیک سیستم ترتیب او تنظیم شوې وي. حال دا چې په ادب تاریخ کې دا روش نه تعقیبېږي.

په ادب تاریخ کې د هرې دورې اثار، لیکوال او شــاعران پــه خپلــه دوره کې د ادبي پېښو او ادبي جریاناتو د انکشاف پـر اســاس څېــړل کېږي.

د ادب تاریخ په مورد کې دا خبره هم د هېرولو نه ده، چې پــه ادب

تاریخ کې د یوې ژبې د ټولې جغرافیې اثار نه شي مطالعه کېدی او دا ځکه چې په بېلابېلو جغرافیوي سیمو کې، چې تر مختلفو سیاسي، اقتصادي او اجتماعي سیستمونو لاندې واقع وي، هورې د ادبیاتو ایجاد او ودې شرایط هم توپیر سره لري او موږ نه شو کولای چې د یوې ژبې ګرده اثار، چې په بېلابېلو هېوادونو کې تر بېلابېلو اجتماعي شرایطو لاندې یې وده موندلې وي، په یو ادب تاریخ کې مطالعه کړو.

د مثال په توګه که موږ اوس یوه پښتو تذکره لیکو کېدی شي په دې تذکره کې په افغانستان، پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا، پاکستان، کشمیر، هند او بنګال کې ځینې تېر شوي شاعران، چې په پښتو ژبه یې اثار پرې ایښي وي، سره یوځای معرفي کړو، خو په ادب تاریخ کې هلته د ادبي پدیدو د ایجاد او ودې مراحل له سیاسي، اجتماعي او اقتصادي شرایطو سره په ارتباط کې مطالعه کېږي. موږ نه شو کولای چې په دغو ګردو سیمو او هېوادونو کې ایجاد شوي ادبیات په یوه ادبي تاریخ کې یوځای سره مطالعه کړو.

کله چې څوک پښتو ادب تاریخ لیکي، نو په پخوانیو دورو کې چې ددغو سیمو برخلیک په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي لحاظ سره د یوه واحد یا سره مشابه نظام په وسیله ټاکل کېده، دومره مشکل نه دی محسوس ځکه نو موږ کولای شو چې په لومړیو دوو پخوانیو دورو کې دغه ګرده ادبیات په یوه واحد ادبي تاریخ کې راوړو، خو په معاصره دوره کې چې په ادبیاتو کې د تجدد، معاصریت او نویوالي نښې په دغو ټولو سیمو کې پر یو وخت نه دي څرګندې شوي او تر یو ډول شرایطو لاندې یې وده نه ده موندلې، حتی د پښتونخوا او بلوچستان په سیمو کې دغسې توپیرونه ښکاره دي. حال دا چې په معاصره دوره کې دغه

دواړه سیمې تر یوه سیاسي سیستم لاندې واقع دي. دا په دې مانا چې په بلوچستان کې د معاصرو ادبیاتو انکشاف او ودې جریان د پښتونخوا په پرتله ډېر ورو پرمخ درومي، نو ځکه موږ د پښتونخوا او بلوچستان معاصر ادبیات هم په یوه واحد ادبي تاریخ کې نه شو څېړلای.

کېدی شي په ((ادبي تذکره)) کې د ادبي او هنري اثارو د لیکوالو او شاعرانو ترڅنګ ځینې ناظمان هم معرفي شي، د شرقي ژبو تذکرې د دغسې ناظمانو په معرفیو، احوالو او اثارو ډکې دي، خو په ادب تاریخ کې د ناظمانو او هر ډول لیکوالو اثار د مطالعې ځای نه لري.

د تذکرې او ادبي تاریخ ترمنځ دا او داسې نور لوی واړه توپیرونه شته او موږ کولای شو د تالیف ددغو دواړو ډولونو د مطالعې ساحې سره بېلې کړو.)) (۴۷: ۴۶۸)

له پورته څرګندونو څخه جوتېږي چې ادبي تذکره او ادب تاریخ د تالیف دوه ځانګړي ډولونه دي، چې هېڅکله باید یو شی ونه ګڼل شي. ځکه چې ادبي تذکره یوازې لیکوال او شاعران راپېژني او د هغو له اثارو سره مو اشنا کوي، خو ادب تاریخ بیا د یوې ژبې ادبیات له تاریخي پېښو سره په اړیکه کې تشریح او توضیح کوي، نومیالي لیکوال او شاعران هم راپېژني او د هغوی د اثارو ادبي او هنري ارزښتونه هم او په یوه ځانګړې ادبي دوره کې د دغو اثارو او د هغو لیکوالو او شاعرانو له دریځ څخه مو هم خبروي. البته دا بېله خبره ده چې د ادب تاریخ په لیکنه کې ادبي تذکرې د یوه اخځ او سرچینې په توګه خپل لوړ ارزښت او اهمیت لري. د ادبپوهنې پر دې اساسي څانګو تربحث وروسته اوس غواړو د ادبپوهنې فرعي یا څنګزنو څانګو ته هم په لنډیز سره اشاره وکړو:

## د ادبپوهنې فرعي څانګې:

په ادبي څېړنو کې د ادبپوهنې یو شمېر فرعي څانګې هم ښودل شوي دي، چې دلته يې په لنډه توګه درپېژنو:

د فرهنګ ادبیات پښتو درېیم ټوک لیکوال د ادبپوهنې فرعي څانګې داسې راپېژني:

((ادبپوهنه پر اصلي او بنسټیزو څانګو سربېره دا لاندې فرعي څانګې هم لري:

الف: د ادبپوهنې تاریخ، چې له څېړونکو سره د ادبپوهنې د هرې څانګې د ودې او پرمختیا په پېژندنه کې مرسته کوي.

ب: متن پوهنه

ج: کتاب پوهنه

سربېره پر دې ادبپوهنه له فلسفې، ښکلا پېژندنې، هنر پېژندې او ژبپوهنې څخه مرسته غواړي.)) (۵۵: ۱۰- ۱۱)

کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي د ادبپوهنې د فرعي څانګو په اړه لیکي:

((ادبپوهنه ځینې فرعي څانګې هم لري، لکه: ادبي هیسټوروګرافي (د ادبي تاریخ لیکنې میتودولوژي) سبک پېژندنه، ببیلوګرافي (کتابښود) او ډراماټرجي، البته ډراماټرجي د سینماتوګرافي په شان د هنر پوهنې جلا څانګه ده. اوسنی تمایل دادی چې هغه د ادبپوهنې په ساحه کې ونه څېړل شي.))

د ادبپوهنې د فرعي څانګو په پورتني وېش کې سبک پېژندنه یا سبک پوهنه هم د ادبپوهنې یوه فرعي څانګه بلل شوې، خو اوسني زیاتره ادبپوهان سبک پېژندنه یا پوهنه د ادبپوهنې په اصلي څانګه (ادبي تیوري) پورې اړوند ښاخ بولي او د ادبپوهنې فرعي څانګه يې نه

ګڼي.

دوکتور اسدالله حبیب د ادبپوهنې فرعي څانګې داسې راپېژني:

((ادبپوهنه پر اصلي څانګو سربېره ځینې فرعي څانګې هم لري چې هغه د ادبپوهنې د تاریخ لیکنه، متن پوهنه او کتاب پېژندنه ده.

الف: د ادبپوهنې د تاریخ لیکل مورږ د ادبپوهنې د هرې اصلي څانګې له تاریخي ودې او پرمختیا سره اشنا کوي او د هرې څانګې له سترو لاسته راوړنو څخه په استفاده د بریالیو څېړنو د ترسره کولو لارې چارې برابروي.

ب: متن پوهنه، اثر له هر ډول اشتباهاتو او له بهر څخه وارد شویو مطالبو څخه پاکوي او د اثر له لیکوال سره د مواردو په پېژندنه او تشخیص کې مرسته کوي.

ج: د لیکوال د اثارو په کتاب پېژندنه کې په لنډو څرګندونو او توضیح سره، چې د هغو کتابونو د بېلابېلو چاپونو په اړه چې د نوموړو اثارو په هکله لیکل شوي او د هغو اثارو په اړه چې له عمومي ادبپوهنې څخه بحث کوي، لیکل کېږي. دغه ډول څېړنې له لوستونکو یا مطالعه کوونکو سره دا مرسته کوي، چې د زیات شمېر کتابونو او خپرونو ترمنځ د خپلې خوښې او اړتیا وړ څه په اسانۍ سره ترلاسه کړي.))

(۱۲: ۵)

د ادبپوهنې د اساسي او فرعي څانګو تر پېژندنې وروسته اوس راځو د خپل بحث بلې موضوع ته او هغه دا چې دې پوښتنې ته باید ځواب پیداکړو چې ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ غواړو ددې پوښتنې ځواب د ادبپوهنې د همدې اساسي او فرعي څانګو د اصولو په رڼا کې ترلاسه کړو.

# ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟

کله چې موږ د ادبپوهنې په رڼا کې ادبیات څېړو، نو یوه مهمه پوښتنه په کې دا رامنځته کېږي چې ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ نوې دوره له پخوانۍ څخه څومره اغېز اخلي. ایا ادبي دورې هم د سیاسي تاریخ د دورو په شان مشخصه نېټه، پیل او پای لري او که نه یوه په بلې کې داخلېږي؟ ادبپوهان په عمومي ډول په دې نظر دي چې یوه ادبي دوره هغه وخت تشکیلېږي چې ادبیات یې داسې کمي او کیفي ځانګړنې ولري چې تر هغې پخوانۍ یې توپیر اوچت څرګند شي. د زمان اوږدوالی او لنډوالی په کې قید او شرط نه دی. څرنګه چې یوه ادبي دوره په بله کې تداخل او امتداد پیداکوي په دې خاطر اسانه خبره نه ده چې یوه دوره له بلې څخه په یوه مشخصه تاریخي نقطه کې جلا شي، دا حالت د نړۍ د اکثرو ژبو په ادبیاتو کې پېښ شوی دی. په ادب تاریخ کې یوه موضوع هم د ادبي دورو د وېش مسله ده، دلته غواړو په دې پوه شو چې د ادب تاریخ له نظره ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي او څنګه یوه له بلې بېلېږي؟

د ادبیاتو د تاریخ ډېره ستره او مهمه بنسټیزه دنده د تاریخ په اوږدو کې د یوې ژبې د ادبیاتو مطالعه او پر بېلابېلو ادبي دورو د هغو وېشنه ده.

د یادونې وړ ده چې په ادب تاریخ لیکنه کې د ادبي دورو تشخیص

او ټاکل یو ستونزمن کار دی او د ادبــي مــورخ زیاتــه پاملرنــه او کــړاو غواړي.

د ادبي دورو وېش لپاره کوم ټــاکلی او منلــی معیــار نــه شــته او د بېلابېلو ژبو ادب تاریخ لیکونکو په دغه برخه کــې ځــانګړي ځــانګړي معیارونه کارولي دي.

د ((ادبپوهنه)) اثر لیکوال د ادبي دورو د وېش په اړه د یو ټــاکلي او منلي معیار د نشتوالي لامل داسې ښودلی دی: ((د ادبي دورو د وېــش په برخه کې تر ډېره د یوه ټاکلي معیار د نشتوالي یو ســتر علــت دادی چې ځینې ادبي جریانونه په اسانۍ سره خپل ځای نوي ادبي جریان ته نه خوشې کوي. کله کله د یو ادبي جریان ریښې ډېرې پخوانۍ وي، پــه تدریجي توګه وده مومي. د هغه د انکشاف په دوران کې ښایي یــو بــل قوي ادبي جریان رامنځته شي او یا له منځه ولاړ شــي. لنــډه دا چــې ادبي مکتبونه، ادبي تمایلات اکثره داسې نه دي چې له کــوم سیاســي رژیم سره رامنځته شي او د هغه له سقوط سره سم بې له ځنډه محــوه شي. کله کله شرایط بدل شوي وي، خو ادبي عنعنــه لا پرځــای پــاتې وي.)) (۴۸: ۲۷)

د پښــتو ادبیــاتو تــاریخ (معاصــره دوره) اثــر لیکــوال (کاندیــد اکاډمیسین محمد صدیق روهي) هم د ادبي تاریخ په لیکنه کې د ادبي دورو د ټاکنې او وېش موضوع له ستونزو ډکه بللــې او د ادبــي دورو د وېش د مسلې په اړه یې مفصل بحث کړی، چې په لنډیز سره یې ځینې ټکي را اخلو:

((د ادبي تاریخ لیکنې میتودولوژۍ یوه لویه ســتونزه د ادبــي دورو ټاکنه ده. ادب تاریخ لیکونکو په دې اړه له بېلابېلــو لارو او میتودونــو

څخه کار اخیستی دی، چې ځینې یې دادي:

**۱- د ادبي ژانرونو، ادبي سبکونو یا ادبي مکتبونو پر اساس د دورو ټاکنه:**

د دورو د وېش لپاره ددې میتود یا لارې ښـګڼه داده چې د ادب ذاتي تطور یې د معیار په توګه ټاکلی دی. ادب تاریخ په اصل کې د ادبي جریاناتو تاریخ دی، نو کله چې یو ادبي مکتب خپل ځای بل ادبي مکتب ته پرېږدي د ادب تاریخ بله دوره پیلېږي. ادبي مکتبونه که له یوې خوا له ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي پېښو سره اړه لري، له بلې خوا نسبي خپلواکي هم لري. د ادبي دورو د ټاکنې ددغې لارې یوه ستره ستونزه داده چې ادبي ژانرونه او ادبي مکتبونه کله کله پر یو وخت پیلېږي. د بېلګې په توګه: په پښتو ادبیاتو کې اکبر زمینداروی لومړنی شاعر دی چې د مثنوي او غزل بېلګې یې تر موږ رارسېدلې دي، نو دغه دوره په پښتو ادبي تاریخ کې په څه نامه یاده کړو؟ د غزل دوره یې وبولو او که د مثنوي؟ همدارنګه په اروپا کې د سمبولیزم، دادائیزم او سوریالیزم ادبي مکتبونه پر یو ټاکلي وخت (۱۹۲۴-۱۸۸۰م) راټوکېدلي دي او په یو ادبي چاپېریال کې یې وده کړې ده.

**۲- د پاچهانو د کورنیو پر اساس د دورو وېش:**

د دورو د وېش دا لاره د ادبي پدیدو د پرمختیا له توضیح او تحلیل سره مرسته نه شي کولای. ادبي سبکونه، مکتبونه او ژانرونه د کوم پاچا یا واکمن په حکم یا دستور منځته نه راځي او د هغه مړینه هم پر ادبي جریان کومه ځانګړې اغېزه نه لري.

## ۳- د ټولنيز-اقتصادي فورماسيون د تيورۍ پر بنسټ د ادبي دورو وېشنه:

ددې لارې پلويان د ادب تاريخ د دورو وېشنه هم د پنځو تاريخي دورو له مخې کوي. ددې نظريې د پلويانو په اند ادب د ټولنيز شعور يو شکل دی، چې د بنسټ له بدلېدو سره سم بدلون مومي، يانې کله چې توليدي مناسبات بدلون مومي په ادب کې هم بدلون راځي.

د يادونې وړ ده، چې د ادبي دورو د وېش دغه نظريه (تيوري) د ادبي تاريخ په برخه کې په بشپړه توګه د تطبيق وړ نه ده. د مثال په توګه په پانګوالي نظام کې په اروپا کې د سورياليزم، دادايزم او داسې نور زيات شمېر ادبي مکتبونه رامنځته شوي، ان دا چې کمونيستي ادبيات هم په دغه دوره کې ايجاد شوي، نو په ادب تاريخ کې د يوې تاريخي دورې تر سرليک لاندې د ټولو ادبي جريانونو شرحه له ستونزو ډکه ده.

## ۴- د تاريخي، سياسي او ټولنيزو پېښو پر اساس د ادبي دورو وېشنه:

ددغې لارې له مخې په ادب تاريخ کې د دورو وېش هم لږو ډېرې نيمګړتياوې لري. که څه هم سياسي او ټولنيزې پېښې پر ادبي بدلون او تحول باندې اغېزه لري، خو هغه د ادب تاريخ اصلي موضوع نه ګڼل کېږي. د ادب تاريخ اصلي موضوع په خپله ادب دی.))

استاد محمد صديق روهي د ادبي دورو د وېش په اړه د خپلو څرګندونو په پای کې وايي: ((اوس نو پوښتنه راولاړېږي چې د ادبي دورو د وېشنې معيار څه شی دی؟ ددې پوښتنې په ځواب کې ويل

کېدی شي چې د ادبي اثارو د محتوا او شکل په بدلون سره نوې ادبي دوره پیلېږي. ادبي تحول باید اصلي معیار وي لیکن باید زیار وایستل شي، چې د ادبي تحول علتونه څرګند شي. البته دا احتمال شته چې ځینې وختونه ادب او سیاست یو له بله دومره نږدې وي چې ادبي تحول او سیاسي تحول یو ګډ نوم غوره کړي، لکه په پښتو ادب کې د روښانتیا دوران.)) لیکوال په پای کې وړاندیز کړی چې دده په اند په ادب تاریخ کې د ((ادبي دورې)) پرځای د ((ادبي دوران)) کلمې کارول غوره دي. ځکه چې یوه دوره پای ته نه وي رسېدلي چې بله پیل شي او لوړې څوکې ته ورسېږي. د مثال په توګه: د ریالیزم دوره چې دمخه پیل شوې ده لا تراوسه دوام لري او ددغې دورې په اوږدو کې د نیچرلیزم (ناتورالیسم) سمبولیزم، اګزیستنتالیزم او سوریالیزم په شان یو شمېر ادبي مکتبونه راوټوکېدل او ثمرې ته ورسېدل.

د ((دوران)) کلمې مقصد دادی چې په یوه دوره کې ښایي ډېر نور ادبي جریانونه د شهرت اوج ته ورسېږي. دغسې لوړې څوکې یا د شهرت اوج د ((دوران)) په نامه یادېږي.)) (۴۷: ۴۳۷- ۴۴۰)

د ادبیاتو د تاریخ د دورو د وېش په باب د پښتو ادبیاتو (معاصره دوره) اثر د لیکوال په دغو پورتنیو څرګندونو کې مونږ د ادبي دورو د وېش بېلابېلې لارې وپېژندلې او په ترڅ کې یې د هغو له ځانګړتیاوو او نیمګړتیاوو هم خبر شو او په پای کې د لیکوال هغه نظر مو هم ولوست چې د ادبي دورو د وېش په اړه یې وړاندې کړی دی.

د ((ادبیاتو تاریخ مسالې)) د مقالې لیکوال (کاندید اکاډمیسین محمد انور نومیالی) د ادبي دورو د وېش په اړه داسې نظر لري: (( که د ادبي اثارو کیفیت یې ډېر وي او هم یې د کلتوري اوښتونونو له پړاو

سره د کيفي تغير نښې څرګندې وي، نو کېدلای شي چې د ښې دقيقې پېژندنې او تصنيف لپاره يې خاصه دوره بندي وټاکو، خو دا دوره بندي هېڅ لازمه نه ده، چې بايد د نېټې او کرونولوژۍ په اعتبار وي. کېدی شي چې د ادبي اثارو د نوعيت يا د کوم شاعر په نامه او يا د کومې بلې مبداء پر بنا يې تثبيت کړو.

د خاصو دوره بنديو په مورد کې به ښه دا وي چې د هرې ژبې خپل محتويات په پام کې ونيسو او ځانګړې دوره بندي يې منځته راوړو. که په دې مورد کې د نورو ژبو تقليد کوو او يا د هغو له دوره بنديو څخه تقليدي استفاده کوو، نو څرنګه چې محتوا يې تفاوت سره لري. ارومرو پر ډېر مشکل اخته کېږو. ځکه چې يوه ژبه ښايي په خپله يوه دوره کې د کميت او کيفيت له پلوه ډېره شتمنه، خو بله ژبه بيا په هم هغه زماني حد کې بېخي بېل تاريخي جريان ولري، چې د بلې ژبې لپاره کفايت نه کوي، د هرې ژبې د ادبياتو تاريخي تصنيف هم بايد د هغې ژبې په محتوا کې تثبيت شي.)) (۴۵: ۸۹)

شوروي ادبپوه (عبدالنبي ستار زاده)، په خپله مقاله کې، چې پوهنمل لطيف ناظمي په دري ژبه ((دوره بندی ادبيات از نګاهی روش شناسی)) تر سرليک لاندې ژباړلې ده، د ادبي تاريخ د دورو د وېش او ډلبندۍ طرحه داسې وړاندې کړې ده:

((کولای شو ووايو چې د ادبياتو په دوو ډولونو ډلبندۍ يانې علمي او عملي ډلبندۍ کې لاندې طريقې راڅرګندېږي:

۱- د واکمنو کورنيو پر بنسټ د ادبياتو د دورو وېش.

۲- د زماني بهير پر بنسټ د ادبي دورو وېش.

۳- د ادبي ښوونځيو، سبکونو او ژانرونو پر بنسټ د ادبي دورو وېش.

۴- د ټولنيزو، سياسي او تاريخي پېښو پر بنسټ د ادبي دورو وېش.
۵- د عامو تاريخي دورو پر بنسټ د ادبي دورو وېش)) (۴۷: ۴۴۱)

د ((ادبپوهنه)) ليکوال د ادبي دورو د وېش په اړه د مفصل بحث په يوه برخه کې ليکي: ((په لويديزه نړۍ، په ځانګړې توګ د انګرېزي ژبې په ادب تاريخونو کې د ادبي دورې د ټاکلو يو معيار دادی چې هره دوره يا عصر د يو نوميالي استازي ليکوال او اديب په نامــه يــادېږي، لکــه د (چاسر) عصر، (سپنسر) عصر او داسې نور او يا ادبي دورې د پېړيو پــه نوم نومول کېږي، لکه د (پنځلسمې) پېړۍ ادبيات، د (اتلسمې) پېــړۍ ادبيات او داسې نور. ځينې وخت يې بيا د مسلطو ادبي مکتبونو په نوم نوموي، لکه د( کلاسيزم) عصر، د (رومانتيسيزم) عصر او نور.

زموږ په ادبياتو کې د ادبي دورو په وېــش او ټاکنــه کــې هــم دغــه ستونزه موجوده ده. په پښتو او دري ژبو، چې د ادبياتو د تاريخ په نــوم کوم اثار ليکل شوي، ليکوالانو يې پرته له دې چې په ادب کې د فــورم او محتوا د کمي او کيفي بدلون، د ادب د ودې او انکشاف جريــان او د هغه عوامل په پام کې ونيسي له خپلې خوښې او ذوق سره سم يــې د ادبي دورو وېش په عنعنوي توګه کړی دی:

چا پر هېواد باندې د بهرنيو يرغلګــرو د تــاړاکونو او چــا د کورنيــو شخړو او اشخاصو ترمنځ د سياسي واک د لېږدېدو، ځينو بيا د سياسي نظامونو د بدلون او اوښتون او ځينو نورو د ادبي جرياناتو او مکتبونو او د هغو په راس کې د نوميالیو اديبانو په نوم ادبي دورې وېشلې او ټاکلې دي.

بايد ووايو چې دغه پورتني وېشونه او د ادبــي دورو د تــاکلو او بېلولــو لارې هېڅکله هم د يوې ژبې د ادبياتو د ودې او انکشاف د تاريخي سير له

تشريح او روښانولو سره مرسته نه شي کولی.))(۴۸: ۲۸)

لیکوال د ادبي دورو پر وېش باندې د مفصل بحث په پای کې د ادب تاریخ لیکونکي تـه لارښـوونې او سپارښـتنې کـوي: ((د ادب تـاریخ لیکوال ته لازم دي چې هغه باید تر هرڅـه لـومړی پـر ادبـي تیـوري وپوهېږي، چې د هغې له مخې د خپلې ژبې د ادبي اثارو مطالعه وکړي، ځکه چې د ادب تاریخ په واقعیت کې د ادبي تیوري د تطبیق ډګر دی:

- د ادبي تاریخ لیکوال باید د هرې دورې د خلکو لـه ټـولنیزو، دیني، مذهبي او سیاسي عقایدو، تاریخي ټـولنیزو حـالاتو، پېښـو، د ادبي غورځنګونو او تحریکونو یا ادبي مکتبونو او جریانونو، پـه هکلـه هر اړخیز معلومات ولري، چې د ادبي تاریخ دورې په سـمه او مطلوبـه توګه وټاکلی یا وویشلی شي.
- د ادب تاریخ په هره دوره کې باید د هغې دورې د نومیـالیو او استازو ادبي څېرو د ژوند پېښو، د ټولنیزو حالاتو، شرایطو او مسـایلو پر وړاندې د دغو استازو ادیبانو دریځ، خلکو او ټولنې ته د دغو ادیبانو د اثارو او افکارو د پیغام په ترڅ کې د ځانګړو اصولو او مشخصـاتو لـه مخې د غوره ادبي اثارو په هکله قضـاوت، د رامنځتـه شـویو ادبـي غورځنګونو او جریانونو مناسبه پېژندګلوي او د دغو ادبي مکتبونـو او سبکونو د رامنځته کېدو، ودې، انکشاف، اغېزو او لـه منځـه تللـو د عواملو د ښودنې په هکله یوه هر اړخیزه او جـامع سـپړنه او څېړنـه لازمي ده.
- یوازې د یو یا بل شاعر او لیکوال د ژوند پېښې، د نظم او نثر د بېلګو رااخیستل په هېڅ ډول د ادبیاتو تاریخ نه شو بلـلای، بلکـې د یوې ادبي تذکرې نوم ورکولای شو، چې البته د ادبیاتو د تاریخ لیکنې

پرمهال ورڅخه پر خپل ځای لړو دېره ګته پورته کېدی شي.

- ادب تاریخ سربېره پر دې چې مونږ ته په هره ادبي دوره کـــې د هغې دورې نومیالي استازي او مشهور ادیبان او د هغــوی ارزښــتناک ادبي اثار راپېژني، د هغه عصر او دورې د ټولنیزو، عقیده یي، سیاسي، علمي، فرهنګي او نور حالاتو یوه نقشه هم زمونږ مخې تــه ږدي، چــې ددغو اثارو ادیب په کې روزل شوی، ادب په کــې رامنځتــه شــوی، د بېلابېلو عواملو له مخې یې د لوړتیــا او ځوړتیــا پړاوونــه وهلــي دي. څومره چې په ادبي تاریخ کې د هرې دورې او عصر روحیه او د پېښــو انځور هر اړخیز او جامع وي، په هماغه کچــه یــې د لیکــوال او اثــر د معقولیت او مقبولیت چانس زیات دی.)) (۴۸: ۲۸-۲۹)

د ادبي دورو د ټاکلو د عامو اصولو لــه مخــې اوس راځــو د پښــتو ادبیاتو د تاریخي دورو ټاکلو ته.

د پښتو ادبیاتو د تاریخي دورو د ټاکلو پــه برخــه کــې هــم د نظــر اختلافات شته، ښه به وي چې دلته د پښتو ادبپوهانو نظریات وړانــدې کړو او بیا په پای کې د هغو د نظرونو له ټولګې څخه وروستی نتیجې ته ورسېږو.

# په پښتو ادب تاریخونو کې د ادبي دورو وېش

دمخه مو یادونه وکړه چې په ادب تاریخونو کې د ادبي دورو وېش په باب د ساینسي فورمولونو په شان کوم ثابت او منلي اصول او معیار نه شته او زیاترو ادب تاریخ لیکونکو یا په عنعنوي بڼه د نورو ادب تاریخونو په تقلید او یا هم د خپل ځانګړي ذوق له مخې د ادبي دورو د وېش چاره ترسره کړې ده. په پښتو ادب تاریخونو کې هم دا دود او عنعنه پالل شوې دي، موږ دلته د پښتو ادب تاریخونو له جملې څخه په ځینو تاریخونو کې د ادبي دورو وېش را اخلو، کتنه ورته کوو او په پایله کې په پښتو ادب تاریخونو کې د دورو د وېش وروستۍ او د یو نسبي معیار په توګه منل شوې طرحه، چې په عمل کې پلې شوې هم ده، وړاندې کوو. دا نظریې استاد محمد صدیق روهي هم راټولې کړې او کتنه یې ورته کړې ده. موږ به ټولې دا نظریې وړاندې کړو او وروسته به د استاد روهي نظر، شننه او ارزونه هم وړاندې کړو:

پوهاند عبدالحی حبیبي (د پښتو ادبیاتو تاریخ) په لومړي ټوک کې چې پر (۱۳۲۳ل) کال په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي د تاسیس پرمهال ددغه پوهنځي د محصلانو لپاره لیکل شوی، د پښتو ادبي تاریخ دورې څلور ښودلي او یادونه یې کړې چې د هرې دورې

لپاره به د ادب تاریخ ځانګړی ټوک لیکي. استاد حبیبي لیکلي دي:

(( زه په دې کتاب کې د پښتو ادب دورې پر څلور ډولــه وېشــم . د پښتو ادب تاریخ به څلور ټوکه وي، په دې ډول:

(۱) لومړۍ دوره، اول ټوک: په دې دوره کې به دا وښودل شي چــې تر اسلام دمخه د پښتو ژبه وه که یه؟ د ژبې موقعیت په پخوانو اریایــانو کې څه و؟ او پښتو له زړو اریایي ژبو سره څه نسبت لري؟...

(۲) دویمه دوره یا دویم ټوک: د پښتو ژبې دویمه دوره د اسلام لــه ابتداء څخه شروع کېږي او تر زر (۱۰۰۰) هجري کال پورې رسېږي...

(۳) دریېمه دوره او دریېم ټوک: دا دوره لــه (۱۰۰۰) هجــري څخــه شروع کېږي تر (۱۳۰۰) هجري پورې رارسېږي... په دې دوره کې پښتو ادب ښه وده کړې ده، په نظم او نثر کې ډېر تحولات پېښ شــوي دي او نوي مکتبونه رامنځته شوي دي.

(۴) څلورمه دوره یا څلورم ټوک: له (۱۳۰۰) څخه شروع کېــږي او د ژبې د وروستنیو (۶۰) کالو پرمختګ او لوړتیا راښیي، د نوي ادب د نوو تحولاتو څرګندونه کوي، د ژبې د عصري نهضت تاریخ دی.))

(۱۴: ۵-۷)

په دې ترتیب استاد حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ پــر څلــورو دورو وېشلی دی. د لومړۍ دورې لپاره یــې د ادبیــاتو تــاریخ لــومړی ټــوک لیکلی، چې د ادبیاتو پرځای د پښتو ژبې تاریخ دی او د دویمــې دورې لپاره یې دویم ټوک لیکلی، نور یې د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې د دریېمو او څلورمو ټولګیو محصلانو لپاره درسي نوټونه لیکلي، چې په دې وروستیو کې د ((پښتو ادبیاتو لنډ تاریخ)) په نوم چاپ شوي دي.

پوهاند صدیق الله رښتین په خپل اثر (د پښتو د ادب تاریخ) کــې د

پښتو د ادبي تاریخ دورې څلور بللي او داسې يې راپېژندلي دي:

((اوله دوره: له دويمې هجري پېړۍ (۷۱۸ع) څخه شروع او تر (۹۰۰هـ) يا (۱۴۹۴ع) کال پورې رسېږي. (د سوريانو، غوريانو او لوديانو عصر).

دويمه دوره: له (۹۰۰) هجري څخه تر (۱۱۰۰هجري ۱۶۸۷ع) پورې ده (د بابر او د هغه د اولادې زمانه).

دريېمه دوره: له (۱۱۰۰) هجري څخه تر (۱۲۵۰هجري-۱۸۳۴ع) پورې رارسېږي (د هوتکو او سدوزو زمانه).

څلورمه دوره: له (۱۲۵۰ هجري-۱۸۳۴ع) څخه راپېدېخوا شروع شوې ده (د محمدزو عصر او اوسنۍ دوره)) (۲۰: ۸)

دغسې په نورو ادبي تاريخونو کې هم د ادبي دورو د وېش مساله يا د دغو دوو ادبي تاريخونو په تقليد او يا هم د خپل ذوق له مخې د ادبي دورو وېش شوی او شمېر يې تر دې لږ يا ډېر ګڼل شوی دی.

لکه څنګه چې دمخه مو يادونه وکړه، کانديد اکاډميسين محمدصديق روهي د ادبي دورو د وېش په باب د اکثرو پښتو ادبپوهانو نظريې راټولې کړي او په دې برخه کې يې يوه هر اړخيزه شننه او ارزونه کړې چې دلته يې يادول خورا ضروري دي. استاد روهي وايي:

((تر هرڅه مخکې د ادبي دورو د وېش لپاره بايد يو منطقي معيار وټاکل شي. ددغه معيار له مخې بايد د هرې دورې ځانګړتياوې وښودل شي. که چېرې هماغه معيار پر ټولو ادبي دورو باندې د تطبيق وړ نه وي، نو د ادبي دورو تصنيف خپل اعتبار او ارزښت له لاسه ورکوي.

د پښتو ادبي تاريخ ليکونکو د ادبي دورو د ټاکلو لپاره له بېلو بېلو معيارونو څخه کار اخيستی دی. ددغو پوهانو او استادانو کار د قدر وړ

دی، خو د یوناني فیلسوف (ارستو) دا خبره به نه هېروو چې ویلي یې وو: ((خپل استاد اپلاتون راباندې ګران دی، خو حقیقت تر هغه نه زیات راباندې ګران دی.)) نو ددې لپاره چې د ادبي دورو د نوي ډېزاین په باب قضاوت وکړای شو پخوانو معیارونو ته به یوه انتقادي کتنه وکړو. علمي څېړنه ددې غوښتنه کوي چې باید په ټاکلې ساحه کې د نورو پوهانو کارونه ارزیابي شي.

د پښتو ژبې لوی ادبي مورخ علامه حبیبي د خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، درېیم ټوک) کې په حقه ګیله کوي چې دده د کتاب تر لومړي چاپ وروسته په دېرشو کلونو کې هېڅوک میدان ته رانغی چې دده له خوا پیل شوی کار تکمیل کړي. لوی استاد د همدغه کتاب په سریزه کې لیکي: ((زما هیله هغه وخت دا وه چې دا کتاب به سمدستي د لومړي صنف د محصلانو په کار ورشي او بیا چې دغه زده‌کوونکي استادان شي او خارج ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ شي او په لوړو پوهنتونونو کې لوست وکړي، نو به دوی د خپلې پوهنې په رڼا کې نوې او ژورې څېړنې وکړي او ښایي چې تر دې ډېر ښه او ګټور او محققانه کتابونه پر همدغه موضوع باندې وکاږي... مګر زه چې اوس ګورم هغه امید مې ترسره نه شو.))

د لوی استاد پوهاند حبیبي غوښتنه او پراخ نظري مور ته اجازه راکوي چې لومړی دده په یاد شوي کتاب کې ادبي دورې تر بحث لاندې ونیسو. پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادب دورې پر خلورو برخو وېشلې دي: په لومړۍ دوره کې دا کوښښ شوی دی چې تر اسلام دمخه د پښتو ژبې موجودیت او د نورو اریایي ژبو ترمنځ د پښتو ژبې موقعیت تثبیت کړي. دویمه دوره د اسلام له ابتدا څخه شروع

کېږي او تر (۱۰۰۰هــ ق) کاله پورې رسېږي. درېیمه دوره له (۱۰۰۰هــ ق) کاله څخه پیلېږي او په (۱۳۰۰هــ ق) کې پای ته رسېږي. څلورمــه دوره له (۱۳۰۰هــ ق) څخه شروع کېږي.

ارواښاد پوهاند حبیبي د ادبي دورو تر معرفي کولو وروسته لیکــي: ((زه دا منم چې زما کار او سعی به خورا ابتدایي وي، مګر هیله لرم چې وروستني پښتانه به دا چاره ښه بشپړه کړي او دا بڼ بــه د تحقیــق او پلټنې په ګلونو ښه ښکلی او سمسور کړي خو:

باغ د ګلو به سمسور وي مور به نه یو

د بلبلو بــه پرې شور وي مور به نه یو

پوهاند حبیبي د ادبي دورو په وېش کې د قدماوو لاره نیولې ده، په دې مانا چې ((د لغاتو فلسفه))، ژبه او ژبنۍ پوهنې هم د ادب جز بولي. په اوسني وخت کې د ژبې د تاریخ حساب له ادبي تاریخ څخه جلا دی ځکه چې ادبي تاریخ یوازې هنري ادبیات تر څېړنې لاندې نیسي. کــه ژبپوهنه او ادبپوهنه د علم جلا خانګې وګڼو نو لومړۍ دوره د پښتو په ادبي تاریخ کې ځای نه لري. البته کېدی شي چې په سریزه کــې ورتــه اشاره قدرې وشي.

دویمه خبره داده چې د ادبي دورو په دغه وېش کې کــومې مهمــې فرهنګي او ادبي پېښې په نظر کې نه دي نیول شوې. د مثال په توګــه (۱۳۰۰هــ ق) د څلورمې ادبي دورې پیلامه ګڼل کېږي. چې دغه دوره د امیر عبدالرحمن خان له پاچهۍ سره متصادفه ده. په دغه وخت کې د ادبي تحول څرک نه لګېږي، بلکې په ادبي لحــاظ شــنډه دوره ده. لــه قرینې څخه ښکاري چې د کتاب مولف ګرد عدد او د پېــړۍ د پیلېــدو معیار ته توجه کړې ده.

تر پوهاند حبیبي  وروسته استاد صدیق الله رښتین د پښتو ادبیاتو یو پیاوړی مورخ دی او د ادبي تاریخ په غنا او روښانولو کې یې د قدر وړ خدمتونه کړي دي. پوهاند رښتین په خپل اثر (د پښتو د ادب تـاریخ) کې ټولې ادبي دورې پر پنځو دورو وېشلې دي.

ده په خپل وېش کې تر اسلام نه مخکې دوره حذف کړې ده، ځکـه چې په هغه زمانه کې د پښتو د ادبي اثارو کوم څرک نـه دی لګېـدلی. البته په دې وروستیو وختونو کې داسې اسناد لاس ته راغلي دي چـې وایي د (۱۵۰ ق. م) په حدودو کې د (مالنده پنهو) په نامه یـو کتـاب پـه پښتو ژبه کښل شوی و، دغه کتاب په (پالي) ژبه ترجمه شوی دی او په هغه کې یادونه شوې ده چې نوموړی کتاب له پښتو ژبې څخـه ژبـاړل شوی دی. څرنګه چې د پښتو کتاب لاسته نه دی راغلی، نـو د ادبـي دورو په وېش کې تر اسلام نه مخکې زمانه په حساب کې نـه ده نیـول شوې.

پوهاند رښتین ادبي دورې داسې ټاکلي دي: اوله دوره له (۱۰۰هـــ) نه تر (۸۰۰هـ) پورې، دویمه دوره له (۹۰۰هـ) نه تـر (۱۱۰۰هـــ) پـورې. درېیمه دوله له (۱۱۰۰هـ) نه تـر (۱۲۵۰هـــ) پـورې. څلورمـه دوره لـه (۱۲۰۰هـ) نه تر (۱۳۵۰هـــ) پـورې . پنځمـه دوره لـه (۱۳۵۰هـــ) نـه راپدېخوا.

په دغه وېش کې ځینې ښېګنې لیدل کېږي خو په مجمـوع کـې د معیارونو په لحاظ د تامل وړ برېښي. نوموړي پوه د لومړۍ دورې د ادبي خصوصیاتو په باره کې ډېر په زړه پورې تحلیـل کـړی دی. ده دویمـه دوره له میا روښان څخه پیل کړې ده. دغه نظر هم معقول ښکاري خو دومره باید ووایو چې لازمه نه وه دویمه دوره د بـابر پاچـا او د هغـه د

اولادې په نامه یاده شي. همدارنګه څلورمــه دوره یــې د محمــدزیو د سلطنت له پیلېدو سره تړلې ده او د پنځمې دورې په وېش کــې چــې هغه هم د محمدزیو د سلطنت ادامه ده، تداخل لیدل کېــږي. د کتــاب مولف ادبي دورې له پاچهي کورنیو سره په ارتباط کې ساتلي دي. پــه دغه اثر کې پر ادب باندې د سیاسي او اقتصادي عواملو اغېزه له پامــه غورځېدلې ده او یا لږ ارزښت ورکړ شوی دی. کله کله د پاچهي کورنۍ په بدلېدو سره د استاد او دده د سبک پیرو (لکــه رحمــان بابــا او دده شاګرد محمد یونس) ادبي دورې سره بیلېــږي، یــانې د ادبــي تحــول پرځای د پاچهانو تاریخ معیار ګڼل شوی دی، خو دغه معیــار هــم پــه سیستماتیک ډول نه دی مراعات شوی. د کتاب په اولــه دوره کــې (د پښتو د ملي ادب ځینې برخې) تر عنــوان لانــدې د پښــتو افســانې، نکلونه، وړې قصې، نارې، د پښتو لنډۍ او پښتو متلونه معرفــي شــوي دي.

دلته څو ټکي د پاملرنې وړ دي. لومړی دا چې د ملي ادب اصــطلاح د فوکلوري ادب پرځای استعمال شوې ده. فوکلوري ادب د ملــي ادب یو ټوک دی. لیکنی ادب هم د ملي ادب ټوک ګڼل کېږي. دویم دا چــې د فوکلوري ادب بېلګې (نمونې) چې په اولې دورې پــورې اړه ولــري د سند په توګه نه دي راغلي. فوکلوري ادب به غالباً تر اسلام نه مخکــې زمانه کې موجودو او لا تراوسه دوام لري، نو ښایي چې په یوې خاصــې ادبي دورې پورې ونه تړل شي، په تېره بیا چې کوم سند هم لاس ته نه وي راغلی. درېیم دا چې ښاغلي مولف ګمان کړی دی چــې د نکلونــو نارې په رښتیا سره د نکل د پرســوناژونو ایجــاد دی. څلــورم دا چــې ښاغلی مولف د اروپا رومانونه هم د پښتو په اوله ادبي دوره کې معرفي

کوي په داسې حال کې چې د اروپا رومانونه په اروپـا پـورې اړه لـري. پنځم دا چې په اوله دوره کې پښتو ناول نه دی لیکل شوی. مـوږ ددې کتاب پر موضوعاتو نور څه نه وایو خو صرف دومره یادونه کوو چې پـه هغه وخت کې د داسې کتاب لیکنه یو ارزښتمن کـار دی، د قـدر پـه سترګه ورته ګورو. (د افغان یاد) پـه کتـاب کـې چـې د غـلام محـی الدین‌افغان په یاد د مقالو یوه مجموعه ده؛ پوهنمل نورمحمـد غمجـن تمیل (په پښتو ادبیاتو کې د ادبي ټوټو ونډه او تاریخي سیر) تر سرلیک لاندې د پښتو ادبي تاریخ پر دورو باندې هم بحث کـړی دی. پوهنمـل غمجن د پښتو ادبیاتو دورې پر څلورو برخو وېشلې دي: لـومړۍ دوره له دویمې هــ ق پېړۍ څخه پیلېږي تر (۹۵۰هــ ق) پورې رسېږي. دویمه دوره له (۹۵۰ هــ ق) یانې روښاني نهضت څخه تر (۱۲۰۰ هــق) پـورې دوام کوي. ورپسې نوې دوره شروع کېږي چې پر افغانسـتان بانـدې د انګرېزانو حمله یې معیار ګڼلی دی. بیا معاصره یا اوسـنۍ دوره راځــي چې له (۱۳۵۷هــش) کال څخه پیلېږي.

په دغه وېش کې د معیار انتخاب او بیـا د معیـار سیسـتماتیک او منسجم تطبیق دواړه د تامل وړ برېښي. د معیار په انتخاب کې سیستم نه لیدل کېږي. ځینې کلونه په هجـري قمـري او ځینــې پــه هجــري شمسي راغلي دي.

کله چې ښاغلی لیکوال لومړی او دویمــه دوره یــادوي، بیـا نــو د ترتیبي عدد سلسله پرېږدي، د نوې دورې او اوسنۍ دورې په نامه بـل معیار انتخابوي. د نوې دورې نوم هم مناسب نه دی، ځکــه سـړی نــه پوهېږي چې په نوې پسې به څه شی راځي. ښاغلی لیکـوال تـر نــوې دورې وروسته معاصره یا اوسنۍ دوره ټاکلې ده، په دې حسـاب نــوې

دوره په اصل کې زړه دوره ده. دویمه خبره داده چې په لیکلي ادب کې د انګرېزانو تر یرغل وروسته تر شلمې پېړۍ پورې کوم عمده ادبي تحول نه لیدل کېږي له دې امله د انګرېزانو لومړی یرغل د نوې ادبي دورې د پیلېدو معیار نه شي ګڼل کېدی. درېیمه خبره داده چې ښاغلی لیکوال (۱۲۰۰هـ ش) د انګرېزانو د لومړۍ حملې تاریخ بللی دی، په داسې حال کې چې دغه حمله اوه لس کاله وروسته په (۱۸۳۸ع) کې ترسره شوه.

څلورمه خبره چې تر ټولو مهمه ده هغه داده چې د امیر دوستمحمد خان له وخت نه تر (۱۳۵۷ هـ ش) کال پورې د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې څرګند ادبي تحول راغلی دی، معاصر ادبیات د امیر حبیب الله په پاچاهي کې پیل شوي دي او بیا د محمدظاهر شاه د پاچهۍ په زمانه کې د ادبي تاریخ بل پړاو پیل شوی دی، لیکن ښاغلی لیکوال پر دغو ادبي تحولاتو سترګې پټوي او له (۱۲۰۰هـ.ش) نه تر (۱۳۵۷هـ ش) کال پورې ټوله یوه ادبي دوره ګڼي. ( د ادب تیورۍ اساسونه) مولف سرمحقق دوست شینواري (د پښتو لیکلي ادب د مکتبونو، سبکونو او میتودونو په پوړیو کې) تر عنوان لاندې د پښتو ادبي تاریخ پر دریو پړاوونو وېشلی دی: لومړی پړاو چې په هغه کې د (ملنده پښو) کتاب او د (سره کوتل کتیبې) ته هم د پښتو د پانګې په توګه اشاره شوې ده. دا پړاو د هغه په واقعي مانا له امیر کروړ څخه شروع کېږي او مولف همدغه د لیکلي ادب لومړی پړاو بولي. دده په نظر، د اسعد سوري قصیده ((په پښتو شعر کې د تجدد پړاو دی)) خو سره له دې دغه قصیده هم د لیکلي ادب په لومړي پړاو پورې اړه لري. دویم پړاو له بایزید روښان سره پیلېږي. دغه پړاو تر فرعي عنوان

لاندې شرح شوی دی: روښاني مکتب، د رحمان بابــا ســبک، هنــدي مکتب، د هوتکيانو دوره، نورې دورې. وروسته د ادب نوی پــړاو چــې د امير شېرعلي خان له وخت نه شروع کېږي شرح شوی دی. دغه پــړاو (د انتقادي رياليزم پيدايښت) په نامه يو فرعي عنوان لري.

په دغه پورتني وېش کې ښاغلی مولف د (دورې) پرځــای د (پــړاو) کلمه غوره بللې ده.

په دې وروستيو وختونو کې د پړاو کلمه زياتره د مرحلــې پــه مانــا استعمالېږي، ياني ديوې دورې دننه ځينې مرحلې د پړاوونو پــه نامــه يادېږي.

د پورتني وېش په باره کې به په لنډه توګه څو ټکو ته ګوته ونيســو. لومړی دا چې د سره کوتل کتيبه د پښتو په ادبي پانګه ورګډول زيــاتو باوري څېړنو ته انتظار باسي.

دويم دا چې محترم مولف سبک، مکتب او مېتود جلا شيان ګڼــي خو په تصنيف کې يوه اصطلاح د بلې پرځای استعمالوي. درېيم دا چې د خوشال بابا په شان ستر شاعر او مفکر د جلا سبک خاونــد نــه دی ګڼل شوی. څلورم دا چې په تصنيف کې انســجام نــه شــته، مولــف د سبکونو يا مکتبونو لړۍ پرېږدي د هوتکيانو دوره او نورې دورې پيلوي. پنځم دا چې د ادب نوی پړاو د امير شېرعلي خان له باچاهي نــه پيــل کوي خو دداسې اثارو ببلګې نه شي پيداکولی چې معاصر ژوند به کــې مــنعکس شــوی وي. هــره ادبــي دوره د هغــې دورې د خصوصــياتو درلودونکو اثارو سره پيلېږي، خو چې په خپله اثار موجود نه وي، ادبي دوره هم وجود نه لري. د امير شېرعلي خان په دوره کــې ځينــې اثــار شته خو د کوم ادبي تحول پيلامه نه شي ګڼل کېدی.

د پښتو د ادبي تاریخ د دورو د وېش په برخــه کــې د اکاډمیســین کاندید محمد انور نومیالي هم یــوه طــرح وړانــدې کــړې ده. ښــاغلی نومیالی د (ادبي دورې) د اصطلاح پرځــای د (ادبــي دوران) اصــطلاح غوره ګڼي او داسې استدلال کوي چې ((نن ورځ تاریخ پوهــانو د دورې او دوران ترمنځ توپیر په مرسومي توګه تثبیت کړی دی.)) د مثال لپاره دوی دوره هغه بولي چې د یوې پروسې د پیدایښت، انکشــاف او زوال درې سره مرحلې په هغې کې سرته رسېدلې وي او له بلــې وروســتنۍ نوې دورې څخه یې ټول مشخصات توپیر ولري.

خو دوران داسې حالت ته وایي چې د هغه په ترڅ کــې لا د یــوې او بلې دورې ترمنځ تاریخي بېلوالی نه وي راغلی اما په هغه صــورت کــې صرف د نوې دورې مخکني محتویات تبارز کوي او انکشاف یــې د زړې محتویات نفې کوي.))

د ښاغلي نومیالي دغه یادونه پرځای او سمه ده، خو په دغه کتــاب کې مور د ادبي تاریخ عنعنه په پام کې نیولې ده، د پښتو د ادبي تــاریخ په برخه کې د دورې کلمه هم صدق کوي.

د محترم نومیالي په عقیده د پښتو ادبیاتو لپاره په مجموعي توګــه درې دورانه ټاکلای شو:

۱- د شفاهي ادبیاتو دوران.

۲- د خوشال د کتبي ادبیاتو دوران.

۳- د معاصرو کتبي ادبیاتو دوران.

دغه وېش هم د تامل وړ دی. لــومړی دا چــې د خوشــال د کتبــي ادبیاتو له دوران څخه مخکې دوران د شفاهي ادبیاتو دوران بلل شوی دی، په داسې حال کې چې د اسعد سوري او ښــکارندوی قصــیدې، د

شیخ متي عرفاني شعر او د زرغون خان ساقي نامه په فوکلور کـې نـه راځي او د خپلو خصوصیاتو له پلوه له فوکلوري ادب سره ځرګند توپیر لري. دویم دا چې د روښانیانو عرفاني اثار هم په فوکلور کې راځــي پــه داسې حال کې چې دغو اثارو ته څوک فوکلور نه شي ویلای.))
(۲۴: ۲۸-۳۸)

استاد روهي د خپل تحلیل په ترڅ کې د خپلې طرحې په باب هــم یادونه کوي او وايي: ((تر دغو پورتنیو یادونو وروسته به ددغــه کتــاب طرح وړاندې شي. ښایي دغه طرح هم وروستنۍ طرح نه وي د ادبیاتو استادان کولای شي په راتلونکې کې نوې طرح وړاندې کړي. پــه دغــه کتاب کې د پښتو ادبي تاریخ پر دریو عمده دورو وېشل کېږي: لرغونې دوره، منځنۍ دوره او معاصره (اوســنۍ) دوره. هــره دوره پــر پړاوونــو وېشل کېږي.)) خو مخکې تر دې چې د استاد روهي له خــوا د پښــتو ادبي دورو وېش ته راشو، ښه به وي چې دې پوښتنې ته چې پښتو څو ادبي دورې دي؟ هم ځواب ورکړو، دا پوښتنه د پښــتو ادب لــه اکثــرو مینوالو سره مطرح ده.

# پښتو څو ادبي دورې لري؟

لکه څنګه چې مو د پښتو ادبیاتو د دورو د وېش د څرنګوالي په باب د بېلابېلو پښتو ادبپوهانو نظرونه راوړل چې زیات ورته والی او څه نا څه توپیرونه په کې وو، خو د ادبي دورو د شمېر په باب د پوهانو ترمنځ د نظریاتو اختلاف ډېر کم دی، اکثره په دې نظر دي چې پښتو ادب تاریخ پر درېو لویو دورو وېشل کېږي چې کېدی شي هر یوه یې بیا پر خپل وار پر څو پړاوونو ووېشل شي، خو پر درېو دورو اکثره متفق دي. لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه استاد روهي دا ټول نظریات سره پرتله کړي، شنلي او ارزولي دي او د هغو له منځه یې د نچوړ په توګه درې دورې غوره بللې دي. استاد روهي په خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاریخ - معاصره دوره) کې دا درې دورې داسې په ګوته کړې دي:

## لرغونې (پخوانۍ دوره):

پخوانۍ دوره چې په هغې کې قبیلوي نظام مسلط ښکاري، تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د تحریري اسنادو له مخې په ادبي تاریخ کې دغه دوره له امیر کروړ څخه پیلېږي او د بایزید روښان تر ظهور او پاځون پورې رسېږي. په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې د پښتونخوا په ختیځه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې

فیوډالي تولیدي مناسبات منځته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کېږي.

پخوانۍ دوره د ټولنیزې اروایوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه د (ریګویدا) او د (اوستا) له سندرو او ګاثونو سره ورته والی لري. د ځینو ادبپوهانو په عقیده، د ریګویدا او اوستا د سندرو او ګاثونو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعګانې او قالبونه سره ورته دي. د پخوانۍ دورې عمده موضوعګانې د نمانځنې سندرې، ویاړنې (قومي تفاخر)، ویرنې، مینه، ښېلتون او اخلاقي ښوونې دي چې په هغو کې پېچلي تخیلات او لفظي صنایع چندانې نه لیدل کېږي. د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې د قصیدې جوړونه، یو نوی پړاو ګڼل کېږي، ځکه چې په دغو قصیدو کې له پاستورال (د شپنو) شعر سره فاصله منځته راغلې ده.

که څه هم قصیدې له درباري ادب سره نږدېوالی لري، خو په هغو کې د پاستورالو سندرو روحیه هم ساتل شوې ده، د پښتنو قبیلو مشران او واکمنان د یووالي او قبیلوي قدرت د سمبولونو په توګه ستایل شوي دي. که دغه قصیدې د هغه وخت له عربي او فارسي قصیدو سره پرتله کېږي. د پښتنو واکمنان د قومي یووالي د سمبولونو او خواخوږیو دوستانو په توګه ستایل شوي دي. شاعر د صلې او انعام د اخیستلو لپاره شعرونه نه وایي او نه په ستاینه کې له اغراق څخه کار اخلي. په داسې حال کې چې د فارسي ژبې شعر د عربي شعر د وزن پیروي کوي. د پښتو د لرغونو اریایانو د سندرو وزن ساتي. تر اوسه پورې پښتو شعر همدغه خصوصیت ساتلی دی، یانې د شعر وزن د څپې (فشار، اکسنټ) او د هجاوو (سېلابونو) د شمېر پر اساس ټاکل کېږي.

## منځنۍ دوره:

منځنۍ ادبي دوره له شپاړسمې میلادي پېړۍ څخه تر شلمې پېړۍ پورې دوام کوي. د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره له سیاسي او ایډیالوجیکي مبارزې سره پیلېږي، خو دغه مبارزه د فیوډالي شرایطو له چوکاټ څخه دباندې نه وځي. میا روښان د یوې مذهبي فرقې د لاربښود په توګه په توره او قلم مبارزه کوي. د روښانیانو او ختکو ادبیات په عمده توګه تبلیغ او تنویر ته متوجه شوي دي. روښان او خوشال ختک دواړو د پښتنو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت لپاره توده او سره جګړه پرمخ بیولې ده. سره جګړه یانې د قلم له لارې مبارزه یوه فکري سیستم ته اړتیا لري. روښانیانو د عرفان له لارې د خلکو د سیاسي شعور د لوړولو، په هغو کې د خودۍ او پرځان متکي کېدلو د احساس د ویښولو لپاره اهنګوال ادبي اثار ایجاد کړل او په دې توګه د کتبي ادبیاتو پانګه رامنځته شوه.

خوشال ختک پښتو ادبیات د مضمون، شکل او قالب له پلوه غني کړل. ده د فارسي (په حقیقت کې د عربي) ژبې ټول قالبونه (لکه مثنوي، غزل، قصیده، رباعي، مخمس او نور) او لفظي او معنوي صنایع په پښتو ادب کې راوستل. د مضمون له پلوه دده په اثارو کې ډېر زیات نوښتونه لیدل کېږي چې د هغه وخت په شرایطو کې ساری نه لري.

د منځنۍ دورې ادبیات د مضمون او شکل په لحاظ د پخوانۍ دورې له ادبیاتو سره جوت توپیر لري. ددې دورې په ا دبیاتو کې د لرغونو سندرو وزنونه متروک شول، کلاسیک معنوي او لفظي صنایع په پښتو ادب کې باب شول، د مفکورې په لحاظ سیستماتیک اثار منځته راغلل

او پېچلي تخیلات د پښتو ادب په بڼ کې راوټوکېدل. په دغه وخت کې پښتو ادبیاتو د سیمې له ادبیاتو رنګ واخیست. د افکارو ژورتیا، د تخیل رنګیني او د قالبونو تنوع د منځنۍ ادبي دورې غوره ځانګړنې ګڼل کېږي. دا څرګنده خبره ده چې د روښانیانو عرفان، د خوشال د ملي تشخص احساس، د رحمان بابا ادبي بلاغت، د حمید او کاظم‌شیدا نازکخیالي د پخوانۍ ادبي دورې په اشعارو کې نه لیدل کېږي.

په منځنۍ ادبي دوره کې درې مهم پړاوونه د فکري، سیاسي او هنري ځانګړنې له مخې د تشخیص وړ دي چې غوره استازي یې په فکري لحاظ د روښان پلویان، په سیاسي لحاظ خوشال خان ختک او په هنري لحاظ رحمان بابا، حمید، شیدا، حنان بارکزی او نور دي.

## معاصره یا اوسنۍ دوره:

د پښتو د ادبي تاریخ اوسنۍ دوره د شلمې پېړۍ له دوهمې لسیزې څخه پیلېږي.

دا باید ووایو چې پر (۱۸۹۳م) کال د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په اثر د ادبي تحول اوسنۍ دوره په لره او بره پښتونخوا کې د سیاسي جریانونو د جلاوالي په سبب یو شانته انکشاف نه کوي، خو پیلامه یې یوشانته ده.

د افغانستان دننه پښتو ادبیات په اوسنۍ دوره کې درې مهم پړاوونه لري: د روښانتیا پړاو، د ویښتیا پړاو، د اوښتون پړاو، څلورم پړاو چې کېدی شي د سمون پړاو یې وبولو نوی پیل شوی دی.

د وروستي پړاو څرنګوالی په هېواد کې د سیاسي ثبات له راتلو سره اړه لري او تراوسه یې هویت په څرګند ډول نه دی تثبیت شوی.

د اوسنۍ ادبي دورې ادبيات د منځنۍ دورې ادبياتو سره د محتوی، شکل، ژانرونو او قالبونو له پلوه څرګند توپير لري او د ادبي تحول نوې دوره بلل کېدی شي.

د مضمون او محتوا له پلوه د اوسنۍ دورې په ادبياتو کې نوي فکري او سياسي تمايلات (لکه نېشنليزم، سوسياليزم، لېبراليزم ) او نوي هنري ميتودونه (لکه رياليزم او نور)، نوي ادبي ژانرونه، (لکه ناول، لنډه کيسه، نوی شعر، ادبي ټوټې، طنز او نور) رامنځته شوي دي. په ادبي قالبونو کې هم د ترانې، نوي شعر، منثور شعر په ايجادولو سره تنوع او نوښتونه منځته راغي.)) (۲۴: ۳۸-۴۲) او نوره ډول ډول رنګيني په کې ليدل کېږي.

يو شمېر ليکوالو تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته پښتو ادبي بهير پر دوو برخو وېشلی، يوې برخې ته يې استوګن ادبي بهير او بلې ته يې نا استوګن ادبي بهير ويلی دی. استوګن په دې مانا چې د هېواد په داخل کې رامنځته شوی او نا استوګن هغه چې د مهاجرت او کډوالۍ په چاپېريال کې رامنځته شوی، ځينو بيا همدا بهير يې د هنري ارزښت له مخې د (شعر) او (شعار) پر څانګو هم وېشلی، هغه شعرونه چې شعري ارزښت ولري هغو ته يې شعر او هغه چې هنري ارزښت يې کمزوری وي، هغه ته يې شعاري پړاو ويلی دی.

که موږ د استاد روهي او نورو ليکوالو او پښتو ادبپوهانو ټول نظرونه سره تحليل او تجزيه کړو، نو په وروستي تحليل کې دې نتيجې ته رسېږو چې پښتو ادب تاريخ په مجموعي ډول پر همدې درېو لويو (لرغونې، منځنۍ او اوسنۍ) دورو وېشل کېږي چې هره دوره يې بيا په خپل منځ کې نور پړاوونه يا څوړتيا او لوړتيا لري.

# تر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب

لکه څنګه چې څرګنده ده، په هره ژبه کې لومړی ادبیات رامنځته کېږي او بیا ادبي څېړنې یا د ادبپوهنې علم، چې د همدې علم د بېلابېلو څانګو له مخې ادبي دورې وېشل کېږي، د ادبیاتو ماهیت او اهمیت په ګوته کېږي او یوه ادبي پدیده د معیارونو پر بنسټ له نااادبي لیکنو څخه جلا کېږي، څرنګه چې ادبپوهنه پر شتو او لاس لرلو ادبي پدیدو بحث کوي، نه پر خیالي او ناشتو اثارو، نو ځکه خو کله چې پر پښتو ادبیاتو بحث کېږي، خبره د امیر کروړ تر لاس لرلي شعر یا کلام وړاندې نه ځي، دا په دې مانا نه ده چې تر امیر کروړ وړاندې یا پښتو ژبه نه وه یا یې ادبیات، خو ادب تاریخ پر همغو اثارو بحث کوي چې عملاً په لاس کې دي، څرنګه چې د امیر کروړ تر منظومې ویاړنې دمخه موږ بل لیکلی منظوم یا منثور کلام په لاس کې نه لرو، نو ځکه خو د پښتو ادبیاتو تاریخ د لومړۍ دورې پیل هم له همدې ویاړنې سره اړه پیدا کوي. البته د ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ژبې لرغونتیا تر دې وړاندې لسګونو پېړیو ته رسېږي. څرنګه چې یوه ژبه موجوده وي، طبیعي خبره ده چې ادبیات یې هم شته، خو دا چې ددې ادبیاتو لیکلې بېلګې د زمانې د ناخوالو له امله اوس زموږ په لاس کې نه شته، نو ځکه خو یې د ادب تاریخ په باب څه نه شي ویلای.

دلته یو ځل بیا یادونه کوو چې ښایي درنو لوستونکو سره دا

پوښتنه پیدا شي، چې د پښتو کوم پخواني ادبي اثار چې زموږ په واک کې دي او موږ پرې دلته خبرې کوو، هغه خو د اسلامي دوران د دویمې پېړۍ دي، ایا تر دې دمخه او تر اسلامي عصر دمخه زمانو پښتو اثار نه شته او یا نه دي ترلاسه شوي؟

ددغسې احتمالي پوښتنو په ځواب کې باید وویل شي، چې تر اسلامي عصر دمخه هم د پښتو اثارو د موجودیت ځینې څرکونه له موږ سره شته، چې د ګرانو لوستونکو د معلوماتو او ددې بحث د شالید په توګه به یې دلته یوازې تشه یادونه وکړو:

۱. له هغو یونانو باختري باچهانو څخه چې په هندوستان کې پاچهۍ ته رسېدلي دي، یو هم (مناندر) نومېږي، ددغه (مناندر) د حکومت او پاچاهۍ زمانه مورخانو د دویمې قبل المیلاد پېړۍ په اواسطو کې ټاکلې ده.

(مناندر) نسبت نورو یونانو باختري پاچاهانو ته له هندي رسومو سره ډېر بلد و او په هندي روایاتو کې دا سړی د (ملنده) په نامه یادېږي. دغه مناندر باچا به په مختلفو علمي او مذهبي موضوعاتو کې له عالمانو او روحانیونو سره بحثونه کول، دې باچا چې له بودایي حکیم (ناګه سینه) سره کوم بحثونه کړي دي، دغو بحثونو ته (ملنده پنهو) وایي او دغه ملنده پنهو د بودایي مذهب له ډېرو مهمو کتابونو څخه ګڼل کېږي.

څېړونکي عقیده لري چې ددغه کتاب اصلي متن په زړه پښتو برابر شوی و، چې هغه پښتو متن اوس ورک دی، اما ددې پښتو متن (پالي) ترجمې شته.

د هېواد نامتو تاریخپوه (پوهاند میرحسین شاه) هم په خپلې یوې

لیکنې کې همدا موضوع یاده کړې ده، هغه وايي: ((هغه پاچا چــې تــر میلاد (۱۵۰) کاله دمخه پښتو متن ورته منسوب دی په هندي روایــاتو کې د (ملنده) په نامه یادېږي، ملنده یا منانــدر پــه هنــدي تعبیــر یــو هوښیار او پوه سړی و او په مذهبي بودايي روایاتو کې هــم لــوړ مقــام لري. پوهان، روحانیون او مذهبي خلک به د شاه په دربــار کــې د تــل لپاره تړل وو، پاچا به له هغوی څخه ګټه پورته کوله، شاه او عالمانو بــه پر علمي موضوعګانو بحثونه سره کول. دپاچــا (منانــدر) لــه معروفــو بحثونو چې له بودايي حکیم (ناګاسینه) سره یې کړي، د (ملنده پنهو) په نامه یادېږي او د بودايي مذهب له ډېر مهمو کتابونو څخــه شــمېرل کېږي. ددغه کتاب اصلي متن په پخوانۍ پښتو ژبه برابر شوی و چې له بده مرغه اصلي متن یې اوس په لاس کې نه شته، اما اثار یې په (پالي) ژبه په (سیلون)، (برما) او (سیام) کې ساتل کېږي. ددې پښتو کتــاب د پالي ژباړې پخوانۍ نسخه چې په څلورمه میلادي پېړۍ کــې خطــاطي شوې، د جاپان له یو بودايي معبد څخه لاسته راغلې ده.))

(۴۱: ۴۰-۴۱)

ددې ډلې څېړونکو د څېړنو له مخې دا ښکاري، چې تر میلاد (۱۵۰) کاله دمخه لا پښتو ژبه ددې جوګه وه، چې کتاب په کې ولیکل شي.

۲. د هندوستان د راجستان ایالت په یوه پخواني مندر (معبد) کــې د څو ژبو د اشعارو یوه مجموعه پیدا شوې ده، چې په مجموعه کــې د راغلو څو شعرونو ژبه پښتو ده. ددې مجموعې له وجــوده (روشــن لال ملهوتره) خبر کړي یو، هغه وايي: ددې مجموعې هغه اشعار چې پښــتو دي، په (دیواناګري) خط لیکل شوي دي، اشعار یــې د لنــډیو غونــډې جوړښت لري، دا شعرونه ځینې خاصې دعاګــانې دي. دا شــعرونه تــر

اوسه نه دي څېړل شوي، ددې شعرونو څېړنه او تحلیل به څرګنده کړي چې دا شعرونه کله لیکل شوي دي؟ د چا دي؟ د خط ډول يې موږ په دې باوري کوي چې دا شعرونه به تر اسلام دمخه زمانو کې لیکل شوي وي.

له دې یادونو څخه ښکاري چې تر اسلامي عصره دمخه هم په پښتو اثار لیکل شوي، خو دا چې د (ملنډه پنهو) د کتاب اصلي پښتو متن زموږ په واک کې نه شته او له راجستان ایالت څخه ترلاسه شوي په (دوناګري) خط لیکلي پښتو اشعار څېړونکو لا نه دي کتلي او نه يې دي څېړلي، نو ځکه موږ تر اسلامي عصره دمخه پر پښتو اثارو له لوړو لومړنیو یادونو پرته نور څه نه شو ویلای، نو ځکه خو د پښتو لرغونو ادبیاتو بحث له موجودو لاسته راغلو اثارو څخه پیلوو.)) (۵۳: ۲۴-۲۵)

پر دغو دوو مواردو سربېره ښایي ځینې نور داسې اثار هم ومیندل شي، چې تر اسلامي عصره دمخه د پښتو اثارو د ایجاد ښکارندویي وکړي، خو دلته مو دغو څو مواردو ته اشاره وکړه، چې د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې په تاریخي پس منظر کې يې یادونه ضروري ده.

تر دې بحث وروسته اوس راځو د پښتو ادبیاتو لرغونې دورې ته!

# د پښتو ادب لرغونې دوره

د لرغونې ادبي دورې په باب ادبپوهانو لــه خــوا بېلابېــل نظریــات وړاندې شوي، وروستی نظر چې د نورو ادبپوهانو د نظرونــو تــر شــننې وروسته وړاندې شوی، هغه د استاد روهي نظر دی چې موږ مخکې هــم ورته اشاره وکړه. د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د پیل په باب د استاد روهي نظر پراخ مستدلل او منطقي برېښي، کېدی شي یو زیات شــمېر ادبپوهان همدا نظر ددې دورې د پیل په باب د مناسب نظر پــه توګــه محاسبه کړي.

((د پښتو د ادبي تاریخ لومړۍ دوره له دویمې هجري پېــړۍ څخــه پیلېږي او د لسمې هجري پېړۍ تر پایه ان د یوولسمې پېړۍ تر لومړیــو کلونو پورې دوام کوي. ددې دورې کوم ادبي اثار چې زموږ په واک کــې دي، زیاتره متفرق اثار دي، ددې دورې ډېر منظم او بشــپړ اثــار زمــوږ څېړونکو تراوسه نه دي ترلاسه کړي، یا دا چې تراوسه نــه دي کشــف شوي او یا له منځه تللي دي.

ددې دورې اثار سره له دې چې متفرق دي، خو تــاریخي تسلســل لري او زموږ په هېواد کې له پېښو شویو تاریخي او فکري جریاناتو سره په ارتباط کې راپیدا شــوي دي او هــم دغــه اثــار د خپلــو شــکلي او جوړښتي خصوصیاتو، د بیان د ډول او د موضوعي ځــانګړنو لــه پلــوه ځینې ګډې وجهې لري، چې د همــدغو مشخصــاتو او خپــل تــاریخي قدامت له امله موږ د پښتو دغه ګرده ترلاسه شوي متفرق اثار د پښتو

د ادب تاریخ په لومړۍ دوره کې مطالعه کوو.

پخوانۍ دوره چې په هغې کې قبیلوي نظام مسلط ښکاري، تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د تحریري اسنادو له مخې په ادبي تاریخ کې دغه دوره له امیر کروړ څخه پیلېږي او د بایزید روښان تر ظهور او پاڅون پورې رسېږي. په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې د پښتونخوا په ختیځه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې فیوډالي تولیدي مناسبات منځته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کېږي.))

په دې لرغونې دوره کې په ټولیز ډول تر (۲۸) زیات بېلابېل شاعران معلوم دي. ددې شاعرانو د کلام مجموعي بېلګې نږدې (۳۳) عنوانو منظومو ټوټو ته رسېږي. په دې مانا چې د (امیر کروړ) له شعره رانیولې بیا تر (شیخ صالح) پورې د بېلابېلو شاعرانو د کلام بېلګې په دې دوره کې د مطالعې وړ دي. پر یادو (۲۸) شاعرانو سربېره د سلیمان ماکو نثر هم په همدې لرغونې دوره کې ځای لري چې خورا خوږ او په پښتو ادبیاتو کې له تاریخي پلوه د خورا زیات ارزښت وړ دی.

پخوانۍ دوره د ټولنیزې ارواپوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه د (ریګویدا) او د (اوستا) له سندرو او ګاڅونو سره ورته والی لري. د ځینو ادبپوهانو په عقیده، د ریګویدا او اوستا د سندرو او ګاڅونو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعګانې او قالبونه سره ورته دي. د پخوانۍ دورې عمده موضوعګانې د نمانځنې سندرې، ویاړنې (قومي تفاخر)، ویرنې، مینه، بېلتون او اخلاقي ښوونې دي چې په هغو کې پېچلي تخیلات او لفظي صنایع چندانې نه لیدل کېږي. د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې د قصیدې جوړونه، یو نوی پړاو ګڼل کېږي، ځکه چې په دغو قصیدو کې

له پاستورال (د شپنو) شعر سره فاصله منځته راغلې ده.

پوهانو د امیر کروړ ویاړنه، د بېټ نیکه مناجات، د شیخ اسماعیل او خرښبون نارې او همدارنگه د ملکیار هوتک سندره او نور شعرونه لــه زړو اریایي سندرو سره ورته او نږدې بللي دي.

که څه هم قصیدې له درباري ادب سره نږدېوالی لري، خو پــه هغــو کې د پاستورالو سندرو روحیه هم ســاتل شــوې ده، د پښــتنو قبیلــو مشران او واکمنان د یووالي او قبیلوي قدرت د ســمبولونو پــه توگــه ستایل شوي دي. که دغه قصیدې د هغه وخت لــه عربــي او فارســي قصیدو سره پرتله کېږي. د پښتنو واکمنان د قومي یووالي د سمبولونو او خواخوږو دوستانو په توگه ستایل شوي دي. شاعر د صــلې او انعــام اخیستلو لپاره شعرونه نه وایي او نه په ستاینه کې له اغــراق نــه کــار اخلي. په داسې حال کې چې د فارسي ژبې شعر د عربــي شــعر د وزن پیروي کوي. د پښتو د لرغونو اریایانو د سندرو وزن ســاتي. تــر اوســه پورې پښتو شعر همدغه خصوصیت ســاتلی دی، یــانې د شــعر وزن د څپې (فشار، اکسنټ) او د هجاوو (سېلابونو) د شمېر پر اســاس ټاکــل کېږي.

د پښتو شعر د تخنیک په دې برخه کې د پښتو پر لرغونې شــاعرۍ هم د پښتو شعر همغه عام قوانین د تطبیق وړ دي چې هم پــر پښــتو لیکلې شاعرۍ هم پر گړنۍ شاعرۍ د تطبیق وړ دي. دا جوړښت څپیز خجیز یا سېلابوتونیک دی. پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار په دې بــاب وایــي: ((پښــتو شــعر د جــولیز جوړښــت او تخنیــک لــه پلــوه پــه سېلابوتونیک ډول پورې اړه لري، نه په سېلابېک او عروضي (متریک) پورې، کله چې وایو د پښتو شعر رغاونیز تخنیــک ســېلابوتونیک دی،

دوه عنصره مو سترګو ته ودرېږي: څپه او وزن.)) (۲۸: ۴)

له دویمې هجري قمري پېړۍ څخه د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د پیل په باب دا نظریه په واقعیت کې د اکثرو پښتو ادبپوهانو او تاریخپوهانو د نظریاتو نچوړ دی او یوه اتفاقي نظریه ده. لوی استاد عبدالحی حبیبي، پوهاند صدیق الله رښتین، کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي، سرمحقق زلمی هېوادمل، سرمحقق سید محی الدین هاشمي، نورمحمد غمجن او نورو ګڼو پښتو ادبپوهانو چې کوم نظریات ورکړي، اکثره په همدې نظر دي چې د پښتو ادب لرغونې دوره له (۱۳۹هـ ق) کال یانې د امیر کروړ له لاسته راغلي شعر څخه پیلېږي او بیا تر ( ۹۳۰هـ ق) کال پورې چې د روښان د ژوند او مبارزې کلونه دي، تر دې دمه رسېږي. البته د روښانیانو د مبارزو له پیل سره نه قطع کېږي، تداوم یې ان تر (۱۰۰۰هـ ق) کال پورې رسېږي چې وروستی شاعر یې (شیخ محمد صالح الکوزی) دی چې د (۱۰۰۰هـ ق) په حدودو کې یې ژوند کړی دی.

# د لومړي څپرکي لنډیز

په لومړي څپرکي کې مو په تفصیل سره د لرغونې دورې د پیل، ادب تاریخ، ادبي تیوري، ادبي کره کتنې، په مجموعي ډول د ادبپوهنې پر اساسي او فرعي څانګو، ادبي تذکرې، ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ پښتو څو ادبي دورې لري؟ تر لرغونې ادبي دورې دمخه پښتو ادب او نورو اړوندو مسایلو په باب په نسبتاً تفصیل سره معلومات وړاندې کړل، اوس غواړو د همدغو درسونو لنډیز ته راشو:

د پښتو ادب لرغونې دوره د دویمې هجري پېړۍ له نیمايي څخه پیلېږي او دا ځکه چې په همدې زمانه کې یو لیکل شوی شعر تر موږ رارسېدلی دی، دا شعر د (امیر کروړ) یوه ویاړنه ده چې د پټې خزانې په وسیله موږ ته رارسېدلی او پټې خزانې بیا په خپل وار سره له نورو اثارو څخه رانقل کړی دی.

ادب تاریخ د ادبپوهنې یوه څانګه ده چې د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د یوې ژبې د ادبیاتو وده او پرمختګ؛ لوړتیا او ځوړتیا څېړي.

ادبپوهنه هغه علم دی چې ادبیات له هر پلوه څېړي او مطالعه کوي یې. ادبپوهنه د (ادب تاریخ، ادبي کره کتنه او ادبي تیوري) درې اساسي څانګې لري.

ادبي دورې د ادبپوهنې د اصولو پر اساس ټاکل کېږي، یوه ادبي

دوره هغه وخت رامنځته کېږي چې په ادبیاتو کې د پخــوا پــه انــډول کیفي او کمي بدلون محسوس شي.

پښتو ادبپوهانو تر دې دمه پورې پښتو ادبي دورې پــر دریــو لویــو دورو وېشلي دي؛ لرغونې دوره چې د دویمې هجري پېړۍ لــه دویمــې نیمایي څخه پیلېږي او تر یولسمې هجري پېړۍ پورې رسېږي، دویمــه یا منځنۍ دوره چې د لسمې هجري پېړۍ له نیمایي پیل او د یوولسمې هجري پېړۍ تر پایه پورې رسي او معاصره دوره چې د امیر حبیــب الله خان پر وخت د سراج الاخبار جریدې او په پښتو ادبیــاتو کــې د نویــو څپو له پیل څخه بیا تر (۱۳۵۷ل) کال پورې رارسي، البته دا دورې بیــا په خپل وار سره بېلابېل پړاوونه هم لري. طبیعي خبــره ده، هغــه دوره چې اوس یې موږ د لرغونې دورې په نامه یادوو، تر دې دمخه هم پښتو ادبیات موجود وو، خو موږ یې تر دې دمه کومه لیکلــې بېلګــه نــه ده ترلاسه کړې، د بېلګې د نشتوالي مانا دا نه ده چې ادبیات به نه وو، خو په ادب تاریخ کې تر ډېره حده پر لیکلو ادبیاتو بحث کېږي.

د پښتو ادب لرغونې دوره چې له امیر کروړه پیلېږي، تر روښــانیانو رسېږي او ان تر (۱۰۰۰ هــ ق) حدودو پورې امتداد پیدا کــوي. د پښــتو شعر بېلابېل انواع په خپله لمن کې رانغاړي، محتوایي او شکلي بېلابېل فورمونه په کې موجود دي، قصیدې، مثنوي، غزل او رباعي فرمونه هم په همدې دوره کې راخپل شوي دي. د پردیو ژبو اغېزې شته خو ډېرې زیاتې محسوسې نه دي، لومړۍ منظومه ژباړه هم په همــدې لرغــونې دورې پورې اړه لري.

# د لومړي څپرکي پوښتنې

- ادب تاریخ څه ته وایي؟
- ادبپوهنه څو څانګې لري؟
- د پښتو ادبیاتو لرغونې یا لومړۍ دوره له کومه پیل او تر کومه وخته رسي؟
- د ادب تذکرې او ادب تاریخ ترمنځ توپیرونه څه دي؟
- د ادبي دورو د ټاکنې معیارونه څه دي؟
- ادب تیوري څه ته وایي؟
- ادبي کره کتنه څه ته وایي او ادبیاتو ته یې ګټه څه ده؟
- د ادبپوهنې فرعي څانګې کومې دي؟
- ادبیات څه ډول تعریفولای شو؟
- د پښتو لرغونو ادبیاتو په باب د لس عنوانو بېلابېلو لیکل شویو اثارو نومونه واخلئ؟

# دویم څپرکی

# د پښتو لرغونو ادبیاتو لویې حوزې

د هرې ژبې په یوه مشخصه جغرافیه کې چې ګڼ او یا هم پامور شمېر ادبي اثار رامنځته شي، هغه یوه فرهنګي یا ادبي حوزه ګڼل کېږي، حتمي نه ده چې دا ادبي حوزې دې د اثارو د کمیت او کیفیت له پلوه سره یوشان وي، یا دې یو بل سره سل په سلو کې په رابطه کې وي او یا دې هم یوه پر بلې اغېزه ولري، کېدی شي متقابلې اغېزې او رابطې هم ولري، خو چې په یوه مشخصه جغرافیایي ساحه کې بېلابېل اثار راوټوکېږي، هغه د یوې ادبي حوزې بڼه خپلوي. پښتو ادبیات هم په لرغونې دوره او هم په راوروسته دورو کې بېلابېلې ادبي حوزې لري چې دلته یې یوازې په لرغونې دوره کې د مهمو حوزو یادونه کوو. البته دا په دې مانا نه ده چې پښتو ادب په دې زماني بهیر کې نورې حوزې نه درلودلې او یا به په نورو سیمو کې ادبي اثار نه وي رامنځته شوي، خو کوم څه چې موږ دلته یادوو او د تاریخي اثارو په توګه مطرح دي، هغه دادي چې د نورو سیمو په انډول له دې سیمو څخه زیات لیکلي اثار ترلاسه شوي دي.

((کله چې سړی د موجودو او لاس ته راغلو پښتو ادبي اثارو پخواني اسناد مطالعه کوي، نو راښکاري، چې دغه لومړني اثار په ځینو داسې

مراکزو کې رامنځته شوي، چې هلته د پښتنو خپل محلي حکومتونه او قبیله یي نظامونه وو او پښتانه هلته د خپل ملــي هویــت او سیاســي اقتدار خاوندان وو.

به دغو مراکزو کې یو لرغونی مرکز او د پښتنو پخوانی ټاټوبی (غور) دی، بل مرکز یې د (کسي غره) لمنې دي او درېیم یې هم (ملتان) دی.

خو مخکې تر دې چې په دغو دریو مراکزو کې د پښتو پــر ایجــادي ادبیاتو خبرې وکړو، ښه به وي دا خبره له یاده ونه باسو، چې د دویمې هجري پېړۍ شاوخوا په غزني کې دلویکانو شاهي کورنۍ موجــوده وه، چې تر (ګردېز) او (زابلستان) پورې سیمې یې پــه ولکــه کــې وې او د منطقي له سیمه ییزو شاهي کورنیو سره یې روابط هم درلودل.

د غزني د لویکانو د کورنۍ یو سړی (جویر) نومېده، چې د (۱۲۰هـــ ق) په حدودو کې یې د ژوند زمانه وه، ددې کورنۍ قــدرت د (ســبکتګین) (۳۶۵هــ ق) په وسیله ختم کړای شو. د لوی اســتاد مرحــوم پوهانــد عبدالحی حبیبي د څېړنو له مخې د لویکانو د کورنۍ نژادي تقارب لــه غلجي پښتنو سره ښکاره دی او دغه غلجي پښتانه له زابلستان څخه تر غزني پورې ځمکو کې له پخوا څخه مېشت وو او اوس هــم مېشــت دي.

د غزني د لویکانو د کورنۍ د یوه لویــک یــو پښــتو بیــت مــوږ تــه رارسېدلی دی. د بیت د ویونکي نوم نــه دی څرګنــد، خــو د (خانــان لویک) او (خنچل شاه کابلي) معاصر و او پر (۱۶۳هــ ق) کــال ژونــدی ښکاري.

دغه بیت لوی استاد پوهاند عبــدالحی حبیبــي د ســلطان ســخي سرور د کراماتو د یو خطي کتاب له یو حکایت څخه رانقل کــړی دی او

په اوسنۍ املا استاد داسې لیکلی دی:

په زمي غزنه ښځېد لویک لویانو بایله لویا

کښه تور به براغلوم (بلوم) مملە تازیو په ملا

دا لوړ بیت تر تاریخي تحلیل وروسته داسې تفسیر شوی دی:

څنګه چې د غزني خانان لویک په جبري ډول مسلمان شوی و، نو له کابله یو بل لویک دا لوړ بیت ورواستاوه، چې دا لاندې مفهوم ځنې اخیستل کېږي:

((های افسوس! لویک بت د غزني په ځمکه کې ښخ شو، لویا خو خپله لویي بایلوده، زه به لښکر درواستوم ته د تازیانو (عربو) ملګري مه کوه.))

د بیت له ژبني تحلیل څخه داسې نتیجه اخیستل شوې ده، چې د اسلامي عصر په لومړیو پېړیو کې پښتو په شرقي خواوو کې پهلوي ژبې ته نږدې وه.

د غزني د لویکانو ددغه یو پښتو بیت تر دې لنډې یادونې وروسته ببرته خپل اصلي مقصد ته راګرځو او د پښتو ادبیاتو د ټوکېدو هغه لومړني درې مرکزونه یا حوزې ښیو، چې په اسلامي لومړیو پېړیو کې هلته پښتو اثارو د ایجاد زمینې درلودې او د پښتو هغه لومړني لیکلي اثار چې موږ ترلاسه کړي دي، په دغو دریو سیمو کې ټوکېدلي دي.))

(۵۳: ۲۶-۲۷)

# غور ادبي حوزه

غور د افغانستان یوه لرغونې او تاریخي سیمه ده چې د پاچاهیو سلسلې په کې تېرې شوې دي او ددې سیمې پاچهانو د اسلام د مقدس دین د خورولو په چارو کې هم لویه برخه درلودلې ده.

د پښتو په لرغونو استوګنځایونو کې یوه هم د غور سیمه شامله ده، چې د غور پر سوریانو سربېره د پښتنو د ځینو نورو قبایلو نسبت هم له دې سیمې سره ښکاره دی.

په پښتنو قبایلو کې یوه لویه قبیله، د (غوري) یا (غوریاخېلو) پښتنو ده، چې د تاریخي اثارو او نسبي تحقیق د کتابونو د روایاتو له مخې د (کند بن خرشبون بن سړه بن) په اولاد کې د (غوري) په نامه د یو تن ذکر راځي. د (مخزن افغاني) د روایت له مخې ددې سړي اصلي نوم (شیخ ابراهیم) و، خو څنګه چې په غور کې زوکړی و، نو ځکه د (غوري) په نامه مشهور و او اولاده یې تراوسه د (غوري) او یا (غوریاخېل) په نامه یادېږي. په غوري پښتنو کې څلور لویې قبیلې شاملې دي: (دولت یار، خلیل، زړاني او څمکني)، چې بیا دې هرې قبیلې ته نورې لسګونې پښتنې قبیلې او پښې منسوبې دي.

د غور د مرکز (چغچران) چې په دې وروستیو کې یې د (فیروز کوه) په نامه یاد کړ، ختیځ ته اوس هم د (دولت یار) په نامه یو کلی شته، چې د غوري پښتنو د دولت یار د قبیلې له نامه سره اړه لري.

((د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د څېړنې له مخې دغــه غــوري پښتانه د چنګېزخان (۶۲۴هـ ق. مړ) تر بريدونو وروسته له غور څخــه کوچېدلي دي، مخ په جنوب او شرق رالېږدېدلي دي.

پر غورياخېلو پښتنو سربېره د نورو ډېرو پښتني قبيلــو د اوســېدو پخواني ټاټوبی هم غور و او ډېرې پښتني قبيلې له دې ســيمې څخــه نورو سيمو ته تللي او خورې شــوې دي. لــه دغــو تــاريخي روايــاتو او اسنادو ښکاري چې د اسلامي عصــر پــه لومړيــو کــې د غــور زيــاتره اوسېدونکي پښتانه وو او د دوی ژبه پښتو وه.

زموږ د هېواد نوميالی مورخ ارواښاد مير غلام محمد غبار په خپــل يو اثر (افغانستان و نګاهی به تاريخ آن) کې ليکلــي دي چــې د غــور قديمي اريايي ژبې د وختونو په تېرېدو سره خپل ځــای ځينــو محلــي لهجو او پښتو ته پرېښود او د غور سيمو تــه د پښــتنو د پرلــه پســې مهاجرتونو له امله دا ژبه هلته عامه شوه. د غور له پاچهي کورنيو څخه يوه کورنۍ د سوريانو ده، په (طبقات ناصــري) کــې د (قاضــي منهــاج السراج جوزجاني) د ليکنو له مخې د ضحاک (پښتو: سهاک) په اولاده کې دوه ورونه وو، چې د يو نوم (سور) او د بل (سام) و، سور يــې مشــر ورور او پاچا و او دا بل يې د لښکرو مشر و، تر اســلامي عصــره دمخــه دوی په غور کې پاچاهي درلوده.

د غور دغه سوري شاهي کورنۍ په تاريخونو کې د (شنسبانيانو) په نامه هم مشهوره شوې ده او دا ځکه چې ددې کورنۍ يــو مشــر نيکــه شنسب (شين اسپ) نومېده، چې د پلار نوم يې (خرنک) و، دا شنسب د حضرت علي(رض) په زمانه کې مسلمان شوی او د غــور پاچــا منــل شوی دی.

د شنسب زوی امیر پولاد و، چې د خپلو پلرونو نوم یې بیا راژوندی کړ. هغه وخت چې (ابو مسلم مروزی) د (بني امیه) امیران له خراسان څخه وشړل او د (بني عباس) په پلوی ودرېد، نو امیر پولاد د غور لښکرې د ابو مسلم په مدد وکوچولې او د (آل عباس) د پاچاهۍ د ټینګښت لپاره یې ډېرې هڅې وکړې. د امیر پولاد د پاچهۍ مرکز د غور په (مندیش) کې و، کله چې دی وفاتېده، نو یې پاچاهي زامنو ته ورسېده.

د پښتو د ادبي تاریخ یوه مهمه سرچینه پټه خزانه ده، په دې کتاب کې د معتبرو پخوانیو کتابونو، لکه د شیخ کته متي زي (لرغوني پښتانه) او د محمد بن علي البستي (تاریخ سوري) په استناد راغلي دي، چې د امیر پولاد سوري زوی، امیر کروړ و، چې پر (۱۳۹هـ ق) کال د غور په مندیش کې پاچا شو.

امیر کروړ د غور کلاوې: بالشتان، خیسار، تمران، برکوشک او نور ونیول. دده پاچهي دوه مرکزونه درلودل، یو (مندیش) او بل (زمینداور) و. امیر کروړ ډېر غښتلی پهلوان و، چې په یوازې ځان به له سلو تنو سره جنګېده، ده هم د عباسي دعوت په جنګونو کې ګډون درلود او ډېرې بریاوې یې ترلاسه کړې.

امیر کروړ عادل پاچا و او پر دې سربېره ده په پښتو اشعار هم ویل. امیر کروړ پر (۱۵۴هـ ق) کال د پوشنج په جګړو کې مړ شو او پرځای یې دده زوی (امیر ناصر) پاچا شو.

د امیر کروړ کوم شعر چې پټې خزانې راوړی دی، د سر بند یې دا دی:

زه یم زمری پر دې نــړۍ لــه مــا اتــل نســـته
په هند و سند و پر تخــار او پــر کابــل نســـته
بــل بــه زابــل نســـته - لــه مــا اتــل نســـته

دا لوړ شعر د پښتو تر ټولو پخوانی لاس ته راغلی شــعر دی چــې د اسلامي عصر په دویمه پېړۍ کې د غور یوه پښتانه پاچا (امیــر کــروړ) سوري ویلی دی.
تر دې شعره بل پخوانی شعر تر اوسه نه دی ترلاسه شــوی، امکــان لري په اینده کې د امیر کروړ تر شعره ډېر پخواني پښتو اشــعار کشــف شي.
څنګه چې غور د پښتنو یو لرغونی ټاټوبی و، دغــه رنګــه تراوســه معلوم لاس ته راغلی پخوانی شعر هم همدغې سیمې ته منســوب دی، نو پر دې اساس موږ غور د پښتو ادبیاتو د ایجاد په لومړنیو مراکزو کــې تر ټولو پخوانی مرکز بللی شو.)) (۵۳: ۲۶-۳۰)
پر امیر کروړ سربېره شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري هــم د غور دربار ته منسوب شاعران وو، چې هر یو داسې غرا قصیدې وویلې چې د پښتو ادب په تاریخ کې بل ځای ساری نه لري.
د شیخ اسعد سوري قصیده:

د فلک له چــارو څــه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

او د ښکارندوی غوري:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړل سینګارونه
بیا یې ولونل په غــــرونو کــــې لالونــه

د هنري ښکلا او فکري محتوا له مخې دواړه د هنر په ګاڼه پسوللې قصیدې دي.

ددې بحث په نتیجه کې باید ووایو چې غــور، لکــه څنګــه چــې د پښتنو په لرغونو ټاټوبو کې شامل دی، دغه رنګه تر اوســه لا د پښــتو ادبیاتو د ایجاد لومړنۍ سیمه هم ګڼل کېږي.

# کسي غر ادبي حوزه

(( د پښتنو په لرغونو اســتوګنځایونو کــې یــوه ډېــره مشــهوره او تاریخي سیمه د سلیمان د غرونو لمنې دي، ددې غرونو لمنــې د شــپږ سوو کیلو مترو په شاوخوا کې اوږدوالی لري او پښتانه له ډېرې لرغونې زمانې تر اوسه په کافي تعداد د دغو ډېرو مشهورو غرونو په لمنــو کــې استوګنه لري.

دغه د سلیمان غرونه په ځینو کتابونو او تاریخي اثارو کې ( د کسي غره) په نامه هم راغلي دي او د جنوبي پښتونخوا، بلوچستان، دېــرو او د کندهار د شاوخوا خلک اوس هم د سلیمان غرونه د کسي غــره پــه نامه یادوي.

څنګه چې د کسي غره په لمنو کې له ډېــرې پخــوا زمــانې څخــه پښتانه مېشت وو، نو دوی د خپلې ټولنې له شرایطو او د دوی په ټولنه کې له مسلطو فرهنګي نورمونو سره برابر ادبیات هم درلــودل او دغــه ادبي روایات او د ادبي اثارو د ایجاد بهیر په ګړنۍ او لیکنۍ بڼه له ډېرې پخوا زمانې نه تراوسه پورې ددغه بختور غره په لمنــو کــې د مېشــتو قبایلو ترمنځ، جریان لري.

په سلګونو پښتانه شاعران ددې غرونو په لمنو کې روزل شوي او د پښتو د ولسي ادب یوه عمده او بهانده چینه د همدغو غرونو په لمنــو کې د مېشتو پښتنو په سیمو کې موجوده ده. د پښتو ادبیــاتو پــه دوو

لرغونو تذکرو (تذکرة الاولیا) او (پټه خزانه) کې د کسي غره پــه لمنــو کې د ځینو اوسېدلو پښتنو ځینې زاړه او پخواني شاعران خوندي دي، چې ددغو اشخاصو او اشعارو زمانه زموږ مورخــانو د درېیمــې هجــري پېړۍ له اوایلو ان تر څلورمې او پنځمې هجري پېړۍ پــورې ګڼلــې ده، څنګه چې دا اثار د پښتو په لومړنیو ادبي اثارو کې درېږي، نو ځکه موږ هم (د کسي غر) د پښتو ادبیاتو د ایجاد په لومړنیو دریو مراکــزو کــې حساب کړ.

د کسي غره په لمنو کې د روزل شویو شاعرانو په ډله کې تــر ټولــو معلوم پخوانی سړی، شیخ بېټنی دی چې د ژوند زمانه یــې د درېیمــې هجري پېړۍ شاوخوا اټکل کېدی شي.

د شیخ بېټني یو مناجات سلیمان ماکو په (تذکره الاولیا) کې راوړی دی، چې د پښتو د زړو اشعارو په لړ کې ډېر مهــم شــعر دی او ځینــې داسې ټکي یې له پاړکي څخه ترلاسه کېږي چې په فکــري لحــاظ لــه ډېرو زړو اریایي افکارو سره تړاو لري. د شیخ بېټني د مناجاتو یو بند یا دوه بیتونه دادي:

لویه خدایه، لویه خدایه ستا په مینه په هرځایــه
غر ولاړ دی درناوي کې ټوله ژوي پــه زاري کــې.

پر شیخ بېټني سربېره د اسلامي عصر په درېیمه او څلورمه پېــړۍ کې ددې سیمې دوه نور شاعران هم موږ ته معلوم دي، چې ځینې اثــار یې پښتو تذکرو تر موږه پورې رارسولي دي. په دغو شاعرانو کې یو هم شیخ اسمعیل دی، چې د ده دوه پاړکي زموږ په واک کې دي. په دغــو دوو پاړکو کې یو یې د (تذکرة الاولیا) پــاڼو او بــل یــې (پټــې خزانــې) خوندي کړی دی.

د شیخ اسماعیل د لومړي پاړکي یو دوه بیتونه دادي:

تېښته وکړه لــه ابـلیسه　　　　چـې ابلـیس لعـین ښـکاره سـي
هلـته ورکـه پـلوشـه سي　　　　تـول نــړۍ نــوره تیــاره ســي

د دویم پاړکي لومړۍ برخه یا څلوریزه یې داده:

کــــه یون دی یون دی　　　　مخ کې ببلتون دی
لـــــه کسي غره څخه　　　　ځي خرښــبون دی.

د شیخ اسماعیل په دوو راغلو پاړکو کې یــې لــومړی پــه (تــذکرة الاولیا) کې او دویم یې په (پټه خزانه) کې راغلی دی، د شیخ اسماعیل پر پاړکو سربېره د کسي د غره په لمنو کې دغه وخت د یو بل پخــواني ویناوال د وینا نمونه هم پټې خزانې تر موږه رارســولې ده، دا وینــاوال خرښبون دی، چې د کلام یا پاړکي یو بند یې دادی:

ببلتانـــــه نــــاره مــــې وســــوه پــــه کــــور بانــــدې
نه پــوهېږم چــې بــه څــه وي پــښ پــه وړانــدې
لـــه خپلوانـــو بـــه ببلبـــږم پـــه ســـرو ســـترګو
دواړه ســــترګې مــــې پــــه وینــــو دي ژړانــــدې.

پورته تاسې د دریو تنو پښتنو ویناوالو اشعار ولوستل، چې دغو دریــو تنو د اسلامي عصر د درېیمې او څلورمې پېړۍ په حــدودو کــې ددغــه تاریخي غره په شاوخوا کې ژوند کړی دی.))(۵۳: ۳۲-۳۵)

# ملتان ادبي حوزه او نورې سیمې

د مورخانو او تاریخي کتابونو له لیکنــو څخــه معلــومېږي، چــې د لومړیو دوو اسلامي پېړیو په شاوخوا کې پښــتانه پــه کــافي تعــداد د سلیمان د غرونو له لمنو او د پښتونخوا لــه ســیمو د ســند او پنجــاب سیمو ته ورغلي او هلته مېشت شوي وو.

((ځینې مورخان په دې نظر دي چې په لومړیو اسلامي پېړیو کې په (سند) او (ملتان) کې د اسلامي حکومتونو د ټینګښت یو دلیل په هغو سیمو کې د پښتنو موجودیت و. د پنجاب او سند سیمو ته کوچېــدلي پښتانه د خپل شجاعت او نارینتوب له پلوه په سیمه کې د راجاګانو او محلي حکومتونو د توجه وړ وو.

له همدې امله د پنجاب په غربي برخو او ملتان کې له اوســېدونکو پښتنو څخه (شیخ حمید لودي) د (۳۷۰هــ ق) په شاوخوا کې د لاهور او پنجاب د راجا له خوا له ملتانه نیولې تر لغمانه پورې د پرتو شــاوخوا سیمو واکمن وټاکل شو او (راجا جیپاله) د دغو پښتنو د حکومــت پــه وسیله له خپلو غربي سرحدونو ځــان ډاډمــن کــړ او پــه دې توګــه د څلورمې هجري پېړۍ د دویمې نیمایي په جریان کې د ملتان په لودیانو کې د شیخ حمید لودي له خوا د لودیانو د واکمنۍ بنسټ کېښول شــو او په دې ډول پښتانه په اسلامي عصر کې د هند پــه یــوه برخــه کــې قدرت ته ورسېدل، چې د غربي پنجاب پر ځینو برخو او ملتان سربېره

د پښتونخوا او اوسني افغانستان ځینې سیمې یې هم تر لاس لانـدې وې او د پاچهۍ مرکز یې ملتان و.

تر شیخ حمید لودي وروسته د لودیانو د پـاچهۍ سلسـله دده پـه کورنۍ کې جاري وه، په شیخ حمید پسې دده زوی (نصـر) او بیـا یـې لمسی (داود) د ملتان د لودي کورنۍ واکمنـان وو، ددې کـورنۍ پـاتې شوني تر (۴۳۲هــ ق) پورې هلته وو.

د ملتان د لودي شاهي کورنۍ یادونه مو په دې ځای کې ځکه وکړه چې له دغې شاهي کورنۍ څخه دوه تنه داسې کسان موږ تـه ښـکاره دي چې په پښتو پاړکي ځنې پاتې دي، نو د همدغو دوو تنـو پخوانیـو پښتنو ویناوالو د شتوالي له امله موږ د ملتان سیمه د پښتو ادبیـاتو د ایجاد په لومړنیو مرکزونو کې وشمارله.

د ملتان د لودي شاهي کورنۍ په دوو تنو وینـاوالو کـې یـو (نصـر لودي) دی او بل (شیخ رضی لودي) دی.

د نصر لودي او شیخ رضی لودي لږ احوال او اشعار (شیخ احمد ابن سعید اللودي) په خپل کتاب (اعلام اللوذعي فی اخبار اللـودي) کـې راوړي دي. دا کتاب په (۶۸۶هــ ق) کال کې لیکل شوی دی.

ددغو دوو لودي پښتنو اشعار او احوال بیا (کامران خان سـدوزي) په خپل کتاب (کلید کامراني) کې دمخني یاد شوي شیخ احمـد ابـن سعید اللودي د کتاب له مخې راوړي دي.

کلید کامراني په (۱۰۳۸هــ ق) کال کې د کندهار په (ښهر صفا) کې لیکل شوی دی او ددغه کلید کامراني له مخې بیا دغه اشعار او احوال (محمد هوتک) په (پټه خزانه) کې اخیستي دي، په دې ډول موږ وینـو چې د ملتان د لودیانو اشعار په دریو واسطو تر موږه پـورې رارسـېدلي

دي. په دغو دوو تنو ویناوالو کې (نصر لودي) د (شـــیخ حمیـــد لـــودي) زوی دی، چې تر خپل پلار وروسته په ملتان کې پاچهي ته هم رسېدلی دی. د پاچهۍ زمانه یې استاد عبدالحی حبیبي د (۳۹۰هـ ق) شـــاوخوا ښوولې ده.

ددې کورنۍ بل ویناوال (شیخ رضی لودي) دی، چـــې دی د شـــیخ حمید لودي وراره او د نصر لودي د اکا زوی و.

شیخ رضی لودي د شیخ حمید لودي د پاچهۍ په زمانه کې د اسلام د مقدس دین د تبلیغ لپاره پښتونخوا ته تللی و. پټه خزانه وایي، چـــې دی (دوه کاله) د کسي په غره کې ګرځېده او ډېر خلک یې مســـلمانان کړل.

پټې خزانې د دغو دوو سره تره زامنو (شیخ رضی لـــودي) او (نصـــر لودي) دوه پاړکي خوندي کړي او دا پاړکي د لیکونو (خطونو) پـــه بڼـــه تبادله شوي دي. په دې پاړکو کې لومړی پاړکی د شـــیخ رضـــی لـــودي دی، ددې پاړکي یو دوه بیتونه دادي:

| | |
|---|---|
| د الـــحاد پـــه لـــور دې ترپلل | ګـــروه دې زمـــوږ وکـــوراوه |
| مـــوږ رونـــلی پـــه زیار نـــــه | تـــا پـــه تـــورو تـــوراوه |

کله چې دا لیک په ملتان کې نصر ته ورسېد، نو یې ده ځواب ووایه چې یو دوه بیتونه یې دادي:

| | |
|---|---|
| د الحاد په تور، تورن سوم | زه لرغـــون خـــو ملحـــد نـــه یـــم |
| زما دښنه هسې تو راکړی | کـــه ملحـــد یـــم د دښـــنه یـــم |

په دې دوو لوړو شعري ټوټو کې شیخ رضی د خپل اکا زوی (نصـــر) ته ویلي دي، چې ته له ســـنته او خپلـــې لارې اوښـــتی یـــې او د پلـــرو

عقیدوي لار دې پرېښي ده.

نصر په ځواب کې ویلي چې زه پر سنت ټینګ یم، کوم تورونه چې د لارې د پرېښودو په باره کې پر ما لګول شوي دي، هغه دروغ دي.

په دغو شعرونو کې راغلې خبرې له ځینو تاریخي وقایعو سره اړه لري، چې د اشعارو د مفاهیمو د پوهېدو لپاره موږ اړ یو چې دغه تاریخي مسایل لنډ تشریح کړو.

د ملتان لودي شاهي کورنۍ د غزني له پاچهانو سره په رقابت کې واقع وه او تل به د غزني د پاچهانو له خوا د ملتان پر لودیانو حملې کېدلې او تر هغې چې د دې کورنۍ د پاچهۍ سلسله د غزنوي پاچهانو له خوا ختمه شوله. مورخین په دې عقیده دي چې د ملتان پر لودیانو د قرمطیت او الحاد تورونه هسې خوشې بابیزې خبرې دي او د همدې تور په وسیله د غزني پاچهانو د ملتان د لودیانو د ټکولو لپاره ځانته یوه پلمه پیداکوله. که نه وي د ملتان لودیان هم مسلمانان وو او د غزني پاچهان هم مسلمانان وو، نو څنګه کېدی شول چې یو مسلمان پاچا دې پر بل لښکرکشي وکړي؟ همدا علت و، چې د ملتان پر لودیانو د الحاد او قرمطیت تورونه لګول کېدل او دا یې ښوول چې دوی له اسلامي سنته او اسلامي لارې اوښتي دي او په دې توګه یې د دوی د وهلو او پر دوی د حملې لپاره شرعي جواز پیداکاوه. لکه چې تاسې د (نصر لودي) په ځوابیه پاړکي کې ولوستل، نصر د الحاد تورونه رد کړي دي او ویلي یې دي، چې زه مومن یم او پر خپله پخوانۍ لاره ټینګ یم.

ملتان یو له هغو سیمو څخه ګڼل کېږي چې په اسلامي څلورمه پېړۍ کې هلته د پښتو ادبیاتو د ایجاد زمینې موجودې وې. ملتان په پخواني هند کې تر اوسه معلومه لومړنۍ سیمه وه چې پښتو ادبیات په

کې ايجاد شوي دي. تر دې زمانې وروسته د اسلامي عصر په بېلابېلو پېړيو کې پښتانه د هندوستان ډېرو سيمو ته تللي او هلته مېشت شوي دي. د دوی له مېشتېدو سره په هندوستان کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې زمينې هم برابرې شوې دي او په وروستيو اسلامي پېړيو کې پر ملتان سربېره د هندوستان په ډېرو نورو ښارونو کې پښتو ادبيات ايجاد او پښتو اثار وليکل شول، چې دا جريان له څلورمې هجري پېړۍ نه تر نن ورځې پورې راروان دی.))
(۵۳: ۳۶-۳۹)

په همدې لرغونې دوره کې پر شيخ رضي لودي او نصر لودي سربېره مور د ملتان د بل پښتون واکمن (سلطان بهلول لودي) او د هغه د دربار د شاعر (خليل خان نيازي) دوه څلوريزې هم لرو چې يو بل ته يې د سوال او ځواب په بڼه ويل شوي او د هغوی د پېژندنې په برخه کې به پرې پوره بحث وشي.

د پورته دريو غټو مرکزونو ترڅنګ، د هندوستان ځينې نور ښارونه ا وهمدا راز د هېواد نورې سيمې لکه: غزني، بُست، زمينداور او نورې سيمې هم شته چې هم په لرغونې دوره کې او هم تر هغې وروسته په کې پښتو ادبيات ټوکېدلي او وده يې کړې ده.

# د دويم څپرکي لنډيز

په تېر بحث کې موږ هغه درې مرکزونه وښوول، چې د اسلامي عصر په لومړيو پېړيو کې د پښتو لومړني اثار په همدې مرکزونو کې ايجاد شوي دي. دا مهال پښتانه په زيات تعداد کې په همدې سيمو کې پراته وو، غور، د کسي غر او ملتان، درې داسې مرکزونه وو، چې پښتنو په کې خپل محلي حکومتونه درلودل او يا يې تر خپل قبيله يي نظام لاندې په کې ژوند کاوه.

د پښتونخوا، افغانستان او پخواني (روه) نورو سيمو کې پښتانه خواره وو، د سند او پنجاب لمنو ته هم په کافي تعداد کې رسېدلي وو او د پنجاب په يوه خورا لرغوني ښار (ملتان) کې يې حکومت هم جوړ کړی و.

((په دې مرکزونو کې چې کوم ادبيات ايجاد شوي دي، هغه ادبيات دا لاندې خصوصيات لري:

۱) په اسلامي لومړيو پېړيو کې ايجاد شوي پښتو ادبيات د خپلو شکلي جوړښتونو له مخې د پښتو هغه لرغونې سندرې دي، چې د خپل جوړښت له پلوه له زړو اريايي ادبياتو سره نږدېوالی لري او د پښتو خپل شعري اوزان دي، چې دغه اوزان د پښتون ولس ترمنځ موجود او مروج وو او دا نمونې راخرګندوي چې د اسلامي عصر د لومړيو څلورو پېړيو په دوران کې په دغو مراکزو کې ايجاد شوي پښتو اشعار په خپلو دغو لرغونو ملي اوزانو کې ويل کېدل.

۲) په دغو سندرو کې ډېر پېچلي موضوعات او افکار نــه دي بيــان شوي، بلکې د هغه زمان له غوښتنو او د پښتنو موقعيت ته په پاملرنــه د مفاخرې او پر حربي او پوځي کارنامو وياړ، له خپل قوم او کورنۍ سره مينه ددې سندرو د بيــان اساســي موضوع ده. د اســلامي اساســاتو حمايت هم د دغو سندرو په بيانونو کې شامل موضوعات دي.

۳) د اسلامي لومړيو پېړيو پښتو پارکي، لکه چې د شکلي جوړښت له پلوه خپله ملي بڼه لري او د نورو ژبو د شاعرۍ اغېزې پر دې شعري اوزانو او اشکالو نه ليدل کېږي، دغه رنګه د نورو ژبو اثرات هم پــر دې اشعارو زيات نه ليدل کېږي، يو نيم د عربي ژبې او نورو ګاونډيتوب ژبو لغت هم په دغو اشعارو کې شته، چې دا ډول اخيستنې د اسلام د پاک دين له راتګ، له نورو ژبو سره د ګاونډيتوب او راشې درشــې لــه املــه طبيعي عمل دی.

۴) په دې مراکزو کې ايجاد شوي اشعار ساده دي او ډېــرې هنــري رنګينۍ نه لري او په ځينو کې د هنر تومنــه ډېــره نــه ليــدل کېــږي. ويناوالو سک سيخ د خپل مطلب پر ويلــو پيــل کــړی دی او د هنــري رنګينو ډېر خيال يې نه دی ساتلی، خو دا خبره هم بايد هېره نــه کــړو چې ددې پړاو په اشعارو کې ځينې يې په ساده ګۍ کــې هــم ښــکلي دي.)) (۵۳: ۴۰-۴۲)

په دغو دريو لويو مرکزونو کې موږ د امير کروړ سوري، شيخ اســعد سوري، ښکارندوی غوري، بېټ نيکه، شيخ اسمعيل، خرښبون، شــيخ رضی لودي، نصر لودي، سلطان بهلول لودي او ځينــو نــورو شــاعرانو بېلګې لرو چې پښتو ادب پرې روښانه دی.

# د دویم څپرکي پوښتنې

- پښتو لرغونې ادبي دوره څو لویې ادبي یا فرهنګي حوزې لري؟
- په غور ادبي حوزه کې کومې ادبي څېرې راټوکېدلې دي؟
- د ملتان ادبي حوزې ځانګړنې کومې دي؟
- پر (غور) (کسي) او (ملتان) ادبي حوزو ولې د نورو ژبو د ادبیاتو تاثیرات نه لیدل کېږي؟
- په (کسي غره) ادبي حوزه کې کوم شاعران ټوکېدلي دي؟
- په (غور)، (کسي) او (ملتان) ادبي حوزو کې د پښتو ژبې او ادب د نړه والي علتونه کوم دي، ددې حوزو ادبي ځانګړنې په ګوته کړئ!
- کومو پښتنو واکمنو په دې حوزو کې شعرونه ویلي دي؟
- په غور، کسي او ملتان ادبي حوزو کې شعرونه په کومو وزنونو کې ویل شوي دي.

# درېيم څپرکی
# د پښتو لرغونو ادبياتو څېړې
# او د کلام بېلګې

پښتو لرغونې شاعري يا د پښتو ادبياتو لومړنۍ يا لرغونې دوره څه کم زر کاله زمانه په غېږ کې نيسي، په دې ټول زماني بهير کــې کېــدی شي په سلګونو يا زرګونو شاعران او ليکوال تېر شوي وي، خو زموږ په لاس کې اوس د هغوی ليکلي اثار نه شته. د کومو شاعرانو يا ليکوالو د کلام بېلګې چې په دې څه کم يــوه زريــره کــې د ادبپوهــانو لاس تــه ورغلي، د هغوی ټول شمېر (۲۹) يا نږدې دېرشو تنو ته رسېږي، دلتــه غواړو همدا شاعران يا ناظمان دروپېژنو، د هغوی د کلام بېلګــې درتــه وړاندې کړو او هم يې کلام له شکلي او مانيزه پلوه وڅېړو.

د يادونې وړ ده چې تر اوســه پــورې دا شــاعران د ادب تــاريخ پــه بېلابېلو اثارو کې په لنډيز او تفصيل سره معرفي شوي، ما تر ډېره حده کوښښ کړی چې دا ټول اثار سره پرتله کړم، د هغوی شننې او ارزونــې هم راواخلم، خو په ځينو اثارو کې پېژندنې نســبتاً يــو شــان وې، خــو ارزونې يې يو څه توپير درلود. د پېژندنې په برخه کې چې ماته تر ټولــو خوږ او کره متن ښکاره شو، هغه د لوی استاد حبيبي د پښتو ادبيــاتو تاريخ (دويم ټوک) متن و چې هم يې تاريخي تسلسل ته ډېر پام کــړی

و او هم یې د متن ژبه خورا خوږه وه، د لوی استاد ارزونه او شننه هم خورا خوږه او ژوره وه، تر استاد حبیبي وروسته چې زموږ نورو لیکوالو هم د ادب تاریخ کوم اثار لیکلي، د استاد حبیبي متن یې د اثر محور جوړوي، نو ما هم غوره وبلله چې دلته د استاد حبیبي متن د دې د لرغونې دورې د لیکوالو یا شاعرانو د پېژندنې په برخه کې د اساسي محور په توګه راشي او نور نوي او وروستي معلومات هم پر همدې چورلیز راوڅرخي، البته د شننې او ارزونې یا څېړنې په برخه کې د نورو لیکوالو له اثارو، د متن له اوسنیو معیارونو څخه هم ګټه پورته شوې ده او همدارنګه خپل تحلیل، شننه او ارزونه هم ورسره مله شوي دي، خو د پېژندنې په برخه کې د متن ډېره برخه هماغه ده چې د استاد حبیبي په خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاریخ) دویم ټوک کې کارولې ده.

# امیر کروړ (جهان پهلوان)

## (۱۳۹هـ) حدود

په پښتو ادب تاریخ کې امیر کروړ هغه ادبي، سیاسي او ملي څېره ده چې تر ده دمخه لا تر دې دمه د بل کوم شاعر یا لیکوال لیکلی اثر نه دی ترلاسه شوی، نو کله چې د پښتو ادب تاریخ پر لیکنې برخه خبرې کېږي، نو پیل یې له همدې امیر کروړه کېږي. په تاریخونو کې راغلي چې: (( د سوریانو د شنسب کهول مشهور و، دوی د غور پر غرو پاچاهي کوله، دا شنسب د خرنک زوی و، چې د اسلام په پیل کې ژوندی و، دده زوی امیر پولاد ډېر مشهور شو، د خپلو پلرو نوم یې بیا ژوندی کړ، کوم وخت چې ابو مسلم مروزي د (بني امیه) امیران له خراسانه وشړل او د (بني عباس) په پلوۍ ټینګ ودرېد؛ نو امیر پولاد د غور لښکر د ابو مسلم مرستې ته بوت او د عباس کورنۍ د پاچاهۍ لپاره یې ډېر کارونه وکړل، دده مرکز په غور (مندېش) کې و او پر ټول غور یې حکومت کاوه چې مړ شو، نو یې امارت زامنو ته پاتې شو، بیا نو د (امیر بنجي نهاران) تر وخته د دوی احوال معلوم نه شو.

دا روایت د خراسان مشهور مورخ (منهاج سراج جوزجاني) د (منتخب تاریخ ناصري) په حواله کښلی دی، وایي چې امیر پولاد د ابومسلم (۱۳۹هـ) معاصر و (بنجي نهاران) د هارون الرشید (۱۷۰هـ) له درباره عهد او لواء راوړه او بیا نو ددې کورنۍ یو بل مشهور پاچا امیرسوري یادوي، چې د آل صفار (۲۵۴-۲۹۶هـ) معاصر دی. له دې

ځخه ښکاري چې د (شنسب) له وخته یانې د اسلام له پیل څخه بیا د سلطان محمود او مسعود تر وختو پورې د (سور) کـــورنۍ امـــارت لاره، خو په خواشینۍ سره ددغو شاهانو احوال مورخینو ته په تفصیل نه وو معلوم، نو یوازې د څو تنو نومونه یې یاد کړي دي. وروسته چې د غــــور پاچاهان پر غزنوي کورنۍ غالب شول، دا ټول له سوري کورنۍ څخه وو او د دوی کورنۍ پر بامیانو، تخارستان، سیستان، زابل او کابل پاچــاهي کوله، هندوستان هم دوی فتح کړ او د ګنګا تر څنډو پورې یې سلطنت ورسېد. د پښتو ادبي اثار داسې ښکاره کوي چې دغې ســـوري کـــورنۍ (پښتو) ویله او په دوی کې د پښتو ادب غـــوره او خـــورا ښـــه زاړه اثـــار پیداشوي دي.

لکه څنګه چې د (طبقات ناصري) په روایت کې راغلي، امیر پولاد د (۱۳۰هــ) په شاوخوا کې د غور مشهور سوري پاچا و، په دغو وختو کې د خراسان خلکو غوښتل چې خپل هېواد ازاد کاندي، ددغه تحریک په سلسله کې د خراسان یو مشهور سړی (ابو مسلم مروزي) راپور ته شو، چې د خراسانیانو په کومک یې د (بني امیه) اخر پاچا (مروان) مات کړ او پر (۱۳۲هــ) یې په کوفه کې (ابوالعباس علي بن عبدالله بن عبـــاس) پر خلافت کېناوه. د سوریانو کورنۍ چې د غور او خراسان له مشـــهورو واکوالو څخه وه، له ابو مسلم سره ملګـــرې وه، د پټـــې خزانـــې مولـــف محمد هوتک د (شیخ کته متي زي) د ((لرغوني پښـــتانه)) پـــه حوالـــه هسې وایي:

چې ((امیر کروړ جهان پهلوان د امیر پولاد سوري زوی و او دا امیـــر په جګړو کې د ابو مسلم خراساني کلک ملګری او بریالی مل و.)) کـــه څه هم نور مورخان د امیر کروړ نوم نه اخلي او منهاج سراج تش دومره

وایي چې پس له امیر پولاده دده زامن د غور واکوال وو، مګر محمد بن علي البستي په (تاریخ سوري) کې د امیر پولاد یو زوی چې امیر کروړ جهان پهلوان سوري غوري دی، ستایي او دده پښتو اشعار رانقلوي او داسې ښکاري چې امیر کروړ جهان پهلوان ډېر شجاع، ادیب او د قلم او تورې څښتن و.

که څه هم (تاریخ سوري) اوس نه شته، خو د (پټې خزانې) مولف د (لرغوني پښتانه) په حواله د امیر کروړ په باب لاندې معلومات موږ ته سپارلي دي.

((نقل کا: زبدة الواصلین شیخ کټه متي زی غوریاخېل په خپل کتاب لرغوني پښتانه کې چې دی نقل کا له تاریخ سوري څخه چې په بالشتان یې کتلی او موندلی و، شیخ کټه علیه الرحمه هسې وایي چې: په تاریخ سوري کې راوړي:

امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی و، چې په کال (۱۳۹هـ) سنه هجري د غور په مندېش کې امیر شو او ((جهان پهلوان)) یې باله. وایي چې د غور کوټونه او د بالشتان او خیسار او تمران ماڼۍ او بر کوشک یې ونیول او د رسالت له کهوله یې په خلافت کې ډېر کومکونه وکړل. نقل کا چې امیر کروړ ډېر غښتلی او پهلوان او په یوه تن له سلو جنګاورو سره جنګېده، ځکه یې نو کروړ باله چې معنی یې ده کلک او سخت. وایي چې امیر کروړ به په دوبي زمینداور کې و او هلته یې ماڼۍ درلوده، چې کټ مټ د مندېش په شان وه او په دغه ځای کې یې ښکار کاوه او عشرت. په تاریخ سوري کې راوړي چې دا امیران له پېړیو په غور او بالشتان او بست کې وو او د هغه (سور) نومې له اولاده دي، چې د سهاک له پښته وو. امیر پولاد په هغه دعوت کې شریک و، چې

ابوالعباس سفاح د بین امیه سره جګړه کړله او ابو مسلم یې هم مرستی و. شیخ کته علیه الرحمه له تاریخ سوري نقل کا چې: امیر کروړ عادل او ضابط او د ښې وینا خاوند و، ده به هر کله شعرونه ویل. په کال سنه (۱۵۴) هجري د پوشنج په جګړو کې مړ شو او تر ده وروسته یې زوی امیر ناصر ایوادونه ضبط کړل او د غور او سور او بست او زمینداور پر مځکو خاوند شو.)) (۵۱: ۳۰-۳۲)

د امیر کروړ د کورنۍ او پاچاهۍ په باب دغه لوړ معلومات د تاریخ سوري په حواله مستند او ټینګ دي، که څه هم نور مورخین دده د نامه څرګندونه نه کوي، خو اساساً دا بیان له نورو تاریخي متونو سره مخالفت هم نه لري. امیر پولاد او د سوریانو کورنۍ او د دوی معاصرت او کومکونه له ابو مسلم سره دا ثابتوي چې دوی په غور کې لوی لاس درلود او په دې تاریخونه متفق دي، خو پټه خزانه د لرغوني پښتانه په حواله له تاریخ سوري څخه دا خبره هم ښکاره کوي چې په هغه وخت کې د سوریانو ژبه پښتو وه او لکه چې اوس هم ځینې سوري خلک په بادغیس کې پښتو وایي، د دوی پخوانو نیکونو هم پښتو ویله. امیرکروړ تراوسه هم په پښتنو کې په افسانوي ډول مشهور دی، مثلاً که څوک وغواړي چې د یوه شي قدامت بیان کړي، نو وایي: د کروړ له وختو دی، مانا دا چې کروړ د پښتنو یو پخوانی تاریخي پهلوان دی چې د پښتو ژبې پخوانی شاعر هم ګڼل کېږي.)) (۱۳: ۴۴۰-۴۴۱)

د پښتو ډېر زوړ او پخوانی شعر هم همدغه امیر پورې تړلی دی.

د پښتو په خورا زوړو او پخوانیو ادبي اثارو کې چې تراوسه زموږ لاس ته راغلي دي د امیر کروړ سوري شعر تر ټولو پخوانی دی، چې ځینو ادبپوهانو دا شعر یوه ویاړنه بللې او ځینو یو حماسي شعر ګڼلی

چې وروسته به بیا په دې باب لړه زیاته رڼا واچوو، دا شعر پټې خزانې د تاریخ سوري په حواله خوندي کړی دی.

هغه وخت چې د پښتو په ګاونډیو او خویندو ژبو کې لا د شاعرانو او لیکوالو د کلام کومې څرګندې بېلګې نه دي رامنځته شوي، زمونږ د پښتونخوا په غربي څنډو او د بادغیس، هرات او غور په سیمو کې د پښتو ژبې د شعر غړونه اوربدل کېدل او زمونږ توریالي مشران لکه د تورې پر میدان چې پهلوانان وو، دغسې د ادب او شعر پر ډګر هم دمخه وو.

داسې ښکاري چې په سوریانو کې د پښتو شعر د اسلام له پیل څخه موجود و، څکه چې د امیر کروړ د ژوند وخت تر (۱۰۰هــ) څخه وروسته شروع کېږي او بیا مونږ وینو چې په دغو سوري خلکو او هم د غور په اوسېدونکو کې د سلطان محمود تر عصره د (۴۰۰هــ په حدودو کې) هم د پښتو شعر ازانګې پورته وې، نو له دې څخه ثابتېږي، چې د اسلامي دورې په لومړیو څلور سوو کالو کې (غور) او (سوري قبایل) د پښتو شعر او ادب زانګو وه او په دغو وختونو کې پښتو ژبې پاخه اشعار او ادبي اثار درلودل.

پټه خزانه د امیر کروړ سوري یو شعر داسې رانقلوي:

((په تاریخ سوري محمد بن علي البستي داسې کښلي دي چې: د عباسي دعوت په جنګونو کې چې امیر کروړ ډېرې سوبې وکړلې، نو یې دا بیتونه وویل چې ویاړنه یې بولي. هغه دادی چې شیخ کته علیه الرحمه له تاریخ سوري رانقل کړي دي)) (۵۱: ۳۲)

## ویاړنه د امیر کروړ جهان پهلوان

زه یـم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند و سند و پر تخار او په کابل نسته
بل پر زابل نسته - له مـا اتـل نسته

غشی د من مې ځي بریښنا پر میرځمنو باندې
پـر ژوبـله یـونـم یرغالـم پـه تښتېدونو باندې
پر ماتېدونو باندې - لـه مـا اتـل نسـتـه

زما د بریو پرخول تاوېږي هسک په نمنځ په ویاړ
د اس له سو مې مځکه ربږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ - لـه مـا اتـل نسته

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم
غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په ادوم
زه پېژندوی یم په روم - لـه مـا اتـل نـسـتـه

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښمن راځخه
د هـریـرود پـر څنډو ځم تښتي پلن راځخه
رېږي زړن راځخه - له ما اتـل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سورو کړه
په باداري مې لوړاوی د کول د سـورو کـړه
ستسر مې تربور وکړه - لـه مـا اتـل نسـتـه

خـپلو وګـړو لـره لـور پـېرزوینه کـوم
دوی په ډاډینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم - له ما اتل نسته

پر لویو غرو مې وینا درومي نه په څنډو په ټال

نړۍ زما ده نوم مې بـولي پـر دریځ ستایوال
په ورځو شپو میاشتو کال - لـه ما اتـل نستـه

## ددې شعر شننه، ارزونه او ځانګړتیاوې:

ادبپوهانو د امیر کروړ شعر له بېلابېلو لیـدلوریو او خـواوو تحلیـل کړی او د هغه ځانګړنې یـې پـه نښـه کـړي دي. د سـرمحقق زلمـي هېوادمل په وینا:

((د امیر کروړ سوري لاس ته راغلـی لرغـونی شـعر دغـه لانـدې ځانګړنې لري:

۱) د امیر کروړ سوري لاس ته راغلی پاړکی چې د پټې خزانـې پـاڼو موږ ته رارسولی دی، د متونو د استناد له معمولو نورمونـو سـره برابـر دی، دا ځکه چې پټې خزانې دا متن (د امیر کروړ سوري شعر) د (شیخ کټه متي زي) له (لرغوني پښتانه) څخه اخیستی دی او د پټې خزانـې مولف د لرغوني پښتانه ماخذ، هم راښوولی دی، چې هغه د (محمد بن علي البستي) (تاریخ سوري) دی او دا په دې مانـا چـې شـیخ کټـه د امیرکروړ په باب معلومات او دده شعر له (تاریخ سوري) څخه اخیستی دی.

د تاریخ سوري ماخذ معلوم نه دی، چې پـه دې کتـاب کـې بـه د امیرکروړ سوري شعر له کومه ځایه اخیستل شوی وي، ډېـر احتمـال شته، چې دا پاړکی دې د ویلو له وخته د تاریخ سوري د تالیف تر وخته (۶۵۰ هـ ق حدود) په شفاهي ډول د خلکو په منځ کې خور راغلی وي او د روایاتو حافظو دې تر (محمد بن علي البستي) پورې رارسولی وي،

دا عنعنه تراوسه زموږ په ولس کې موجوده ده او د پښتو ډېر ادبي اثــار په کليو او بانډو کې د پېړيو په ترخ کې سينه په سينه انتقالېږي. د امير کروړ سوري د شعر د انتقال او ضبط روش د شرقي څېړنو لــه معمولــو روشونو سره سل په سلو کې موافق دی، نو ځکه موږ ورته يــو مســتند متن ويلی شو.

۲) د امير کروړ لاس ته راغلی شعر د اشعارو د معنــوي ډولونــو لــه پلوه وياړنه يا فخريه ده، چې شاعر خپلې برياوې، ســوبې، مېړانــې او د هغه زمان له شرايطو سره سم خپل افتخارات په کې بيان کړي دي.

د دا ډول شعرونو ويل هغه وخت په عربو او عجمو کې بــاب وو او د منطقي په ادبي جرياناتو کې دغه ډول اشعارو لاره درلوده. د امير کروړ د شعر له روحيې سره د برابرو اشعارو او اثارو ځينې بېلګې د اســلامي عصر د لومړيو پېړيو په شاوخوا کې د سيمې په ژبو کې ســړی ليــدلای شي.

له دې څېړنو څخه نتيجه اخيستلای شو، چې د امير کــروړ شــعر د خپل زمان له روحيې سره برابر ايجاد شوی دی.

۳) د شکلي جوړښتونو له پلوه د امير کروړ وياړنه نــه د شــرق لــه دېواني شعري ډولونو، لکه قصيده، غزل، ترکيــب بنــد، ترجيــع بنــد، مخمس، مسدس او نورو سره يوشانوالی لري او نه سل په ســلو کــې د پښتو شاعرۍ له خپلو ملي شعري انواعو او اوازونو، لکه چاربيتو، بدلو، بګتيو، لوبو او کسرونو سره يوشانوالی لري، نو ځکه ښاغلي حبيب الله رفيع دغه ډول سندرې د پښتو لرغونې سندرې بللې دي او لــه خپلــو څېړنو څخه يې دا نتيجه ايستلې ده، چې دا ډول لرغــونې ســندرې د زړو اريايي سندرو او د پښتو د ولسي سندرو ترمنځ د اتصال يوه کــړۍ

ده. د امير کروړ شعر شکلي جوړښت يې د اوستا د (يشتونو) له ځينو برخو سره پرتله کړی، ددغو يشستونو او د امير کروړ د شعر ترمنځ ډېر نږدېوالی ليدی شو.

کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي ويلي دي، چې د امير کروړ وياړنه د اوستا له (زاميادیشت) او (مهريشت) او د (ريگويدا) له ځينو سندرو سره پرتله کېدی شي.

۴) د امير کروړ شعر د ژبنيو او لغوي څېړنو له نظره هم د توجه وړ دی، ځينې ترکيبونه او لغات په دې شعر کې شته، چې د پښتو لغتپوهانو او ژبپوهانو لپاره د تحقيق زمينې لري. که څه هم د امير کروړ د شعر له ويلو کابو څه دپاسه دوولس نيم سوه کاله تېرېږي او له هغه وخته چې تر موږ رارسېدلی په غالب گومان يې په شفاهي او تحريري ډول د انتقال بېلابېل مراحل تېر کړي دي، په دغسې مواردو کې هرومرو په متن کې د لاسوهنو او د کلماتو او لغاتو د ترکيبونو د تبديلۍ امکانات شته، خو موجوده بڼه يې ځينې داسې ترکيبونه او لغات لري، چې په عامه پښتو ژبه کې يې ځينې اوس متروک دي او دا امکان شته، چې د پښتو په ځينو غرنيو لهجو کې لا تراوسه موجود وي.

۵) د امير کروړ د شعر ژبه لا تراوسه خپله رواني لري، سره له دې چې ځينې لغات يې په عامه پښتو کې نه استعمالېږي، خو بيا همدا ژبه ډېره سخته او نا اشنا نه ده او کېدی شي چې ځينې لوستونکي دا سوال وکړي، چې په دې څه دپاسه دولس نيم سوو کلونو کې په پښتو کې ډېر زيات ژبنی تحول نه دی راغلی؟

دغسې احتمالي پوښتنو ته په ځواب کې بايد ووايو چې په پښتو

ژبه کې د تغییر او تحول پروسه د اروپايي ژبو او حتی د پښتو د ځینو ګاونډیو ژبو په څېر نه ده او دا ځکه چې ددې ژبې د ویونکو په اجتماعي اقتصادي ژوند کې هسې تحول نه دی راغلی، لکه د نورو هغو چې راغلی دی. په ژبه کې د تحول پروسه د ژبې د ویونکو د اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ژوند د تحول له پروسې سره متناسبه ده.

که چېرې د امیر کروړ په شعر کې د انتقال دومره اوږده جریان په ترڅ کې د تغیراتو او لاسوهنو احتمالات هم په پام کې ونیسو، نو بیا د ده د شعر پر ژبه د څه ویلو مجال نه پاتېږي.

۶) د امیر کروړ د شعر له مطالعې څخه سرې ته تر یوه حده د شاعر فکري سیر او د هغه زمان د پښتنو روحیه او هغه د استاد عبدالحی حبیبي خبره له خپل تېر سره د امیر کروړ مینه ښه ترا څرګندېږي.

۷) د امیر کروړ تر زمانې وروسته تر څو پېړیو پورې په غور کې د پښتو ادب د ایجاد زمینې نورې وې او د هغه وختني غور په توابعو کې د پښتو ډېر نور اثار هم ایجاد شوي دي.)) (۵۳: ۳۰-۳۲)

استاد عبدالروف بېنوا د امیر کروړ د شعر په باب وایي: ((البته دغسې اشعارو ته پاک، سپېڅلي، ملي اشعار ویلی شو، ځکه چې ملي لوړ احساسات په داسې توګه په کې ځای شوي دي، لکه څنګه چې له یوه پښتون پهلوان څخه یې هیله کېږي او یو پښتون پهلوان باید همداسې د خپلې مېړانې احساسات څرګند کړي...)) (۷: ۳۲)

ځینې نور لیکوال بیا وایي: ((د امیر کروړ شعر له عادي محاورې سره یو څه توپیر لري، ګڼ شمېر پخواني کلمات یې خوندي کړي، د نورو ژبو له اختلاطه لرې دی، ژبه یې روانه ده، د ژبې پراخوالی او پوخوالی ورڅخه څرګندېږي، په ملي اوزانو کې ویل شوی، دده د خپلو

احساساتو او جذباتو ښکارندويي کوي، د پښتو شاعرۍ د پوخوالي ځرګندونه کوي، کروړ په کې د یوه غښتلي کرکتر او پهلوان په توګه ځرګندېږي، پرځان باندې د پښتنو د ډاډمنتيا روحیه ځرګندوي. د یو عادل، مستحکم او مدبر حاکم انځورنه کوي.))

استاد عبدالحی حبیبي بیا په ټولیز ډول ددې شعر ځانګړنې داسې په ګوته کړي دي:

[(۱) د پښتو دا زوړ شعر چې د دویمې هجري پېړۍ له لومړۍ برخې څخه راپاتې دي، له ظاهري پلوه یانې د ژبې او ادا، لغاتو او کلماتو له مخې مخصوص رنګ او زموږ د اوسنۍ ژبې او له محاوروي جریان سره توپیر لري، ډېر داسې لغات او پښتو سوچه کلمات په کې راغلي دي چې اوس متروک او مهجور دي او په عمومي محاوره او ادب کې نه استعمالېږي.

ددې شعر له ژبنۍ پلټنې څخه سړی دا نتیجه اخیستلای شي چې په دغه لومړنۍ دوره یانې په اوله او دوهمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه په غور کې د نورو ژبو له اختلاطه سوچه وه او دا سوچه توب او نوره والی یې تر (۴۰۰هـ) پورې هم ساتلی دی او هر څومره چې په اسلامي دوره کې پېړۍ پرې تېرېږي، هغومره ژبه له سوچه توبه لرې کېږي او نور عناصر پرې ګډېږي. تاسې دا شعر له سره تر پایه وګورئ یو عربي یا پارسي لغت په کې نه شته، ځینې لغات که یې له پخوانو اریایي ژبو سره مشترک وي، وي به. د ځینو کلماتو ګرامري کیف او اشتقاقي ډول دا راښيي چې پښتو ژبې پخوا قوي بنیه او غښتلې بنسټونه درلودل او د ایتمالوجۍ له پلوه یې ډېرې مزایاوې او ځانګړنې درلودلې چې اوس یې په خواشینۍ سره بایللي دي، مثلاً په دغه شعر کې د کلماتو د

ساختمان او جوړښت له پلوه داسې مواد شته چې اوس يې نه لرو:

**الف:** پخوا ډېر مصادر په ژبه کې له خپلو مشتقاتو سره موجــود وو چې اوس يوازې له هغو څخه يوه سپکه ريښه موږ ته پــاتې او نــور لــه منځه تللي دي، مثلاً: يون (تگ او کوچ)، يرغل (هجوم) رپ (تپش) چې اوس شته، مگر مصدري او فعلي صورتونه يې ورک شوي دي، خــو پــه دغه شعر کې د يونم (ځم) يرغالم (هجوم کوم) رپي (رېږدي) پــه ډولــو شته، نو چې مشتق افعال يې مستعمل وو، بايد د غو مادو ته په ژبه کې د (يونل، يرغالل، رپل) مصادرو ته هم قايل شو چې اوس مســتعمل نــه دي.

**ب:** زړن (دلاور) دښن (دښــمن) پلــن (پيــاده) اوس مســتعمل او ژوندی نه دي، خو داسې ښکاري چې (ن) د نسبت يا فاعليت ادات په پای کې لري او لومړی کلمه له زړه او دويمه لــه (دښ) يــانې (عيــب او زشتي) او دريېمه له پل (قدم) څخه جوړ شوی دی، چې اوسني اشکال يې دادي: زړه ور- دښمن- پلی.

**ج:** ځينې پخواني کلمات چې دې زاړه شــعر لــه زړې ژبــې څخــه راخوندي کړي دي د ژبې پخواني وســعت او پراختيــا څرگنــدوي او دا ښکاره کوي چې د ژبې ډېر مواد او ښه ښه کلمات په خواشينی سره له لاسه وتلي دي، مثلاً په دې شعر کې (من) خورا لرغونې کلمه ده، چــې په سنسکريت کې هم وه اوس موږ په خپله مستعمله ژبه کې د (منــل) مصدر لرو او مشتقات يې هم وايو، خو ريښه يې نه ده راته معلومه چې دا مصدر له کومه شوی دی.

که دقيق شو د (منل) مصدري عنصر (من) دی چې په سنســکريت

کې د (زړه)، (روح) او (ارادې) مانا لري. (ابو ریحـان البیرونـي) وایـي، چې: (من) اصلاً زړه ته وایي، څرنګه چې د ارادې محل او ځای زړه دی، نو په خپله اراده هم (من) بولي او په دې شعر کې هم (مـن) د (ارادې) مانا ورکوي او له دغې مادې څخه د اریایانو د یوه پخواني پلار او مشهور مقنن (مانو) نوم هم جوړ شوی دی، چې د (منونکي) او (فکر کوونکي) مانا لري او دا ټول اسناد پر دې دلالت کوي چې (من) پخـوانۍ اریـایي کلمه ده، چې په پښتو کې هم وه.

دغسې (دریځ) هم پخوانۍ پښتو کلمه ده، چې اوس یې موږ نه لرو. که د ژبې د اصلیت له پلوه ددغې کلمـې عنصـر تـه وګـورو بایـد لـه (درېدل) او (ځای) څخه جوړه شوې وي، داسې دوه نورې کلمې هم په پخوانیو اشعارو کې شته لکه خاتیځ د ختلو ځای (مشـرق) لویـدیځ د لوېدلو ځای (مغرب).

له دغو لرغونو الفاظو څخه ښکاري، چې پخوا ژبـې پـه دې ډول د ظروفو نومونه درلودل چې ورو ورو محوه شـوي دي. فقـط دغـه درې کلمې اوس د پټې خزانې د اشعارو په استناد راته پاتې دي.))

(۲) د مانا له پلوه هم دا لومړی شعر ډېـر قـدیم دی، دا شـعر لـه حماسي اشعارو څخه چې د دنیـا د ادب یـوه غـوره برخـه ده دا یـو برجسته او غوره نښه ګڼله کېږي. د شاعر لوړ حماسـي مقـام او دده د تورې غلبه او بری ښه تصویروي، شاعر د خپل پاخه شـعر او غښـتلې قریحې په مرسته خپله ویاړنه په داسې ډول کوي، چـې یـوه توانـا او مقتدر شاعر ته ښایي. له دغې ویاړنې څخه د امیر کرو ملي مینـه او د خپل ټبر د پالنې احساسات ښه څرګندېږي او دغه د شعر یوه زړه ټوټه ده چې سړی د هغې زمانې د پښتنو اخلاقي او روحي کیفیت ښه ځنې

معلومولای شي او د شاعر د احساساتو د محـیط هېنـداره ده، چـې د پخواني ژوند مختلف پلوونه په کې ښکاري.

(۳) د شعر عروضي کيف او وزن هم د غور وړ دی او دا څرګنـدوي چې پښتو ژبې پخوا د عروضو او بحر له پلوه هم پاخه اشعار درلـودل او دغه مخصوص بحرونه له خورا زړې زمانې څخه په شعر کې موجـود وو او ددې ژبې عروضي او بحري هویـت او ځرنګـوالی بېـل دی او پـوره استقلال لري او د عربو د (خلیـل بـن احمـد) (علـم العـروض) لا دې ځمکې ته نه و راغلی، چې دلته د اشعارو مخصـوص ملـي او پښـتني عروض او بحور موجود وو او تراوسه هم دغه اثار په ملـي اشـعارو کـې پاتې دي چې د پښتو د علم او ادب په تدوین او ترتیب کې ښایي دغـو مخصوصو بحرو او اوزانو تـه خاصـه توجـه وشـي.)) (۱۳: ۴۴۴-۴۴۷)

استاد حبیبي د کروړ دا شعر تر ډېره حده یو حماسي شعر بولي او هـم یوه ویاړنه یا فخریه.

ځینې نور پښتو ادبپوهان هم د استاد حبیبي په شان د کروړ شـعر یو حماسي شعر بولي او ځینې یې لا یوه حماسه بولي، د پښتو ادب یوه نومیالی کره کتونکی (زرین انځور) یې حماسه بولي او وایي: ((حماسـه د جنګ د وخت سندره ده او جنګ د خپل وخت یو ډول حماسه ده.

کروړ په جګړوو کې شعرونه ویلي او په شعرونو کې یې جګړې کړې دي. دا هم د عمل حماسه ده او هم د شعر، دا هم د تورې حماسه ده او هم د وینا، دا هم د میدان حماسه ده او هم د خبرو او کتاب.

کروړ هم د شعري او هنري شعر ایجادګر و او هـم د میـدان حماسـه جوړونکی. په لومړي شعر کې ښایي د کروړ شـعر یـوه فـردي حماسـه معلومه شي، خو تر دقت وروسته سړی پوهېدی شي چې دا حماسه یوه

اجتماعي حماسه ده. په دې مانا چې کروړ تشه د ځان ستاینه نه کوي، هغه غواړي خپل ټبر او خلک په یوه خاصه تاریخي مقطع کې تثبیت کړي او د یوه باتور او مېړني قوم په توګه یې وځلوي.)) (۳: ۱-۴)

خو سرمحقق زلمی هېوادمل بیا د امیر کروړ شعر یوازې ویاړنه بولي او له حماسي شعره یې توپیروي، هغه وایي: ((د امیر کروړ لاس ته راغلی شعر د اشعارو د معنوي ډولونو له پلوه ویاړنه یا فخریه ده چې شاعر خپلې بریاوې، سوبې، مېړانې او د هغه زمان له شرایطو سره سم افتخارات په کې بیان کړي دي.)) (۵۳: ۳۰)

د امیر کروړ د شعر په باب د پوهانو په بېلابېلو نظریاتو او شننو کې یو زیات شمېر مشترک ټکي شته. ټول پر دې متفق دي چې دا شعر د پښتو په خپلو ملي اوزانو کې ویل شوی چې زړو اریایي سندرو ته ورته دی. د خلیل بن احمد فراهدي د عروضي سیستم تابع نه دی. رزمي محتوا هم لري، خو ددې ترڅنګ اکثرو ویاړنه هم بللې، د ویاړنې او حماسي شعر ترمنځ هم توپیر شته چې موږ به یې بیا پر خپل ځای یادونه وکړو. خو په دې خبره اتفاق دی چې د کروړ په دې کلام کې د ویاړنې عناصر تر بل هر عنصره زیات دي. شعر ډېر روان دی، له دې ښکاري چې نه یوازې پښتو شعر به تر دې وړاندې ښه پړاوونه وهلي وي، بلکې کروړ به هم نور زیات شعرونه لیکلي وي، چې شعر یې دې مرحلې ته رسېدلی دی. په دې شعر کې د بلې ژبې هېڅ کلمه نه شته، دا خبره ددې مانا ورکوي چې د پښتو ژبې د شعر لمن دا مهال ډېره پراخه وه. دا شعر (اته) بنده لري چې د لومړي بند لومړۍ دوه مسرې یې (۱۴) (۱۴) څپې دی، خو درېیمه مسره چې په واقعیت کې له دوو وړو مسرو څخه جوړه ده، بیا (۶) (۶) څپې لري د سر لومړۍ مسرې یې بیا په خبل منځ کې همقافیه دي او د لومړي بند دواړه وړې

مسرې يې په خپل منځ کې ګډه قافيه لري. د نورو بندونو دوه لــويې او يوه وړه مسره يې بيا په خپل مــنځ کــې همقافيــه دي او څلورمــه وړه مسره يې بيا د کسر يا تکرار په توګه راځي (له ما اتل نه ستـه) هغه پــه ټولو بندو کې يو شان ده. له شپږم بند پرته چې هغه هم د مسرو د څپو د شمېر له مخې له لومړي بند سره مساوي دی، د نــورو ټولــو بنــدونو لويې مسرې يې (۱۵) (۱۵) څپې لري او لنډه قافيه واله مسره يې چې د اوږدو مسرو قافيه تعقيبوي، هغه بيا (۷) (۷) څپې لري. ځينې بندونــه يې رديفونه هم لري، خو ځينې يــې پــر قافيــه خــتم شــوي دي. پــه مجموعي ډول (اتل، کابل، زابل، ميرځمنو، تښتېدنو، ماتېدنو، وياړ، لتاړ، اوجاړ، جروم، اودوم، روم، دښمن، پلــن، زړن، مخســور، ســور، تربــور، پېرزوينه، روزنه، ودنه، ټال، ستايوال، کال) يې د قافيې کلمې دي چـــې په هر بند کې دا کلمې په خپل منځ کې ګډه قافيــه جــوړوي. (نســته، نسته، باندې باندې، راځخه راځخه، وکړه وکړه، (کوم کوم) هغه کلمــې دي چې په خپل منځ کې ګډ رديفونه جوړوي.

په کلام کې د څپو د شمېر تساوي او تناسب، د خج پرځای کارونــه هغه عوامل دي چې دا نظم يې د مشترک وزن په تار تړلی دی. د نــورو ژبو د کلمو نشتوالی ددې نظم بله ځانګړنه ده. يوازې (بــاداري) کلمــه کبدی شي له دري ژبې سره مشترکه وګڼل شي. نور نو له ســيمه ييــز نومونو لکه، (هند، سند، تخار، کابل، زابل،هرات، جروم، غرج، باميــان، روم، مروه، هريرود، زرنج) هغه کلمې دي چې په ټولو ژبو کې تقريباً پــه يوه شکل، يوه مانا او يوه تلفظ کارول کېږي. د نورو ژبو کلمې په کې نه شته.

# هاشم د زيد سرواني زوی

## (۲۲۳- ۲۹۷هـ)

لکه څنګه چې دمخه يې يادونه وشوه په لومړۍ او دويمه اسلامي پېړۍ کې د پښتونخوا لويديزې خواوې او د غور ځمکې د پښتو ادب د پالنې او ودې زانګو وه او دغه سوري کورنۍ وه چې له دوی څخه د غور د شاهنشاهۍ مشهوره کورنۍ پيداشوه او ډېر مشهور شاهان او فاتحان لکه (سلطان غياث الدين او معزالدين محمد) او نور په کې راووتل او ددغې کورنۍ د واکمنۍ پرمهال بيا غور د پښتو شعر او ادب ټاټوبی و چې د دوی د دربار شاعران به وروسته تاسې وپېژنئ، خو له ټولو ادبي پلټنو څخه داسې ښکاري چې د غور او د هغه ځای په نږدې ځمکو کې پښتو يوه ادبي او درباري ژبه وه او د پښتو لومړني اثار هم په دغو سيمو پورې اړه لري.

تر جهان پهلوان امير کروړ وروسته چې بل پخوانی ادبي اثر زموږ ګوتو ته راغلی، تقريباً سل کاله دده تر عصر وروسته دی او دا ادبي نښه هم د غور په جنوبي خوا او د هلمند د غاړو په هغو ښارو پورې اړه لري، چې په هغو وختو کې يې روښانه مدنيت درلود او اوس وران دي. د پښتو بل شاعر او اديب چې تر امير کروړ وروسته موږ ته معلوم دی (ابومحمد هاشم ابن زيد السرواني البستي) دی چې دده اشعار او احوال هم د پټې خزانې مولف د (شيخ کټه) له (لرغوني پښتانه) څخه نقل کړي، چې دلته يې کټ مټ را اخلو:

((ذکر د زبدة الفصحاء- ابو محمد هاشم ابن زيد السرواني البستي رحمة الله عليه... په لرغوني پښتانه کې هسې حکايت کا شيخ کته رحمة الله عليه چې ابو محمد هاشم د هلمند په سروان په سنه (۲۲۳هـ) قدسي زېږېدلی او په بست کې يې له علما او فصحا لوستنه وکړه او وروسته ولاړ، په عراق يې په کلو کلو د لويو ائمه وو څخه سمع وکړه- او ابن خلاد- چې څرگند و په ابی العيناء سره يې په بغداد کې عمرونه تېر کړل او له هغه يې د عربي بلاغت او اشعار ولوستل او په (۲۹۴) هجري قدسي کال له عراقه بېرته راغی درې کاله وروسته په بست کې وفات شو، نقل کا، چې ابومحمد په عربي او فارسي او پښتو شعرونه ويل او هغه وخت چې دده استاد ابن خلاد ړوند شو، نو ده به يې خدمت کا او د هغه څخه به يې خواږه شعرونه- په ادب کې د عربو اورېدله- ابومحمد له عربي څخه په پښتو د خپل استاد ډېر شعرونه هم را اړولي دي.)) (۵۱: ۵۹ - ٦۰)

ابوهاشم سرواني يو له هغو شاعرانو څخه دی چې په عربي ژبه ښه پوهېده، لکه پټه خزانه چې وايي: په کلو کلو د علم او ادب د زده کړې لپاره په بغداد کې مېشت و او د عربو د ادب له هغه مشهوره استاده يې استفاده کړله، چې ابن خلاد نومېد او په ابي العيناء معروف و.

هاشم په سروان کې زېږېدلی او په بست کې يې ژوند تېراوه او هم هورې پر (۲۹۷هـ) کال مړ دی. د پټې خزانې له ليکه ښکاري چې دا سړی د پښتو ژبې ليکوال هم و او ده په پښتو يو کتاب کښلی و، چې په هغه کې يې د عربو د اشعارو فصاحت او بلاغت بيان کړي وو او نوم يې د ((سالو وږمه)) و.

په خواشينۍ سره چې دا کتاب اوس نه شته او د پښتو په منثور

ادب کې چې د کوم لومړني کتاب نوم موږ ته معلوم دی، همدغه د ((سالو وږمه) ده چې ((د نسیم رېګستان)) مانا لري او داسې ښکاري چې دا کتاب به د پښتو له لومړنیو مولفاتو څخه و.

## د هاشم اشعار:

ددې عالم او ادیب سړي کوم شعر چې زموږ په لاس کې دی، د پټې خزانې په ذریعه له ((لرغوني پښتانه)) څخه رانقل شوی دی. لکه دا کتاب چې تصریح کوي هاشم سرواني د دریو ژبو شاعر و، هم یې په پښتو او هم په عربي او فارسي اشعار ویل، خو دده عربي یا فارسي کوم شعر د پټې خزانې مولف نه دی رانقل کړی، که یې فارسي شعر زموږ په لاس کې وای، نو به یقیناً ددې ژبې له لومړیو شاعرانو څخه هم وای.

پټه خزانه لیکي:

((ابن خلاد چې یو ظریف او ادیب سړی و، په یو شعر یې درهم ستایلی دی او ابو محمد هغه شعر داسې په پښتو را اړولی دی))(۵۱: ۶۰)

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورله ورځي وینا یې اوري
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه
که درهم یې څنې ورک سو، سي نتلی
پر نړۍ یې وي په خړو پېژندونه
که بډای سوڼی وبولي خلک وایي
دا وینا ده رښتیانیه له رښتونه

کــــه بېـــــوزلی ووایـــــــي رښـــــتیا خبـــــره
نـــــــور ووایـــــــي دا خوســـــــوښي دی تېرونــــــه
هـــو درهـــم ښـــندي هـــر چـــا لـــه لويـــه برخـــه
د درهـــــم د خاونـــــد هـــــر ځـــــای پرتمونــــه
درهــــم ژبــــه ده کــــه څــــوک ژبــــور کېــــږي
ده وســـــله کـــــه څـــــوک پـــــه کانـــــدي قتالونــــه.

دا (اوه بيته) چې زموږ لاس ته راغلي دي، د پښتو ژبــې د درېيمــې هجري پېړۍ ادبي ډول، صبغه او رنګ راښيي.

## شننه، تلنه او ارزونه:

ابوهاشم لومړنی څرګند شخص دی چې پښتو ته يې له عربي ژبــې څخه ژباړه کړې، ژباړه يې دومره پخه او کره ده چې د ژباړې رنګ پــرې غالب نه دی، نړه پښتو لغتونه يې په ژبــاړه کــې کــارولي، دا وييونــه د خپلې زمانې د ژبې څرنګوالی پــه ګوتــه کــوي، هغــه مهــال د ژبــې د پرمختګ او تحول بهير هم څرګند وي د همدې ژباړې له مخــې پښــتو ژبه د ختيزو ژبو په تېره بيا د عربي ژبې د شعر له شــکلي جوړښــتونو سره نږدې او اشنا کېږي.

د امير کروړ تر شعر وروسته دا ژباړل شوی شعر دويمــه بېلګــه ده چې زموږ په ادبياتو کې خوندي ده. د پښتو دا منظومه ژباړه چې موږ له تحليلي پلوه ارزوو او د امير کروړ له هغه لومړني شعره سره يــې پرتلــه کوو، نو له مقايسوي تحليله داسې نتيجه اخلو:

(۱) په دويمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه او شعر له لغــوي پلــوه تــر

ډېره حده سوچوالی درلود، خو په درېیمه پېړۍ کې د عربي ژبې لغــوي او ادبي اغېزې پرې شوې دي او د عربي فکر او ادب اثر په هغو ځــایونو کې غالب شوی، چې د عربو د حکومت اثر هلته ډېر و، یانې په خراسان او د پښتونخوا پر غربي څنډو تر زابلستان او کابل پورې د عربي ژبې اثر خپور شوی و.

(۲) په درېیمه هجري پېړۍ کې لا پښتو ژبې ځینې هســې لغتونــه، کلمات او تعابیر درلودل چې اوس نه شته او د هاشم په دې شــعر کــې خوندي دي، مثلاً (ویاړونه، خړی، سونی، بلل، تېرونــه، چــې اوس یــې رینښې په ژبه کې بل راز شته- مثلاً ویاړ- ویاړل- سونی ویشتل- تېرې کول.

(۳) د هاشم دغه ټوټه شعر د بحر او وزن له پلوه هم عربي بحورو او عروضو ته نږدې دی، په داسې حال کې چې د امیر کروړ شــعر و زنــاً او عروضاً ځانته خاص رنګ او صبغه لري.

عربي وزن ته نږدېوالی په دې مانا نه دی چې په بشپړ ډول د عربــي ژبې شعري یا نظمي اوزان پرې د تطبیق وړ دی. خو څرنګه چــې دا لــه عربي ژبې څخه پښتو ته لومړی ژباړل شوی شعر دی، نو طبیعي خبــره ده چې د عربي ژبې د شعري جوړښت خپل خپل تاثیرات لري، خو بیــا هم دا شعر د څپیز خجیز جوړښت له مخې د ښتو د عام شعر د شعري قواعدو تابع دی.

(۴) د شکلي جوړښت له پلوه ځینو دا شعر یو پاړکی بللــی، ځینــو قطعه او ځینو ورته کوم خاص نوم هم نه دی ټاکلی. ددې نظــم عربــي بڼې ته که وکتل شي، نو د پیل بیت یې مقفی نه دی، خو نــور ترپایــه د غزل فورم تعقیبوي، یانې د یوې بې مطلعې غزل بڼه لري، پښتو ژبــاړه

یې مطلع هم لري. پر پښتو بڼه یې د غزل قــوانین د تطبیــق وړ دي. د غزل په ډولونو کې یو هم بې مطلع غزل دی، عربي متن ته یې پــه لــږ احتیاط سره بې مطلع غزل ویلای شو او پښتو بڼې ته یې تر ډېره حــده د غزل فورم ویلای شو. په خپله د غزل عام فورم دادی چې مطلع باید ولري یانې د سر لومړی بیت یې مقفی وي او د نورو ټولو بیتونو دویمــه مقفی مسره یې د مطلع قافیه تعقیب کړي، ردیف په کې اختیاري وي، خو که یو ځل راوړل شو بیا یې راوړل حتمي دي.

د بیتونو شمېر تر پنځه لسو بیتونو پورې رسېدی شي. د غــزل بــل شکل دادی چې په پورته بڼه کې ردیف (=) هم ورسره یوځای شي.

د هاشم ابن زید سرواني منظومه ژباړه چې ګورو، نو پښتو ژباړه یې تر ډېره حده د غزل فورم راخپلوي، د سر بیت یې په پښتو کې مقفــی دی:

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه

(وینه) او (درهمونه) یې د قافیې کلمې دي. (نه) (نه) یې ګډ غږونــه دي، نورې ټولې مقفی مسرې یانې د قافیې کلمې یې (ویاړنه، پېژندونه، رښتیونه، تیرونه، پرتمونه، او قتالونه) د مطلعې قافیــه تعقیبــوي، پــه مطلع کې یوازینی توپیر دادی چې د لومړۍ مسرې قافیه له نورو قافیو سره دوه مشترک غږونه او نورې ټولې قافیې یې درې مشترک غږونــه لري.

نو که دا ژباړه د غزل فورم وګڼل شي، نو دا به په پښتو کې لــومړنی غزل هم وي. که څه هم اوس پر دې توافق دی چې لومړنۍ غزله د اکبر زمینداوري له خوا ویل شوې ده. البته د اکبر زمینداوري غــزل، هــم د

فورم له مخې غزل دی او هم د محتوا له مخې. خو دا ژباړه تر ډېره حده یوازې د فورم له مخې غزل ګڼل کېدی شي، نه د محتوا له مخې.

نو ددغو څرګندونو او نتایجو تر لوستلو وروسته وایو چې ابو محمد هاشم په پښتو ادبي تاریخ کې د عربي فکـر او ادبـي تحـول لـومړنی استازی او ښکارندوی دی او دده دا یوه قطعه شعر د خپل عصر د ادبي حالت څرګندونه په ښه ډول کوي.

له محتوایي پلوه دا شعر اخلاقي مسایل تشریح کي، اخلاقي پیغـام لري او انسان په نامستقیم ډول دېته هڅوي چې د دنیا مـال او متـاع پورې زړه ونه تړي. که څه هم یو شمېر خلکو ته درهم، مال او متاع تـر هرڅه زیات ارزښت لري، خو دا کار په اساسي مانا د انسان د ژغـورنې لار نه ده. شاعر لوستونکي ته په نامستقیم ډول اخلاقي پیغام رسـوي او نفسي تذکیې ته یې رابولي.

له لغوي پلوه دا غزل د نورو ژبو تر ډېر اغېز لاندې نه دی، که څه هم دا یوه ژباړه ده او په ژباړه کې معمولاً لومړنۍ ژبه خپل اغېز ښندي، خو په دې شعر کې (قتالونه، درهم) عربي کلمې دي (خاوند) له دري ژبـې سره ګډه کلمه ده. نورې ټولې پښتو کلمې دي. ځینې کلمې یې اوسنۍ ژبه کې متروکې ګڼل کېږي، لکه (سوښي، خړو) خو نورې کلمې یې اوس هم په ورځنۍ محاوره کې کارېدونکې دي.

# شیخ رضی لودي او نصر لودي

(۳۵۰-۴۰۰هـ)

د شیخ رضی لودي او نصر لودي نومونه او پېژندنه ځکه دلته یو پـر بل پسې راوړو، چې د دوی لاسته راغلي نظمونه یو بل سره اړیکي لري او دوی دواړه له کورني پلوه هم یو بل سره ارتباط لري، خو مخکــې تــر دې چې د دوی پېژندنې او د کلام بېلګو ته لاړ شو، لومړی به لودیان لږ په لنډیز سره دروپېژنو.

لودیان هم لکه سوریان د پښتنو یــوه مشــهوره کــورنۍ ده چــې د سلطنت او مشرتابه مرکز وه او تر (۳۰۰هـ) په ختیــزه پښــتونخوا کــې ددې کورنۍ د پاچاهانو نومونه اورېدل کېږي، څرنګه چې دا کورنۍ هم په واکمنۍ او پاچاهۍ او هم په ادب کې نوم لري، نو ځکه خو ضــروري ده چې په لنډیز سره ددې کورنۍ یادونه وشي.

(لودي) دپښتنو یوه قبیله ده، چې دغه کورنۍ هم له دغې قبیلــې ښخه وه او د غزني د لومړیو پاچاهانو(الپتګین) او (سبګتګین) په عصر کې (۳۵۱-۳۹۰هـ) له دې قبیلې ښخه (شیخ حمیــد) پــر ننګرهــار او پېښور تر ملتانه واکمنۍ درلوده او تر ده وروسته (نصر) چې زوی یې و، پاچا شو او ملتان یې د سلطنت مرکز و. شیخ حمید لودي د (۳۵۰هـــ) په شاوخوا کې د (راجه جي پاله) له خوا له لغمانه تر ملتانه واکمــن و د (۳۵۱هـ) په شاوخوا کې چې پر (جیپاله) له غربي خوا کــومې حملــې کېدې، حمید له ده سره کومک کاوه او پــه داخــل کــې یــې ازادي او استقلال درلود، خو بیا چې (سبګتګین) پاچا شــو، نــو حمیــد روغــه

ورسره وکړه او پر (۳۹۵-۳۹۶هـ) چې سلطان محمود پر ملتان حمله وکړه، د شیخ حمید لمسی (ابوالفتوح داود) له دې کورنۍ څخه پاچا و، نو یې (جچه) ومنله خو تر (۴۰۲هـ) دمخه سلطان محمود دی ونیو او په غزني کې یې بندي کړ، (ګردېزی) لیکي، چې: محمود پر (۴۰۱هـ) د ملتان قرامطه سره ومروړل او (داود بن نصر) یې غزني ته راوست او د (غورک) په کلا کې یې بندي کړ او هورې ومړ.

که څه هم پخواني مورخین د (شیخ حمید) د کورنۍ افغانیت ته اشاره کوي، خو (فرشته) تصریح کوي چې دوی پښتانه وو او تر ده وروسته نور مورخین هم لکه (حیات خان) په (حیات افغاني) او (شېرمحمد) په (خورشید جهان) او (ملیسن انګرېز) (د افغانستان تاریخ) کې دوی پښتانه بولي، خو ځینې اوسني مورخان ددې کورنۍ پښتونواله نه مني او دوی عربي نژاده ګڼي، مګر د پټې خزانې مولف هم دوی پښتانه بللي او پښتو اشعار یې ځنې رانقل کړي دي.

پټه خزانه خپل سند هم ښيي او دا مطالب له (کلید کامراني) څخه نقل کوي او کلید کامراني هم له یوه کتابه اقتباس کوي چې (اعلام اللوذعي في اخبار اللودي) نومېده، ځکه چې دا کتاب پر (۶۸۶هـ) د یوه لودي سړي له خوا کښل شوی دی، نو د دوی د پښتونوالې مهم او زوړ سند هم دغه دی او موږ کولای شو چې ددې کتاب پر تصریح اعتماد وکړو.

له دې کورنۍ څخه پخوانیو مورخانو درې تنه (حمید، نصر او داود) ذکر کړي دي، چې پاچاهان وو، خو پټه خزانه د شیخ حمید یو وراره (شیخ رضی) هم یادوي چې ده له خپل تربور سره یوه شعري معارضه او مناقشه کړې ده.

د لودیانو دا سلطنتي او ادبي کورنۍ که څه هــم ســلطان محمــود منحله کړه او تر داود وروسته بل پاچا پاتې نه شــو، خــو وروســته هــر وخت لودیان په تاریخ کې نوم لري. له دې څخــه مشــهور او نومیــالي خلک راوځي، پر (۸۵۵هــ) بیا د ټول هند سلطنت نیســي او د لــودي پاچاهانو برم تر (۹۳۲هــ) پورې په هند کې دوام کوي، سلطان بهلــول، سکندر او ابراهیم ددې قبیلې مشهور شاهان دي چــې د پښــتو ادب ممیزه له دوی سره د سلطنت پــه ډول ملګــرې ده.)) (۴۵۷:۱۳-۴۵۹) څرنګه چې دلته شاعران یا لیکوال د تاریخي تسلسل له مخــې راوړل کېږي، نو دلته لومړی شیخ رضی لودي او بیا نصر لودي ته نغوته کېږي او بیا به نور لودي شاعران پر خپل ځای معرفي کېږي. نــو اوس راځــو شیخ رضی لودي او نصر لودي ته.

شیخ رضی او نصر لودي دواړه د شیخ حمید له کــورنۍ څخــه دي چې (رضی) د (حمید) وراره او (نصر) یې زوی دی او د مورخانو په وینــا تر شیخ حمید وروسته دده زوی نصر پاچا شوی دی او رضی ســلطنت ته نه دی رسېدلی.

د پښتو ژبې ددغو دوو پخوانو شاعرانو احــوال پټــه خزانــه داســې راوړي:

((ذکر د امیر الفصحا شیخ رضی لودي: پوه شه په دې چې کــامران خان ابن سدو خان په ښهر صفا کې په سنه (۱۰۳۸هــ) هجري یو کتاب وکېښ چې کلید کامراني یې نوم و په دې کتاب کامران له کتابه د شیخ احمد بن سعید اللودي چې په سنه (۶۸۶هــ) یې کښــلی او نــوم یــې ((اعلام اللوذعي في اخبار اللودي)) دی هسې نقل کا چې شیخ رضــي لودي د شیخ حمید وراره و چې شیخ حمید په لمتان پاچا شو یــو یــې

**خپل وراره پښتونخوا ته ولېږه، چې د هغو غرو خلک د اسلام دين تـه راولي. شيخ رضي راغی دوه کاله د کسي په غرو ګرځېده او هلتـه يـې ډېر مخلوق مسلمان کړ، نقل هسې کا نصر د شيخ حميد زوی په ملتان کې د ملا حده له استازو سره کېناست او له دوی څخه يـې د الحـاد او اسماعيلي فرقې عقايد زده کړل او وګورهېدی د دوی په اعتقاد ملحـد شو، چې شيخ حميد رحمة الله وفات شو، نو يې پرځای نصر کېناست او د الحاد ترويج يې غوره کړ او قرامطه يې راوستل. شـيخ رضـي چـې سوچه مسلمان و خپل تربور نصر ته يې داسې پاړکی وکښل او ور وايې ستول:**

د الـحاد پـه لور دې تـرپلـل ګـــروه دې زمـــوږ وکـــوراوه
مـوږ رونـلی پـه زيـارنــه تـــا پـــه تـــورو تـــوراوه
لـرغـون ولـې ګـروهـېدلې چــــې دې ګوښــــې اړاوه
هـغه ګـروه دې اوس اړه کـړ چــــې پلـــرو دې رڼــا وه
لودي ستا په نامه سپک شو کـــه هـــر څـــو مـــو رنـــاوه
نصـره نـه مـو يـې له کهاله لـــودي نـــه يـــې پـــه کـــاوه
زموږ رغا ده ستا له ګـروهـه د ور ځلـــوی پـــه رغـــاوه.

**شيخ احمد لودي هسې نقل کا، چې نصر لودي هسې د شيخ رضي غبرګون وکاوه:**

د الـحاد پـه تور، تورن سوم زه لرغـون خـو ملحـد نـه يـم
زمـا دښنه هـسې تورا کړی کـه ملحـد يـم د دښـنه يـم
لـه اسلامـه نـه تـر پـلمـه تورانـو څخـه پـه ترپلـه يـم
ګروه مې هغه لـرغونـــی دی اوس هم کـرور پـه لرغونـه يـم

| | |
|---|---|
| د اسلام پــر هســک بــه ځلم | وتورانــو تــه تیــاره یــم |
| د لــودي زوی سنتــي یــم | د حمیـد لـه لـوړ کهالـه یـم |
| تــورانــي دښــن چــې وايي | زه لــه ګروهــه پــه اړه یــم |
| دا یې تـور تـاسې دروهــوی | زه مـومن ستاسې پـه تلـه یـم |
| د دښــنو وینـاوې مــغــړه | زه لــودي یمــه ځــو زه یــم. |

په دې ډول پټه خزانه د خپلو قوي اسنادو پر بنسټ ددغو دوو تنــو پخوانو پښتنو مشرانو اشعار موږ ته سپاري چې د پښتو په ادبي تــاريخ کې ډېر مهم دي او هم د ژبې په تحول کې ښې نتیجې ځنې ایســتلای شو:

## ارزونه، شننه او پایله:

ځینو ادبپوهانو دا شعرونه یا نظمونه پاړکي (قطعې) بللــي او ځینــو هم د پښتو د ولسي شاعرۍ کسرونو ته ورته بللي، دواړه نظمونه دیني محتوا لري، د نورو ژبو اغېزې پرې نه شته، یوازې د عربي ژبې یــو ځــو لغتونه لري او ځینې متروک کلمات چې اوس نه کارول کېږي، پر هغــه مهال د پښتنو او پښتو ژبې او ادب وده او پراختیا ورڅخه معلــومېږي، پیغام په کې نېغ په نېغه انتقالوي.

سرمحقق زلمی هېوادمل، د ملتان د شاهي کورنۍ ددې د پــاړکو د ارزښت په باب وايي: ((د ملتان د لودي شاهي کورنۍ د دوو تنــو غــړو نصر لودي او شیخ رضی لودي پاړکي د پښتو په پخوانیو منظومو اثــارو کې شامل پاړکي دي او د همدغو دوو تنو پښتنو وینــاوالو د پــاړکو لــه امله موږ تر غور او د سلیمان تر غرونو وروسته ملتان درېیم مرکز بولو، چې پښتو منظومې په کې ایجاد شوې دي.

دا منظومې د خپلو شکلي جوړښتونو له امله په ظاهري ډول د شرقي شاعرۍ قطعو ته ورته پاړکي دي، خو موږ ته دا راښکاري، چې دا پاړکي د پښتو د ولسي شاعرۍ کسرونو ته ډېر ورته دي او دا دوه پاړکي موږ د پښتو د لرغونو سندرو په جمله کې شامل ګڼو، چې وروستیو اشکالو یې د کسرونو په بڼه تحول موندلی دی او اوس هم موږ د کتواز او بنو د مروتو او ګنډه پورو په سیمو کې ډېر کسروال شاعران پیدا کولای شو.

په معنوي لحاظ دا پاړکي د یوې مناقشې بڼه لري، چې په غالب ګومان د لیکونو په بڼه تبادله شوي دي او د اسلام د مقدس دین او له محمدي سنتونو څخه د پېروۍ په دفاع کې ویل شوي دي. په یوه پاړکي کې رضی، نصر ته ویلي دي، چې تا خپله اسلامي لاره پرېښې ده، په ځواب کې یې نصر، رضی ته کښلي دي، چې زه پر خپله لاره ټینګ یم، زما په باره کې چې تا څه اورېدلي دي، هغه د دښمنو تورونه دي، چې په دې حساب دواړه پاړکي په یو ډول د اسلام په دفاع کې ویل شوي دي.

په دې دواړو پاړکو کې ځینې داسې ژبني او ګرامري ترکیبونه لیدل کېږي، چې نن په عامه پښتو کې د استعمال موارد نه لري، دغه ډول په دې پاړکو کې ځینې داسې لغات هم شته چې په عامه پښتو کې یې مړ نه استعمالوو پر دې اساس هم دا دواړه پاړکي د ژبنیو څېړنو له پلوه هم د اهمیت وړ دي.

په دې پاړکو کې د هنر پلوشې نه ځلېږي او د څلورمې هجري پېړۍ د معمولي پښتو په چوکاټ کې یې ساده خبرې په نظم کې راوړې دي.)) (۵۳: ۳۹-۴۰)

لوی استاد عبدالحی حبیبي بیا وایي: ((د رضی او نصر دا اشعار چې موږ ګورو او د پښتو له مخنیو او وروستنیو اشعارو سره یې مقابله کوو، نو دا څو ځانګړنې تر سترګو کېږي:

(۱): د (۳۵۰هـ) تر حدودو پورې لا د پښتونخوا پر شـرقي خـواوو د عربي ژبې اثر لږ و، که څه هم د هاشم سرواني نظم د لودیانو تـر عصـر دمخه دی، خو څرنګه چې د پښتونخوا پر غربي څنډو د عربـو د فکـر، حکومت او ادب اثر ډېر و، نو د هاشم سرواني په نظم کې دغه اغېزې په څرګند ډول ښکاري، خو د لودیانو نظمونه که څه هم تر هاشم وروسته دي، خو د پښتو سوچه توب او د ژبې نره والی او څرګندوالی یې قـوي دی او د عربي ژبې لږ اثر ښکاره کوي.

(۲): د لودیانو له دغو نظمونو څخه ځینې مړه او متروک مواد لاسته راځي او په دې خاصیت کې د امیر کروړ شعر ته ورته دي او دغـه اثـار موږ ته راښیي چې د غزنوي دورې تر لومړیو پورې لا دې ژبې په شرقي خوا کې مخصوص ډول او رنګ درلود، چې وروسته یې هغه رنګ بـدل شو.

د ساري په توګه د (تور) یانې تهمت له مادې څخه په دغـو وینـاوو کې (تورن) د صفت په ډول او (تورا) په مصدري مانا او فعل یې (توراوه) او هم (توراني) داسې کلمـات دي چـې اوس نـه شـته، دغسـې هـم (وکوراوه) او (رغا) او (رغاوه) او نور ډېر نادر مواد لـري چـې اوس مـړه دي.

(۳): له دوو عربي لغاتو (الحاد) او (سنتي) څخـه ښـکاري چـې د عربي ژبې اثر په دغو وختو کې تش په دیني اصطلاحاتو پورې محدود و او دغسې عربي اصطلاحات په ژبه او ادب کې ننوتلي وو، خـو د ژونـد نورې څانګې ځنې تشې وې.

(۴): له دغو ویناوو څخه ښکاري چې په دغو وختو کــې د پښــتنو نفوذ او د پښتو د خپرتیا لمن شرقاً تر ملتانه وه او د پښتونخوا له غــرو څخه پښتانه د شرق لوري ته ډېر خپاره شوي او د ژبې ادبي نفــوذ یـــې هم له بادغیس او هراته د اباسین تر څنډو او ملتانه خپور شوی دی.

(۵): لودي سلطنتي او ادبي کورنۍ که څه هم له پښــتونخوا څخــه لرې په ملتان کې مېشته وه، خو دوی خپل پښــتني تهــذیب خونــدي کړی و، خپله ژبه یې ساتلې وه او د اسلام سوچه خــدمتګاران وو، دوی غوښتل چې د پښتونخوا په ټولو غرو کې د اسلام رڼا خپره کاندي، لکه چې شیخ رضی لودي په همدې مقصد د سلیمان په غــرو کــې تبلیــغ کاوه او د لودیانو د الحاد خبرې فقط د دښــمنانو او د دوی د سیاســي مخالفینو او رقیبانو ( د سبکتګین د کورنۍ) پروپاګند و، څکه چې نصر لودي په خپل نظم کې له ځانه ښه دفاع کــړې او خپــل عقایــد یــې د پخوانیو په ډول د سنت تابع بللي دي.)) (۱۳: ۵۶۵-۵۶۶)

(۶) له شکلي پلوه د شیخ رضي لودي نظم یا پاړکی تر ډېره حده بې مطلع غزل ته ورته دی. یوازې د سر بیت لومړۍ مسره یې لــه قــافیې څخه ازاده ده، نور ټول بیتونه یې چې قافیه لري، د سر بیت د دویمــې مسرې قافیه تعقیبوي، ردیف نه لري، هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

__________________

a__________________

__________________

a__________________

__________________

a__________________

ترپایه

ټول اوه بیتونه لري، د څپیز خجیز جوړښت لـه مخـې د پښـتو د عامې شاعرۍ د قوانینو تابع دی. د څپو شمېر یې سـره مسـاوي دی. هره مسره یې (۸) څپې لري او هرې درې څپې وروسته خج اخلـي. د نصر لودي نظم بیا نهه بیتونه لري.

د سر بیت یې مقفی نه دی دویمه مسره یې قافیه لري، نـور مقفـی بیتونه یې بیا همدا لومړۍ قافیه تعقیبوي. ردیف هم لري ( نه، دښـنه، ترپله، لرغونه، تیاره، کهاله، اړه، تله، زه) یې د قافیې کلمې دي (یم،یم) یې چې تر قافیې وروسته په یوه شکل او یوه مانا تکرار راغلـی ردیـف دی. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

____________________

=a____________________

____________________

=a____________________

____________________

=a____________________

تر پایه

د څپو د شمېر له مخې هره مسره یې (۸) څپې لري او دا قاعده پـر ټولو مسرو یوشان د تطبیق وړ ده. دا نظم هم د فورم لـه مخـې د بـې مطلع غزل فورم کې شاملېدی شي. له محتوایي پلوه دواړه شعرونه یـا نظمونه مذهبي، عقیده یي اخلاقي روحیه منعکسوي او په پښتو کې د سوال او ځواب په بڼه لومړنۍ مناظره، مشاجره یا مشـاعره هـم ورتـه ویلای شو، چې وروسته به پرې پر خپل ځای لږه نوره رڼا هـم واچـول شي.

# بېټ نیکه

## (۳۵۱هـ)

مخکې تر دې چې بېټ نیکه معرفي کړو، تر هغه وړاندې ضروري ده چې د پښتنو یوه بله تاریخي کورنۍ پېژندنې ته تم شو.

د پښتنو په تاریخ کې یوه ډېره مشهوره کورنۍ شته چې موږ یې د وجود وخت تر (۳۰۰هـ) وروسته تخمینولای شو، که څه هم ددې کورنۍ په باب په پښتو مورخینو کې ډېر متفرق او ډول ډول روایات شته او سړی نه شي کولای چې په ښکاره او څرګند ډول د دوی احوال ولیکي، خو له ملي عنعناتو څخه چې تراوسه د پښتنو په منځ کې شته او هم له تاریخي لیکنو څخه سړی ځنې نتیجې اخیستلای شي او ددې کورنۍ د نومیالیو سړیو حال لږ لږ ځنې څرګندولای شي.

ددې کورنۍ لومړی مشر پښتون بابا (پټان) دی چې نوم یې (کیس) و. د کسي غره (سلیمان غره) ته منسوب او عربي نوم یې مورخینو (عبدالرشید) کښلی دی چې ده درې زامن درلودل او د پښتنو مشهور رجال او نیکونه دي:

اول بېټ یا بېټنی، دویم سړبن او دریيم غرغښت وو.

له ملي عنعناتو او تاریخي لیکنو څخه داسې ښکاري چې دې کورنۍ د غور له غرو څخه د کسې غره (سلیمان غره) ته لېږد کړی و او په دغه غره کې اوسېدل او هلته دا کورنۍ ډېره شوه او ډېر شهرت یې وموند او داسې سړي په کې پیداشول چې د پښتو ژبې شاعران هم وو.

د پښتنو مورخان له پخوا زمانې څخه ددغسې لویې کورنۍ احــوال او د سړیو نومونه لیکي، تر ټولو دمخه خورا زوړ مورخ سلیمان ماکو دی چې دی په خپله تذکره الاولیا کې د ببــټ نیکــه، ســړبن او اســمعیل احوال لږ لږ لیکي او هم د دوی اشعار خوندي کوي، دده د لیک نتیجــه داده:

((ببټنی د کسې پر غرو باندې اوسېده، د خدای په عبادت بوخت و، سړبن دده ورور او اسمعیل یې زوی و چې سړبن په زویتوب قبول کړی و. د اسمعیل مرقد د کسې په غره کې دی.))

((له دې کورنۍ څخه یو بل مشهور سړی خرشــبون دی چــې پټــه خزانه او نور مورخان دده نوم او احوال ذکر کوي، دا سړی هم د ســړبن زوی دی، د کسې په غره او د کلات په (غونــډان) کــې اوســېده او پــه (مرغه) کې پر (۴۲۲هـ) وفات شو. وروسته به پر خپل ځای د دوی پــر اثارو او ژوندانه خبرې وشي. دلته یوازې دومره وایو چې مورخــان ددې کورنۍ پر وجود متفق دي او ابوالفضل مورخ په (ایین اکبري) او نعمت الله هروي په (مخزن افغاني) کې ددغې کورنۍ رجال او شهرت بیــانوي او دا دواړه کتابونه د (۱۰۰۰هـ) په شاوخوا کې کښل شوي دي.

د پورته بحث لنډیز دادی،له زرو کلونو راپدېخوا چې کوم عنعنات او تاریخي کتابونه موجود دي ددغې کورنۍ شهرت راښیي او د دوی ادبي اثار او اشعار هم رانقل شوي دي چې د پښتو په ادبي تــاریخ کــې ډېــر اهمیت لري او د لرغونې دورې په اثارو کې غوره، خونــدور او لــه ملــي احساساتو ډک همدغــه منقــول اشــعار او ســندرې دي.)) (۴۴۷:۱۳-۴۴۹)

اوس راځو د ببټ نیکه پېژندنې او د کلام شننې تــه: ببــت

نیکه په پښتنو کې ډېر شهرت لري، له پخوانۍ زمانې څخه مورخانو دده نوم او حال لیکلی دی او په پښتني عنعنه کې هم دا سړی یو خورا لوی پښتون او مشهور نیکه ګڼل کېږي.

ددې عنعنې تصدیق په خارجي مورخینو کې د اکبر مغولي پاچا د دربار مورخ ابوالفضل علامي (۱۰۰۶هـ) په دې ډول کوي: ((په پښتنو کې درې ورونه بېټنی، غرښت او سړبن ډېر مشهور نیکونه دي.))

د بېټ نیکه نوم په تاریخونو کې (بېټنی) او (بټن) هم راغلی دی او نعمت الله هروي (نورزي) چې پر (۱۰۱۸هـ) یې (مخزن افغاني) تالیف کړی دی، هم د شیخ بېټني او دده د اولادې مفصل احوال راوړي او ځینو نورو تاریخونو ته حواله ورکوي چې (مجمع الانساب) ، (معدن اخبار احمدي) او (تاریخ ابراهیم شاهي) له هغو څخه دي او تر ده دمخه کښل شوي دي. تر نعمت الله وروسته اخوند درویزه ننګرهاري چې تر (۱۰۴۸هـ) پورې ژوندی و، هم د شیخ بېټني او دده اولاد ذکر کوي او د پښتنو له مشاهیرو څخه یې ګڼي، خو تر دغو ټولو یو پخوانی او زوړ کتاب چې د بېټ نیکه ذکر او دده اشعار په کې راغلي دي، د بارک خان د زوی (سلیمان ماکو) (تذکره الاولیا) ده چې پۍ پر (۶۱۲هـ) لیکل شوې ده، ددې کتاب هغه یو څو پاڼې چې خوندي پاتې د شیخ بېټني ذکر داسې کوي: ((نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بېټني دده ورور چې سړبن نومېده او پر شیخ بېټني هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته، بېټني خپل زوی اسمعیل ورکاوه او لوی شو د سړبن په کاله، خدای مهربان د اسمعیل په برکت، سړبن ته نصیب کړه دومره زامن چې اوس تر وس تېر شو ګڼون د هغو...)) (۳۸: ۲۳)

نعمت الله هم دغه عنعنه په مخزن افغاني کې هسې لیکي:

((نقل است که سربنی برادر کلان بیتنی مفلس بود و از سعادت فرزند هم محروم بود، روزی سربن بخانه برادر خود که شیخ بیتنی باشد امده عرض کرد. که ای برادر! دعای تو درباب جمیع خلایق مستجابست، درباب من توجه نمیفرمانی. حضرت شیخ بیت فرمود که یک پسر مرا ببر و پرورش نما... اخر الامر شیخ پسر خود اسمعیل راببرادر خود سربنی داد...)) (۱۳: ۴۷۱)

په دې ډول زموږ د لومړي مورخ سلیمان ماکو قول که څه هم تر نعمت الله څلور سوه کاله دمخه دی خو یو له بله ربط او نږدېوالی سره لري او دا ښکاره کوي چې تر زرم هجري کال مخکې هم د بېټ نیکه له بابته پښتنو پرله پسې او مستند روایات درلودل.

د بېټ نیکه نور احوال موږ ته نه دي معلوم او نه دده د ژوند وخت مورخانو تصریح کړی دی، یوازې د پټې خزانې له لیکلو څخه ښکاري چې اسمعیل د بېټ نیکه زوی نیو، د خرښبون معاصر و او دغه سړی پر (۴۱۱هـ) مړ شوی دی، نو چې د اسمعیل د ژوند وخت د (۴۰۰هـ) حدود وي ښایي چې پلار او اکا یې هم د (۳۵۰هـ) په حدود کې ژوندی وي.

## د بېټ نیکه اشعار:

د پښتو په پخوانو اشعارو کې د بېټ نیکه یو مناجات ډېر قیمتي دی او دا ادبي ټوټه سلیمان ماکو په (تذکره الاولیا) کې هسې راوړې:

((نقل کاندي چې شیخ بېټنی سپین ږیری شو، نو ده به هر کله ښښتن ستایه او رب ته به یې درخواست کاوه چې زما په کهول او

سړبن او غربنت په کهول برکت کېږده! بادار قبول کړ، دده درخواست او ډکه شوه، ځمکه د پښتنخا د دوی په کهول- نقل کاوه شي چې حضرت شيخ بېټني به ډېر تر ډېره دا سندرې لولولې او کسې غره کې به ګرځېده په شپې.)) (۳۸: ۲۴)

لويه خدايه لويه خدايه ستا په مينه په هر ځايه
غر ولاړ دی درناوي کې تولـه ژوي په زاري کې
دلته دي د غرو لمنې زمور کېږدی دي په کې پلنې
دا وګړي ډېر کړې خدايه لويه خدايه لويه خدايه

***

دلته لر زمور اور بل دی وور کورګی دی وور بورجل دی
مينه ستا کې مور مېشته یو بل د چا په مله تلـه نه يو
هسک او مځکه نغښته ستا ده د مرو وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدايه لويه خدايه لويه خدايه.

## د بېټ نيکه د شعر شننه او ارزونه:

((لکه څنګه چې دمخه وويل شول دا شعر د (۳۵۰هـ) په حدودو پورې اړه لري، له الفاظو او کلماتو يې هم دغه مطلب ښکاري، داسې لغات او کلمات په کې راغلي دي چې اوس يې ځينې په دغو ماناوو مړه دي، مثلاً (ژوی) اوس څوک د مخلوق او حيوان په مانا نه کاروي يوازې په زړو ادبياتو کې يې کله کله وينو او که دغه کلمه په فعلي مانا واخلو يانې (ژوند کوي) دا تعبير هم زوړ دی او اوس مستعمل نه دی دغسې هم هسک دلته د اسمان په مانا دی او دا کلمه په دغه مفهوم ډېره زړه

ده او لکه چې تاسو دمخه د امیر کـروړ او نصـر لـودي پـه کـلام کـې ولوستل، پخوا یې اسمان هسک باله خو اوس هر لوړ شي تـه هسـک وایو او دا لغوي تحول وروستنی دی، لکه د عربي (سما) چې اسمان ته هم وایي او د هر ځای لوړې خوا ته هم وایي. پر دې شعر د پردیـو ژبـو اغېزه هم لږ ده او له هغو زړو اثارو څخه دی چې په غرو کې ویل شوي، د عربي او پارسي ژبو له اغېزو څخه تش وي لکه د امیر کروړ او لودیانو اشعار، د بېلګې په توګه په ټول شعر کې یوه پردۍ کلمه نه شته، یوازې د (خدای) مشترکه کلمه لري چې هغه هم ښایي د پښتو په رېښو کـې ډېره نږدې وي او ددې سوچه توب علت هم دادی چې ببېټ نیکـه پـه سلیمان غره کې بېل اوسېده او پر ژبه یې د نورو ژبو اثر نـه و شـوی. د شعر وزن او عروض یې هم د پښتنو ملي بدلو ته ډېـر ورتـه دي او یـو تکرارېدونکی کسر لري (لویه خدایه لویه خدایه) چې دغه پخوانی ادبي رنګ تراوسه هم د پښتنو په بدلو کې لیدل کېږي او ښکاري چې دا یـو پخوانی اریایي مزیت دی. دا شعر د مضمون او ادبي فکر لـه پلـوه هـم پخواني اریایي سندرو ته ورته دی. په پخوانیو اریایي اقوامو کې (کوله- کهول) څومره اهمیت درلود؟، پر دغه کهـول بانـدې اکثـر اجتمـاعي تشکیلات بنا کېدل، دوی هر کله خپلې کورنۍ او کهولونـه ډېـرول او کورنۍ یې د ټولو نعمتونو مرکز ګڼله.)) د ببـېټ نیکـه دا شـعر کـه لـه (ریګویدا) سره مقابله کړو، نو د مضمون له پلوه له دې مناجـات سـره نږدېوالی لري: ((خدای د ژوندون واکمن دی، مالـک الملـک دی، دی ښاغلې کورنۍ سړو ته ورکوي، نو خدایه! موږ ستا مریـي یـو! بـې لـه اولاده. بې ښېګڼې مو، مه وژنه!...)) (۴۷۲:۱۳-۴۷۴)

که څه هم زموږ ځینو ادبپوهانو د ببېټ نیکه دا شعر له محتـوایي او

شکلي پلوه پخوانیو اریایي سندرو ته ورته بللی او وایي چې لــه هغــو سره زیات مشترکات لري، خو که له شکلي پلوه یې وڅېړو لــه عربــي ژبې څخه له یوه راغلي شعري فورم (مثنوي) سره هم تر یوه حــده اړخ لګوي. مثنوي هغه فورم دی چې هر بیت یې مستقله قافیه لري، ځینې بیتونه یې پر قافیې سربېره کېدی شي، ردیفونه هم ولري، خــو د ټولــو مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي او یو مشترک وزن تعقیبــوي، هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

a____________________

a____________________

b____________________

b____________________

c____________________

c____________________

د بیتونو وروستی شمېر یې معلم نه دی، ځینې بیتونه کــه ردیفــه ولري، نو یوازې په ردیف کې یې شکل لږ تغیر وي.

=d__________________

=d__________________

د بېټ نیکه دا شعر دوه بندونه لري چې د هر بند په پای کــې یــې (لویه خدایه لویه خدایه) کسر تکرارېږي، چې د لــومړي بیــت لــومړۍ مسره هم ده. له دغه تکراري کسر پرته که هر بیت یې په جلا جلا ډول وڅېړو، نو د مثنوي فورم ته ورته دی. هر بیت یې خپله مستقله قافیــه لري، ځینې بیتونه یې ردیفونه هم لري، خــو ټــول یــو مشــترک وزن تعقیبوي، د مسرو د څپو شمېر یې هم سره مساوي دی، هره مسره یې

(۸) څپې لري او تر پایه همدا جوړښت تعقیبوي. له محتــوايي پلــوه دا شعر یو مناجات ګڼل کېږي چې بنده له خپل رب څخه په عذر او زارۍ خپله مدعا غواړي.

لکه څنګه چې یادونه وشوه دا شعر زړو اریایي سندرو ته ورته دی، خو دا خبره هم د یادونې وړ ده چې له ځینــو جزیــي توپیرونــو پرتــه مثنوي فورم ته هم نږدې دی. خو له عربي څخه د راغلي مثنوي فــورم ټول خصوصیات نه رانغاړي، نو ځکه خو په وروســتي تحلیــل کــې زړو اریایي سندرو ته ورته يې ځکه بللای شو چې دا ځانګړنې په کې زیاتې دي.

# شیخ اسمعیل

## (۴۰۰هـ) حدود

د پښتنو مورخان او د اسماء الرجال خاوندان لیکي: چې اسمعیل په اصل د بېټ نیکه زوی و او لکه چې دمخه مــو ولوســتل د خپــل تــره (سړبن) په کور کې لوی شوی و، نو دی په ((سړبني)) مشهور دی:

لکه څنګه چې سلیمان ماکو لیکي: اسمعیل د بېټ نیکه په کور کې لوی شوی و او د سلیمان په غره کې مېشته او هم هورې وفات شــو، دا مورخ وایي:

((د اسمعیل مرقد واقع دی د کسې پــر غــره چــې زه هلتــه تللــی وم...))(۳۸: ۳۱)

دغه روایات نعمت الله هم کټ مټ په مخزن کې داسې تایید کــړي دي:

((چون اسمعیل بسن رشدی رسید از ریاضات شاقه بمراتب ولایــت رسید و این شیخ اسمعیل سړبنی پسر حضــرت بیــټ اســت... شــیخ اسمعیل سړبنی قدس سره صاحب عبادت و ریاضت شاقه بود مقتدای وقت بعلوم لدنی کاشف اسرار طریقت و حقیقــت بــوده در ولایــت روه چون بوطن مالوف رسیدند به مقام خواجه منزل ګرفتنــد و خلایــق از جاهای دور بملازمت شتافتند...)) ((سلیمان ماکو او خواجه نعمــت الله هروي دواړه وایي چې د اسمعیل د ژوندانه ځای سلیمان غر و، بل ځای

نعمت الله تصریح کوي چې دده مزار په هغه ځـای کـې دی چـې (وازه خوا) یې بولي او وازه خوا د سلیمان د غره په لمنو کـې ده، عـلاوه پـر دغه پټه خزانه کې هم د اسمعیل احوال لیکل شوي او وایي چې دی د خرښبون معاصر و، څرنګه چې د خرښبون وفات په (۴۱۱هــ) دی، نـو موږ د اسمعیل د ژوند عصر هم دغه ګڼو.))(۴۷۴:۱۳-۴۷۶)

اسمعیل د خپلې کورنۍ مشهور عابد او خـدای دوسـت سـړی و د مخزن افغاني له روایاتو څخه ښکاري چې دی له خپله کوره په سیاحت هم تللی او له لویو اولیاوو سره یې لیدنه کتنه هم شوې وه.

## د اسمعیل شعرونه:

د اسمعیل شعرونه موږ ته په دوو وسیلو رارسېدلي دي؛ لومړی شعر یې هغه دی چې (سلیمان ماکو) په خپله تذکره کې په دې ډول رانقـل کړی دی.

((نقل کاوه شي چې شیخ ملکیار ستانه بـه تـل تـر تلـه د شـیخ اسمعیل ستر ستانه پاړکي ویل او ږغ به یې کاوه دا شیخ د سـړبن زوی و.)) (۳۸: ۳۲) شعر یې دادی:

تېښته وکړه له ابلیسه چې ابلیس لعین ښکاره سي
هلته ورکه پلوشه سي تـول نـړۍ تـوره تیـاره سـي
سړی وران سي له ابلیسه غـوځ د پـس پـه کټـاره سـي
کـه هـر چا ابلیس خرخ کړ نـو یـې هلـه ننـداره سـي
که سړی ابلیس ته پړ سو نـو پـر کـور د ویـر نـاره سـي

د اسمعیل یو بل شعر چې دده پر کورنیو احساساتو دلالت کـوي، د پټې خزانې لیکوال یې په دې شرح لیکي:

((هسې وايي، چې یو وقت خرښبون بابا او اسمعیل د سړبن او بېټني نیکه په مخ کې ناست وو، د دوی کور و د کسي په غره نو خرښبون د پلار او تره له خوا په تګ او رخصت ماذون شو، اسمعیل نیکه داسې نارې وکړلې)) (۵۱: ۱۸)

که یون دی یون دی مخ کې بېلتون دی
له کسي غره څخه ځي خرښبون دی
که وروره وروره خرښبون وروره
ته چې بېلتون کړې زما ویر ته ګوره
چې ځې مرغې له توري کرغي له
همزولي پاته ځي څه برغې له
د خدای د پاره خرښبون یاره
چې هېر مو نه کړې زمونږ کهول واړه
زړه مې رپېږي یار مې بېلېږي
بېلتون یې اور دی ځان په سوځېږي.

لکه څنګه چې مو یادونه وکړه اسمعیل یو روحاني شخصیت او له متصوفینو سره مل سړی و، نو ځکه دده په لومړني شعر کې د وعظ، تلقین او نصیحت رنګ شته او ځنې عربي لغات هم په کې راغلي دي چې دده روحاني ژوند ښکاره کوي اما دویم شعر یې په ملي وزن دی او د پښتو ژبې د مخصوصو عروضو او اهنګ ښکارندويي کوي او پردي لغات هم نه لري، نو ځکه ویلای شو چې دا شعر هم د پښتو ژبې په زړې دورې پورې اړه لري او په هغو اشعارو کې حسابېږي چې د نورو ژبو اثر لږ پرې شوی دی. داسې نارې تراوسه هم د پښتو ژبې په افسانو او

نکلونو کې شته چې شعري وزن او عروض یې مخصوص دي او په یــوه خاص اهنګ ویل کېږي.

د شکلي جوړښت له مخې د شیخ اسمعیل لومړی شعر د هغه غزل بڼه لري چې مطلع نه لري. یانې د سر بیت یــې مقفــی نــه وي یــا یــې لومړۍ مسره قافیه نه لري. له دغه توپیر پرته نور د غزل د فورم شکلي قوانین پرې د تطبیق وړ دي. یانې داسې بڼه لري.

______________________

=a______________________

______________________

=a______________________

______________________

=a______________________

تر پایه

دلته درېیمه مسره هم قافیه او هم ردیف لري، خو که هغه قافیه او ردیف راغلي هم نه وای، څه ستونزه نه پېښېدله.

د څپیز جوړښت له مخې یې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی، هره مسره یې (۸) څپې لري، البته د څلورم بیت د لومړۍ مســرې یوه څپه کمه ښکاري خو دا کېدی شي، د زمانې په تېرېدو سره یو څــه ترې لوېدلي وي او یا هم د (خرڅ) په تلفظ کې څه بــدلون راغلــی وي. نورې ټولې مسرې سره برابرې څپې لري او یو وزن تعقیبوي. (ښــکاره، تیاره، کټاره، ننداره، ناره) یې د قافیې کلمــې دي او (ســي ســي) یــې ردیف دی. دویم شعر یې چې زموږ تاریخ لیکونکو او ادبپوهان هغه زړې نارې ګڼلي، په واقعیت کې پنځه بندونه دي چې هر بند یې په اوســني

اصطلاح یوه څلوریزه جوړوي. څلوریزه هغه ډول شعري فورم دی چــې څلور مسرې لري، د څپو شمېر یې سره مساوي دی، لومړی بیــت یــې قافیه لري او د دویم بیت دویمــه مســره یــې د لــومړي بیــت قافیــه تعقیبوي، ردیف په کې اختیاري دی.

لومړۍ بڼه

a____________________

a____________________

____________________

a____________________

دویمه بڼه:

=a____________________

=a____________________

____________________

=a____________________

دلته یو واحد نظم له پنځه و څلوریزو څخه جوړ شوی، هر بند یې د یوې څلوریزې بڼه لري، خو څلوریزه یا رباعي بیا دېته وایي چې څلــور مسرې ولري، تر هغو زیاتې نه وي، خو دا شعر بیا پنځه بندونــه او شــل مسرې لري. د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي  دی، هره مسره یې (۵) څپې لري. لومړی بند یې پر قافیې ســربېره ردیــف هــم لــري، (یون، بېلتون، خرښبون) د لومړي بند د قافیې کلمــې دي، (دی، دی) یې ردیف دی. په دویم بند کې (وروره، وروره، ګــوره) د قــافیې کلمــې

دي، ردیف نه لري، درېیم بند کې (مرغې، کرغې، برغې) د قافیې کلمې او (له، له) یې ردیف دی، په څلورم بند کې (دپاره، یاره، واړه) د قــافیې کلمې دي، ردیف نه لري، البته (واړه) کې د قافیې د اوسنیو معیارونو له مخې یو څه عیب لیدل کېږي. په پنځم بنــد کــې (رپېــږي، بلېــږي او سوځېږي) د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري. په دې ډول که مــوږ دې شعر ته ګورو نو د پښتو په همغه پخوانۍ اصطلاح دا بېلابېلې نــارې دي چې د څلوریزو بڼه هم لري، په خپل منځ کې یوه ارتبــاطي مانــا او یــو مشترک وزن لري او څپیز جوړښت یې د څلوریزو په شــان دی. ټــول نظم یوه محتوا تعقیبوي او د هغه خپل یار او ورور بېلتون دی.

# خربښبون

## (۴۰۰هـ)

په پښتو کې خربښبون ډېر شهرت لري، د مشـــهور (ســړبن) زوی و چې د ببټ نيکه وراره کېږي او ددې کورنۍ يو معروف شــاعر دی، دده درې زامن (کند، زمند، کاسي) هم خورا مشهور دي او پټه خزانــه يــې احوال داسې ليکي: ((د پښتون بابا د کســې د عبدالرشــيد لمســی و، خاوند ده ته ښکاره کمالات او کرامات ورکړي وو، د خدای پــه عبــادت به بوخت و، نقل کا چې: د پلار په ژوند کې لا رخصــت شــو او د خپلــو اولادو سره راغی له کسې څخه غوړې مرغۍ ته او کله به ولاړ د غنډان غره ته او هلته به يې خدای ستايه او نمانځه او په کال کې به يو وار تلی د خپل تره ببټني نيکه ليدنه به يې کوله او پس له وفاتــه بــه يــې هــم زيارت ته ورتلی، خربښبون بابا د شيخ اسمعيل سره چې د ببټني نيکــه زوی و، لوی شو او هغه وخت چې خربښبون د کسې له غره غنډان تــه راته، نو اسمعيل بابا په ده پسې ډېر وژړل...)) (۵۱: ۱۸)

تر دې وروسته د پټې خزانې ليکوال هغه داســتان رانقلــوي چــې دمخه يې د اسمعيل په احوال کې يادونه وشوه او د اسمعيل هغه نارې ليکي چې د خربښبون په فراق کې يې کړې دي. پټه خزانه د خربښــبون د هغه غبرګون (ځواب) اشعار هم نقل کړي چې د اسمعيل د نــارو پــه غبرګون کې د خربښبون له خوا ويل شوی وو. زموږ ځينو ادبپوهــانو دا اشعار څلوريځ (مربع) ګڼلي دي:

## د خرښبون بابا څلوریځ

ببلتانـــه نـــاره مـــې وســـوه پـــه کـــور بانـــدې
نـــه پـــوهېږم چـــې بـــه څـــه پـــېښ وي پـــه وړانـــدې
لـــه خپلوانـــو بـــه ببلېـــږم پـــه ســـرو ســـترګو
دواړه ســـــترګې مـــــې پـــــه وینـــــو دې ژړانـــــدې

❊❊❊

اســـمعیله ســـتا نـــارو مـــې زړګـــی سُـــری کـــئ
ببلتانـــه خرښـــبون بیـــا لـــه تـــا پـــردی کـــئ
نـــه هېربـــږي کـــه مـــې بیـــا نـــه ســـتا یـــادی کـــئ
پـــه چـــړو د ویـــر بـــه پـــرې ســـې دزړه مرانـــدې

❊❊❊

څمـــه څمـــه چـــې اوږد یـــون مـــې دی و مـــخ تـــه
دیـــا نـــه څـــوری بـــه اچـــوم و تـــرخ تـــه
ستاســـې یـــاد بـــه مـــې وي بـــس د زړه وســـخ تـــه
کـــه دا مځکـــه غرونـــه تـــول ســـي لانـــدې بانـــدې.

((پټه خزانه وايي چې خرښبون د خپل عمر په پای کې په مرغه کې ساکن شو او دا مرغه یا غوره مرغه هغه ځای دی چې د کندهار شرقي جنوبي خواته د ارغسان او کلات ترمنځ د کوړک او سـلیمان غـره پـه لمنو کې واقع ده او لکه دمخه چې وویل شول، خرښبون د غندان پـه غره کې هم اوسېده، چې دا غر هم د کلات خواته د ترنک په ناوه کـې

دی.

خرښبون پر (۴۱۱هـ) کال په مرغه کې وفات شو اولاد يې هم هورې اوسېده، خو دده د زوی کاسي زامن بېرته د کسي غــره او پښـــين تــه تللي وو او د کند او زمند اولاد په ننګرهار، خيبر او پېښور کـــې خپــاره شول.

داسې ښکاري چې د خرښبون اولاد ډېر شوی او وروسته د پښـــتنو ډېر قبايل دده په نامه يادېدل، لکه چې پر (۸۲۰هــــ) ميــرزا شــهرخ د هرات تيموري پاچا کندهار ته راغی، نو د غزنين مشــران او د پرمــل او خرشواني افغانانو مشران دلته دده حضور ته راغلل.

دا روايت د هرات د دربار مورخ عبــدالرزاق ســمرقندي راوړی او دا ځنې ښکاري چې خرشواني (خرښبوني) پښتانه په دغو وختونــو کـــې هم په غزني او وازه خوا کې پراته وو.)) (۱۳: ۴۸۰)

## ارزونه او شننه:

((د خرښبون دا ځوابي ځلوريځ شعر له دې پلوه چـــې تقريبـــاً تــول پښتو دی او د نورو ژبو کلمات نه لري، نو ددې ژبې په ادبي اثــارو کـــې اهميت لري او دا ښکاره کوي چې تر دې وخته لا په پښتو کې د پــردو ژبو کلمات ډېر نه وو ګډ شوي.

ددې نظم جوړښت په پښتو کې له عربي څخه راغلو شعري فورمونو سره پوره سمون نه خوري، که څه هم د سر لومړی بند يې د څلوريزې بڼه لري او د دوو نورو بندونو درې مسرې يې په خپــل مــنځ کـــې هــم قافيه دي او څلورمه مسره يې بيا د لومړي بند د مقفی مســرو قافيـــه

تعقیبوي.

یانې دا چې هندسي بڼه یې په دې ډول ده:

a____________________

____________________

a____________________

a____________________

=b____________________

=b____________________

=b____________________

a____________________

=c____________________

=c____________________

=c____________________

a____________________

په لومړي بند کې (باندې، وړاندې، ژړانــدې) د قــافیې کلمــې دي، ردیف نه لري، په دویم بند کې (سورې، پردې، یادې) د قــافیې کلمــې (کې، کې) یې ردیف دي او د څلورمې مسرې (مراندې) یــې د لــومړي بند قافیه تعقیبوي، په درېیم بند کې (مخ، ترخ، سخ) د قافیې کلمې او ( نه، نه) یې ردیف دی او په څلورمه مسره کې (باندې) یې د لومړي بند قافیه تعقیبوي. که څه هم زموږ ځینو ادبپوهانو دا نظم مربع (څلوریځ) ګڼلی، خو له عربي څخه راغلی مربع فورم په دې شعر ټــول ځکــه نــه تطبیقېږي چې مربع فورم څلور مسرې او څلو بنده لري چې هر بند یې

په خپل منځ کې مقفی وي، په دې مانا چې هر بند یې څلور مسرې لري چې درې مسرې یې بیا په خپل منځ کې ګډه قافیه لري او څلورمه مسره یې د لومړي بند د مسرې قافیه تعقیبوي، د لومړي بند څلور واړه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه وي. مربع ټول څلور بندونه لري، نو ځکه یې څلوریځ یا مربع ګڼي، خو دلته ټول درې بندونه دي، د څلورمې مسرې قافیه یې د لومړي بند قافیه تعقیبوي، دلته د بندو له مخې مثلث ته ورته دی او د مسرو د شمېر له مخې بیا مربع ته ورته والی لري، د لومړي بند ټولې څلور مسرې یې هم په خپل منځ کې هم قافیه نه دي، دغه راز د دویم بند د درېیمې مسرې په قافیه او ردیف (یا دی کېږ) هم د همدې بند له نورو قافیو او ردیفونو سره له ګرامري پلوه یو څه بېلوالی ښکاري. په دې ډول نو له عربي څخه د راغلو فورمونو مثلث او مربع دواړه فورمونه پرې په بشپړ ډول د تطبیق وړ نه دي، خو د دواړو یو څه ځانګړنې په کې شته، د څپو د شمېر له مخې ټولې مسرې یوشان دي، (۱۲) (۱۲) څپې لري.

سرمحقق زلمي هېوادمل بیا په خپل اثر د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې) کې د دغو دریو تنو شاعرانو (شیخ بېټنی، شیخ اسماعیل او خرښبون) یوه ټولیزه ارزونه کړې، هغه لیکي:

۱) دغه درې کسه شیخ بېټنی، شیخ اسماعیل او خرښبون د اسلامي عصر په درېیمه پېړۍ او د څلورمې پېړۍ په شاوخوا کې د کسې په غره کې اوسېدلي دي او د هغه زمان ددې سیمې په پښتنو کې د نوم او شهرت خاوندان وو. دلته باید دا خبره هېره نه کړو، چې د دوی تر زمانې دمخه پښتانه په غور او د سلیمان په غرونو او د اوسني افغانستان اوروه په سیمو کې خپل سیاسي او ملي شهرت ته رسېدلي

وو او حتی د دوی تر زمانې دمخه یې د هندوستان سیمو ته هم نفوذ کړی و.

۲) د کسې د غره په لمنو کې د پښتو اثارو د دغو دریو لومړنیو هستوونکو له ډلې څخه د شیخ بېټني د ژوند زمانه هم همدغه مهال ټاکل کېدی شي، ځکه دا دواړه هم عصره وو او دواړو یو د بل په بېلتانه کې سوې نارې ویلې دي. په مخزن افغاني کې د نعمت الله هروي د لیکنې له مخې د اسماعیل قبر په وازه خوا کې واقع دی او وازه خوا هم د سلیمان د غرو په لمنو کې واقع ده.

۳) د کسې د غره په لمنو کې دغه لومړني ایجاد شوي پارکي د خپلو جوړښتي خصوصیاتو له مخې د پښتو د لرغونو سندرو په جمله کې حسابېږي. یوازې د اسماعیل یو پارکی په شکلي لحاظ په ظاهري ډول قطعې ته پاتېږي. خو موږ وایو، چې دا ټوټه شعر د شرقي شاعرۍ د قطعې ټول شرایط د وزن او تول له نظره نه لري او زموږ د پښتو کسرونو په ابتدایي ډولونو کې یې درولای شو.

۴) دغه اشعار په موضوعي لحاظ د بېلابېلو موضوعاتو بیانوونکي دي:

الف: د شیخ بېټني په مناجات کې یوه اورنۍ الهي مینه په ډېرو ساده الفاظو کې بیان شوې ده او موږ له دغه مناجاته څخه په پښتو ادبیاتو کې د عرفاني افکارو د پیداکېدو لومړنی او ابتدایي څرکونه هم ایستلای شو.

ب: په دغه مناجات کې شیخ بېټنی د خپلو خلکو د زیاتېدو هیله څرگنده کړې ده، دغسې افکار په زړو اریایي ادبیاتو کې هم بیان شوي دي. استاد عبدالحی حبیبي د شیخ بېټني دغه مناجات د ریگویدا له

ځینو سندرو سره مقایسه کړې دي او د شیخ او د ریګویدا د یوې سندرې ترمنځ یې مشابهتونه ښوولي دي.

ج: د شیخ ببټني د مناجات له مطالعې څخه د هغه وخت د پښتنو د ژوندانه اشکال هم ښکاري.

د: د شیخ اسماعیل یو پاړکی دیني او اسلامي روحیه لري او د همده بل پاړکی او د خرښبون پاړکی د کورنۍ د غړو ترمنځ، د مینې او محبت روحیه تمثیلوي.

هـ: د کسی د غره په لمنو کې دغه ایجاد شوي لومړني پاړکي، د پښتو په لومړنیو پاړکیو کې حسابېږي، نو ځکه په دغسې اشعارو کې د هنري ښېګڼو او ښکلا پلټنه چندان مورد نه لري، خو بیا هم د شیخ ببټني په مناجات کې یوه ساده او ابتدایي ښکلا لیدل کېږي.

# شیخ اسعد سوري

## (۴۲۵هـ)

د سوري کورنۍ تاریخي احوال مو دمخه څه ناڅه روښانه کړل او دا راته ځرګنده شوه چې د پښتو پخواني او ډېر لومړني اثار په دې کورنۍ پورې اړه لري او کله چې دوی سلطنت درلود، ادبي ذوق هم ورسره و.

له دې ټبره د پښتو یو بل مقتدر اور ژبی شاعر هم راوتلی دی چې نوم یې (اسعد) او د (محمد) زوی و، دا شاعر په لرغونې دوره کې ډېر لوړ مقام لري او د (۴۰۰هـ) په شاوخوا کې ژوندی و، پټې خزانې د (لرغوني پښتانه) په حواله له تاریخ سوري څخه داسې نقل کړی دی.

((شیخ کټه په کتاب کې د لرغوني پښتانه له تاریخ سوري هسې نقل کا چې: اسعد سوري په غور کې اوسېده او هلته د سوري خاندان په پادشاهۍ کې ډېر عزتمند و شیخ اسعد د محمد زوی و چې په کال سنه (۴۲۵هـ) هجري په بغنین کې وفات شو شیخ اسعد ډېر ښه اشعار ویل نقل کا چې سلطان محمود غازي پر غور باندې د امیر محمد سوري سره جګړه وکړه او په اهنګرانو یې محصور کا په دې وخت شیخ اسعد هم د اهنګران په کوټ کې و، هغه وخت چې سلطان محمود امیر محمد سوري ونیو او بندي یې بوت غزني ته، نو امیر محمد سوري چې خورا زړور او عادل ضابط امیر و، له غیرته د بند مړ شو او شیخ اسعد چې دوست و د امیر محمد سوري پر مرګ یې ساندې وویلې.)) (۵۱: ۳۸)

په دې ډول اسعد سوري د پټې خزانې په قول په اهنګران کې

اوسېده او وفات یې د (زمینداور) په (بغنین) کې دی، دا شـاعر لکـه د سوري له ټبره چې و د پادشاهانو په دربار کې معتبر هـم و او لـه امیـر محمد سوري سره یې اشنایي او دوستي لرله. امیر محمد سوري د غور له مشهورو شاهانو څخه دی چې (قاضي منهـاج سـراج) یـې احـوال داسې راوړي:

((... چون تخت با میر محمود سبکتگین رسید امارت غوریان با میر محمد سوری رسیده بود ممالک غور را ضـبط کـرده گـاهی سـلطان محمود را اطاعت نمودی و گاه طریق عصیان سـپردی و تمـرد ظـاهر کردی تا سلطان محمود بالشکر گـران بجانـب غـور امـد و در قلعـه اهنگران محصر شد و مدتها ان قلعه نگاه داشت و قتال بسـیار کـرد و بعد از مدتها بطریق صلح از قلعه فرود آمد و بخدمت سـلطان محمـود پیوست و سلطان او را با پسر کهتر او که شیش نام بود، بجانب غـزنین برد چون بحدود گیلان (نزدیک غزنه) رسید امیر محمد سوری برحمت حق پیوست بعضی چنان روایت کنند: که او چون اسیر شـد از غایـت حمیت که داشت طاقت مذلت نیاورد، خاتمی داشت در زیر نگین زهـر تعبیه کرده بود انرا بکار برده در گذشت.))(۱۳: ۴۸۲-۴۸۳)

د امیر محمد سوري د مرګ په باب د پټې خزانې او طبقات ناصـري روایت یو راز دی، بیهقي هم لیکي چې سلطان محمود پر (۴۰۵هـ) لـه بست او جنوبي خوا پر غور حمله وکړه او ویې نیو.

ابن اثیر وایي: دا جنګ پر (۴۰۱هـ) و چې د سلطان محمود له خوا د هرات حاکم (التونقاش) او د طوس حاکم (ارسلان جاذب) پر اهنګـران راغلل او ابن سوري له لسو زرو لښکرو سره د دوی سر سـخت جنـګ وکړ، خو په پای کې دی ونیول شو او په زهرو یې ځان مړ کړ. (حمـدالله

مستوفي) هم لیکي، چې سوري د غور پاچا له سلطان محمود سره جنګ وکړ څو په پای کې دی مړ شو، د پارسي شاعر عنصري هم په یوه قصیده کې چې د سلطان مدح کوي دې جګړې ته داسې اشاره کوي:

ګرفتن پسر سوری و کشادن غور

هراینه نتوان کرد در سخن مضمر

د مورخانو له دغو روایاتو ښه ښکاري چې محمد سوري په غور کې د سلطان محمود لوی معاصر رقیب او پایتخت یې اهنګران و او زموږ د پښتو ډېر مقتدر او لوی شاعر اسعد هم له دې پاچا سره هورې اوسېده او ددغه پاچا د دربار یو قصیده ویونکی شاعر و. د پټې خزانې مولف د لرغوني پښتانه په ذریعه له تاریخ سوري څخه یوه بولله (قصیده) رانقلوي چې شیخ اسعد سوري د امیر محمد سوري په ویرنه (رثاء) کې ویلې وه او هغه داده:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هرګل چې خاندي په بهار
هرغټول چې په بیدیا غوړېده وکا
رېژوي یې پاڼې کاندي تار په تار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا ترخاورو لاندې زار
د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي
د بېوزلو وینې توې کاندي خونخوار
چې له برمه یې زمری رپي ځنګلو کې
له اکوبه یې ډاري تېرو جبار

هـــم یـــې غشـــي ســـکني ډال د ژوبلــــورو
رســـتمان ځنـــې ځغـــلا کانـــدي پـــه ډار
چـــې یـــې مـــلا وي نـــه کږېـــږي پـــه غښـــتليو
دا فلـــک پـــر وکـــا څـــه کـــاري ګـــوزار
پـــه یـــوه ګـــردښت یـــې پرېباســـي لـــه برمـــه
نـــه یـــې غشـــی نـــه لينـــدۍ وي نـــه یـــې ســـپار
څـــه تېـــری څـــه ظلـــم کانـــدې ای فـــلکـــه
ســـتا لـــه لاس نـــه دی هـــېڅ ګـــل بـــې لـــه خـــار
پـــه ویرژلـــو لـــور نـــه کـــړې پـــه زړه کراړیـــه
پـــــر نــــــتليــــــو اوروې د غـــــم نـــاتـــار
هـــېڅ روغـــی مـــې پـــه زړه نســـته ســـتا لـــه څـــوره
بېلـــــوي پـــــه ژړا ژړ مـــــین لــــــه یــــــار
لـــه تېریـــو دې اوښـــې څـــاڅي لـــه اورېځیـــو
ځنـــې ژاړي پـــه ورت ورت ســـــتا لـــــه شـــــنار
نـــه بـــه لاس واخلـــې لـــه څـــوره نـــه بـــه لـــورې
نـــه بـــه مـــلا کـــړې لـــه بېوزلـــو لـــه تـــرار
نـــه بـــه زړه وســـوځوې پـــه هېڅـــا بانـــدې
نـــه بـــه پرېـــوځې لـــه ګردښـــته لـــه مـــدار
نـــه بـــه وصـــل کـــړې مـــین لـــه بـــل مینـــه
نـــــه بـــــه درملـــــې ټپونـــــه د افګـــــار
ســـتا لـــه لاســـه دي پراتـــه ژوبـــل زګېـــروي کـــا
هـــر پلـــو تـــه ټپـــي زړونـــه پـــه څـــار څـــار
کلـــه غـــوځې کانـــدې مرانـــدې د زړګیـــو

کلـــــه تېرباســــــــې وګـــــــړی هوښـــــــیار
کلـــــه ټکـــــې واچـــــوې پـــــر نــــــازولیو
کلـــه څېـــرې کـــړې ګرېـــوان د نمنځـــې چـــار
کلـــــه غورځـــــوې واکمـــــن لـــــه پلازونـــــو
کلـــــه کېنـــــوې پـــــه خـــــاورو کـــــې بـــــادار
زمـــــورِ پـــــر زړونـــــو دې نـــــن بيـــــا وويشـــــت
ودې ژوبللـــــــه پـــــــه دې غشـــــــي هـــــــزار
پـــر ســـوريو بانـــدې ويـــر پرېـــووت لـــه پاســـه
محمـــــد واکمـــــن چـــــې ولاړی پـــــه بـــــل دار
يـــــو وار شـــــو اســـــير پـــــه لاس د ميرخمنـــــو
انتقـــــال يـــــې وکـــــړ قبـــــر لـــــه بـــــل وار
پـــــه ســــــماو يـــــې ودان اهنګـــــران و
پـــه ټيکنـــه وو پـــر درســـت جهـــان اوڅـــار
د محمـــــود د ژوبلـــــورو پـــــه لاس کښـــــېوت
چـــــې غزنـــــه تـــــه يـــــې بـــــاتلی پـــــه تلـــــوار
ننګيـــــاليو لـــــره قيـــــد مړينـــــه ده ځکـــــه
ســـــه يـــــې والوتلـــــه هســـــک تـــــه پـــــر دې لار
تـــر نـــړی يـــې غـــوره خـــاورې هـــديره کـــا
د زمريـــــو پـــــه ببړيـــــو کلـــــه وي څـــــوار
پـــه دې ويـــر د غـــور وګـــړي تـــور نمـــري شـــول
پـــــه دې ويـــــر رڼـــــا تيـــــاره ســـــوله د ښـــــار
ګـــــوره څـــــاخي رانـــــې اوښـــــې لـــــه دې غرونـــــو
دا کړونګـــــې ســـــاندې لـــــي پـــــه شـــــورهار

نـــــه هغـــــه زرغـــــا د غرونـــــو د بیـــــدیا ده
نـــــه د زرکیـــــو پـــــه مســـــا دی کتهـــــار
نـــــه غټـــــول بیـــــا زرغـــــونېږي پـــــه لاښـــــونو
نـــــه بـــــامي بیـــــا مســـــیده کـــــا پـــــه کهســـــار
نـــــه لـــــه غرجـــــه بیـــــا راځـــــي کـــــاروان د مشـــــکو
نـــــه رادرومـــــي غـــــور تـــــه بیـــــا جـــــوپې د شـــــار
د پســـــرلي اوره تـــــودې اوښـــــې توینـــــه
مرغلـــــرې بـــــه نیســـــان نـــــه کـــــړي نثـــــار
دا پـــــه څـــــه چـــــې محمـــــد ولاړ لـــــه نړیـــــه
پـــــه ویرنـــــه یـــــې ســـــو غـــــور ټـــــول ســـــوګوار
نـــــه ښـــــکاریږي هغـــــه ســـــور د ســـــور پـــــه لتـــــو
نـــــه ځلیـــــږي هغـــــه لمـــــر پـــــر دې دیـــــار
چـــــې بـــــه نجلیـــــو پـــــه نڅـــــا پـــــه کـــــې خندلـــــه
چـــــې بـــــه پیغلـــــو کـــــا اتـــــڼ قطـــــار قطـــــار
هغـــــه غـــــور پـــــه ویـــــر ناتـــــار د واکمـــــن کښېوســـــت
هغـــــه غـــــور ســـــو د جانـــــدم غونـــــدې ســـــوړار
لاس دې مـــــات ســـــه ای فلکـــــه چـــــې دې وکـــــا
محمـــــد غونـــــدې زمـــــری د مړینـــــې ښـــــکار
شـــــین زړګـــــی فلکـــــه ولـــــې لا ولاړ یـــــې
ای د غـــــور غرونـــــو پـــــه څـــــه نـــــه ســـــوئ غبـــــار
مځکـــــې ولـــــې پـــــه ریږدلـــــو نـــــه پرېـــــوځې
لانـــــدې بانـــــدې ســـــه چـــــې ورک ســـــي دا شـــــعار
چـــــې زمـــــري غونـــــدې واکمـــــن ځـــــي لـــــه جهانـــــه

چــې څــوک نــه کــړي پــه نــړۍ بانــدې قــرار
ســـخ پـــه تـــا ای محمـــده د غـــور لمـــر وې
پـــه نـــړۍ بـــه نـــه وي ســـتا د عـــدل ســـار
تــه پــر ننګــه وې ولاړ پــه ننــګ کــې مــړ ســوې
هــم پــه پــر ننګــه دې پــه ننګــه کــا ځــان جــار
کــه ســوري دې پــه تــګ ويــر کانــدي ويــرمن ســول
هــم بــه ويــاړي ســتا پــه نــوم ســتا پــه ټبــار
پـــه جنـــت کـــې دې و تـــون زمـــوږ واکمنـــه
هـــم پـــه تـــا دې وي ډېـــر لـــور د غفـــار.

## ددې بوللې ارزونه او شننه:

په پښتو لرغوني ادب کې شيخ اسعد سوري لومړی معلـوم سـړی دی، چې دده شعر د پارسي د همعصرو شاعرانو له اثارو سره نږدېوالی، ادبي رابطه او قرابت لري. دا خو ښکاره ده چې د (۴۰۰هــ) پــه حــدودو کې د پارسي ادب د ساماني شاهانو په دربارو کــې پــه ښــه ډول روزل شوی و او بيا د غزنويانو په دربارو کې چې د پارسي شاعرانو د تجمع او راټولېدو ځای و، هم لا پسې روزل کېده. پــه دې وختــو کــې ســلطان محمود په غزني کې سلطنت کاوه، نو ډېر نوميالي پارسي شــاعران پــه غزني کې راټول شوي او د قصيدې ويلو د عروج وخت و.

که د عنصري، فرخي، عسجدي او نورو هغو پارسي شاعرانو چــې د غزني په دربار کې وو، اثار او اشعار وکتل شي، نو دا ښکاري چــې دغــه مهال شاعرانو او عموماً قصيدې ويلو ته مخه کړې وه او پر دغه وخــت

دغه ادبي فن بشپړ او پوخ شو. غزني او د غور لتي سره نـږدې دي او د ادب او مدنيت دغو دوو مرکزونو ضرور روابط سره درلودل، نو ځکه موږ لکه په غزني کې چې په دغو وختو کې ډېر قصيده ويونکي وينـو، پـه غور کې هم ددې ادبي ميلان او ذوق اثر ښکاره دی که تاسـو د اسـعد سوري د مرثيې دغه غرا قصيده له نورو هغو پښتو اثارو سره چې هم په دغو وختو کې په غرو او دښتو کې ويل شـوي دي. ځنـګ پـه ځنـګ کښېږدئ. نو بې له کتنې او پلټنې څخه دا لاندې نتايج لاس ته راځي:

(۱) د وزن او عروضي کيفيت له پلوه دا قصـيده د پارسـي د اوږدو قصايدو په ډول ويل شوې ده او د ځپيز خجيز جوړښـت لـه مخـې د پښتو د خپل شعري جوړښت تابع ده.

(۲) شاعر د پارسي قصيدو په ډول لومړی له فلکه شـکوه کـوي او فلک غندي، بيا نو خپل مطلب ته مخه کوي چې د محمد سـوري ويـر دی او دا تېښته يا ورتګ کټ مټ د پارسی قصـيده ويونکيـو پـه ډول دی.

(۳) په دې قصيده کې ډېر پارسي او عربي کلمات راغلـي دي او دا ښکاره کوي چې په دغو وختو کې د غور پښتو خالصه نه وه، بلکې ډېر پارسي لغت ورسره ګډ شوي وو.

(۴) سره له دې چې په دې قصيده کې ډېر عربي او پارسي کلمـات شته، بيا هم ډېر نادر او پخواني پښتو لغات لري او دا ځنې ښکاري چې تر دغه وخته لا پښتو ژبه په غور کې د لغاتو او کلماتو له پلـوه ارتـه او غني ژبه وه او تر دې دورې وروسته يې ډېر مغتنم ادبي مواد له لاسـه ايستلي دي چې په لغوي شننه کې په ورته نغوته وشي.

(۵) دا قصيده په سلاست، بلاغت او ادبي ښېګنو کـې د پښـتو لـه

لومړۍ درجې اشعارو څخه ده او دا ښکاره کوي چې اسعد یو ډېر مقتدر او زبردست شاعر و، چې په خورا ښه ډول یې د محمد مرګ تصویر کړی او د خپل ویر تاثرات یې هم په استادۍ او مهارت په دې قصیده کې ځای کړي دي.

وګورئ شاعر د قصیدې په پیل کې فلک په غایب ډول غندي او دده ظلمونه بیانوي، بیا له (څه تېرى څه ظلم کاندې اى فلکه!) بېرته له غیابه حاضر او مخاطب ته رجوع کوي او له مغایبې څخه مخاطبې ته التفات کاندي. دا مخاطبه تر هغه ځایه ده چې د ګرېز یا تېښتې (تخلیص) موقع ده، وایي: (زموږ پر زړونو دې نن بیا یو غشی وویشت) ترپایه...

په مرثیه قصیدو کې د غزنویانو له عصره دا رسم و چې شاعر به کوښښ کاوه د خپل مړه ممدوح صفات او ښېګنې په داسې ډول وښیي چې د هغه مقام د خلکو په نظر کې ډېر لوړ ثابت شي او دده د مرګ د ویر اسباب او علل هم وښیي. لکه استاد (ابوالحسن علي بن جولوغ سیستاني) چې د (سلطان محمود) په مرثیه کې د غزني د ښار حسرتناک منظر او د خلکو ویر او ناورین څرګند کړی دی:

شهر غزنین نه همانست که من دیدم پار
چه فتاده است که امسال دګرګون شده کار

د اسعد سوري په بولله (قصیده) کې هم د محمد د مرګ پر وخت د غور ویرجن او غمناک منظر په ښه ډول تصویر شوی دی:

((په دې ویر د غور وګړي تور نمري شول ترپایه... اسعد خپله استادي په دې قصیده کې ښه ښکاره کړې ده، دی د غور د ویر او

ناورین مناظر هسې تصویروي، چې په مقابل کې د خوښۍ، مســرت او نشاط پخواني رنګین تصاویر هم ښیي، وایي: په هغو غرو کې چــې بــه مستې زرکې په مساکتهار کاوه او د غور پېغلو نجونو به نڅاوې او اتڼونه په کې کول، اوس هلته ماتم او ویــر پــروت دی. هــېڅ هغــه نشــاط او خوښې نشته.

د فرخي او اسعد سوري د شاعرانه تخیل او تصویر تــرمنځ دومــره فرق دی، چې فرخي د غزني د ښاریانو غمګین منظــر ښــودلی دی، د حاجیانو، عاملانو، درباریانو او لښکرو د ویر حالت یې تصویر کــړی دی، چې یوه نارې غلبلې وهلې، نورو دوکانونه تړلي وو او له یوه خولۍ ورکه وه او د بل پګړۍ، په غاړه کې کلاوه شــوې وه او لــه میرزایــانو څخــه مشواڼۍ ورکې وې، سرونه یې په دېوالو وهل او ځینو پر سرونو لاســونه نیولي او بعضو خلکو خپل لاسونه چیچلي وو!!!

په یوه ښار کې د ویر او ماتم مناظر هم دغه وي چې فرخي تصــویر کړي دي، خو که دا شاعرانه تصویر او ترسیم د اســعد ســوري لــه دې بیتونو سره مقابله کړئ، وبه وینئ چې د غزني په تصویر کې د جمال او ښکلا برخه نه شته او د غور ښکلا او ښایست د ویر او غم پر وخت هــم ترسیم شوی دی او دا د شاعر استادي، مهارت او ښــکلا خوښــونه ده چې په تصویر او محاکات کې یې ډېر قوت پیدا کړی دی:

ګــوره څــاڅي رڼــې اوښـــې لــه دې غرونــو
دا کړونګـــی ســـاندې لـــي پـــه شـــور هـــار
نـــه هغـــه زرغـــا د غرونـــو د بیـــدیا ده
نـــه د زرکیـــو پـــه مســـا دي کتهـــار
نـــه غتـــول بیـــا زرغـــونېږي پـــه لاښـــونو

نــه بــامي بیــا مســېده کــا پــه کهســـار
نه لــه غرجــه بیــا راځــي کــاروان د مشــکو
نــه رادرومــي غــور تــه بیــا جــوپې د شــار
د پســــرلي اوره تـــودې اوښــــې توینـــه
مرغلــرې بــه نیســان نــه کــړي نثــار.

اسعد د بوللې په پای کې د خپل ویر احساسـات پـه خـورا قـوت ښکاره کوي، اسمان ته وایي چې ولې لا ولاړ یې؟
ای د غور غرونو ولې نه غبار کېږئ؟ ای مځکې ولې په زلزله نه کښېوځې.
دا خطابونه په یوه داسې ډول کوي چې د محمد د مـرګ د واقعـې اهمیت او غمجنتوب ښه ښکاره کېږي او دا هم د شعر یـو ډول کمـال دی چې مخاطب ته هسې احوال تصویر کړای شي.
د قصیدې په پای کې اسعد د پښتنو د هغه ملي روح ترجماني کوي، چې د دوی ټول اشعار پرې ډک دي، که څه هم د محمد پر مـرګ ډېـر ویر کوي او دا ماتم دومره دروند ګڼي چې باید ځمکه چاودلې او اسمان نسکور شوی وای، خو چې دی د ننګ او ناموس په لاره مړ شـوی دی، نو یې په نامه هم ویاړي او په داسې مرګ چې د ننګ او ناموس پـه لار کې وي، افتخار هم کوي:

که سوري دې په تګ ویر کاندي ویرمن سول
هم بـه ویـاړي سـتا پــه نــوم ستا پــه ټــبار)) (۱۳: ۴۹۴)

دا ډول ملي روحیه د پښتو پـه ولسـي او لیکلـي ادب دواړو کـې خوندي ده.

((د شیخ اسعد سوري دا قصیده ټوله (۴۴) بیته ده چې (۱۹) بیتونه یې تمهیدي دي او په دې بیتونو کې شـاعر د فلـک د ظلـم او تېـري مناظر په خورا استادۍ بیانوي. بیا وروسته فلـک تـه خطـاب کـوي. دغسې خطابي بیتونه بیا (۱۱) دي او تر دې خطـابي بیتونـو وروسـته شاعر خپل اصلي مقصد ته راځي چې هغه د امیـر محمـد سـوري پـر مړینه ویر او ماتم کول او ددغه غم ترسیمول دي. د قصیدې وروسـتۍ برخه شاعر پر یوې داسې اجتماعي او اخلاقي نتیجې ودرولـې چـې د پښتنو له ملي عنعناتو سره سمون خوري او د پنځمې پېړۍ په پیل کې د غور د سوري افغانانو د ملي احساس ښکارندویي کوي.))

(۵۳: ۴۴-۴۶)

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، د شیخ اسعد سوري پـه دې قصیده کې د (دریو) ژبو لغتونه کارېدلي: پښتو، دري او عربي. د دري او عربي تاثیرات دا وخت تر پخوا زیات څرګند شوي دي. په دې قصـیده کې، (بهار، خونخوار، خار، افګار، بادار، هزار، دار، جهان، هدیره، کهسار، نیسان، سوګوار، دیار، جاندم، غبار، سپار) او ځینې نـورې دري کلمـې دي، ددې ترڅنګ یو شمېر داسې کلمې هم په کې شته چې په پښـتو او دري کې یوشان کارول کېږي، لکه (کـاروان، مشـک، جوپـه، جـار، بیدیا، ګوزار) او ځینې نورې کلمې. پر دري سربېره په دې قصیده کـې پام وړ شمېر عربي کلمې هم شته، لکه (فلـک، مـدار، وصـل، محمـد، محمود، امیر، انتقال، قید، نثار، قطار، شعار، قرار، عدل، جنت، غفار) او ځینې نورې عربي کلمې دي.

په دې شعر کې ځینې نورې داسې کلمې هـم کارېـدلي چـې اوس ډېرې نه کارېږي، په اصطلاح متروکې دي یا نیمه متروکې دي او یا هـم

اوس په پخوانۍ بڼه نه کارول کېږي. لکه زمولوي (مړاوي کوي)، اکــوب (جلال)، تېرو (تېرى، ظلم)، سکنې (غوڅوي)، ژبلور (جنګي، سپاهي)، ځغلا (تېښته)، ترار (مضطرب)، نه به درملې (علاج به يې ونــه کــړې)، ټکه (صاعقه)، نمنځي چار (زاهد او انصاف)، ټيکنــه (عــدالت)، اوڅــار (ظاهر او ښکاره)، باتلی (د بوتلي پخوانی شکل)، سه (ساه، روح)، ببږۍ (زولانه)، څوار (صبر)، زرغا (زرغونتيا، شــينوالی)، مســا (موســکا، تــر شونډېدې خندا)، لاښ (د غره کمــر)، بــامي (د يــوه ګــل نــوم)، غــرج (غرجستان)، جوپه (قافله)، شار (د غرجستان د مشرانو لقــب)، دويــم سوړار (سورې او توده دښته)، رېږدله (زلزله)، سخ (ښــه حــال)، ســار (ساری)، ټبار (ټبر، کورنۍ)، تون (ځای) او ځينې نورې کلمې دي چــې اوس په ژبه او محاوره کې په دې شکل دېرې نه کارول کېږي.

د شکل له پلوه لکه څنګه چې مو دمخه يادونه وکړه دا يوه بشــپړه بوللــه يا قصيده ده چې د وخت په معيارونو برابرې درې برخــې لــري: تشبيب يا تغزل يا د پيل برخه، اصلي مطلب يــا د موصــوف ســتاينه او دريمه برخه خپل ممدوح ته دعا ده، دا قصيده دا درېواړه برخې لــري. دا قصيده ټوله (۴۴) بيتونه لري. د مقفی مسرو د څپو شــمېر يــې پــه خپل منځ کې سره برابر دی يانې هره مسره يې (۱۱) څپې او د نــامقفی مسرو شمېر يې بيا په خپل منځ کې سره برابر دی، يــانې دا چــې (۱۲) څپې لري. په پښتو نظم کې يوه قاعده داده چې په غزل او قصيده کې کله چې مقفی مسرې (۱۱) څپې ولري، شاعر يا ناظم په ځينو وختونــو کې اړ وځي چې د مقفی مسرو يوه څپه زياته کړي او که زياته يــې نــه کړي، نو وزن نه پوره کوي، دا حالت ډېر عام نه دی، يوازې پــه همــدې يوولس څپيزو مسرو او ځينو نورو استثنايي حالاتو کې په نورو مســرو

کې هم پېښېږي. دا قصیده ردیـف نــه لــري (کوکــار، بهــار، تــار، زار، خونخوار، جبار، ډار، ګوزار، سپار، خار، ناتار، یار، شنار، ترار، مدار، افګار، خار، هوښیار، جار، بادار، هزار، وار، څار، تلوار، لار، څوار، ښار، شــرهار، کتهار، کهسار، شار، نثار، سوګوار، دیار، قطــار، ســوړار، ښــکار، غبــار، شعار، قرار، سار، جار، ټبار او غفار) یــې د قــافیې کلمــې دي. د خپــل تحلیل د وروستۍ نتیجې په توګه وایو چې د محتوایي فورم له مخې دا نظم یوه مرثیه یا ویرنه ده او د شکل له مخې یوه پوره قصیده. د ویرنې په باب به پر خپل ځای رڼا واچول شي.

# شیخ تیمن کاکړ

## د (۵۵۰هـ) حدود

شیخ تیمن د (کاکړ نیکه) زوی د پښتو له پخوانیو شـاعرانو څخـه دی چې د پټې خزانې مولف دده احوال او اشعار د شیخ بستان بړیڅ له (بستان الاولیا) څخه رانقل کړي دي. وایي چې شیخ تیمن د کاکړو لـه سیمې (کاکړستان) څخه د غور خواته ولاړ او هلته مېشت شـو او دده اولاده تر اوسه هم په غور کې شته او په تیمني قبیلې پورې اړه لري، په خپله تیمن زاهد او عابد سړی و، کله کله به له غوره ړوب ته تللـو او د خپل پلار کاکړ لیدنه به یې کوله، په غـور کـې دی پـه (کجـران) کـې اوسېده، چې د غور جنوبي برخـه ده او د (زمینـداور) شـمال شـرقي خواته پرته ده او مورخانو هم (کجوران) یا (کجران) لیکلی دی.

د بستان الاولیا په روایت چې پټې خزانې رانقـل کـړی دی، شـیخ تیمن کاکړ د (علاوالدین خان حسین سام) معاصر و چې ددې پاچـا د سلطنت وخت د (۵۵۰هـ) حدود دی او هم ددغه پاچـا پـه عصـر پـه کجران کې وفات شوی دی.

د پټې خزانې مولف وایي: زما پلار داودخان په بستان الاولیاء کې د شیخ تیمن دغه لاندې شعر لوستلی و او ما له خپله پلاره واورېـده، دا شعر په پښتو قدیمو اشعارو کې ښه عشقي نښه ده، د وزن، الفـاظو او کلماتو له پلوه خالص او سوچه پښتو شعر ګڼه شي:

ګهـــــیځ رڼـــا د لمـــــر خپـــــره ســـــوه

زمـــا پـــر کـــور د ویـــر نـــاره ســـوه
د بېلتـــون ورځ تـــوره تیـــاره ســـوه
ړغ ســـو ناڅاپـــه چـــې بېلتـــون راغـــی

***

زړه مـــې لـــه دې ویرنـــې شـــین دی
پـــه ژړا ژاړم څـــه نـــاورین دی
زرغـــون لـــه اوښـــو مـــې ســـادین دی
پـــه نـــول نـــولېږم چـــې تـــاخون راغـــی

***

نـــه بـــه بیـــا یـــم نـــه بـــه بیـــا راســـي
نـــه بـــه تیـــاره شـــپه زمـــا رڼـــا ســـي
نـــه بـــه شـــهۍ راتـــه پخـــلا ســـي
ببلېـــږي پېـــر یـــې اوس د یـــون راغـــی

***

د ښتـــتن پـــار دی هېـــر مـــې نـــه کـــړې
آغلیـــه مـــخ چـــې پـــه یانـــه کـــړې
اور بـــل دې پرېښـــوی واتـــه کـــړې
پـــر مـــا د بـــل اور کـــړاوون راغـــی.

د شیخ تیمن دا لوړ شعر چې په سوچه پښتو دی او ملي وزن لـري له هغو اشعارو څخه ګڼل کېږي، چې غنایي (لیریـک) او د موسـیقیت خوا هم لري او له عشقي تغني غړونو سره یې اړه ده او لکه پښتو اکثـر عوامي اشعار چې په خوږه او خاص غږ غړول کېږي.

د تیمن نور حال موږ ته نه دی معلوم، فقط له دغه یوه شعره دومره ښکاري چې تیمن به یو عاشق مشربه سړی و او کله کله به یې د خپلو عاشقانه جذباتو په شور او هیجان کې خواږه شعرونه ویل، دده د شـعر

ژبه سپېڅلې، پاکه او سپينه ده او اشعار يې هم روان، سليس او خواږه دي او د لرغونو شاعرانو په ډله کې د تيمن شعر خاص مقام لري.

## د شيخ تيمن د شعر شننه او ارزونه:

لکه څنګه چې زمونږ ادبپوهانو يادونه کړې د شيخ تيمن دا شعر له سوچه پښتو کلمو څخه رغېدلی دی او وزن يې هم د ملي اوزانو له وزن سره مطابق دی. په دې شعر کې رښتيا هم ټولې نږه پښتو کلمې کارول شوي يوازې د (تاخون) کلمه کېدی شي له دري ژبې سره مشترکه وي. نورې ټولې پښتو کلمې دي، ځينې داسې پښتو کلمې په کې هم کارېدلي چې اوس نه کارول کېږي او يا هم ډېرې کمې کارول کېږي، په اصطلاح متروکې او نيمه متروکې ګڼل کېږي. لکه (سادين)، (نول)، (نوليزم)، (شهی)، (پېر)، (يانه). ددې ترڅنګ (ګهيځ، بېلتون، زرغون، يون، کړاوون) او نورې کلمې هم سوچه پښتو کلمې دي خو په اوسنۍ پښتو کې هم په ورته مانا کارول کېږي. د شکلي جوړښت په باب يې بايد وويل شي چې دا شعر له څلورو ټوټو څخه رغېدلی، يانې څلور بندونه لري. د سر بند درې لومړۍ مسرې يې په خپل منځ کې هم قافيه دي او څلورمه مسره يې بيا بېله قافيه او رديف لري. د نورو درې بندونو هرې درې مسرې يې بيا خپلې خپلې قافيې او رديفونه لري، خو د هر بند د وروستۍ مسرې قافيه او رديف يې د لومړي بند د وروستۍ مسرې د قافيې او رديف تابع دي. هندسي جوړښت يې په دې ډول دی:

=a__________________________

=a__________________________

=a__________________________

=b____________________________

=c____________________________

=c____________________________

=c____________________________

=b____________________________

=d____________________________

=d____________________________

=d____________________________

=b____________________________

=f____________________________

=f____________________________

=f____________________________

=b____________________________

د هندسي جوړښت له مخې دا نظم تر يوه حده په عربي ژبه کې د يو شعري فورم (مثلث) له بنې سره نږدې دی خو له همدې مثلث سره يې بيا توپير په دی کې دی چې هلته د بندونو شمېر هم درې او د مسرو شمېر يې هم درې دی. د لومړي بند هره او د نورو دوو بندونو د درېيمې مسرې قافيه يې د لومړي بند قافيه تعقيبېږي.

په دې ډول نو دا شعر د مثلث او مربع دواړو فورمونو قوانين په بشپړ ډول نه راخپلوي، نو ځکه د وروستۍ نتيجې په توګه بايد ورته همغه ملي سندره يا ترانه ووايو.

# ښکارندوی غوري

## د (۵۸۰هـ) حدود

د پښتو له پخوانیو قصیده ویونکو څخه یو ډېر مقتدر او د غښــتلې قریحې خاوند (ښکارندوی) دی، چې د غور و او پلار یې (احمد) د غــور د فېروز کوه کوټوال و، داسې ښکاري چې د ښکارندوی کورنۍ د خپــل عصر عزتمن او معتبر خلک وو او د غور د پاچاهانو په دربار کې ورته په درنه سترګه لیدل کېدل، په خپله ښکارندوی به کله په (غور) کې ژوند کاوه او کله کله به په (غزنه) او (بست) کې هم اوســېده، د ده د ژونــد شرح هم د پټې خزانې مولف له (لرغوني پښتانه) څخه رانقل کوي، چې ددغه کتاب خاوند هم هغه له (تاریخ سوري) څخه را اخیستې ده، دی وایي: ((ښکارندوی د خپل عصر عالم او شاعر پښتون و او د (ســلطان شهاب الدین محمد سام شنسباني) په حضور کــې یــې ډېــر عــزت او اعتبار درلود او ددغه پاچا او هم یې د (سلطان غیاث الدین غوري) پــه ستاینه کې ډېرې قصــیدې ویلــې وې او د غــور د ســلاطینو د دربــار پښتون شاعر و، داسې ښکاري چې ښکارندوی به تل د غور ســلاطین په پښتو قصیدو ستایل او محمد بن علي د تاریخ سوري مولف لیکلــي دي چې ما په بست کې د ښکارندوی د اشــعارو او بوللــو غــټ کتــاب ولیده.))

دا د پښتو پخوانی قصیده ویونکی شاعر به تل د غور لــه ســلاطینو سره په جګړو او جنګي سفرونو کې ملګری و او هم د دېوان خاوند دی چې دده له دېوانه د تاریخ سوري لیکوال یوه پښتو قصیده نقل کړې وه

او دغه بوللــه له تاریخ سوري څخه شیخ کته په خپل (لرغوني پښتانه) کې وکښله او له لرغوني پښتانه څخه محمد هوتک په (پټه خزانه) کې وساتله. دا قصیده چې اوس زمو په لاس کې ده، ښکارندوی د (محمــد سام) په ستاینه کې ویلې ده او هند ته د هغه سلطان یو سفر انځوروي چې څنګه د سلطان لښکر هند ته ځي او څنګه پر اټک تېرېږي.

ښکارندوی د پخو قصیده ویونکو په ډول لومړی یو غرا، ډېر لــوړ او خوندور تشبیب لري، د پسرلي مناظر د غــرو او رودو پــه زړه پــورې او ښکلي تصاویر په دغه تشبیب کې انځــوروي، وروســته نــو د ســلطان معز الدین (شهاب الدین) ستاینې ته وردانګي (ګرېز کوي) او په خــورا استادۍ او اقتدار دده د لښکرو یرغلونه انځوروي. دا قصیده کټ مټ د غزني د دربار د پخو شاعرانو فارسي قصایدو ته ورته ده. دلته به لومړی د ښکارندوی قصیده راوړو او وروسته به یې شننه او ارزونه وکړو:

د پســـرلي ښـــکلونکي بیـــا کـــړل ســـینګارونه
بیـــا یـــې ولونـــل پـــه غرونـــو کـــې لالونـــه
مځکه شــنه لاښــونه شــنه لمنــې شــنې ســوې
طیلســـــان زمـــــردي واغوســــــته غرونـــــه
د نیســـــان مشــــــاطې لاس د مچېـــــدو دی
مرغلـــــرو بانـــــدې وښـــــکلل بڼونــــــه
د غټولـــو جنـــدې خانـــدي و رېـــدي تـــه
زرغونـــو بڼـــو کـــې نـــاڅي زلمـــي جونـــه
لکــه نــاوې چــې ســور ټیــک پــه تنــدي وکــا
هســـې وګانـــل غټولـــو ســـره پســـولونه

مرغلـــــرې چـــــې اوره وخونـــــو لیـــــه
پــه ځـــلا یـــې ســـوه رانــه خپــاره دښـــتونه
زرغونـــو مځکـــو کـــې ځــل کــا لکــه ســتوریه
چې پـر هســک بانـدې ځلېـږي سـپین ګلونـه
ســـپینې واورې ویلېـــده کانـــدي بهېـــږي
لکـــه اوښـــې د مـــین پـــر ګرېوانونـــه
هـــر پلـــو رنـــې والـــې بهانـــدې خانـــدي
لـــه خوښـــیه ســـر وهـــي لـــه ســـینګرونه
هـــــر پلـــــو د ګلـــــو ورِم دی لـــــونلی
تـــه وا راغلـــه لـــه ختنـــه کاروانونـــه
د مســـیح پـــه پـــو بـــه مـــړو ژونـــدون بیامونـــد
پســـرلی مګـــر مســـیح ســـو پـــه پوکړونـــه
لـــه مـــړو خـــاورې یـــې اغلـــی ګـــل راویوســـت
وچ بیـــدیا او غـــر یـــې کړلـــه جنتونـــه
ســـړی جـــا جـــي چـــې رامشـــت کـــړ رامشـــتګرو
ګهـــیځ چـــونې چـــې پـــه بـــڼ وکـــا رِغونـــه
پـــه بـــربڼ چـــې رِغ د چونـــو نغورېـــده ســـي
تـــه وا چنـــدي ســـره پیـــودي اشـــلکونه
د زلمـــا تـــاپی راغلـــی دی پـــر جنـــدیو
لکـــه پېغلـــه غـــوټی کانـــدي مکېزونـــه
د پوپلـــو مـــخ ســـور کـــړی پســـرلي دی
یـــو د بـــل پـــه غـــاړه اچـــوي لاســـونه
د هېندارو پــه خبــر غرونــه ســپین وړنګــن دي

چـــې پـــر واورو بانـــدې ځـــل وكـــا لمرونـــه
په غورځنګ غورځنګ له خـولې ځګونـه باسـي
لكـــه شـــڼ هـــاتي شـــنا كانـــدي ســـيندونه
نـــه بـــه چـــونې پـــه ســـتايه د ګلـــو مـــوږ ســـي
نـــه بـــه مـــوږ ســـم د ســـلطان پـــه صـــفتونه
د شنســـــب د كهالـــــه ختلـــــى لمـــــر دى
د پســـــرلي پـــــه دود ودان لـــــه ده رغونـــــه
د ښـــندو اورو يـــې درســـت ابـــواد زرغـــون كـــړ
لـــــه قصـــــداره تـــــر ديبلـــــه يـــــې يونونـــــه
پــه زابــل چـــې د بـــري پــر نيلـــي ســـپور ســـي
پــــه لاهــــور يــــې د مېړانــــې ګزارونــــه
نـــه يـــې ځـــوک مـــخ تـــه دري د ميرځمنـــو
نـــه يـــې تـــورې تـــه ټينګېـــږي كلـــك ډالونـــه
د اســـلام د ديـــن شـــهاب د نـــړۍ لمـــر دى
تورســـــتهان يـــــې كـــــړ رڼـــا پـــــه جهادونـــــه
هره پـلا چـې دى پـر هنـد و سـند يرغـل كـا
رڼـــــوي تـــــوره نـــــړۍ پـــــه شـــــهابونه
پــه پســرلي چــې يــې تېــرون پــر اټــک وكــا
غـــاړه غـــاړه يـــې تـــرې سوللـــه زړونـــه
نه به ده غوندې روڼ سـتورى پـه هسـك ځلـي
كــه ځــه پورتــه ســي لــه غــوره ډېــر مېړونــه
نـــه بـــه راولـــي جګـــړن د ســـيند پـــه لـــوري
نـــه بـــه بـــري ځـــوک د هنـــد خپـــاره ښـــهرونه

نــه بــه څــوک زلمــي د غــور ســره راغونــډ کــا
د داور تـــورې بـــه چېـــرې کـــا ځلونـــه
یــو خاونــد شــهاب الــدین دی چــې یــې وکــا
پــه هـــر لـــوري هـــر ابـــواد تـــه یرغلونـــه
په جوپو جوپــو جګــړن یــې هنــد تــه یــون کــا
چـــې د غـــور بـــادار همـــت وکـــا زغلونـــه
نــن پــه ســیند بانــدې تېرېــږي یرغــل کانــدي
پــه پــرتم یــې زمــري رېــږدي پــه ځنګلونــه
څپــان ســیند یــې هــم لــه ډاره ایلایــي کــا
پـــر اوږو وړي د غوریـــانو ښـــه ایږونـــه
پــه هــر کــال اټــک دده ښــه راغلــی کانــدي
غـــوړوي پـــه څنـــډو خپـــل پاســـته ســـالونه
پښتونخوا ښــکلي زلمــي چــې زغلــي هنــد تــه
نـــو اغلیـــه پېغلـــې کانـــدي اتڼونـــه
زرغـــونې ختـــې اغوســـتې وي دې غرونـــو
بـــټ بیـــدیا هـــم پســـوللي وي ځانونـــه
هــر ګهــیځ چــې لمــر څرکېــږي لــه ختیځــه
څــو چــې یــون کــا د لویدیځــه پــه څنډونــه
کــه برېځــر وي کــه غرمــه وي، کــه برمــل وي
کـــه لرمـــل کـــه لمـــر لوېـــد کـــه ترملونـــه
د شــهاب جګــړن بــه نــه کښــېني لــه زغلــو
نــه بــه پربېــږدي دا زلمــي خپــل بهیرونــه
زمـــري کلـــه کـــاږي ځـــان لـــه یرغلګریـــو

ځـــو يـــې نـــه کامـــات متونـــه ورمېږونـــه
يـا بـه جـګ کـا د بريـو رپـی پـه هنـد کـې
يـا بـه پربـېـږدي هــم پــه دې چــاره ســرونه
يـــا بـــه وران کـــا بودتونونـــه د بمبنـــو
يـا بـه سـره کانـدي پـه وينـو اېوادونـه
پــه رښــا اوســې تــه تــل د ديــن شــهابه
نـوم دې تـل وه پـر دريـځ پـه نمـزد کونـه
ځـو رانـه شـي سـتا پـه تـوره د هنـد لوريـه
ځــو چــې نســت کــړې لــه نړيــه بودتونونــه
سـتا پـه زېرمـه دې خاونـده لـوی ځښـتن دی
مورږ خو ستا پـه مرسـته يونـه ځـو چـې يونـه.

## شننه، ارزونه او تلنه:

پښتو ادبپوهانو د ښکارندوی غوري د قصیدې په باب خپل نظريات ځرګند کړي دي. استاد پوهاند حبيبي وايي: ((د ښکارندوی دا قصیده د پښتو ادب يو شهکار دی او د شاعر مهارت او اسـتادي او د قريحـې غښتلوالی او سپېڅلتوب ځنې ښکاربږي. لومړی مزيـت چـې پـه دې قصيده کې ليدل کېږي د کلام سلاست، رواني او بلاغت دی، چې هېڅ غوټه او ابهام نه لري او شاعر په خورا مهارت خپل مقاصد په سـاده او سپېڅلو عباراتو ادا کوي.

که څه هم ښکارندوی ښاروال او درباري سړی و، خو کلام يې د غرو د ژبې کلکوالی او استحکام لري او د پښتو ډېر نادر لغات او مواد په کې

شته چې پخوا ژوندي وو. دا لغات موږ ته دا راښيي، چې پښتو خورا پراخه ژبه وه او اوس يې ډېر پخواني کلمات له رواجه لوېدلي دي، لکه خاتیځ، لویدیځ، لرمل، برمل او نور چې اوس يې په عوض کې موږ عربي یا دري کلمات وایو.)) وروسته به يې په تفصیل سره لغوي شننه وشي.

((ښکارندوی چې د قصيدې په تشبیب کې د پسرلي کومې ښکلې منظرې تصویر کړي دي، د وطن له ښکلیو دښتو او غرو څخه يې الهام اخیستی دی، دده حساسه قریحه د مناظرو په تصویر کې ډېره ګړندۍ ده، د پسرلي زرغونتوب، د ګلو غوړېده، د نسیم نڅا او ښه بوی، د غوټيو د پېغلو په شان مکېزونه، د بلبلانو خواږه ږغونه، د نیسان مرغلرې پاشل، د لمر وړانګې پر غرونو سپینو واورو لوېدل او هغه لکه هېنداره ځلول، د سیندونو مستي او غورځنګ دا ټول د وطن د پسرلي طبیعي او ښکلي مناظر دي، د پښتونخوا د جمال نښې دي چې شاعر يې په ترسیم او محاکات کې استادي او مهارت ښکاره کړی دی.

له دغې بوللې (قصيدې) څخه چې د ښکارندوی له دېوانه موږ ته پاته ده معلومولای شو، چې دا شاعر په ادبي فنونو او د بلاغت په اساساتو کې هم پوخ و، دده اشعار له ښکلیو تشبيهاتو او استعارو ډک دی او اسلوب يې کلک او پاخه دي. خو دا خبره هم باید هېره نه کړو چې، لکه د پښتو نور اشعار د ښکارندوی قصیده هم له سره ترپایه پر طبیعت ولاړه ده او لکه د دري د ځینو شاعرانو په شان په خپل شعر کې د هیئت، نجوم، فلسفې او نورو علومو اصطلاحات نه ګډوي او په کلام کې يې هېڅ راز دروندوالی، تکلف او بې خوندي نه شته او په دې مزیت کې دی (منوچهري) ته ډېر ورته دی. چې هر کله طبیعي، حسي او د طبیعت په لمن کې نغښتي اشعار وایي.

په دې قصیده کې پر (سیند) باندې د غور د سلطان د لښکرو عبور تصویر شوی دی او شاعر په دغه پسرلي کــې د ســیند څپــانتوب او د پېغلو اتڼونه او د دنیا ښکلا او د غرونو زرغونېدل په داســې ډول راوړي دي، چې دا ټول د دغو زلمو په استقبال کې دي او اټک هم هــر کــال، خپل پاسته سالونه (رېګ) پر مځکه غوړوي، چې د ســلطان د لښــکرو زلمي پر تېر شي.

څپاند سیند هم سلطان ته اېل دی او د غوریانو کښتۍ پر اوږو وړي، که څه هم له دې یرغله، د زمریو زړونه په ځنګلو کې رپېږي، خو بیا هم د خلکو مینه له دې سلطانه سره دومره ده، چې زړونه یــې د تېرېــدلو لپاره پلونه کړي دي. تاسې قصیده سر تر پایه وګــورئ، ټــول طبیعــي انځور لري او له مافوق الطبیعه مبالغو او حشویاتو څخه پاکه ده او دا د یوه شاعر قدرت او مهارت ثابتوي، چې د طبیعت په لمن او دایــره کــې خپل مقاصد له طبیعي مبالغو پرته ادا کړي او خپــل ممــدوح کــه هــم ستایي د یوه انسان په ډول یې ستایي او د هغه اصلي او حقیقي مقــام ساتي.)) (۱۳: ۵۰۵- ۵۰۷)

**لغوي شننه:** لکه څنګه چې مو اشاره وکړه، په دې قصــیده کــې ګڼ شمېر داسې پښتو زاړه لغتونه کارېدلي چې اوس په پښتو کــې نــه کارېږي، یا لږ کارېږي او ځینې یې متروک ګڼل کېږي. دلته غواړو د دې ډول لغتونو مانا ته لږ تم شو:

بوللــه (قصیده)، ښکلونکی ( ســینګاروونکی)، ولونــل (وپاشــل)، طیلسان( قبــا)، وښــکلل (ښــکلی یــې کــړ) اوس دا فعــل نــه وایــو، جنډۍ(ګل)، ټیک( د تندي پسول)، وګاڼل( په ګاڼه یې سینګار کــړل)،

اوره( وربځ)، وخونوليه ( نثار يې کړ او خون يې وکړ)، څلا( څلېدل)، سينګړ(سنګلاخ، سيند غاړه)، لونلې(پاشلې)، پو کړونه( پوکول) ، جاجي(فکر کوي)اوس دا فعل نه شته، رامشت ( ساز او سرود)، رامشتګر (سازنده)، چونۍ(بلبل)، بربڼ، (لوړ باغ)، نغوړېده(اورېده)، چندۍ( ښايي چې د شاعر مانا به لري) پيودي(نظم کوي) اشلکونه(اشعار)، زلما(اوس نه ده مستعمله- ښايي د ځوانۍ په مانا به وه له زلمي څخه)، ټاپي (اوس معين وخت ته وايي) يوپل( ښايي د يو ګل نوم به و اوس دا نوم پر سرېيو ايښودل کېږي) وړنګن (ښايي له وړانګې څخه جوړ شوی صفت وي)، شڼ او شنا( ښايي د مست او مستۍ په مانا و، خو اوس نه شته) چونۍ( ښايي له چونېدل څخه به د بلبل په مانا و)، د يادونې وړ ده چې تر همدې لغت وروسته تشبيب تمامېږي او تخلص شروع کېږي. شنسب د غوريانو د لوی نيکه نوم و (طبقات ناصري) د پښتو شين اسپ به وي. کهول( کورنۍ)، راغه ( د غره لمن او دښته) د ښندواورو (د ښندلو وربځو)، ابواد( اوسنی هېواد دی)، قصدار( په اوسني بلوچستان کې يو ښار و چې اوس يې خضدار بولي)، ديبل( د عربو بحيرې پرغاړه يو ښار و، اوس کراچۍ ته نږدې) يون (تګ) نيلی (يو اس)، دري( درېږي) ستهان پخوانی شکل، ستهان(ستان،ځمکه، استوګنځی، په سنسکريت کې هم شته)، تېرون( تېرېدل، عبور)، ښايي له تېرېدل څخه پخوا په بله مانا و خو اوس نه شته. جګړن ( ظاهراً له جګړې څخه د جنګي په مانا و ، بري(فتح کوي، له بري څخه، خو اوس د برل مصدر نه شته) داور (اوسنی زميناداور)، څلونه ( د څل جمع ده، څلېدل) زغلونو( د زغل جمع ده، تاخت و تاز)، پرتم ( دبدبه)، ايلايي ( له ايل څخه د اطاعت په

مانا)، ایړ (یوه دسته کښتۍ) سال (میده شـګه)، ختـې (البسـه، اوس خت کمیس ته وایي) بټ، بیدیا تود بیابان)، پسولل له (پسـول زېـور) څخه پخوانی مصدر دی چې اوس یې فعلي مشتقات نه ویـل کېـږي.)، ګیهځ ( سحر)، څرکېږي( له څرک (لمرخاته) څخه خو اوس یې فعلـي ډول نه دی مستعمل)، خاتیځ (پخوا د مشرق په مانا و، د ختلـو ځـای، خو اوس عام نه دی.) لویدیځ( پخوا د مغرب په مانا و، خو اوس عام نـه دی- لوېدل ځای)، څنډه( اوس افق او کنارې ته وایي، خو څنډونه نـه شته)، برېځر( ضحی) برمل (ماپښین) ، لرمل (مازیګر) ، ترمل (ماښام) ، مل (به د مهال مخفف وي چې اوس وخت ته وایي)، نو بایـد مـل (لـوړ مهال) او لرمل (کوز مهال) ترمل (تور مهال) وي. بهیـر( قطـار)، ځـان کښل (تېښته)، یرغلګری (متهاجم)، رپی (ښایي د رپېـدل لـه ریښـې څخه پخوا د بیرغ په مانا و، خو اوس نه شته، د پربـږدي پرځـای اوس کېږدي وایو، سر به پرې کېږدي.)

بودتون (بتکده اوس دا کلمه نه شته، خو پخوا وه په زړه پښتو کـې بود (بت) و او تون د ظرفیت ادات دي. بمبڼ ( د هندوانو پیـر)، دریـځ (پخوانی کلمه ده د امیر کروړ په شعر کې هم راغلې ده، ښایي منبر تـه یې ویله د درېدلو ځای لکه خاتیځ) (لویدیځ) نمزدک( ښایي پخوا یـې مسجد ته ویل اوس نه شته)، په زړه پارسي کې هم مزګـت مسـجد و. نست( نابود)، زېرمه ( حمایت) او نورې کلمې)) (۱۳: ۵۰۰-۵۰۵)

له شکلي پلوه لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه، دا یوه بوللـه یـا قصیده ده چې د شیخ اسعد سوري تـر قصـیدې وروسـته دا دویمـه قصیده ګڼل کېږي، قصیده هغه ډول فورم دی چې ((د غزل په شـان د سر لومړی بیت یې مقفی وي، د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره یې

قافیه لري او د مطلعې قافیه تعقیبوي، قصیده په شکل او جوړښت کې له غزل سره کوم خاص توپیر نه لري، توپیر یې دادی چې د غـزل د بیتونو شمېر له (۵) څخه تر (۱۵) پورې وي او د قصیدې له (۱۶) څخـه تر (۲۰۰) یا هم تر دې زیاتو بیتونو پورې رسېږي. هندسي جوړښت یـې په دې ډول دی، لومړی هغه قصیده چې قافیه لري، خو ردیف نه لري:

a___________________

a___________________

___________________

a___________________

___________________

a___________________

ترپایه

او هغه بڼه چې قافیه او ردیف دواړه لري:

=a___________________

=a___________________

___________________

=a___________________

___________________

=a___________________

ترپایه

د ښکارندوی غوري قصیده لومړی بڼه لري، ردیف نـه لـري او پـه

قافیې پایته رسېږي. (سینګارونه، لالونه، غرونه، بنیونه، جونه، پسولونه، دښتونه، ګلونه، ګرېوانونه، سینګړونه، کاروانونـه، پوکړونـه، جنتونـه، ږغونه، اشلکونه، مکېزونه، لاسونه، لمرونه، سیندونه، صفتونه، رغونـه، یونونه، ګزارونه، ډالونه، جهادونه، شهابونه، زړونـه، مېړونـه، ښـهرونه، ځلونه، یرغلونه، زغلونه، ځنګلونه، ایړونـه، سـالونه، اتڼونـه، غرونـه، ځانونه، ځنډونـه، ترملونـه، بهیرونـه، ورمېږونـه، سـرونه، اېوادونـه، نمزدکونه، بودتونونه او یونه) یې د قافیې کلمې دي او (ونـه ونـه) یـې ترمنځ مشترک غږونه دي: دا قصیده د محتوایي فـورم لـه پلـوه یـو مدحیه یا ستاینه ده. ستاینه یا مدحیه بیا هغه ډول مانیز فورم ته ویل کېږي چې په هغه کې شاعر له پیله ترپایه د خپل ممدوح ستاینه کړې وي. لکه څنګه چې د امیر محمد سوري قصیده په ویر او ماتم، شکایت او درد پیلېږي او په ویر پای ته رسېږي، نو ځکه ورتـه (ویرنـه) وایـي، دغسې د ښکارندوی غـوري دا قصـیده لـه سـره ترپایـه د سـلطان معزالدین په ستاینه راڅرخي، نو ځکه ورته یوه (مدحیه) قصیده ویـل کېږي. دې قصیدې د خپل وخت د قصایدو ټولې ځانګړنې پوره کړي او ان د خپل وخت تر نورو قصایدو لوړه او طبیعي انځورګري لري، نو ځکه یې په ټول پوره او کره بوللـه ګڼلای شو.

# ملکیار غرشین

## (۵۸۰هـ) حدود

غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دی، چې پخوا یې یو وچ غــر شین او اباد کړی و، نو ځکه دوی (غرشین) بــولي، دا قــوم د کنــدهار خواوو کې اوسي.

ملکیار له دغه قومه یو خورا ســتانه او مشــهور ســړی دی، چــې د پښتنو مورخانو دده ذکر په خپلو مشاهیرو کــې راوړی دی. نعمــت الله هروي لیکي، چې (ملکیار) د (شیخ ابــوبکر طوســي) معاصــر و او پــه (ډیلي) کې یې یوځای درلود چې (ســلطان شــهاب الــدین غــوري) د ملتان د یرغل پر وخت ده ته ښنلی و او دده مرقد هم هورې دی.

دا روایت چې نعمت الله کښلی دی، څو سوه کاله دمخــه ســلیمان ماکو هم دغسې راوړی دی او ځنې ښکاري چې د ملکیار د ژوند وخت د (سلطان معز الدین غوري) عصر و او دی پــه جګــړو کــې د ســلطان ملګری هم و، ځکه چې سلطان لومړی پلا پر ملتان پر (۵۷۱هـ) حملــه کړې وه، نو دده د ژوند زمانه هم په دغو وختو کې تخمینولای شو.

سلیمان ماکو دده په احوال کې هسې لیکي: ((نقل کاوه شي چــې په روزګار د غازي شهاب الدین چې په ډیلي کې هغــه ســتر واکمــن ټاټوبی وروښانده او هم هورې مړ شو. نقل کاوه شي چې په جوبله کې مسلمانان تر شا ولاړه او کفارو بری وکړ. لیرې نه وه چــې مســلمانان شي د کفارو په کټارو پوپنا او دښنه بری وکړي، ناڅاپه شیخ ملکیــار راغی او پر دښمن یې یرغــل وکــاوه او ډېــر زښــت یــې ووژل، نــورو

مسلمانانو هم د ملکیار تر اړخ تورې وکښې او ســره ومــروړل (یــې) دښنه، ستر ځښتن دوی ته په مېرانه د شیخ ورکړه لو ســوبه او بــری چې پخوا هم نه و په برخه شوی د چا، هېڅکله په هېڅ ځای کې.))
(۳۸: ۲۴-۲۵)

د سلیمان ماکو له دغه بیانه ښکاري چــې ملکیــار یــو غښــتلی او توریالی سړی هم و او د تورې او ادب لــه ځښــتنانو څخــه و چــې لــه سلطان سره یې په جهاد او جګړو کې ملګري کوله، داسې ښکاري چې ملکیار پر جنګیالیتوب او توریالیتوب سربېره، ادبي ذوق هم درلود، په خپله هم شاعر و او د نورو پښتو شاعرانو اشعار یې تل لوستل، لکه چې سلیمان ماکو د شیخ اسمعیل سړبني شعرونه د ملکیار له خولې رانقل کړي دي. د زهد، تصوف او عرفان له پلوه هم ملکیار ښه شهرت لري او مورخان دده له نامه سره (پران) هم لیکي او دده عرفاني شهرت دومره ډېر و، چې تخمیناً دوه نیم سوه کاالــه وروســته ســلطان فېــروز شــاه (۷۲۵-۷۹۰هـ) ډهلي ته نږدې (فېروز اباد) ښار جوړ کړ، نــو هلتــه دې پاچا د (شیخ ملکیار پران) په یادګار یو سرای هم جوړ کړ چــې د هغــه عصر مورخ (ضیاءالدین برني) یې پر (۷۵۸هـ) کال ذکر کوي، لکه چې مورخان تصریح کوي، ملکیار په ډهلي کې اوسېده او هم هورې مړ شو او په دغه ښار کې د شیخ ابوبکر طوسي له مزاره سره یوځای ښــخ دی او د سلیمان ماکو د وینا له مخې په هغه میدان کې چې شیخ ملکیار د سلطان معزالدین له لښکرو سره یوځای جنګېــده او نــږدې و چــې د سلطان لښکر ماته وکړي، نو دې توریالي ادیب او عارف د ننګ او جنګ یوه سندره وویله او لښکریان یې همت، شــجاعت او توریــالیتوب تــه تشویق کړل، تر هغه چې په پای کې بریالی شول او د جنګ پر ډګر یــې

**سوبه په برخه شوه.سلیمان ماکو لیکي: په جوبله کې ملکیار دا پـاړکي وویل، چې غازیان وپارېدل او په ځېر د زمریو ورتوی شول:**

ځښتن مو مل دی اوس مو یرغل دی ایوا د بل دی
غـازیـانو ګــورئ
ځښتن مو مــل دی

تورې تېرې کړئ دښـن مو پرې کړئ منګولې سرې کړئ
څـــه لــه بـــه تښـتو
ځـښتن مو مـل دی

که ټینګ کړو زړونه پــر بــري یـــونـــه چې زمري یونه
اسلام راڅــخه دی
ځښتن مو مـــل دی

غازیانو راسئ تـــول شـــاوخوا ســـئ د شهاب په ملا سئ
دښمن مو غوځ کړئ
ځښتن مـو مــل دی

## شننه او ارزونه:

**((د ملکیار دا شعر چې د پخوانیو قومونو د حماسیاتو او رجز رنـــګ لري له هغو سندرو څخه دی، چې پخوانیو پښتنو به د جګړې پر میدان ویلې او مقصد یې دا و چې د زلمو احساسات تاوده کړي او پر جنګ یې ښه وپاروي. ددې شعر عروضي کیف، الفاظ او کلمات سوچه دي او لکه د نورو ګړنیو (ولسي) اشعارو په ځېر یو تکرارېدونکی کسر (غبرګ) هم لري، چې د هر بند په پای کې ویل کېـــږي او دا د پښـــتو د مخصوصـــو اشعارو یو ښه خاصیت دی. شاعر په حقیقت کې یو مبلغ هم دی او پـــه هرځای او هره موقع کې د خپلو ویناوو د اغېزمنتیا لپاره د بیان طرز او**

اسلوب داسې ټاکي چې دده وینا پر اورېدونکیو باندې ښه اغېزه وکړي او د شعر مقصد یې حاصل شي.

په دې پاړکي کې هم ملکیار د غوري سلطان د جنګیالیو د پارولو لپاره دوی ته داسې خطابونه کړي دي چې باید په اورېدلو یې متاثر شوي وي او په دوی کې یو ملي او دیني هیجان پیداشوی وي، دا پاړکی له نومونو پرته نور ټول سوچه پښتو دی. په دې پاړکي کې (ملا) د ملګرۍ او همراهۍ په مانا هغه زړه کلمه ده چې د اسعد سوري په قصیده کې هم راغلې وه (نه به ملا کړي له بېوزلو له ترار)، له دې څخه هم ښکاري چې دا پاړکی د پښتو ژبې په لرغونې دورې پورې اړه لري، په دغه وخت کې لا داسې پخواني کلمات مړه نه وو او له استعماله نه وو لوېدلي. د پښتو په پخوانیو اشعارو او لرغونې دوره کې چې ګورو د جهان پهلوان امیرکروړ سوري تر شعر وروسته دا لومړی جنګي اثر دی، خو فرق یې دومره دی چې امیر کروړ په خپل شعر کې د یوه زبردست او غښتلي قاید رنګ لري او د یوه نومیالي اتل (قهرمان) په ډول شعر وایي، خو ملکیار دلته د یو مبلغ په دود خبرې کوي او غواړي چې ملي احساسات په دیني تبلیغ وخوځوي، له خپل عرفاني مقامه هم کار واخلي او د شعر په وسیله د لښکرو روح تقویه کړي، نو ملکیار په پخوانیو شاعرانو کې هم عارف و، هم شاعر، هم جنګیالی او دا درې سره خواوې یې په شعر کې شته.)) (۱۳: ۵۱۳-۵۱۴)

لکه څنګه چې مو پورته یادونه وکړه په دې شعر کې نږه پښتو کلمې راغلي دي. یوازې (غازیانو) کې (غازي) عربي ریښه لري او (اسلام) عربي کلمه ده، نورې ټولې کلمې یې پښتو دي. دا نظم ټول درې بندونه لري، هر بند یې پنځه مسرې لري، خو پنځمه مسره یې په

ټولو بندونو کې تکرار یا د کسر بڼه لري.

په زړه پورې خبره خو داده چې د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره هم مساوي دی، هره مسره یې (۵) (۵) څپې ده او بله خبره په کې داده چې په ټولو درې بندونو کې څلورمه مسره له قافیې څخه ازاده ده، خو له وزن څخه ازاده نه ده، همدا هره څلورمه بې قافیې مسره او پنځمه مسره د محتوايي تاکید بڼه هم لري چې اورېدونکې ته روحیه ورکوي، دا شعر د پښتو د خپلو ملي اوزانو تابع دی، ملي، دیني او حماسي محتوا لري.

# تایمني

## د (۵۸۰هــ) حدود

د تایمني په نامه موږ د پښتنو یو پخوانی ادیب او شاعر پېژنو، خو دا نه ده ښکاره چې ددې شاعر نوم تایمني و که د تایمني قوم ته منسوب و، چې دا قبیله په غور کې اوسي.

د غوري شاهانو په عصر کې لکه نور مشهور پښتانه شعراء چې تېر شوي دي یو له هغو څخه (تایمني) دی، چې دده ځینې اشعار تر اوسه هم د زمینداور په غرو او رغو کې د خلکو په یاد دي، د (سلطان غیاث الدین غوري) معاصر و، څرنګه چې دده یو شعر په زمینداور کې میندل شوی دی، نو دا په ټینګه ویلای شو چې دی به په زمینداور کې اوسېده، او لکه څنګه چې څرګنده ده ددغه سلطان پاچاهي د (۵۸۰هــ) په حدودو کې وه، نو د تایمني ژوند به هم په دغه عصر کې و. تر دې زیات نور دده احوال نه لرو.

استاد علامه حبیبي د تایمني په باب وایي: ((پر (۱۳۱۰ش کال) چې زه د هلمند په کلیو او لتو کې ګرځېدم، په یوه کلي کې د شپې د زلمو بنډار و او د نشاط او مسرت بزم تود و، هلته به ځینو په خواږه رږغ نارې کولې او ځینو به نڅل او بعضو به بدلې او سندرې ویلې، ددې بنډار په یوه خوا کې یو سپین ږیری ناست و که څه هم زمانې نتلی و او وېښتان یې تک سپین وو، خو خوش ارواح سړی و او زړه یې ځوان و. دې سپین ږیري د زمینداور په غرو کې د زلمیتوب ښې شپې ورځې تېرې کړې وې او د هلمند پر غاړو یې د مینې په دنیا کې خپله ځواني خاورې

کړې وه، د سترګو دید یې لږ شوی و، خو زړه یې بینـا و، غورځونـه یــې درانه وو، خو سد یې پرځای و، زلمو ده ته په درنه سترګه کتل او ده هم په خپلو خوږو سندرو، بزمونه تودول، د خپل زلمیتوب کیسې بـه یــې کولې او د هلمند د غاړو او داور د ودانۍ او مدنیت زړې افسانې، چې ده ته له تېرو نیکونو څخه رسېدلې وې، بیانولې به یې. دې سپین ږیري په خپلو سندرو کې د تایمني په نامه دا شعر په ملي وزم او خـوږه لهجـه ولوست، چې د پښتو یوه زړه ادبي ټوټه ده:))(۱۳: ۵۱۵)

نـــــن زه ږغېــــږم پـــــه صـــــفت د ســـــــلطان
چـــــې دی بـــــادار غـــــازي ملـــــک د جهـــــان
د فیـــــــروز کـــــــوه او غـــــــور رڼـــــا لــــــه ده ده
هـــــم د تېــــرو تـــــورو برېښـــــنا لــــــه ده ده
چـــــې تــــوره وکــــاږي چرتــــون کــــې خـــالي
غلــــیم یــــې کلــــه کــــړي پـــــه تــــوره ســــیالي
غیـــــاث الـــــدین د غـــــور زمـــــری عالیشـــــان
د اســـــلام دیــــن دده پـــــه تـــــوره روښـــــان.

***

مــــا د ((داور)) پـــــه مځکـــــه ولیـــــد ((ارم))
دا د جنتـــــت پـــــه ښېـــــر و بـــــڼ ښـــــه خـــــورم
د فېــــــروز کـــــوه پـــــه دود ودان دی نـــــا
ښـــکلی هـــر ګـــل څـــه ښـــه خنـــدان دی نـــا
دلتـــــه کړونګـــــي دي ږغونـــــه کـــــوي
اوبـــــه بهېـــــږي ســـــــرودونه کـــــوي

هـــــر ســــــړی ګـــــوري چـــــې ولاړ وي اريـــــان
کــــــړي ننــــــداري د خداونــــــد د بســـــــتان

❋❋❋

غيـــــاث الـــــدين د جهـــــان لمـــــر دی نــــا
عـــــالم لــــــه ده ډېــــــر بهـــــره ور دی نــــا
هنــــد يـــــې روښـــــانه پــــه اســــلام کــــی نــــا
لــــه ځــــاني خــــوښ خيــــر الانــــام کــــی نــــا
چـــې يــې پــه غــور کــې نيلــی زيــن کــی نــا
پــــر کــــافرانو يــــې نــــاورين کــــی نــــا
تــــل دې بــــری وي د غــــازي پــــر ميــــدان
زه تــــايمني ســـــتاينه کــــړم د ســـــلطان.

استاد حبيبي زياتوي: ((د تايمني له اشعارو څخه فقط دومره موږ ته پاتې دي او په دې کې دی زمينداور ستايي او ددې ځای تاريخي وداني او مدنيت بيانوي، دی په زميندار کې د ((ارم)) بـاغ ســتاينه کــوي او وايي چې د فېروز کوه په ډول ودان دی. د تاريخ له پلټنې ښکاري، چې دغه (ارم) په (داور) کې يو باغ و، د غوري عصر يو مورخ (منهاج ســراج جوزجاني) هم ددې باغ ارم ياد داسې کوي:.

((ثقات چنين روايت کرده اند: کــه ســلطان غيــاث الــدين در اول جوانی معاشر عظيم بود و شکار دوست و از حضرت فيــروز کــوه کــه دارالملک او بود تا بشهر زمين داور که دارالملک زمستانی بوده هــيچ افريده را مجال نبودی که شکار کردی...

در زمين داور باغی ساخته بود انرا باغ ارم نام نهاد و الحق درميــان

دنیا مثل نزاهت و طراوت ان باغ هیچ پادشاهی رانبود و طول او بقــدر دو میدان وار زیادت بود...))

منهاج سراج د غوري عصر یــو مشــهور ســړی دی چــې د غــوري شاهانو په دربار کې اوسېده، د بامیانو، فېروز کوه، هرات او زمــین داور مدنیتونه یې په خپلو سترګو لیدلي دي.

د تایمني پښتون شاعر دغه بدله هم ددغه مورخ د بیان ښه تاییــد کوي او دا دوه معاصر ادیبان د غوریانو د ثقافت استازي دي.))

(۱۳: ۵۱۵-۵۱۷)

**شننه او ارزونه:** د تایمني دغه شعر روان او ساده دی او ضــمناً حماسي خوا هم لري او لکه د پښتو ولسي اشعار په وزم هم ویل کېږي، که څه هم ظاهراً د عروضي اشعارو په تقلید د قافیې تر اصــولو لانــدې دي، خو د پښتو د پخوانیو او اوسنیو ازادو سندرو رنګ لري او د اکثرو بیتونو په پای کې دترنم (نا) راغلی دی او دا خاصیت د ملي اشعارو دی چې په ترنم ویل کېږي.

داسې ښکاري چې تایمني په شعر کې د پخوانیو او خاصــو وطنــي اسلوبو تابع و، خو بیا هم د ماحول اثر پرې شوی او ښایي د پارسي ادب اغېزې پرې لوېدلې وي، چې دده له دغه یوه شعره ښه ښکاري.

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه د تایمني پورتنی شعر یا بدله تــر ډېره حده د پښتو ولسي شعرونو له فورمونو سره سمون خــوري او لــه عربي څخه راغلي فورمونو سره توپیر لري، خو دې سره سره د پښــتو خپل چې کوم څرګند فورمونه دي، د هغو ټولو یو هم پرې سل په ســلو کې د تطبیق وړ نه دي. دا بدله (درې) بندونه لري چې د مسرو د شمېر

او د څپو د څومره والي له امله سره یوشان دي.

مشترک وزن تعقیبوي د لومړي بند لومړی بیت یې مقفی دی او د همدې بند وروستی بیت یې بیا د لومړي بند مطلع تعقیبوي او د دویم او درېیم بند وروستي بیتونه یې د لومړي بند د مطلې قافیه تعقیبوي، ځینې بیتونه یې پر قافیې سربېره ردیفونه هم لري، خو ځینې یې پر قافیې پای ته رسي. په ټولیز ډول پرې د پښتو خپل څپېز خجیز جوړښت د تطبیق وړ دی. د محتوایي فورم له پلوه دا بدله تر ډېره حده مدحیه یا ستاینه ګڼل کېږي، چې شاعر په کې له پیله ترپایه د خپل ممدوح (غیاث الدین غوري) او د هغه د تورو ستاینه کوي. له لغوي پلوه په دې شعر کې دري او عربي کلمې شاملې دي، دري کلمې، لکه: (فیروز کوه، بادار، خالي، خورم، سرود، خداوند، بستان، جهان، بهره ور، میدان) او ځینې نورې کلمې دري دي. (صفت، سلطان، غازي، ملک، عالیشان، اسلام، دین، جنت، عالم، خیرالانام، کافر) او ځینې نورې کلمې بیا عربي دي. دغه راز مشترکې کلمې هم لري چې په پښتو او دري دواړو کې یوشان کارول کېږي، لکه: (سیالي، خندان، زین) او ځینې نورې. پښتو سوچه کلمې هم په کې ډېرې دي، د متروکو کلمو څخه یوه هم (چړتون) دی چې اوس په پښتو کې نه کارېږي. د تایمني له شعر څخه داسې ښکاري چې دا مهال پښتو ادب ته د دري او عربي ژبې ادبي اغېزې رارسېدلي او تر نورو پخوانیو شعرونو په کې دا اغېز زیات محسوس دی.

# قطب الدين بختيار

(۶۰۰هـ)

قطب الدين د (احمد) زوی د (موسی) لمسی په قوم پښتون بختيار او د خپل عصر له نوميالیو عرفانو څخه و، چې تراوسه هم په هند کې لوی شهرت لري. پرديو مورخانو دا سړی نه دی پېژندلی او دده د پښتونوالې ذکر يې نه دی کړی، خو پښتنو مورخانو دی د پښتنو په عرفاني مشاهيرو کې راوړی دی. نعمت الله په (مخزن) کې دده مناقب په تفصيل سره راوړي او داسې وايي: ((حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکي قدس الله سره نام پدر ايشان احمد بن موسی است ساکن اوش بود که از توابع بغداد است و تولد ان برگزيده، درسنه پانصد و هفتادوپنج اتفاق افتاد، چون سال عمر ايشان به بيست و پنج رسيد حضرت معين الدين سجزی بآن مکان تشريف اورد خواجه قطب الدين بختيار دست انابت بذيل هدايت ايشان در آورده مريد شد... بعد برفاقت شيخ جلال الدين متوجه هندوستان شدند، در بلده ملتان بغوث العالم شيخ بها الدين زکريا ملاقات نمودند...))

په دې ډول نعمت الله د پښتنو مورخ، قطب الدين بختيار د خپل کتاب په ډېرو ځايو کې ((قطب افغان)) بولي او دده د نورو هم قوميانو مشاهيرو نومونه هم راوړي، لکه خواجه يحيی بختيار، شيخ شهاب بختيار، شاه ابوبکر بختيار او نور... دا خو ښکاره ده، چې بختيار د پښتنو يو خورا مشهور او ستانه قوم دی، څرنگه چې دوی تر راوروسته وختونو پورې هم د سليمان غره په شاوخوا کې پووندگلي او سوداگري

کوله ځکه نو پردي مورخان د پښتنو په دغه نه وو خبر، نو یې قطب‌الدین پښتون نه دی لیکلی؛ تش له ده سره بختیار لیکي، (فرشته) تاریخ وایي، چې: دی په (اوش) کې زوکړی دی چې د ماوراالنهر له ښارو څخه و. (ابو الفضل علامي) هم دی د (فرغانې) د (اوش) بولي.

(اوش) یا (اوچ) خو دوه زاړه ښارونه وو، چې د (سیحون) پر هغه بله غاړه ودان وو. (ابن خرداذبه) وایي: دا یو لوی کلی و چې له (قبا) څخه اوه فرسخه لرې و او (اوزګند) ته لس فرسخه پروت و، (یاقوت) هم دا دوه کلي بېل بېل یادوي (اوش) له (فرغانې) څخه او (اوچ) د سیحون پرغاړه ګڼي، نو که موږ د نورو مورخانو دغه قول چې قطب الدین په (اوش) کې اوسېده، ومنو ځکه چې دده پښتونواله پښتنو مورخانو تصدیق کړې ده، نو دا ویلای شو چې دده نیکه یا پلار به هغې خواته تللی او قطب الدین به هلته زوکړی وي. دلته دا خبره هم د غور وړ ده چې زموږ پښتون مورخ (سلیمان ماکو) په خپله تذکره کې ددې قطب‌الدین ذکر داسې کړی دی:

((نقل کاوه شي چې بختیار ستر ستانه و، له ده څرګند شوي دي هغه کرامات چې موږ وکښل او وویل، موسی چې ستر پلار د قطب، تللی و له بختیارانو څخه او مېشت و پر اېواد چې سیند باله سي.))(۳۸: ۳۸) دا روایت خو د قطب الدین د نیکه تګ له خپله وطنه ثابتوي، خو د ماوراالنهر پرځای (سند) ښیي که موږ دقت وکړو، په سند کې هم پر دغو وختو یو ښار ودان و چې (اوچ یا اوچه) بلل کېده، مورخان یې د سلطان معز الدین غوري په فتوحاتو کې له ملتان سره یوځای راوړي او دا ښکاري چې (اوچ) د سند یو مشهور ښار و، نو که د

قطب الدين پلار او نيكه په دغه ښار كې اوسېدلي وي، ځكه چې د قطب او دده د پلار نور عرفاني معاصران هم په ملتان كې وو، نو به د سليمان ماكو قول سم وي. په هر صورت قطب الدين خو پښتون و، چې نيكه يې له خپله قومه بختيارانو څخه تللى دى يا د سند په (اوچ) يا د ماورالنهر په (اوش) كې اوسېده او وروسته يې لكه دمخه چې وويل شول په (هند) كې شهرت موندلى دى.

قطب الدين د (مخزن افغاني)، (آيين اكبري) او (مخبرالواصلين) په قول د لومړۍ خور پر (۱۴)مه (۶۳۳هـ) كال او (فرشته ۶۳۴هـ) د عمر پر (۵۸) كال وفات او په ډهلي كې ښخ شو، چې تراوسه يې مزار ډېر مشهور دى.)) (۱۳: ۵۲۰-۵۲۱)

## د قطب الدين اشعار:

د قطب الدين علمي او عرفاني شهرت خو له تېرو ليكنو څخه تاسې ته ښكاره شو، چې دا نوميالى بختيارى پښتون په عرفاني دنيا كې څومره لوړ مقام لري او د اولياوو اكثر تذكره ليكونكي دده احوال ذكر كوي، خو دا عارف د پښتو يو خورا ښه شاعر هم دى، چې سليمان ماكو يې په خپله تذكره كې د مناقبو تر شرحې وروسته يوه عشقي سندره هسې رانقل كوي، څرنګه چې سليمان دده معاصر دى، نو يې قول د منلو وړ هم دى. ماكو وايي:

((بختيار په پښتو سندرې كړينه، اوښې تويونه، خداى ته نارې كړي غلبلې كړي، پاړكى لرينه، چې يو دادى:

ویر مې زړه سوری سوری کړ — راتـه وګـوره مــلـوکې
پـه بـېلتون کـې دې وبـاسم — له خوږمنه زړګي کوکې
راته وګوره ملوکې

راته وګوره ملو کې

د بېلتون اورونه بل دي    هر ګړۍ مې زړګی سوځي
لېونی یمه د مینې    سوځم زه لکه پېلوځي

راته وګوره ملو کې
راته وګوره ملو کې

غوړولی دې اوربل دی    اور زما په زړګي بل دی
زه بختیار خاورې ایرې سوم    په اور سوی مې ګوګل دی

راته وګوره ملو کې
راته وګوره ملو کې

## شننه او ارزونه:

په دې شعر کې د پښتو شعر زوړ اغېز څرګند دی، یوه پردۍ کلمه پرې ګډه نه ده او د ادا ډول یې هم ساده، اما ډېر بلیغ دی. د مینې واردات او د مین د زړه احساسات یې ښه په کې څرګند کړي دي دا شعر لکه اوسني پښتو ولسي شعرونه تکرارېدونکی غبرګ (کسر) هم لري.

داسې ښکاري، چې قطب افغان د مینې په دنیا کې تاوده جذبات لرل او سلیمان ماکو، چې دده معاصر دی دغه عشقي احساسات په داسې ډول بیانوي:

((ژاړي او نارې، غلبلې کړي او د عشق سندرې لولي.)) له دغو عشقي نارو او سندرو څخه یوه لوړه سندره اوس موږ ته پاتې ده، چې د شاعر د زړه درد او سوزناکه جذبات ښکاره کوي.

قطب یو فارسي لوی دېوان هم لري، چې ټول عشقي غزلیات دي او له هغو څخه هم دده عشقي جذبات ښکاري، خو په پارسي کې دده

اشعار ډېر ښه، بلیغ او روان نه دي، ځکه چې اصلي او مورنۍ ژبه یې پښتو وه، نو یې په پارسي یې هغسې اشعار نه دي ویلي چې د پارسي له لوړو شاعرانو سره مقابله وکړي؛ په اکثرو پارسي اشعارو کې یې تعقید او شعري عیبونه شته.

لکه څنګه چې یادونه وشوه، د بختیار شعر د پښتو د ولسي اشعارو وزن لري، بدلو ته ورته دی، ټول درې بنده لري، هر بند یې څلور مسرې لري او یو کسر لري، خو له ځینو نورو کسرونو سره چې یوه مسره په کسر کې تکرارېږي، توپیر لري. دلته هم په حقیقت کې یوه مسره د کسر په توګه راځي، خو همغه مسره بیا ځکه غبرګېږي چې وزن پوره کړي او د ویونکي خوله په وزن ډکه شي. د نورو پښتو شعري فورمونو کوم مشخص فورم پرې سل په سلو کې د تطبیق وړ نه دی. د سر بند او د دویم بند څلور مسرې د جوړښت له مخې د قطعې تر قاعدې لاندې راتلای شي او وروستی بند یې د څلوریزې، خو په مجموعي ډول ټول شعر د بل کوم خاص فورم تر قاعدې لاندې نه راځي. نو ښه به وي چې د پښتو د خپلو ولسي فورمونو له جملې څخه یې وګڼو. دوه لومړني بندونه یې ردیفونه نه لري او درېیم بند یې له ردیف څخه هم برخمن دی، د څپو د جوړښت له مخې یې د ټولو څپو شمېر سره مساوي دی یانې دا چې هره مسره یې (۸) څپې لري او همدا ددې سبب شوي چې ټول نظم په یوه واحد وزن سره وتړي.

# سلیمان ماکو

## (۶۱۲هـ)

د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې په نثـري برخـه کـې چـې د کـوم لیکوال لیکنه ترلاسه شوې هغه سلیمان ماکو د بـارک خـان صـابزي ماکو زوی دی، چې د کندهار په ارغستان کې اوسېده. د ماکو قوم تــر اوسه هم لږ تعداد هورې اوسي او په ابـدالیو (درانــو) کــې شـاملېږي. سلیمان ماکو له دې قومه یو پوه لیکوال راوتلی دی او د پښتونخوا پـه غرو کې یې سیاحتونه کړي او د خپل عصر مشـهور روحـاني او ادبـي رجال یې لیدلي دي.

دی په خپله وایي، چې: پر (۶۱۲هـ) تللی وم او د پښتونخوا په غـرو او رغو ګرځېدم او د لویانو مراقد مې لیدل او پلټل، داسې ښکاري چې سلیمان ماکو تر دغه مفید او ګټور سفر وروسـته موفـق شـو چـې د پښتنو د نومیالیو بزرګانو د احوالو په باب یو اثر (تذکره الاولیا) ولیکــي او د دوی ویناوې او اشعار په دې کتاب کې خوندي کړي، په خواشینۍ سره چې دا کتاب اوس ورک دی، یوازې لومړي اووه مخه یې زموږ لاس ته راغلي دي.

سلیمان ماکو د پښتنو پخوانی مورخ او نثر لیکـونکی دی او دده د نفیس او ګټور کتاب دغه څو مخه د پښتو ژبې او رجالو د تـاریخ لپـاره داسې مفید ثابت شو چې د ادب او پښتنو تاریخ یې تـر ابـده مرهــون دی.

د سلیمان ماکو د تذکره الاولیا که څه هــم یــوازې اوه ډک مخونــه ترلاسه شوي، خو له تاریخي پلوه دا اوه مخونه هم خورا ارزښــتمن دي او د پښتو ادب لپاره د طلایي اثارو مثال لري. پــه دې اوو مخونــو کــې (بېټ نیکه، ملکیار غرشین، شیخ اسماعیل او قطــب الــدین بختیــار ) معرفي شوي او د هغو د کلام بېلګې په کې راغلي دي. د نثر برخه یــې چې د شاعرانو معرفي رانغاړي، په سلیمان ماکو پورې اړه لري او د نظم برخه یې اړوندو شاعرانو پورې. په عمومي ډول د ســلیمان مــاکو نثــر خوږ، روان، ساده او له ځانګړي اهنګه ډک دی چې په خاصــو ځــایونو کې یې سجع کارولې چې دده نثر ته یې زیاته ښکلا ورکړې ده. د نثر یو دوه پراګرافونه به یې د بېلګې په توګه راوړو:

((مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هــر لــوري مــې کــاملان موندل او د دوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله پــه ســلام ورتــه ولاړ))

((نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګــار د شــیخ بېټنــي دده ورور چې سړبن نومېده او پر شیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامــن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د سلیمان ماکو د نثر د ځانګړنو په باب وایي: (( تر سلیمان دمخه د پښتو نثر کومه منثوره نمونه موږ ته نه ده معلومه چې پخوا به د پښتو نثر څنګه و؟ او څه سبک او ډول یې لاره؟ خو د سلیمان د نثر پوخوالی او متانت دا راتــه ښرګنــدوي، چــې ددغه عصر نثرونه به دغسې پاخه وو لکه د پارسي نثر چې هم په دغــو غزنوي او غوري دورو کې متین، پوخ او خوږ و، د پښتو نثر به هم ښه او د فصاحت اصولو ته نږدې و.

د سلیمان ماکو نثر که په تحلیلي سترګه ولیدل شي، تر دغو لاندې دريو عواملو لاندې يې نشو و نما راته ښکاره کېږي او پــه هغــه ادبــي محيط کې چې دې نثر وجود موندلی و هم دا درې عوامل موجود وو:

۱- د پښتو ژبې خپل اثر چې ســليمان پښــتون و او د پښــتو ژبــې ويونکی و، نو طبيعي ده چې دغه عامل به دده د نثر پر ادبــي بنيــه او جوړښت پوره اثر درلود او ښايي چې تر ده دمخــه چــې کــوم نثــاران موجود وو، د هغو د ليکلو سبک به هم پر ده دروند اثر لاره.

۲- په پارسي ژبه کې چې کوم ادبي حرکت موجود و او د ســليمان ماحول يې نيولی و، ضرور به يې دده پر نثر هم اثر کړی وي.

۳- په دغه عصر کې پاړسي نثر رشد موندلی و، هم په غزني، هم په خراسان او هم په هند کې خپل عروج ته رسېدلی و. تــاريخ بيهقــي او زين الاخبار او د محمد عوفي لباب الالباب او جوامع الحکايات او تاريخ سيستان او بيا طبقات ناصري او نور کتابونه ددغه عصر مهم منثور اثار دي؛ ځکه چې پښتو هم ددغه ادبي چاپېريال په منځ کې ژوند کاوه، نو يې اغېزې هم طبيعي دي.

په دغه عصر کې عربي ادب او عربي ژبې هم پوره او بشپړ اثر کــړی و. په خپله پارسي نثر هم په ابتداء کې تر دغه اثر لاندې نشو ونما وکړه. د (۵۰۰هــ) په حدودو کې چې کوم پارسي منثور کتابونه وليکل شــول، د عربي ژبې اغېزې په کې څرګندې دي، ځکه چې پښتانه هم له عربي ثقافت سره په دغه زمانه کې پوره ارتباط لري، پر پښتو هم د عربي اثــر شوی دی.

د سليمان ماکو په حياتي محيط کې دغه درې سايقه موجود وو، چې هر يو پر ادبي تحول او د ليک او نثر پر ډول باندې طبعاً اثر کوي

او زه هم تر دغو دریو عواملو لاندې د سلیمان نثر تحلیلوم.))
(۱۳: ۶۰۲-۶۰۴)

د سلیمان ماکو د نثر په باب به وروسته د نثر په اړونده برخــه کــې پوره تفصیلي بحث کېږي، خو اوس دلته په لنــډیز ســره وایــو چــې د سلیمان ماکو نثر خورا خوږ او روان نثر دی. خپل پښــتو لغتونــه هــم لري، (دري) او (عربي) ژبو لغتونه هم پــه کــې کارېــدلي دي، ګرامــري جوړښت یې د پښتو له اوسنۍ محاورې سره ډېر اړخ نــه لګــوي، خــو کېدی شي د خپل عصر محاورې سره برابر وي، تکلف او تصنع په کــې نه شته، ځینې لغتونه یې اوس مړه یا متروک ګڼل کېږي، خو اکثره یې اوس هم زموږ په ورځنۍ محاوره کې کارېږي. د سلیمان ماکو د تذکرې بشپړ متن نه دی ترلاسه شوی که ټول متن وای، نو پوره باور و چــې د هغه وخت د ښنتو ادبي بهیر په تېره بیا د نثر برخه به ترې ډېــره ښــه څرګنده شوې وای، خو دا څو مخونه چې ترلاسه شــوي دي، لــه هغــو څخه هم د سلیمان ماکو د نثر قوت ښکاره کېږي.

د سلیمان ماکو په تذکره کې د نظم برخه هم د زیات اهمیت وړ ده، دا برخه نوره هم سوچه او نره پښتو ده. سلیمان ماکو په دې تذکره کې د پښتو ډېر پخواني نظمونه خوندي کــړي او د زمــانې لــه توپانــه یــې ژغورلي، چې په خپل ځای کې یې په تفصیل سره د هرې برخې یادونه کېږي.

# شیخ متي

## (۶۳۳-۶۸۸هـ)

دا مشهور عارف او متقي شاعر له پښتنو غوریاخېلو څخه دی، چې دده لوی نیکه (خرښبون) هم د پښتو ادیب او شاعر او دمخه یې احوال او اثار تاسو ولوستل.

شیخ متي د (عباس) زوی و، چې عباس د (عمر) او عمر د (خلیل) زوی و، خلیل د (غوریا) او غوریا د (کند) او کند د (خرښبون) زوی و. دا مشهوره کورنۍ د خرښبون تر مرګ وروسته په ارغسان، پښین او پېښور کې سره خپره شوه او شیخ متي دوه نور ورونه هم درلودل چې (حسن) او (امران) نومېدل د امران مزار تراوسه د کوږک پر غره دی، چې هغه غر دده په نامه ((د خواجه امران غر)) هم بلل کېږي او یوه خور یې ((بي بي خالا)) چې قبر یې تراوسه هم په پښین کې مشهور دی او په کلات کې د ترنک پر غاړه د ((خالا کلی)) هم ددې په نامه تر اوسه باله شي، چې دا به په ژوند هلته اوسېده. شیخ متي پر (۶۲۳هـ) کال زېږېدلی او د (۶۵) کالو په عمر د ترنک پر غاړه پر (۶۸۸هـ) کال وفات شوی دی، دده مزار تر اوسه د کندهار شمال شرقي خوا ته تقریباً (۵۰) میله لرې پر یوه غونډۍ واقع دی، چې (کلات) یې بولي او دی په (کلات بابا) مشهور دی، ده خپل ژوند هم د ترنک پر غاړو او د (غونډان) په غره او د (کلات) په حدودو کې تېر کړی دی.

د شیخ متي کورنۍ په (خلیلو غوریاخېلو) کې خورا مشهوره ده، دوی د پېښور له رغو څخه بېرته د کندهار خواوو او د ترنک غاړو ته

ولاړل، په علم او عرفان معروف وو او پښتنو مورخانو يې ذکر ډېر راوړی دی. نعمت الله په (مخزن) او اخوند درويزه پــه خپلــه تــذکره (حيــات افغاني) او نور مورخان ددې کورنۍ احوال پــه تفصــيل ذکــر کــوي او ددغې عرفاني کورنۍ خلک تراوسه هم د کنــدهار د ((نــاکودک)) پــه کلي کې اوسي، په دوی کې ډېر شاعران، مورخان، عارفان تېــر شــوي دي. تر خرښبون وروسته هم ښايي، چــې دوه پېــړۍ پــه دې معروفــه کورنۍ کې ډېر مشاهير او شعراء تېر شوي وي، چې زمــانې د دوی اثــار سره مروړلي او پرېولي دي، خو دوه پېړۍ وروسته د پښتو شعر يو خورا ښاغلی او عارف اديب مورِ پېژنو، چې د مغولو د تاړاک په منځ کې دنيــا ته راغلی او هغه نو شيخ متي دی.

## د شيخ متي اخلاقي او عرفاني شهرت:

شيخ متی په پښتنو کې لوړ اخلاق او عرفاني شهرت لــري او لکــه ځينې خورا لوړ مشاهير دی هم د ((بابا)) په لقب يادېږي او پښــتانه دا لقب هر چاته نه ورکوي. يوازې هغه کسان په دې نامه بلل کېږي، چــې په دوی کې د علم يا عرفان يا بل لوړ خدمت له مخــې ومنــل شــي او ګرده خلک يې په ((بابايي)) قبول کړي. د پټې خزانې مولف وايي، چې: ((شيخ متي لوی زاهد او عابد او پر خدای مين سړی و، عالم او د ديــن مرشد و او روحاني ژوند يې کاوه.))

ددغه مشهور عارف په باب لا خلک ډېرې کيسې او روايات تر اوسه هــم نقــل کــوي، دده کرامــات بيــانوي، پــه پټــه خزانــه کــې لــه ((افضل الطرايق)) څخه يو حکايت دده د ښو اخلاقو په باب رانقل شوی دی، چې دلته په لنډيز سره ورته اشاره کوو: ((يوه ورځ شيخ متی پر لار

تېرېده، چې هلته ډېرې ډېرې پرتې وې او لار يې بنــده كــړې وه، چــې دغه ځای يې ولید، نو څو شپې متواتر راغی او له هغې لارې څخه يــې ډېرې او کاڼې ايسته کړل، یوه دهقان د شپې خپله ځمكه اوبوله، ده ته يې وويل: ته د خدای دوست يې او ټول خلک ستا احتــرام کــوي، نــو دونې زحمت ولې پر ځان تېروې او دغه لار پاکوې، شیخ متــي هســې ځواب ورکړ، چې یوه ګړۍ د خلکو خدمت تر هر څه ښه دی.))

## د شیخ متي اولاد او کورنۍ:

شیخ متي په خپلې کورنۍ کې علم، زهــد او تقــوا او ادب پــه ارث پرېښوول او تر ده وروسته له دغې کورنۍ څخــه عارفــان، شــاعران او مولفان راووتل، چې په ډېر لنډېز سره به يې يادونه وکړو:

په پښتنو کې د شیخ متي کورنۍ په (متي زي) شهرت لــري او دده له زامنو څخه (حسن) او (یوسف) ډېر مشهور دي، چې د یوســف زوی (شیخ کته) یو لوی ولي او د پښتو مولف د (۷۵۰هــ) په حدودو کې تېر شوی او د (لرغوني پښتانه) کتاب يې ليکلی دی، بل مشهور عارف لــه دې کورنۍ څخه (شیخ قدم بن محمد زاهد بن میرداد بن سلطان) دی، چې سلطان هم د شیخ کته له زامنو څخه و، شیخ قدم په سر هند کې وفات شوی او هورې ښخ دی، د (۹۶۲هــ) په حدودو کې ژوندی و، دده زوی (شیخ قاسم) هم مشهور ولي او مولــف دی، چــې پــر (۹۵۶هـــــ) زېږېدلی او د (تذکرة الاولیا افغان) مولف دی، ددې شیخ قاسم له زامنو څخه (شیخ کبیر بالا پیر) هم په تقوا او عرفان مشهور و، چې دده زوی (شیخ امام الدین) پر (۱۰۲۰هــ) زوکړی او ((تاریخ افغــاني)) او (اولیــای افغان) دده ليکلي اثار دي، له دې علمي کورنۍ څخه اخرنــی مولــف او شاعر (میا نعیم) دی، چې د (۱۲۳۰هــ) په حدودو کې يې د کندهار پــه

((ناکودک)) کلي کې ژوند کاوه.

## د شیخ متي اشعار او اثار:

شیخ متی د پښتو یو خورا لوی صوفي او عرفاني شاعر دی، ده پـه غونډان (د کندهار د کلات یو غر) کې یو کتاب کښلی و، چې نوم یې و ((د خدای مینه)) او د پټې خزانې مولف وايي چې دا کتاب په کلات کې دده پر مزار پروت و او زايرانو (کتونکو) به لوست، اکثر عرفاني اشعار او مناجاتونه وو او په داسې ډول ویل شوي وو، چې پر خلکو به یې ډېـره اغېزه کړله او زړونه به یې ویلې کول، پـه خواشـینۍ سـره چـې ددې صوفي او مقتدر شاعر اشعار زموږ په لاس کې نه شته، خو د پټې خزانې مولف یې دغه یو عارفانه خوږه او مهیجـه منظومـه لـه خپلـه پـلاره اورېدلې او داسې یې رانقل کړې ده:

پـــر لويـــو غـــرو هـــم پـــه دښـــتو کـــې
پـــه لـــوی ســـهار، پـــه نیمـــو شـــپو کـــې
پـــه غـــاړه ږغ او پـــه شـــبلو کـــې
یـــاد ويرژليـــو پـــه شـــپېلو کـــې
ټـــول ســـتا د یـــاد نـــارې ســـورې دي
دا ســـــتا د مینـــــــې ننـــــــدارې دي

***

جنـــډې زرغـــون کـــه پـــه بيـــديا دي
د بـــــرېن خواتـــــه پـــــه خنـــــدا دي
ترنـــک چـــې خـــږ دي پـــه ژړا دي
دا ټـــول اغبـــز د مینـــې ســـتا دي
ټولـــه ښـــکلا ده ســـتا لـــه لاســـه

ای د پاســـــــوالو پاســـــــه پاســـــــه!

***

کــــه لمـــر روښـــانه مـــخ یـــې ســـپین دی
بیـــــا د ســــپوږمیه تنـــــدی وریــــن دی
کــــه غـــــر دې ښــــکلی پـــــرتمین دی
لکـــــه هېنــــداره مــــخ د ســــین دی
ســــــتا د ښـــــــکلا دا پلوشـــــــه ده
دا یــــې یـــــو ســــپکه ننـــــداره ده

***

دلتـــــه لــــوی غرونــــه زرغــــونېږي
د ژونـــــد ورمــــې پــــه کــــې چلېـــږي
بـــــــوراوې شـــــاوخوا کرېـــــږي
ســــترګې لیـــدو تـــه یـــې هیښـــېږي
لویــــه خاونــــده! ټولــــه تـــه یـــې!
تــــل د نــــړۍ پــــه ښــــکلېده یـــې

***

خاونـــــده! ښـــــکلی ســـــتا جمـــــال دی
ښـــکاره یــــې لـــور پـــه لـــور کمـــال دی
کـــه ورځ کـــه شـــپه کـــه پېـــړۍ کـــال دی
ســــتا د قـــــدرت کمکــــــی مثـــــال دی
ســــــتا د لورونـــــو یــــــو رڼـــــا ده
دلتـــــه چـــــې جـــــوړه تماشـــــا ده

***

زړه مــــې دا ســــــتا د مینـــــې کــــور دی

ســـــوی د عشــــق پـــــه ســــوځند اور دی
رپ یـــــې و تاتـــــه ســـــتا پـــر لـــــور دی
بـــې لــــه دې هـــېڅ دی ورک یـــې پلـــور دی
ســــتا جمــــال پـــــه لیـــــدو ښـــــاد دی
کـــــه نـــــه وي دغـــــه نـــــور بربـــــاد دی

***

پـــه غـــرو کـــې ســـتا د عشـــق شـــپېلکی دی
ددې نـــــړۍ پـــــه عشـــــق ســـــمی دی
کـــه غـــټ، کـــه ووړ، کـــه پنـــډ نـــری دی
ســــتا د جمـــــال ځـــــری هـــــر شـــــی دی
چـــې پـــر دنیـــا مـــې ســـترګې پـــرې ســـوې
ســـــتا د جمـــــال پـــــه ننـــــدارې ســـــوې

***

نـــــه هســـــک نـــــه مځکـــــه وه، تـــــورتم و
تیـــــاره خپـــــره وه تـــــول عـــــدم و
نـــــه دا ابلـــــیس، نـــــه یـــــې ادم و
ســــتا د جمـــــال ســــوچه پــــرتم و
چـــې ســـو ښـــکاره ښـــکلې دنیـــا ســـوه
د پـــــنځ پـــــر لـــــوري یـــــې رڼـــا ســـــوه

***

زه چـــې څرګنـــد پـــر دې دنیـــا ســـوم

د ښـــــکلي مـــــخ پـــــه تماشـــــا ســـــوم
ســـــتا پـــــر جمـــــال بانـــــدې شـــــیدا ســـــوم
لـــــه خپلـــــې ســـــتې راجـــــلا ســـــوم
پـــــه ژړا ژاړم چـــــې بېلتـــــون دی
یمـــــه پردېســـــی بـــــل مـــــې تـــــون دی

***

وګړیـــــــو! ولـــــــې ((متـــــــی)) ژاړي
ســـــورې یـــــې اورئ غـــــاړې غـــــاړې
څـــــه غـــــواړي څـــــه وایـــــي څـــــه بـــــاړي
خپـــــل تـــــون او کـــــور و کلـــــی غـــــواړي
چـــــونې چـــــې بېـــــل ســـــي نیمـــــه خـــــوا ســـــي
تـــــل یـــــې د بـــــڼ پـــــه لـــــور ژړا ســـــي.

## شننه او ارزونه:

پښتو ادبپوهان د شیخ متي شعر د تصوفي، عرفاني او فلسفي اړخ ترڅنګ هغه د فکري غنا او پوخوالي له پلوه پوخ شعر بولي، وایـــي: ((د شعر دا اړخ موږ ته دا جوتوی چې په پښتو شـــعر او شـــعري کـــلام کـــې فکري غنا ان له پخوا موجوده وه. په دې شعر کې موږ داسې پوخـــوالی او فکري غنا لیدلای شو چې د یوې پیاوړې فرهنګـــي غنـــا نماینـــدګي کوي. دا خبره هم، دا جوتوي چې پښتانه شاعران له تصوف او عرفـــان سره اشنا وو، په دې برخه کې یې زیاتې شتمنۍ درلودې، خو دا چې لا تراوسه نه دي ترلاسه شوي، یو عمده دلیل یې دا کېدی شـــي چـــې د

پښتنو سیمه تل د لویدیځ، ختیځ او منځنۍ اسیا د یرغلونو او تاړاکونو د تېرېدو لاره ده. د اوسني جنګ په څېر، په تېرو جنګونو کې زرګونه فرهنګي اثار د اسونو او کاروانونو په پښو کې لتاړ شوي او له منځه تللي دي. پر دې اساس ده چې موږ د فکري جریانونو د تحلیل له پلوه لږ مواد او اثار ولرو.)) (۳۶: ۷۸)

د شیخ متي دا لوړ شعر په پښتو اشعارو کې خورا ډېر اهمیت لري او دا یوه داسې نمونه ده چې د عرفاني او تصوفي شعر په سر او پیل کې درېږي.

[د منځنۍ اسیا په پاړسي اشعارو کې عرفاني رنګ د غزنویانو له عصره ښکاري. سنایي، شیخ فرید الدین عطار او مولینا بلخي (رومي) ددې ډلې مشران دي. د (۶۰۰هـ) په حدودو کې پارسي شعر د تصوف یوه غوره او غټه زېرمه لري.

داسې ښکاري چې شیخ متي د خپل عصر پر تصوف واقف سړی و او دده دا شعر ثابتوي چې ده په عرفان او تصوف کې پاخه افکار درلودل او د پښتو د متصوفو شاعرانو امام ګڼل کېږي، چې تر ده وروسته په دغه فکر او دغه ډول ډېر اشعار د روښانیانو، عبدالقادرخان خټک، رحمان بابا او نورو له خوا ویلی شوي دي، خو د شیخ متي اشعار په عرفاني دنیا کې یو مخصوص خوند، رنګ او قیمت لري، چې په نورو عرفاني او تصوفي اشعارو کې نه شته، ځکه چې دی مخصوصاً په خپل شعر کې جمالي افکار او نظریات څرګندوي او کایناتو ته د ښکلا او جمال پلټلو په سترګه ګوري.

شیخ متي له هغو لومړیو شاعرانو څخه دی، چې پښتو شعر ته یې یو فلسفي ښکلی رنګ ورکړی او د جمالیت ټکی یې ښه روڼ کړی دی،

دده فکر تل له مادي خوا څخه معنوي او الهي افکارو ته تمایل لري، له مادي اشعارو څخه تل معنوي او مافوق الطبیعه نتایج اخلي او یوازې د مادیاتو په ستاینه کې ځان نه ډوبوي.

((له خورا پخوانۍ زمانې، بلکې له هغه عصره چې انسان لومړۍ پلا پر دې دنیا سترګې غړولې دي، نو ده ته د کایناتو د لیدنې او کتنې خوند پیدا شوی او پر دې نړۍ یې ډېر ښکلي موجودات لیدلي دي.

دې ښکلا انسان تر خپل اثر لاندې نیولی او دده د فکر او عقلانیت په سلسله کې د ښکلا خوښوونې او جمالیت جذبه پیدا شوې ده، له هغه وخته چې فلسفي میلان او د شیانو په حقایقو کې فکر کول په انسانانو کې ډېر شوي دي، نو له (افلاطون) او (ارسطو) څخه رانیولې بیا تر (کانټ) او (هوم) متاخرو فیلسوفانو پورې ټولو پر ښکلا او ښکلا پېژندنه بحثونه کړي او مخصوصاً کانټ (۱۷۰۹م) په علمي ډول دغه مباحث ترتیب کړل، دی وایي چې: جمال یو مستقیم او بې غرضانه لذت او هسې یو خوند دی، چې د بل مقصد او غرض لپاره نه دی، بلکې په خپله دی مقصد دی او فنون هم د حسن او ښکلا د اظهار وسایل دي، مثلاً د خبرو فنون او د رقص او پېښو فن او رسامي او نور هر یو ځانته د ښکلا او جمال ترجماني کوي، د کانټ په علمي تعبیر، جمال یو بې غرضانه او سیده سم خوند دی، چې انسان مستقیماً په فطري ډول رابطه ورسره لري، خو هغه وخت چې نظر پوخ شي او د انسان کاته په غور او تدقیق وشي، نو له ښکلا او جمال څخه ښکلوونکي ته میل کوي او په مادي ښکلا کې یو ابدي او جاویدان نور او تلپاتې رڼا پلټي. د عرفان په دنیا کې د انسان دا لومړی قدم دی او هغه وخت چې له اثره موثر او له موجوده موجد ته لار ومومي، نو د (الله نورالسماوات والارض)

پر اساس د جمال پر نندارو بوخت شي او د مينې په درياب کې هسې لاهو شي چې بې له هغه نوره بل څه نهويني.

د شيخ شعر هم اساساً پر دغو جمالي او عرفاني افکارو بنا شوی دی، دی وايي: که لمر او سپوږمۍ روښانه دي، که پر دښتونو بانـدې ګلان خاندي، که په پسرلي د ځمکې مخ زرغونېږي، که په غرو کې د مينې شپېلۍ غږېږي که بوراوې پر ګلو کړېږي، دا ټول د يوه ابدي او تلپاتې جمال مظاهر دي او انسان تل ددغه جمال په مينه ژوندی پايي او هر شی د جمال يو ځری دی. انسان په خپله هم د قدرت له فياض او ښکلي چينې راوتلی دی، نو په دې دنيا کې هم پر ښکلا مين دی او تل ميل لري، چې بېرته خپل پرېښي وطن او ښکلې مرجع ته ولاړ شي، نو شيخ متي هم کټ مټ دغه فکر تصويروي او د نورو روحاني او عرفاني شخصيتونو غوندې خپلې روحاني سرچينې ته لېوالتيا او ميلان پيداکوي.

د شيخ متي له دغه يوه شعره دده لوړ عرفاني او فکري او فلسفي مقام ښکاري، دی هم لکه د نورو پخو عارفانو په شان هغسې فکر کوي او په جمالي فکر کې د کايناتو له مناظرو او ښکلو مزاياوو څخه عرفاني او روحاني نتايج اخلي او د جمال منبع فياض ته رجوع کول غواړي، هغه چې انساني روح له هغې منبع فيض مومي چې ((و نفخت فيه من روحي)) علاوه پر دغو عرفاني لوړو افکارو چې شيخ متي په خپل شعر کې څرګند کړي دي، دده د افادې طرز او ژبه خورا خوږه ده، په روانو، سليسو او خوږو اشعارو کې يې لوړ او مغلق فلسفي مطالب هسې ځای کړي دي، چې دده د ساده او خواږه شعر په ترڅ کې هسې ښکاري، لکه خورا معمولي او سهل مطالب.

دا چې شيخ متي د جماليت مقاصد په خوږه او جميلــه ژبــه ويلــي دي، د ژبې او وينا ښکلا ده، په شعر کې يې د غږ ښکلا يانې موسيقيت هم پټ دی او دده شعر اساساً د پښتنو د بدلو پر وزن په خواږه غږ ويل کېږي، نو ده ګنې د ښکلا ډېر فنون په دغه شعر کې سره يوځای کــړي دي، اصل شعر پر جمالي فکر او نظرياتو باندې بنــا دی، ژبــه يــې هــم ښکلې او جميله ده او د شعر وينه او تغنــي هــم پــه غږيــزه ښــکلا او موسيقي پورې اړه لري.] (۱۳: ۵۴۰-۵۴۳)

د ژبني جوړښت له مخې دا شعر هم په هغو شعرونو کې راځي چــې نړه پښتو لغتونه په کې راغلي دي. لکه: (غاړه ( په پښتو کې مجازاً د نل نغمه ده)، ويرژلی ( غمجن)، جنډی يا زونډی ( پخوانيو ګل ته ويل)، خو اوس هم د ګل په مانا دی او ځينې پښتانه يې د نامه پــه ډول (جنــډي خان، جنډو خان يا ژوندی خان) وايي، بربڼ (لوړ بــاغ) اوس دا کلمــه ژوندۍ نه ده. اغېزه( اغېز، اثر)، پاسوال (ســاتونکی، حــافظ) دا کلمــه پخوا ويل کېده، ښايي پاچا هم پاسوال بلــل کېــده. پــرتمين ( د پــرتم خاوند؛ اوس هم پرتمين کارول کېږي ،پرتم د شکوه او جلال پــه مانــا.) سين ( د سيند مخفف دی، د دربار په مانا)، ښکلا ( د ښکلي له ريښــې څخه د جمال په مانا)، کړېــدل ( چــاپېر ګرځېــدل، طــواف)، هــيبښ ( حيران)، لورنه ( مهرباني)، سوځند ( سوزان)، رپ(تپش،رپېدل)، پلــور (قيمت)، سمی او سما ( د سم له ريښې څخه پخوا ويل کېده ( صلاح او سموالی)، ځــری ( قاصــد)، هســک (اســمان)، پــرتم (دبدبــه)، پــنځ (پنځېدل؛ پخوا د خلقت او پيدابښت په مانا و، نو پنځ بايد مخلوقــات او جهان وي)، ستـه(بېخ)، تون(ځای)، سورې(نارې)، غاړې( غاړې) ، باړل (اوس نه شته ښايي پخوا د نفع غوښتلو په مانا و)، چوڼی( بلبل).

يو څو دري لغتونه او يا هم پښتو او دري مشترک لغتونه په کې هــم شته، لکه (بيديا، برباد، سهار، خاوند، تماشا، سوچه) دري کلمې دي. او

ځینې عربي کلمې لکه (جمال، کمال، مثـال، قـدرت، عشـق، عـدم، ابلیس، ادم) او ځیې نورې هم په کې شته.

د شکلي جوړښت له مخې هم لکه پورته چې یادونه وشـوه پـر دې شعر له عربي ژبې څخه د راغلو شعري فورمونو قواعد نه تطبیقېږي، دا نظم ټول لس بندونه لري چې هر بند یې شپږ مسـرې لـري. د ځینـو بندونو مسرې یې د قافیو ترڅنګ ردیفونه هم لري، خو ځینې بیـا لـه ردیفونو څخه ازادې دي. د هر بند په پای کې یو ځانګړی کسر لـوېږي، چې یو بیت لري. او مسرې یې په خپل منځ کې ګډه قافیه لري، ځینې کسرونه یې د قافیې ترڅنګ ګډ ردیف هم لري، د بندونو څلور مسرې یې د څلوریزې بڼه لري، خو کسرونه چې ورسره زیات شـي، دا شـکل بدلوي، د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی، هره مسره یـې (۹) څپې لري، البته یوه نیمه مسره کې د کلمې د اوسني تلفظ او بڼـې له مخې ببوزني احساسېږي. څرنګه چې دا شعر نسل په نسل تر مـوږه رارسېدلی، نو کېدی شي د ځینو کلمو د اوسنۍ او پخوانۍ بڼـې تلفـظ کې بدلون راغلی وي. له محتوايي پلوه لکه څنګه چـې دمخـه وویـل شول، دا یو عرفاني او تصوفي شعر دی چې په پښتو کې تقریباً د خپـل ډول ستر عرفاني شعر ګڼل کېدی شي.

# بابا هوتک

## (۶۶۱-۷۴۰-هـ)

بابا هوتک هم د ترنک د ناوې له مشهورو پښتنو څخه دی، چې هم د عرفان او هم د مشرتوب صفات لري او پـر دغــو ښــېگڼو سـربېره د پښتو ژبې يو ډېر نامي شاعر هم دی، د مورخانو په قــول دی د (بــارو) زوی او د (تولر) لمسی و او (تولر) هم د (بابا غلجي) له کـورنۍ څخــه، چې دا کورنۍ هم په پښتنو کې مشهوره ده او د ښېټ نیکه لــه معـروف خاندانه راوتلې ده، چې ډېر ادیبان او مشران پــه کــې تېـر شــوي او د (۶۰۰هـ) په حدودو کې د ترنک پر غاړو د پښتنو مشــرتوب پــه دغــې کورنۍ پورې اړه درلوده. بابا هوتک له دغې کورنۍ څخــه يــو نوميــالی مشر و، چې پر (۶۶۱هـ) په اتغر کې زېږېدلی او دا ځای اوس هم په دغه نامه مشهور او د کلات جنوب شرقي خواته د هوتکو او توخــو مســکن دی، څرنگه چې د ښېټ نیکه د کورنۍ، صلاح او تقــوا مشــهوره وه، نــو هوتک هم عمر په عبادت او صلاح تېراوه، په پښتنو کــې دده کرامــات مشهور وو او د سرداری او باداری مقام يې هــم درلــود. بابــا هوتــک د مغولو په دوره کې لومړی پښتون شاعر دی چې د خپل وطن دفاع يــې کړې او د مغولو پر وړاندې په جگړو کې يې لاس درلود، دده د رشــد او زلمیتوب عصر د (۷۰۰هـ) حدود دي چې دغه وختونه د مغولو د واک د خپرېدا او د دوی د سلطنت د ارتقاء دوره ده، دا هغه وخت دی چــې د غوریانو عظمت کښته شوی او د فېروز کوه د لوړتيا زمانه تېــره شــوې ده، په هرات کې (آل کرت) او په سیستان او خراسان کې نــور محلــي

امراء له مغولو سره اوبه غلبېلوي او شپه او ورځ ورسره تېروي، پښتانه اکثر يا د مغولو له تاړاکه غرو ته ختلي دي، يا د ارغنداو او ترنک په ورشوګانو کې ژوند کوي، له دوی سره جنګونه کوي. خپله خپلواکي او ازادي ساتي، چې د ازادۍ دا جګړې د پټې خزانې مولف هسې بيانوي:

((نقل دی، چې په هغه وخت کې به هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه، اتغر او اولان او کلات به يې تالا کول. بابا هوتک خپل قومونه راټول کړل او د سره غر سره يې پر مغولو شخړه بوتله، په دې جګړه کې مغول تالا شول او پښتنو ګړنديو ډېر ووژل، ماته خپل پلار داودخان داسې نقل وکا، چې سور غر په دغه ورځ د مغولو په وينو داسې لژند شو، چې پلوشو د لمر به برېښانده کا...)) (۵۱: ۸)

((بابا هوتک له مغولو سره ډېر جنګونه کړي دي، تل يې د ارغنداو پر غاړو د دوی د تالاو دفاع کوله او پښتانه چې په (اتغر) او (مرغه) کې پراته وو، دده تر مشرتابه لاندې د وطن په دفاعي جګړو کې شامل وو، دا زړور مشر او سپين ږيری د عمر پر نهه اويايم کال پر (۷۴۰هـ) کال وفات شوی دی.

د پښتو شاعرۍ په تاريخ کې بابا هوتک لومړی شاعر دی، چې د مغولوالې پر خلاف يې شعر ويلی دی او دی د هغو ټولو شاعرانو پېشوا ګڼل کېږي، چې په وروستيو دورو کې د مغولو مخې ته درېدلي او په قلم يا توره يې په وطني دفاع کې برخه اخيستې ده.

د بابا هوتک يو تود حماسي شعر چې په ملي وزن غړول کېږي، د پټې خزانې مولف د خپل پلار له خولې په هسې ډول رانقلوي:

((د مغولو په يوه شخړه کې پښتانه لږ او بې قوته وو، چې د سرو مغولو پېښه راغله: د بابا هوتک يو څو خپلوان ومړل، ده په لوړ ږغ دا

حماسي سندره وويله او خپل زلمي يې په جګړه کې تاوده کـړل، څـو دوی په دښمنانو باندې برى ومومند)) (۱۳: ۴۵-۴۶)، هغه سندره داده:

پـــر ســـور غربـــل راتـــه نـــن اور دی
وګړيـــه جـــوړ راتـــه پېغـــور دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی
هـــم پـــه غزنـــي هـــم پـــه کابـــل راغـــی

***

غښـــتليو ننـــګ کـــړئ دا مـــو وار دی
مغـــل راغلـــی پـــه تلـــوار دی
پـــه پښـــتنخا کـــې يـــې ناتـــار دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

***

آ د مرغـــې غښـــتليو راســـئ
پـــر ننـــګ ولاړ د پښـــتنخا ســـئ
تـــورې تېـــرې غشـــي تـــر مـــلا ســـئ
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

***

زلمـــو پـــه غشـــيو کـــړئ وارونـــه
د تېـــرو تـــورو ګوزارونـــه
ور وړانـــدې کـــړئ خپـــل ټټرونـــه
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

❊❊❊

زمـــــا د زلمـــــو وینـــــې بهېـــــږي
ځمکـــې او غرونـــه پـــه ســـره کېـــږي
میرڅـــــــی ځغلـــــــي او ترهېـــــــږي
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

❊❊❊

پښـــتنو هلـــئ پـــه غـــره جنـــګ دی
ســـور غـــر پـــه وینـــو د دوی رنـــګ دی
مهـــال د تـــورې دی د ننـــګ دی
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی

❊❊❊

زلمـــو پـــر ننـــګ ځانونـــه مـــړه کـــړئ
دښـــن پـــه غشـــیو مـــو پییـــه کـــړئ
د پښـــتنخا ځمکـــې ســـاته کـــړئ
پـــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی.

## شننه او ارزونه:

ددې نظم ژبه خوږه او له تکلفه تشه ده، خـو لکـه د ځینـو نـورو پخوانیو شاعرانو په شان مړه او نادر لغات نه لري، وزن یې هـم د ملـي بدلو دی، مکرر کسر لري، خو د قافیې او نیم عروضي وزن التـزام یـې کړی دی، د شاعر فکر هم ډېر مستقیم او د حماسي دورې استازی دی.

د هغې زمانې د پښتنو وطنـــي احســـاس او د مینـــې د ســـاتنې تـــاوده احساسات ځنې ښکاري، چې دغه افکار هم د مغـــولي دورې د پښـــتو شعر شمزۍ ده او تر (۱۰۰۰هــ) پورې په پښتو شـــعر کـــې پـــه ښـــه ډول خوندي شوي دي. د لغوي جوړښت له پلوه لکه څنګـــه پورتـــه یادونـــه وشوه، دا نظم لکه د ځینو نورو پخوانیو نظمونو په شان داسې کلمې نه لري چې اوس دې متروکې وي، یا دې په ژبه کې نه کارول کېـــږي او یـــا دې هم داسې کلمې وي چې مانا یې څه ناڅه بدلـــه شـــوې وي، ټـــولې کلمې چې په دې شعر یا نظم کې کارېدلي، اوس هم په همغـــه پخـــوانۍ بڼه ژوندۍ او کارېدونکي دي. ټولې پښتو کلمې یې کارولي، د نورو ژبـــو کلمې په کې نه شته، خو دا ټولې کلمې اوس هم په همغه پخوانۍ بڼـــه کارول کېږي، یوازې (میرځی) هغه کلمه ده چې اوس په ژبه کې ډېره نه کارول کېږي او تر بابا هوتک وړاندې امیر کروړ هم په خپل شـــعر کـــې کارولې ده.

د شکلي جوړښت له مخې دا نظم هم په هغو نظمونو کې راځي چې د بلې ژبې شعري یا نظمي قواعد پرې د تطبیق وړ نه دي، د خپلې ژبې پښتو ملي اوزانو سره سمون خوري، په اصطلاح د ولســـي بـــدلو رنـــګ لري، ټول نظم (اوه بندونه لري)، هر بند یې څلور مسرې لري، د هر بند درې مسرې په خپل منځ کې قافیه لري او ځینې یې ردیفونه هم لـــري، خو د هر بند څلورمه مسره یې په ټولو بندونو کې چې د کسر په توګـــه راځي، هغه یو شان ده. (پر کلي کور باندې مغل راغی)، همدا کسر چې تکراري او ټینګاري بڼه لري، د شعر مانا ته قـــوت ورکـــوي، وزن او مانـــا دواړه بشپړوي او د حماسي شعر وروستی قوت او هدف پوره کوي. لـــه

کسر پرته د ټولو بندونو هره مسره (۹) سېلابه لري، خو د کسر مســـره يې لس څپې لري. له کسر پرته د مسرو د څپـــو مســـاوي شـــمېر ددې سبب شوی چې نظم مشترک وزن پیداکړي او د کسر مسره بیـــا ددې سبب شوې چې هم اهنګ او هم وزن راتاو کړي، په اصطلاح ويې تـــړي او هم پر هدف ټینګار وکړي. له محتوايي پلوه لکه چـــې دمخـــه اشـــاره وشوه دا یو حماسي شعر دی چـــې پـــر ملـــي احساســـاتو ولاړ دی او د همدې شعر په برکت یوه لویه سوبه د پښتنو په برخه شوه.

# شیخ ملکیار هوتک

## د (۷۴۹هـ) حدود

شیخ ملکیار د بابا هوتک مشر زوی و او له خپله پلاره یې ادب، توره او مشرتوب په ارث وړی و، دی هم لکه خپل پلار د پښتو شاعر او هم د خپل قوم مشر و، د پلار تر مرګ وروسته یې د مشرتابه پګړۍ پـر سـر کړې وه.

دده د زېږېدو کال (۷۱۵هـ) دی د پلار د وفات پر وخت د (۲۵) کالو زلمی و، دی جسماً هم قوي او غښتلی پهلوان و، له لسو سړو سره بـه یې یوازې مقابله کوله، د بابا هوتک تر وفـات وروسـته د ملـي دفـاع وظیفه هم دده پر غاړه لوېدلې وه او د مغولـو د یرغلګـرو لښـکرو پـه مقابل کې د پښتنو ملي مشر ګڼل کېده.

ملکیار د کلات د (سیوري) په لتو کې له خپل قوم سره اوسـېده او دا هغه ځای دی چې تر اوسه هم هوتک په کې اوسېږي، ده په سیوري کې خپل قوم زراعت او ودانی ته راوباله، کارېزونه یې وکښل، نو مغولـو چې ددې ځای زراعتي عمران ولیده، پر (سیوري) یې هم یرغل وکـړ او د پښتنو مېنې یې ور ورانې کړې، دلته هوتک او د دوی مشـر ملکیـار مجبور شول، چې (مرغــې)، (رېوب) او (وازې خــوا) یــانې د (ســیوري) شاوخوا ته سره متفرق شي، خو ملکیار چې وطنپال، توریالی او پوهاند مشر و، د مغولو مخې ته ودرېده او د دوی پر ضد یې د خپلواکۍ جهـاد جاري وساته، په پای کې پر مغولو بریمن شو او سیوری یې بېرته ونیـو، دغه ځای یې بیا ودان کړ. دا کورنۍ د ترنک په ورشوګانو کې تر اوسـه

لا هم شهرت لري، د ملکیار تره چــې د بابــا هوتــک ورور و، (تــوخی) نومېږي او د (توخي) زوی (نور بابا) هم د ملکیار معاصــر او ملګــری و. دوی لکه خپل پلرونه روحاني ژوند هم درلود او تل په پښتنو کــې پــه صلاح او تقوی مشهور وو او په پای کې تر (۱۰۰۰هـ) وروسته د توخي له کورنۍ څخه (سلطان ملخي) مشهور مشــر راووت، چــې د اورنګزېــب معاصر دی، خو د بابا هوتک له پښته هغه مشهور ملي قاید او ازادیخواه پښتون پیدا شو، چې مورِ یې حاجي میرخان نیکه (میرویس خان) بولو او ده د (۱۱۲۰هـ) په حدودو کې د پارس د صفوي کــورنۍ لــه اســارته خپل قوم وژغوره، په کندهار کې یې د پښتنو د استقلال بیرغ لوړ کړ او وروسته دده اولادې تر اصفهانه پاچاهي وکړه.

پټه خزانه د ملکیار په باب دا نقلونه لیکي:

((یوه ورځ ملکیار بابا د خپل تره توخي کور ته ولاړ او د خپــل تــره زوی (نور بابا) یې ولید، چې غشی تېره کا، ملکیار ځنې پوښــتنه وکــا، چې تربوره دا څه کړې؟ هغه ویل: د مغولو په جګړو کې ستا ملاتړ یــم، ملکیار بابا دعا وکړه ورته، چې تربوره! اتل سوبمن اوسې، وایي، چې هر وخت به (نور بابا) په جګړه کې برى موند او ماته یې د هېچا په یــاد نــه ده.

هسې نقل کا، چې یوه ورځ د مغولو تاړاک پر ســیوري راغــی او هغه وخت د ملکیار بابا په کلا کې څوک نه وو، پرته لــه ښــځمنیو، نوربابا چې خبر سو ژر یې ځان هغه کوټ ته ورساوه او په یو تن یې مغول وشړل او ډېر یې مړه کړل، دا ټول د ملکیار بابا د دعــا برکــت و...)) (۵۱: ۱۶)

له دې روایاتو څخه دې کورنۍ او د ملکیار شخصیت ته د پښــتنو د

ذهنیت او فکر نسبت ښکاري چې خلکو په څه احترام ورتــه کتــل او دده مقام يې څومره لوړ ګاڼه.

## د ملکیار شعرونه:

داسې ښکاري چې ملکیار د مینــې ډک زړه درلــود او د عشــق او مینې پر لار يې قدم واهه او کله کله به يې عشقي سندرې هــم ویلــې. پټه خزانه دده یوه داسې عشقي سندره رانقلوي چې په پښتو اشــعارو کې د وزن، بحر او مضمون له پلوه ډېر قیمت لري او خاص د یوه ســاده او عشقي پښتني فکر ښکارندویي کوي، داسې ســندرې د پښــتو پــه ولسي شعر کې خورا ډېرې دي او په یوه خورا مست او طنان غــږ ویــل کېږي، چې د پښتنو د مخصوصو الحانو او موسیقۍ یو خوږ ترنم او لحن دی.

ملکیار د طبیعت په سپېڅلې لمن کې دا عشقي ســندره د رود پــر غاړه د سپينې سپوږمۍ په ښکلې رڼا کې غږولې ده، دده خطاب ځپاند رود او ډک سین ته دی چې دده او محبوبې ترمنځ حایل شــوی دی، د مینې اور ده ته قرار نه ورکوي او دی داسې تصور کوي چې دا اور ځکه چې ډېر تېز دی، نو د سین څپې ، توپان او د سېل زيږې اوبه به وچــې کړي.

د سین پرغاړه ناست دی، نه شي تېرېدلای، نو د محبوبې کلي ته د سپوږمۍ په ذریعه خپل احترام وړاندې کوي او په پای کې دې ځپانــده سېل ته د مینې په قوت خطاب کوي او ترې اوړي.

د ملکیار دا د عشق شپه او د مینې ویناوې د پټــې خزانــې خاونــد داسې نقل کوي:

((هسې نقل کا، چې په سنه (۷۴۹هـ) کې په پسرلي ترنک ډېر ډک

شو، په سختو نېزو او په یوه میاشت یې چړ ونه موند او خورا ډک غاړې غاړې بهېده، ملکیار بابا چې د ترنک څنډو ته راغی هسې سندرې یې ویلې.)) (۵۱: ۱۴)

| | | |
|---|---|---|
| ترنک بهېږي | تـرنک بـهـېـږي | غاړې تر غاړې |
| | زما زړګــی خــو | |
| | خپل لالی غواړي | |
| که روده روده | د تــرنــک روده | خاوند دې وچ کا |
| | چې زړګی مــومي | |
| | زمــا خــپله سوده | |
| که نېز دی نېز دی | نـېز د بېلتون دی | زړه نـېزه وړی |
| | پــه ویـــر ژړلــی | |
| | پــه غــم زبون دی | |
| که اور دی اور دی | په زړه مې اور دی | دا اور به وچ کا |
| | د ویــر نېــزونـه | |
| | بل ډېر په زور دی | |
| نــمنځه یــوســه | سپینې سپوږمیــه | ورتــه وو ایـــه |
| | چې ترنک ټال کړم | |
| | ستا له خولګیـــه | |
| که خړو خړو | اوبـــو سوان کړئ | بېل ملکیار دی |
| | پـاتــې له یار دی | |
| | سوب یــې جانان دی. | |

## شننه او ارزونه:

له لغوي پلوه دا شعر له نړه پښتو کلمو څخه رغېدلی، د بلــې ژبــې کلمه په کې نه شته، ځینې کلمې یې داسې دي چې اوس یې ځینو تــه

مانا ډېره څرګنده نه برېښي، نېز (سېلاب) چړ (د اوبــو هغــه وروســتۍ برخه چې اوبه په کې په تېزۍ سره راځي)، ســوده (ډاډ او اطمینــان)، نېزه وړی (د سېلاب خس و خاشاک)، ســوان، (ســهولت او رعایــت)، سوب (حاضر) چې اوس په ژبه کې ډېر زیات نه کارول کېږي، پــه تېــره بیا سوده او سوان.

له شکلي پلوه هم دا یوه ځانګړې ولسي بدله ده چې خپله د پښتو شعر وزن او اهنګ لري او د پښتو د خپلو قواعدو تابع ده.

ټول شپږ بندونه لري، هر بند یې پنځه مسرې، د سر د لومړی بنــد درېیمه او پنځمه مسره یې مشترک اهنــګ لــري، د ســر لــومړۍ دوه مسرې یې خپلمنځي قافیه لري. په حقیقت کې یــوه مســره دوه ځلــه تکرارېږي. د دویم او درېیم بند لومړۍ دویمه او پنځمه مسره بیا خپــل منځ کې هم قافیه دي، پنځم او شپږم بند بیا له نورو سره یو څه جزیي توپیر لري، لنډه دا چې دا داسې یوه ولسي بدله ده چــې د پښــتو لــه ځانګړې موسیقۍ سره اړخ لګوي او د نورو مقیدو قافیوالو وزنونو کــوم خاص فورم پرې د تطبیق وړ نه دی. له محتوایي پلوه یوه عشقي بدلــه ده چې د طبیعي مینې اظهار په کې له ورایه ښکاري.

# اکبر زمینداوري

## د (۷۸۰هــ) حدود

په پښتو لرغونې ادبي دوره کې اکبر زمینداوری یو پوخ شــاعر تېــر شوی دی. لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د ده په باب وایي: ((اکبر زمیندواری د پښتنو له نوم ورکو شاعرانو څخه دی، چې دده اثــار هــم ورک دي او یوازې یو څو پاڼې یې په زمینداور کې ما میندلې وې چې دا نوم ورکی شاعر د هغو پاڼو په مرسته وپېژندل شو.)) (۱۳: ۵۵۲)

لکه څنګه تاسې چې تر دې وړاندې په بېلابېلو برخو کې ولوســتل، (داور) زمورږ د وطن یو معروف ولایت او ډېر عمر د اسلام له پیل څخــه بیا د مغولو تر تاړاکه د مدنیت او ثقافت مرکز و مشهور ښارونه یې لــرل او (اکبر) هم په دغه ځای کې زېږېدلی و.

دا شاعر هم د مغولو د دورې په پیل کې ژوندی و او د هغو شــاعرانو له مخکښانو څخه دی چې دوی په خپلو اشعارو کې د مغولو له تاړاکــه شکوې کړې دي، یا یې د هغو مظالم لیدلي دي. دی په یــو بیــت کــې هسې وایي:

د مغلو تمر هسې پــــــه اور وسوم
چې به هېر په دې ماتم زمینداور کړم

له دې بیته ښکاري چې دی د (ګوډ تیمور) معاصر دی، ځکــه چــې (تمر) د تیمور پخوانی املا ده او دې پاچا لــه (۷۷۱- ۸۰۷هــــ) پــورې سلطنت کړی دی، نو د اکبر د ژوندانه عصر هم په دغو کلونو (۷۸۰هـ) حدودو کې ټاکلای شو، ځکه چــې امیــر تیمــور پــه (۸۰۰هـــ) کــې د

افغانستان نور ځایونه ونیول او له کابله یې د هند خواته حرکت وکړ.

## د اکبر شعرونه:

د اکبر ډېر لږ اشعار د زمانې له انقلابه خوندي پاتې دي، یوازې له ځو زړو پاڼو څخه موږ باور کولای شو، چې دی د دېوان خاوند و او په شعر کې یې غزل او مثنوي موږ ته پاتې دي. اکبر که څه هم په عروضي ډول لکه پارسي غزلیات ویلي دي، خو په ملي وزن هم دده د شعر یو څو نمونې شته او دده دغه مخصوص ډول پښتو اشعار او نور عروضي غزلیات دواړه سلیس او خواږه دي. په دې مثنوي کې اکبر د مینې د دنیا ډېر نازک حالونه او احساسات تصویر کړي دي:

### مثنوي

زه عاشـــــق یـــــم یـــــار هـــــم نیـــــز
نـــــور څـــــه نـــــه لـــــرو تمیـــــز
یـــــو پـــــر بلـــــه عاشـــــقان یـــــو
پـــــه خپـــــل عشـــــق کـــــې صـــــادقان یـــــو
یـــــو پـــــر بـــــل پســـــې رنځـــــور یـــــو
چـــــې نـــــږدې نـــــه یـــــو مهجـــــور یـــــو
عشـــــق کـــــه ښـــــه دی کـــــه بـــــلا دی
پیـــــداکړی زمـــــوږ مـــــولا دی
کـــــه ږغ نـــــه کـــــا عاشـــــقان څـــــوک
مـــــره ســـــي دوی پـــــر دا جهـــــان څـــــوک
خـــــو بـــــه دواړه شـــــهیدان وي
کـــــه رښـــــتیني مســـــلمان وي

زه کـــــه مـــــخ پـــــه اوښـــــو ســـــور کـــــړم
زړه کبـــــاب صـــــورت تنـــــور کـــــړم
لایـــــق دا چـــــې دا زه وکـــــړم
څـــــه تهمـــــت بـــــه پـــــر یـــــار نـــــه کـــــړم
ولـــــې هرځـــــای زه ببلتـــــون کـــــړم
بیـــــا د ســـــرو اوښـــــو، رژون کـــــړم
هـــــم اشـــــنا خـــــوار کـــــړم هـــــم ځـــــان
بیـــــا تهمـــــت کـــــړم پـــــر دوران
کـــــه نـــــژدې کـــــه پـــــر هېـــــواد یـــــم
زه دده پـــــه خیـــــال و یـــــاد یـــــم
چـــــې غـــــه ښـــــه دیـــــدن یـــــې یـــــاد کـــــړم
پـــــه تـــــش خیـــــال یـــــې خـــــاطر ښـــــاد کـــــړم
زه چـــــې ژاړم مـــــراد مـــــې دا دی
چـــــې اشـــــنا لـــــه مـــــا جـــــلا دی
کـــــه مـــــوږ بیـــــا ســـــره خوشـــــحال ســـــو
چـــــې محکـــــوم زمـــــوږ وصـــــال ســـــو
زه د یـــــار ســـــم، یـــــار مـــــې خپـــــل ســـــي
زه بلبـــــل ســـــم، یـــــار مـــــې ګـــــل ســـــي
پـــــه ســـــپین مـــــخ بانـــــدې تپبـــــړم
چـــــې دی خانـــــدې تـــــرې جـــــاربړم
د لیـــــدو شـــــربت یـــــې نـــــوش کـــــړم
غـــــم د هجـــــر فرامـــــوش کـــــړم
ســـــره کښـــــېنو پـــــه خنـــــدا ســـــو

په دا تېر احوال ګويا سو
چې تېر سوي په هجران دي
خوشال شوي غمازان دي
له غه پسه به صحبت کړو
زده زړونه به راحت کړو
چې غماز پاخي له ميانه
همنشين شم له جانانه
چې غماز له ميانه دور سي
نور که شپه وي هم به نور سي
ولې يار زما خواهان دی
بيا په عشق کې پهلوان دی
ډېر نفرت کا له غمازه
رب دې دی کا سرفرازه
زه هر څو چې باندې چور يم
خو دده په پند مامور يم
که زلمی دی خو عاقل دی
بيا د عشق په کار کامل دی
تر ما زيات د عشق په کار دی
هم معشوق هم مينه دار دی
خو په خپله ترې جلا شوم
مدام سر په واويلا شوم.

## شننه او ارزونه:

[په دې مثنوي کې اکبر د عشق او مینــې هغــه نــازک او خونــدور حالونه تصویر کړي دي، چې عاشق او معشوق دواړه يې يو له بله ســره غواړي، يوه د انجذاب او ايتلاف قوه په ټولو کايناتو کې ساري ده، چــې عارفان هغه عشق بولي او نور پوهان يې د جاذبې په نامه يادوي.

د کايناتو په اتومي ذراتو کې، چې دا عالم ځنې جوړېږي، يــوه قــوه پرته ده چې تل دوی سره نښلوي، دغه قوه په انساني افرادو او بيا پــه اجتماعاتو کې هم تاثير لري، عارفان له دغه تجانس او مجــاذبې څخــه چې ((عشق)) يې بولي، دا نتيجه اخلي چې بدن او مواد خو په مــادي دنيا کې يو له بله علاقه سره لري او يو بل غواړي، خو د انسان ((روح)) تر مادي لوړې يوې بلې مرجع ته ميل کوي، ولــې چــې دا ((روح)) پــه ابتداء کې هم له هغې خوا راغلی دی.

اکبر په خپله مثنوي کې دا خبــره چــې عشــق پــه حقيقــت کــې معشوقه او جذب يوه مجاذبه ده، په ښه ډول ادا کــړې ده او د روم لــه مولانا سره همغاړې شوی دی، چې وايي:

زه چې ژاړم مراد مې دادی
چــې اشنا لــه مــا جــلا دی

ځکه چې مولانا هم هــره ژړا او نــاره پــه ((ازجــدائی هــا شــکايت ميکند)) تعبير کړې ده. ]

د اکبر زمينداوري دا شعر لکه څنګه چې يادونه وشوه پــه مثنــوي فورم کې ويل شوی دی. دا په واقعيت کې په پښتو کې لومړنۍ مثنــوي وه چې تر دې دمه لاسته راغلې ده. البته تر دې وړانــدې هــم داســې

نظمونه شته چې مثنوي فورم ته نږدې دي، لکه د ببټ نیکه مناجــات خو پوره او کره مثنوي همدا ده چې زمینداوري ویلې ده. په دې مثنوي کې له لغوي پلوه د دري او عربي ژبو دواړو خپل خپل تاثیرات شته دي. په دې مثنوي کې (نیز، جهان، دوران، دیدن، مــراد، نــوش، فرامــوش، ګویا، غماز، میان، خواهان، سرفراز، چــور، دوران، مــامور، همــېش) او ځینې نورې دري کلمې دي. (په خپله مثنوي، عاشــق، تمیــز، عشــق، صادق، مهجور، شهید، محکوم، وصال، هجــر، نفــرت، عاقــل، کامــل، معشوق) او ځینې نورې بیا عربي کلمې دي.

پښتو، دري او عربي د درې واړو ژبو کلمې چې په دې مثنــوي کــې کارېدلي دي، داسې کلمې په کې نــه شــته چــې اوس دې پــه عــادي محاوره کې له دورانه غورځېدلې او یا دې متروکــې شــوې وي، بلکــې ټولې هغه کلمې چې په دې نظم کې کارېدلي هغه اوس هم په ورځنـــۍ ژبه کې کارېږي.

د مثنوي فورم چې هر بیت یې خپلمنځي قافیه لري، ردیف په کــې اختیاري دی او د بیتونو وروستی برید یې هــم قیــد نــه دی، دا ټــول قوانین پر دې نظم د تطبیق وړ دي. لــه محتــوایي پلــوه دا د مینــې او عشق یوه مثنوي ده چې مرکزي او یا هم ټوله محتوا یې همدا د مینــې او محبت خبرې دي، نور ټولنیز، سیاسي، مذهبي او نور مسایل په کــې نه دي داخل شوي. یانې دا چې په لنډیز سره ورته یوه عشقي مثنــوي ویلای شو.

د اکبر له حیات او احواله مونږ نه یو خبر، خو یوازې له یو څو شعرونو څخه دده د فکر ډول معلومېږي او ښکاري چې د خپل عصر یو شــاعر او ادب پوه سړی و او هغه ادبي تمایلات او ذوقونه چې دده په عصر کې

وو، ده ته ښکاره شوي وو او همدارنګه په دغو ادبي جریاناتو کـې یـې مخصوصاً د پښتنو شاعرانو روحي میلان او ذوق هم ساتلی و، چې دده له دغې خورا مستې پښتو بدلې څخه ښکاري:

زه چې په مینه معشـوقو د بنګـړو شـرنګ لـره ځـم
زه د هجــران د بېلتانـــه د تـــورو جنـــګ لـــره ځـــم
زه اپوتـــه یـــم پـــه هجـــران ســـره قـــرار نـــه لـــرم
هجـر مـې اوږد شـو د وصـال د امیـد کـار نـه لـرم
بېلتون په خولـه راکـړې څپېـړې زه لا عـار نـه لـرم
وم د معشوق پر سینه پروت زه تـور لونـګ لـره ځـم.

❋❋❋

ځینې یې ولې څوک عاشق څو رنګ په تـورې کانـدي
پر خـوار مـین د شـها هـومره هـورې ژورې کانـدي
بـې نیـازه نکـا چـې پلـو لـه مخـه لیـرې کانـدي
چې راوپاځي په اخلاص چې خپل څو رنـګ لـره ځـم

❋❋❋

اول خو تـه نجلـی پـه عشـق بانـدې اقـراره شـولې
اور دې راپـورې کـی نـور کښېنسـتې قـراره شـولې
هېڅ ګفتګـوی لـه عشـقه نـه کـوې بېـزاره شـولې
یو وار خو ووایـه قـرار چـې د یـار څنـګ لـره ځـم.

د اکبر زمینداوري په دې بدله کې هم داسې لغتونه نه دي کارېدلي چې هغه دې اوس متروک شوي وي. یوازې اپوته (پرېشان) او څو رنګ ( زخمي) په اوسنی محاوره کې نه کارېږي.

د عربي او دري ژبو کلمې په کې هم کارېدلي: (معشوق، هجر، قــرار،

وصال، اخلاص، عار، عاشق، قرار) او ځینــې نــورې عربــي کلمــې دي. (امید، بی نیاز، گفتگوی، بېزار) یې دري کلمې دي.

دا بدله هم په هغو فورمونو کې نه ده ویل شــوې چــې ډېــر زیــات معمول دي. د پښتو ولسي ادب له نورو بدلو سره ورته ده. البته بــدلې هم داسې نه دي لکه د غزل او مثنوي او یا نور فورمونه چې تــر ډېــره حده ثابت شکلونه لري.

دا بدله درې بنده لري، د سر بند یې شپږ مسرې او دوه نور بندونــه یې هر یو څلور څلور مسرې لري. د سر لومړی بیت یې په خپــل مــنځ کې گډه قافیه لري چې په حقیقت کې مطلع گڼل کېږي او درې مسرې نورې یې په خپل منځ کې گډه قافیه لري او وروستۍ یا شپږمه مســره یې بیا د مطلعې قافیه تعقیبوي. په نورو دوو بندونو کې بیا د هــر بنــد درې مسرې په خپل منځ کې گډه قافیه جوړوي او د څلورمې مســرې قافیه یې بیا د مطلع د قافیې تابع ده. هر بند یې پــه خپــل مــنځ کــې ځانگړې ردیفونه هم لري.

ددې بدلې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی، یانې دا چې هره مسره یې (۱۵) (۱۵) څپــې ده. همــدا څپیــز خجیــز جوړښــت د مشترک وزن او اهنگ د ټینگښت سبب شوی دی. له محتوایي پلوه د زمینداوري دا بدله هم د هغه د مثنوي په شان عشقي محتوا راټولــوي او انځوروي.

اوس راځو د اکبر زمیندواري دوو غزلونو ته!

د خپــــل ځـــان لـــه حیرانـــۍ څـــه ویـــل کـــړم
د عشـــق ویـــر بـــه تـــل پـــه خپلـــه پټـــول کـــړم
مـــا مـــدام لکـــه بـــورا پـــر گلـــو گښـــت کـــړ
اوس بـــه څـــم پـــه ســـر تـــور ســـر فـــراق د گـــل کـــړم

د غمـــاز لړمـــون بـــه زه پـــه لمبـــه کښـــېږدم
ځينـــې هېـــر بـــه د يـــار بـــزم ګـــل او مـــل کـــړم
زمـــا د يـــار د مينـــې اور پـــه زړه کـــې بـــل دی
زه بـــه ســـر او مـــال ښـــندم ديـــد بـــه حاصـــل کـــړم
د بېلتـــون لـــه ويـــره ژاړم اوښـــکې وينـــې
زه ((اکبـــر)) پـــر خپـــل اشـــنا د ســـر ښـــندل کـــړم.

***

چـــې مـــدام زه ســـتا و مـــخ وتـــه نظـــر وړم
د بېلتـــون لـــه بيـــرې زړه زبـــر و زبـــر وړم
کـــه پـــه مـــا دې حکـــم وشـــي چـــې خـــادم شـــه
دغـــه ســـتا د نغـــري ســـور انګـــار پـــر ســـر وړم
چـــې جمـــال پـــه مهـــر او مينـــه راښـــکاره کـــې
شـــين تـــوتي شـــم پـــه هـــوا د مينـــې پـــر وړم
چـــې ګفتـــار دې پـــه ښـــه مينـــه راتـــه وســـي
نـــو بـــداې ســـم کـــوټې کـــوټې دُر ګـــوهر وړم
کـــه مـــې وژنـــې کـــه مـــې پېـــرې رضـــا ســـتا ده
ســـتا و غشـــي تـــه مـــدام موخـــه ځيګـــر وړم
چـــې جمـــال دې پـــه هجـــران کـــې را پـــه يـــاد شـــي
هغـــه دم پـــه تصـــور شـــمس وقمـــر وړم
ســـتا د تـــورو څڼـــو خيـــال هســـې طويـــل دی
تـــل پـــه زړه کـــې دغـــه فکـــر زه ((اکبـــر)) وړم.

د اکبر زميندآوري دا دواړه غزلې د فورم او محتوا دواړو لـه پلـوه د

غزل په تول پوره دي. په لرغونې دوره کې موږ ځینې داسې بېلګې لرو چې یا د شکل له پلوه غزل ته ورته وې او یا هم د محتوا له پلــوه، خــو داسې بېلګې نه وې چې د شکل او محتوا دواړو له پلوه دې د غزل پــه تول پوره او کره وخېږي. د اکبر دا دواړه غزلې دا ځانګړنې لري.

د غزل شکلي تعریف دا دی چې مطلع او مقطع ولري، یــانې د ســر بیت یې په خپل منځ کې ګډه قافیه ولري او د نورو بیتونو د هــر بیــت دویمه مسره یې په قافیه کې د مطلع قافیه تعیب کړي، ردیف پــه کــې اختیاري دی، خو که مطلع کې یوځل راوړل شو، نو په نورو مقفی مسرو کې یې راوړل حتمي کېږي. دا دواړه غزلــې ردیفونــه لــري، د غــزل د بیتونو شمېر له (۵) څخه تر (۱۵) پورې اټکل کېږي، د اکبر زمینداوري لومړی غزل (پنځه) بیته او دویم یې (اوه) بیتونه لري. په لومړي غــزل کې (ویل، پټول، ګل، مل، حاصل او ښندل) د قافیې کلمــې دي، (کــړم کړم) یې ردیف دی او په دویم غزل کې بیا (نظر، زبر، سر، بر، پر، ګوهر، ځیګر، قمبر او اکبر) د قافیې کلمې دي، (وړم وړم) یې ردیف دی.

د لومړي غزل د مسرو د څپو شــمېر یــې (۱۲) (۱۲) دی او د دویــم غزل د مسرو شمېر هم (۱۲) (۱۲) څپې دی، له لغوي پلــوه پــه لــومړي غزل کې (مدام، بورا، غماز، مل، دید) دري کلمې دي او (عشق، فــراق، بزم، حاصل) عربي کلمې.

په دویم غزل، کې (مدام، زبر و زبر، مهر، پر، ګفتــار، دُر او ګــوهر)) دري کلمې او ( تصور، شمس، قمر، خیال، طویل، فکر او په خپله اکبــر) عربي کلمې دي، څرنګه چې ددې شــعرونو فــورم هــم د غــزل دی او محتوا یې هم تغزلي او غنایي مســایل دي، نــو ځکــه دېتــه د غــزل د معمول تعریف له مخې پوره غزلې ویلای شو.

# سلطان بهلول لودي

## (واکمني ۸۵۵هــ ۸۹۴هــ وفات)

ددې کتاب په یوه برخه کې مو د لودیانو د کورنۍ په باب لنــډه رڼــا واچوله، چې دې کورنۍ تر غزنوي سلطنت دمخه په ملتان کــې پښــتو ژبه او پښتني ثقافت خپور کړی و، که څه هم هغــه کــورنۍ د ســلطان محمود په لاس له منځه لاړه او د (۴۰۱هــ) په شاوخوا کې یې واکمنــي ختمه شوه، خو د لودي قوم بقایا په هند کې وه او له دوی څخــه ډېــر حربي مشاهیر راووتل او پر (۸۵۵هــ) کال بیا لــه دې لودیــانو پښــتنو څخه (ابوالمظفر بهلول شاه) د پښتنو د سلطنت اساس کېښود او هغه رڼا یې بیا خپره کړه چې څلور نیمې پېړۍ دمخه د لودیانو د واکمنۍ په ړنګېدو سره پټه شوې وه.

د هندوستان په پاچاهانو کې یو معروف سړی (خضر خان) د ملــک الشرق ملک سلیمان زوی دی، چې پــر (۸۱۷هـــ) کــال د ډهلــي پــر پاچاهي کښېناست او دده له کورنۍ څخه څو تنو تر (۸۴۷هـــ) پــورې پاچاهي وکړله، چې دوی (خضر خانیه پاچاهان) بــولي، د خضــر خــان زوی (معزالدین مبارکشاه) پر (۸۷۴هــ) کال پر تخت کېناست، څرنګــه چې دا کورنۍ له پښتنو پاچاهــانو ســره محشــوره او هــم د پښــتنو د ځمکې خلک وو، نو د دوی په سلطنت کې پښتنو او په تېره بیا لودیانو ډېر اعتبار درلود او ملک سلطانشاه لودي د مبارکشاه په زمانــه کــې د سرهند امیر و او ددغه پاچا له خوا پر (۸۳۱هــ) د ((اسلام خــان)) پــه

نامه هم مخاطب او سرلوړی شوی و او له مشهورو خلکـو څخـه ګڼـل کېده. د سلطانشاه (اسلام خان) ورور ملک کالا (کالو) نومېده، چې دی هم لکه خپل ورور د عصر لـه مشـهورو سـپه سـالارانو څخـه و، پـه مبارکشاهي عصر کې یې په اکثرو جګړو کې برخه لرله او یـو مشـهور سړی و. دده زوی (ملک بهلول) هم له خپل پلار او اکا سره وروزل شو، څرنګه چې سلطانشاه لودي ډېر پلوی امیر او په هند کې د غټ ځواک خاوند و، نو ده خپل وراره ملک بهلول ښـه وروزه او تـر خپـل مـرګ وروسته یې په هند کې پرېښود.

ملک بهلول زړور، مدبر او پوه پښتون و، د اکا تر مرګ وروسته یـې استقلال وموند او د هند پښتانه یې سره راغونډ کړل، دوی تـه یـې د لودیانو تېر شوی شوکت ور په یاد کړ او ویې غوښتل چې بیـا د لـودي سلطنت مشال رون کړي، لومړی ده د پښتنو په ملګرۍ سرهند او ټول پنجاب ونیول، وروسته یې ډهلی هم فتح کړ او د (۸۵۵هـ) پـر ربیـع الاول یا محرم کې د هند پر پاچاهۍ کېناست او پښتانه سرداران، لکه: قطب خان لودي، دریا خان لودي او نور یې د ځـان ملګـري کـړل او د هند هرې خواته یې ښکاره فتوحات وکړل، دی د سـلطنت پـر وخـت (ابوالمظفر بهلول شاه) بلل کېده، تر (۳۸) کالو سـلطنت وروسـته پـه ډهلي کې (قصبه جلالي) ته نږدې پر (۸۹۴هــ) وفـات شـو او تـر ده وروسته یې زوی (سلطان سکندر) پرځای کېناست او دې کـورنۍ تـر (۹۳۲هـ) پورې په هند کې پاچاهي کوله.

## د سلطان بهلول لودي شعر:

سلطان بهلول لودي، لکه د تورې او تدبير خاوند چې و، دغسې يې ادبي ذوق هم درلود او کله کله به يې شعر هم وايه، دده په دربار کې به په پښتو خبرې او مشاعرې کېدې او دا لودي سلطان لکه خپل اسلاف (د ملتان لوديان) د پښتو ژبې شاعر هم و او دده يو شعر د پټې خزانې مولف ضبط کړی او دده احوال يې هم داسې کښلي دي.

((په مخزن افغاني کې نعمت الله هسې کښلي دي چې ملک بهلول د ملک کالا زوی و، په هندوستان يې د سلطنتت لوا هسکه کړه او دغه ملک له لودي طايفې څخه و له ډېرې زمانې دې لودي ټبر سلطنت کـا په هند کې، ملک بهلول په سرهند د اســلامخان تــر وفــات راهيســې استقلال وموند او تر جنګونو په وروسته يې پر دهلي خطبــه او ســکه ووهله، پاني پت، لاهور، هانسي او حصار او تاګور يې د ملتان تر ځنـډو پورې ونيول او د هندوانو د راجګانو سره يې سخت جنګونــه وکــړل او اته دېرش کاله يې پر هندوستان سلطنت وکـا او ډېــر عــادل او عــالم پادشاه و په (۸۹۴هــ) کال وفات شو، لکه چې وايي:

به هشت صد و نود چهار رفت از عالم
خديو ملک ستان و جهانکشا بهلول

د سلطان بهلول عليه الرحمه وفات په تبه د جلالي په قصــبه کــې و...)) (۵۱: ۷۶)

تر دې وروسته د پټې خزانې مولف د محمد رسول کلاتوال د بيــاض په حواله ليکي چې خليل خان د سلطان بهلول د دربار شاعر يوه پښتو رباعي د سلطان په ستاينه کې ويلې وه، چې دغه رباعي به وروســته د

خلیل خان په احوال کې راوړل شي، وایي چــې ســلطان هغــه ربــاعي واورېدله، په ځواب کې يې دا رباعي سم له لاسه وويله:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه
ګــوره اوریــځې د داد ، لــه پــاسه
خول مې د عــدل پــه درو رونږ دی
جــهان بــه زېب مومي زما له لاسه

تاسې چې وروسته د خلیل خان رباعي هم ولولئ، د سلطان بهلول د ارتجالي شعر کمال به درته معلوم شي، علاوه پر ادبي ښېګڼو لــه دې يوې رباعي څخه موږ ددغه پښتانه سلطان فکر هم څرګنــدولای شــو، چې ده د مملکت د ودانۍ او عمران فکر درلود او په انصاف او عــدالت يې حکمراني کوله.

سلطان بهلول د پښتنو د لودي ټبــر د شــوکت او لوړتیــا داســتان دویمه پلا تازه کړ او هم دی د پښتو ژبې مربي، شاعر او ادیب و، خو پــه خواشینۍ سره چې نور اثار يې ورک دي او یوازې یوه رباعي يې د يوې یتیمې مرغلرې په ډول په پټه خزانه کې مومو.

## شننه او ارزونه:

که څه هم له سلطان بهلول لودي څخه یوازې همدا یوه څلــوریزه تر موږه رارسېدلې، خو له دې يوې څلوریزې څخه هم د هغه د شاعرۍ شعري قوت او کمال ښکاري. یو څوک چــې تــر دې وړانــدې شــعري تجربه، قریحه او پانګه ونه لري او پر شعري مهارتونو واکمن نه وي، هغه هېڅکله سم له لاسه داسې حلوریزه نه شي ویلای چې هم دې له حال سره مناسبه وي، هم دې د شاعرۍ ماضي انځور کړي او هم دې شعري ښکلا ولري.

له لغوي پلوه دې څلوریزې کې، (دُر او جهان) دري او (زیب، عدل او

ملک) عربي کلمې دي، نور شعر له پښتو کلمو څخه رغېدلی، ځینې نړه پښتو کلمې چې اوس نه کارول کېږي هم په دې شعر کې خوندي دي، لکه (راسه، خول) اوس نه کارول کېږي. په نورو ګڼو روایاتو کې هم د بهلول لودي د پښتو پالنې او عدالت کیسې راغلې دي. د سلطان بهلول لودي په باب په (تاریخ داودي) کې راغلي: ((گویند روزی که بر تخت نشست در ان هفته برای نماز حاضر شد. ملا قادن که یکی از اکابر ان شهر بود، برای خطبه خواندن بر منبر بر امد، خطبه به اتمام رسانید وقت فرود امدن گفت: سبحان الله عجب قومی پیدا شدند نمی دانم پیرو دجال در ایشان باشد زبان ایشان اینست که مادر را مور می گویند و برادر را ورور می گویند ودیه را شور می گویند و سیاه را تور می گویند و دیگر را نور می گویند. در این گفتن سلطان بهلول رومال را بر لب گرفته تبسم کنان گفت: ملا قادن بس کن که ما هم بنده گان خدایم.)) (۱۳۴:۶۰- ۱۳۵) یانې په ډېر سړیتوب او اوسېله یې پوه کړ. نو په پښتو شعر ویل له پښتو سره د هغه د مینې څرګندونه کوي. د فورم له مخې دا نظم یوه څلوریزه یا رباعي ده، چې د هغې ټول ارکان یې پوره کړي، رباعي همغه ډول فورم دی چې څلور مسرې ولري، د سر دواړه مسرې یې قافیه لري او د څلورمې مسرې قافیه یې هم د مطلعې قافیه تعقیبوي، د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي، قافیه په کې حتمي او ردیف په کې اختیاري دی. په دې رباعي کې (راسه، پاسه، لاسه) د قافیې کلمې او (سه سه) یې مشترک غړونه دي، ردیف نه لري، هره مسره یې لس لس څپې ده. د رباعي محتوا د سلطان د تېر عدالت او د راتلونکي لپاره د نېک عزم ښکارندویي کوي او د یوه هوډمن واکمن نېک تکل څرګندوي.

# خلیل خان نیازی

## د (۸۹۰هـ) حدود

نیازي د پښتنو یوه قبیله ده چې د لودیانو یوه پښه شمېرل کېږي، دوی له لودیانو سره یوځای په هند کې خپاره شوي دي. په افغانستان کې هم په بېلابېلو سیمو لکه کندهار، غزني، کابل، لغمان پروان، کندوز او نورو سیمو کې اوسېږي. له دوی څخه هم په هند کې مشهور جنګیالي او مشران راوتلي دي، د لودیانو او سوریانو په دوره کې یې ډېر مشاهیر درلودل، مثلاً (هیبت خان نیازی) د شېرشاه سوري په وخت کې د ((اعظم همایون)) په خطاب د لاهور حکمران و، نیازیان د لودیانو او سوریانو غښتلي ملګري وو او تراوسه یې هم بقایا په هند کې شته. له دې قبیلې څخه یو تن هم معتمد او ادیب و او پټې خزانې دده یو مدحیه رباعي راوړې ده، پټه خزانه وایي:

((محمد رسول کلاتوال په خپل بیاض کې هسې کښلي دي، چې: په هندوستان د برسات په موسم خلیل خان نیازي هسې رباعي انشا کړه او د سلطان بهلول پادشاه په مخه کې یې وویله)) (۵۱: ۷۸) ، دا رباعي په دې ډول ده:

خـــړې وربځـــې ژاړي لـــــه پاســـه
کوبلــه رږغ کــا، ببلتــون لـــه لاســـه
یه هغه لـوني ګـوهر پـه خـول سـتا
دا مرحبـــا کـــه ســـتا، زمـــوږ مواســـه

د خلیل خان ددې رباعي په ځواب کې پښتون شهنشاه هغه رباعي ویلې ده، چې دمخه دده په احوال کې راغله. په خواشینۍ سره چې د خلیل خان نور اثار زموږ لاس ته نه دي راغلي او داسې ښکاري، چې د سلطان بهلول د دربار پښتون شاعر او د هغه ښه معتمد شخص و.

## شننه او ارزونه:

په لوړه رباعي کې خلیل خان په ډېر ښه صورت د خپل ممدوح ستاینه د رجوع په صنعت کې کړې ده، لومړی د وربځې ژړا او د کوېلې د بېلتانه غږ بیانوي، بیا په دویم بیت کې رجوع کوي او د لومړي بیت مطالب نقض کوي، د ستاینې لپاره په بل رنګ هغه مقصد وایي. دده دا رباعي ددې سبب شوه چې سلطان بهلول لودي یې سم له لاسه ځواب ووایي، دا په واقعیت کې یو ډول مشاعره هم ده. په دې څلوریزه کې له (مرحبا) او (کویله) پرته نورې ټولې کلمې پښتو دي (مرحبا) عربي کلمه ده. (کویله) بیا په هند کې یو ډول خوش اوازه مرغۍ ده. (لوني) د پاشلو او ښورولو مانا ورکوي، (خول) تاج ته وایي او (مواس) ساتندوی ته. د محتوایي فورم له مخې دا په مدحیه یا ستاینزو شعرونو کې راځي چې شاعر په کې د خپل ممدوح توصیف کوي. د فورم له پلوه لکه څنګه چې یادونه وشوه دا یوه څلوریزه یا رباعي ده. (پاسه، لاسه، مواسه) یې د قافیې کلمې دي او ردیف نه لري. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی، یانې دا چې هره مسره یې (۱۰) څپې لري. که څه هم د سر لومړۍ مسره یې د اوسني تلفظ له مخې (۹) څپې ښکاري. خو کېدی شي د وخت په تېرېدو سره کوم لفظي بدلون په کې راغلی وي او یا هم د هغه وخت څپېز تلفظ په بل ډول وي. پر دې څلوریزې یا رباعي، د رباعي فورم ټول شرایط د تطبیق وړ دي.

# زرغون خان نورزی

## د (۸۹۰هـ) حدود

نورزي د پښتنو یوه لویه طایفه ده، چې په فـراه، هلمنـد، هـرات، ارزګان او د هېواد په نورو سیمو کې اوسي او زرغون خان په دوی کـې یو لوی جنګیالی او ادیب سړی تېر شوی دی، د پټې خزانـې مولـف د دوست محمد کاکړ د (غرغښت نامې) په حواله لیکي، چې زرغون خان اصلاً د نوزاد (زمینداور) و او د قوم مشرتوب یې کاوه، په دغو وختو کې چې د ماورالنهر شیباني خان پر هـرات او سیسـتان یرغـل وکـړ، نـو زرغون خان د وطن له مدافعینو څخه ګڼل کېده او له یرغلګرو سره یې سختې جګړې کړې وې. زرغون خان پر (۸۹۱هـ) هـرات، خراسـان او عراق (پارس) ته سفر وکړ او چې شیباني خان پر سیستان راغـی، نـو زرغون خان له خپل قومه سره له وطنه دفاع کوله او خپلـه ازادي یـې ساتله.

داسې معلومېږي، چې زرغون خان یو ملي قاید، د وطن ازادیخـواه مدافع او جنګیالی سړی و، علاوه پر دغه د قلم او علم خاونـد هـم و، لکه د ازادۍ د جګړو پر ډګر چې په مېړانه درېده، دغسې هم د علـم او ادب په میدان کې پوخ شهسوار و، لکـه پټـه خزانـه چـې د دوسـت محمدکاکړ له روایته لیکي: ((زرغون خان خورا ډېر عمر ژونـدی و او د نهایت ضعف او سپین ږیرتوب پر وخـت پـه (۹۲۱هــ) د کنـدهار پـه دهراوت کې وفات شوی دی.))

## د زرغون خان دېوان او شعرونه:

زرغون خان د پښتو ژبې ښه شاعر او د دېوان خاوند دی، چـــې دده دیوان په کجران کې پر (۹۱۲هــ) له (ملا ایوب تیمني) سره و او پر دغه کال چې دوست محمد کاکړ هرات ته ته، هلته یې دا دېـوان کتلــی و، چې (۳۰۰) پاڼې یې درلودې او دغه سړي په خپل کتاب (غرغښت نامه) کې له هغه دېوانه دا دوه یځ (مثنوي) نقل کړی دی چې د پټې خزانــې مولف هم له هغه کتابه را اخیستی دی:

### ساقینامه

ســـــــــاقــــــــي پــــــاخــــــــه پیالــــه راکـــــړه
مــــــــرور یــــــــار مـــــــې پخـــــــــلا کـــــــړه
اوبـــــه تـــــــــويې پـــــــــــه لــــــمبو کــــــړه
اور مـــــــــې مـــــــړ پـــــــه دې اوبـــــــو کـــــــړه
پـــــسرلـــــی ســــــو غـــــــونــــــچه ګـــــل کـــــا
زلفــــــــــې تــــــــــاوې د ســــــــــنبل کـــــــا
بــــــــلبلان شـــــــــــــــــور و فــــــــغان کـــــا
کړېــــــــدن پــــــــه ګلســـــــــتان کـــــــا
زاهـــــــــد وځــــــــې صـــومعــــــې ځخـــــــه
شــــــــراب پیــــــــري میخـــــــــانې ځخـــــــــه
هـــــــر ســــــــړی پـــــه مـیــــــو مســــــت دی
دې بهـــــــــار کــــــــې ګلپرســـــــــــت دی
پـــــــه راغـــــــو کـــــــې ســــــرې لمبـــــې دي

د غټولـــــــــو ننـــــــــدارې دي
جهـــان ټـــول ســـور او زرغـــون ســـو
وچ راغـــه ښـــکلي ګلګـــون ســـو
ســـړي ټـــول شـــور و شعـــــب کـــا
يـــاراني کانـــدي طلـــب کـــا
بهـــــار وخـــت د يـــــــاراني دی
ښـــــه موســـــم د پيمـــــاني دی
نـــو ســـاقي پـــــــاڅه بهـــار دی
نـــــن ژونـــدون ســـــبا رفتـــار دی
دنيـا پاتـــــــــــه مـورِ بـه څونـــه
تـــورو خـــاورو كـــې بـــه يونـــه
پيمانـــه ډكـه لـــــــه مـی كـــړه
بـــزم تـــود پـــه پيـــاپی كـــړه
چـــــــې يـــــــو دم سـمه ازاد
ناښـــاد زړه مـــــې ســـينه ښـــاد
ساقـــــې پاڅـــه وقـــت د ګـــل دی
پـــه جوشـــش كـــې خـــم د مـــل دی
وقـــــــــت د ميـــو د وېـــشو دی
د پيـــــــالو د ډكېـــــــــدو دی
هغـــــــه څـــوک اوس د پـــــېغور دی
چـــې يـــې جـــام تـــش و نســـكور دی

مســـــــتان ګـــرځي پـــه بـــاغو كـــې

مســــــتي کانــــــدي پـــــه راغــــــو کــــــې
لاس پــــــــــــه لاس دي يـــــــاراني کــــــا
يــــو پـــه بـــــل نـــــاز و نخــــرې کـــــا
مـــــــــــــــجنون وصــــل لــــه لـــيلا دی
د جمــــــــــال پـــــــه تماشــــــــا دی
نـــــه غمجـــــن ســــــته، نــــــه بېلتـــــون ســـــته
نـــــه مهجـــــور، نــــــه ځيگرخــــون ســــته
تـــــــر تــــــا وگـــــــــرزمــــــــــه راســه
ســـــــاقي يـــــو گـــــړی پخــــــلا ســـــه
ماتـــــــه جــــــام د رېــــــل ولـــــــور را
چــــې يـــو تـــش ســـي ډک يـــې نـــور را
اور مـــــې بـــــل د زړه پــــــــــه کــــــور کــــــړه
لـــــه هـــــر چـــــا هـــــر څــــه يـــې تـــور کــــړه
چــــې بـــل څــــه نــــه وي الـــــــــفت وي
ټولــــــــــه مهــــــــر و محبـــــــــت وي
ټـــــول اخــــــــلاص وي او صـــــــــفا وي
تيـــــــاره ورکــــــــه ســــــــي رڼـــــــا وي
لــــــه زړه کـــــم غــــش او دغـــــــل ســـــي
جهـــــــان ټولــــــه گـــــل او مُــــــل ســـــي
ســـــــاقي ســـــــتا مهــــــــر مطلـــــــوب دی
نــــــو بهــــــــار ځکـــــــه مرغـــــــــوب دی

کــــــه ســـــتا لــــــور پــــــــــــېرزو نــــــه وي

نو بهار به په څه ښه وي؟
خوند به نه کار رنګ د ګلو
بې مستيو، بې له مُلو
نه به بزم په شور تود سي
نه نغمې نه به سرود سي
نو ساقي پاخه بهار دی
بزم تاله اميدوار دی
ياران ناست سترګي څلور دي
ستا د جام په اميد نور دي
ته هم راسه عنايت کړه
بزم تود د محبت کړه
له سرو ملو څخه ډک جام کړه
د يارانو پې انعام کړه
چې سوړ بزم په مې تود سي
د رندانو غوړو سرود سي
د جهان وير و غم هېر کا
يو دم ښه په عشرت تېر کا
چې په مخ کې مو بېلتون دی
له جهانه سبا يون دی.

## شننه او ارزونه:

د زرغون خان د ساقينامې دغه مثنوي، د نهمې هجري پېړۍ له هغو

اثارو څخه ده، چې له پارسي سره په ښه ډول د پښتو ژبې اختلاط ښکاره کوي. ((په دغه پېړۍ کې هغه پښتانه چې په سمو او ښارو کې یې ژوند کاوه، په پوره ډول د پارسي ادب تر اثر لاندې راغلي دي، لکه دا مثنوي چې ګڼ شمېر پارسي او عربي کلمې لري، دغسې هم تخیل او د شاعر د ادا طرز او د کلام نوعیت هم تر یوه حده پارسي ته ورته دی او په دغو وختو کې چې کوم ادبي جریان په منځنۍ اسیا او خراسان کې و، دا ساقینامه یې ښه استازولي کولای شي، د پارسي ژبې په پخوانیو شاعرانو کې مخصوصاً له غزنوي دورې څخه یانې د (۴۰۰هـ) له حدودو، بزمي اشعار او خمریات ډېر شوي دي، اکثر شاعران لکه عنصري، منوچهري، عسجدي او نور د خپلو قصایدو تشبیب او نسیب په بزمي او خمري مضامینو سره کوي، وروسته (سنایي) او نور متصوف شاعران د عرفان په کتوریو کې د وحدت شراب څښي او دا نشه او کیف په عرفاني ډول په خپلو اشعارو کې نغاړي.

دا عرفاني کیف په ډېرو بزمو کې د میو او رنګینو جامونو په نشه هم اوړي او دغسې خمري اشعار په مثنوي کې په ښه ډول ځای مومي (نظامي ګنجوي) ډېرې ساقینامې لري، (عمر خیام) په خپلو رباعیاتو کې د خمري اشعارو یوه ډېره ښه نمونه دنیا ته پرېږدي، په پای کې په مثنوي سبک کې(ساقي نامه) ویل یو بېل فن ګرځي، په پارسي ادب کې یو مخصوص رنګ مومي او شاعران یې تقلید کوي.

عبدالنبي فخر الزماني چې د پارسي ژبې ساقي نامې یې سره یوه ځای کړې دي (۱۰۲۸هـ) یو غونډ کتاب یې د (میخانې) په نامه څنې ترتیب کړی دی او د نظامي، عراقي، خسرو دهلوي، حافظ، جامي او نورو پارسي شاعرانو ساقي نامې سره یوځای کوي، چې ځینې له دغو ساقي

نامو بېل بېل کتابونه ګڼل کېږي او د ظهوري تهراني (۱۰۲۵هــ مړ) ساقي نامه تقریباً زر بیته ده.

په دغو ساقینامو کې د شعراوو لار دا وه چې دوی به له ساقي څخه د سرو میو آرزو کوله، د ساقي، جام، صراحي او میو صفات به یې بیانول، د دنیا بې وفایي او په خوښۍ سره یو څو ورځې ژوندون تېرول او بــزم پــه میو تودول، د ساقینامې عمومي مضمون و. شاعر به په ســپک مثنــوي فورم کې دا مطالب لیکل او اثرناک الفــاظ او کلمــات بــه یــې پــه کــې استعمالول.

لنډه یې دا چې عجمو شاعرانو د عربو د خمریه اشعارو تقلید وکــړ او ورو ورو د (ساقي نامې) ویلو سبک په پارسي ادب کې پیدا شــو، د نــورو اسیایي ژبو شاعرانو یې هم تعقیب وکړ، خو په ســاقینامو کــې د شــاعر مهارت او استادي دا وه چې د مستۍ احوال تصویر کړي او د مستانو پــه شان خبرې وکړي، د استادانو ساقینامې ټولې له مستۍ، وجــد او ذوقــه ډکې دي او هغه شاعران چې په ســاقینامه کــې مســتي نــه کــوي او د عاقلانو په څېر ګډ وي، د دوی ساقینامې د ادب له پلوه ښــې نــه ګڼــل کېږي.

په پارسي ساقینامو کې که څه هم د( ظهوري) ساقینامه خورا مفصله او هم خوږه ده، د مستۍ او میخورۍ مختلف مناظر ښیي، خو کلام یې د مستانو په څېر نه دی. د مستانو خبرو ته نــه دی ورتــه او د یــوه نارمــل سړي وینا ده، نو ځکه دده ساقینامه هم عمومي مقبولیت نه لري او دده زر بیته د خواجه حافظ تر (۶۰) بیتو نه درنېږي.

زرغون خان هم په دې پښتو ساقینامه کې د استادانو پر لار تللــی او مستانه وینا یې کړې ده، دده شعر روان او خبرې یې هــم د مســتانو پــه

ښېر دي، ځکه نو ده ته یو کامیاب او پوخ ساقینامه ویونکی وایو او دا ساقي نامه هم د پښتو له پخو اشعارو څخه ګڼو، ځکه چې ده په خپل شعر کې د احساساتو څپې، ښکلا غوښتنه او هم د عباراتو رواني، رشاقت او خوږ سلاست سره یوځای کړي دي او په دې ټولو شیانو کې کامیاب دی.)) لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، په دې مثنوي کې د دري او عربي ژبې خپل خپل اغېز پروت دی، (فغان، ګلستان، میخانه، می، بهار، ګلپرست، جهان، ګلګون، بهار، موسم، پیمانه، رفتار، نابینا، جوش، تماشا، ځیګرخون، مهر، مرغوب، پیرزو، سرود، امیدوار، امید، رند) او ځینې نورې دري کلمې او همدا راز یو شمېر یې پښتو او دري ګډې کلمې دي، پر دري سربېره عربي کلمې هم په کې زیاتې دي، لکه (ساقي، زلف، زاهد، صومعه، شراب، شعب، طلب، بزم، وقت، ناز، مجنون، لیلا، وصل، جمال، مهجور، الفت، محبت، اخلاص، صفا، مطلوب، عنایت، انعام، عشرت) او ځینې نورې عربي کلمې دي. د دومره ګڼو دري او عربي کلمو له شتوالي څخه دا ښکاري چې دامهال پر پښتو ادب ددې ژبو خپل خپل اغېز پروت و. متروکې کلمې په کې نه شته، یوازې د (رېل) کلمه چې (د مهربانۍ او رواداری) مانا ورکوي، اوس نه کارول کېږي. د فورم له مخې دې نظم د مثنوي ټول شرایط پوره کوي، هم یې د کمیت او هم یې د محتوا د کیفیت له پلوه د مثنوي د فورم ټول تلازمات پوره کړي دي. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی، هره مسره یې (۸) څپې لري، ځینې بیتونه یې د نورو مثنویانو په شان ردیفونه لري او ځینې نور یې پر قافیه پای ته رسي. د محتوا له مخې لکه څنګه په پیل کې ورته اشاره وشوه دا یوه ساقینامه ده، په دې مانا چې محتوا یې پر خمریه مسایلو، ګل او مل راڅرخي.

# زرغونه کاکړ

## د (۹۰۰هـ) حدود

د پښتو شعر په تاریخ کې دا لومړۍ ښځه ده چې موږ يې پېژنو او د شاعرانو په ډله کې په لومړي کتار کې درېږي. که څه مېرمنو په پښتو ولسي ادبیاتو کې زیاته ونډه لرلې ده، خو په لیکلي ادب کې یې ډېرې بېلګې تر دې دمه نه دي ترلاسه شوي. یو شمېر ادبپوهان په دې نظر دي چې ((د فولکلوري ادب په تخلیق کې د پښتنو مېرمنو برخه تر نارینه وو څخه زیاته ده، خو څرنګه چې د دوی تخلیق کارو نومونه معلوم نه دي، نو له دې کبله د ادب دا دومره پراخه میدان، د ښځو د مطالعې او تحقیق په دوران کې د کومې خاصې پښتنې ادیبې، شاعرې یا ښځینې نوم ته نه شي منسوبېدی.)) (۲۹: ۲۲) دوی لنډۍ، (د میندو سندرې، د واده سندرې،ساندې، نیمکۍ، کاکړۍ، بابولالې، فالونه، چیغان او د اتڼ نارې) تر ډېره حده د مېرمنو د فکر، درد، سوز، انګېزو او فکر محصول ګڼي.

په پښتو ادب کې زرغونه کاکړه لومړنۍ پښتنه مېرمن ده چې په پښتو لیکلي ادب کې یې د کلام بېلګه تر موږه رارسېدلې ده.

دا شاعره مېرمن د کندهار د پنجوايي وه، د پلار نوم يې (ملا دین محمد کاکړ) و او دې د خپل عصر مروج علوم زده کړل، د فصاحت احکام یې ولوستل او د فصحاوو اشعار او اثار یې وویل. زرغونه د سعدالله خان نورزي په نکاح کې وه، د علم او هنر او توري خاوندان زامن یې درلودل، دې مېرمنې د خپل عصر په شاعرانو کې شهرت

درلود او ددې اشعار به يې لوستل. زرغونې پر (۹۰۳هـ) د (شيخ مصلح الدين سعدي) پارسي (بوستان) په پښتو شعر ترجمه کړ. دا مېرمن علاوه پر شعر او ادب د ښه خط خاونده هم وه او د خط ډېر اقسام يې ليکلای شول، داسې خوش خطه وه چې کاتبانو به يې له خطه زده کړه کوله او لکه د پټې خزانې مولف چې ليکلي دي: ((دې په خپل ښه خط خپل پښتو کړی بوستان کښلی و چې مرغلرو يې خط ته عاجزي کوله.))

## د زرغونې کاکړ شعرونه:

د پټې خزانې په روايت زرغونې غزليات او د اشعارو نور اقسام هم درلودل، چې په فصحاوو کې مشهوره وه، خو په خواشينۍ سره چې له هغو څخه اوس کومه نمونه نه لرو، يوازې د هغې له پښتو بوستانه يو حکايت د پټې خزانې مولف رانقل کړی، چې د زرغونې د کلام سلاست او متانت ځنې ښکاري.

که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو لپاره يوه مخصوصه ډله ومنو، نو زرغونه به له خپل بوستانه سره د هغو په سر کې ولاړه وي، ځکه چې تر دې دمخه يو اخلاقي شاعر چې مستقل اثر ولري، موږ ته نه دی معلوم او زرغونه د شيخ سعدي د بوستان په منظومه ژباړه د اخلاقي شاعرانو له ډلې څخه بللای شو.

هغه حکايت چې زرغونې ژباړلی او د زرغونې له بوستانه پاتې دی، دادی:

اور بدلې مې قيصه ده | چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار | بايزيد چې و رويدار
له حمامه راوتلی | په کوڅه کې تېربدلی
ايرې خاورې چا له بامه | راچپه کړلې ناپامه

مــــخ او ســـر يـــې ســــو ککړ
پــه ايــرو پــه خــاورو خــړ

بـا يــزيد پـــه شکــر کــښو ســو
د خپـل مـخ پـه پاکېـدو سـو

چـــــې زه وړيـــــم د بـــــل اور
چې په اور کې سم نسکور

لـــــه ايــرو بـــه څـــه بد وړمـــــه
يـــا بـــه لـــړ شـــکوه کومـــه

هـــو پـــــو هـــانو ځـــان ايـرې کړ
لـه لـوينې يـې ځـان پـرې کړ

څوک چې ځـان تــه ګـــوري تـــل
خدای تـه نـه سـي کـړای کتـل

لـــــويـــي تــــــل پـــه ګفتار نـــه ده
لـــو خبــره پـــه کـــار نـــه ده

تـــــواضع بـــــه دې سر لـــوړ کـــا
تکبـر بـه دې تـل ځـوړ کـا.

## شننه او ارزونه:

د زرغونې کاکړ ددې حکايت له مخې لازمه ده چې د پښــتو ادب په لرغونې دوره کې د پښتو حکايتي اثارو ته هم لږ تم شو:

د زرغونې کاکړ له دې حکايت سره په پښتو کې د حکايتي اثــارو لړۍ هم پيلېږي، له اصطلاحي پلوه ځينې په دې نظر دي چې حکايت د لنډې کيسې داسې يو ډول دی چې په هغه کې اخلاقي درسونه يــا مسايل نغښتي وي، دا درسونه يا مسايل د حکايت په وروستۍ برخــه کې لوستونکو ته په ډاګه کېږي. د حکايت کرکترونه يــا شخصــيتونه سړي، څاروي يا بې روحه شيان وي، کله چې حيوانــات د حکايــت د شخصيت په توګه څرګندېږي، نو د انسان په شان خبرې کوي او لــه خپل ځانه انساني احساسات څرګندوي، حکايتونه معمولاً په داســې ډول ليکل کېږي چې لوستونکی په اسانۍ سره پــر هغــو پوهېــدلای شي. هغه ادبيات چې په حکاياتو کې کارېږي، هغو ته تعليمي ادبيــات هم وايي.

د زرغونې کاکړ حکايت هم داستاني بڼــه لــري او د حکايــت لــه تعريف سره سم پوره حکايت ګڼل کېږي. حکايتونه په پښتو ادبيــاتو

کې معمولاً په منظوم ډول افاده کېږي، خو دا په دې مانا نــه ده چــې نثري حکایتونه نه شته، په کلیو او بانډو کې له پخوا زمانو څخه ګڼ‌ني حکایتونه، کیسې یا داستانونه وو چې په خوله په خوله له یوه پښته بل ته لېږدېدلي دي.

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې لږ تر لږه موږ دوه داسې اثار لـرو چــې داستاني بڼه لري او د حکایتي یا کیسه ییز بیان لرونکي دي، پــه دې کې یو په خپله د زرغونې کاکړ حکایت دی او بل د دوست محمد کاکړ (غرښتنامه) ده چې هغه هم په مثنوي فورم کې ویــل شــوې او هــم حکایتي بڼه لري.

له لغوي پلوه د زرغونې کاکړې دا نظم لــه پښــتو، دري او عربــي کلمو څخه رغېدلی دی. دري کلمې په کې کمې (رویدار، ګفتار) دي او کومه بله مشترکه کلمه که لري. (قوم، له ((بــا)) پرتــه یزیــد، شــکر، شکوه، تواضع او تکبر) بیا عربي کلمې دي، نور ټول نظــم لــه پښــتو کلمو څخه جوړ شوی. ژبه یې روانه، خوږه او پسته ده، همغــه کلمــې چې په دې نظم کې کارېدلي اوس هم په ژبه کــې کــارېږي، متروکــې کلمې په کې نه شته. د فورم له مخې دا یوه مثنوي ده چې هــر بیــت یې ځانګړې قافیه لري، ځینې بیتونه یــې ردیفونــه هــم لــري. ټولــه مثنوي (۱۲) بیته ده. د مسرو د قافیو شمېر یې ســره مســاوي، هــره مسره یې (۸) (۸) څپې لري. یو روان، سلیس او خوږ شعر دی چې په مانا او تلفظ دواړو کې یې څوک له سترېا او خنډ سره نه مخــامخېږي او په اسانۍ سره ترې خوند او لذت اخیستلای شــي. کــه د زرغــونې کاکړې دېته ورته د کلام نورې بېلګې ترلاسه شوې وای، نــو د پښــتو ادب لمن به پرې ډېره ښکلې شوې وای.

# رابعه

## د (۹۲۰هـ) حدود

تر زرغونې کاکړ وروسته بله شاعره مېرمن رابعه ده، چې دا هم په هغه عصر په کندهار کې اوسېدله. ددې شاعرې نور احوال موږ ته نه دي ښکاره، د پټې خزانې مولف یې په لنډ ډول هسې معرفي کوي، ((حال ددې شاعرې ماته نه دی معلوم سوی، خو لږ څه چې ښکاره ده، هغه هسې ده چې دا شاعره د قندهار وه او په دوران د محمد بابر پادشاه یې ژوند کاوه.)) (۵۱: ۱۹۴)

پټه خزانه رابعه د ډېرو اشعارو خاونده ګڼي، یو دېوان یې هم درلود، خو په خواشینۍ سره چې ددې له اشعارو څخه بله نمونه نه ده لیدل شوې، یوازې د هغه کتاب مولف د خپل ملګري (محمد طاهر جمریاڼي) له خولې دغه رباعي رانقلوي:

ادم یې مځکې وته را ستون کا
په اور د غم یې سوی لړمون کا
دوزخ یې روغ کا، پرمخ د مځکې
نوم یې د هغه دلته بېلتون کا.

## شننه او ارزونه:

له دغې یوې رباعي څخه چې د رابعې له کلامه موږ ته پاتې ده، دومره معلومولای شو چې رابعه د پښتو د لومړنۍ ادبي دورې د وروستۍ برخې ښه شاعره ده او په کلام کې یې جزالت او سلاست

دواړه لیدل کېږي او ښایي چې اشعار به یې هم عشقي وو او دېوان بــه یې د پښتو له ښو اثارو څخه و.

د رابعې دا څلوریزه له لغوي پلوه له سوچه پښتو کلمــو جــوړه ده، یوازې (ادم) او (دوزخ) یې عربي کلمــې دي، د هجــران د ســوز او درد تصویر په کې انځوروي، لکه څنګه چې یادونه وشوه دا نظم د فورم لــه مخې یوه رباعي یا څلوریزه ده. (راستون، لړمون او بېلتون) یې د قافیې کلمې دي، (کا، کا) یې ردیف دی، د جوړښت له مخــې د څلــوریزې یــا رباعي ټول خصوصیات پوره کوي، هره مسره یې (لــس ) (لــس) څپــې لري.

(زرغونه کاکړ) او (رابعه) د پښتو ادب پــه لرغــونې دوره کــې هغــه ښځمنې شاعرانې دي چې تر موږه یې د کلام بېلګې رارسېدلې دي، تر دې وروسته بیا مېرمن نېکبخته ده چې پر خپل ځای بــه پــرې بحــث وشي، تر دې دریو شاعرانو زیاتې د نورو ښځینه شاعرانو څرک نه لګي، خو دا په دې مانا نه ده چې په لرغــونې دوره کــې دې نــورې ښــځینه شاعرانې هېڅ نه وي، لکه څنګه چې د بېلابېلو عواملــو لــه املــه پــه لرغونې دوره کې موږ خپله زیاته ادبي پانګه له لاسه ورکــړې، نــو ددې اټکل هم کېدی شي چې په دې دوره کې به د نورو ادبي اثارو په شان د ښځمنو شاعرانو ادبي پانګه هم له لاسه وتلې وي. خو د زرغونې کاکړې او همدارنګه د رابعې او مېرمن نېکبختې له دې شعري بېلګو څخــه دا جوتېږي چې پښتنو مېرمنو هم پښتو ادب ته ډېر خــه ورکــړي، خــو د زمانې ناخوالو د هغو یوه زیاته برخه له موږه مروړلې ده.

# دوست محمد کاکړ

## د (۹۲۰هـ) حدود

دوست محمد د (بابړ خان کاکړ) زوی دی، چې د کاکړستان په ژوب کې اوسېده، دده پلار هم عالم او شاعر سړی و، چې یــو کتــاب یــې د ((تذکره غرغښت)) په نامه نظم کړی و، دوست محمد علــم او ادب لــه پلاره په ارث وړي وو او د کاکړو د علمي او ادبي (عشیرې) یو پخــوانی ادیب دی.

دی پر (۹۱۳هـ) له ژوبه هرات ته ولاړ او هلتــه یــې د (کــاکړ بابــا) زیارت وکړ، پر (۹۲۹هـ) یې خپل یو کتاب ((غرغښت نامه)) نظم کــړ او د غرغښت نیکه احوال یې په کې په مثنوي ولیکه.

لکه پټه خزانه چې لیکي: د دوست محمد کاکړ (غرغښت نامه) هغه حکایات وو چې بابړخان د ((تذکره غرغښت)) په نامه نظــم کــړي وو، ځرنګه چې هغه کتاب ورک شوی و، نو دوســت محمــد د ((غرغښــت نامې)) په نوي نامه بیا وپېودله. دا کتاب په لړ وخت کې د پښــتنو پــه ادبي محافلو کې مشهور شو، ځرنګه چې اخلاقي منظومې یې لرلې، نو یو درسي او تدریسي کتاب ګڼل کېده او پښتنو هلکانو بــه درس کــې لوست. په کندهار کې د پټې خزانې د مولف کورنۍ چې یو باذوقه ادبي کهول و، دوی هم ددې کتاب نسخې د کــوړک غــره پــه (توبــه) کــې میندلې وې او په کورنیو مکتبو کې یې د درسي کتاب په توګه هلکــانو ته لوست، داسې ښکاري چې (غرغښت نامې) د غرغښــت نیکــه لــه احواله زیات ځینې نور مضامین هم درلودل، لکه ځرنګه چې د زرغــون خان ساقینامه چې دمخه یې یادونه وشوه، هم د پټې خزانې مولف لــه ((غرغښت نامې)) ځخه رانقل کړې ده او هم دا لاندې حکایت په کاکړ پورې چې د غرغښت له اولادې ځخه دی، اړه لري، ځرنګــه چــې اوس

ددغه کتاب نسخه نه شته، نو تر دې زيات نور څه نه شو پرې ويلای.

((غرغښت نامه)) د پښتو ژبې په اخلاقي شاعرۍ کې د زرغونې کاکړ تر بوستان راوروسته ډېر پخوانی کتاب دی، له دغه يوه حکايته چې پټې خزانې ځنې رانقل کړی دی، معلومېږي، چې لنډه مثنوي وه او ژبه يې هم سليسه او روانه وه:

## حکايت له غرغښت نامې څخه

له نېکانو روايت دی هسې توګه حکايت دی
نورمحمد کاکړ راوي دی چې يې فيض تل جاري دی
د نيکونو له خولې وايي چې منښت يې راته ښايي
چې کاکړ نيکه زاهد و لوی څښتن له تل عابد و
تل تر تل يې عبادت کا پر دې ليار يې رياضت کا
شپې يې روڼې په لمانځووې په ژړاوو په ناروو وې
نه يې خوب نه يې خوراک و عبادت يې ژوند و ژواک و
چې به کېناست په لمانځنه يا به کېوت په ستاينه
ورځ يې ټوله په قعده وه شپه يې هم يوه سجده وه
تل يې سير د لاهوت کا په يوه ګوله يې قوت کا
غرق به تل په ذکر الله و هر سبا او هر بېګاه و
يوه شپه يې عبادت کا پر ګناه يې ندامت کا
سترګې پټې سوې له خوبه په شپو شپو يې و ويښتوبه
هسې خوب يې وليد ګرانه چې غرغښت ښيي پنهانه
وايي ای کاکړه زويه له تا خوښ يمه نېکخويه
ستا قدم زما پر لار دی ماسوا کې دې قرار دی
شپه و ورځ دې ده لمانځنه د څښتن عبادت کړنه.
ولې پاته له تا نور دي شپې او ورځې دې په کور دي
څه جهاد کړه پر تا فرض دی دا هم ستا د غاړې قرض دی
يوه ورځ جهاد افضل تر کلو کلو لمانځل
څوک چې تل لمنځ و روژه کا په جهاد به يې پوره کا
لومړی شرط د دين همدا دی بيا خدمت د خلق الله دی

تــــوره واخلـــه مجاهـــــد شـــــه
د لـوی خـدای د دیـن قاصـد شـه

د خـدای نـور پـر جهـان خپـور کـړه
دا خـدمت یـې پـه ځـان پـور کـړه

چـــې دې بشـــپړ عبـــادت ســـي
ځان دې خلاص لـه معصیت سي

چـې لـــه خوبــه ویښ کـــاکړ ســو
د غـــزا پـــر خـــوا نـــومړ ســـو

زغـــره خـــول یـــې اراســـته کـــړل
د غـــــزا غشـــــې تېـــــره کـــــړل

هــرات خــوا تــه پــه تلــو تلــو ســو
د ســـلطان غیـــاث لـــه ملـــو ســـو

وې کـــــړه هـــــورې جهادونـــــه
د ســـلطان مـــل ســـو پـــه ملونـــه

ځـــو هـــورې تـــر دنیـــا تېـــر ســـو
د غازیـــانو پـــه ټـــول شـــمېر ســـو

چـــې یـــې هلتـــه هـــم وفـــات ســـو
ښـــخ پـــه خـــاورو د هـــرات ســـو

مېـــړه هســـې ژونـــدون کانـــدي
مـــري د خـــدای پـــه رضـــا بانـــدې.

## شننه او ارزونه:

**دا یوه ټوټه اخلاقي مثنوي چې له غرغښت نامې څخه زمـوږ پـه لاس کې ده، د پښتو د اخلاقي شعر غوره نمونه ګڼل کېږي. د منځنۍ اسیا په شاعرۍ کې اخلاقي برخه له پخوا څخه ګڼه ده، هر شاعر کـه څه هم اساساً بزمي یا رزمي وي، په شعر کې اخلاقـي پانګـه لـري، د پارسي شاعرانو په لومړنیو اشعارو کې هم اخلاقي ټوټې شته.**

**له اکثرو پخوانو شاعرانو لکه ابو سلیک (د ۲۷۰هـ حدود)، شهید بلخي ( د ۳۰۰هـ حدود)، رودکي ( د ۳۰۰هـــ حـدود) او نـورو څخـه اخلاقي ټوټې او اشعار رانقل شوي دي، د فردوسي شهنامه هم غـوره اخلاقي پانګه لري، اما په مستقل ډول د پارسي پخوانی شـاعر چـې**

اخلاقي مستقل کتاب یې نظم کړ، ابو محمد بدیع بلخـــي دی، چـــې د سلطان محمود معاصر دی، د (۴۰۰هــ حدود) دې سړي د (نوشـــېروان پندنامه) په پارسي نظم کړه او تر ده وروسته ســـنایي غزنـــوي، نظـــام ګنجوی، ناصر خسرو، علوي او نور ډېر شاعران راغلـــل او پـــه خپلـــو اشعارو کې یې اخلاقي برخه ډېره کـــړه، د ســـنایي غزنـــوي (حدیقـــة الحقیقه) د اخلاقو او تصوف پوخ او بې مثاله اثر دی، د ناصرو خســـرو (روشنایی نامه) او (سعادت نامه) هم په فلسفي اخلاقي رنګ کـــې د پارسي ژبې ډېر ښه اثار دي، خو د شیراز شیخ سعدي پـــه خپلـــو دوو کتابو (ګلستان او بوستان) دا بڼ هسې ښـــکلی او تـــازه کـــړ، چـــې د اخلاقي شاعرۍ دوه شهکاره ګڼل کېږي.

په پښتو شعر کې هم یو اخلاقي مستقل کتاب ښـــایي چـــې دغـــه ((غرغښت نامه)) وي او ددې کتاب له وجوده مـــوږ څـــرک ایســـتلای شو، چې د پښتو اخلاقي شاعرۍ هم په پخوانۍ دوره کې رواج درلود او له دې پلوه هم دا ژبه بې پانګې نه ده، څرنګه چې عموماً د پارســـي ژبې اخلاقي اشعار د مثنوي په ډول دي، نو ((د غرغښت نامې)) مولف هم خپل کتاب په مثنوي کې پیودلی دی او وروسته چې په پښتو کې هم ځینې مستقل اخلاقي کتابونه نظم شوي دي، په مثنوي فورم کې دي. ددې کار یو علت شاید دا وي چې د مثنوي فورم په اسانۍ ســـره د زیاتو مطالبو او پیغامونو د ځایونې ظرفیت لري.

له دغې یوې ببلګې څخه چې له ((غرغښت نامې)) څخه پاتې ده،

داسې ښکاري، چې د کتاب ژبه ډېره روانه وه او مقاصد يې هــم لنــډ لنډ ادا شوي دي، حشو او زوايد نه لري، له ابهامه خالي شعر دی او دا هم ښکاره کوي، چې په دغو وختو کې ډېر پارسي او عربي کلمات په پښتو ادب کې داخل شوي او د تابعيت حق يې پوره موندلی و.

د زرغون خان ساقي نامه خو تاسې ولوســتله، هغــه د هلمنــد او ارغنداو د غاړو او ورشوګانو ژبه وه، څرنګه چې له پارسي ژبــې ســره نږدې او ګاونډې وه، باید هــم د پارســي اثــر پــر لوېــدلی وای، خــو ((غرغښت نامه)) په ژوب او د سلیمان د غره په لمنو کې نظم شــوې ده، خو سره له دې هم د هغې ساقينامې له ژبې سره څه ښکاره فرق نه لري او له دې څخه نتيجه اخلو چې په دغو وختــو کــې د پښــتنو اختلاط ډېر شوی او ژبې يو متحد او مثبت ادبي معيار موندلی دی.

البته ددې خبرې يادول هم ضروري دي، که څــه هــم دا مهــال د پارسي ادب لمن ډېره پراخه شوې وه او پر پښتو ادب يې له ژبنــي او محتوايي پلوه اغېز درلود، خو په (غرښت نامه) کــې د پارســي ژبــې ژبنی اغېز ډېر نه ښکاري، يوازې درې څلــور پارســي کلمــې پــه دې مثنوي کې تر سترګو کېږي، لکه (جهان، اراســته، پنهــان) او ځينــې نورې سره مشترکې کلمې، خو د عربي ژبې د کلمو کمی پــه کــې نــه شته. څرنګه چې دا شعر اساساً ديني محتوا لري، نو د ديني محتوا د بيان لپاره عربي کلمو ته زياته اړتيا ده، نو ددغسې اړتيا لپاره ليکوال، ناظم ياشاعر شعر اړ دی چې د خپل پيغام د بيان لپاره له همدې کلمو

ځخه ګټه پورته کړي، په دې نظم کې (روایــت، حکایــت، نورمحمــد، راوي، فیض، زاهد، عابد، عبادت، ریاضــت، قعــده، ســجده، لاهــوت، قوت، غرق، ذکرالله، سلامت، جهاد، فرض، قرض، افضل، شرط، دیــن، خدمت، خلق الله، مجاهد، نور، خدمت، معصیت، غزا، سلطان، غیاث، وفات، رضا) او ځینې عربي کلمې دي، یانې د ټول نظم نــږدې پنځــه لس سلنه.

پر دې نظم د مثنوي فورم پوره د تطبیق وړ دی، ټوله مثنوي (۳۳) بیتونه لري، ځینې بیتونه یې د نورو مثنویاتو په شان قافیه او ردیــف دواړه لري او ځینې یې په قافیې پایته رسي. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی؛ هــره مســره یــې (۸) څپــې لــري. مشــترک وزن تعقیبوي، روان، ساده او عامه فهمه نظم دی، محتوا یې دیني اخلاقي مسایل دي چې له سره تر پایه همدا یوه موضوع رانغاړي.

# شیخ عیسی مشوانی

## ( ۹۴۷هـ) حدود

مشوانې د پښتنو يو قوم دی چې د کاکړو يوه پښه ګڼله کېږي، يوه برخه يې په کونړ، د کابل په کوهدامن او نورو سيمو کې اوسي، نور شاوخوا سوداګري کوي او له پخوا څخه د هند په لتو کې هم خپاره شوي دي.

شيخ عيسی هم له دې قومه د پښتو ادب د لرغونې دورې د وروستي پړاو شاعر دی، چې د شېرشاه سوري پښتانه شهنشاه معاصر و، نعمت الله هروي په (مخزن افغاني) کې دده د ژوندانه بيان ليکي، چې د هند په (دامله) کې اوسېده او هلته يې مځکې او پټي درلودل، شېرشاه ته چا وويل چې شيخ عيسی شراب خوري، خو د شېرشاه سړی چې ورغی په صراحي کې شيدې وې.

د شيخ عيسی احوال د پټې خزانې مولف هم کټ مټ له (مخزن افغاني) څخه نقل کوي او وايي چې دی لوی ولي و او د خدای په توحيد کې يې په پښتو، پارسي او هندي شعرونه ويل.

دده نور احوال مونږ ته نه دي معلوم، خو چې شېرشاه سوري پر (۹۴۷هـ) د هند پر تخت کېنستلی دی، نو مونږ د شيخ عيسی د ژوندانه وخت تر (۹۰۰هـ) وروسته ټاکلای شو.

## د شیخ عیسی شعرونه:

مخزن افغاني د شیخ عیسی پښتو، پارسي او هندي یــو یــو شــعر رانقلوي، خو په خواشینۍ سره دغه اشعار کابتانو مسخ کــړي دي. پــه ښه ډول نه ویل کېږي، د پټې خزانې مولف هم له مخزنه دده یو پښــتو شعر داسې رانقل کړی دی:

پــه خپلــه کــار کــړې، خپلــه انکــار کــړې
کلــه بــادار یــې، کلــه مــې خــوار کــړې
تــه خــو قــادر یــې، پــه صــفتونو
کلــه مــې نــور کــړې، کلــه مــې نــار کــړې
((عیســـی)) حیــران دی، پــه دې شــیونو
کلــه مــې یــار کــړې، کلــه اغیــار کــړې.

## شننه او ارزونه:

له دغو بیتونو څخه ښکاره ده، چې شیخ عیسی له پخو متصوفینو څخه و او په هغه شان وینا لري، لکه د هرات خواجــه انصــاري او نــور عارفان چې له خدایه سره راز او نیاز کوي.

د نعمت الله له لیکنې څخه معلــومېږي چــې شــیخ عیســی یــوه ((رساله)) درلوده چې د دریو ژبو اشعار یې په کې لیکلي وو، چــې لــه هغو څخه یې یو پښتو لوړ شعر، یو پارسي بیت او څو هندي اشــعار دی په مخزن کې نقل کوي او په دې ډول شیخ عیسی له هغو پښتنو څخه دی چې خپله ژبه یې په هند کې هم ساتلې وه او په دغه دور کې د یــو ګډ افغاني او هندي ثقافت ممثل و. داسې ښکاري چې د شیخ عیســی

پورتنی شعر هم پوره نه دی رانقل شوی، کېدی شي د اوږده شـعر يـو بند يې رانقل شوی وي، ځکه له دې شعره داسې ښکاري چـې نـورې برخې به يې هم وي. شعر له مانا ډک ښکاري، نو د مانـا د پـوره بيـان لپاره د نظم امتداد ته اړتيا احساسېږي. که څه هم د نظم په وروسـتۍ برخه کې (عيسی) خپل نوم هم راوړی او دا کـار معمـولاً د شـعر پـه وروستي بند يا بيت کې ترسره کېږي، خو په ټوليز ډول چـې مـوږ دې درې بيتيز شعر ته ګورو او د هغه مانا ته، نو داسې ورڅخه ښکاري چې مانا ټوله نه ده خلاصه شوې او کېدی شي نورې برخـې يـې وي چـې نقلوونکي نه وي رانقل کړې. په دې شعر کې له لغـوي پلـوه (بـادار) د پارسي ژبې  کلمه ده. (انکار، قادر، صفت، نور، نار او اغيار) عربي کلمې دي، څرنګه چې دا نظم شپږ مسرې لري د کوم کوټلي او خـاص فـورم بڼه نه راخپلوي، د غزل فورم ته هم په بشپړ ډول ځکه نه ورداخلېـږي چې د بيتونو شمېر يې د هغه تر معمول تعريفه کم دی. د سـر لـومړی بيت يې مقفی دی، د دوو نورو بيتونو قافيه يې هم د سـر بيـت قافيـه تعقيبوي. (انکار، خوار، نار او اغيار) يې د قافيې کلمې دي، (کړې کړې) يې رديف دی. که چېرې د بيتونو شمېر يې په همـدې ډول غځېـدلای وای او همدا وزن و اهنګ يې تعقيب کړی وای، نو کېدی شـي د مـاتې غزلې بڼه يې خپله کړې وای. ماته غزل دېته وايي چې يوه مسره يې په واقعيت کې په منځه ملا کې نيمه وي، يانې دا چې د مسرې ټولې څپې يې د اهنګ له پلوه پر دوو برخو وېشل کېږي. نيمې يوې او نيمې بلـې خواته پاتې کېږي، تر نيمايي پورې وزن يا اهنګ ځي بيا خنډ يـا ځنـډ واقع کېږي او بيا نيمايي اهنګ د مساوي څپو په شمېر سره جـوړېږي، نو دېته ماته غزل وايي. دلته هم وګورئ همدا حالت دی (په خپله کـار

کړې) تر دې ځایه (۵) څپې یو اهنګ دی بیا لړ وقفه (خپله انکار کړې) د هغه په تعقیب بل اهنګ دی چې دا هم پنځه څپې دي، نـوري (۵) مسرې هم همدا حالت لري. (کله بادار یې)، (کله مې خوار کـړې)، (تـه خو قادر یې)، (په صفتونو) (کله مې نور کړې)، (کلـه مــې نـار کـړې)، (عیسی حیران دی)، (په دې شیونو)، (کله مې یار کړې) او (کله اغیـار کړې). ټول یو شان قاعده تعقیبوي، یانې دا چې هره مسره یې پـر مـلا ماته ده، نو ځکه ورته ماته غزل وایي. که دې نظم ترپایه د غزل بیتونـه پوره کړي وای، نو د ماتې غزلې تر قاعدې لاندې راته.

# شیخ بستان بړېڅ

## د (۹۶۰هـ) حدود

شیخ بستان د پښتنو له ادبي او روحاني نومیالیو څخه دی او پلار یې د کندهار په (ښوراوک) کې اوسېده، چې نوم یې (محمد اکرام) او روحاني سړی و، دی قوماً بړېڅ و، له ښوراوکه ولاړ د هلمند پر غاړه یې دروېشانه ژوند کاوه او پر عبادت به بوخت و. بستان له خپله پلاره فیض وموند او د ځوانۍ په عمر کې هند ته ولاړ او په سیر او سیاحت مشغول شو.

دې افاقي سیر زموږ شاعر پوخ کړ او د فطرت پر مطالعه بوخت شو. شیخ بستان د پښتو ژبې شاعر، لیکوال او مولف دی، چې مورخان یې ښه پېژني او دده روحاني شهرت هم تر ادبي خوا لږ نه و، نعمت الله مورخ لیکي:

((په ځوانۍ کې له روهه هندوستان ته راغی، په سمانه کې مېشت شو او د تجارت په لباس کې یې ځان پټاوه، تل به یې حزین صورت ویل او خلک به یې په دردناک حالت ژړول.))

د مخزن له دې بیانه زموږ د شاعر اخلاقي هویت ښه ښکاري او دا څرګندوي چې شیخ بستان سیاح او ګرځند سړی و او د عمر تر پایه هم پر سیاحت بوخت و، نعمت الله د عمر په اخر کې د بستان ملګری و او له ده څخه یې خوارق لیدلي وو، دی وایي چې د دریاب په سفر کې د بستان مل وم، چې د ګجرات احمداباد ته راغلو، شیخ راته وویل چې زما عمر تمام دی او هم دلې د جمعې پر ورځ چې د ربیع الثاني (۱۱)مه

وه، پر (۱۰۰۲هـ) کال د اسهال په مرض د ماسپښين تر لمانځه وروسته مړ شو او هم هورې ښخ شوی.

### تالیف او شعرونه:

شیخ بستان که څه هم پر کور ناست سړی نه و او عمر یې په سیر او سیاحت تېراوه، خو بیا هم کوم وخت چې د جهان لــه مطــالعې فــارغ شوی دی، نو یې قلم را اخیستی او په پښتو یې ښه اثار لیکلي دي.

ترمرګ څلور کاله دمخه دی پر (۹۹۸هـ) کال خپل وطن ته راغی او د خپلو مطالعاتو نتایج یې په یوه کتــاب کــې راټــول کــړل چــې نــوم یې((بستان الاولیاء)) و.

د پټې خزانې له بیانه ښکاره ده، چې دا کتاب هم د روحاني خلکــو تاریخ و او هم د پښتنو رجالو او مشاهیرو اشعار او احوال په کې وو، لکه چې محمد هوتک د خپل پلار په روایت چې دغه کتاب یې د ښــوراوک د حسن خان په کور کې لیدلی و، د شیخ تــیمن اشــعار او احــوال لــه ((بستان الاولیاء)) څخه رانقل کړي دي. له دې څخه نو دا خبــره ښــه کاري چې بستان الاولیاء د پښتو شاعرانو احوال او اشعار هم درلــودل او علاوه پر دې شیخ خپل اشعار هم په کې راوړي وو او په دې مقصد د پټې خزانې مولف هم تصریح کوي، نو بستان د خپل عصر شاعر، مولف او مورخ سړی و چې په پښتو یې اشعار ویل او روحاني ژوند یې کاوه، د عشق او مینې په اور سوی و. محمد هوتک د خپل پــلار لــه خــولې د شیخ بستان یوه بدله رانقلوي، چې د ولسي شعر په وزن ده او لــه دې څخه ښکاري چې د بستان په شعر کې (لکه نعمت الله چې هم لیکلــي دي) د تغني او ترنم خوا غالبه وه.

د مینې اور دې زمـا زړګـی وریـت پـه انګـار کـئ نـا
ښـې تـار و نـار کـئ نـا
خـود بـه ویلېږم چې مې زړه پـر تـا مفتـون کـئ نـا
ځـان مـې زبـون کـئ نـا
اوښکې مې ځـاځي پـر ګرېوان یو وار نظر کـه پرمـا
راسـه ګـذر کـه پرمـا

وکـه نظـر زمـا پـر حـال چې پـروت رنځـور یمـه تـل
پـه ویـر ناسـور یمـه تـل
لـه زړه مې ځـاځي وینې سور پـه وینو خپـل یمـه تـل
پـه اور جلبـل یمـه تـل
اوښکې مې ځـاځي پـر ګرېوان یو وار نظر کـه پر مـا
راسـه ګـذر کـه پـر مـا

لـه درده، سـوزه تـل نـارې او غلبلـې وهمـه
کـړې سـورې همـه
یـو آن مـې چېـرې نـه ارام نـه ټیکاونـه وینـم
نـه راحـت کړنـه وینـم
اوښکې مې ځـاځي پـر ګرېوان یو وار نظر کـه پر مـا
راسـه ګـذر کـه پـر مـا

د خـوږو زړو لـه حالـه تـه یـې ای بـاداره اګـاه
یـې د بېوزلـو همـراه
د خپـل عـزت پـه روی ((بسـتان)) تـه کـړه د مهـر ښندل
کـړې لـه ګناهـه ګواښـل
اوښکې مې ځـاځي پـر ګرېوان یو وار نظر کـه پر مـا
راسـه ګـذر کـه پـر مـا

## شننه او ارزونه:

**دا بدله د پښتو د ملي شعر یو خاص وزم راښیي، چې تکرارېدونکی کسر هم لري او په ملي وزمو کې د تغني او ترنم یو خاص مزیت څرګندوي، داسې اشعار د غږ یا وزن د پوره کولو او د موسیقیت لپاره کله کله د کلماتو په پای کې ځینې اهنګین لغتونه لري چې هم د شعر څپېز جوړښت بشپړوي او هم د ترنم لپاره غږ ته دوام ورکوي، چې په پښتو عروضو کې دغه کیفیت ډېر لیدل کېږي. ددې بدلې په لومړي بند کې د بیت اخر ته د مانا د تکمیل لپاره فقط (کئ) کافي وو، خو د ترنم لپاره (نا) ورسره نښتی دی. دا وروستۍ برخه د ګرامر له مخې بالکل زایده ده، خو د وزن او موسیقیت له پلوه ضروري ګڼل کېږي.**

که څه هم دا بدله د پښتو پر سوچه وزن و اهنګ سوره ده، له پارسي او عربي وزنونو څخه لرې ده، خو له لغوي او ژبني پلوه ددې ژبو له کلمو څخه لرې نه ده پاتې شوې، (مفتون، زبون، ګذر، بادار، اګاه، همراه) دري کلمې او (نظر، حال، راحت، عزت) او ځینې نورې عربي کلمې دي.

دا بدله څلور بندونه لري، هر بند یې له دریو لویو او دریو وړو مسرو څخه جوړ دی لویې مسرې په خپل منځ کې د سېلابونو د شمېر له مخې سره مساوي دي، یانې هره مسره یې (۱۵) څپې لري او په وړو مسرو کې (ځان مې زبون کړ نا) څخه پرته چې (۶) څپې لري، نورې ټولې مسرې (۷) څپې لري. د لنډو او اوږدو مسرو د څپېز جوړښت دغه سمون د نظم وزن او اهنګ سره پوره کړی او د یوې خوږې او پوره موسیقي والې بدلې رنګ او خوند یې ورته په برخه کړی دی.

# علي سرور لودي

## د (۹۶۰هـ) حدود

علي سرور په قوم (شاهوخېل) لودي و، چې د هندوستان لــه هغــو لودي اديبانو او عارفانو څخه ګڼل کېږي، چې دمخه مو ذکر کړل. دده احوال او خوارق مخزن افغاني بيانوي او د پټې خزانې مولف يې هــم د ((تحفة صالح)) کتاب په حواله احوال راوړی او داسې ښکاري، چې دی متقي، پارسا او متصوف سړی و، د خپل عصر رهبــر بلــل کېــده او پــه ملتان کې به يې ژوند کاوه.

علي سرور د ارشاد او تدريس حلقه درلوده او ډېر خلک يې مريدان وو دده عمر په وعظ او ارشاد کې تېر شوی دی او د لسمې پېړۍ په پای کې ژوندی و.

نعمت الله مورخ وايي چې علي سرور د ملتان د کهرور (کــرور) پــه کلي کې اوسېده، مستجاب الدعوات و او د ېرش کاله اوږد، ونه غځېــد او نه ښويېده، يوه ورځ يوه نايي سر ورخرايه، ويې ويل، چې (شيخ نجم الدين کبری) به په يوه کتنه خلک د کشف خاوندان کول، علي ســرور ورته وويل چې دا خو اسانه کار دی، نو چې نايي له خپله کاره فارغ شو، بل حال پرې راغی، د کشف درجې ته ورسېده او په عبادت او رياضــت مشغول شو، له دې کيسې څخه د علي سرور د ژونــد دود او د خلکــو نظر چې ده ته يې درلود، ښه ښکاري او د ((تحفة صــالح)) لــه روايتــه څرګندېږي، چې دی د خلکو مرجع و او عرفاني او علمي مشکلات بــه يې دده په فکر حلول.

## د علي سرور لودي وينا او شعرونه:

پټې خزانې د ((تحفة صالح)) په حواله د علي سرور لودي يو تقرير هسې رانقل کړی دی: ((يوه ورځ سوال ځنې وشو چې:

((پس ترا هر لحظه مرگی رجعتی است

مصطفی فرمود دنيا ساعتی است))

څه مقصد لري؟ زموږ مرگ و رجعت کله دايم او مستمر دی؟ او که دا مرگ و رجعت دايم او مستمر وي، نو به حيات بعدالممات متعدد شي او د تناسخيانو عقيده به شي. هغه عارف رباني هسې جواب ورکا، چې ذات ماسوا دی له بدنه، ذات دايماً ثابت او بدن متحلل دی، هسې چې وايي: ((انت ان لا ببدنک فان بدنک فی التحلل و ليس عندک منه خبر، فانت وراء هذه الاشياء)) دغه مرگ و رجعت بدني دی، نه ذاتي او هرکله چې تحلل وموند سابقه ذراتو نو يې پرځای درېږي لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی، چې د دنيا دتحقق نشتتوالی ثابتوي او هغه چې مصطفی عليه السلام وويل: ((الدنيا ساعة)) رښتيا کوي))

په دې تقرير کې د علي سرور د تصوف پاخه افکار ښکاري، د تصوف او فلسفې يوه پخوانۍ عقيده دا وه چې د اجسامو اتومي ذرات مسلسلاً فنا کېږي او پر ځای يې نوي نوي درېږي، څرنگه چې د فاني او نورو ذراتو دغه تسلسل تل جاري دی او نوي اجزاء د پخوانيو ذراتو ځای ډکوي، نو څوک د جسم په فنا نه پوهېږي. صوفيان وايي چې مادي دنيا د الهي اسماوو مظهر ده او موجودات د خدای تعالی د کمالاتو د تجلی مظاهر دي، ځکه چې په تجلی کې تکرار نه شته او پر يوه شي مکرراً يو راز تجلی نه کېږي (کل يوم هو فی شان) نو جلالي اسماء تل له موجوداتو څخه ((وجود)) قلع کوي او جمالي اسماء يې تر خپلو

تاثیراتو لاندې راولي او ببرته ((وجود)) ورکوي او دغه مسله ((د مثالونو تجدد)) بلل کېږي.

شیخ ابو طالب مکي وایي: ((لاتجلی فی صورت واحده لشخص واحد مرتان ولا فی صوره واحد للاثنین))، صوفیان له دې پرله پسې فنا څخه دا نتیجه اخلي، چې دغه فنا په حقیقت کې د ((اثبات)) او ((وجود)) بنسټ ده، ځکه هر کله چې لومړی صورت فنا کېږي، نو دویم صورت یې په مترقي ډول پرځای درېږي او که دغه فنا نه وای، نو به ((وجود)) هم نه و تکمیل شوی، نو ګویا ((عدم او فنا)) د ((ارتقاء او تکامل)) وسیله ده. له علي سروره چې د کوم پارسي بیت پوښتنه شوې وه، هغه د مولانای بلخي (رومي) له مثنوي څخه دی.

د علي سرور په تقریر کې هم تاسې ددې عرفاني خبرې شرح وینئ او دده عرفاني مقام او علمي منزلت ځنې ښکاري، ده د خبرې د څرګندولو لپاره د حضرت شیخ الاشراق شهاب الدین سهروردي (۵۸۷هـ مقتول) له اقوالو څخه ځینې عربي جملات رانقل کړي دي، چې هغه هم د غه مسله بیانوي.

اوس چې د علي سرور د عرفاني تقریر وضاحت د نورو عارفانو د بیان په ترڅ کې وشو، نو به دده یو غزل رانقل کړو، چې د پټې خزانې مولف هم له ((تحفة صالح)) څخه اقتباس کړی دی او ښه عرفاني رنګ لري.

## غـــــزل

محبت پیاله مې نوش کړه په مجاز کې
د حق نور وینم په سترګو د ایاز کې

درســـت وطـــن راتـــه دريـــاب ســـو بـــې ديدنـــه
ديد مې نه شي مګـر خـدای مــې سـبب ســاز کـــي
کــه زه مــړ شــم هــم لــه ګــوره کــړم ســر پورتــه
ناګهانـــــه چـــــې دلبـــــر راتـــــه اواز کــــــي
کــه مــې ســر غــوځ د رقيــب پــه تېــره تېــغ ســي
هم بــه ځــم کــه دلبــر غوښــت پــه مهــرو نــاز کــي
زه ويـــار مـــداماً ناســـت وو يـــو لـــه بلـــه
پـــر غمـــاز دې بـــاري کـــاڼي د غـــم ســـاز کــــي
ګــــران بېلتــــون بــــه د هغــــو مينــــو وينــــه
چې تــل ناســت وي پــه خلــوت کــې ســره راز کــي
ای (ســـروره) غمـــازان ســـوه بـــې حســـابه
پـــاک الله دې صــورت تــش بـــې مغــزه پيـــاز کـــي.

## شننه او ارزونه:

د سرور لودي دا غزل له محتوايي پلوه پر ديني اساساتو راڅرخـي، خدای پېژندنه، د طبيعت د اسرارو کشف، عرفان او تصوف ددې غــزل منځپانګه ده. شاعر په ژور ډول د مانا تل ته ورکښته شوی، څرنګه چې دی خپله په عرفاني ژونـد کــې د خــدای پېژنــدنې ببلابېلــو لارو تــه رسېدلی، نو غزل يې هم له همدغو معنوي لارو ډک دی، له لغوي پلــوه په کې دري او عربي دواړه کلمې موجودې دي، تصوفي اصطلاحات هم په کې څرګند دي. (نوش، ديدن، ديد، مګر، ساز، ناګهانه، دلبــر، مهــر) دري کلمې دي. (محبت، مجاز، حق، نور، وطن، سبب، مــداماً، خلــوت، حساب، الله، صورت) او ځينې نورې عربي کلمې دي.

دا غزل ټول (۷) بيتونه لري، (مجاز، اياز، ساز، اواز، ناز، راز او پيــاز) يې د قافيې کلمې دي (کې - کې) يې رديف دی. خو په دې غزل کـــې د رديف له معمول تعريف سره سم چې: رديف همغه يوه يا څو مورفيمونه يا کلمې دي چې تر قافيې وروسته په يوه شکل او يوه مانا تکرار راځي، دلته هسې نه ده. دلته په لومړي بيت کې (کې) د مکاني اوستر بل مانا ښندي، لکه په کور (کې) خو په نورو بيتونو کې بيا د (کې) پرځای (کي) چې د (کړي) فعل عاميانه تلفظ دی، هغه راځي، نو ځکه دلته د (کـــې) او (کي) په مانا کې توپير ليدل کېږي. دلته نو سړی ويلای شي چې پــه رديف کې عيب ليدل کېږي، يا لږ تر لږه د رديف له معمول تعريفه وځي. له همدغه جزيي توپير پرته نور د غزل فورم ټول معيارونــه پــرې پلــي کېږي. د مسرو د څپو شمېر يې هم سره مساوي دی، هره مســره يــې (۱۲) (۱۲) څپې لري. په عرفاني او تصوفي برخــه کــې دا غــزل خپــل ځانګړی مقام لري.

# مېرمن نېکبخته

## د (۹۶۰هـ) حدود

د پښتو له شاعرو مېرمنو څخه ده، ددې کورنۍ د پېښور په (اشنغر) کې اوسېده او پلار نیکه یې روحاني خلک وو او د (ممن زیو) مرشـدان ګڼل کېدل، ددې پلار (شیخ الله داد مموزی) د خپل عصر عالم او عابد سړی و او لکه (شیخ امام الدین) چې په خپل کتاب ((اولیای افغـان)) کې کښلي دي، نېکبخته هم عارفه او زاهده مېرمن وه، دیني علوم یې لوستلي او عمر یې په ریاضت او عبـادت تېـراوه، دې کـورنۍ د خپـل وخت له یوې بلې عرفاني او ادبي کورنۍ سره چې د پېښور په لتو کـې مشهوره ده، خپښي وکـړه، دا کـورنۍ د مرحـوم شـیخ متـي اولاد او تسلسل و، نېکبخته پر (۹۵۱هـ) د شیخ متي یوه لمسي ته پـه نکـاح ورکړه شوه، چې (شیخ قدم) نومېده او د (محمد زاهد متي زي) زوی و، نېکبختې پر (۹۵۶هـ) (میا قاسم افغان) وزېـږاوه، چـې د پښـتنو لـه عرفاني او علمي رجالو څخه دی.

پټه خزانه د ((اولیاء افغان)) به حواله لیکـي، چـې نېکبختـې پـر (۹۶۹هـ) یو کتاب د ((ارشاد الفقراء)) په نامـه وکـېښ، چـې د پښـتو اخلاقي او تلقیني اشعار په کې وو او د فقیر مشربو خلکو لپاره نصـایح او وعظونه وو.

لکه څنګه چې موږ وینو په پښتو ادب کې تر (۱۰۰۰هـ) وروسته یوه ډله ناظمان او لیکوال شته چـې د دوی د منظومـاتو مضـامین فقـط وعظونه او دیني نصایح دي.

ډېر کتابونه په دې ډول نظم شوي دي، چې ددغو ديني منظومــاتو ډېره پخوانۍ نمونه موږ د نېکبختې په منظوماتو کې مومو.

دغه ډله نظم کوونکي عموماً واعظان، ملايان او ديني مرشــدان وو، چې د عباداتو او اخلاقو په خصوص کې به يې لنــډې لنــډې منظــومې جوړولې او د نېکبختې منظومات هم داسې دي، چې د نمونې پــه ډول يې دلته رانقلوو، دا نمونه د پټې خزانې مولف له ((ارشاد الفقراء)) څخه را اخيستې ده:

## نصیحت

د خـــــدای حـــق تـــه غـــاړه کېـــږده
نـــــوري نـــــورې وينــــا پرېـــــږده
دنــــيا پــاتـــه لــــــه هـــر چــا ده
پـــه اخـــلاص کـــې ځنـــې بلېـــږده
ځـــو قـــوت لـــري پــــه ځـــان کـــې
ســـر د يـــــار پــــه رضـــا کېـــږده
ځـــــان لـــــه بـــده خـــويـــه ژغـــوره
زړه پــــــه ذکــــــر د يـــــار بلېـــــږده
کــــل دنـــيـــا بـــه دې دښنـــه شـــي
اوس لـــــه بېــــرې ځنـــې رېـــږده
تړلــــــــه غـــــــواړې حسابـــونـــــه
کــــه دې اوښــــې، کــــه دې مېـــږده
دنــــيا تـــــرک وهــــه کــــه پـــوه يـــې
د بقـــــا پــــــر لــــــوري پښـــــې ږده.

## شننه او ارزونه:

مېرمن نېکبخته د دین او اخلاقو په وړانګو منوره او نېکبخته مېرمن وه، لکه څنګه چې یادونه وشوه، ددې شعر له اخلاقو او نصیحتونو څخه ډک و، تراوسه پورې موږ د زرغونې، رابعې او نېکبختې درېواړو د کلام یوه یوه بېلګه یاده کړه، د زرغونې او نېکبختې کلام پر اخلاقي، روحاني او عرفاني مسایلو راڅرخي او د رابعې تر یوه حده د عشق او بېلتون سوز بیانوي. مېرمن نېکبخته په دې کلام کې له لغوي پلوه له عربي ژبې څخه ګټه اخلي، د دري ژبې کومه کلمه په کې نه شته او که وي هم نو هغه به مشترکه ګڼل کېږي. (حق، اخلاص، قوت، رضا، ذکر، کل، حساب او بقا) عربي کلمې دي. (زړه په ذکر د یار بېلږده) مسره (بلبېږده)بیا (د پېچلو یا په یو شي کې د تاوول)و مانا ورکوي چې اوس په پښتو کې نه کارول کېږي، د نظم نورې ټولې کلمې یې پښتو دي، د فورم له مخې دا یو غزل ګڼل کېږي، (پربېږده، بلبېږده، کېښېږده، رېږده، مېږده، پښې ږده) یې د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري. یوازې (که دې اوښې که دې مېږده) په مسره کې د قافیې عیب لیدل کېږي، ځکه په ټولو قافیوالو کلمو کې (ږده، ږده) مشترک ټکي دي، خو دلته (مېږ) یو مستقله کلمه ده د مېږې، لنډیز دی، یانې (ې) توری ترې غورځېدلی او (ده) یو مرستندوی فعل دی، دلته دا دواړه سره یوځای شوي دي. یانې (ږ) له یوه ځای او (ده) له بل ځایه را اخیستل شوي دي. خو په مجموعي ډول دا نظم په اخلاقي ګانه پسولل شوی او هم د وزن له پلوه رواني لري. د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دي، هره مسره یې (۸) څپې لري. ټول نظم له (۷) بیتونو جوړ دی.

# شیخ محمد صالح الکوزی

## د (۱۰۰۰هــ) حدود

شیخ محمد صالح په قوم (الکوزی) او د کندهار په (جلــدک) کــې اوسېده. دغه ځای د کندهار شمال شرق ته تقریباً (۳۰) میلــه لــرې د کابل پر لار واقع دی او تراوسه هم هلته د الکوزو ټبر اوسي.

شیخ صالح موږ د پټې خزانې په مرسته پېژنو او دغــه کتــاب دده د اشعارو بېلگه هم موږ ته رارسولې ده، داسې وایي چې شیخ یو عــالم او عابد سړی و او په علم او تقوا یې په خلکو کې شهرت درلود، وختونــه یې په تدریس او د خلکو په ارشاد تېرول. منزوي او په گوښه کې ناست سړی و، علمي او روحاني استغنا دی له دنیوي جولانــه منــع کــاوه او همېشه د خپلو شاگردانو او مخلصــانو د مجلــس څــراغ و، د تــدریس حلقه یې د شاهانو تر دربار او عزت خوښه وه، نو ځکه تل د تــدریس او ارشاد په حلقه کې له دنیایي مزخرفاتو څخه فارغ او مستغني و.

داسې معلومېږي چې شیخ صالح تر (۱۰۰۰هــ) دمخه زېږېدلی و او پر هغه وخت دده د علمي شهرت ، تقوا او فضیلت غږ لوړ و، چې نه یوازې پر کندهار، بلکې پر ټولې پښــتونخوا د دوو لویــو امپراطوریــو یــانې د هندي تیموریانو او صفویانو جگړې په پرلــه پســې ډول جــاري وې او پښتنو ارام نه درلود، د شیخ صالح په وخــت کــې د کنــدهار صــوبدار (والي) (شاه بیگ خان کابلی) و، چې پر (۱۰۰۳هــ) کــال یــې د (جــلال الدین اکبر) پاچا په امر کندهار ونیو او تر (۱۰۱۴هــ) پورې هم په کندهار کې واکمن و.

پټه خزانه د شاه بیګ او شیخ صالح داستان داسې رانقلوي:

[نقل دی چې شاه بیګ خان د کندهار صوبدار، شیخ محمد صــالح وغوښت، چې کابل ته ولاړ شي او هلته خلکو ته فــیض ورکــړي او پــه تدریس د علومو طالبانو ته هدایت وکا، شیخ محمد صالح ورته وکښل، چې: ((ما له طمع د عزت نه شته او په دنیا پسې تګ نــه غــواړم، زمــا داسې مقصد دی چې دنیا ماته راشي نه چې زه ولاړ شم دنیا پسې، که زما عزت غواړې، ما پرېږده او په دنیا پسې مې مه مسافر کوه...)) چــې دغه خط ورسېد شاه بیګ خان وویل: ((ما هم ستا عزت مقصود و، نــه بې عزتي...] (۵۱: ۱۰۰)

له دې روایته مور د شیخ صالح د ژوندانه طرز او دده د تفکر صــبغه معلومولای شو، چې د نفس پاکوالی، پوهه، تقوا، استغنا ټول ورسره وو او دغه صفات او مزایا ده په دغه غزل کې سره یوځای کــړي دي، چــې شاه بیګ صوبدار ته یې لېږلی و:

د لیلـــــی د مینـــــې فـــــیض هـــــر ســـــبا وړم
بېهـــــوده منـــــت بـــــه ولـــــې د بـــــل چـــــا وړم
چـــې اشـــنای د شـــپې ناځاپـــه پـــه لاس کښـــېوت
روښـــان زړه پـــه ګوګـــل پـــټ لمـــر پـــه ســـما وړم
پـــر دنیـــا کـــه تجـــارت خـــوک د دنیـــا کـــي
زه د زړه پـــه بـــازار بـــار د عشـــق ســـودا وړم
کــه پــر تخــت مــې د ســلیمان ســپور کــړې ســړیه
عاقبـــت خـــاورو تـــه ښـــه عمـــل پیشـــوا وړم
بـــې لـــه عشـــقه خوشـــحالي پـــر مـــا حرامـــه
زه صـــالح کـــه پـــه خولـــه خـــوښ پـــه زړه ژړا وړم.

## د شیخ صالح ویناوې او شعرونه:

داسې ښکاري چې شیخ صالح د شاګردانو او مخلصانو یوه لویه حلقه درلوده او دده اشعار، اقوال او احوال به هغو لیکل، د پټې خزانې مولف پر یوه کتاب حواله ورکوي، چې ((تحفة صالح)) یې نوم و او دا کتاب د شیخ یوه شاګرد (ملا الله یار) دده په نامه کښلی و او په دې کتاب کې د شیخ صالح احوال، اشعار او اقوال راټول شوي وو، یوه مجموعه وه، چې محمد هوتک له هغو اشعارو څخه لوړ غزل او هم دا لاندې پښتو غزل رانقل کړی دی:

چې په زړه یې غشی ځرخ سي د چشمانو
روغ به نه سي په دارو د طبیبانو
چې نور تن له رنځه خلاص په زړه رنځور وي
دا د زړه دارو جوړ نه کړه حکیمانو
مګر الله چې حبیب دی هم طبیب دی
کار سازي کا د خوارانو رنځورانو
هېڅ اثر رابانديې نه کاندي عالمه!
ښه ویل دُر و ګوهر د ناصحانو
نصیحت زړه غواړي، زړه نسته ګوګل کې
زړه مې وړی په منګولو خوبرویانو
که ((صالح)) غوندې د زړه په وینو پایځ
نور دولت پر دنیا نسته طالبانو

## شننه او ارزونه:

د شیخ صالح له دغو دوو غزلو څخه ښکاري چې دی د پښتو ژبې داسې یو شاعر دی، چې شعرونه یې د هنري ښکلا له مخې د منځنۍ کچې شعرونه ګڼل کېدی شي. کلام یې ساده او روان دی او د کندهار د پښتو محاورې یوه نمونه ده. سره له دې چې د کلام اساس یې تصوف، عرفان او د خدای مینه ده، خو دی دا مفکوره په غنایي او تغزلي الفاظو کې رانغاړي او ظاهراً خپل کلام ته عشقي رنګ ورکوي، له لغوي پلوه یې په کلام کې د عربي ژبې لغتونه څرګند دي، یو څو دري لغتونه هم لري. په لومړي شعر کې یې (بېهوده، پیشوا) دري کلمې، (فیض، منت، سما، تجارت، عشق، عاقبت، عمل، حرام) او ځینې نورې عربي کلمې دي. د فورم له مخې یې لومړی کلام هم د غزل فورم خپلوي.

ټول نظم (۵) بیتونه لري، (سبا، چا، سما، سودا، پیشوا او ژړا) یې د قافیې کلمې دي (وړم وړم) یې ردیف دی، د نظم هره مسره یې (۱۲) څپې لري.

په دویم غزل کې هم دري او عربي لغتونه شته، (چشمان، کارسازي، دُر ګوهر، خوبرویان،) یې دري کلمې دي، (طبیب، حکیم، الله، حبیب، اثر، عالم، ناصح، نصیحت، صالح، دولت، طالب) دا ټولې عربي کلمې دي، پر دې نظم هم د غزل فورم د تطبیق وړ دی، دا نظم ټول شپږ بیتونه لري، (چشمانو، طبیبانو، حکیمانو، رنځورانو، ناصحانو، خوبرویانو، طالبانو) یې د قافیې کلمې دي (انو ، انو) یې مشترک غږونه دي. هره مسره یې (دولس) څپې لري او ټول یو مشترک وزن تعقیبوي، یوازې د درېیم بیت لومړۍ مسره او د پنځم بیت لومړۍ مسره د (خج)

له مخې څه ستونزه لري چې که د شاعر له مقصود تلفظ سره سم وویل شي، نو هغه وزني ستونزه هم له منځه ځي، د ساري په توګه که د (الله) او (نصیحت) په کلمو کې خج د شاعر له مقصود تلفظ سره سم ادا شي، نو وزني ستونزه له منځه ځي، خو په اوسني شکل د پنځم بیت همــدا مسره یوه څپه کمه برېښي.

**یادونه:** له شیخ صالح څخه نیولې بیا تر (دوســت محمــد کــاکړ) پورې کوم وروستي شاعران چې موږ په لرغونې دوره کې شامل کــړل، علت یې دا و چې دوی د لرغونې دورې یو تسلسل دی، لــه شــکلي او محتوایي پلوه د دوی اشعار د لرغونې دورې له نورو شاعرانو سره کــوم غوڅ توپیر نه لري. ځینو درنو لوستونکو او قدرمنو محصــلینو تــه بــه پوښتنه پیداشي چې موږ خو د لرغونې دورې په پېژندنه کې وویل چې دا دوره له (۱۳۹هــ) څخه نیولې بیا تر روښان یا روښــانیانو (۹۳۰هـــ) پورې رسېږي، دلته خو ځینې داسې شاعران هم وپېژندل شول چې تر (۹۳۰هــ) وروسته یې ژوند یقیني دی. په دې باب باید وویــل شــي دا خبره سمه ده چې د پښتو ادبیاتو دویمه دوره له روښان یــا روښــانیانو څخه پیلېږي. خو ادبي دورې داسې نه دي، لکه سیاسي دورې چې پــه غوڅ ډول له یوې نېټې څخه پیلېږي، ادبي دورې یوه په بله کې تداخل پیداکوي. بله خبره دا ده چې (۹۳۰هــ) کال داسې نه دی چې پر همدې نېټه هر څه پیل شول، تردې وروسته د روښان د ژونــد لــومړي کلونــه پیلېږي او څو لسیزې وروسته هغه مذهبي، سیاسي او فرهنګي مبارزه کوي، بیا اثار لیکي، بیــا یــې د کــورنۍ غــړي او نــور پلویــان دده لاره تعقیبوي بیا اثار پنځوي او تداوم یې ان د یوولسمې پېړۍ وروستیو تــه

رسېږي. کله چې ددې اثارو شکل او محتوا وکتل شـــي، نـــو لـــه تېـــرې دورې سره اوچت توپير په کې ليدل کېږي، ان له دغو څو تنو شـــاعرانو (دوست محمد کاکړ، شيخ عيسى مشواڼي، شيخ بستان بـــړېڅ، علـــي سرور لودي، مېرمن نېکبخته، شيخ محمد صالح) سره يې په شـــعرونو کې اوچت توپير دی او کوم شاعران چې موږ ياد کړل د دوی شعرونو د لرغونې دورې له نورو شعرونو سره خپل تسلسل او ارتباط ساتلی، نـــو ځکه خوموږ د تاريخي او محتوايي تسلسل له مخې پـــه لرغـــونې دوره کې شامل کړل.

# د درېیم څپرکي لنډیز

په درېیم څپرکي کې مو د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې ټولې څېړې وپېژندلې، امیر کروړ جهان پهلوان او دده ویاړنه، زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نسته، د هغه ددې ویاړنې شننه، د هاشم ابن زید سرواني د منظومې ژباړې، (ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه) ارزونه او خپله دده پېژندنه، د شیخ رضی لودي او نصر لودي پېژندنه او ددوی ترمنځ د منظوم کلام تبادله (د الحاد په لور دې ترپلل) او (د الحاد په تور تورن شوم) پرتلنه او شننه، ببټ نیکه او د هغه مناجاب (لویه خدایه لویه خدایه)، د شیخ اسمعیل پېژندنه او د هغه پاړکي او نارې (تېښته وکړه له ابلیسه) او (که یون دی یون دی)، خرښبون او د هغه نارې (بېلتانه ناره مې وشوه په کور باندې)، شیخ اسعد سوري او د هغه قصیده (د فلک له چارو څه وکړم کوکار)، شیخ تیمن کاکړ پېژندنه او د هغه شعر (ګهیځ رڼا د لمر خپره شوه)، د ښکارندوی غوري پېژندنه او د هغه قصیده (د سپرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه- بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه) د ملکیار غرشین پېژندنه او د هغه د کلام (څښتن مو مل دی، اوس مو یرغل دی) شننه، د تایمني پېژندنه او د کلام (نن زه غرېږم په صفت د سلطان) ارزونه، قطب الدین بختیار او د هغه د کلام (د بېلتون اورونه بل دي) شننه، د سلیمان ماکو پېژندنه او د نثر شننه، د شیخ متي ژوند او د کلام (پر لویو غرو هم په دښتو کې) شننه،

د بابا هوتک ملي مبارزه او د کلام (پر سور غــر بــل راتــه نــن اور دی) پېژندنه، د شیخ ملکیار هوتــک پېژندنــه، مبــارزه او د کــلام (ترنــک بهېږي- ترنک بهېږي) ارزونه، د اکبر زمینداوري د ژونــد پېژندنــه او د هغه د مثنوي (زه عاشق یم یار هم نیز) د هغه بدله (زه چــې پــه مینــه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم) او غزلونه یې (د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم) او (چې مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم)ارزونه، د ســلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازي پېژندنه او د هغو د څلوریزو (ملک به زرغون کړم په ورکړه لاسه) او (خړې وریځې ژاړي له پاســه) شــننه،د زرغون خان نورزي پېژندګلوي او د هغه د ساقینامې (ساقي پاڅه پیاله راکړه) ارزونه او شننه، د زرغونې کاکړ ژوند او د هغې د منظوم حکایت (اوربدلې مې قیصه ده) شننه، د دوست محمد کاکړ ژونــد او د هغــه د غربتنامې (له نېکانو روایت دی) ارزونــه، د شــیخ عیســی مشــوانۍ پېژندګلوي او د هغه شعر (په خپله کار کړې- خپله انکار کړې) شــننه، د شیخ بستان بړېڅ پېژندګلوي او د کلام (د مینې اور دې زمــا زړګــی وریت په انکار کئ نا) شننه او ارزونه، د علي سرور لودي ژوند پېژندنــه او د غزل (محبت پیاله مې نوش کړه په مجــاز کــې) شــننه، د مېــرمن نېکبختې پېژندګلوي او د هغې د یوې ناصحانه شعر (د خدای حق تــه غاړه کېږده) تحلیل او د شیخ محمد صالح الکوزي پېژندګلوي او د هغه غزلونه (د لیلی د مینې فیض هر سبا وړم) او (چې پــه زړه یــې غشــی څرخ شي د چشمانو) شننه او ارزونه راغلي دي. په واقعیــت کــې پــه لرغونې دوره کې چې څومره شاعران تېر شوي د هغو ټولو پېژندنه او د کلام شننه په دې څېرکي کې راغلي، خو البته د کلام بېلابېل لیدلوري یې په نورو څېرکو کې هم څېړل شوي خو دا د لرغونې دورې پــه بــاب

اساسي څپرکی دی.

دلته غواړو د همدغه څپرکي په رڼا کې چې د لرغونې دورې زیاتــه برخه رانغاړي، د لرغوني ادبي بهیر ځانګړنو ته هم لنــډه کتنــه وکــړو، البته عمومي ارزونه به وروسته هم راشي، خو دلته غواړو په یــاده دوره کې د پښتو ادبي بهیر په تېره بیا د شعري بهیر یو عمومي جاج واخلو.

لکه څنګه چې دمخه مو څو ځایه یادونه کړې، د پښتو ژبې لــومړی ادبي اثر او شعر د هجرت د دویمې پېړۍ په لومړیو کلونو پورې اړه لري او ددې ژبې خورا پخوانی شاعر چــې تراوســه مــوږ تــه معلــوم دی د سوریانو د کورنۍ پهلوان امیر کــروړ د امیــر پــولاد زوی دی، چــې پــر (۱۵۴هــ) کال په فوشنج کې مړ شوی دی او بل هم د لویکانو یــو بیــت دی، تر دې وروسته  نو د پښتو شعر نښې ډېرې دي او ډېر شاعران دي چې د سلیمان په غره او د پښتونخوا په نــورو ځــایو کــې اوســېدل او ځینې په ملتان او هند کــې وو. د پښــتو ادب لرغــونې دوره بېلابېلــو ادبپوهانو ارزولې ده. استاد حبیبي چې د پښتو ادبیاتو لوی استاد دی، دا دوره ډېره ښه ارزولې ده. هغه وایي: ((دې شاعرانو تــه لــه عمــومي کتنې څخه موږ دا نتیجه اخلو چې پښتو د اسلام په لومړیو کلونو کــې تر (۶۰۰هــ) پورې په ټوله پښتونخوا کې له بادغیس او هراته رانیولې په غور، زابل او د هلمند او ارغنداو په ورشوګانو او د سلیمان غره په لمنو، پېښور او ننګرهار کې تر ملتانه ویل کېده او ددې ژبې ویونکي په دغــو ورشوګانو کې له بادغیسه تر اباسینه پورې خپاره وو، مهم مرکزونه یې غور او د سلیمان غره لمنې وې، په دې لومړۍ دوره کې چې موږ یــې د پخوانیو او قدماوو دوره بولو او تر (۶۰۰هــ) پورې رارسېږي، پــه پښــتو ډول ډول اشعار ویل شوي دي، چې د مضــمون لــه پلــوه حماســي او

عشقي اثار په کې ډېر دي او د ستاينې، مدحې او ويرنې او رثايه، پند او نصيحت او اخلاقي تلقيناتو ځينې شعري ټوټې هم شته.

دا اشعار چې د (۵۰۰هـ) کلونو د بېلابېلو ادبي تمـايلاتو او جـذباتو ښکارندويي کوي اکثر د پښتو ژبې د مخصوصو عروضو او اوزانو په ډول چې سندرې او پاړکي يې بـولي، ويـل شـوي دي، خـو تـر (۴۰۰هــــ) راوروسته ځينې داسې اشعار هم شته چې د عربي او پارسي عروضو او قافيو ته نږدې دي، لکه ځينې قصايد چې د غور په دربار کې ويل شوي دي او په پښتو يې (بوللــه-جمع: بوللې) بولي.

په لرغونې دوره کې د شعر ژبه عموماً خالصه پښتو وه او اکثــر زاړه اشعار د نورو ژبو کلمات هېڅ نه لري او که په ځينــو کــې ځــه پــردي کلمات وي، هغه هم ډېر لږ دي. هغه اشعار چې په غرو او رغو کې ويــل شوي دي، د نورو ژبو له اثره خــالي دي، خــو ځينـــې اشــعار چـــې تــر (۴۰۰هـ) راوروسته په ښارو، مدني ځايونو او دربارونو کې ويــل شــوي دي، لږ لږ د نورو ژبو د کلماتو ګډون په کې ښکاري او دا د محيط هغــه کلک اثر دی، چې تل پر ادب باندې لوېږي.

د لومړۍ دورې ټول منقول اشعار عموماً د پښــتنو د روحيــاتو او د دوی د محيط د اثر، د غرو او رغو د مناظرو او د دوی د اجتماعي شعور او ملي جذباتو ښکارندويي کوي، هغــه اخــلاق، افکــار، احساســات او مناظر تصويروي، چې د پښتنو په محيط کې موجود وو.

په دغو اشعارو کې د پښتو ډېر داسې کلمات او لغات هم شته چـــې اوس ژوندي نه دي او په اوسنۍ پښتو کې نــه اســتعمالېږي، دا لغــات نومونه او صفات هم دي او ځينې مصادر يا افعال هم شته چې اوس يې څوک نه وايي.

د لرغونې دورې اشعار اکثر د پښتو ژبې د فصاحت او سلاست له پلوه خورا سلیس او روان دي، تعقیدات نه لري. ابهام او تکلف نه په کې لیدل کېږي، پېچلي او نغښتلي عبارات نه لري، د اداء طرز او اسلوب یې ډېر ساده، روان او د سهلو وړ دي.

د پخوانیو د شعر یوه مهمه ښېګڼه داده چې د شعر مضمون یې سره نښتی او پېودلی او مسلل دی، تر دې دورې وروسته چې نور شاعران په پردو اشعارو روږدي شول، دغه خاصیت یې بایلود. د پارسي شعر د خراسان پر سبک چې د سامانیانو، غزنویانو او سلجوقیانو په دوره کې کوم شعرونه ویل شوي دي. هم دغه ښېګڼه لري، خو وروسته دغه د شعر د مضمون تسلسل له منځه ووت.

د پخوانیو شاعرانو په تصویر او تخیل کې عموماً د محیط اثر دومره ټینګ دی، چې اکثر تشبیهات او استعارې یې طبیعي او محیطي دي، د بڼ تازګي او د اوبو شورهار د پسرلي ښکلا او د غرو او رغو ښکلې ننداري د پېغلو اتڼونه د زرکو کټهار او نور داسې محیطي الهامات دي چې د پخوانیو د شعر د شمزۍ کړۍ دي او هر شاعر یې هم په ستاینه، هم په رثایه، هم په عشقي جذباتو او سندرو او هم په تبلیغ کې تصویروي. تر (۶۰۰) هجري کلونو وروسته پښتو ادب د مغلو د تاړاک له امله د مقاومت رنګ اخلي، څلور پېړۍ پښتانه له مغلو سره پر جګړه بوخت دي او په مجموعي ډول ادبیات له همدې حالت اغېزمن کېږي.

د هجرت د شپږمې پېړۍ له پیله بیا تر پایه پورې په پښتونخوا کې دوه لوېې سلطنتي کورنۍ وې چې په لومړیو کې د غزنوي شاهانو لوېې کورنۍ سلطنت کاوه، دوی په پښتنو ګډ شوي وو او د شرقي پښتونخوا پښتانه یې ملګري وو، بیا نو د غوریانو د کورنۍ شاهان غالب شول او

پر تخارستان، بامیانو، خراسان، زابل، غور، هرات او شرقي پښتونخوا د دوی لاس بر و، دوی په هند کې هــم ډېــر فتوحــات وکــړل او د غــور شاهنشاهي يې له خراسان او امو څخه د ګنګا تر څنډو پورې ورسوله. غوریانو پښتو ادب ته توجه کوله او د دوی پــه دربــار او مملکــت کــې مشهور شاعران تېر شوي، خو د شپږمې پېړۍ په وروستیو کــې دغــه کورنۍ ضعیفه شوه او تر (۵۰۰هـ) وروسته د مغولــو د تــاړاک لــومړۍ څپې پر بلخ، غور او خراسان راغلې. د (۶۱۸هـ) حدود وو چې له مغولو څخه د چنګېز خان وحشي لښکرې تر امو راواوښتلې، په دغــو وختــو کې د پښتونخوا شمالي خواوې لکه تخارستان، بلخ، بامیان، غرســتان (غرجستان) خورا معمور وو، مشهور ښارونه يې لرل. بــادغیس، مــرو، هرات، غور داسې ښکلي او ودان ښارونه درلودل چې په هغو وختو کې د منځنۍ اسیا د تهذیب او علم مرکزونه وو، خلک په ډېره هوسایۍ پــه کې اوسېدل، علماء، شعراء، ادیبان او پوهنوال ډېــر وو، خــو د چنګېــز خان وحشي لښکر او دده د زامنو خونړۍ قوه پر دې ودانــو ښــارونو او ښکلیو مدنیتونو هسې راتوی شول چې له لویو ښارو څخــه يــې يــوه ودانۍ روغه پرې نښوده او ښکلي ښارونه يې وران کړل، کتابتونونه يې وسول، ځمکې يې په وينو ولړلې او اکثر خلک يې ووژل، پاتې يې غرونو ته وختل.

پښتانه په دغو وختو کې ډېر د شرقي پښتونخوا په غــرو کــې وو، د سلیمان د غره په شاوخوا او د کابل په جنوبي خوا څه ناڅه لــه تاړاکــه خوندي وو او خپل استقلال يې ساتلی و، خو د پښتونخوا سیمې مغولو نیولې وې، په دغو وختو کې پښتنو ادیبان لرل او خپله ژبه يې روزلــه، لکه د مغولو لوټ چې پر پارسي ادب اغېزه وکړه او د ادبیاتو افکــار او د

بیان طرز یې ورواړاوه، دغسې دې خونړۍ واقعې پـر پښـتو ادب هـم خپله اغېزه وکړه. د مغولو سلطه او اقتدار څلور پنځه پېړۍ اوږد شو، د چنګېزخان د کورنۍ خونړي تاړاکونه لا نه وو ساړه شوي، چـې لـه دې کورنۍ یو بل سفاک سړی د (۷۷۱هـ) په حدودو کـې راووت، دا (ګـوډ تیمور) و، چې ده هم پر دې ځمکه خپل تاړاکونه شروع کړل او په کلـو کلو یې دا خواوې سره وربېږدولې، دا اور لا نه و مړ شوی او هرې خواتـه یې دودونه ښکارېدل، چې بیا یو بل خونکار او د ډېر کلـک زړه خاونـد هم له دغه ټبره راووت او د (۹۱۰هـ) په حدودو کې بیا پښتونخوا سـره ونښتېځله او د وینې تویولو او تاړاک سلسله یې هسې جاري وسـاتله، دا سړی (بابر) و چې له پښتنو سره یې ځانګړې دښـمني وه او د دوی سرونه یې وربېل.

په دې ډول له هغه وخته چې د پښتنو غوریانو د عظمت جنډۍ تـر (۶۰۰هـ) وروسته کښته شوه، بیا نو دې قوم د مغولو له لاسه ښـه ورځ ونه لیده او څلور پېړۍ یې په دغه اړو دوړ کې سره تېـرې کـړې، ویـې وژل، ووژل شول، وجنګېدل، جنګونه ورسره وشـول، کلـه بـه یـې د چنګېز د لښکرو په وینو خپل غرونه لړل، کلـه بـه تیمـور د دوی پـر کورونو په زابل او ننګرهار کې غدۍ اچولې، کله به بابر او اکبر او نـورو په دوی پسې توري راکښلې وې. په دې خونړي او خطرناک حالت کـې هم پښتنو خپل ځانونه ساتلي وو، دوی د خپلو زلمو پـه وینـو خپلـه ځمکه او خپل غرونه خوندي کول، څو پېړۍ زلمو غشـي او تـورې لـه لاسه ونه غورځول، دوی پر خپل استقلال مین وو او دغه مرغلـره یـې ساتله، څو یې وس و، پر دې غرو به د دوی د زلمو ټټرونه سپر وو او تل به د خپل وطن لپاره په وینو کې رغښتل، په دې ملي مبارزه کې لکه د زلمو تورې چې ځلېدې، د ادیبانو ژبې هم هغسې چلېـدې، دوی خپـل

قوم وینباوه او د وطن دفاع او استقلال ساتلو ته يې ولاړ وو، دوی خپله خپلواکي په توره او قلم ساتله، ډېر شـاعران او اديبـان وو، چـې ددې ملي جهاد پر ميدان ولاړ وو او تل به يې زلمو ته په خپلو اشعارو د وطن ساتنې تبليغ کاوه او تورې به يې وهلې، نـو د مغولـو دورې لکـه نـور ضعيف اقوام دوی مړه نه کړل، بلکې ژوندي يې کړل، دوی يې زمول نه کړل، بلکې ملي روحيه يې په کې پياوړې کړه، چـې دا روح د دوی پـه ادب کې ښه ځلېږي او د مغولو دوره په يوه ادبي دفاعي تبليـغ امتيـاز مومي.)) (۱۳: ۵۲۷- ۵۳۲)

سرمحقق زلمی هېوادمل چې د پښـتو ادبيـاتو تـاريخ لرغـونې او منځنۍ دورې تاريخ يې ليکلی د لرغونې ادبي دورې د عمومي ارزونـې په ترڅ کې وايي چې په دې دوره کې اثـار لـه کمـي پلـوه زيـات نـه دي،ددې علت دادی چې دا اثار د زماني ناخوالو لـه منځـه وړي دي، د سليمان ماکو له تذکره الاوليا پرته چې څو پاڼې يې موږ ته رارسـېدلي، نور ټول اثار په متفرق ډول ترلاسه شوي دي. که څـه هـم ددې اثـارو کميت کم خو کيفيت يې زيات دی. ددې اثارو په کمي او کيفـي لحـاظ انکشاف کړی، د شکل او مضـمون دواړو لـه پلـوه يـې وده کـړې ده. بېلابېل معنوي فورمونه رامنځته شوي لکه وياړنه، ويرنـه، سـاقينامه، ستاينه او حکايتي اثار، د نورو ژبو له ادبياتو سره هم په دې دوره کـې اړيکي پيداشوي، د غزل، مثنوي، رباعي او قصـيدې فورمونـه راخپـل شوي، د نورو ژبني تاثيرات هم پرې ليدل کېږی او همدارنګـه ځينـې نورې ځانګړنې چې په بېلابېلو برخو کې ورته اشاره شوې او نور بحـث به هم پرې وشي.

# د درېيم څپرکي پوښتنې

- پښتو لرغونی ادب ولې د امير کروړ له شعره پيلېږي؟
- امير کروړ شعر وياړنه ده که حماسه؟
- ابوهاشم ابن زيد سرواني د چا شعر له کومې ژبې وژباړه؟
- د شيخ رضی لودي او نصر لودي د پاړکو د ليکلو او تبادلې علتونه څه وو؟
- د بېټ نيکه مناجات کومې ځانګړنې لري؟
- ولې شيخ اسمعيل او خرښبون يو بل ته پاړکي وويل؟
- د شيخ اسعد سوري د قصيدې د ليکلو عامل کوم و؟ له محتوايي پلوه دا قصيده په کوم فورم کې راځي ويې ارزوئ؟
- شيخ تيمن کاکړ په لنډ ډول راوپېژنئ او د کلام ځانګړنې يې په ګوته کړئ!
- د ښکارندوی غوري قصيده له هنري پلوه وارزئ او دا هم څرګنده کړئ چې کوم محتوايي فورم لري؟
- ملکيار غرشين ته ولې غرشين وايي، د هغه د کلام اغېز او ارزښت په ګوته کړئ!
- د تايمني شعر لومړی ځل چا، چېرته او څنګه ترلاسه کړ، ددې شعر محتوا وشنئ!
- قطب الدين بختيار راوپېژنئ او کلام يې وارزوئ!
- سليمان ماکو څوک و؟ او په تذکرة الاوليا کې کوم شاعران معرفي شوي دي؟

- د شیخ متي د شعر اخلاقي او عرفاني ارزښت په ګوته کړئ؟
- بابا هوتک پښتنو ته څه کړي؟ او د کلام ارزښت يې څرګند کړئ.
- شیخ ملکیار هوتک د چا لاره تعقیب کړه؟ کلام يې وارزوئ!
- اکبر زمینداوري پښتو ته کوم نظمي فورمونه ډالـۍ کـړل؟ دده د کلام ځانګړنې په ګوته کړئ!
- سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازی په کوم فورم کې یو بـل سره شعري مکالمه او تبادله وکړه؟ توضیح يې کړئ!
- سوري کورنۍ پښتني فرهنګ ته څه ډالۍ کړي دي؟
- د زرغون خان ساقینامه په کوم فور کې ده واضح يې کړئ!
- زرغونې کاکړ خپل منظوم حکایت له کومې ژبې او د چـا لـه اثـر څخه ژباړلی او هم ددې د کلام ارزښت توضیح کړئ!
- رابعه او بي بي نېکبخته معرفي کړئ او د کلام ارزښت يې په ګوته کړئ!
- دوست محمد کاکړ خپله غرښتنامه په کوم فورم کې نظم کړې او کومه محتوا يې په کې ځای کړې ده؟
- شیخ عیسی مشواڼي په کومو ژبو شعرونه ویلي، په پښتو کې یـې د بېلګې ارزښت توضیح کړئ!
- شیخ بستان بړېڅ راوپېژنئ او دا هم واضح کړئ چې په کوم فورم کې يې شعر ویلی دی؟
- علي سرور لودي څه ډول شخصیت و، د کلام ارزښت يې په ګوتـه کړئ!
- شیخ صالح په لنډیز سره راوپېژنئ او د کلا م ارزښت يې په ګوتـه کړئ!

# څلورم څپرکی

## له نورو ژبو سره د پښتو ژبې اړيکي

د نړۍ د بېلابېلو ولسونو او خلکو ترمنځ د ګاونډيتوب او نورو ټولنيزو، سياسي او اقتصادي روابطو ټينګښت پر فرهنګ هم خپل مستقيم اغېز لري. څومره چې فرهنګونه او ژبې سره نږدې کېږي همغومره يې بيا دا اغېزې پسې زياتېږي. ژبني اړيکي د ادبي اړيکو د ټينګښت سبب ګرځي. څرنګه چې ادبيات يو ژبنی هنر ګڼل کېږي، نو کله چې يو شاعر د بلې ژبې له ادبياتو څخه الهام اخلي نو ژبني تاثيرات هم ژبې ته را انتقالېږي، په تېره بيا هغه ژبې چې د ريښې له پلوه سره نږدې وي، لکه پښتو او دري او يا هم عربي چې له پښتو سره په يوه واحد ليکدود ليکل کېږي. که څه هم عربي د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري، خو څرنګه چې د دين او مذهب ژبه ده او همدارنګه له پښتو، دري او ځينو نورو ختيزو ژبو سره ګډ ليکدود لري، نو ځکه يې پر ختيزو ژبو په لومړي ګام کې تر زياتې کچې پر دري او بيا پر پښتو ژبه خپل خپل تاثيرات لري. نه يوازې ګڼ شمېر ديني ترمينالوژي، مفاهيم او پيغامونه له عربي څخه دري او پښتو ته راغلي، بلکې يو زيات شمېر ادبي صنايع او نظمي فورمونه هم پښتو او دري ژبو له عربي څخه راخپل کړي، د دري ژبې خو ان وزنونه هم د عربي عروضو له قاعدې سره برابر شول، خو پښتو ژبې د خپل جوړښت له

مخې خپل ځانګړی نظمي يا وزني جوړښت وساته؛ له عربي څخه يــې يوازې ځينې ادبي کلمې، اصطلاحات او فورمونه راخپل کړل، تر پښــتو پر دري ژبې د عربي تاثيرات زيات دي، ځينې کلمې چې له دري څخــه پښتو ته راغلي هغه هم په واقعيت کې لومړی له عربي څخه دري او بيا پښتو ته راغلي، دلته غواړو پر پښتو ژبې د همــدې عربــي او دري ژبــو اغېز او له پښتو سره د هغو اړيکي وڅېړو.

عربي ته مو ځکه لومړيتوب ورکــړ چــې ددې ژبــې اغېــزې زيــاتې محسوسې دي، په تېره بيا د نظمي فورمونــو پــه راخپلولــو کــې، پــه حقيقت کې که ووايو پښتو ژبې له دري څخه هېڅ نظمي فورم نه دی را اخيستی مبالغه به مو نه وي کړې. دا کوم فورمونه چې په دري ژبه کې کارېږي، دا هم په حقيقت کې له عربي څخه دري ته ورغلــي، او پښــتو بيا يا مستقيماً له عربي څخه او يا هم د دري ژبې له لارې راخپل کــړي دي. نو ښه به وي چې لومړی د عربي ژبې اغېزې او اړيکي وڅېړو.

که چېرې موږ د پښتو ادبياتو په تاريخ کې د نورو ژبو له ادبياتو سره د پښتو ژبې او ادبياتو د ارتباط د څرک ايستلو کوښــښ وکــړو، نــو دا څرک په درېيمه هجري پېړۍ کې ايستلی شــو. دلتــه غــواړو همــدغو ژبنيو او ادبي اغېزو ته اشاره وکړو:

# له عربي ژبې سره اړیکي

طبیعي خبره ده چې افغانستان ته د اسلام لــه راتــګ او خورېــدو سره سم عربي ژبه هم زموږ په هېواد کــې دود او پــه خپرېــدو شــوه. څرنګه چې پاک قران په عربي ژبه او د اسلام ارکان او احکام پر عربــي ژبه وو، نو پر ټولو ختیزو ژبو په تېره بیا پــر دري او پښــتو دواړو ژبــو د عربي ژبې او ادب اغېز ورځ تر بلې څرګندېده، دا خبره هم د یــادولو وړ ده چې ادبي تاثیرات تر مذهبي تاثیراتو لږ وروسته څرګندېږي، نــو پــه دې خاطر لومړۍ یوه ژبه پر ژبې او بیا یې ادبیات پر ادبیاتو خپل خپــل اغېز ښندي، څرنګه چې په پښتو ژبه د هغــه وخــت زیــات او څرګنــد مذهبي متون زموږ په لاس کې نه شته، نو ځکه خو په غوڅ ډول څه نه شو ویلای چې پر پښتو ژبه به د عربــي ژبــې او مــذهبي ترمینــالوژۍ تاثیرات څومره وو. خو اټکل کولای شو، کله چې خلکو د اســلام دیــن منلی نو دیني یا مذهبي ترمینالوژي هم ژبې ته راغلې، خو دا چــې پــه پښتو ژبه لیکلی متون په لاس کې نه شته، نو ځکه یې دقیق وخت نــه شو په ګوته کولای، خو کوم څه چې زموږ په لاس کې دي همدا لرغوني منظوم متون دي چې له دې څخه پر پښتو باندې د نورو ژبو د تــاثیراتو څرک لګېږي.

((د لرغوني پښتانه په استناد د ابومحمــد هاشــم علمــي او ادبــي ژوندون راښکاره کوي او داسې ورڅخه څرګندېږي چې د (۳۰۰هـ) تــر حدودو پورې د عربو مدنیت، د عربي ژبې ســلطه او د عربــي ادابــو او

علومو اثر د پښتونخوا په اکثرو برخو کې خپور شوی و او ددې ځمکې غربي خوا ډېره تر دې اثر لاندې وه. که څه هم په دغه عصر کې د غربي پښتونخوا خلکو د آل طاهر (۲۰۵-۲۵۹هـ) تر بیرغ لاندې استقلال ووند او څه نا څه د پارسي ژبې ادب هم په دغو زمانو کې ژوندی شو، خو عربي علمي، ادبي او درباري ژبه وه او پوهانو خپل اثار په دغه ژبه لیکل. په خراسان کې د عربي ژبې ډېر لیکوال او پوهان وو چې دوی د عربو د مدنیت او ادب په خپرولو کې ښه خدمتونه وکړل. مثلاً (صالح بن عبدالرحمن سیستاني) د (حجاج بن یوسف) په امر له (۸۱-۸۷هـ) دواوین او دفاتر له پارسي څخه عربي ته نقل کړل او ډېر علما پر عربي علومو بوخت شول، لکه ابو خالد وردان کابلي موسوم په (کنکر) چې د (علي بن حسین) (۴۶-۷۴هـ) له ملګرو څخه و او د حجاج له ظلمه مکې ته وتښتېده، یا (بشار بن برد) د عباسي دربار ړوند شاعر چې اصلاً د تخارستان و او پر (۱۶۷هـ) وژل شوی دی. یا (ابو عمرو شمر بن حمدویة الهروي) چې د عربي اخبار او اشعارو پوهاند و، د عربي ژبې د لغت کتاب یې هم کښلی او پر (۲۵۵هـ) مړ شو. یا (ابو حاتم سهل بن محمد سجستاني) چې د عربو په لغت، شعر او نحو کې عالم و او (۳۲) کتابونه یې لیکلي دي چې له هغو څخه کتاب المعمرین ( د لندن چاپ، ۱۸۹۹م) او کتاب النخله (د ایټالیا د پالرمو چاپ، ۱۸۳۷م) مشهور دي او دا عالم هم پر (۲۵۵هـ) مړ دی، (احمد بن ابو طاهر طیفور خراساني) (۲۸۰هـ مړ) چې (۵۰) کتابونه یې لیکلي او تاریخ بغداد (د لایزیک چاپ، ۱۹۰۸م) یې مشهور دي، ابو زید بلخي (۳۲۲هـ مړ) د صورالاقالیم او نورو ډېرو کتابونو خاوند، (ابو داود سجستانی) د (معروف سنن) خاوند (۲۷۵هـ مړ) او نور ډېر پوهان او عالمان له

پښتونخوا څخه وپاځېدل، چې د عربي علومو او ادابو ستوري دي.

له دې متونو څخه څرګندېږي، چې د درېیمې هجري پېړۍ په ترڅ کې د بست د سروان د سیمې یو افغان چې (ابو محمد هاشم ابن الزید السرواني) نومېده، عراق ته ولاړ او هلته یې ددې ځای له علماوو سره ناسته ولاړه درلوده او له (ابن خلاد) چې په (ابي العینا) مشهور و، هغه سره یې په بغداد کې ډېر عمرونه تېر کړل او له هغه څخه یې عربي بلاغت او اشعار ولوستل.

د ابو هاشم سرواني له خوا ژباړل شوی نظم لومړنی نظم دی چې له عربي ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوی دی. په دې کې (درهم، خلق او قتالونه) هغه عربي کلمې دي چې پښتو ته داخلې شوې دي. دغه راز د شیخ رضی لودي او نصر لودي په دواړو شعرونو کې د عربي ژبې کلمې کارول شوي دي، (الحاد، ملحد، اسلام، سنتي) کلمې عربي دي، په خپله (شیخ رضی) لودي، (نصر) لودي او (حمید) لودي د درېواړو نومونه عربي دي، بیا وروسته ورپسې د شیخ اسعد سوري قصیده ده چې هم یې فورم له عربي ژبې راغلی او هم د عربي ژبې د یو شمېر کلمو څرک په کې څرګند دی، لکه: (فلک، مدار، وصل، محمد او محمود، امیر، انتقال، قید، نثار، قطار، شعار، قرار، عدل، جنت، غفار) او نورې عربي کلمې دي چې په دې قصیده کې راغلې دي. په خپله د (شیخ اسعد) نوم هم عربي دی، له دې څخه معلومېږي چې عربي ژبه دا وخت دومره عامه شوه چې پښتنو کې مطرحو کسانو لکه په خپله محمد سوري، شیخ اسعد سوري او نورو عربي نومونه ایښي وو. د (امیر) کلمه هم دا وخت عامه شوې ده. (کروړ) یې ځکه (امیر) باله چې د (امارت) شرعي اصطلاح عامه شوې وه.

ورپسې د ښکارندوی غوري قصیده ده، چې په هغه کې هم (لعلونه، طیلسان، سلطان، صفت، اسلام، دین، شهاب، جهاد) او ځینې نورې عربي کلمې دي چې ځینو سره یې پښتو روستاړي هم یوځای شوي دي.

تر دې وروسته چې نور کوم شاعران راغلي، وار په وار یې په خپل کلام کې د عربي ژبې کلمې کارولي دي او دا لړۍ همداسې دوام کوي.

د ملکیار ، تایمني، شیخ تیمن، قطب الدین بختیار، بهلول لودي، خلیل خان نیازي، زرغون نورزي، زرغونې کاکړ، رابعې، بي بي نېکبختې، شیخ عیسی مشواني، شیخ صالح او نورو ټولو شاعرانو په شعرونو او د ماکو د نثر په بېلګو کې عربي کلمې شته چې د هغوی د کلام د شننې په ترڅ کې ورته اشاره شوې ده. د عربي ژبې د لغتونو د کارونې او تاثیر ترڅنګ په لرغونې دوره کې قصیده، مثنوي، غزل او څلوریزه هغه څرګند نظمي فورمونه دي چې له عربي څخه پښتو ته راغلي دي، د قصیدو په برخه کې د شیخ اسعد سوري او د ښکارندوی غوري قصیدې مو د بېلګو په توګه یادې کړې. په مثنوي فورم کې د اکبر زمینداوري، زرغونې کاکړ، زرغون خان نورزي او دوست محمد کاکړ بېلګې یادولای شو او د غزل فورم کې بیا د اکبر زمینداوري، بي بي نېکبختې او شیخ محمد صالح الکوزي د کلام بېلګې د یادونې وړ دي او هم د علي سرور لودي کلام. د څلوریزو په برخه کې سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازي څلوریزې یادولای شو، د قطعې فورم بیا د یادو نورو فورمونو په شان ډېر څرګند نه دی، خو البته قطعې ته ورته نظمونه ویل شوي دي، یا لږ تر لږه یو نظم د څو قطعو د مجموعې بڼه لري. په محتوایي برخه کې هم حماسي ادبیات په دې دوره کې تر

سترګو کېږي، ویاړنه یا فخریه، ویرنه یا مرثیه اشعار چې په عربــو کــې باب وو، پښتو کې یې هم ځرکونه او بېلګې لیدل کېږي. د ټولیزې پایلې په توګه باید ووایو چې په پښتو لرغوني ادبي دوره په (نظــم) او (نثــر) دواړو کې د دري او عربي کلمو په ګډون نږدې شپږ زره او ســل (۶۱۰۰) کلمې کارېدلي چې له هغې څخه یې تقریباً یو سل او څلــور اتیــا(۱۸۴) عربي کلمې دي چې د ټولو کارېدلو کلمــو نــږدې درې اعشــاریه درې (۳،۳) سلنه جوړوي.

# له دري ژبې سره اړیکي

د عربي ژبې ترڅنګ پښتو له دري ژبې سره هم د یوې ګاونډۍ او خور ژبې په توګه خپل خپل اړیکي ساتلي دي. دري ژبې ته ځکه د پښتو (خور) ژبه وایي چې دواړه ژبې د هندو اروپایي کورنۍ، اریایي څانګې غړي دي، پښتو بیا په ختیزو ژبو کې او دري بیا په لویدیزې ډلګۍ کې راځي. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې هم د دري ژبې کلمې کارېدلي دي. د عربي ژبې معکوس پښتو ته له دري ژبې څخه کوم شعري فورم نه دی را انتقال شوی، خو دا خبره له حقیقت څخه لرې نه ده چې ووایو د عربي ادب تاثیرات لومړی دري ته او بیا همداسې پښتو ته رالېږدېدلي دي. دري تر عربي ژبې وروسته د دیني او درباري ژبې په توګه په سیمه کې خپل خپل تاثیرات درلودل. له ( دوه بیتي) پرته چې د دري ژبې خپل فورم ګڼل کېږي، نور نو دري ټول هغه نظمي کالبونه کاروي چې په عربي ژبه کې دود دي. لکه مثنوي، رباعي، قطعه، غزل، قصیده، مثلث، مربع، مخمس، ان تر معشر پورې ټول هغه فورمونه چې په عربي ژبه کې دود وو او نورو ختیزو ژبو ته لېږدلې دي، دري یې هم کاروي. د یادونې وړ ده چې قافیوال نظمونه لکه مخکې چې مو یادونه وکړه د عربي ترڅنګ په ختیزو ژبو او د نړۍ په نورو ژبو کې هم باب وو، یانې په دې مانا چې له عربي ژبې څخه تقلید نه دی شوی، البته شعري یا نظمي فورمونه له شکلي پلوه نورو ژبو ته راغلي، څرنګه چې قافیه په

دې ژبو کې باب وه، نو ځکه يې د فورم په راخپلولو کې کومه ستونزه نه وه، ردیف چې په عربي ژبه کې تر قافیه والو نظمونو وروسته باب نه وو، خو په پښتو، دري او ځينو نورو ختيزو ژبو کې دود و، هغه هـم ورسـره مل شو.

د ابوهاشم سرواني په ژبـاړه کـې (خاونـد) د پښـتو او دري ژبـې مشترکه کلمه ده. د شيخ اسعد سـوري پـه قصـيده کـې بيـا (بهـار، خونخوار، خار، بادار، هزار، دار، کهسار) او ځينې نورې دري کلمې دي.

د ښکارندوی غوري په قصیده کې (کاروان، مگر، بیدیا، مکېز،گزار، خاوند، بادار) دري کلمې دي، د سليمان مـاکو پـه تـذکرة اوليـا کـې (سپاس، خاکپای، بزرگ، روزگار، مهربان، درخواست) او ځينــې نــورې دري کلمې دي او همداسې د دري ژبې اغېزې د پښتو ادب بـه ليکلـو متونو کې محسوسې دي. دا اغېزې له لرغونې دورې پيلېږي، منځنـی دورې ته راځي، بيا معاصرې دورې او ان تر ننه دوام مـومي. پـر يـادو شاعرانو سربېره نورو شاعرانو هم په خپلـو نظمونـو کـې دري کلمـې کارولي دي.

ملکيار غرشين، شيخ تيمن، تايمني، قطب الـدين بختيـار، شـيخ متي، بابا هوتک، ملکيار هوتک، اکبر زمينداوري، خليل خـان نيـازي، زرغونې کاکړ، رابعې، نېکبختې، دوست محمـد کـاکړ، شـيخ عيسـی مشوانې، شيخ بوستان بړېڅ او شيخ صالح تړولو په خپل کلام کـې دري کلمې کارولي چې د هر شاعر د شعر په لغوي شننه کـې ورتـه اشـاره شوې او دلته يې د تکرار د مخنيوي په خاطر له بيا يادونې څخه تېرېږو.

سربېره پر دې په لرغوني ادبي دوره کې ډېرې داسې کلمـې شـته چې د پښتو او دري ژبو ترمنځ مشترکې دي او يا هم گډه ريښه لري.

له دې څخه ښکاري چې پښتو او دري ژبې په ماضي کې لــه يــوې بلې ګڼې ژبې یا ژبو سره ګډه ریښه لري. هغه ژبې چې ګډه ريښه سره لري، ګاونډۍ وي، خوېندې وي، ګډ لیکدود ولري، هغه ژبې پر یوې بلې خپل څو اړخیز اغېز ښندي، نو له دري ژبې سره د پښتو اړیکي طبیعي حالت لري. څرنګه چې دري ژبه د علم، دفتر او دربار ژبه وه، نــو دغــه سیاسي، علمي او دفتر قوت هم ددې سبب کېده چې دري نه یوازې پر پښتو، بلکې د سیمې پر نورو ژبو هــم خپــل خپــل تــاثیرات پرېــږدي، خصوصاً پر لیکني ادب، البتــه پــر ولســي ادب بيــا دا تــاثیرات ډېــر محسوس نه دي، هلته پښتو ژبه ډېره سوچه او شعر يې هم ډېر سوچه پاتې شوی دی.

په مجموعي ډول لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه په لرغــونې دوره کې په نظم او نثر کې ټولې نږدې شپږ زره او ســل (۶۱۰۰) کلمــې کارېدلي چې له هغې جملې يې نږدې يــو ســل او څــوارلس(۱۱۴) دري کلمې چې د ټولو کارېدلو کلمو نږدې یو اعشاریه څلور اتیا(۱،۸۴) سلنه جوړوي.

# د څلورم څپرکي لنډیز

له نورو ژبو څخه د پښتو ژبې د اړیکو د څېړلو په ترڅ کې دا په ډاګه شوه چې پښتو ژبه په لرغونې دوره کې له عربي او دري ژبو دواړو سره ژبنۍ، فرهنګي او ادبي اړیکي لري. دا مهال پر پښتو ادب د عربي ژبې تاثیرات ورو ورو زیاتېږي، د پښتو منظوم او منثور کلام په دواړو بېلګو کې د عربي ژبې اغېز لیدل کېږي. ژبنۍ اغېزې چې د لغتونو په بڼه څرګندېږي، زیاتې ښکاره دي، خو ګرامري تاثیرات یې لا محسوس نه دي، د لغوي تاثیراتو ترڅنګ له عربي ژبې څخه شعري فورمونه یا د نظم چوکاټونه هم پښتو ته داخل شوي دي او پښتنو شاعرانو په همدې فورمونو کې هم ګڼ شمېر شعرونه لیکلي دي. لکه قصیده، رباعي، غزل، مثنوي او ځینې نور فورمونه هم په څنګزني ډول په لرغونې دوره کې پښتو ادبیاتو ته داخل شوي دي.

د عربي ترڅنګ د دري ژبې ژبنۍ اغېزې هم په پښتو منثور او هم منظوم کلام کې څرګندېږي، خو دا تاثیرات یوازې د لغتونو په بڼه جوتېږي، خو کوم ځانګړی نظمي فورم له دري څخه پښتو ته نه دی راغلی. د لرغونې دورې په لومړي پړاو کې د عربي او دري په ګډون د نورو ژبو تاثیرات پر پښتو ادب نه ښکاري، پښتو شعرونه پخوانیو اریایي سرودونو ته ډېر نږدې دي. خو د لرغونې دورې په دویم او نورو پړاوونو کې بیا د عربي او دري ژبو تاثیرات څرګندېږي، خو له دې دوو ژبو پرته

بیا د نورو ژبو تاثیرات نه څرګندېږي. څکه چــې دا مهــال د نــورو ژبــو اغېزې په سیمه کې محسوسې نه وې. د عربي تاثیرات څکه زیــات وو چې عربي د دین، مذهب، دفتر، دربار، سیاست، علم او ادب ژبــه وه او تر شا یې غټ سیاسي، اقتصادي، مذهبي او علمي قــوت پــروت و. تــر عربي وروسته دري هم ورته ځانګړنې لرلې او په دویم ردیف کې راځي، نو څکه یې پر سیمه خپل خپل تاثیرات درلودل. پر پښتو ژبه د عربــي ژبې تاثیرات هم د شعري فورمونو او هم په ژبنۍ برخه کې له لغوي پلوه محسوس وو و او د دري ژبې اغېزې بیا تر یوه حده د شعري محتــوا او همدارنګه د لغتونو په برخه کې محسوسې دي. د یــوې شــمېرنې لــه مخې د عربي ژبې د لغتونو کمیت په سلو کې نږدې درې اعشاریه درې (۳،۳) او د دري ژبې د ویيونو کمیت په سلو کې نږدې یو اعشاریه څلور اتیاوو (۸۴، ۱) ته رسېږي.

# د څلورم څپرکي پوښتنې

- پر پښتو لرغونو ادبیاتو د کومو ژبو تاثیرات څرگندېږي؟
- په لرغونو دوره کې د دري او عربي کلمو مجموعي شمېر څو سلنې تــه رسېږي؟
- په لرغونې دوره کې له کومې ژبې پښتو ته شعري فورمونه داخل شوي دي؟
- د دري ژبې تاثیرات د لرغونې دورې له کوم پړاوه پیلېږي؟
- پښتو او دري د ژبې د کورنۍ له پلوه څه اړیکي سره لري؟
- عربي ژبه د ژبو په کومې کورنۍ پورې اړه لري؟
- کومې ژبې په اسانۍ سره یوه پر بلې خپل تاثیرات پرېږدي؟

# پنځم څپرکی

# د لرغونې دورې نظم

د ادبیاتو د اوسنیو تعبیرونو له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي او نا لیکلي منظوم او منثور هنري اثار ادبیات ګڼل کېږي.

لکه څنګه چې دمخه مو هم یادونه وکړه او ټینګار مو وکړ چې: هر ډول لیکنې اوس څوک په ادبیاتو کې نه شمېري. یوازې هغه اثار د ادبیاتو تر عنوان لاندې د مطالعې ځای لري، چې هنري ارزښت ولري.

د ساري په ډول، موږ هر منثور اثر چې د علومو او فنونو په بېلابېلو څانګو کې لیکل شوی وي او یا هر منظوم اثر، چې د تاریخ، جغرافیې، طب او نورو علومو او فنونو تشریح ته وقف شوی وي، په ادبیاتو کې نه راولو، بلکې هغه اثار هنري او ادبي بولو، چې له تخیله رازېږېدلي او د ژوند واقعیتونه په هنري ډول منعکس کړي؛ پر لوستونکو او اورېدونکي خپل خاص ظریفانه او ښکلی هنري اغېز ولري او د هغو هنري ذوق تسکین کړي. دغه ادبي، هنري اثر باید په داسې یو ژبني چوکاټ کې بیان شوی وي، چې هم د ټولنیز ژوند هېنداره وي، هم په لوستونکي، اورېدونکي کې یو عاطفي احساس پیداکړي او ښکلاییز ارزښت ولري.

ادبیاتو ته یو ژبنی هنر هم وایي، هنر او علم دواړه واقعیتونه بیانوي، خو هنر واقعیتونه په نامستقیم او علم بیا پېښې په مستقیم ډول

بیانوي. د هنر او علم توپیر د واقعیت په نامستقیم او مستقیم بیان کې دی.

د ادبیاتو ددغه تعبیر، ساده او ابتدایي تشریح ته پــه پاملرنــه اوس موږ ګورو چې پښتو ژبه دغسې هنري، ادبي اثار لري او که نه؟

ددې پوښتنې ځواب مثبت دی او موږ چې د خپلــې ژبــې (پښــتو) ادبي زېرمې وپلټو، نو وینو چې له پخوا زمانې نه تر ننه پورې ددې ژبــې ویونکو هنري، ادبي اثار ایجاد کړي دي، چې هم یې ګړنۍ (نالیکلي) او هم یې تحریري (لیکلي) نمونې موجودې دي.

پر همدې اساس کله چې موږ پښتو ادبیات وایو، نو موږ مجبــورېږو، چې دا ادبیات لومړی پر نالیکلو او لیکلو ادبیاتو ووېشو او د شــکل لــه مخې. پر نثر او نظم خو دلته موږ په دې څېرکي کې پر نظم خبرې کوو. نظم بیا پر دوو برخو وېشو لومړی پښتو ولسي یا ګړني ادبیــات چــې د پښتو په خپلو ملي اوزانو یا فورمونو کې ویل شوي دي او دویم د نظــم هغه برخه یا هغه فورمونه دي چې له نورو ژبو په تېره بیا له عربي ژبــې څخه پښتو ته راغلي دي. دلته غواړو لومړی پښتو ولسي ادبیات یــا د نظم فورمونه تشریح کړو.

# د پښتو ولسي شاعرۍ فورمونه

ولسي ادبيات د پښتو ادبياتو ډېره درنه برخه جوړوي: ((دا به مبالغه نه وي او نه به کومه تېره يا زياته خبره وي، که ووايو چې د سـيمې پـه ژبو کې پښتو د ګړنيو ادبياتو د سرشارو چينو د لرلو له امله په لـومړي کتار کې ولاړه ژبه ده.

دا چې د پښتو د شفاهي ادبياتو زېرمې نسبت نورو ژبـو تـه زيـاتې دي، ددې خبرې غټ علت دادی، چې په پښتنو کې سواد له پخوا نه تر اوسه لا سم نه دی عام شوی او زموږ د خلکو يوه زياته سـلنه د خپلـو خاصو سياسي، ټولنيزو، اقتصادي، فرهنګي او جغرافي عواملو له املـه له ليک لوسته محرومه پاتې ده. په دغسې ټولنو کې چې سواد نـه وي عام، د ليکلو ادبياتو پرځای د شفاهي ادبياتو د ټوکېدو زمينــې ډېـرې زياتې موجودې وي.

همدا علت دی، چــې د شــمالي پښـتونخوا، افغانســتان، جنــوبي پښتونخوا، سند، پنجاب او کشمير په زياترو پښتني سيمو کې اوس هم د ګړنيو ادبياتو بېلابېلې نمونې ايجادېږي او د دغو سيمو په ښارونو کې د پښتو د ګړنيو ادبياتو د ايجاد زمينې محــدودې دي او ان لــه منځـه تللې دي. په پښتو کې د شفاهي ادبياتو دغه بېلابېل ډولونــه او ددغــه ډول ادبياتو زياتوالی سړی په دې باوري کوي، چې زموږ خلکو که زيات سواد نه درلود، خو هنري ذوق او احساس ورسره وو او خپل دغــه ذوق

او احساس یې ددغو ادبیاتو په بېلابېلو کالبونو کې ځایاوه.

زموږ خلکو د پېړیو په اوږدو کې خپل ارمانونه، خپلې خوښۍ، خپل غمونه، خپلې مینې او د خپل ټولنیز ژوند کړه وړه په دغو ګڼنیو ادبیاتو کې بیان کړي دي. دغه ادبیات لکه چې یې له نامه ښکاري، پــه ګڼنــي ډول خوله په خوله انتقال شوي او د انتقال په دې بهیر کې یې کلیوالي موسیقي هم خپل نقش ادا کړی دی. خو د انتقال دې لړۍ تر یوه وخته دوام کړی او د روایاتو په له منځه تللو سره دغه وخت پر وخــت ایجــاد شوي شفاهي ادبیات هم له منځه تللي دي او لکه هغه صحرایي ګــلان په خپل سر راټوکېدلي او د باغوان له پالنې پرته له منځه تللي دي.

څنګه چې په هره ټولنه کې شفاهي ادبیات سینه په سینه انتقــال مومي، نو ځکه یې لرغوني شکلونه تر وروستیو پېړیو پورې نه رارســي. اوس چې موږ د پښتو د شفاهي ادبیاتو کومې ثبت شوې بېلګې لرو، له ځینو استثنایي مواردو پرته په تاریخي لحاظ ډېرې لرغونې نه دي، خــو مفکوره او لیدلوری په ځینو دغه ډول سندرو کې لرغونی دی او ورسره یې د ځینو انواعو شکلي جوړښتونه هم له ډېرو لرغونو زمــانو روایــت کوي او له هغو اریایي سندرو سره نږدېوالی او نښتون لري، چې زرګونه کاله دمخه په دې خاوره کې ایجاد شوې، پالل شوې او روزل شوې دي. د پښتو د شفاهي سندرو یوه مهمه ځانګړنه داده چې په غاړه (لحــن) ویل کېږي.

د پښتو شفاهي ادبیات بېلابېل ډولونه لري، چې دغه ډولونه ځینې سیمه ییز دي، دا په دې مانا چې په یوه خاصه جغرافیه یې سیمه کــې ایجادېږي او په نورو پښتني سیمو کې چندان باب نه دي، خــو ځینــې ډولونه یې په ګردو هغو سیمو پورې اړه لري، چې ددغــه ډول ادبیــاتو،

ایجاد، وده، مینه وال او روزونکي لري.

د پښتو ددغو ګړنیو ادبیاتو د بېلابېلو ډولونو د ثبت او ټولولو لپاره څه دپاسه سلو کلونو راپدېخوا کار پیل شوی او تر ټولو دمخه پښتو شفاهي ادبیاتو ته غربیان متوجه شوي دي.

انګرېزانو د هند پر نیمه وچه د خپل واک په دوران کې د شمالي او جنوبي پښتونخوا او افغانستان له سیمو د پښتو د شفاهي ادبیاتو نمونې راټولې او ثبت کړې دي، چې د لویدیزو پوهانو ددغسې کارونو په لړ کې د جیمز ډارمستېټر (۱۸۴۹-۱۸۹۴م) کال کار تر ټولو ارزښتمن دی، ده د پښتو د شفاهي ادبیاتو نمونې په خپل مشهور اثر (د پښتونخوا د شعر هار و بهار) کې خوندي کړې او دا کتاب یې لومړی ځل پر (۱۸۸۸م) کال په پاریس کې چاپ او خپور کړ.

زموږ په هېواد کې هم د پښتو د شفاهي ادبیاتو د نمونو ثبت ته له شلمې پېړۍ راپدېخوا پاملرنه شوې ده.

په افغاني پوهانو کې ارواښاد غلام محی الدین افغان (۱۳۰۰هـ ش مړ) دا کار تر هرچا دمخه کړی دی او په (سراج الاخبار افغانیه) کې یې د پښتو متلونو نمونې چاپ کړې دي.

تر ده وروسته په کندهار کې د (پښتو ادبي انجمن) په جوړېدو سره او بیا په کابل کې د (پښتو ټولنې) له تاسیس سره سم زموږ خواخوږو ادب دوستانو د پښتو د شفاهي ادبیاتو دغو مرغلرو ته ډېره توجه وکړه او د پښتو د شفاهي ادبیاتو د بېلابېلو ډولونو نمونې یې ثبت او خوندي کړې. په دې کسانو کې ارواښاد محمد ګل نوري (۱۳۵۲ل کال مړ) د لوی حق خاوند دی، ده د پښتو د شفاهي ادبیاتو د ځینو ډولونو ډېرې خوندورې او زیاتې نمونې راټولې کړې دي.

تر نوري وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبــې تکــړه لیکــوال او شاعر (حبیب الله رفیع)، په پښتونخوا کې (پروفیسور محمد نواز خــان طایر) او په جنوبي پښتونخوا کې نومیالي لیکوال او شاعر (ولي محمــد خان سیال کاکړ) نومونه د یادونې او مننې وړ دي، دوی چې د پښــتو د شفاهي ادبیاتو د ټولولو او څېړنو په لاره کې کوم کارونه کــړي دي، پــه وروستي بهیر کې یې د کیفیت او کمیت له نظــره لــږ ســاری مومــو. د پښتو شفاهي ادبیاتو او پښتني فولکلور تیوریکي او علمي مطالعې پــه لاره کــې د (کاندیــد اکاډمیســین محمــد صــدیق روهــي)، (کاندیــد اکاډمیسین عطایي) او (سرمحقق دوست شینواري) کارونه او نومونــه نه شو هېرولای.

زموږ دغو خواخوږو او په راوروسته کې ډېرو نورو ځوانانو د پښــتو د شفاهي ادبیاتو بېلابېل ډولونه معرفي کړي او نمونې یې ورته لــه ولــس څخه راټولې او خوندي کړي دي. اوس ددغــو ښــاغلو کــارونو تــه پــه پاملرنه د پښتو د شفاهي ادبیاتو ډولونه په لاندې ډول ښیو:

د پښتو د ګړنیو ادبیاتو په څېړونکو کې ښــاغلی حبیــب الله رفیــع یوازینی سړی دی، چې د پښتو منظوم شــفاهي ادبیــات یــې د خپلــو ځینو خصوصیاتو له امله پر دوو برخو وېشلي دي:

**(۱) عامې سندرې:** یانې هغه سندرې چې ویــونکي یــې نــه دي ښکاره او په ګرد ولس پورې اړه لــري، لکــه: لنــډۍ، ســروکي، نــارې، لنډکۍ، د ښادۍ بدلې او نور...

**(۲) خاصې سندرې:** په دې سندرو کې یې هغــه ســندرې راوړې دي، چې اکثر د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جــوړېږي او یــا جــوړې

شوې دي، يانې شاعران يې معلوم کسان دي، لکـه: چـاربيتې، بـدلې، بگتۍ، لوبې، داستان، مقام، کسرونه او نور...

دا لوړ وېش تر ډېره حده پرځای دی او د پښتو د ولسي ادبيـاتو پـه ډېرو څېړنو کې منل شوی دی. دا خاصې سـندرې سـره لـه دې چـې زياتره د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا ويـل شـوې دي، د خپرېـدو او انتقال جريان يې هم کټ مټ هماغسې دی، لکـه د پښـتو د شـفاهي ادبياتو عامې سندرې او دا خاصې سندرې هم زياتره ليکلـی ډول نـه لري او سينه په سينه په شفاهي ډول انتقالېږي.

خو د خاصو سندرو په باب د يادونې وړ ټکی دادی، چې دا سـندرې په ټولنه کې د مشخصو افرادو له خوا ويـل شـوې دي، د ځينـو دغـو سندرو د اشارو او قراينو له مخې يې هم د ويونکي د ژوند مهال او هـم د سندرې د ويلو تقريبي زمانه ټاکل کېدی شي او پر همدې اساس موږ دغو کسانو او د دوی دا ډول ايجادياتو ته د پښـتو د ادبـي تـاريخ پـه ځانگړو ادبي دورو او ادبي پړاوونو کې د مطالعې ځای ورکولای شو.

پر همدې اساس دا ډول سندرې سره له دې چې ډېره زياتـه برخـه يې شفاهي ده او ځينې ځانگړتياوې يې هم له شـفاهي عـامو سـندرو سره يو شی دي، خو بيا هم گرده هغه خصوصيات چې د پښتو د گړنيو ادبياتو عامې سندرې يې لري، پر دغو سندرو کټ مټ د تطبيق وړ نـه دي.)) (۱۳: ۱-۵)

خو څرنگه چې دا سندرې يا شعرونه د پښتو په ملي اوزانو کې ويل شوي، نورو پښتو ولسي ادبياتو سره اړخ لگوي، د ځينـو يـې ليکلـی تاريخ هم معلوم نه دی، نو ځکه يې دلته د لوستونکو د اشـنايي لپـاره راوړو. په مجموعي ډول د ولسي يا گړنيو ادبياتو کوم فورمونه چې دلته

معرفي کېږي، دا ټول په لرغونې دورې پورې اړه نه لري، په تېره بیا هغه ولسي ادبیات چې شاعران یې معلوم دي، لکه ځینې، بگتۍ، چاربیتې، سروکي او نور، خو ځینې فورمونه او په هغو کې ویل شوې محتوا پخوانۍ ریښه لري، په مجموعي ډول دا فورمونه ډېر پخواني دي، خو په هغو کې ویل شوې او افاده شوې محتوا کېدی شي ډېره پخوانۍ نه وي او د لرغونې دورې له ادبیاتو سره همزولې نه وي، څرنگه چې دا فورمونه د پښتو شاعرۍ یا نظم یوه درنه جوړوي او د شکلونو له مخې پخوانۍ ریښې لري، نو ښه ده چې لوستونکي او محصلین ترې یو عمومي جاج واخلي؛ له دې فورمونو هم ښه خبر شي او له نورو ژبو څخه له راغلو فورمونو سره یې هم توپیر وکړي. دادی دلته په ترتیب سره د پښتو ژبې خپل ولسي یا ملي فورمونه درپېژنو چې په نورو ژبو کې نه شته او یوازې د پښتو ژبې خپل مال گڼل کېږي.

## ۱- لنډۍ:

لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې ډېر پخوانی، خو تر ټولو کوچنی شعري فورم دی، د مانا د ځواک او لېږد له پلوه نه یوازې په پښتو شاعرۍ، بلکې په نړیواله شاعرۍ کې یې ساری لیدل شوی نه دی.

زیاتره لنډۍ په هنري لحاظ ډېرې ښکلې دي، انځورونه په کې په خورا لوړه هنري بڼه اوډل شوي دي، په ساده گۍ کې دومره ښکلې ویل شوي، چې زموږ په شفاهي سندرو کې نورې سندرې ددغو خصوصیاتو له امله له لنډیو سره سیالي نه شي کولای.

د لنډیو ویونکي نه دي معلوم، لنډۍ د عام ولس مال دی، یو شپون، یو اوښبه، یو بزگر او په زیاته کچه زموږ کلیوالي ښځمنې ددې لنډیو په

ایجاد کې برخه لري.

لنډۍ ته ټیکۍ، مصرۍ، ټپه، اواز، بدله او سندره هم وايي او دا بېلابېل نومونه د بېلابېلو ځایونو په اعتبار دي. یانې د پښتنو په یوه سیمه کې ورته لنډۍ وايي او بله کې ورته ټپه وايي او کله چې لنډۍ په سروکي او نیمکۍ کې راشي، نو په دغه صورت کې (ټیکۍ) ورته هم وايي. دلته به د لنډیو نومونو ته هم لنډه کتنه وکړ:

**۱- لنډۍ:** ((د کندهار او پکتیا خلک ورته لنډۍ وايي دا په دې مانا چې لنډۍ په کندهار کې یو ډول مار دی که سرې وچیچي ورځخه نه رغېږي، یانې په لنډیو کې دومره شعري قوت موجود دی، چې تاثیر یې له هغه مار سره چې نوم یې لنډۍ دی برابر دی، دغه راز کېدی شي لنډۍ د خپل لنډ ترکیب او جوړښت له مخې هم لنډۍ وبلل شي.

**۲- مصرۍ یا ټپه:** د یوسفزیو ټبر او هغه پښتانه چې په پېښور کې اوسېږي هغوی یې د مصرۍ یا ټپې په نوم یادوي، چې دا هم علت لري او هغه داسې چې مصرۍ په پښتنو کې یو ډول مشهوره توره ده چې په جګړو کې ورځخه ډېره استفاده شوې ده، یانې زموږ لنډۍ د مصرۍ تورې غوندې اغېزه ښندلای شي.

**۳- ټیکۍ:** د اصلي مطلب په مانا ده، یانې زموږ په هره لنډۍ کې دا توان موجود دی چې په ښه هنري شکل کې زموږ د مطلب ټکي بیان کړي، په دغه وجه د مشرقي او وردګو خلک ورته ټیکۍ وايي.

یادونه باید وشي چې مصرۍ یا ټپه او ټیکۍ معیاري نومونه نه دي، ټول پښتانه هغه نه پېژني.

ځرنګه چې مو پورته یادونه وکړه، دغه نومونه په یوې مشخصې

سيمې پورې تړل کېږي، يوازې (لنډۍ) نوم دی چې ټول پښتانه يې پېژني.)) (۵۷: ۱۱-۱۲)

د لنډيو ددغه ستر ارزښت په پام کې نيولو سره يو زيات شمېر اديبوهانو د هغو راټولونې او شننې کار ته اوږه ورکړې ده.

په دې برخه کې تر ټولو پخوانی کار د هندوستان د يوه نواب (محمد ارتضاخان) دی. ده د (۱۲۲۵هـ ق) کال شاوخوا په خپل فرهنګ، (ارتضايي) نومي کتاب کې ځينې پښتو لنډۍ ثبت کړې دي.

(ډارمستتر) په ختيځ پوهانو کې د لنډيو د ثبت کار کړی دی او په افغانستان کې مرحوم نوري، مرحوم استاد بېنوا، ارواښاد محمد دين ژواک، په وروستيو کې ښاغلو عبدالکريم پتنګ، ارواښاد مصطفی جهاد او د پښتو ټولنې د فولکلور څانګې دغه ډول لنډۍ راټولې کړې دي، د لنډيو په ځانګړو مجموعو او يا د فولکلور د نورو مجموعو په ترڅ کې يې چاپ کړې دي.

په جنوبي پښتونخوا کې ښاغلي (ګل محمد کاکړ) د (ګل ټپې) په نامه د پښتو لنډيو څلور مجموعې چاپ کړې دي او په پېښور کې پښتو اکيډيمي د (روهي سندرې) په نامه د لنډيو دوې ښې مجموعې چاپ کړې دي. د لنډيو په برخه کې د پياوړي شاعر سليمان لايق او څېړونکې سلما شاهين کار هم د ځانګړې يادونې وړ دی.

دا راټولې شوې لنډۍ په ګردو پښتنو کې د ټولو لنډيو ټوله زېرمه نه ده، بلکې يوه برخه يې راټوله شوې ده او نورې ډېرې داسې لنډۍ په ولس کې شته چې تر اوسه لا د کاغذ پرمخ نه دي ليکل شوې.

په لنډيو کې د پښتنو د کليوالي ژوند او د دوی د کلتور د بېلابېلو اړخونو ځانګړنو انعکاس موندلی دی او په بېلابېلو موضوعاتو پورې

مربوطې لنډۍ موږ د خپلو دغــو شــفاهي ســندرو پــه مجموعــه کــې میندلای شو.

که څه هم د پښتو په ځینو لرغونو دېوانونو کې ځینــې لنــډۍ هــم راغلې دي، لکه: د (حسین) په دېوان ، د (سید غــلام ننګرهــاري) پــه دېوان او ځینې نورو دېوانونو کې، همدا راز د ځینو معاصــرو لیکوالــو، لکه: (بهايي جان صاحبزاده)، مرحوم (صالح محمد هوتک)، (صاحبزاده محمد ادریس) او نورو هم د لنډیو د جوړولو خواتــه توجــه کــړې ده او ځینې لنډۍ یې ویلې یا جوړې کړې هم دي، خــو دا لنــډۍ د پښــتو د عامو لنډیو یا هغو لنډیو په څېر چې په ولــس کــې ایجــاد شــوې دي، ښکلاییز، ادبي او هنري ارزښتونه نه لري او د لفظي جوړښت له مخــې هم لیکلي ادب ته ورته دي. د پښتنو په کلیوالو سیمو، غرو، رغــو، درو او د شپنو په کېږدیو کې د پښتو لنډیو ډېره زېرمه شــته. چــې ځینــې دغسې لنډۍ د پښتو د ولسي ادبیاتو ځینو خواخوږو له ولسه راټــولې کړې دي.

د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعــاً پــه (۲۲) څپــو یــا دوو مسرو کې دروند مانیز بار او ښکلا لېږدوي. په دې مانــا چــې د لنــډۍ لومړۍ مسره ( ۹) او دویمه (۱۳) څپې لري، لنډۍ قافیه نه لري، خــو د دویمې مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري، چــې د لنــډۍ ټــول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور (ه) په واول یــا غــږن اواز پایتــه رسېدلې وي. که په پای کې دا زور (ه) رانه شي نو اهنګ یــې نیمګــړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غرېز) جوړښت تــابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر (البته پــه همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ

په ژباړه کې ددې اهنګ ساتل شوی دی.

پر ټولو لنډیو باندې یو قانون د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هـرې لنډۍ لومړۍ مسره باید حتمي (۹) او دویمه یې (۱۳) څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې (څلورمه) او (اتمــه) څپــه او د دویمــې مســرې (څلورمه) (اتمه) او (دولسمه) څپه، خجنه وي. لکه:

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه

ددې لنډۍ څپیز- خجیز جوړښت په دې ډول دی:

U - U U U - U U U

U - U U U – U U U - U U U

له مانیز پلوه لنډۍ پر بېلابېلو ډولونو وېشل کېدی شي. د پښــتني ټولنې د ژوند د ټولو ډګرونو انځورنه په کې کېدی شي او شوې هــم ده، خو د شکل او جوړښت له مخې لنډۍ همدا یو ټاکلی شــکل او قــانون لري.

دلته به یو څو لنډۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

یوه وعده راسره وکه

چې د صراط په پله به یوځای سره ځونه

***

ستا به واده زما به مرګ وي

ستا به ډولۍ زما به کټ خاورو ته وړینه

***

ولې دې بد راسره وکړه

## زما همدغه هیله وه چې یار لرمه

څرنګه چې په لنډیو کې د وروستۍ مسرې وروستۍ کلمه اهنګینه وي او د وروستۍ څپې اهنګ یې لوړ او تر هغې دمخه څپې اهنګ یې لوېدلی شان وي (  ) نو دلته کېدی شي د لنډۍ هندسي جوړښت داسې ترسیم شي:



((څرنګه چې لنډۍ ډېر لنډ شعر دی، تاریخي قدامت او بنه معلومول یې اسانه کار نه دی، خو په مجموعي ډول لنډۍ د ګړني ادب ډېره لرغونې برخه ده چې تاریخ یې تر زر کلونو پخوانۍ زمانې ته رسېږي.

مثلاً یوه مشهوره لنډۍ ده، چې زر کلن قدامت لري دا لنډۍ د (خالو) معشوقې ویلې ده. (خالو) د (غزنوي محمود) له پښتنو سپه سالارو څخه یو مشهور سپه سالار و، کله چې دا پوه شوه چې خالو له خپل لښکر سره له جنګه بېرته راستون شو، نو دا لنډۍ یې وویله:

چې د خالو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

له پورتنۍ لنډۍ څخه دا ښکاري چې لنډۍ (زر کاله) دمخه یقیناً موجوده وه، ښایي تر دې لنډۍ مخکې ډېرې نورې لنډۍ هم ویل شوې وي چې ډېر تاریخي اسناد په کې خوندي وي، خو اوس یا ببخي له منځه تللي یا به یې بڼه او ستنه اوښتې وي. له بلې خوا په لنډیو کې د پښتنو

ژوند د اجتماعي او اقتصادي اړيکو ځرګندونې شــوې دي، پــه مختلفــو برخو کې يې د ژوند عکاســي کــړې او حتــی د هېــواد د تــاريخ ډېــرې حساسې مرحلې هم په لنډيو کې رانغښتل شوي دي، لکه:

که په ميوند کې شهيد نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

دغه لنډۍ چې د ميوند د تاريخي پېښې ځرګندونــه کــوي، زمــوږ د خلکو د حماسو په تاريخ کې لوړ مقام لري، اوس دغه لنډۍ زموږ تــاريخ ته ورداخله شوې او د تاريخ جز ګرځېدلې ده، نو دغسې نورې لنډۍ هــم لرو چې په تاريخي لحاظ ډېر اهميت لري، ډېــرې بــار ارزښــته تــاريخي پېښې موږ ته منعکسوي او ډېر معتبر اسناد موږ تــه پــه لاس راکــوي.)) (۵۷: ۹-۱۰)

سپوږميه سر وهه راخېږه

يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

دا لنډۍ هم ډېر قدامت لري او ويل کېــږي چــې زړو اريايــانو بــه د سپوږمۍ رڼا ته لو کاوه او دا لنډۍ هم د هغه وخت زېږنده ګڼل کېږي.

لکه څنګه چې مو دمخه يادونه وکړه لنډۍ د محتوا له پلوه تقريباً د ژوند د هرې برخې انځورګري کوي چې ددې ټولــو برخــو څېــړل اوږد بحث غواړي.

خو د جوړښت په باب يې يو ځل بيا يادونه کــوو چــې (( د دويمــې مسرې په وروستۍ څپه کې يې د فتحې يا زور (a) غږ راوړل حتمــي او ضروري دي، له دې اهنګين غږ پرته نه لنډۍ پوره کېږي او نه يې وزن. لنډۍ مقيد وزن لري او له دې ټاکلي وزن څخه وتلای نه شي. لنډۍ تر هرې دريو څپو وروسته (خج) اخلي يانې هره څلورمه څپه يې خجنــه

ده او دا قانون پر ټولو لنډيو يوشان د تطبيق وړ دی. ((د وينا پرمهال پر سپلابونو باندې لوېدونکي زور ته خــج وايــي.)) (۱۹: ۴۴) دلتــه بــه د لوستونکو د معلوماتو د لا زياتولو لپاره څو لنډۍ د څپو او څو لنــډۍ د خج له پلوه سره وشنو:

## د څپيز جوړښت له مخې:

په سترګو بيا د رنجو زور که

د مسافر جانان دې غږ دی چې راځينه

اوله مسره:

په_ستر_ګو_بيا_د_ رن_جو_ زور_ که

دويمه مسره:

د_ م _ سا_فر_جا_نان_ دې_ غږ_ دی_ چې_ را_ځي _نه

پورته لنډۍ کې مو وليدل چې لومړۍ مسره يې نهه څپــې او دويمــه مسره يې ديارلس څپې لري.

که د يار غږ راباندې وشي

مال به خيرات کړم سر به زېری ورکومه

اوله مسره:

که_د_يار_غږ_را_بان_ دې_ و_شي.

دويمه مسره:

مال_ به_ خی_رات_ کړم_ سر_ به_زې_ری_ور_که_ و_مه.

همدغه ډول که هره لنډۍ وګورو او پر څپو يې ووېشو لومړۍ مســره يې نهه او دويمه مسره يې ديارلس څپې لري.

دغه راز په پښتو لنډیو کې لکه دمخه چې مو یادونه وکړه د خج موضوع داسې ده، لومړۍ مسره یې چې نهه څپې لري پر (څلورمه) او (اتمه) څپه یې خج راوړل کېږي. او په دويمه مسره کې چې دیارلس څپې لري پر (څلورمه)، (اتمه) او (دولسمه) څپه خج راوړل کېږي.

د بېلګې په توګه لاندې لنډۍ ګورو.

که پسې مرم مرګ مې پرځای دی

u / u u u / u u u

زما پر سر یې جبل خانې منلې دینه

u / u u u / u u u / u u u

راځه راځه دیدن مې وکه

u / u u u / u u u

د سرتختې راباندې ږدي پناه یې کړمه

u / u u u / u u u / u u u

ستا له یارۍ به توبه نه کړم

u / u u u / u u u

که جلادان مې سر له تورو سره وړینه)) (۵۷: ۱۳-۱۴)

u / u u u / u u u / u u u

## ۲- سروکی (نیمکۍ):

سروکی د پښتو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل فورمونه یا شکلونه لري. ځینې پښتانه سروکی (نیمکۍ) بولي او د پکتیا په منګلو کې د (پام) په نوم یادېږي.

سروکی د پښتو ولسي سندرو د نورو اصنافو په څېر د پښتون قام د زیاترو کړو وړو انځورنه کوي او د خلکو د ملي، اجتماعي او روحي ځانګړنو

عکاسي په کې شوې ده.

سروکی معمولاً د لنډيو په واسطه بشپړېږي، داسې چې لومړی سروکی ويل کېږي، بيا ټيکی (لنډۍ) ور اچول کېږي. له سروکو سره ټولې لنډۍ ويل کېږي، خو هغه لنډۍ چې د سروکي له موضوع سره ارتباط ولري، خوندورې وي. لنډۍ وار په وار بدلېږي، خو سروکی د هرې لنډۍ په پای کې مکرر راځي. لکه:

خانه راځه دلبره
ډکې لارې د جنکو لندن ته ځينه
د جنکو قدر يې کم که
امان الله ته دې خدای لونې ورکوينه
خانه راځه دلبره
ډکې لارې د جنکو لندن ته ځينه

سروکی کله يو بيتيز وي، يانې دوه مسرې لري، چې لومړۍ مسره يې اوږده او دويمه يې لنډه وي او کله يې دويمه مسره اوږده او لومړۍ يې لنډه وي، کله درې مسريز، څلور مسريز او پينځه مسريز هم وي، چې دلته به د هر يوه بېلګه راوړو:

دوه مسريز سروکی چې لنډۍ هم ورسره مله ده:

الا يو غر وشو
راغلې مه وای د جبو په ميدانونه
د لمندار کميس مېرمنې

الا یو غړ وشو
اور له لمنې باروې ستې دې کړمه
الا یو غړ وشو.

درې مسریزه سروکی:
پسې ورجګ کړه سره لاسونه
لنډ کړه د ټیکۍ مزي دې
خال به دې وران شي.

څلور مسریزه سروکی:
تورې سترګې خماري
درته کړم ناله زاري
د زړه زخم مې کاري
شوم رسوا ستا په یاري
پینځه مسریز سروکی:
بي بي شېرینې
زېړې ګلې
راباندې واچوه
یوه لونګۍ
جوړه لاسونه

سرمحقق زلمی هېوادمل لیکي: (( سروکی بېلابېل فورمونــه لــري چــې ځینې یې ډېر زاړه دي او د اوستایي ګاتونو له (هوخشتاتره) او (اهونار) ســره

په تول او وزن کې برابر خبرې)) (۱۷: ۵۹-۶۱)

دويمه او درېيمه بېلګې يې دادي:

**شين كميس راوړی كمر بند مې دی تر ملا**

**و غازي امان الله**

✵✵✵

**مين چې شومه په ګل ببو**

**ستي يې كړمه په سرو لمبو (۳۰: ۱۰)**

## د درې مسريز سروكي شكلونه:

يو ډول يې هغه دي، چې د سر لومړۍ مسره يې تر دويمې اوږده وي او دويمه يې تر درېيمې. بل ډول يې دادی، چې د سر لومړۍ او درېيمه مسره يې د څپو د شمېر له مخې برابرې وي او هم قافيه وي، خو دويمه مسره يې قافيه نه لري او هم لنډه وي.

دويمه بېلګه يې داده:

**پورې د جانان كډې بارېږي**

**زم ورسره ځمه**

**كله مې مين زړګی صبرېږي. (۳۰: ۸-۹)**

## څلور مسرييز سروكی:

هغه ډول چې ټولې مسرې يې قافيې ولري او د څپو شمېر يې سره مساوي وي.

بله بېلګه يې داده، چې څلور واړه مسرې يې ټولې قافيه والې نه وي او هم يې د څپو شمېر سره برابر نه وي، لكه دا سروكی:

ګودر غاړه اجاره
ما بې وروره مه کې
وروري ما سره جوړه
شرنګ دې د بنګړو (۳۰: ۵)

سربېره پر دې د سروکو نور ډېر ډولونه هم شته لکه هغــه ســروکي چې د ښځې او نارینه ترمنځ د سوال او ځواب په توګه ویل کېږي لکه:

ښځه: جانانه راشه دیدن وکړه
خفه زړګی مې ښه کړه
سبا بېلتون دی

نارینه: ګلې سبا ته به درځمه
تا نه خفه کومه
ښکلی ژوندون دی

بله بېلګه:

ښځه: خان دلاور خانه، توره دې لونګۍ شمله دې لا مزه کوینه.
نارینه: ګلې بي بي ګلې، تورې سترګې سره لاسونه لا مزه کوینه.

دغه راز یو شمېر نور سروکي هم شته، چې په بېلابېلو سیمو پــورې اړه نیسي، په لنډ ډول هغه د سر محقق زلمي هېوادمــل پــه وینــا: ((د سروکو د فورمونو شمېر خورا زیات دی.))

## ۳- د اتڼ نارې:

د اتڼ نارې، لکه له نامه څخه یې چې معلومېږي، یوازې په اتڼ کې ویل کېږي، پر ناستې نه ویل کېږي، که څوک یې ووایي هم خونــد نــه

کوي. ښځې هم په ښاديو کې اتڼ کوي او نارينه هم. د نارينه وو. د اتڼ نارې ښځې هم په خپل اتڼ کې وايي، خو ښځې ځانته بېلې مخصوصې نارې هم لري، چې نارينه هغه په خپل اتڼ کې نه وايـــي. د نارينـــه وو د اتڼ نارې پر ډول ډول او بېل بېل وزن د اتڼ چيانو له حرکاتو سره سمې ويل کېږي، لکه ورو اتڼ، يو بغله اتڼ، دوه بغلـــه اتـــڼ، درســـت اتـــڼ، د ايشلي اتڼ، د ناستې اتڼ د پروتې اتڼ، د پروتې دوه بغله اتـــڼ، چپـــه و راسته اتڼ، غلی اتڼ او... (۴۴: هــ)

ددې هر ډول اتڼ له حرکاتو سره سم ناره له خپل وزن څخه اړوي او په نوي وزن يې وايي.

د اتڼ نارې معمولاً درې او څلور مسـرې لـري، خـو هـم پـه درې مسريزه او هم په څلور مسريزه ناره کې د مسرو د څپو شـمېر سـره مساوي نه وي. په درې مسريزه ناره کې لومړۍ او درېيمه مسـره سـره هم قافيه يا هم اهنګه وي، وروستۍ يا درېيمه مسره معمولاً لويه وي او دويمه مسره يې تر ټولو کوچنۍ وي:

چټې چې په پښو دې کړې چوټې
ځوانان دې لېوني کړه
زاړه خواران دې وايستل له ګټې

په پورتنې ناره کې (چوټې، ګټې) د قافيې کلمې دي. لومړۍ مسـره (۱۰)، دويمه مسره (۷) او درېيمه (۱۱) څپې ده.

واوړئ د هوا مرغانو واوړئ
مساپر مې دورې تللي

**مرغانو په وزرو کې یې راوړۍ**

په دې ناره کې لومړۍ مسره (۱۰)، دویمه (۸) او درېیمه (۱۱) څپې ده (واوړۍ او راوړۍ) یې د قافیې کلمې دي.

ددرې مسریزو نارو بل ډول دادی، چې د قافیې ترڅنګ ردیف هم لري لکه:

**کمیس مې تر لمنې ګلاګل دی**

**د خیال کمیس مې دادی**

**چې اورونه لګوي هغه لا بل دی**

په دې ناره کې (ګل او بل) د قافیې کلمې دي. (دی، دی) یې ردیف دی. لومړۍ مسره (۱۱)، دویمه (۷ ) اودرېیمه (۱۲) څپې ده.

کله کله په درې مسریزه ناره کې داسې هم پېښېږي، چې لومړۍ او وروستۍ مسره د څپو د شمېر له مخې سره مساوي وي. لکه په دې ناره کې:

**هلکه چې سپین موټی دې چاړه ده**

**ما به خولګۍ درکړه**

**هلکه خو ریباره دې میره ده**

ددې نارې لومړۍ مسره (۱۱) دویمه (۶) او درېیمه هم (۱۱) څپې ده.

د اتڼ نارو بل شکل دادی، چې څلور مسرې ولري، ددې هرې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مساوي نه وي. لومړۍ او درېیمه مسره یې نسبتاً کوچنۍ او دویمه او څلورمه یې تر هغو دوو نورو لویې وي. معمولاً لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یې سره هم قافیه وي. لکه:

**دله دله دله**

**کوتره يم راغلې له کابله**

**يا به کابل خپل کم**

**يا به راوړم د کابل ژېړه بلبله**

لومړۍ مسره (۶) دويمه مسره (۱۱ ) درېيمه (۶) او څلورمه (۱۲) څپې ده. (دله ، کابله او بلبله) د قافيې کلمې دي. بله بېلګه:

**خانه زمورِ خانه**

**دا ستا خاني دې خدای نه کي ببرانه**

**ملکونه دې رعيت کړه**

**د دښمن کلا دې وکښه د ميدانه.**

په دې ناره کې لومړۍ مسره (۶)، دويمه (۱۱)، درېيمه (۷) او څلورمه (۱۲) څپې ده. (خانه، ببرانه او ميدانه) يې د قافيې کلمې دي.

**دويمه بڼه:**

د څلور مسريزو نارو بل ډول دادی، چې د قافيې ترڅنګ رديف هم لري. لکه:

**څه کم د چا څه کم**

**پر خپل غولي ولاړه يم کاته کم**

**يار که مې نادان دی**

**د بل پر ښايستو به يې ور نه کم**

په پورتنۍ ناره کې لومړۍ مسره( ۶)، دويمه (۱۰)، درېيمه (۶) او څلورمه يې (۱۱) څپې ده. (څه، کاته، ورنه) يې د قافيې کلمې دي. (کم، کم) يې رديف دی.

د ځلور مسریزې نارې بله بېلګه داده:

**پوړنی مې ابې دی**
**له خیاله مې غبرګ کړی پر تندې دی**
**مابه اتڼ وکړای**
**دا ستا د بابا کلی رخشندې دی (۴۴: بېلابېل)**

په پورتنۍ ناره کې لومړۍ مسـره (۷)، دویمــه (۱۱)، درېیمــه (۶) او ځلورمه (۱۱) څپې ده. (ابې، تندې او رخشندې) د قــافیې کلمــې دي. (دی، دی) ردیف دی.

پر پورتنیو یادو شکلونو سربېره د اتڼ په ځینو نارو کې د قــافیې او څپو د شمېر په حساب لږ شان بدلون ښکاري، خو ډېر عــام نــه دی. د اتڼ د نارو اساسي ډولونه همدا وو، چې پورته یې یادونه وشوه.

## ۴- کاکړۍ غاړې (کاکړۍ):

کاکړۍ غاړې چې کاکړۍ لنډۍ یــې هــم بــولي، د پښــتو ولســي ادبیاتو یو خوږ ډول دی، چې راز راز موضــوعات (رزم او بــزم د پښــتو ټولنیز، اقتصادي شرایط، کلتوري، دیني او عقیده یي مســایل، ســاده ولسي افکار، ټوکې او ټکالې او د پښتني کلتور بېلابېل اړخونه، خویونه او رواجونه) په خپله لنډه تنګه غېږ کې رانغاړي.

کاکړۍ لنډۍ که څه هم له نامه څخه یــې لــه کــاکړو ســره تړلــې معلومېږي، خو د ټولو پښتنو اصیل مال دی او په پښتنو کې داسې کام نه شته چې ددې لنډیو په جوړولو کې یې لره یــا ډېــره ونــډه نــه وي

اخیستې. دغه ډول له نورو ټپو څخه یو جـلا او بېـل شـی دی، چـې لومړی وار کاکړو نښلولي دي او تر (۱۳۷۵ل) کال پورې به زیات و کـم پنځوس زره کاکړي لنډۍ جوړې شوې وي.

کاکړي لنډۍ له دوو مسرو څخه جوړې وي، چـې کلـه کلـه یـې د دواړو برخو سېلابونه سره برابر او کله کله توپیر سـره لـري او د دواړو برخو وروستي توري یې سره یو رنګ وي. هغه کاکړۍ غاړې چـې هـره مسره یې اته اته سېلابه وي:

ښایستې که ستا رضا ده
ستا د قام بـدي پـر مـــاده

هغه غاړې چې یوه مسره یې اته او بله نهه سېلابه وي:
شین خالۍ نجونې لاښې دي
پـــه لاره ځـي لـــه خندا شنـې دي

هغه غاړې چې یوه مسره یې اوه سېلابه او بله یې اته سېلابه وي:
تر لاس نه تړو ګړۍ
مورِ ملنګان یو شین خالۍ
اوه سېلابه غاړې:
د بوټو تنې تړم
د شاکار مېلې ته ځم (۱۷: ۵۵-۵۶)

## ۵- ببولاله:

ببولاله د پښتو ادب هغه مخصوص شعري فورم يا سندره ده، چې د واده پر لومړۍ ورځ، کله چې د ناوې سر وغوړوي او د واده پر مخصوص تخت يې کښېنوي، د ورا او د ناوې تر خوا ښځې ګډې وډې شاوخوا سره کښېني او ناوې په منځ کې ناسته وي، نو دا ښځې دغه سندرې په ګډه وايي.

کله کله د ببولالې له اصلي متن سره يوه بله مسره هم يوځای کوي او بيا يې په ترنم کې وايي، دا مسرې ببلابېلې دي، چې د خپلې مانا له مخې ببولاله هم د هغې په نامه يادېږي. لکه ( دوه دوه تاره اخلي) (خور ښادي) او (ښه رورا)، ببلګې يې دادي:

دوه دوه تـــــــــــاره اخلـــــــــــي
ګيســــــو ورو ورويــــــــې ببلويـــــــه
نـــــــاوکۍ مــــــوده ناندانـــــــه
تـــــر غرمــــې مـــــې يــــې ځندويـــــه

✵✵✵

خــــور ښــــادي دې مــــه ســــه پاتـــه
خــــور ښــــادي دې مــــه ســــه پاتـــه
خـــــــور ښـــــــادي مــــــــو ده
د کمپلــــــــې ژۍ يـــــــې تـــــــورې
د کمپلــــــــې ژۍ يـــــــې تـــــــورې

خـــــــور ښـــــــادي مـــــــو ده
لالـــــی پـــــر ننـــــګ مـــــین دی
خپښـــــې نـــــه باســـــي ســـــرتورې
خـــــــور ښـــــــادي مـــــــو ده

✵✵✵

ښـــــه رورا ښـــــادي دې وســـــــه
شـــــاه ســـــلامتي دې وســـــــه
شـــــین بادرنـــــګ او بـــــورا وړی
شـــــین بادرنـــــګ اوبـــــو راوړی
چـــا پـــه خـــوب نـــه دی لیـــدلی(۴۴:ک)

ببولالې عموماً درې مسرې لري. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي، د پښتو اکثره ببولالې د څپو د شمېر له مخې (اته) څپې وي او دا قانون تقریباً پر ټولو ببولالو تطبیقېږي. کېدی شي د لنډیو په شان د ببولالو وزن هم ځانګړی وي، خو پر لنډیو بیا پر مطلق ډول یو قانون تطبیقېږي، خو په ببولالو کې یو څه شکلي بدلون شته.

په ببولالو کې قافیه شته. د ببولالو لومړۍ او درېیمه مسره په خپل منځ کې هم قافیه وي، خو دویمه یې له قافیې ازاده وي.

دغه راز ځینې ببولالې تر قافیې وروسته ردیف هم لري.

په ځینو استثنایي حالاتو کې کېدی شي دویمه مسره هم قافیه اختیار کړي او هم کېدی شي د څپو په شمېر کې کومه څپه زیاته او یا کمه شي، خو د ببولالو عمومي شکل او جوړښت همدا دی، چې درې مسرې لري، هره مسره یې اته څپې لري، لومړۍ او درېیمه مسره یې

هم قافیه وي، که د څپو په شمېر کې زیاتی او کمښت راشـــي، نــو لــه ورایه یې په وزن کې کمی احساسېږي. د ترنم او موسیقی پــر وخــت د ببولالو له مسرو سره (ها ببولاله لا له وای) یو ځــای کېــږي او د شــعر کمپوز برابرېږي؛

لکه:

اوښ ولاړ زنګـــــون تړلـــــی (هـــــا) ببولالــــــه
اوښ ولاړ (وای، وای) زنګـــــون تړلـــــی (وای)
تر هغو به یې خلاص نه کم (وای) ببولالــه، لالــه
څو زما جان (وای وای) نه دی راغلــی (وای)(۴۴:ح)

دلته به د ببولالو څو بېلګې وړاندې کړو:

پر کور سور زومبک ځړېږي
هغه لور دې سترګې وخوري
چې د پــلار پــه کور نازېږي

دمسرو شمېر یې (۳)، د څپو شمېر یې (۸)، (ځړېــږي) او (نــازېږي) یې د قافیې کلمې دي.

د همدې ډول بله بېلګه:

پر کور دوه زرغونه شاله
زمــا جــان ورتـــه ولاړ دی
لاس یې نه ورځي د خیاله

د ببولالې بل شکل دا دی، چې تر هماهنګو اهنګینو کلمو یا قافیې

وروسته بله کلمه یا ردیف هم ولري. دا یې بېلګې دي:

تر بالښت لاندې انار دی
داسې زوم مو دروستلی
چې نامتو د کندهار دی

بله بېلګه:

ناوکی ګوتې د سرو دي
تر دسمال یې را ایستلي
چې سکه لېورونه څو دي(۴۴: بېلابېل)

په لومړۍ ببولاله کې (انار، کندهار) او په دویمه کې (سرو او څو) د قافیې کلمې دي. په لومړۍ کې (دی، دی) او په دویمه کې (دي، دي) ردیفونه دي.

## ٦- چاربیته:

چاربیته د پښتو ملي شعري فورمونو هغه ډول دی، چې هر بند یې تر څلور مسرو څخه کم نه وي. زیاتره چاربیتې په ملي موسیقۍ کې ځانته په زړه پورې اهنګونه او خوږې نغمې لري او د دې لپاره چاربیتې بلل کېږي، چې بندونه یې یا تر څلور بیتو او یا تر څلورو مسرو څخه ببخي کم نه دي. په چاربیته کې همېشه یوه اوږده موضوع چې اکثراً عشقي او حماسي وي (لکه د قصیدې او مثنوي په شان) افاده کېږي.

چاربیته د فورم له مخې په عمومي ډول پر دوو لویو برخو وېشل کېږي:

۱- ساده چاربیته.

۲- زنځیري چاربیته:

دغه دوه ډوله چاربیتې بیا په خپل وار سره د مسرو د شمېر برابروالي اوږدوالي او لنډوالي له مخې پر ډېرو نورو ډولو وېشل کېږي؛ لکه: د څلورو، پینځو، شپږو، اتو، نهو او لسو مساوي لنډو یا اوږدو مسرو زنځیري چاربیته.

له مانیز پلوه چاربیته پر عشقي، تاریخي، رزمي او نورو برخو وېشل کېږي. د ساده چاربیتې یوه بېلګه، دا چاربیته د نوښار د محمد دین ده.

مطلع: څوک به پیدا نه شي د فرهاد او شیرینۍ په شان
یوځای به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

بند:

یوځای به څوک نه شي لکه و عاشق فرهاد
تل به یې کولو په اشنا پسې فریاد
وه یې کړه خواري ځکه حاصل یې شه مراد
کړې به یې خبرې د طوطا د بنارونۍ په شان

بند: کړې به یې خبرې د مجنون دا مشغولا وه نه
بل به یې څه نه وو خو په خوله به یې لیلا وه نه
وچ شه لکه دړه د خاوند په دې رضا وه نه
بیا به ګرځېده په دې پسې د لېونۍ په شان

بند: راغی قطب خان چې راروان له رانیزو نه شو

سر په ټیک ویده و ځکه پاتې له مزو نه شو
پروت و لکه مړی سرو کار یې له نیازو نه شو
غوځ یې په ځیګر که لکه توري ایرانۍ په شان

بند: غوځ یې په ځیګر که چې رانجا عاشق په هیر شو
تل یې سر تندی واهه همېش د ځان په ویر شو
مړ ملا بهادر نیمبو لا ځکه دستګیر شو
هلته ظلم نه شته دی شاګرده د خانۍ په شان(۱:۳۲)

په دې ډول ساده چاربیته کې له ځینې استثنایي حالت پرته، د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د هر بند وروستۍ مسره په قافیه کې د مطلعې له مسرو سره یو شان وي.

د پښتو ولسي شاعرۍ په باب ډېر ځله دا څرګندونه کېږي، چې په دې فورمونو کې ویل شوي شعرونه اکثره د نالوستو شاعرانو زېږنده دي. دا خبره مطلقه نه ده، په همدې فورمونو کې د هېواد یو شمېر نومیالیو لوستو شاعرانو هم شاعري کړې ده، له هغې جملې نه د همدې چاربیتې په فورم کې په ساده چاربیته کې له پورتني ډول پرته نور ډولونه هم راتلای شي. دلته به د ساده چاربیتې د یو بل ډول دوه بېلګې راوړو. لومړۍ بېلګه یې د جرار صیب ده:

د سترګو مخ مې وسو یاره ستا د مخ په نور تک تور لکه ماغوت
تاو کړی په ماغوت کې خپل اشنا ته وړم ضرور د سرو اوښکو یاقوت

که وایم ستا په مخ مې دا جوړه کسي وریته دي تاثیر به د لمبې وي
وښته د مخ له تاوه تار په تار سره پراته دي دا تاو به د شغلې وي
حبشو ته حیران یم په فرنګ یې ورخاته دي دا زور به د حملې وي

سپین مخ دې معرکه شو امتحان به کړي ضـــرور معلوم به شي مـــزبوت
(۱۷: ۵۹-۲۲)

**په دې ډول فورم کې د سر لومړۍ او دریمه مسره د څپو د شمېر له مخې په خپل منځ کې سره برابرې دي او یو شان قافیــه تعقیبــوي. دویمه او څلورمه مسره بیا په خپل منځ کې د یو شان قافیې لرونکې او د څپو د شمېر له مخې سره برابرې وي، د هر بند لویې مسرې په خپل منځ کې دڅپو د شمېر له مخې سره برابرې او په خپل منځ کې یو شان قافیه تعقیبوي او وړې مسرې یې په خپل منځ کې، خو د هر بند د پای لویې او وړې مسرې بیا د مطلعې د لــویې او وړې مســرې د قــافیې او شکلي جوړښت تابع دي. په ټولیز ډول ټولې لویې مســرې لــه لویــو او وړې مسرې له وړو سره د څپو د شمېر له مخې برابرې وي.**

**دې ته د ورته چاربیتې یوه بله بېلګه هــم راوړو. دا د مــلا مقصــود چاربیته ده:**

**مطلع:**

شین خال دې په شمال ایښی د وروځو په پیوند
ځــلېږي زرافــــشان
اوربــل دې الــول لــکه بـخمــل دې بــند پــه بند
راپورته کړه چشمان

**بند:**

شین خال دې په مشال ایښی د وروځو په مابیـــن — لــه ورایــه تـجـلی کا
نــرۍ پـوزه الــف خــواږه دې دواړه شــفتـــین — زړګی مې واویـــلا کا
زنخ لرې ګبین خوله دې شیرین سره دې عــنـــین — څوک څـــه لره ګیلې کا

✲✲✲

جـمال درکـړی رب، لـــرې نـسب داســې څرګند — رایـت دې که خـــاقان
جـمال راکـــړی رب لـرم نـسب د پــاچـایـــانـو — روغ ځـان ساته کمبخته
عـــاجـز غریب سړی یې یـاري مـه کړه د خوبــانـو — چې رانه شــې بې وخته

تــه خپل مساوي ګــــوره ستا دی ځوی د نادارانــو لــرمه طبـــعه ســخته
ژوندی به دې پرې نه ږدم زمـا خدای په نوم سوګـند ته واوره دا بــــیـــان
(۲۲: ۱۴-۱۵)

**زنځیري چاربیته:** زنځیري چاربیتې ته اته مسریزه چاربیته هم وایي، په دې باب یو لیکوال وایي:

هغه چاربیتې چې اته مسرې لري هغې ته عوامي چاربیته ویلی شو، ځکه چې د عامو شاعرانو په اصطلاح کې چاربیته وایي همدې ته چـې څلور بیته او اته مســرې وي، پــه دې ډول چــاربیتو کــې د ســر دواړه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه نه وي، بلکې اوله یې په یــوه قافیــه وي او دویمه یې په بله. او بیا د هر بند په پای کې چې کوم بیت راځي د هغه بیت د دواړو مسرو قافیه د مطلعې د دواړو مسرو له قــافیې ســره یوشان وي. عبدالحکیم اثر هم همدا راز د (۸) مسرو چاربیته پـر درې ډولونو باندې وېشي:

۱- یو قسم هغه ده، چې د هر بند اول درې بیتونه یانې شپږ مسرې یې په خپل کور کې سره په یوه قافیه وي او وروستی بیت د چــاربیتې له مطلعې سره موافق وي. ددې بېلګه داده:

مطلع:

شـــــاګرده اول نـــــص د الهـــــی پروردګـــــار دی
استاده بـل حــدیث د محمــد نبــي حضــرت دی

بند:

شاګرده په جهان کې جبرائیــل نــومی ملــک دی
استاده خاص مقــام د ده اووم اســمان فلــک دی
شاګرده ټول وجود یې د زنځیر حدیده کلــک دی

استاده سـر تـر پایـه پـه وزرو بانـدې چـک دی
شاګرده د رحمت په رب کې ډوب لکه سـمک دی
استاده ما په دې خبره هـم ویسـتلی شـک دی
بې حده ښایسته د نور په شان شـعله انګـار دی
د باد په شان ته ګرځې په هوا بانـدې اوچـت دی

بند:

شاګرده زه یـې نـوم ویلـی نـه شـم ویـرول کـا
اسـتاده هغـه دادی چـې د روحـو قبضـول کـا
شـاګرده قبضـول د ګنهګـارو پـه زلـزل کـا
اسـتاده بختـورو تـه پـه پـوزه بـو د ګـل کـا
شاګرده غټ عذاب دی چې زورونه پـه ګوګـل کـا
اسـتاده پـه سـختۍ د بـدو روحـو وښـکل کـا
کمبختو ګنهګـارو تـه پـه دغـه شـان قهـار دی
چې سم یې په شرف یـې مقـرر ورلـه جنـت دی

بند:

شـاګرده زه ډوب شـوی د غمونـو پـه دریـاب یـم
استاده زه د غره لاندې حصار پـه پـېچ و تـاب یـم
شاګرده په تهمت باندې تک تـور لکـه غـراب یـم
استاده لاس مې مروړم پـه ارمـان لکـه ذبـاب یـم
شاګرده زه غریب بنـده د پـاک غنـي وهـاب یـم
استاده شکر وایم چـې مسـلمو کـې حسـاب یـم
مرګی مې رانبژدې شو نن سـبا لـه مـې رفتـار دی
((میاګل)) د ګټکي ژاړي چې په مخ کې مـې قیامـت دی(۵۶: ۸۲)

په پورتني فورم کې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی. د سر لومړی بیت یا مطلع په خپل منځ کې د قافیې اختلاف لري. دوارو مسرو کې قافیه حتمي او ردیف اختیاري دی. د هر بند شپږ مسرې په خپل منځ کې یوه قافیه تعقیبوي؛ اومه او اتمه مسره یې په قافیه کې د مطلعې د لومړۍ او دویمې مسرې تابع ده.

## ۲- د اته مسریزې چاربیتې دویم ډول:

په دې ډول چاربیته کې د سر یو بیت، چې د مطلعې په توګه راځي. لومړۍ مسره یې ځانته قافیه لري، د دویمې مسرې په منځ کې یې یوه قافیه راځي، چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون خوري، خو د دویمې مسرې وروستۍ قافیه ځانته جلا او د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون نه لري. د هر بند لومړۍ، دریمه، پینځمه مسره، په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم د دویمې، څلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافیې هم د نومورو مسرو د قافیو بڼه تعقیبوي، خو د دویمې، څلورمې او شپږمې مسرې په پای کې نورې قافیې راځي، چې دا بیا د نومورو مسرو خپلمنځي قافیې ګڼل کېږي، د بند اومه او اتمه مسره د مطلعې د شکلي سکښت تابع وي.

لکه په دې لاندې مثال کې:

د ښایست اواز دې لاړو په عالم کې لور په لور
زه دې سوی یم په اور، ټیک دې کوز کړه له جبینه
د ښایست اواز دې لاړو په کابل په هندوستان
څکه ناست یمه حیران، رارسېږي یا نصیبه

عاشـــقي ده ډېـــره ګرانـــه ځـــي د اوښـــکو مـــې بـــاران
پرې مې لونـد شـولو ګرېـوان، پـوه نـه شـوم لـه ترتیبـه
پـــه هـــر چـــا بانـــدې تېرېـــږي د فـــاني دور دوران
څـوک راځـي څـوک تـرې روان، کانـدي یاروتـه قریبـه
بـارې خپـل دی کـه پـردی دی راکـوي راتـه پېغـور
سترګې نـه شـمه نیـولی ګـوره ډوب یـم سـتا پـه مینـه.

✵✵✵

بـارې خپـل دي کـه پـردي دي راکـوي راتـه تهمـت
کتـی نـه شـمه اوچـت پـه یـارۍ کـې د بـې ننګـه
چېرې تا کتلـی نـه دي لکـه سـپي تـه چـې کـړې سـت
تـاو چـې راغـی پـه صـورت، تـه لـه مانـه کـوې څنګـه
جـاروتی نـه شـمه ببرتـه رب دې نـه کـا څـوک عـادت
د سرو شونډو په شربت، کیـف یـې زیـات ویـنم لـه بنګـه
پـــه رنـــې زنـــې دپاســـه دې خالونـــه درې څلـــور
ما پرې تل کړی دی زور، خونـد یـې زیـات دی لـه ګبینـه

✵✵✵

د نـــرۍ زنـــې لـــه پاســـه دې خالونـــه دي قطـــار
تـــورې زلفـــې دې تـــار، تـــار دي پرتـــې لکـــه ورېځـــې
پـــه ســـینه کـــې دې پـــخ شـــوي دي د مینـــې دوه انـــار
ورتـــه پـــروت یمـــه بیمـــار، دارو مـــې د مـــرض یـــې
رب دې نه کا څـوک پـه رنـځ کـې سـتا د مینـې ګرفتـار
نـن دې ځـان کړلـو سـینګار، بېګـاه مـې پـه اور سـوزې

**کله زېر شي کله بم شي سره ګنګري دې کوي شور**
**قدم اخلي په ټکور، ښاپېرۍ راغلې له چینه. (۲۶: ۱۸-۱۹)**

**د پورتنۍ چاربیتې د لومړي بند د وروستۍ مسرې په منځ کې (سترګې نه شمه نیولی ګوره ډوب یم ستا په مینه) کې (سترګې نه شم نیولی) برخه کې قافیه خطا شوې، خو په نورو بندونو کې پورتنۍ شکل په پوره ډول تعقیب شوی دی. د یادونې وړ ده، چې په پورتني ډول چاربیته کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي.**

**۳- د اته مسریزې زنځیري چاربیتې بل ډول دادی، چې ټوله مقفی وي او هر بیت او هره مسره یې په خپل منځ کې قافیې لري. یوه بېلګه یې داده:**

د لیلا په لبو سور — پېزوان لکه ښامار
ترېنه ځي شغلې د اور — نتکۍ نه یې بار بار

راوځي ما سپېنین — ژوندی زما صورت که
زما زړه یې کړ غمګین — سرداره څه حکمت که
ګونګري یې کوي شور — چې دا شي په رفتار

✵✵✵

رفتار مې کوي خوند — ورځمه مازیګر
وربل مې بند په بند — د سپین تندي په سر
خراب به دې کړم ژوند — کاته کړم په هنر
شین خال مې ادم خور — ذقن مې مزه دار (۲۲: ۲۱-۲۲)

**په دې ډول چاربیته کې له ځینو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. په مطلع کې د لومړي او دویم بیت د**

لومړیو مسرو قافیې سره یوشان وي او د دویمو مسرو قافیې په خپل منځ کې یو شان وي. د هر بند د درېو بیتونو د درېو لومړیو مسرو قافیه یو شان او درېو نورو مسرو قافیه بل شان وي، خو د څلورم بیت رغښت او بڼه د مطلع د بیت تابع وي.

د ډېرې قافیه لرونکې زنځیري چاربیتې یوه بله بېلګه داده:

مطلع:

کله به راوړې دواړه بس دې دي رنګین شیرین
سپین دې جبین زرین مخ دې ځلېږي

بند:

کله به راکړې دواړه لب شات او ملهم صنم
مه کړه ستم هر دم په غضب ښورې
سرې دې منګولې همېش وړې زړونه قلم قلم
اخلې قدم په چم سترګې دې تورې
په در دې پروت یم همېش غواړم ستاکرم محکم
لرې کړه غم الم که رب ته ګورې
نن دې په غاړه باندې زانګي لونګین رنګین
سپین دې جبین زرین مخ دې ځلېږي.(۱۷: ۸۳)

په دې ډول چاربیتې کې د سر لومړۍ بیت یا مطلع په لومړۍ مسره کې یو شان دوه قافیې موجودې وي. د دویمې مسرې تر نیمایي پورې بیا یو شان دوه قافیې چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره یوشان وي، راځي او د مسرې په پای کې اهنګینه کلمه

راځي چې له دې قافیو سره په جوړښت کې توپیر لري.

د هر بند لومړۍ مسره ځانته یــو شــان دوه قــافیې لــري او د دویمې مسرې په پای کې یوه ځانګړې قافیه؛ دریېمــه مســره لــه لومړۍ مسرې سره په قافیه کې یو شان وي څلورمه د دویمې پــه شان وي، پینځمه د لومړۍ او شپږمه د دویمې په شان وي او هــم د څلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلــې قــافیې د بنــد د لومړۍ مسرې د قافیې تابع وي، اوومه مسره د لــومړي بیــت یــا مطلع د لومړۍ مسرې په شان وي او اتمې مسرې د منځ قافیې د مطلعې د لومړۍ مسرې د قــافیو تــابع وي او پــاتې برخــه یــې د مطلعې د دویمې مسرې پاتې برخه وي؛ د مطلعې د دویمې مسرې تکرار وي. په دې چاربیته کې د سر بیــت لــومړۍ مســره (۱۴) او دویمه (۱۱) څپې ده. د بند لومړۍ، دریېمه، پینځمه او اومه مسره هم (۱۴) څپې او دویمه، څلورمه، شپږمه او اتمه مسره (۱۱) څپــې لري.

## ۷- مقام:

ځینې پښتانه یې رباعي هم بولي، پښتانه ولسي مجلسیان یــې د مجلسونو په پیل کې وایي، مقامونه نسبتاً ورو، اوږده او په داسې تال او اهنګ ویل کېږي، چې ټول مجلس چوپ شي او پوره غوږ یــې نیــولی وي، کله چې مقام خلاص شي نو سندرغاړی سم لاسي لوبه، چاربیتــه او یا بګتۍ یا غزله پیلوي، چې اورېدونکي سم له لاسه لــه هغــه ارام او

غلي حالت نه راوبښ او په شور او زوړ يې راولي.

د مقامونو مضمون معمولاً ټولنيز او اخلاقي وي او د پند او عبرت ښه مطالب لري، عشقي مقامونه هم شته، مقامونه لکه د دېواني غزلو داسې جوړښت لري، د لومړي بيت دواړه مسرې يې په يوه قافيه وي او د نورو بيتونو لومړۍ مسرې يې له قافيې نه ازادې او دويمې مسرې يې له لومړي بيت سره قافيه تړي. له درېو څخه نيولې تر پينځو او شپړو بيتونو پورې وي. د مقام هره مسره دولس يا يوولس څپې وي له دېواني غزلو سره يې توپير دادی:

يو خو يې ژبه ډېره ساده، عام فهمه او ولسي وي او بل د ولسي سندرو د قافيه تړنې پر اساس د سره ورته غږونه قافيه کول په کې عادي خبره ده، ځکه دغه سندرې په شفاهي بڼه منځته راغلي، نه په ليکنۍ بڼه. بل دا چې ويونکی يې ولسي شاعر وي، د سېلابونو شمېر يې يوولس يا دولس وي. دا چې د ولسي سندرو دغه فورم ولې مقام بولي بايد وويل شي چې د مقام نوم ورسره په څو سببه وړ دی:

۱- دا چې د مقام لغوي مانا (ځای) دی او دغه سندرې د پښتو په ادبي مجلسونو کې تر چاربيتو، غزلو، بګتيو او بدلو څخه مخکې ويل کېږي، په دې حساب نو مقام د مجلس پيل او د نورو ولسي نظمونو لپاره انتظام برابروي او خلک دې ته متوجه کوي چې خپل ځايونه ونيسي او په کراری سره مجلس واوري.

۲- دا چې په مقام کې پندونه او نصيحتونه بيانېږي، نو کېدی شي چې سړی د مقام پر موضوعاتو عمل وکړي او يو لوړ اخلاقي مقام ونيسي، له دې کبله چې دا وروستی خبره سمه او مانا لرونکې ده او نوم له نومول شوي سره برابر دی، دا سندرې په دې نامه يادې شوې

دي، که چېرې دا سندرې مقام وبولو، نو یوه بله ګټه به مو هم کړې وي او هغه دا چې د دېواني سندرو له رباعي سره به مو د مغالطې مخنیوی کړی وي. دلته به د ولسي شاعر ګلستان یو مقام چې په دغه مقام کې د (بحث) دکلمې عامیانه تلفظ (باس) له لباس او خـلاص سـره قافیـه شوی دی. دا مقام ټول پنځه بیته دی چې ځلـور بیتونـه یـې دلتـه د بېلګې په توګه راوړو:

د کـــم اصـــلو لـــه یـــارۍ نـــه واخلـــه لاس
مـــه غـــولېږه د هغـــو پـــه تـــش لبـــاس
د کـــم اصـــلو یارانـــه د خـــره ســـورلي ده
عاقبـــت بـــه دې پـــه کنـــده کـــړي راخـــلاص
لـــه کـــم اصـــلو نـــه وفـــا کلـــه مونـــده شـــي
دا متـــل دی پـــه هـــر ځـــای کـــې عـــام و خـــاص

چـــې لـــه لـــرې نـــه یـــې ګـــورې ورنـــه تښـــته
ګلســـتانه ورســـره مـــه کـــوه بـــاس(۱۷: ۸۹-۹۱)

**یادښت:** سره له دې چې زموږ یو زیات شمېر ادبپوهانو او لیکوالو ((مقام)) یو ځانګړی جلا ادبي فورم بللی، خـو زه چـې دې فـورم تـه ګورم، له غزل سره یې په هندسي جوړښت کې کوم خـاص تـوپیر نـه شته، نو ځکه ویلای شو، چې ((مقام)) یوه محتوا ده نه جـلا ځـانګړی فورم. تر هغه پورې چې زموږ ادبپوهـان پـه مطلـق ډول (مقـام) یـوه محتوايي مسئله وګڼي نه شکلي، تر هغه پورې زه په دودیز ډول (مقام) د همدې فورمونو په چوکاټ کې محاسبه کوم، خو بیا هم زمـا نظـر او

وړاندیز دادی، چې مقام فورم نه دی، محتوا ده.

## ۸- بدله:

د پښتو په ځینو سیمو کې په عام ډول ټولې ولسي سندرې لکــه: لنډۍ، سروکي، د واده سندرې، چاربیتې، نیمکۍ او نورې بدلې بــولي، خو دلته زموږ مطلب د ولسي خاصو سندرو له هغه ځانګړي فورم څخه دی، چې پښتانه مجلسیان یې ملي غزلې یا ولسي غزلې بولي.

دغه سندرې هم لکه د ولسي سندرو د نــورو فورمونــو پــه څېــر د عربي عروضو او بحرونو په شعري چوکاټ کې نه ایساریږي او د اریــایي ژبو د شعرونو په شان د سېلابونو او څپو پر بنسټ ویل کېږي.

بدلې عموماً شفاهي دي او مجلسیان یې خوله پر خوله یو بــل تــه سپاري، خو د بدلو لیکلې او پخوانۍ بېلګې هم لرو؛ تراوســه زمــوږ پــه لیکلو اسنادو کې د شیخ بستان بړېڅ بدله له لومړنیو لاسته راغلو بدلو څخه ده، چې د لسمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې تر زرم کال وړاندې ویل شوې ده.

بدلې له شکلي پلوه په لومړي سر کې پر ساده او سپرو بدلو وېشــل کېږي او بیا یې هر ډول په خپل کور کې د مسرو د شــمېر او مســرو د اوږدوالي لنډوالي او برابروالي پر اساس پر ډېرو نورو برخو وېشل کېږي. د بدلو هر بند اکثراً تر دوو مسرو زیات وي، چې کله یې هــر بنــد درې مسرې، کله څلور مسرې اوکله لا زیاتې مسرې هم لري، چې د (خلکــو سندرې) مولف په شکلي لحاظ بدلې پر پینځلسو ډولو وېشــلې او کــه پلټنه وشي ښایي تر دې هم زیات ډولونه ولري.

ولسي بدلې لومړی یو کسر (مطلع) لري او ورپسې یې بندونــه وي،

کسر یې له یوې اوږدې او یوې لنډې مسرې څخه جوړ وي، چــې بیــا د قافیه یي ترون له مخې له هر بند سره قسماً یا ټول تکرارېږي. د ســاده بدلې په بېلګه کې د شیخ بستان بړېڅ (۱۰۰۲هـ کال مړ) د بدلې سر او یو بند راوړو:

مطلع:

او ښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګـذر که پر ما

بند:

د خــوږو زړونــو لــه حاله ته یې ای باداره اګاه
یې د بــېوزلـو همراه
د خپل عزت په روی(بستـان ) ته کړه مهر ښندل
کړي له ګناه ګوا ښل
او ښــکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نـظر کـه پر مـا
راسه ګـذر کـه پر ما

په دې ډول بدله کې یو ځل د سر لومړی بیت چې یــوه مســره یــې اوږده او بله یې لنډه، یانې تقریباً د هغې تر نیمایي وي. د بند هره اوږده مسره یې تقریباً د لومړي بیت له اوږدې مسرې او لنډه یــې لــه لنــډې سره برابره وي. د بند هر بیت په خپل منځ کې هم قافیه وي او د بنــد

په پای کې د بدلې لومړی بیت بیا تکرارېږي.

سپره بدله، د بدلې بل ډول دی، دې کې ګڼ شمېر قافیې موجودې وي، دې ډول بدله کې هم د مسرو اوږدوالی او لنډوالی موجود وي، خو د سر د لومړي بیت د مسرو له اوږدوالي او لنډوالي سره یې د بندونو د مسرو اوږدوالی او لنډوالی برابر وي. دلته د ښاغلي جرار د سپري بدلې کسر او یو بند وړاندې کېږي:

مطلع:
دا دی جنګېږي د ګوګل دپاسه هار که مار
چې لري زار په خوار کوي تاثیر
بند:
پر ما شوې تېرى ستا په مینه کې خوارۍ زارۍ
لاس د یارۍ جارۍ راکړه محکم
پرسان مې وکړه ساه مې راغله تر مرۍ پرۍ
زلفې چورۍ نرۍ رقم رقم
ورکړه چې بایلو زړه صنم ستا په رخسار انار
سینه ګلزار ((جرار)) مه کړه تاخیر.

## ۹- لوبه:

لوبې هم د ولسي خاصو سندرو یو ځانګړی او جلا شعري ډول دی، چې له بګتیو څخه هم چابکې ویل کېږي. لوبې تر ډېره حده د لنډیو په خم کې رنګ شوي، کله کله یې بندونه لنډیو ته ورته جوړښت خپلوي او کله بیا په وزن او رواني جوړښت کې لنډیو ته ورته بندونه لري.

ځینې کسان لوبې له بګتیو سره ورته بولي، په داسې حال کې چې لوبې د یوه ځانګړي شعري فورم په توګه له بګتیو سره یو د ویلو پر وخت توپیر لري او بل دا چې د لوبو دکسر مسرې اکثره وخت سره په یوه قافیه وي او بګتۍ بیا په مجموعي ډول دا شان نه دي. لوبې له نیمکۍ سره هم جوت توپیر لري، ځکه په نیمکۍ کې لنډۍ کټ مټ راوړل کېږي او په لوبه کې په خپله لنډۍ نه راځي او بل دا چې لوبه د ولسي سندرو له عمومي برخې سره چې ویونکي یې معلوم وي، اړه لري. دلته به د لوبې یوه بېلګه راوړو چې ولسي شاعر محمد نور ویلې ده:

لوبه:

غمونه لرې کړه له ما عاجز غمګینه
راتاو شه لونګیه
ودې ویشتم روغه دې نه کړم
نوره یاري درسره نه کړم
بل دې په سرو شونډو نتکۍ زانګي مینه
راتاو شه لونګینه

❋❋❋

پاس په بامو ګرځې کوترې
زما د خوږ زړګي دلبرې
چې شال پر سر کړې ځنګه ښه ښکارې سنګینه
راتاو شه لونګیه

❋❋❋

د محمد نور فقیره بخته
ځنګه راپرېوتې له تخته
بخت مې کوڼه شو اس مې لاړ سره له زینه
راتاو شه لونګینه (۱۷: ۱۰۱-۱۰۶)

په دې ډول لوبه کې د سر لومړۍ مسره اوږده او دویمه لنډه وي. بیا د هر بند دوه لومړۍ مسرې په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم یې څپې سره برابرې وي. د بند دریمه مسره د لوبې د سر بیت (کسر) سره په قافیه او د څپو په شمېر کې یو شان وي او ورپسې د سر بیت دویمه مسره د تکرار په ډول راځي.

## ۱۰- داستان:

داستانونه د ولسي ځانګړو سندرو د یوه ځانګړي فورم په توګه د شکل او مضمون دواړو له پلوه ځانته خاص سکښت او بېل جوړښت لري او د ولسي ادب هر څېړونکی پر دې پوهېږي، چې زموږ ولسي ادبیات د مضمون له پلوه، زموږ د ولس د قامي ژوند هنداره او د شکل له پلوه هم زموږ د ژبې خاص ملي اهنګونه دي، چې زوړ اریایي اساس

لري او ښتانه مجلسیان يې په ځـانګړي وزن او خاصـه لهجـه وایـي. داستانونه هم د ولسي خاصو سندور د نـورو فورمونـو پـه څېـر اوږده ماضي لري او د لومړي ځل ویلو ځای او نېټه يې معلومه نه ده، يوازې د داستانو هغه بېلګې چې د پټې خزانې په واسطه لاسته راغلـي، څلـور سوه کلن عمر لري؛ په پټه خزانه کـې دحـافظ عبـدالطیف اخکـزي د (سوی او اوښ) فولکوریک کومیډي او انتباهي داستان راغلـی، چـې دلته يې یو کسر او یو بند وړاندې کېږي:

غوږ ونیسی یارانو د اوښ او سوی قصه سوه

خورا ډېره خوږه سوه

یو سوی د اوښ اشنا سو

بې حده يې همرا سو

یاري به يې کوله یو له بله يې یارانه سوه

خورا ډېره خوږه سوه

داستان د ډېرو اوږدو مضامینو د بیان لپاره پوره زغم لري. مطالـب يې عموماً فولکوري، دیني، رزمي او تاریخي وي، لکه په اخلاقي برخـه کې د ولسي شاعر غلام شاه د حاتم طایي د سخاوت روایتي داستان.

په وړاندې زمانه کې یو فقیر و مستانه

غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودرېده

په عشقي برخه کې د سیف الملوک او بدرۍ جمالې داستان:

روان شو شهزاده سیف الملوک باغ ارم ته

سفر د جدایۍ دی رخصت غواړي له پدره

په دیني برخه کې د حضرت ابراهیم خلیل الله د صـداقت، حـق او

رښتیا ویلو روایتي فولکوري داستان
د نمرود په زمانه کې
راغلی په کیسه کې
پیدا شو ابراهیم خلیل الله دوست د اکبر و
بېشکه پیغمبر و

داستان ویونکی د داستان ویلو پر وخت د تفریح او جلب لپاره لنډۍ هم وایي، چې د داستان خوند نور هم زیاتوي. ځینې پوهان او ادیبان د ولسي خاصو سندرو دغه فورم عربي مثنوي او قصیدو سره یوشان بولي او وايي چې ولسي داستانونه د عربي مثنوي او قصیدې په پیروۍ ویل شوي دي. باید ووایو چې دلته داسې ډېر دلایل شته، چې د هغو له مخې موږ ولسي داستانونه له کتابي مثنوي سره یو ډول نه بولو او لومړی اریایي فورم او دویم تقلیدي شکل ګڼو، لومړی دا چې د ولسي داستان د زنځیر د سرکړۍ له لرغونو اریایي سرودونو سره نښلي او د عربي مثنوي او قصیدو په پیروۍ نه دي ویل شوي. د ولسي داستانونو ویونکي معمولاً ولسي او نالوستي شاعران دي. دغه ولسي سندرې ټولې قافیه یي ازادۍ لري او هغه شرطونه چې په مثنوي او قصیدو کې شته، ولسي داستانونه یې پر منلو مکلف نه دي.

د ولسي مثنوي ډوله داستانونو په څېر نورې سندرې هم په پښتو ادب کې لرو، چې مثنوي ته ورته دي، لکه د بېټ نیکه مناجات، د شکلي جوړښت له مخې دغه مناجات هم د مثنوي په ډول دي، خو د تذکرة الاولیا مولف یې سندره بولي. دغه ډول د کاکړیو فورمي جوړښت هم د مثنوي په ډول دی، مګر هېڅا له مثنوي سره یو شی نه

دی بللی او نه یې مثنوي ته غاړې ویلې دي. دا هم د ولسي داستان یو څو بیتونه:

خـــان بابـــا د چکـــدرې چـــې پـــه ســـفر لاړ
لـــه دنیـــا نـــه د حـــق لـــور تـــه برابـــر لاړ
ظریف خان لعل بېـګ تـرې پـاتې ماشـومان شـول
مـــوریې مخکـــې مـــړه وه دواړه یتیمـــان شـــول
چـــې یـــې لـــور بـــي بـــي کـــو پـــاتې شـــوه یتیمـــه
یرېـــده بـــه لـــه دښـــمن ظـــالم غلیمـــه

دا هم د یوه بل داستان یوه برخه:

نـــن مـــې ولیـــد عجیبـــه ښـــکلی داســـتان
طلســـمات بـــه درتـــه واړه کـــړم بیـــان
د یمـــن یـــو شـــهزاده و زمـــا یـــاره
یوه ورځ ښکار ته وواتـه لـه ښـاره (۱۷: ۹۶-۹۷)

پورتني داستانونه که څه هم په مثنوي فورم کې راغلي، خو هر یـو تر پایه یوه موضوعي کیسه تعقیبوي.

دا ډول داستان په پښـتو کـې پـه څـو ډولـه دی. مـثلاً د حـافظ عبدالطیف خان اخکـزي د (سـوی او اوښ) فولکوریـک کومیـډي او انتباهي داستان داسې دی، د کسر لومړۍ مسره اوږده او دویمـه یـې لنډه، خو دواړه په خپل منځ کې هم قافیه وي. ورپسې بنـد راځـي. د بند د سر لومړۍ دوه مسرې په خپل منځ کې هم قافیـه او لنـډې دي. دریمه مسره یې د کسر له لومړۍ مسرې سره په اوږدوالي او قافیه کې یو شان وي. د بند څلورمه مسره هماغه د کسر د دویمې مسرې تکرار

دی.

د حضرت ابراهیم خلیل الله د صداقت داستان په دې فورم کې دی، چې لومړی دوه لنډې هم قافیه مسرې چې تقریباً په څپو کې برابرې دي، ورپسې یوه اوږده مسره چې د هغو دواړو مسرو د څپو له مجموعي شمېر سره یې څپې برابرې دي او ځانته بېله قافیه لري، ورپسې یوه لنډه مسره راځي، چې په قافیه کې له درېیمې او په څپو کې له دویمې مسرې سره برابره وي.

بل ډول داستان چې زیات عمومیت لري، دا دی، چې هر بیت یې ځانته قافیه لري، خو د ټولو بیتونو دمسرو دڅپو شمېر یې سره برابر وي.

**یادښت:** د داستان په باب به دا خبره معقوله وي، چې ووایو داستان داسې یوه محتوا ده، چې په بېلابېلو شعري فورمونو، لکه غزل، قصیده، مثنوي او د پښتو نظم په نورو ولسي فورمونو کې ځایېدلای او دا فورمونه ورته کارېدلای شي، خو ددې ترڅنګ داسې ځانګړي فورمونه هم شته، چې د پښتو له نورو ولسي شعري فورمونو سره ورتوالی لري، خو د داستان لپاره کارول کېږي، خو بیاهم دې ډول ولسي فورمونو سره توپیر په کې لیدل کېږي، که دې ډول فورم یا فورمونو ته چې له نورو فورمونو سره څرګند توپیر ولري، د داستان فورم نوم ورکړل شي، له معقولیت څخه به لرې نه وي، خو په مجموعي ډول داستان تر زیاته حده کیسه ییز بیان دی چې په بېلابېلو فورمونو کې وړاندې کېدلای شي.

## ۱۱- بګتۍ:

په پښتو ولسي شعرونو کې دغه فورم ځانته د خوند او رنـګ بېـل بازار لري، بګتۍ پښتانه مجلسیان او سازیان له مقام، چاربیتو او بـدلو څخه کله وروسته او کله هم په منځ او پای کې په یوه ګرم تـال او وزن، خو په ورو او نرم اواز (اهنګ) د مجلس د رنګ د بدلولو او د اورېدونکو د خوښۍ او خوشالۍ زیاتولو لپاره وایي. د بګتیو د اورېدلو پر وخت پـه مجلس کې ټول حاضر کسان په ولولو راځي، اتومات ټول ښورېږي او له مجلس نه خوند اخلي.

بګتۍ هم د بدلو او چاربیتو په څېر کسر لري، خو کسر یې معمـولاً یو بیت (دوه مسرې) وي. بندونه یې هم ډېرې مسرې نـه لـري او پـه عمومي توګه د څلورو مسرو په شاوخوا کې وي. د بندونو شمېر یې هم محدود وي، خو بیا هم د بګتیو د بېلابېلو بېلګو خپلمنځـي توپیرونـه ډېر دي. په بګتیو کې هم هر ډول عشقي، تاریخي او افسانوي کیسـې په لنډ ډول بیانېږي، دا یې هم یوه بېلګه ده:

وزیرســــــــتان بانــــــــدې جنګونــــــــه
انګرېزان وایـي چې سـبا بـه جنـګ لـه څونـه
انګرېــز ویلــي چـې خاونــده څـه اســرار دی
په سترګو نـه ویـنم غازیـان، پـه مـا ډزهـار دی
نصیب مې نه شــته، بـری، بنـد مــې شـو توپونـه

فقیـــر ویلـــي دا ســـتا لاس دې را دراز وي

کــه د بغــداد مېړنـــی ځـــوان زمـــا همـــراز وي
پــه شـــان د ختـــو بـــه دې بنـــد کړمـــه بمونـــه

وزیرســـتان بانـــدې خـــو نـــن ســـبا جګـــړې دي
غازیـــانو لاس کـــې پـــولادي تـــورې تېـــرې دي
ما شېرافضل يې پــه شــعرو کــړل صــفتونه. (۱۷: ۹۸-۹۹)

دا ډول بګټۍ د سر بیت د څپو د شمېر له مخې له لنډیو سره یــو شان وي. یانې دا چې د لنډۍ لومړۍ مسره هم نهه او دویمه دیــارلس څپې ده، خو په وزن کې هغه وزن نه لري چې لنډۍ یې لــري خصوصــاً لومړۍ مسره د بندونو دوه مسرې یې په خپل منځ کــې هــم قافیــه او درېیمه یې د کسر یا د سر بیت له قافیه سره یو شان وي. د بګټۍ ســر بیت له لومړۍ مسرې پرته نورې ټولې مسرې د څپو په شمېر کې ســره مساوي وي.

پر پورتنیو یادو، څرګندو او مطرحو فورمونو سربېره په پښتو ولسي ادبیاتو کې د نظم یو شمېر نور داسې فورمونه هم شته، چې په هغو کې د ولس ځینو ستونزو، ربــړو، دودونــو، تــاریخي روایــاتو، نیمګړتیــاوو، دردونو، ناخوالو او د چاپېریال پېښو انعکاس موندلی دی. دا فورمونه په دې ډول دي:

منظوم فالونه، د بي بي دستې سندرې، لنــډکۍ، ســولې، برغــازي، سلسلې، انګۍ یا چغیان، د میندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کیسې، د ځوانانو سندرې، محلي پارچې یا ولســي ننــدارې، ساندې، نکلونه، د ښادۍ سندرې، تاریخي نارې، سنځر خېلې نــارې، د

مروتو کسرونه، سوزخواني او ځينې نور. څرنګه چې د نظم دا پــورتني فورمونه د پښتو نظم د ځينو نورو ولسي فورمونو لکه لنډۍ، ســروکي، کاکړي غاړې، د اتڼ نارې، ببولالې، چاربيتې، بدلې، لوبې، بګتۍ او نورو په شان ډېر دود او اغېز نه لري، نو دلته يې يوازې د هر يوه د بېلګې په راوړلو سره بسنه کوو.

منظوم متلونه:

چې ډول دې وي په څنګ
لــه وهــلو يــې څه ننګ

✵ ✵ ✵

امير چې ظلم کــار وي
او ربل پر ټول ديار وي.

فالونه:

د جــنت پــه مــنارې
سور چرګ وهي نارې
شېر د خداى تــېرېږي
خلکو کاندئ ننداري.

د بي بي دستې سندرې:

د دوهـــۍ ملنګـــې ســـر دې ولـــې تـــور دى
ســـر مـــې داســـې تـــور دى پـــر مـــوږ هـــم
ښـــه لـــوى ديـــن د محمدرســـول الله دى
لا الـــــه الله محمـــــــد رســـــــول الله

برایــــــــي د شــــــــېرعلي د لـــــــــور واده و
ملکـــــی پـــه ورا رالـــی لـــه ښـــه زړګـــي یـــې
د ســــــــترګو کســــــــــي ســــــــره وو
ښـــــه لـــوی دیـــــن د محمدرســـــول الله دی
لا الـــــــــــه الله محمدرســـــــــــــــول الله

لنډکۍ:

ته چې جــواري کــړې مــا بــه بایــه کــړې مینــه
مـــه راپســـې ژاړه ووړکیـــــه نـــه مـــې درکوینـــه
جـــګ کـــړه مړوندونـــه جلـــۍ غبـــرګې لـــه درځمـــه.

شولې:

شولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
په خدای مې دې قسم وي وپلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پلانی زوړ دی که یې وه کمه
شولې ټکومه ټکوم تا به واده کړمه
په خدای مې دې قسم وي و پلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پر ما لوی دی که یې وکمه.

برغازي:

بـــــازار میـــــان دی خـــــــــولګۍ راوړه
چــــــــرګ اذان دی خـــــــــــولګۍ راوړه
لــــــوړ ســــــهار دی خـــــــولګۍ راوړه

زمـــــا تلـــــوار دی خـــــولګۍ راوړه

✵✵✵

راځـــــه وړې راځـــــه چـــــې ځـــــو
د ګـــل ګېـــډۍ راځـــه چـــې ځـــو
نـــن ســـبا راځـــه چـــې ځـــو

✵✵✵

الکـــانو کـــور مـــه چېـــرې دی
د لال ټکـــــر مـــــه چېـــــرې دی
دمســـتۍ غـــولی مـــه چېـــرې دی

سلسلې:

راوتلـــــی پـــــر ســـــحر یـــــم
زه د ښـــو نجونـــو اجـــل یـــم
پـــه شـــان د ســـپینکي مـــار یـــم
د هـــر چـــا تـــر اوده تـــر یـــم.

انګۍ یا چغیان:

زه پـــه خپـــل کـــور کـــې وم پـــه راحـــت
بابـــک خرڅـــه کـــړم پـــه ډېـــر دولـــت
پـــه پـــردي کـــور کـــې مـــې نشـــته عـــزت
خـــود بـــه ژړا کـــړم پـــه هـــر ســـاعت

✵✵✵

شـــــــینکی کـــــــوتره وم ښــــــــورېدمه
نـــــه چـــــا نیومــــه نـــــه چـــــا کتمـــــه
پـــــه هـــــر یـــــو تکــــي بــــه پرېوتمـــــه
نــــــن ناولــــــده یـــــــې کېنســـــــتمه

د وړومشاعرې:

ددې ځـــــــــــــای اور ســـــــــــــیچو
چرګــــــه راغلـــــــه بــــــې بچــــــو.

ددې ځـــــــــــــای او ددې ډنــــــــــــده
تیــــــر پـــــــروت دی شــــــل برغنــــــده

تـــــــــــه وایـــــــــــه غـــــــــــنم
خبـــــــــــــــرې دې مـــــــــــــــنم.

کیسی:

په یورپ ځي اسمان ته
چار چاپېره ټول جهان ته (د سترګو لید)

دپاسه راغی سور بلوڅ
اغوستي یې دي پنځه پنځوس (پیاز)

د ځوانانو سندرې:

ابکه له کمه رالې

له بلخ و بخارا
په شا دې څه شی دي
وربځ او باران
ماينې دې څو دي
ويل يې اووه
نومونه يې څه دي
ويل يوه چيختته ده
يوه بخته ده
يو ترګوک لاندې ورسته ده
يوه اسمان ته غرېده
پچکولمه يې وشلېده يوه سپينه زليخا ده.

## محلي پارچې يا ولسي ننداري:

### ۱- تمثيلي پارچې:

وئ وئ مرم ابۍ
بچی کوم ځای دې خوړېږي
بچی کوم ځای دې خوړېږي
ابۍ ګېډه مې خوړېږي
ابۍ ګېډه مې خوړېږي
ګولۍ به درته راوړم
نه خورمه ګولۍ

دا ګولۍ له زارو ډکې دي
نه خورمه ګولۍ
دا ګولۍ له زارو ډکې دي
ابۍ ګېډه مې خوږېږي
بچی کوم طبیب دې خوښ دی
بچی کوم طبیب دی خوښ دی
دا (پلانکی) خان طبیب مې خوښ دی پرې رغېږمه
نه خورمه ګولۍ دا ګولۍ...

۲- کمیډي پارچې:

ما بورې نانګه خوړل
زامن مې بلا وخوړل
هی هی اجي ډومبک
ما بورې ګذر راوړی
دوی د خاورو ډک خوړلی
هی هی اجي ډومبک

۳- عادي پارچې:
د یوې تاریخي پېښې په باب:
نــواب مــړ کــړ پــه ځنګلــه کــې نوابــه ګــل
وینــې یــې راغلــې پــه راده کــې نوابــه ګــل

د نـــــواب ســــــترگې غتــــــې غتــــــې نوابـــــه
په هر میدان یــې اړوي لکــه ســکروټې نوابــه گــل
نـــــواب دې پـــــټ مـــــې تېرویـــــه نوابـــــه
دلته مې خور ده او ورور مــه راخبــروئ نوابــه گــل.

ساندې:
په لنډیو کې ساندې:
(پلانکی) د خاورو لایق نه دی
دا (پلانکی) دې ورته جوړه کړي بالکۍ په سینگارونه
که نور دې هر څه میراتېږي
میرات دې مه شه دا د غاړې تاویزونه
بې وروره خور په کوڅه راغله
ناره یې وکړه شپه به چا کره کومه.

د نکلونو نارې (غږونه):
لکه د ادم او درخو په نکل کې چې د درخو رویبــاره (اســتازې) ادم خان ته د درخو احوال وروړي، نو ادم پر خپلې ښځې توتیا داســې غــږ کوي:
(نکلچي وایي) ادم وویل:
زما توتیا عزت یې وکړه
دغه استازی د درخو راغلی تاته
کله چې درخانۍ د خپلې ملگرې بسوگۍ واده ته ځي، نو مــور یــې منــع

کوي او داسې غږ کوي:

ته چې دې واده ته ځې سلا مې نه ده
اوس وتنه د همداسې نجونو نه ده

درخو وايي:

تر قیامته به کوې تورې ماتورې
ځان به جوړ کړم دواړه سترګې به کړم تورې
د بسو واده ته ځم ادکۍ مورې.

د ښادۍ سندرې:

د کونج مېرمنې پاڅه که دې زړه شي
هومره خو پانه څې چې پلانکی خان دې لونګۍ په لاس درته رانه شي

✵✵✵

زموږه ناوې تیله داره ده نه ژاړي
چې د (مېږه نوم یې اخلې) لغتې وخوري دا به ښه ژاړي.

تاریخي نارې:

د هوتکو د دورې:

څوک خبر وو چې تقدیر به کوي داسې
شاه حسین به نادر نیسي
بیا به یې نورې د ایران ته بندي باسي

د احمدشاه بابا د وخت:

که زمری دی شاه ولي د جنګ زمری دی

له سنګرو يې ايستلی مېړنی دی.

سنځر خېلې نارې:
سعدالله ول په پښې کې مې اځغی دی
اځغی مه راځخه کاږی
تر ما لاندې د اودولو اوسلی دی

شاه نادر ویل زما له دا غونډیه ډار سي
دوست محمد پروزلی
دوست محمد پرېکړې راولیاړ سي

## د مروتو کسرونه:

پروفیسور محمد نواز طایر د مروتو د کسرونو په باب وايي: ((د پښتو ادبیاتو تاریخ قدیمي هم دی او وسیع هم. ددې ژبې ابتدایي شاعري چې اوس په خپل هغه روایتي رنګ کې موجوده نه ده، خو د ویدونو او اوستا په ګاتو او اشلوکونو کې محفوظه ده، دا د لنډي بحر شاعري ده، ولې اوس يې په پښتو کې د اوو سېلابو د مثنوي په صورت کې رواج موجود دی.

ددغې ژبې ددغه قدیم شعر یو قسم د (لرلیکل یا غنایي) شاعری دی چې دا صنف په یوناني ادب کې د (هومر) په (اوډیسې) نومې عالمګیره منظومه کې لیدل کېږي او دغه لریکل شاعري چې په پښتونخوا کې د مروتو د کسرونو په رنګ کې دوام لري، لا اوس هم ژوندی او مقبوله ده.)) (۲۹: ۱۱-۱۲)

د سر (مطلع) یو دوه بېلګې:
ډېرې اندېښنې مې په زړګي شوې راچاپېرې
ښکلې محبوبه پېزوان په شونډو رپېده

د مروتو یو کسر:
چې په تا باندې بنیا هغه به وشي
چې په تا باندې بنیا نوره به نه شي
سلطان خېل موسیان ګنجیو لشکري شي
الهي په تا باندې راولې خواري
خواري په تا باندې راولې آه سخته.

سوز خواني:
د نورالله شاعر یوه سوز خواني:
یارانو ټول په وسلې وو یو لاسونه
نن بهار دی کربلا
شامیان نږدې شو ورته وتړو صفونه
تور غبار دی کربلا
ورځ د لسم دی د علي د زویو ننګ دی
بېدار شو وخت د جنګ دی
عباسه وروره مخکې واخله نشانونه
نن ګلزار دی کربلا. (۱۷: بېلابېل)
پر پورتنیو بېلګو سربېره په بېلابېلو سیمو کې د پښتو ولسي ادبیاتو

نورې ښېلگې هم شته چې ډېره محلي بڼه لري او دلته يې له ځېړنې تېرېږو.

## د پښتو د ولسي ادبياتو ارزونه او شننه:

د پښتو ولسي ادبياتو د فورمونو تر پېژندنې وروسته به گرانو لوستونکو او خوږو محصلينو ته څرگنده شوې وي، چې پښتو ژبه د شفاهي ادبياتو يوه بډايه زېرمه لري، د پښتو د شفاهي ادبياتو خزانه بېلابېل ډولونه لري، دا ډولونه دومره ډېر او رنگارنگ دي، چې د سيمې په نورو ژبو کې کېدی شي شفاهي ادبيات دغسې ډېر ډولونه ونه لري.

د پښتو د شفاهي ادبياتو خزانه لکه چې تاسې ته معلومه شوه، ځينو ښاغلو پښتو څېړونکو او فولکلور ټولوونکو راټوله کړې ده، خو ددې شفاهي ادبياتو يوه عمده زېرمه لا په ولس کې خوره ده او د راټولولو انتظار باسي.

دا خبره بايد هېره نه کړو چې د پښتو شفاهي ادبيات په گردو هغو پښتني سيمو کې پيداکېږي، چې هلته لا د ښاري ژوند مناسبات نه دي باب شوي او خلک د خپل کليوالي ژوند د شرايطو تابع دي.

ددې خبرې مانا داده چې شفاهي ادبيات په هغو سيمو او خلکو کې د رامنځته کېدو او ايجاد زمينې لري، چې سواد په کې عام نه وي، کله چې په يوه ټولنه کې سواد څه عموميت پيدا کړي، نو هلته بيا د شفاهي ادبياتو د پيدايښت زمينې محدودېږي او ځای يې ليکلي ادبيات نيسي.

((د پښتو د شفاهي ادبياتو کومه ذخيره چې تراوسه راټوله شوې

ده، د هغې له مطالعې څخه سړي ته ددې ډول ادبياتو ځينې ارزښتونه څرګندېږي، چې دا ارزښتونه په لاندې ډول ښيو:

۱) د پښتو شــفاهي ادبيــات ســره لــه دې چــې د خپلــو شــکلي جوړښتونو له پلوه رنګارنګ دي، دغه ډول د پښتنو د اجتماعي، ملــي، سياسي او فرهنګي ژوندانه ټولو خواوو، ددې ادبياتو په بېلابېلو ډولونو کې انعکاس موندلی دی او ددغو ادبياتو له څېړنو څخه موږ د پښتنو د فرهنګ په څېړنه کې ډېره دقيقه استفاده کولای شو.

۲) هغه څه چې د پښتنو د ژوند د بېلابېلو خواوو پــه بــاب پــه دې ادبياتو کې بيان شوي دي، ډېر طبيعي رنګ لري له هر ډول لاسوهنو او تصنعي خبرو څخه پاک دي.

د اجتماعي څېړنو د بېلابېلو برخــو څېړونکــي کــولای شــي، ددې ادبياتو په ځينو ډولونو کې له ځينو بيان شويو خبرو څخه د اصــلي او اساسي موادو په توګه استفاده وکړي.

پښتو شفاهي ادبيات د خپلو اجتماعي ارزښتونو ترڅنګه په هنــري لحاظ هم د بحث وړ ادبيات دي. ددې ادبياتو په ځينو ډولونو کې ښکلا او تصويرونه په ډېر لوړ هنري انداز سره غاړه غړې شوي دي.

۳) پښتو شفاهي ادبيات د پښتنو د عام ولــس او د دوی د کليوالــو خلکو د هنري ذوق او فکري ودې د څرګندولو په بهير کې خپل نقــش لري.

ددې ادبیاتو مطالعه دا رابنیي، چې که زموږ عام ولس لــه ښــاري او متمدن ژوند څخه لرې په غرو، درو، بیدیاوو، دښتو او کېږدیو کې هــم ژوند کړی دی، د هنري ذوق ترڅنګه یې د اجتماعي او محیطي مسایلو په باب خاص فکر هم درلود. د دوی دغه ډول فکري او هنري ځانګړنې (خصوصیات) موږ ددغو ادبیاتو په بېلابېلو ډولونو کې لیدلای شو.

لنډه دا چې پښتو ژبه د خپلو لیکلــو ادبیــاتو ترڅنګــه د شــفاهي ادبیاتو داسې قیمتي ذخیرې هم لري، چې مــوږ یــې د پښــتو د ادبــي تاریخ په مطالعاتو کې له پامه نه شو غورځولای.)) (۵۳: ۲۰-۲۲)

یادښت: دلته ددې بحث په پای کې یو ځل بیا یادونــه کــوو چــې د پښتو ولسي ادبیاتو دا برخه مو ځکه پورته تشریح کــړه چــې قــدرمن لوستونکي او خواره محصلین د خپلو ولسي ادبیاتو له زېرمــې لاپســې ښه خبر شي. سره له دې چې ددې ادبیاتو یو زیات شــمېر بېلګــې پــه لرغونې دورې پورې اړه نه لري، خو شکلونه یې له ډېرې پخــوا زمــانې څخه رامنځته شوي او ځینې بېلګې یــې هــم د لرغــونې ادبــي دورې زماني محدودې ته ورداخلېږي.

د خپلې ولسي ادبي پانګې او د هغــې د جوړښــتونو تــر پېژنــدنې وروسته اوس بېرته د خپلې موضوع دویمې برخې ته راځــو او هغــه دا چې په لرغونې ادبي دوره کې له نورو ژبو څخه کوم ادبي فورمونه پښتو ته راغلي او یا پښتو هغه خپل کړي دي.

# له نورو ژبو څخه د نظم راغلي فورمونه

د پښتو اثارو کوم اسناد چې تر موږه رسېدلي دي، ددغو اسنادو له مخې د پښتو تر ټولو پخواني لیکل شوی او ثبــت شــوی ادبــي اثــر د دویمې هجري پېړۍ دی.

له دویمې هجري پېړۍ نه تراوسه پورې په زرګونو شاعران، ناظمان او لیکوال په دې ژبه کې تېر شوي دي، چې په پښتو ژبه یــې کتابونــه لیکلي او د اشعارو دېوانونه یې ترتیب کړي دي او له نورو ژبو څخه یــې اشعار او اثار په پښتو ترجمه کړي دي، چې دغه ګرده اثــار اوس زمــوږ لیکلې فرهنګي زېرمه جوړوي، خو په خواشینۍ سره باید ووایــو چــې ددې لیکلو اثارو یوه ډېره درنه برخه د زمانې ناخوالو زمــوږ لــه لاســه تروړلې ده. په مجموعي ډول دې ته څکه ټوله فرهنګي زېرمه وایو چې ددې نږدې لسو پېړیو په بهیر کې ټول لیکل شوي اثــار ادبــي، هنــري ارزښت نه لري او موږ له خپل تعبیر سره سم دلته یوازې د هنري، ادبي ارزښت لرونکي اثار په ادبیاتو کې راولو او په دغه کتاب کې بحث باندې کوو.

د پښتو د لیکلو اثارو کومه زېرمه چې اوس معلومه ده، په هغو کــې منظوم او منثور اثار شامل دي، چې په منثورو کې له مســجع او قافیــه والو نثرونو نه نیولې د نن ورځې تر روانو، ساده او د هنر او ښکلا په ګاڼه سمبال نثرونه هم شامل دي.

او په منظومو کې موږ په عام ډول څلور ډوله شعري ژانرونه وینو:

**(۱) د پښتو لرغونې سندرې:** ((دا ډول سندرې د خپلو شکلي جوړښتونو له مخې نه د شرقي شاعرۍ له دېواني شعري ډولونــو ســره کټ مټ یو شی دي او نه یې ټــولې ځانګړتیــاوې د پښــتو لــه ولســي سندرو سره یوشانوالی لري. نو همدا علت دی، چې زموږ ځینــو منلــو ادبپوهانو، لکه ښاغلي حبیب الله رفیع دا ډول سندرې د پښــتو هغــه لرغونې سندرې بللې دي، چې د زاړه اریایي دوران د شعري اشــکالو او اوسنیو ولسي ادبیاتو ترمنځ د اتصال د کړۍ حیثیت لرلای شي.)) چې موږ ورته د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د شاعرانو د کلام د شــننې او ارزونې په برخه کې اشاره وکړه.

**(۲) د شرقي شاعرۍ شعري ډولونه:** ((د پښــتو پــه لیکلــي زېرمه کې یوه غټه برخه د هغو شعري ډولونو ده چې د شرق د نورو ژبو، لکه: پارسي، عربي، اردو، ترکي او نورو په شاعرۍ کې هم موندل کېږي. پښتو هم دغه شعري ډولونه له خپلو نورو ګاونډیو ژبو څخه اخیســتي دي، چې په دغو شعري ډولونو کې موږ قصیده، غزل، ربــاعي، قطعــه، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن، معشــر، ترجیــع بنــد، ترکیب بند او نور شعري انواع یادولای شو.))

**(۳) د پښتو د ولسي ادبیاتو شعري ډولونه:** ((د پښتو پــه لیکل شوې او ثبت شوې زېرمه کې ځینې داسې شعري انواع هم شته، چې دا ډول شعرونه د خپل شکلي جوړښت له مخــې د نــورو ژبــو پــه شاعرۍ کې نه شي موندل کېدی او که په ځینو هندي ژبو، لکه: هندکو او اردو کې ومیندل شي، نو هغو هم له پښتو ادب څخه اخیستې دي او د پښتو ادبیاتو په تقلید او یا د پښتنو له خوا د دغو ژبو په شاعرۍ کې

د پښتو د ولسي ادبیاتو ځینې ډولونه باب شوي دي.

دا ډول ولسي شعرونه زیاتره ګڼنې بنه لري، خــو د خپلــو شــفاهي اشکالو ترڅنګه دا ډول ادبیات ځینې پخواني لیکل شوي اســناد هــم لري او زموږ ډېرو لوستو شاعرانو هم د شرقي شاعرۍ د نــورو اصــنافو ترڅنګه د خپلې شاعرۍ په دغو ملې چوکاټونو کې هم شــاعري کــړې ده.))

چې په همدې څېرکي کې مو (د پښــتو ولســي شــاعرۍ یــا نظــم فورمونه) په عنوان کې په تفصیل سره معرفي کړل.

**(۴) نوي ادبي ډولونه:** ((د شلمې پېړۍ په جریان کې د شــرقي شاعرۍ او د پښتو د ولسي شاعرۍ د شعري ډولونو ترڅنګه پښتو ادب ځینې نوي ادبي ډولونه هم راخپل کړل، لکه: ازاد شعر او سپین شــعر. پر ازاد او سپین شعر سربېره دغه مهال په پښتو ادبیاتو کــې د لنــډې کیسې، ناول او ډرامې لیکل هم پیل شوي دي او دغو دریو ادبي ډولونو هم زموږ په معاصرو ادبیاتو کې وده مونــدلې ده.)) (۵۳: ۲۲-۲۳) ددې ترڅنګ (هایکو)، (ټپیزې) او ځینې نور شعري فورمونه هم دود شــوي، خو څرنګه چې موږ په دې اثر کې یوازې پښتو لرغونې ادبیات څېړو، نو په کار ده چې یوازې هغو شعري فورمونو ته نغوته وکړو چې په همــدې لرغونې دوره کې له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلي او پښــتو کــې بــاب شوي دي. البته لکه څنګه چې مو یادونه وکړه ګڼ شــمېر داســې نــور نظمي فورمونه هم شته چې تر لرغونې ادبي دورې وروسته پښتو کــې باب شوي، خو نه غواړو پر هغو دلته بحث وکړو، یوازې هغو فورمونو ته نغوته کوو چې په لرغونې دوره کې پښتنو شاعرانو کارولي دي.

## ۱- قصیده:

((قصیدې ته په پښتو کې (بوللــه) وایي. خپله قصیده عربي کلمــه ده. په لغت کې (قصد کړای شوي) ته وایي. دا نوم د قصد لــه مصــدره جوړ شوی، چې معنا یې استقامت، اتصال، سموالی، برابــري او ســوچه توب و. په عربي اصطلاح کې هغه شعر و چې د بیتونو شمېر به یــې تــر (۱۶) یا (۱۷) کم نه و.)) (۵۹: ۴۵-۴۶)

دا هغه شعري فورم دی، چې د غزل په شان د سر لومړی بیت یــې مقفی وي. د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره یــې قافیــه ولــري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي. قصیده په شکل او جوړښت کــې لــه غــزل سره چندان توپیر نه لري، توپیر یې دادی، چې د غزل د بیتونو شمېر له (۵) څخه تر (۱۵) پورې وي او د قصیدې بیا له (۱۶) څخه تر (۲۰۰) یا تر دې هم زیاتو بیتونو پورې دی. پخوانۍ قصیدې له مانیز پلوه هــره یــوه اکثره پر درېو برخو وېشل شوې دي:

د قصیدې لومړۍ برخې ته تغزل یا تشبیب وایي چې په هغــې کــې شاعر تر اصلي موضوع دمخه د طبیعت ستاینه کوي. د قصیدې دویمه برخه د هغې اصلي موضوع ده. دا برخه له تغزل یــا تشــبیب وروســته پیلېږي او په دې کې شاعر د خپل ممدوح ســتاینه کــوي. د قصــیدې درېیمه برخه دعائیه بولي چې په هغې کې شاعر د خپل ممدوح لپاره د خدای(ج) له درباره د ښېګڼې او هوساینې غوښتنه کوي.

په اوسنیو قصیدو کې پورتني نورمونه چندان په پام کې نــه نیــول کېږي. د غزل او ځینو نورو شعري فورمونو په شان، په قصیده کې هــم ردیف اختیاري دی، خو که مطلع کې راوړل شو، نــو پــه نــورو دویمــو

مسرو کې یې راوړل حتمي کېږي. قصیدې دوه شکلونه لري: یـو هغـه ډول دی، چې ردیف نه لري او بل هغه ډول دی، چـې ردیـف ولـري. د پښتو لومړۍ معلومه لاسته راغلې قصیده په هغه شکل کې راځي چې ردیف نه لري.

په پښتو کې ښکاره، څرگنده، پوره او کره لاسته راغلـې قصـیده د شیخ اسعد سوري ده چې موږ مخکې پرې تفصیلي خبـرې کـړې دي. ددې قصیدې مطلع ده:

د فلـــک له چارو څه وکړم کوکار

زمولوي هر گل چې خاندې په بهار

تر شیخ اسعد وړاندې موږ په پښتو کې د پوره قصیدې بېلگـې نـه لرو، خو د شیخ اسعد سوري قصیدې له کره والي څخه موږ ته دا څرک لگي چې پښتو قصیدو تر دې پخوا د تمرین، تجربې او زېرمې یـو پـوخ بهیر تېر کړی چې دا قصیده دې پړاو تـه رسـېدلې ده. دا قصـیده لـه هنري، شکلي او محتوايي پلوه په تول پوره او کره قصیده ده. تر شـیخ اسعد سوري وروسته د ښکارندوی غوري قصیده هم له هنري، شکلي او محتوايي پلوه، عربي او پارسي قصایدو سره پوره سیالي کولای شـي او د طبیعت د انځورنې په برخه کې ډېرې ښې تابلوگانې لري.

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینگارونه

بـیا یـــې ولونـــل په غرونو کې لالونه

څرنگه چې ادب تاریخ پر لاسته راغلو اثارو بحث کوي څکه نو مـوږ ویلای شو چې د پښتو قصیدو د معلوم تاریخ پیـل لـه شـیخ اسـعده پیلېږي، ښکارندوی قصیده لاپسې وپاللـه، خو بیا د لرغونې دورې تـر پایه پورې موږ د نورو داسې قصایدو څرک نه لرو چې پر هغو بحث وکړو او یا یې له دې قصایدو سره پرتله کړو.

## ۲- غزل:

په پښتو شاعرۍ کې غزل یو له هغو شعري چوکاټونو څخه دی، چې ډېر عام مقبولیت لري. د پښتو اکثرو شاعرانو د غزل په فورم کې زیات قلم چلولی دی. په همدې وجه خو غزل په پښتو کې د ځینو نورو شعري فورمونو په انډول زیات ظرافت او لطافت ته رسېدلی دی. د غزل ښکلا او ظرافت په دې نور هم زیات شول، چې دې فورم ته د پښتني چاپېریال زیاتې انځورنې وردننه شوې، ځوانو پښتنو شاعرانو ته هم غزل داسې یو فورم دی، چې د دوی قلم په کې ښه ازمېښت کولای شي. اکثره ځوان شاعران په همدې فورم کې خپل وزن ښه پوخ کړي، پر قافیې، ردیف، څپو او د نظم پر ځینو نورو توکو ځان واکمن کړي، نو بیا نورو شعري فورمونو ته مخه کړي. پخوا به د غزل په فورم کې هغه مسایل راتلل، چې په ټولیز ډول یې غنایي او عشقي مسایل په خپله غبېږه کې رانغاړل، وروسته بیا د غزل ځولۍ د ژوند له نورو رنګارنګ ګلونو ډکه شوه او اوس غزل تر دې بریده رسېدلی، چې په یوه مسره کې یې ناخوالې او په بله کې یې د ژوند د خوږو رنګارنګي بیانېدی شي.

د غزل د دومره عام مقبولیت او زیات استعمال یوه وجه شاید همدا وي، چې د یو مانیز پیوستون اوتسلسل ترڅنګ د غزل هر بیت په اصطلاح ځانته پاچا دی او په ځانګړي او خپلواک ډول ډېر دروند مانیز بار پورته کولای شي.

غزل لکه چې له نامه څخه یې ښکاري عربي کلمه ده او له همدې ژبې څخه دا فورم پښتو ته راغلی دی. له مانیز پلوه نورو هغو شعرونو ته، چې غزلیز، عشقي یا غنایي مانیز بار لېږدوي، هم غزل ویل کېدی

شي، خو د فورم له پلوه بیا غزل ځانګړې بڼه او شکل لري.

غزل معمولاً هغه شعري چوکاټ ته وایي، چې مطلع ولـري، یـانې د سربیت یې اکثراً مقفی وي او د بل هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي، د بیتونو شمېر یې لــه (۵-۱۵) بیتونــو پورې وي. د څپو شمېر یې معمولاً سره برابر وي. په ځینو خاصو غزلــو کې کېدی شي د غز ل هغه مسرې چې قافیه نه لري، یوه څپه تر قافیه والو مسرو څخه زیاتې شي. په پښتو کې له (۷) څپیز څخه نیولې بیا تر (۱۵) څپیزو پورې غزلونه شته. قافیه په غزل کې اساسي توک دی، خو ردیف اختیاري دی.

هر کله که په مطلع کې تر قافیې څخه وروسته ردیف راوړل شــو، د همغه ردیف راوړل په ټولو قافیه لرونکو مسرو کې حتمي ګڼل کېږي. په پښتو شاعرۍ کې د غزل فورم دا لاندې بڼې لري:

## ۱- بې ردیفه غزل:

هغه غزل دی، چې ردیف ونه لري او پر قافیه پای ته رسېدلی وي.

**۲- ردیف لرونکی غزل:** د غزل د فورم هغه بڼه ده، چې د قافیې ترڅنګ ردیف هم ولري. ردیف هغه یوه یا څو کلمې دي چې تر قــافیې وروسته په یوه شکل او تر ډېره زیاته حده په یوه مانا تکرار راځي.

**۳- دوه قافیز غزل:** دا هغه ډول غــزل دی، چــې دوه بېلابېلــې قافیې ولري. مانا دا چې د دوو مسرو د پای تر قافیې څخه دمخه او یا د مسرو په منځ کې بله قافیه موجوده وي. په مطلــع کــې دوه بېلابېلــې قافیې موجودې وي. د نورو مسرو قافیې د مطلعې خپله خپلــه قافیــه تعقیبوي، که چېرې تر هرې قافیې وروسته ردیفونه راغلي وي، نــو تــر

هرې تعقیبوونکي قافيې څخه وروسته د هغې خپل ردیف هم په همغه بڼه تکرارېږي.

د دوه قافیه ییزو غزلو بل ډول دادی، چې لومړۍ قافیه د مطلعې د مسرو په منځ کې راځي، ورپسې بیا ردیف راځي، ورپسې بیا بله قافیه او بیا ورپسې ردیف. د مطلعې هره قافیه ځانته ځانته ردیفونه او ځانته ځانته قافيې لري، یانې دا چې د وروسته مسرو قافيې، په مطلع کې راغلې قافيې تعقیبوي.

**۴- ماته غزل:** (ماته غزل) ورته ځکه وایي چې په منځه ملا کې یې د هرې مسرې په منځ کې د اهنګ یوه وقفه راځي. په همدې منځ کې د څپو د شمېر له مخې هر مسره پر دوو مساوي برخو وېشل کېږي، لکه په لرغونې دوره کې د شیخ عیسی مشواڼي شعر چې د ماتې غزلې بڼه لري او که چېرې د بیتونو شمېر یې پوره وای نو د پوره ماتې غزلې اطلاق پرې کېدی شي.

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې
کله بادار یم کله مې خوار کړې

دلته (په خپله کار کړې) د لومړۍ مسرې لومړۍ برخه چې پنځه څپې لري (په خپل انکار کړې) د لومړۍ مسرې دویمه برخه ده چې دا هم پنځه څپې لري او په دویمه مسره کې بیا (کله باداریم) د دویمې مسرې لومړۍ برخه او (کله مې خوار کړې) ددې مسرې دویمه برخه ده چې دواړه سره مساوي دي (پنځه) پنځه) څپې لري همدا انډول، تعادل او توازن هره مسره ماتوي، نو ځکه ورته ماته غزل وایي.

کله کله د اهنګ دا وقفه تر قافيې وروسته راځي او کله د ردیف یوه برخه هم ورسره نیسي او بیا تر هغه وروسته وقفه او بیا نور ردیف راځي.

**۵- بې مطلعې غزل:** هغه غزل دی، چې یوازې مطلع نــه لــري، یانې د سر لومړی بیت یې مقفي نه وي. د لومړي بیت دویمه مسره یـې قافیه لري او د نورو بیتونو د دویمو مسرو قافیه یــې د لــومړي بیــت د دویمې مسرې قافیه تعقیبوي. که چېرې د لومړي بیت د دویمې مسرې تر قافیې وروسته ردیف راغلی وي، نو د نورو قافیه والو مسرو ردیفونه هم همدا بڼه لري.

په پښتو کې لومړی معلومه او لاسته راغلې منظومه ژباړه هم د بــې مطلعې غزل له فورم سره سمون خوري. د پټې خزانې پــه حوالــه ابــو محمد هاشم ابن زیدالسرواني په (۲۲۳-۲۹۷هـ) کې د یو عراقي شاعر محمد ابن خلاد یو شعر په پښتو ژباړلی دی. چې موږ مخکې پــرې پــر خپل ځای تفصیلي بحث وکړ.

دغه راز لرغونې شاعرۍ کې د شیخ رضی لودي او نصر لودي ترمنځ شوی شعري سوال او ځواب هم له همدې فورم سره ورته والی لري.

په پښتو کې د فورم له پلوه بې مطلعو غزلونه په لرغــونې دوره کــې شته، خو ادبپوهانو هغه بشپړ غزلونه نه دي ګڼلي، ځینو ته یې پــاړکي او ځینو نورو ته یې نور خطابونه کړي دي، د شیخ رضی لــودي او نصــر لودي پاړکي هم د مطلعې له نشتوالي پرته نور د غزل فورم ته ورته دي. پوهانو چې دا پاړکي بللي او غزلې یې نه دي بللي یو علت یې شــاید دا وي چې دلته د نظم ټول بیتونه یو بل سره تړلي او یوه مسلســله مانــا تعقیبوي، د غزل یوه ځانګړنه بیا دا هم ده چې هر بیت یــې خپلواکــه ځانګړې مانا هم لري، که بل بیت یې ورسره مل هم نه شي، نو پوره مانا ورکوي. د شیخ رضی او نصر لودي نظمونه بیا په مجموعي ډول یو لوی پیغام یو بل ته لېږدي، د سوال او ځواب په بڼه افاده شوې یو بل ســره

مانیز تړاو لري، په خپل منځ کې یې هم بیتونه له مانیز پلوه یو بل سره تړلي ښکاري.

خو په پښتو کې بشپړ غزلونه چې هم د شکل، هم د مانــا او هــم د محتوا له پلوه ورته پوره غزل ویلی شو، هغه د اکبر زمینداوري غزلونــه دي. د اکبر زمینداور د یوه غزل لومړی بیت دادی:

د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل وکړم
د عشق ویر به تل په خپله پټول کړم

په دې غزل کې (ویل) او (پټول) د قافیې کلمې دي، (کړم، کړم) یې ردیف دی، محتوا یې عشقي یا غنایي ده. هره مســره یــې (۱۲) څپــې لري. دویم غزل یې:

د اکبر د دویمې غزلې مطلع داده:

چې مدام زه ستا و مخ و ته نظر وړم
د بېلتون له ببرې زړه زېر و زبر وړم

په دې غزل کې (نظر او زبر) د قــافیې کلمــې دي، (وړم، وړم) یــې ردیف دی، ردیفواله غزله ورته ویلای شو. هره مسره یې (۱۲) څپې ده. دا غزل هم غني محتوا لري.

تر اکبر زمینداوري وروسته (علي سرور لودي)، (مېرمن نېکبختــې او شیخ صالح) د غزل په فورم کې شعرونه ویلي دي. خو پــه لرغــونې دوره کې تر ټولو بشپړ او پوره غزلونه هغه لومړني غزلونه دي چې اکبــر زمینداوري ویلي دي. نو ځکه خو زمینداوري ته د پښتو غزل موســس هم ویل کېږي.

## ۳- مثنوي:

دوه یزه (مثنوي) هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بیت یې په خپل منځ کې ګډه قافیه لري (مقفی وي)، د بیتونو شمېر یې ثابت نه دی. په ټولو قافیه والو شعري چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لوی شعري فورم دی. شاعر کولای شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر وروستي بریده بیان کړي، ځکه نو اکثره شاعران د لویو موضوعګانو د بیان په غرض دا فورم انتخابوي، لکه ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د لیکلو لپاره دا فورم وټاکه. په مثنوي کې که شاعر په یوه قافیه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې ته تللای شي. په مثنوي کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو د ټولو بیتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي. مانا دا چې مثنوي مقفی، مشترک الوزنه او د مساوي څپو لرونکی فورم دی.

لکه دمخه چې مو یادونه وکړه په مثنوي کې کېدی شي ځینې بیتونه ردیف لرونکي وي او ځینې په قافیه ختم شوي وي.

په پښتو کې لومړنی سړی چې موږ ته تر دې دمه معلوم دی او بشپړه مثنوي یې لیکلې، هغه اکبر زمینداوري دی. البته تر اکبر زمینداوري مخکې هم د مثنوي فورم ته ورته نظمونه لیکل شوي، خو په بشپړه مثنوي کې ځکه نه حسابېږي چې وروستۍ برخې یې کسرونه لري او یا د بېلابېلو بندونو بڼه لري. لکه د بېټ نیکه مناجات چې د هر بند له کسر پرته برخه یې د مثنوي فورم بڼه لري. خو بشپړه مثنوي چې تر دې دمه څرګنده ده همدا د اکبر زمینداوري مثنوي ده

چې د سر درې بیتونه یې دادي:

زه عــاشق یم یار هم نیز　　نــور څــه نــه لـــرم تــمیـــز
یو تـــر بله عــاشقان یــو　　په خپل عشق کې صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یو　　چــې نــږدې نــه یو مهجور یو

د اکبر زمینداوري دا مثنوي ټول (۲۸) بیتونه لري. د زرغــون خــان نورزي ساقینامه هم په مثنوي فورم کــې ویــل شــوې ده. د ســر درې بیتونه یې دادي:

ســاقي پــاڅه پیاله راکړه　　مــرور یــار مې پخلا کړه
اوبــه تــویې پــه لمبو کړه　　اور مې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو غونچه ګل کـا　　زلــفې تــاوې د سنبــل کـا

تر زرغون خان نورزي وروسته، زرغونې کاکړ هم د سعدي بوســتان یو حکایت په مثنوي فورم کې نظم کړی دی. د سر څو بیتونه یې دادي:

اوربدلې مې قیصه ده　　چې له شاتو هم خوږه ده
د اختــر په ورځ سهار　　بـــایزید چې و رویدار
له حمامــه راوتــــــلی　　په کوڅه کې تېربدلی....

دغه راز د دوست محمد کاکړ غربت نامه هم په مثنوي فورم کــې ویل شوې ده.

د غرغښتنامې د سر څو بیتونه په دې ډول دي:

لــــه نبکانــــو روایت دی　　هـــــسې توګه حکایت دی
نورمحمد کاکړ راوي دی　　چې یې فیض تل جاري دی
د نیکــونو له خولې وایي　　چې منښت یې راته ښایي

## ۴- رباعي:

رباعي يا څلوريزه هغه ډول شعر دی چې له عربي ژبې څخه دري او پښتو ته راغلی دی. دا فورم څلور مسرې لري چې د څپو د شمېر لـه مخې سره مساوي وي. له ځينو استثنايي حالاتو پرته چې په هغه کـې کېدی شي د درېيمې مسرې يوه څپه يې د قافيه والو مسرو تـر څپـو زياته وي. نور نو اکثره د څپو د شمېر لـه مخـې سـره مسـاوي وي. د رباعي لومړی بيت مقفی وي، درېيمه مسره يـې قافيـه نـه لـري او د څلورمې مسرې قافيه يې د مطلعې قافيه تعقيبوي. د غزل په شان پـه څلوريزه کې هم رديف اختياري وي، خو کله چې د رباعي په مطلع کې راشي، په څلورمه مسره کې به ضرور بيا همغه رديـف تکرارېـږي. پـه پښتو کې د بېلابېلو څپو په شمېر ربـاعي ويـل شـوي دي، خـو لـس څپيزې څلوريزې په کې زياتې دي، رباعي اکثره په تول تللې دي، هغـه رباعي چې لس څپيزې دي، هره مسره يې د اهنګ له مخې تقريبـاً پـر دوو برخو وېشل کېږي، پنځه څپې يې يوه خوا او پنځه يې بله خوا پـه تول تللې وي.))(۵۹: ۳۸-۳۹)

په پښتو لرغونې ادب کې د څلوريزې په فورم او تول شعرونه ويـل شوي دي او ځينو شاعرانو بيا څلوريزې د يوه نسبتاً اوږده شعر د برخو يا بندونو په توګه کارولي دي لکه د شيخ اسمعيل او خرښـبون نـارې چې له څو څلوريزو رغېدلې دي، خو دا هره څلوريزه بيـا د محتـوا لـه مخې او هم د اهنګيز ارتباط له مخې له خپلو نورو اړوندو څلوريزو سره تړلې او تړولې په ګډه يوه مانا او محتوا بشپړوي. په لرغونې دوره کې پـه تول پوره او کره څلوريزه همغه د خليل خا نيـازي او سـلطان بهلـول

لودي دوه څلوريزې دي چې د پښتو له نورو څلوريزو سره بشپړ سمون لري، هره مسره يې لس لس څپې ده او همدا لــس څپيــز جوړښــت د پښتو پر اکثرو څلوريزو د تطبيق وړ دی، تر هغه وروسته خوشال خــان د رباعياتو په ګډون اکثرو شاعرانو څلوريزې په همدې لس څپيز خجيز جوړښت کې ويلي دي.

پر قصيدې، غزل، مثنوي او رباعي سربېره ځينو ادبپوهانو په پښتو لرغونې دوره کې د پاړکي (قطعې) او (مربع) فورمونو يادونه هم کــړې، خو که د لرغونې دورې نظم ته ډېر ځير شو، قطعې او مربــع تــه ورتــه نظمونه ويل شوي، خو داسې نه دي چې موږ سل پــه ســلو کــې ددې فورمونو اطلاق پرې وکړو. يا دې هم د قصيدې، غزل، مثنوي او ربــاعي په شان وي چې د هر يو فورم لپاره پوره او کره بېلګې په کې پيدا کړو، نو ځکه دلته له قطعې، مربع او د نورو هغو عربي نظمــي فورمونــو لــه تشريح او توضيح څخه تېرېږو چې د پښتو شاعرۍ په نــورو دورو کــې باب دي، خو په لرغوني دوره کې يې پوره بېلګې نه شته.

# د پنځم څپرکي لنډيز

پښتو ژبه دوه ډوله شعري يا نظمي فورمونه لري، لومړی يې خپل فورونه دي او بل هغه شعري فورمونه دي چې له نورو ژبو او په تېره بيا له عربي څخه پښتو ته راغلي او دلته په پښتو کې باب شوي دي.

د پښتو خپل فورمونه بيا پر دوو ډولونو وېشل کېږي؛ لومړی عامې سندرې دي چې ويونکي يې معلوم نه دي او په ګرد ولس پورې اړه لري، لکه لنډۍ، سروکي، نارې، لنډکۍ، د ښادۍ بدلې او نورې. دويم خاصې سندرې دي چې په دې سندرو کې هغه سندرې شاملېږي چې د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جوړې شوې دي، يانې شاعران يې معلوم کسان دي، لکه چاربيتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان، مقام، کسرونه او نور، موږ په دې څپرکي کې پر دې دواړو ډولونو تفصيلي بحث کړی او د بحث په نتيجه کې دا راته څرګنده شوه چې دا د پښتو ادبياتو يوه درنه او غوښنه برخه ده، ددې پانګې يوه درنه برخه راټوله شوې، خو لاهم زياته برخه يې په ولس کې خوره وره پرته ده او د راټولولو اړتيا يې احساسېږي، ددې ډول ادبي فورمونو د محتوا يوه برخه په لرغونې ادبي دورې پورې اړه پيداکوي، خو يوه زياته برخه يې تر لرغونې ادبي دورې وروسته رامنځته شوې ده، خو شکلونه يا فورمونه يې پخواني دي او لرغونې دورې او په همغه زماني بهيرپورې اړه لري. دا ډول شعرونه او سندرې زموږ د ټولنيز، سياسي او کلتوري چاپېريال زېږنده دي او د همغه چاپېريالونو انځورنه کوي. دويم ډول شعري فورمونه بيا هغه دي چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي او پښتنو شاعرانو هغه کارولي او پښتو کې يې دود کړي دي.

لکه قصيده چې په لرغونې دوره کې شيخ اسعد سوري او

ښکارندوی غوري له دې فورم څخه ګټه پورته کړې او په ښه ډول یې کارولی دی. غزل چې اکبر زمینداوري، علـــي ســرور لــودي، مېــرمن نېکبختې او شیخ صالح محمد الکوزي کارولی دی، دریېم د مثنــوي فورم دی چې اکبر زمینداوري، زرغون خان نورزي، زرغونې کاکړې او دوست محمد کاکړ کارولی دی. څلورم فورم د (رباعي) دی چــې لــه عربي څخه پښتو ته راغلی، ښې بېلګې یې د خلیــل خــان نیــازي او سلطان بهلول لودي په څلوریزې کې راڅرګندېږي. پر یادو فورمونــو سربېره قطعې او مربع ته ورته فورمونه هم په پښتو لرغونې ادبي دوره کې کارېدلي، خو د یادو فورمونو داسې بشپړې بېلګې نه دي ترلاســه شوي چې په بشپړ ډول دې پــرې یــاد فورمونــه تطبیــق شــي. پــه مجمووعي ډول پښتو لرغوني ادبي دوره د نظمي یا شعري فورمونو له پلوه خورا بډایه ده، خو د خپلو ملي فورمونو تله یې ډېره درنه ده.

په لومړۍ کټګورۍ فورمونو کې، لنډۍ، سروکي، نیمکۍ، بګتــۍ... او نور شامل دي. په دویمه کټګــورۍ کــې، قصــیده، غــزل، ربــاعي، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، سبع، مستن، معشــر، تــرجیح بنــد، ترکیب بند او نور شعري انواع شامل دي چې پــه لرغــونې دوره کــې یوازې د قصیدې، غزل، رباعي او مثنوي بېلګې لرو او د نورو بېلګــې په نورو دورو کې شته.

د فورمونو له پلوه پښتو ادبیات هم په لرغونې دوره کې او هم پــه وروستیو نورو دورو کې خورا بډایه دي او له دې پلوه د ســیمې هــېڅ بله ژبه ورسره سیالي نه شي کولای.

# د پنځم څپرکي پوښتنې

- په لرغونې دوره کې د نظم ډولونه په ټولیز ډول پر څو برخو وېشلای شو؟
- د پښتو خپل نظمي فورمونه کوم دي؟ نومونه یې واخلئ!
- په لرغونې دوره کې له عربي ژبې څخه کوم شعري یا نظمي فورمونه په پښتو کې باب شوي دي.
- پښتو ژبه د شعري فورمونو له پلوه په لرغونې دوره کې څه ډول ارزوئ؟
- د لنډۍ فورم تشریح کړئ؟
- پښتو ولسي ادبیات د فورم له پلوه پر څو برخو وېشلای شو؟
- سروکی څه ډول شعري فورم دی؟ تشریح یې کړئ!
- کاکړۍ غاړې او د اتڼ نارې تشریح کړئ!
- چاربیته څه ډول فورم دی؟ څو ډولونه لري؟
- لوبه څه ډول فورم دی؟ تشریح یې کړئ!
- بګتۍ راوپېژنئ!
- د پښتو ولسي ادبیاتو ارزښتونه تشریح کړئ!
- له کومو ژبو څخه پښتو ته کوم ادبي فورمونه راغلي دي؟
- پښتو لرغونو ادبي دوره کې چا د رباعي فورم کارولی دی.
- د پښتو غزل موسس څوک دی او کله یې په پښتو کې غزل ولیکه او بیا کومو شاعرانو ورپسې د غزل فورم تعقیب کړ؟
- چا لومړی ځل د مثنوي فورم وکاراوه او کومو شاعرانو بیا ورپسې مثنویانې ولیکلې؟

# شپږم څپرکی

# د لرغونې دورې نثر

د اریایي ژبو او اقوامو پخواني کتابونه او ادبي اثار ټول منظــوم دي، (ویدا)، (اوستا) او (سنسکریت) زاړه کتابونه، لکه (مهابهاراتا) (رامایانا) او نور ټول یو راز ازاد نظم دی، چې ښایي د تغني او تــرنم پــه ډول بــه غږول کېدل، دا خبره چې نظم تر نثر په ادبــي اثــارو کــې دمخــه دی، یوازې په اریایي ژبو پورې هم اړه نه لري، په اکثرو ژبو کې دغســې وي، که څه هم اساساً ژبه منثورې خبرې دي، خو داسې منثورې خبــرې د خلکو په یاد نه پاتې کېږي او یوازې په لیــک او تحریــر ســره خونــدي کېږي، خو خلک منظومې ویناوې په یادوي او پښت پر پښت یې انسان خپلو نویو نسلونو ته سپاري، له هم دغه جهته تر هغه وخته چې لیــک او تحریر په یوه قوم کې ډېرېږي، نو د دوی ادبي اثار هغه منظومې ټوټې دي، چې د خلکو په یاد وي او له یوې سینې بلې ته ورنقلېږي، څو پــه پای کې د لیک په ډول خوندي شــي او کتابونــه ځنــې جــوړ شــي، د همدغو لاملونو له کبله د اکثرو اقوامــو پخــواني اثــار او ادبــي نښــې منظومې دي او نثر تش د کتابو په ذریعه له لیکنیو وختونو څخه ساتل شوی دی، د پښتو د پخواني ادب اثــار هــم دغســې دي او خــورا زړې سندرې او ادبي ټوټې چې زمونږ لاس ته راغلــې دي، منظــومې دي او د منثورو اثارو ښېلګه یې ډېره لږه پاتې ده او لکه څنګه چې تــر (۶۰۰هــــ) پورې مونږ منظوم اثار لرو، هغسې منثور اثار نه دي رامعلوم او که څه وو

هغه هم زمانې له منځه وړي او ورک شوي دي. په (۶۱۲هـ) کې بیا موږ د یوه داسې منثور اثر بېلګه لرو چې د شاعرانو او لویانو ژوند لیک او د کلام بېلګې په کې خوندي دي. دا د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا ده چې هغه هم یوازې څو مخونه یې ترلاسه شوي دي.

که څه هم محمد هوتک په پټه خزانه کې لیکلي دي، چې ابومحمد هاشم ابن الزید السرواني (د سالو وږمه) په پښتو ژبه لیکلې وه، چې هغه هم تر دې دمه نه ده ترلاسه شوې. دلته غواړو د پښتو نثر د پیلامې او په دې دوره کې د پښتو پر لاسته راغلو بېلګو لږ په تفصیل سره رڼا واچوو:

((که څېړې موږ د پښتو لاس ته راغلي لرغوني اثار، چې د پښتو د ادبي تاریخ په لومړۍ دورې پورې اړه لري، له نظره تېر کړو، نو دا اثار که له یوې خوا د کمیت په لحاظ لږ دي، نو له بلې خوا د نورو دورو په پرتله متفرق هم دي او په دې دورې پورې مربوط منظم اثار زیاتره تر موږ نه دي رارسېدلي او یا دا چې نه دي کشف شوي.

د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې په لاس ته راغلو اثارو کې د نثر برخه تر نظم هغې خواره هم ده او د قدامت له پلوه وروستۍ هم. دا په دې مانا چې زموږ د معلوم نظم تاریخ تر نثر هغه پخوانی دی. دا جریان په ځینو شرقي ژبو کې د نظم او نثر د پیدایښت له روایاتو سره سمون لري. د زیاترو شرقي ژبو د ادبیاتو تاریخونه چې موږ وګورو، هلته نظم تر نثر لرغونوالی لري. د مثال په ډول دري، اردو، هندکو او بلوچي ژبو کې هم د لاس ته راغلي نظم بېلګې تر نثر هغې پخوانۍ دي.

موږ چې د خپل ادبي تاریخ په لومړۍ دوره کې د نثر جاج اخلو، نو راته ښکاري چې:

۱- ددې دورې مربوطو منثورو اثارو کې د ډېرو یوازې نومونه تر موږه رارسېدلي دي. دا نومونه او ددغو اثارو وجود د نورو خارجي منابعو په مرسته ثابتېږي، خپله اثار یا تراوسه نه دي موندل شوي او یا دا چې د زمانې توندو سیلیو ورسره وړي دي.

۲- هغه اثار چې بېلګې یې تر موږه رسېدلي دي او بشپړ اثار اوس نه شته.

پر دې دوره د بحث په ترڅ کې موږ اړ یو چې د هغو اثارو یادونه هم وکړو چې وجود یې د نورو اثارو په مرسته ثابت دی او پر هغو اثارو به هم بحث وکړو چې یوه برخه یې موږ ته رارسېدلې ده. دلته غواړو د تاریخي تسلسل له مخې ددې اثارو یادونه وکړو.

## د سالو وږمه:

((د هغو اثارو له جملې څخه چې نومونه یې د نورو اثارو له مخې موږ ته رارسېدلي، یو اثر هم د ((سالو وږمه)) نومېږي چې د پټې خزانې مولف محمد هوتک (۱۰۸۳هـ ق زوکړی) یې له وجوده موږ داسې خبروي:

((نقل کا: چې ابومحمد په پښتو یو کتاب کښلی و چې په هغه کې یې د عربي د اشعارو فصاحت او بلاغت بیان کړی و او نوم یې و د سالو وږمه))

دا کتاب ابومحمد هاشم ابن الزید السرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ ق) لیکلی و. دا صراحت شته چې کتاب په پښتو و. دا چې کتاب منثور و، په پټه خزانه کې یې ښکاره څه نه دي ویلي، اما د: ((په پښتو یو کتاب

کښلی و)) له جملې څخه سرې اټکل کولای شي چې دا کتاب به پښتو نثر و.

که دا کتاب وای، نو بیا بایده وو چې موږ د پښتو نثر پیل له همـدې کتابه کړی وای. ارواښاد پوهاند دوکتور زهیر چې خپل اثر ته ((د پښتو نثر زرکلن تاریخ)) نوم ورکړی و، هغه د پښتو نثر پیل له همدې کتابـه کړی دی.

خو موږ دلته د ((سالو وږمه)) کتاب په باب د پټې خزانې لـه لـوړې اقتباسي ټوټې څخه زیات څه نه لرو، نه پرې اضافي هوایي بحث کـول په کار دي او نه د پښتو نثر تاریخ له دې روایته پیلوو، ځکه دا یادونه د بحث او ګروېږنې لپاره څه نه لري.))( ۵۴: ۱۵۴)

## تذکرة الاولیاء:

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه د پښتو نثر د پیـل پـه بـاب بېلابېل نظرونه شته، خو ډېری ادبپوهان په دې نظر دي چې پښتو نثـر د هغه د ښکاره، څرګند او لاسته راغلی نثر له بېلګو څخه پیلېـږي، دا نثر د سلیمان ماکو (تذکرة الاولیا) دی. پښتو ادبپوه ســرمحقق زلمـی هېوادمل چې د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې)، (د پښتو نثر اته سوه کاله) کتابونه او نور ګڼ شمېر ادبـي اختصاصـي اثـار یـې لیکلی، هم په دې نظر دی چې د پښتو نثر تاریخ د سـلیمان مـاکو لـه (تذکرة الاولیا) څخه پیلېږي، هغه وایي:

((زه د پښتو نثر تاریخ د پښتو له معلوم نثره پیلوم. د پښتو تر ټولـو پخوانی منثور اثر د سلیمان ماکو سابزي د پښتو ((تذکرة الاولیا)) دی،

چې له بده مرغه د کتاب ټول متن تراوسه نه دی ترلاسه شــوی، تــش څلور پاڼې یې زموږ په واک کې دي.

د پښتو ((تذکره الاولیاء) دا څو پاڼې لوی اســتاد اروابښــاد پوهانــد عبدالحی حبیبي په غالب ګومان د روانــې هجــري شمســي پېــړۍ د دویمې لسیزې په جریان کې موندلې دي. کله چې زموږ مرحوم اســتاد ((تاریخچه شعر پښتو)) لیکه، دا پاڼې یې نــه وې مونــدلې، ځکــه پــه تاریخچه کې یې ددې پاڼو د محتویاتو یادونه نــه ده کــړې. اســتاد لــه (۱۳۱۰ل) کال راپدېخوا د پښتو د زړو اثارو د لټون په سلسله کې کلیــو پر کلیو ګرځېده او د همدې پلټنو په لړ کې یې دا پاڼې هم د هلمنــد د (ادم خان) کلي په جومات کې د یو زاړه چــاپي کتــاب پــه مــنځ کــې موندلې وې او څو کاله دوی سره نالوستې پرتې وې. خو کله چې یــې د کابل کالنۍ د (۱۳۱۹ل) کال د ګنې لپاره ((تاریخچــه ســبکهای اشــعار پښتو)) نومې رساله لیکله، نو ددې پاڼو په لوســت بریــالی شــوی و او ددې پاڼو محتویات یې په دې رساله کې شامل کړل، د اصــلي نســخې پاڼې یې هلته زنګوګراف هم کړې. تــر دې رســالې یــو کــال وروســته ((پښتانه شعراء)) لومړی ټوک چاپ شو. پــه دې کتــاب کــې هــم پــه ((تذکرة الاولیاء)) کې د راغلیــو شــاعرانو احــوال راغلــل او د پښــتو ((تذکرة الاولیاء)) اصلي پاڼې عکسي هم په کې چاپ شوې. پــر دغــو دوو چاپونو سربېره تذکرة الاولیا د مستقلې رسالې په بڼه پر (۱۳۶۱ل/ ۱۹۸۲م) کال د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا چاپ شوې ده. پــر دې چاپ د استاد حبیبي یو نوی یادښت هم چاپ شــوی دی. پــه دې چاپ کې د ((تذکرة الاولیاء)) پاڼې هم زنګوګرافي شوي دي.)) (۵۴: ۱۵۵)

سرمحقق زلمی هېوادمل لیکي: ((د تذکره الاولیا په مستقل چــاپ

کې چې کله وار د اصلي پاڼو عکسي چاپ ته راورسېد، نو دا موجـودې خطي پاڼې ما له مرحوم استاد څخه واخیستې او مطبعې ته مې د چاپ لپاره یوړې، چې په مطبعه کې مو عکسونه ځنې واخیستل، نو مې پاڼې بېرته استاد ته وسپارلې. کله چې ما پاڼې بېرته استاد ته سپارلې، نو مې دغه وخت ددې پاڼو په باب ځینې پوښتنې هـم لـه مرحـوم اسـتاده وکړې، چې دغه پوښتنې او ځوابونه او ددغو خطي پاڼو معرفي زمـا پـه هغه مفصله مقاله کې راغلي دي، چې مې د امیر کروړ سوري د دولـس سوه پنځوسم تلین د نړیوال سیمینار په ویاړ پر همدې تذکره کښـلې ده.

د یادونې وړ ده، چې د تذکرة الاولیاء دا مستقله بڼـه پـر (۱۳۷۹ل) کال دویم ځل د علامه حبیبي د څېړنو مرکز له خوا په پېښور کې چاپ شوې ده. له دې چاپ سره د تذکرې د موجود متن، مقدمې او تعلیقاتو انګرېزي ترجمه هم مله ده او مترجم یې ښاغلی خوشال حبیبي دی.

د ((تذکرة الاولیاء)) د خطي پاڼو قطع (۱۲x۱۸) سانتي متره او د هر مخ کرښې یې مختلفې دي. له (۱۵) نه تر (۹) پورې کرښې د تذکرې په بېلابېلو مخونو کې کښل شوي دي. څنګه چې نسخه بشپړه نه ده، نـو ځکه یې د کښنې تاریخ نه معلومېږي. کاغذ یې سـالم او د شـکل لـه مخې زوړ نه ښکاري، خو هغه کسان چې په نسخه پېژندنه کـې مـاهر دي، هغوی وایي چې د کاغذ ظاهري شکل غولوونکی وي. د شکل لـه مخې ډېر سالم کاغذونه زاړه وي، مګر بالمقابل د شکل لـه مخـې زاړه کاغذونه زاړه نه وي.

کله چې ما دا نسخه وکتله، نو کاغذ یې زما سترګې هم وغولولې، لـه مرحوم استاد نه مې ددې نسخې د کاغذ په باب وپوښتل، هغـوی وویـل

چې دا کاغذ غالباً خوقندي دی، چې په کندهار کې يې کوکـانۍ بالــه او ددې نسخې قدامت سړی دوه سوه پنځوس کاله دمخه تخمــين کــولی شي. د کاغذ سياهي او د نسخه پېژندنې د ځانګړنو لــه املــه اســتاد دا نظريه قايمه کړې وه.)) (۵۴: ۱۵۷)

سرمحقق زلمی هېوادمل وايي: (( د خطي پاڼو د محتوياتو پــه بــاب بايد ووايو چې په دې پاڼو کې يوه سريزه او د څلــورو پښــتنو وينــاوالو مشايخو يا د مولف (ماکو) په اند وليانو لږ احــوال او د وينــاوو نمــونې راوړل شوې دي. ددې تذکرې سريزه د مولــف پــه بــاب لــږ معلومــات لوستونکي ته وړاندې کوي او د کتاب د ليکلو هدف هم راښکاره کوي.

ددې کتاب د ليکوال په باب زموږ په ادبي پلټنو کې تر دغو اساسي ځو خبرو چې ده په سريزه کې کړي دي، بالا نور څه نه دي راغلي او نه مو دده په باب نور څه په واک کې دي.)) خــو مخکــې تــر دې چــې د تذکرة الاوليا د ارزښتونو ماهيت او اهميت په باب څه ووايــو، غــواړو د تذکرة الاوليا ځانګړتيا، لرغونتيا او لغوي شننې ته لږ نور هم تم شو.

((تذکرة الاوليا موږ په لومړي ګام کې پر دوو برخو وېشلای شو:

الف - د سليمان ماکو خپله ليکنه چې په نثر ده او د شاعرانو ژونــد ليک په کې راغلی دی.

ب - په تذکره کې د شاعرانو راغلی کلام چې په نظم دی.

**الف - د سليمان ماکو نثر:** په عمومي ډول دسليمان ماکو نثــر خوږ، روان، ساده او له ځانګړي اهنګه ډک دی. په خاصو ځــايونو کــې يې سجع کارولې چې نثر ته يې زياته ښکلا وربښلې ده.

دلته به د سليمان ماکو د نثر څو جملې راوړو او بيا به وروسته دده دنثر پر څرنګوالي بحث وکړو.

((... زه غریب خاورې سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزي چې په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې مزکو پایېږم، په سن دولس شپړ سوه دهجري تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او ددوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ...))

((... نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بیټني کې د ده ورور چې سړبن نومېد، او پرشیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

((... نقل کاوه سي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفر یرغل و، شیخ ملکیار چې غرشین ستانه و هم ملګری و دشهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبی ور وښانده، او هم هوري مړ سو...))

(( ... نقل کاوه سي چې بختیار چې ستر ستانه و، له ده نه څرګند سوي دي، هغه کرامات چې مو وکتل او وویل...))

پورتنیو څو جملو او د سلیمان ماکو نثر ته چې موږ په عمومي ډول نظر کوو، نو له ژبني پلوه د ماکو نثر د دریو ژبو له لغتونو څخه جوړ دی. الف- پښتو، ب- عربي، ج- دري. دګرامري جوړښت له مخې هم د پښتو له اوسنۍ محاورې سره توپیر لري- هـ- ځینې پخوانۍ متروکې کلمې هم لري چې دلته پرې رڼا اچوو:

**الف - دسلیمان دنثر پښتو لغتونه:** که په عمومي ډول د سلیمان ماکو نثر ارزول کېږي، نو دا تر یوه حده په نړه پښتو نثرونو کې حسابېدلای شي، ځکه دپردیو ژبو تاثیرات پرې ډېر کم دي او ان که

اوس هم څوک یو پښتو نثر لیکي، نو د نورو ژبو دومره کلمې به ضــرور په کې کاروي، لکه خپله چې زه دا لیکنه کوم په عادي ډول رانه د نورو ژبو کلمې کارول کېږي، نو د سلیمان ماکو له نثر څخه داسې ښــکاري چې هغه وخت د پردیو ژبو ( عربي او دري) تاثیرات پــر پښــتني ادبــي چاپېریال وو، خو دومره زیات نه وو چې ټول نثر متاثر کــړي. دلتــه بــه دده د نثر سوچه پښتو لغتونو ته اشاره وکړم: (لوی، استازی، روښــان، ویاله، هوسېږم، خاورې، راغه، کلی، پلټــل، لــوری، مونــدل، څښــتن، پاڅېدل، وینا، لولي، شپه، ستانه، کــول، ســندرې، یرغــل، غرشــین، ملګری، ستر، واکمن، بری، مروړل، پاړکی، خرګند، مېشــت) او داســې نور...

د سلیمان ماکو په نثر کې کارول شوي اکثره پښتو لغتونه اوس هم په خپله هماغه پخوانۍ مانا او مفهوم او هماغه شکل کارول کېــږي. د سلیمان ماکو د نثر له پوخوالي څخه داسې ښکاري چې پښتو نثر به تر دې پخوا ښه اوږد مزل کړی وي، چې د سلیمان ماکو د مهــال داســې پخې مرحلې ته رسېدلی دی.

**ب - د سلیمان ماکو په نثر کې عربي لغتونه:** د ســلیمان ماکو په نثر کې یو شمېر عربي لغتونه هم شته، خــو دا اکثــره داســې لغتونه دي چې مذهبي او عقیده یي مفاهیم لېــږدوي، دا ډول لغتونــه اکثره اوس هم دمذهبي اصطلاحاتو په بڼه موجــود دي او ترجمــه یــا اندولونه یې ډېر ممکن نه برېښي.

عربي ژبې د اسلام تر راتګ وروسته په افغانستان کې خپلې اغېزې وښندلې، دا اغېزې لومړی پر پارسي ژبــه او وروســته پــر پښــتو ژبــې

محسوسې شوې، خو د پښتو په انډول يې پـر پارســي ژبــه اوس هــم تاثیرات زیات دي. دلته به څو عربي لغتونو ته اشاره وکړو:

(قدوة الواصلین، مراقد، حمد، برکت، نصیب، صلی الله علیه وسلم، غریب، هجري، اولیا، آل، اما بعد، نقل، عبادت، مبارک، واقــع، قبــول، کفر، شیخ) او ځینې نور...

**ج - د سلیمان ماکو په نثر کې دري لغتونــه:** د ســلیمان ماکو په نثر کې د عربي لغتونو په انډول دري لغتونه ډېر کم دي. خــو د استاد علامه عبدالحی حبیبي په نظر د سلیمان ماکو پر نثر د فارســي ژبې د هغه وخت د نثر څه اغېزې شته، د سلیمان ماکو تر عصر نــږدې دوه سوه کاله دمخه د غزنویانو په عصر کې فارسي نثر ډېــر پرمختــګ کړی و، ډېر روان، ساده او عام فهمه و، لنډې لنډې جملې يې لرلــې او له ابهام او تکلف څخه خالي و. د سلیمان ماکو نثر هم ساده، سلیس او روان دی، جملې يې هم لنډې لنډې دي، ابهام، تصنع او تکلف نه لري. دفارسي نثر دهغه وخت دخوږ لنیو د څه ناڅه اغېزمنی ترڅنــګ یــو شمېر لغتونه هم د سلیمان په نثر کې لیــدل کېــږي، لکــه: (ســپاس، خاکپای، بزرګ، روزګار، مهربان، درخواست) او ځینې نور...

**د - د سلیمان ماکو دنثر ګرامري جوړښت:** ســره لــه دې چې د ماکو په نثر کې زیاتره سوچه پښتو لغات کارېدلي او لیکنی متن يې هم سړي ته ډېر خوند ورکوي، خو دې سره سره يې لیکنی بڼه لــه عامې محاورې او همدارنګه د پښتو ژبې له اوسني ګرامــري جوړښــت سره ډېر اړخ نه لګوي. د نثر دا حالت کېدی شي د دوو عواملو له وجې رامنځته شوی وي: کېدی شي دهغه وخت دپښتو محاورې ژبــه همــدا

شان يادې ته ورته وه، يا هم نثر په دې بڼه ليکل کېده او يا هم دعربي ژبې تاثير پر دري او د دري هغې پر پښتو پرېوتی وي. دماکو د نثـر پـه ځينو جملو کې مبتدا او خبر، فاعل او فعل، مضاف او اليه ســره وړاندې وروسته شوي دي. دا کار دپښتو له اوسني ګرامر جوړښت سره توپير لري، کېدی شي د لرغونې دورې نثر همدا بڼه درلوده. خو بيــاهم د سليمان ماکو نثر، د پير روښــان او دهغــه دپلويــانو او همدارنګــه د اخوند دروېزه او دهغه د پلويانو تر نثر ډېر زيات خــوږ، ســوچه او روان دی؛ تکلف، تصنع او ابهام په کې نه شته. دلته بــه دمــاکو دنثــر څــو ترکيبونه راوړو او بيا به دپښتو ژبې د اوسني ګرامر جوړښت اصله بڼـه هم ورسره وليکو:

| د سليمان ماکو نثر | اوسنی ګرامري جوړښت |
| --- | --- |
| وايـم حـمد و سـپاس د لــوی خـاونــد | دلــوی خـاونــد حــمد و ســپاس وايـــم |
| چې دی بادار د کونينو او رحمت د ثقليـنو | چې د کونينو بادار او د ثقلينو رحمت دی |
| پـــه ويـالـــه د ارغــستان هـو سېـــږم | د ارغـستـــان پــــه ويـالـــه هـو ســېږم |
| مراقــد د اوليـا او واصــلينو مــې پلټــل | د اوليـــا او واصــلينو مراقــد مــې پــلټـل |
| او تـنـاکــې وچـاودلـــې د پـښـــو | او د پـــښو تـنـاکـــې مـــې وچـــاودلې |
| سـرېـــن نـــــه درلـــود زامـــــن | ســـرېـــن زامـــن نـــــه درلـــــودل |
| او هـــر کلـــه بـــه ويـــل خـپل ورور تـــه | او هـر کلــه بــه يــې خـپل ورور تــه ويــل |

او داسې نور ترکيبونه او نورې جملې. دلته موږ د سليمان ماکو پــه نثر کې ګورو چې نثر له عامې محاورې څخه لرې شوی دی. پــه پښــتو کې عامه قاعده همدا ده چې اول فاعل راځي بيا فعل، اول مبتدا وي او بيا خبر، خو د سليمان په نثر کې دا قاعده تر ډېره حده معکوسه ده.

**هـ - دسلمیان ماکو په نثر کې پخواني لغتونه:** د سلیمان ماکوپه نثر کې پر هغو سوچه پښتو کلمو سربېره چې اوس هم په پښتو کې استعمالېږي، ځینې داسې نور پښتو لغتونه هم شته چې یا اوس نه کارېږي او یا هم په لږ شان لفظي تغیر او تحول سره کارېږي، یانې متروکې کلمې په کې شته او متحولې کلمې هم په کې شته. دلته به دې ډول کلمو ته هم اشاره وکړو:

| په تذکرة الاولیا کې کارېدلې بڼه | اوسنۍ بڼه |
|---|---|
| پښتننخا | پښتونخوا |
| مرستون | مرسته غوښتونکی |
| (په پخوانۍ بڼه اوس متروکه ده) | |
| لولولې | ویلې |
| جوبله | (جنګ) پخوانۍ بڼه یې متروکه ده. |
| پپناه | پوه پنا |
| دښنه | دښمن |
| کتهارو | تورې (پخوانۍ بڼه یې اوس متروکه ده) |
| ډېر زښت | ډېر زیات |
| ګڼون | شمېر |
| کول | کورنۍ |

| | |
|---|---|
| بمیا (بومیا) | لاربښود (بمیا کلمه هم اوس متروکه ده) |
| وګروهېد | متعقد شو (دا بڼه هم اوس متروکه ده) |

او ځینې نورې کلمې چې اوس یا متروکې دي او یا یې هم بڼه کې بدلون راغلی دی. په تذکرة الاولیا کې ددغسې مړو او پخوانیو کلمو شتوالی ددې تذکرې لرغونتیا او ځانګړتیا په ګوته کوي.

**ب - په تذکرة الاولیا کې د نظم برخه:** په تذکرة الاولیا کې د نثر په انډول د نظم برخه نوره هم نړه او سوچه پښتو ده. ددې یوه وجه دا ده چې پښتانه شاعران له خپل ولس سره ګډ اوسېدل او ولس هغه وخت معمولاً د غرو په لمنو کې اوسېده. دغرو لمنې په طبیعي ډول د پردیو ژبو له اغېزو څخه لرې او خوندي وې. عربي او دري ژبو اکثره د دربارونو له لارې خپل تاثیرات ښندل، نو هغه شاعران چې له درباره لرې وو، له دې تاثیراتو خوندي وو. دا چې خپله د سلیمان ماکو په نثر کې دعربي او فارسي ژبې تاثیرات شته، ددې وجه داده چې کېدی شي، سلیمان ماکو دعربي او دري ژبو کتابونه لوستي وي او دا تاثیر یې ترې راخپل کړی وي. په تذکرة الاولیا کې ټول (څلور) ټوټې شعرونه راغلي دي. چې لومړی یې د ببټ نیکه مناجات دي، دویم یې د شیخ ملکیار غرشین یو پاړکی دی، درېیم یې د شیخ اسماعیل یو پاړکی او څلورم یې د قطب الدین بختیار یو نظم دی.

د ببټ نیکه په شعر کې یوازې د ( خدایه) کلمه راغلې چې هغه هم له دري سره مشترکه ګڼل کېږي، نور په ټول شعر کې د بلې ژبې کلمه

نه شته. دملكيار غرشين په شعر كې د ( اسـلام) او (غازيـانو) كلمـې راغلي چې ريښه يې عربي ده، نور ټول شعر كې د بلې ژبـې كلمـه نـه شته.

د شيخ اسماعيل په شعر كې يوازې د ( ابليس) او ( لعين) كلمې، چې عربي دي نور د بلې ژبې لغتونه په كې نه شته او د قطب الدين بختيار په شعر كې بيا ګرد سره د بلې ژبې كلمه نه شته، ټول سوچه پښتو لغتونـه دي. له دې پورتنيو څرګندونو دا ښكاره كېږي چې په تذكرة الاوليا كـې راغلي شعرونه ( د قطب الدين بختيار له شعر پرته) چې له ماكو سره هم مهاله ګڼل كېږي، نور شعرونه دماكو ترمهاله پخوا ويل شوي دي. ځكـه نو دې ټولو شعرونو كې د پرديو ژبو تاثيرات له كـومې يـوې دوو كلمـو پرته نه ترسترګو كېږي، زموږ له پورتنيو خبرو څخه دا نتيجـه لاسـته راځي چې په تذكرة الاوليا كې راغلي شعرونه دماكو تر نثـر پخـواني او زيات سوچه دي او اكثره په ملي اوزانو كې دي، په خپله د سليمان نثر هم تر يوه حده سوچه، روان او شفاف ګڼل كېږي او د پښـتو ډېـر زاړه لغات په كې كارېدلي دي.))(۵۸: ۴۲-۵۲)

سرمحقق زلمی هېوادمل بيا ددې كتاب د هدف او سرچينو په باب وايي: ((د كتاب هدف د كاملانو د احوالو او ويناوو ضبط دی او په كتاب كې راوړي معلومات يې له اورېدنو او د پښتنو په هغه وختنۍ ټولنه كې د تشو شفاهي معلوماتو او رواياتو په بنـا كښـلي دي، ځكـه چـې پـه موجوده پاڼو كې كوم كتاب يا بل ليكلي سند ته حواله نـه ده وركـړل شوې. له دې سره دا هم زړه ته لوېږي، چې په تذكره كې راغلي پـاړكي به يې هم د خلكو له خولو ليكلي وي.

د تذكرې په موجودو پاڼو كې د څلورو كسانو، لكـه شـيخ بېټنـي،

شيخ اسمعيل، ملكيار غرشين او قطب الدين بختيار كاكي لړ احوال او د شعرونو بېلګې خوندي شوي دي. دا څلور كسه په تاريخ كې معلــوم خلک دي، تر سليمان وروسته نورو مورخانو هم د دوی احوال کښــلی دی.

كه څه هم سليمان ماكو ددغو كاملانو د ژوند د زمانې په باب څه نه دي ليكلي، له رواياتو او اورېدنو څخه دغه ډول مقصد ترسره کېدی هم نه شي، خو زموږ وروستيو محققانو چې ددې پــاڼو محتويــات تحقيــق كړي دي، د نورو تاريخي ليكنو په مرسته يې ددغو څلورو تنو د ژونــد زمانه هم ټاكلې ده او له خپلو برداشتونو سره سم يې ددغو څلورو تنــو احوال سره بشپړ كړي دي.

دا اثر تر (۶۱۲هـ ق) كال وروسته کښــل شــوی دی او تــر دې نثــر دمخه موږ د پښتو د بل نثر نمونه، نه لرو او ورسره له دې منثورو ټوټــو سره د بل معاصر بېلګې هم له موږ سره نه شته، چې پــه مقايســه يــې ډول يې ارزيابي كــړاى شــو. د تحــول يــا انحطــاط ځركونــه ځينــې ووايستلای او يا يې هم د سبک پر ځانګړتياوو څه خبرې وكړای شو. دا نثر د پښتو نثر ليكنې يو ځانګړی سبک دی، چې د نــورو اســنادو تــر پيداكېدو پورې يې بايد ځانګړتيا ته قايل واوسو.

د همدغو موجودو پاڼو له مخې موږ دا نثر په موضــوعي لحــاظ پــه علمي نثرونو كې مطالعه كولای شو، چې د خپل وخت له شرايطو ســره سم او د هغه وخت د مسلطو فرهنګي جريانونو تر اغېز لانــدې ليكــل شوی دی او په نسبي ډول د مسلطو فرهنګي او ادبي جريانونو اغېــزې پرې ښكاره دي.

په دې نثر كې جملې لنډې، لنډې راغلــي دي، مطلــب پربكــړی او

کوټلی ادا کوي، وضاحت لري او پېچلې نه دي.

په دې منثـورو ټوټـو کـې د پښــتو ځینــې زاړه لغــات، تعــابیر او اصطلاحات شته، لکه: تناکې وچاودلې د پښو، ډېـر زښــت یــې ووژل، وګروهېد، پاړکی، ستر څښتن، ګڼون، دښن، جوبله، کول، ټاټوبی، نړۍ، سوب، خرڅ، مېنه، هسک او نور... ددې زوړ متن زاړه لغات او تراکیــب دي.

د ماکو نثر د ځینو ژبنیو ښېګڼو ترڅنګه ناوړې هم لري، خبر یې پر مبتدا، مضاف پر مضافه الیه او موصوف پر صفت مخکې کړي دي لکــه: وایم حمد و سپاس د لوی خاوند، یا زه غریـب ســلیمان زوی د بــارک خان ماکو سابزی، چې په ویاله د ارغستان هوسېږم... یا خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دونی زامن چې اوس تــر وس تېر سو ګڼون د هغو، یا په غره د کسي... یا په څېر د زمریو...

زموږ اکثر مشران څېړونکي په دې عقیده دي، چې که څــه هــم د سلیمان نثر د جملو به رغښت کې د دري او عربي ژبې اغېزې مني، خو له دې سره سره دا نثر ساده نثر دی، لکه ارواښاد خادم چې ویلي دي: ((سره له دې چې د سلیمان ماکو په نثر کې د عربي رنګ شته، مګر دا رنګ دومره کمزوری دی چې دده کلام یــې د فصــاحت څخــه نــه دی ایستلی، که موږ ورته خلک ملتفت نــه کــړو ممکنــه ده چــې څــوک وربانديې پـوه هــم نــه شــي. ســلیمان اوږدې او پېچیــده جملــې نــه مستعملوي، نو ځکه دده نثر د یوې طبیعي مکالمې او مصاحبې صورت غوره کوي...))

دا نظریه د تذکرة الاولیا د نثر په باب ویل شوې لــومړۍ نظریــه ده، ځکه ارواښاد خادم دا مقاله ددې پاڼو د خپرېدو پر کال لیکلــې ده. تــر

دې نظرېې وروسته چې چا څه ویلي ټولو د الفاظو په تغییر دا خبره تایید کړې ده، چې د عربي او دري د ځینو اغېزو له منلو سره سره دا نثر عمومي مکالمې ته نږدې دی، ساده ګي په کې شته، نه ډېر ګران دی او نه ډېر اسان، بلکې د ساده نثر یوه متوسطه نمونه ګڼل شوې ده.

اما د پښتو نثر د څېړنې په یو کتاب کې راغلي، چې : ((د سلیمان ماکو نثر څه عربي، څه فارسي او څه پښتو دی.)) د سلیمان د نثر په باب دغسې یوه ارزیابي سمه نه ایسي او دا ځکه چې عربي او فارسي کلمات خو نورو لیکوالو هم تر دې زیات په خپلو نثرونو کې اخیستي دي، خو موږ دا نه وایو چې دا نثرونه څه عربي دي، څه فارسي او څه پښتو، بلکې د اخیستنو تناسب په کې څېړو.

د سلیمان په نثر کې د یوې برابرې ساده ګۍ او روانۍ ترڅنګه کله کله د ځینو جملو په پای کې سجع او موازنه هم رعایت شوې ده، لکه: ((په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې زمکو پایېږم.)) یا لکه: ((مراقد د اولیاوو او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل، یا په جوبله کې ملکیار دا پاړکی وویل: چې غازیان وپارېدل... او نور... دغه رنګه د ځینو افعالو په پای کې د ترنم لپاره (نه) هم نښلوي. بختیار سندرې کړینه، پاړکي لرینه او داسې پسې نور...

## د پښتو تذکرة الاولیا ارزښتونه:

د پښتو تذکرة الاولیا دغه څو پاڼې که څه هم کمې ارزښت یې لوړ نه دی، خو په کیفي لحاظ دومره ارزښتمنې ثابتې شوې دي، چې زموږ د ادبیاتو د اوږده زنځیر ځینې ورکې کړۍ یې سره کوشېر کړې. له دغو پاڼو زموږ فرهنګي تاریخ ته دغه لاندې ګټې متصورې دي:

۱- په دې پاڼو کې د پښتو شعر ځینې لرغونې نمونې شته، چې تاریخ یې څلورم هجري قرن ته رسېږي او دا نمونې د لرغونتابه پر اهمیت سربېره د پښتو شعر ځینې لرغوني ډولونه هم په لاس راکوي، چې د پښتو شعر د اوازانو او انواعو په څېړنو کې نه شي هېرېدلای او هم د پښتو شعر په تاریخ کې موږ ددې تذکرې پر همدغو څلورو پاڼو ډېر څه بنا کولای شو.

۲- د پښتو نثر تر ټولو قدیمه مکشوفه نمونه له همدې پاڼو ترلاسه کېږي او سملاسي موږ د خپل نثر تاریخ له همدې پاڼو پیلوو. دا پاڼې په اوومه هجري پېړۍ کې په پښتو کې د نثر لیکنې سبک او ډول راښیي او دا ترې ښکاري چې په هغه وخت کې د پښتو نثر لیکنې عمومي طرز په دې ډول و.

۳- د تذکرې دا پاڼې که څه هم لږې دي، خو د پښتو د یوه زاړه کتاب څو پاڼې دي. تر دې کتاب دمخه موږ ته د پښتو بل کتاب نه دی ترلاسه شوی او په پښتو کې د کتاب لیکنې د سوابقو په پلټنه کې دا پاڼې موږ ته ډېر کاري تمامېږي او دا راښیي چې دا وخت د پښتنو په ځینو حلقو کې د کتاب لیکنې ذوق پیدا شوی و او پښتانه هم دې خبرې ته متوجه شوي او هڅېدلي وو، چې د سیمې د مسلطو فرهنګي جریانونو په بڼه دوی هم په خپله ژبه کې کتابونه ولیکي. دا کتاب د خپل وخت د مسلطو ذهني شرایطو تر اغېز لاندې لیکل شوی دی، دا په دې مانا چې لوستو پښتنو سره دا فکر پیدا شوی و چې په دوی کې د تېرو شویو کاملانو احوال سره راټول کاندي چې نور لوستي پښتانه ترې خبر شي.

۴- ددې کتاب موجودیت دا راښیي چې دا وخت په پښتنو کې

سواد یو څه عام شوی او د لوستو کسانو شمېر هومره و چې د کتاب د لیکلو ضرورت ورته حس کېده.

د ډېرې خواشینۍ ځای دی، چې دا کتاب بشپړ نه دی ترلاسه شوی، که چېرې دا کتاب ټول د خدای(ج) په مرحمت راپیدا شي، نورې ډېرې خبرې به ترې برسېره شي او زموږ د لرغوني ادب او فرهنګ د بشپړتیا په مراتبو کې به ترې ډېره ګټه پورته وشي.)) (۵۴: ۱۶۷-۱۶۹)

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، د پښتو د نثر تاریخ د څېړلو په ترځ کې موږ ته په لومړۍ دوره کې د ځینو نورو داسې کتابونو نومونه مخې ته راځي، چې نثر بلل شوي، خو اوس په لاس کې نه شته، غواړو په لنډیز سره دددې کتابونو یادونه هم وکړو:

## تاریخ سوري:

محمد بن علي البستي لیکلی، دا پښتون مورخ له هغو نومورکو مولفانو څخه دی، چې د مغولو د تاړاک په ابتدا کې ژوندی و، دده له احواله نور هېڅ معلومات نه لرو، پرته له دې چې دی د هلمند د غاړو یو سړی و او د تاریخي بست اوسېدونکی و، د پلار نوم یې (علي) و او ده یو کتاب لیکلی و، چې د سوریانو پاچاهانو احوال یې له پخوا په کې ضبط کړي وو، ((تاریخ سوري)) اوس ورک دی، یوازې د پټې خزانې مولف یې د شیخ کته متي زي د (لرغوني شعراء) په حوالت نوم اخلي او داسې ښکاري چې دا کتاب د شیخ کټه په لاس کې و او په (لرغوني پښتانه) کې یې ډېر مواد له دغه کتابه رانقل کړي وو. د تاریخ سوري یو

څه ابحاث او محتویات موږ ته په دوو واسطو لاسته راغلـي دي، شـيخ کته په (لرغوني پښتانه) کې ځنــې رانقـل کـړي دي او لــه (لرغـوني پښتانه) څخه د پټې خزانې مولف (محمد هوتک) په خپل کتاب کې را اخیستي دي او هغه مواد او پاتې اثار دادي:

۱- د امیر کروړ احوال او دده یو پخوانی حماسي شعر او ویاړنه.

۲- د اسعد سوري احوال او دده قصیده.

۳- د ښکارندوی احوال او دده قصیده.

له دغو پاتې اثارو څخه ښکاري چې محمد بن علــي د پښــتنو پــه تاریخ او ادب کې ښه او ثقه معلومات درلودل او لکه (لرغوني پښــتانه) چې له ده څخه روایت کوي، دی ادیب او پلټونکی سړی و او په بســت کې یې د ښکارندوی د قصایدو یو غټ دېوان موندلی او له هغــه څخــه یې دده یو غرا قصیده په خپل (تاریخ سوري) کې رانقل کړې ده.

داسې ښکاري چې د محمد بن علي (تــاریخ ســوري) مشــهور و او شیخ کته هم دا کتاب د غور په بالشتان (والشتان) کې موندلی و او تر دغه عصره د (۷۵۰هــ) حدود لا دا کتاب موجود و، ځکه چې بستي بــه تر (۷۰۰هــ) دمخه ژوند کاوه او باید دده د ژوندانه وخت د اټکل په ډول له (۵۸۰هــ تر ۶۵۰ هــ) پورې وټاکو، ځکه چې د ښکارندوی عصر هم د (۵۸۰هــ) حدود دي اوددې شاعر احوال او شعرونه ده په تاریخ سوري کې ضبط کړي وو.

د تاریخ سوري په خصوص کې د پټې خزانې له لیکنو څخه دومــره ښکاري، چې یو په پښتو لیکل شوی تــاریخ و او د ســوریانو د کــورنۍ احوال یې له پخوا بیاناول، یوازې د حربي او سیاسي پېښو تاریخ نــه و، بلکې ادبي رنګ یې هم درلود او (بستي) ډېر باخبره او سترګور مــورخ

و، ځکه چې ده د پاچاهانو احوال او حربي او سياسي وقايع رانقل کړي او هم يې د دوی د کلام نمونې راوړې وې او هغه قصيدې يې په خپل کتاب کې ساتلې وې، چې د غوري پاچاهانو په دربارونو کې په پښتو ويل کېدې، له دې څخه ښکاري چې (تاريخ سوري) د سوريانو او غوريانو د عصر يو ادبي، سياسي او حربي تاريخ و، که څه هم ددغه تاريخ نسخه اوس نه شته، خو د پټې خزانې له يادونو څخه يې اهميت ښه ښکاري او دا د پښتو ژبې يو خورا قيمتي کتاب و.

دا خبره هم بايد هېره نه کړو چې راوړتي مستشرق د احمدشاه بابا تر عصر وروسته يو تاريخ موندلی و، چې نوم يې (تذکرة الملوک) و، ددې کتاب په ماخذونو کې يو کتاب (تاريخ سلاطين سوريه) هم دی، خو دا نه شو ويلای چې دغه (تاريخ سلاطين سوريه) همغه د محمد بن علي تاريخ وي که بل؟

## اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي:

احمد لودي ليکلی دی. احمد د سعيد زوی او د لوديانو له ليکوالو، اديبانو او مورخانو څخه دی، چې د اوومې هجري پېړۍ په منځ کې ژوندی و، محمد هوتک ليکي، چې: ((کامران خان سدوزي پر (۱۰۳۸هـ) يو کتاب د (کليد کامراني) په نامه وکېښ او په دغه کتاب کې يې د احمد لودي له کتابه د ملتان د لودي پاچاهانو احوال نقل کړ.))

شيخ احمد د سعيد لودي زوی پر (۶۸۶هـ) يو کتاب کښلی و چې نوم يې (اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي) و، هغه وخت چې کامران خان (کليد کامراني) ليکه، دغه کتاب يې هم په لاس کې و او د پښتنو

لودي پاچاهانو احوال او اشعار يــې لــه دې كتابــه نقــل كــړل، چــې د پټې خزانې مولف هم له كليد كامراني څخه په خپله خزانه كې وساتل.

داسې ښكاري چې احمد لودي په خپل كتاب كې ددغــو لوديــانو د پاچاهي كورنۍ احوال ليكلي وو او د دوى پښتو شعرونه يې هــم راوړي وو، په شرقي مورخانو كې (محمد قاسم فرشته) هــم د شــيخ حميــد كورنۍ لوديان پښتانه بولي او له سلطان محمود ســره د دوى جګــړې ليكي.

څرنګه چې محمد قاسم په خپل كتاب كــې خپــل ماخــذ نــه دى ښودلى، نو دا نه وه معلومه چې ددې كورنۍ پښتونوالى په كوم تاريخي سند ثابت دى؟ لكه چې ددې عصر ځينو مورخانو د شــيخ حميــد لــه پښتونګلوۍ څخه انكار كړى او وايي چــې دغــه كــورنۍ د (جلــم بــن شيبان) عربي نژاد واكمن له نسله ده، چــې تــر (۳۴۰هـــ) وروســته د ملتان لومړى قرمطي پاچا و، خو د پټې خزانې مولف د (كليد كــامراني) په ذريعه ددې كورنۍ پښتو شعرونه له اخبار اللودي څخــه راوړي دي، چې دا كتاب ددغې كورنۍ په تاريخ كې يــو ټينــګ او زوړ ســند ګڼــل كېږي. بې له دې انتخابه چې په لوړ ډول له (اخبار اللودي) څخه موږ ته رارسېدلى دى، ددې كتاب پته نه شته او نه يې نسخه تــر اوســه پيــدا شوې ده، خو د پټې خزانې له ذكره څخه دومره نتيجه اخيستلاى شــو چې تر (۶۰۰هـ) راوروسته چې د پښتو د نثر ليكلو كومه سلسله شروع شوې وه، هغه ددغه قرن تر اخره پورې هم جاري وه او احمد لودي هم د پښتو له دغو پخوانيو ليكوالو څخه دى چې كتاب يې د كامران خــان سدوزي تر عصره په يوولسمه هجري پېړۍ كې لا هم موجود و.

## لرغوني پښتانه:

شیخ کته لیکلی دی. دا مدقق مورخ او د پښتو ژبې لوی لیکوال د مرحوم شیخ متي له علمي او ادبي کورنۍ څخه دی، چې د شیخ یوسف زوی او د شیخ متي لمسی و. شیخ متي (کلات بابا) خپلې کورنۍ ته علم، تقوا، عرفان او ادب په ارث پرېښوول او ډېر علماء، مورخان او عارفان په کې پیدا شول، چې د شیخ یوسف تر مړینې وروسته له ده څخه اوه زامن پاتې شول او شیخ کته په دوی کې ډېر مشهور و. د شیخ مور بي بي (مراد بخته) نومېده چې په خته (زمنده) وه.

دې نوموړي عالم د پښتنو د رجالو او مشاهیرو په تاریخ کې یو نفیس کتاب وکېښ چې نوم یې (لرغوني پښتانه) و، دا کتاب پښتو و او د پټې خزانې مولف (محمد هوتک) ډېر ځله دا کتاب یادوي او داسې ښکاری چې ددغه مورخ یواځینی مهم ماخذ همدغه و او د پټې خزانې د لیکلو پر وخت یې په لاس کې و.

د شیخ کته د ژوندانه وخت یقیناً نه دی معلوم، خو د پټې خزانې په روایت دده نیکه (شیخ متي) پر (۶۸۸هـ) وفات شوی دی، ځکه چې د مورخانو په اتفاق یوه پېړۍ د دریو پښتونو لپاره مقرره ده، نو باید د شیخ کته د ژوندانه وخت هم د (۷۵۰هـ) شاوخوا وګڼل شي. د شیخ کته اولاد که څه هم د پېښور په شمالي برخو کې پراته وو، خو داسې ښکاري چې په خپله دی سیاح سړی و، ځکه محمد هوتک په ښکاره لیکي چې شیخ کته د محمد بن علي البستي کتاب (تاریخ سوري) په بالشتان کې لیدلی و. بالشتان یا والشتان خو د غور مشهور ښار و، چې

پر (۱۳۹هـ)کال امیر پولاد سوري نیولی و او د بیهقي په ضـبط (گـورو الشت) او د منهاج سراج د طبقات ناصري په یـوه نسـخه کـې (غـور والشت) راغلی دی او دا ښار د تکینا باد (د هلمند او کندهار حدود) او د غور د منديش ترمنځ پروت و او د سیستان په تاریخ کـې (واسـتان) ضبط شوی دی.

نو چې شیخ کته (والستان) ته راغلی و او د غور دغه ښار یې لیدلی و، ښکارېږي چې د پښتونخوا غربي او جنوبي خواوې به یې هم کتلـي وي او هم له دغه جهته به دده معلومات د پښتنو د تاریخي رجـالو پـر احوال ډېر شوي وي.

د شیخ کته نفیس تاریخي کتاب (لرغوني پښتانه) چې له نامه څخه یې هم د کتاب اهمیت ښه ښکاري اوس نه شته، لکه چې ومو ویـل دا کتاب له محمد هوتک سره و او د پټې خزانې غوره ادبي برخـه لـه دې کتابه اقتباس دی او محمد دا هم لیکي چې د شیخ کته یو مهم تاریخي ماخذ (تاریخ سوري) و چې دمخه یې ذکر وشو.

د شیخ کته د اولاد په باب خواجه نعمت الله هروي مفصلاً معلومات راکوي چې ده اته زامن درلودل، د زلو مغدورزی له نسه: سلطان، ثابت، حاجي سلیمان ممي، له دویمې مېرمنې څخه چې هغه هم زلو نومېـده په ختېه اکازی یوسفزی وه: ابراهیم، ملک پاجي وو. هغه مقتبسات چې د پټې خزانې مولف له (لرغوني پښتانه) څخه کړي دي، داسې ښـکاره کوي چې (لرغوني پښتانه) د ادبي، سیاسي او نورو نومورو پښـتنو یـو عمومي تذکره وه. د پاچاهانو، پوهـانو، شـاعرانو او جنگیـالیو خلکـو احوال او شعرونه په کې ثبت شوي وو او دا کتاب چې د پښتو د نثـر او نظم یوه غوره ذخیره وه، پـه خواشـینی سـره چـې اوس ورک دی او

نسخه يې چا نه ده ليدلې، خو پر (۱۱۴۲هـ) لا محمد هوتک سره و.

له (لرغوني پښتانه) څخه د پټې خزانې په ذريعه دغه مغتنم مواد موږ ته پاتې دي:

۱- د امير کروړ احوال او شعرونه، چې شيخ کته هم له تاريخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

۲- د شيخ اسعد احوال او شعرونه، چې شيخ کته هم له تاريخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

۳- د ښکارندوی احوال او شعرونه، چې شيخ کته هم له تاريخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

۴- د هاشم سرواڼي بستي احوال او شعرونه.

شيخ کته متي زی غورياخېل د پښتنو يو عارف او زاهد مورخ او نثرليکونکی مشهور سړی دی، چې د ادبياتو په تاريخ کې به تل ده نوم ژوندی وي. که څه هم د يوه ليکوال او مولف په ډول دی موږ له پټې خزانې څخه پېژنو، خو د يوه مشهور عارف او ملي سړي په ډول دمخه نعمت الله هروي هم دی په خپل مخزن کې معرفي کړی دی.

## د شيخ ملي دفتر:

اخوند درويزه (۹۴۰-۱۰۲۸هـ ق) په (تذکرة الابرار والاشرار) کې د شيخ ملي د وېش يادونه کړې ده. شيخ ميرداد خليل په (تاريخ افاغنه) کې د شيخ ملي د دفتر يادونه کړې ده او دا خبره بيا (پير معظم شاه) د ياد شوي تاريخ افاغنه په لنډيز (تواريخ حافظ رحمت خاني) کې داسې راوړې ده: ((گويند چې شيخ ملی نهايت متدين، متقی، قايم الليل صايم الدهر سړی و. هر چېرته به چې ته خدمتگار به کوزه د اوداسه

يې ورسره ګرځوله او دی ماتحت د ملک احمد مقتدا د درست مندړ و. دی د هرې چارې د هر مهم غمخور و، همګی کلي، ملکونه تپه په تپــه، کور په کور دده په دفتر ختلي وو او ده وېشلی وو...))

سربېره پردې، خوشال خټک (۱۰۲۲- ۱۱۰۰ هــ ق) هــم ددې دفتــر یادونه په دې ډول کړې ده:

په سوات کې دي دوه څیزه که خفي دي که جلي
مــخزن د درو یــزه دی یــا دفتــر د شیــخ مـــــلي

نورو منابعو کې هم ددغه دفتر د موجودیت یادونې شوي دي، خــو انګرېز ختیځ پوه (هانري جارج راورټي) (۱۸۲۵- ۱۹۰۶) یادونې د پام وړ دي. ده د خپل لیکلي پښتو ګرامر په سریزه کې لــه نثــر لیکونکیــو د شیخ ملي نوم د پخواني لیکوال په توګه یاد کړی دی او دده د لیکلــي تاریخ یادونه یې کړې ده. نوموړي د خپلې پښتو ډکشنرۍ د سریزې په (۱۷) مخ کې هم ددې دفتر یادونه کړې ده.

ځینو نورو ختیځپوهانو هم د راورټي د همدې یادونې پر اساس پــر دې کتاب خبرې کړې دي، لکه جیمز ډارمسټېټر (۱۸۴۹- ۱۸۹۴) چې د ((پښتونخوا د شعر هار و بهار)) کې د شیخ ملي د کتاب په باب کښلي دي: ((داسې مشهوره ده چې لومړی کتاب چې په پښتو کښــل شــوی دی او ددې سوبمن ټبر د ببلو ببلو پښو ترمنځ د سوات سیمه وېشــله شوې ده)) ددې کتاب لیکوال د (شیخ ملــي) پــه نامــه بــولي چــې د یوسفزو مشر و. مشهوره ده چې په دې کتاب کــې داســې دودونــه او رواجونه مشروع ښوول شوي وو چې له اسلامي شرعې سره برابــر نــه دي، لکه نجلۍ ته د هغې له خوښې پرتــه مېــړه کــول، لــه بلــې خــوا مشهوره ده چې د سوات خلک د اسلام دین ته په غاړه ایښــودلو کــې

ډېر ټینګ دي، له همدې کبله خوشال خان خټک لـه یـوې خـوا لـه شرعې نه بې لارې او له بله پلوه په دین کې زیات تعصب دواړه د خپـل دې بیت په لاندې بڼه کې د کنایې په جامه کې غندي:

په سوات کې دي دوه کفره یو خفي دی بل جلي
یــو مــخزن د درو یــزه دی بــل دفــتر د شیخ مــلي

د خوشال بابا د لوړ بیت ددې بڼې په لومړۍ مسرۍ کې د ((کفـر)) کلمه په نورو ضبطونو کې ((څیزه)) او ((کاره)) راغلي دي.

د شیخ ملي د دفتر د لیکلو کال په افغاني منابعو کې (۸۲۰ هـــ ق) کال ښودل شوی دی، اما پروفیسور محمد نواز خـان طـایر د (تـواریخ حافظ رحمت خاني) په سریزه کې دا کال (۹۳۰هـ ق) شـاوخوا اټکـل کړی دی.

ددغو لوړو یادو شویو اسنادو او خارجي منابعو د یادونې لـه مخـې د شیخ ملي دفتر وجود ثابت دی، څنګه چې دا دفتر اوس نه شته، نو ځکه تر دې زیات پرې څه نه شي ویل کېدی.)) (۵۴: ۱۴۹-۱۷۱)

## د کجوخان تاریخ:

مارګن ستیرن مستشرق لیکي چې راوړتې د پښتو ډکشنرۍ په مقدمه کې کښلي دي، چې له ده سره د (خان کجو رانیزي) یو پښتو تاریخ شته چې په هغه کې د پښتنو تاریخي حوادث او وقایع لیکلي دي.

ددې تاریخي کتـاب د لیکنـې وخـت راوړتـې (۱۴۹۴م - ۹۰۰هــــ) ښوولی دی، خو داسې ښکاري چې خان کجو د شیخ ملـې تـر عصـر وروسته د پښتنو مشر و، تراوسه ددې کتاب په باب نور څه معلومات نه

لرو، خو دومره ویلای شو چې په سوات او اطرافو کې له یوسفزو څخه یو قوم تر اوسه (رانیزي) پراته دي. د حیات خان په قول تر اوسه له دغو یوسفزو څخه درې کورنۍ مشهورې وې، چې یوه له دغو دریو څخه (ازي خېل) دي، چې ازي د علي زوی او علي بن رانۍ بن اکو بن یوسف دی. د ازي خېلو دغه مشهوره کورنۍ (کجو کور) بولي چې پخوا د دوی نفوذ او واک خورا ارت و، خو اوس په پاسني سوات کې شپږ زره کوره په دوی پورې اړه لري، چې د (۱۲۸۰هـ) په شاوخوا کې ددغې کورنۍ مشر (صحبت خان) نومېده او بل ځای حیات خان وايي، چې خان کجو د شېرشاه معاصر و، چې دغه خبره هم سمه ښکاري، نو دغه مشهور کاجو یا کجو خان د پښتنو یو خورا نومیالی مشر و، لکه چې شیخ ملي د علم څښتن و او دده یو تاریخي کتاب راورټي لیدلی او موندلی و، په خواشینۍ سره چې اوس ورک دی او ښايي چې د برېتانیا په موزیمونو کې پیداشي، ځکه چې د راورټي ټول کړي کتابونه تر ده وروسته نه دي ضایع شوي او اکثر د لندن په موزیمونو کې خوندي دي. وايي چې خان کجو په خپل عصر کې تر ټولو لوی او مقتدر او غښتلی ملک و او هغه جنګ چې په شیخ تپور (زاړه نوښار) کې واقع شوی و، خان کجو یې قاید و او په پښتنو کې تر شیخ ملي او شیخ احمد وروسته خان کجو ډېر شهرت پیداکړی و.

که څه هم د خان کجو کتاب موږ نه دی لیدلی، خو دومره ویلای شو چې دا کتاب به د شیخ ملي د (دفتر) په ډول یو تاریخي او قانوني کتاب و، چې د خان کجو له خوا د (دفتر) د تکمیل لپاره لیکل شوی او د پښتو ژبې یو تاریخي او قانوني منثور اثر دی.

خان کجو د ټولو خښي، محمدزیو، اتمان خېلو، ګدون او ترکلاڼو

قبایلو مشر و او د شیخ تپور په جنګ کې یو لک زلمي له دغـو قبیلـو څخه پر (۹۵۷هـ) حاضر کړي وو او تر دې دمخه پر (۹۲۳هـ) کال دوی باجوړ او د یوسفزو اوسنۍ سیمه ټوله نیولې وه او دلازاک یې لـه دغـو سیمو څخه ایستلي او د شیخ ملي قوانین یې د ځمکو پـه وېـش کـې جاري کړي وو.

د خان کجو قبر تراوسه هم د سوابۍ او مردان ترمنځ پر یـوه لویـه غونډۍ چې په (سرمیره) کې پرته ده او (کجو غونډۍ) یې بولي له (شاه منصور) څخه شپږ میله لرې واقع ده او خلک یې اوس (ګجوخان) بابـا یا (ګجوان) تلفظ کوي او دا د یوسفزو د سیمې ډېر مشهور زیارت ګڼل کېږي. وایي چې د ګجوخان کورنۍ د (بېزاد خېلو) لـه فرعـي قبیلـې څخه وه او دده اولاد تراوسه هم په (کلابټ) کې شته او د پلار نوم یـې (قره خان) و.

د ګجوخان یا کجوخان پر وخت چې کوم جنګونه د پښتنو قبایلو په منځ کې شوي دي، دا ښکاره کوي چې د شـیخ ملـي د سـوله ییـز تحریک، روغې او سمې غـړ غلـی شـوی او د یوسـفزو او دلازاکـو او غوریاخېلو ترمنځ د روغې او مینې پر ځای جګړې لویدلې وې.

دلته نو موږ د شیخ ملي موثر او مصلح شخصیت، د خان کجـو لـه یوازې حربي او خاني شخصیت څخه بېلولای شو.

د پورته یادو شویو اثارو ترڅنګ مورخانو د شیخ قاسـم د (تـذکرة الاولیا) یادونه هم کړې ده. چې په دې اثر کې هم د صوفیانو او اولیـاوو احوال ثبت شوي، خو په خواشینۍ سره چې ددې اثر متن هم تراوسـه نه دی ترلاسه شوی.

# د شپږم څېرکي لنډيز

د لاسته راغلو اثارو له مخې په لرغونې ادبي دوره کې نظم تــر نثــر پخوانی دی. نه یوازې په پښتو، بلکې د نړۍ په اکثرو ژبو کې همدا حال دی چې د منظومو ادبي اثارو لرغونوالی يې تر نثـري اثــارو زيــات دی، ددې علت دادی چې نظم په حافظه کې پاتې کېږي، سينه په ســينه او خوله په خوله له يوه پښت څخه بل ته لېږدول کېږي. د پښتو منظــوم اثر نمونه (۱۳۹هــ) او د نثر بېلګه يې تر (۶۱۲هــ) کال پورې رسي.

پښتو کې د دوو ډولو نثري اثارو يادونه شوې ده، يو هغــه اثــار دي چې يوازې نومونه يې د نورو اثارو په مرسته تر موږه رارسېدلي، خو پــه خپله د اثارو بېلګه او متن يې په لاس کې نه شته، لکه (د سالو وږمــه) چې تر (تذکرة الاوليا) دمخه ليکل شوې، خو اوس يې مــتن زمــوږ پــه لاس کې نه شته. بل هغه ډول اثار دي چې د هغو يو څــه بېلګــې هــم ترلاسه شوي لکه د سليمان ماکو تــذکرة الاوليــا. تــر تــذکرة الاوليــا وروسته هم د ځينو نثري اثارو يادونه شــوې، لکــه د محمــد البســتي (تاريخ سوري)، د احمد بن سعد لــودي (اعــلام اللــوذعي فــی اخبــار اللودي)، د شيخ کټه (لرغوني پښتانه)، د شيخ ملي (دفتــر) او ځينــې نور چې متنونه يې لاسته نه دي راغلي، خو د همدې اثارو په برکــت د پښتو ادب د لرغونې دورې يو شمېر منظوم اثار او د شاعرانو احوال تــر موږه رارسېدلي دي. خو د نثر بېلګه چې يو څه متن يې پــه لاس کــې شته هغه د سليمان ماکو تذکره ده.

د سلیمان ماکو تذکره پر دوو برخو مشـــتمله ده؛ د لیکـــوال خپلــه وینا چې په نثر ده او په اثر کې د معرفي شویو شاعرانو د کلام بېلګــې چې په نظم دي. دواړه بېلګې یې د لرغوني دورې خپل رنـــګ او خپــل خپل خوند لري. د سلیمان ماکو نثر کې پر پښتو کلمو ســربېره چــې د متن اصلي او اساسي برخه جوړوي، دري او عربي کلمې هــم کارېــدلې دي. دا نثر له اوسنۍ عادي محاورې سره همغاړې نه دی، خــو کېــدی شي د خپل وخت ورځنۍ محاورې ته نږدې وي. ګرامري جوړښت یې د پښتو له اوسني ګرامري جوړښت سره څه ناڅــه تــوپیر لــري، ځینــې داسې متروکې کلمې هم په کې کارېدلې چې اوس په پښتو محــاوره او یا هم لیکنۍ ژبه کې نه کارول کېږي.

د سلیمان ماکو تذکره موږ په دې باوري کوي چې دغــه مهــال پــه پښتنو کې ددغسې اثارو د لیکلو ذوق پیدا شوی و او له پښتنو علماوو څخه ځینو یې غوښتل چې ددې ژبــې د شــاعرانو وینــاوې او اصــول راټول کړي.

پښتو ادبپوهان د تذکرة الاولیا اهمیت او ارزښت ته پــه کتــو ســره وایي:

۱) په دغو لاس ته راغلو پاڼو کې د پښتو ډېــر زاړه اشــعار خونــدي شوي دي، که چېرې دغه پاڼې نه وای ترلاسه شوې، نو به موږ له دغــو اشعارو ناخبره وو.

۲) په دې پاڼو کې د پښتو د څلورو تنــو پخوانیــو وینــاوالو: شــیخ بېټني، شیخ اسماعیل، ملکیار غرشین او قطب الــدین بختیــار کــاکي اشعار او لږ احوال خوندي دي.

۳) د همدې پاڼو له لارې تر ټولو لرغونې لاس ته راغلی پښتو نثر تر

موږه رارسي او هم د اوومې پېړۍ په لومړيو وختونو کې د پښتو يو تکړه ليکوال او مورخ موږ ته راپېژني چې هغه خپلــه ددې تــذکرې ليکــوال سليمان ماکو سابزی دی.

۴) په اوومه هجري پېړۍ کې د پښتو تذکرة الاوليا ليکل موږ په دې باوري کوي، چې دغه مهال په پښتنو کې ددغسې اثارو د ليکلــو ذوق پيدا شوی و او له پښتنو علماوو څخه ځينو يې غوښتل چې ددې ژبــې د شاعرانو ويناوې او احوال راټول کړي.

د پښتو ژبې پخواني ليکوال سليمان ماکو د خپل اسلامي او دينــي ذهنيت او د هغه زمان د مسلطو فکري او فرهنګي جريانونو تــر اغېــز لاندې د هغو پښتنو اولياوو احوال راټول کړي، چې دده پــه قــول يــې ويناوې (اشعار) پربښې دي.

# د شپږم څپرکي پوښتنې

- د هغو منثورو اثارو نومونه واخلئ چې د نورو اثارو له مخې یې نومونه تر موږ رارسېدلي خو متنونه یې نه دي ترلاسه شوي.
- د پښتو د نثر تاریخ کومې پېړۍ ته رسي؟
- په تذکرة الاولیا کې د پخوانیو نثرونو بېلګې ولې نه شته؟
- تذکرة الاولیا چا لیکلی، ارزښت او اهمیت یې په ګوته کړئ؟
- په تذکرة الاولیا کې کوم شاعران معرفي شوي دي؟
- د تذکرة الاولیا د ګرامري جوړښت سکښت وشنئ!
- د پښتو د لاسته راغلي نظم او نثر د بېلګو ترمنځ څومره واټن موجود دی، علت یې څه دی؟
- د نړۍ په اکثرو ژبو کې ولې د نظم بېلګې تر نثر پخوانۍ دي؟
- د سلیمان ماکو پر تذکرة الاولیا د کومو ژبو لغوي اغېز ښکاري؟
- د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا پر څو غټو برخو وېشلای شو؟

# اووم څپرکی

## د لرغونې دورې د ادبیاتو لغوي شننه

په پښتو لرغونې شاعرۍ او ادبیاتو کې ځینې داسې لغتونه کارول شوي، چې اوس یا نه استعمالېږي یا په هغه مانا نه کارول کېږي او یا په لږ تغیر سره کارول کېږي، د ژبې تحول تاریخ دا په ډاګه کوي چې په هره ژبه کې دا ډول ادلون بدلون یو طبیعي بهیر دی او په ژبو کې دا ډول بدلون پېښېږي، په پښتو لرغونې شاعرۍ او په مجموعي ډول په ټوله ژبه کې دا ډول تغیرات یو طبیعي حالت دی. یاده دوره کې د امیر کروړ په شعر، د ابو هاشم سرواني په ژباړه، د شیخ اسمعیل او خرښبون په نارو، د شیخ رضی لودي او نصر لودي په پاړکو، د سلطان بهلول او خلیل خان نیازي په څلوریزو، د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصیدو، د شیخ متي، بابا هوتک، ملکیار غرشین په شعرونو، د زرغونې کاکړ په حکایت، د شیخ تیمن، شیخ عیسی مشواڼي او په مجموعي ډول د لرغونې دورې د ټولو شاعرانو په کلام کې ځینې

داسې کلمې کارېدلي چې زړه ریښه لــري، ســوچه پښــتو کلمــې دي، هغوی هم کارولي او اوس هم کارېږي او یو کم شمېر یې بیا داســې دي چې هغوی کارولي خو اوس د ژبې د کاروني له دورانه غورځېــدلي دي. یانې متروکي شوي دي. که څه هم موږ د هر شاعر د کــلام پــه لغــوي شننه کې ورته نغوته کړې، خو دلته غواړو د موضوع د لا روښانتیا لپاره دې دواړو ډولونو ته یو ځل بیا نغوته وکړو او ددې کلمو یو عمومي جاج واخلو.

دلته لومړی متروکو کلمو ته نغوته کوو او بیا هغو کلمو ته چې پخــوا کارول شوي او اوس هم کارېدونکې دي.

# متروکې کلمې

متروکې کلمې په ژبه کې هغو کلمو ته ویل کېږي چې پخوا پــه ژبــه کې کارېدلې دي، خو اوس په ژبه کې نه کارېږي، یا پرېښودل شوي وي او د استعمال له دورانه غورځېدلي وي، ځای یې نورو کلمو نیــولی وي او یا هم په کې زیات شکلي بدلون راغلی وي. په پښتو لرغونو ادبیــاتو کې هم دا ډول کلمې شته چې دلته به یــې د ځینــو یادونــه وکــړو. دا کلمې د بېلابېلو شاعرانو په کلام کې راغلې دي.

- د امیر کروړ په ویاړنه کې. من ( زړه، اراده) (غشی د من مــې ځــي برېښنا پر میرخمنو باندې). په دې مانا چې د زړه، ارادې، عــزم او هوډ غشی مې پر دښمنو باندې لګي.
- میرخمن: دښمن
- ژوبله: جنګ
- اودوم: چاره، علاج
- خول: تاج
- دښن: دښمن: (ډاري دښن راڅخه)
- زړن: زړور: (رپي زړن راڅخه)
- مخسور: بری، سرخرویي
- بامم: تربیه کوم: (دوی په ډاډینه ښه بامم.)

د هاشم ابن زيد سرواني په شعر کې بيا (خړو) ( بدۍ) پــه مانــا دی چې اوس متروکه ده او همدارنګه (سوښي) د (دروغو) مانــا لــري چـــې اوس په دې بڼه په ژبه کې نه کارول کېږي.

د شيخ رضی لودي په پاړکي کې بيا( کوراوه) کلمه چې د (باطلولو) مانا لري، اوس متروکه ده، رغا (بېزاری) چې اوس په دې مانا نه کارېږي، (ورځ لوی) د (قيامت ورځې) په مانا اوس په دې بڼه نه شته، خو (لويــه ورځ) اوس هم د قيامت په مانا په ولس کې کارېږي.

د نصر لودي په شعر کې بيا (دښن) د (دښمن) په مانا او (تــوراوه) د تورپورې کولو يا تهمت تړلو په مانا راغلي چې اوس په ژبه کـــې پــه دې بڼه نه کارېږي.

د اسمعيل په شعر کې (کتاره) کلمه چې (د تورې) مانا ورکوي اوس متروکه ده، په بل شعر کې يې بيا (کرغه) چې (توره او وچه ځمکه) مانا لري، اوس متروکه ده، او همدارنګه (برغې) کلمه چې د (ګټې، مقصد او نفعې) مانا لري، اوس نه کارول کېږي، (يانه) د (سفر) په مانا او (څوری) د (سفرخرڅ) په مانا د خرښبون په شعر کې متروکې کلمې دي. (سخ) چې د (خوښي او نېک فال) مانا ښندي، هم اوس په ژبه کې نه کارېږي.

د شيخ اسعد سوري په شعر کې: (زمولوي)، (مړاوي کول) اوس ډېره نه کارول کېږي.

- اوکوبه (شان او شوکت، دبدبه) (له اکوبه يې ډاري تېروجبار) يانې له شان شوکت او دبدبې څخه ډېر زورور هم ډارېږي.

- تېرو (تېری) ژوبلورو (جنګي ،سپاهي)، ويرژلو (غمجن)، ژړاژړ (شور و فرياد)، ورټ ورټ (د ژړا حال)، شنار (ظلم) تــرار (مضــطرب)،

نمنځۍ چار (زاهد او عابد)، سما(سم، اصلاح، عدالت)، بېړۍ (زولانــه)، ځوار (صبر) تور نمري (تورکالي)، لي (لولي)، زرغا (شینوالی)، سوړار یا سوراړ (وچه او توده دښته) او ځینې نورې داسې کلمې دي چــې اوس په ژبه کې نه کارول کېږي او یا هم په لږ و ډېر تغیر کارول کېږي، یــانې دا چې پخواني شکلونه یې اوس متروک شوي دي.

- د شیخ تیمنن په شعر کې بیا (نول) د (پرېشانۍ) په مانــا اوس معمول نه دی.

د ښکارندوی غوري په قصیده کې بیا اشلکونه ( د شعرونو پــه مانا کارول شوي) خو اوس په دې مانا نه کــارول کېــږي او د ژبــې لــه دورانه غورځېدلي دي.

- ایلایي: ښکارندوی د (طاعت او تابعیت) په مانا کــارولې، خــو اوس په دې بڼه نه کارول کېږي. البته (ایل) کولو یا حصارولو مصدر یــا ریښه اوس هم په ژبه کې شته، (ښل یې کړه ایل یې کړه)، د انګرېــزي ښکېلاک یو سیاسي فورمول هم و، چې پښتو کې یې مانا په دې شکل راوړې ده.

- ایږ یا ایږونه: د (بېړۍ یا کښتۍ) په مانا راوړې چې اوس په ژبه کې نه کارېږي.

- بربڼ: د (پورته باغ) په مانا اوس ډېره معمول نــه ده، خــو کــه پورته یا کښته دوه باغونه وي، لر یا بر باغ یا لر او بر بڼ لــه اســتعماله لرې نه برېښي، (لر) او (بر) او همدا راز (بڼ) کلمې اوس هم په جلا جلا ډول په ورځنۍ محاوره کې کارېږي.

- خونولیه (نثارول)، اورو (وریځ) اوس نه کارول کېږي.

- **بریځر: چې د (غرمې) په مفهوم راغلی، هم اوس نــه کــارول کېږي.**
- **برمل: د ماسپښین مانا لري، خو اوس یې کارونه نه شته.**
- **بودتون: د بتانو ځای چې اوس یــې ځــای پارســي بتکــدې نیولی، د تون له روستاړي سره اوس نورې ګڼې کلمې نښــلول شــوي، لکه پوهنتون، روغتون، روزنتون ، بډ (سیال) مانا ښندي دغــه راز پــه ټولیز ډول د لرغونو دورې د شاعرانو په شعرونو کې ، ترمــل (ماښــام)، ترپلل (تښتېدل)، ټیکاونه (راحــت، ارام)، ټیکنــه (عــدالت، انصــاف)، جنډي (ګلونه)، جاندم (دوزخ)، جاجي (فکر کوي)، چنــډي (شــاعر)، چوڼي (بلبل)، څورنګ (ټپي)، ځری (استازی)، ځغلا (تېښته)، خونول (شیندل، تیت)، خږ (بد)، ختــې (جــامې)، روده (لاره)، رپ (رپېــدل) روغی (ســلامتي)، رامشــت (ســاز او ســرود)، رغــا (بېــزاري)، رېــل (پېرزوینه)، زمولوي (مړاوي کوي)، ژوبلور (جنګیالي، عسکر)، ژوبلڵــه (زخمي کېدل)، ژوبله (جنګ)، سوران (توپان)، سوب (حاضر)، سوبمن (فاتح)، ستایوال (ستایونکی)، سکڼي (پرې کوي)، سار (ساری، مثال)، سینګړونه (ډبرین، ډبریز)، ســال (میــده شــګه)، ســادین (شــودیاره ځمکه)، سور (خوښي)، ســود (ډاډ، اطمینــان)، شــڼ (مســت)، شــڼا (مستي)، ښکلل (سینګارول)، ښهاڼه (ښېګڼه)، غوړن (خبر)، کړونګی (ابشار)، ګاڼل (د زېوراتو بندول)، لته (سیمه) ، لرمل (مــازیګر)، ملونــه (ملګري)، مخسور (بریالیتوب)، ملا (ملګرتیا)، نبــز (ســېلاب)، نمــنځ (احترام، ستاینه)، ناره (د شعر یو ډول)، نغوړېده شي (واورېدل شــي)، نومړ (نوموړی)، نمزدک (جومات)، ویرژلی (غمځپلی)، ودنــه (روزنــه،**

پرمختنګ)، وړانګن (وړانګې لرونکی) او ځینې نـورې هغـه کلمــې دي چې اوس په پښتو کې په دې بڼه او شکل یا ډېرې نه کـارول کېــږي او ځینې يې هېڅ هم نه کارېږي. البته ددې کلمو ریښه اوس هم په پښتو کې شته او نورې کلمې ورڅخه رغېدلې دي او یا یــې هــم پــه اصــلي حالت کې یو څه بدلون راغلی دی.

ددې ترڅنګ ځینې داسې کلمې هم شته چــې ریښــه یــې ډېــره پخوانۍ ده، پخوا په لرغوني ادب کې کارېــدلې او اوس هــم پــه همغــه شکل، همغه مانا او په ځینو برخو کې په ډېر کم مــانیز او لفظــي تغیــر سره په ژبه کې کارول کېږي، دېته پخوانۍ خو کارېدونکې کلمې وایو او دلته غواړو دې ډول کلمو ته هم نغوته وکړو:

# پخوانۍ خو کارېدونکې کلمې

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه په پښتو لرغوني ادب کې ګــڼ شمېر سوچه پښتو کلمې کارېدلي چې ځينې يې متروکې شوي، خو يو زيات شمېر يې په همغه پخواني شکل او محتوا اوس هم کارول کېــږي او يا هم لږ شان لفظي او مانيز بدلون په کې راغلی دی. دلته غواړو دې ډول کلمو ته هم په لنډيز سره اشاره وکړو. خو دا په دې مانا نه ده چې دا ټولې هغه پښتو نږه کلمې دي چې په پښتو لرغوني ادب کې کارېدلي دي، هغه کلمې چې پخوا کارېدلې او کټ مټ په همغه شــکل او همغــه مانا اوس هم کارېږي، هغه په دې کلمو کې شاملې نه دي، خــو دا هغــه کلمې دي چې په پخوانيو ادبياتو کې کارول شوي او پــه وروســتيو يــا اوسنيو ادبياتو کې د بيا کارېدنې له امله يې يو ځل بيا د ژونديو کلمــو بنه خپله کړې، چې ځينې يې دادي:

| | |
|---|---|
| • اوجاړ، چې اوس په لږ لفظي بدلون سره د (خراب، ړنګ او ويجاړ) په مانا کارول کېږي. | |
| • اتل | د (پهلوان) او قهرمان په مانا |
| • اغبز | د تاثير او اثر په مانا، اغبزه، اغبزمن، اغبزناک |
| • ايواد | د هېــواد او مملکــت پــه مانــا: هېــوادنی، هېوادوال، هېوادنۍ مينه |
| • اوڅار | د څرګند او مشهور پــه مانــا: څــار، اوڅــار، څارندوی، څارن، څارمن |

| | |
|---|---|
| • استاځی | د پلاوي او نماینده په مانا: استازی، استازیتوب |
| • اغلې | (ښایسته): اغلې او ښاغلی، اغلې هنرمنده |
| • پاسوال | (ساتونکی): ستر پاسوال، مل پاسوال |
| • پرتمین | (د عزت خاوند): پرتمینه غونډه، پرتمین کنفرانس |
| • پلور | (خرڅول)، پېر (۱۵) افغانۍ، پلور (۲۰) افغانۍ |
| • پېر | (نوبت، مهال): په اوسني پېر کې ډېر کارونه شوني دي. |
| • پېرل | (اخیستل): پېرل او پلورل د سوداګرۍ دوه برخې دي. |
| • تورن | (تهمتي): ستا د مینې په تور تورن شوم. |
| • جوپه | (قافله): جوپې جوپې خلک راروان دي. |
| • څپان | (څپه): څپان، څپانده، د کونړ څپانده سینده. |
| • ځنډونه | (غاړې، ځنډې): ځنډه، د کمره ځنډه |
| • ځغلا | (تېښته): ځغاستل، تلل ځغاسته. |
| • ځلا | (برېښېدل): د تورې ځلا، ځلا (نوم)، ځلا مجله. |
| • خاتیځ | (لمر خاته، ختیځ): ختیځ فرهنګي ټولنه، ختیځ ښار (جلال اباد). |
| • درمل | (علاج، دارو): اوس درملتون، درملځی. |
| • رپې | (رپېږي): بیرغ. |
| • ژبور | (تېز ژبی): احمد ډېر ژبور سړی دی. |
| • سورې | (فریاد او نارې): نارې سورې وهې. |

| | |
|---|---|
| • سین | (سیند): سین، اباسین، اباسین سېلاب |
| • سوځند | (سوځوونکی): سوځنده اورونه |
| • سمی | (سم): سم سمکی، سمون |
| • سوبه | (فتحه): سوبمن هم ورڅخه رغېدلی دی. |
| • ستېه | (اساس، تهداب، بېخ): پخه ستېه |
| • ساندې | (ویر ماتم): د میندو ساندې |
| • شخړه | (جګړه): د شخړې حل |
| • ښځمنې | (ښځې): ښځمنې شاعرانې |
| • غبرګون | (عکس العمل): د چټک غبرګون قطعه |
| • کوټ | (کلا، قلعه): کوټ، بټې کوټ، کوټوال |
| • کورنۍ | کور، کهول، کهول مجله |
| • کړېدل | (ګرځېدل، څورېدل طواف): کړېدلی، څورېدلی |
| • ګواښل | (تهدیدول): ګواښ، خطر، ګواښنه |
| • ګروهه | (عقیده): اوس یو ځل بیا دود شوې، پوهه او ګروهه یانې علم او عقیده. |
| • لور | (پېرزوینه): لور، لورین، اوس ډېر کارېږي. |
| • لرغونی | (پخوانی): لرغونې دوره، لرغوني ادبیات. |
| • لمانځنه | (ستاینه): د خپلواکۍ د کلیزې لمانځنه یا نمانځنه. |
| • لتاړ | (خراب): په غم کې لتاړ دی. |
| • ماندې | (تنابونه، د زړه رګونه): د زړه مراندې مې سستې دي. |
| • مېشت | (پراته، ساکن): هېواد مېشتی، بهر مېشتی، کابل مېشتي، مېشتغالی (کمپ). |

| | |
|---|---|
| • منښت | (قبلول): منښت، ګرانښت. |
| • نېزوړی | (خاشې، خس): سېلاب وړی نېزه وړي ته هم لاس اچوي. |
| • نست | (نابود): احمد په نست یا نشت حساب دی. |
| • نتلی | (غمجن): اسکېرلی، نتلی، کړېدلی |
| • ویاړنه | (فخریه): ویاړ، ویاړنه، ویاړمن. |
| • ویرمن | (غمجن): ویرنه، ویر، ماتم، ویرمن. |
| • ځل | رڼا: ځلېدل، نورالله ځل |
| • هېښنېږي | (حیرانېږي): هېښ حیران شوم. |
| • یون | حرکت : حرکت، پرمخیون، لاریون)(۴۳: ۱۴-۲۳) |

او ځینې نورې هغه کلمې دي چې په یو څه لفظي او مانیز بدلون او په ځینو برخو کې په خپله بڼه اوس هم کارول کېږي.

پر پورتنیو یادو کلمو سربېره په سوونو او زرګونو داسې کلمې دي چې په لرغونو ادبیاتو کې کارېدلې او اوس هم په همغه شکل او همغه مانا کارول کېږي، چې په حقیقت کې ټوله ژبه جوړوي، خو مور دلته یوازې ځینو متروکو کلمو او بیا هغو لرغونو کلمو ته نغوته وکړه چې پخوا کارېدلې او د زړو متنونو له ترلاسه کېدلو او کارونې وروسته یوځل بیا راژوندۍ شوي او په معاصرو متنونو او ورځنۍ محاوره کې ترې د فعالو او کارېدونکو کلمو په توګه کار اخیستل کېږي، یوازې همدې ډول کلمو ته مو نغوته وکړه.

# جغرافيايي نومونه

هر هېواد لرغوني جغرافيايي نومونه لري، نو زموږ هېواد افغانســتان چې پنځه زره کلن تاريخ لري، هم ډېر لرغوني جغرافيايي نومونه لــري. چې په بېلابېلو تاريخي متونو کې خوندي شوي دي. ((دلتــه غــواړو د ځينو هغو مشهورو سيمو نومونه واخلو او په لنډيز سره يې معرفي کړو چې د پښتو لرغونو ادبياتو د نظم او نثر په بېلگو کې يې يادونه شــوې ده:

- **بالشتان:** د جنوبي غور مشهور ښــار و، چــې ځينــو مورخينــو (والشتان) هم ليکلی دی.
- **مندېش:** د غزنويانو او غوريانو په وخت کې منديش مشهور ښار و، چې مشهورو تاريخ ليکونکو: بيهقي، گردېزي او جوزجاني يې هم يادونه کړې ده.
- **د خيسار کلا:** دا کلا په (غزنــوي) او (غــوري) دورو کــې ان د مغولو تر تاړاکه مشهوره وه او په پښتو لرغونو ادبيــاتو کــې يــې يادونه راغلې ده، ممبي پورې اړه لري.
- **تمران:** د تيموري قبيلې ځای دی، چــې د غــور ختــيځ خواتــه پروت و.
- **برکوشک:** يانې لوړه ماڼۍ وه چې فيروزکوه کې پرته وه.
- **شنج:** د (ياقوت) په قول له هراته لس فرسخه لرې يو ښار و.

- **غرجستان:** غرج یا غرجستان هغه سیمه ده چې د غور او هرات له شماله پیل تر امو پورې او په لویدیځ کې تر مرغابه او مروالرود پورې رسېږي او په ختیځ کې له بلخ سره نښلي.
- **قصدار:** په اوسني بلوچستان کې یو ښار دی چې اوس یې (خخدار) بولي.
- **هلمند:** په اوستا کې د هلمند یادونه د (هیرمند) په نوم شوې دا سیمه تر میلاد (۳۰۰۰) کاله وړاندې تاریخ لري چې د (بست ښار) یې مهم دفاعي ښار و.
- **پکتیکا:** دا هم یو لرغونی جغرافیایي نوم دی، ځکه د یونان یو مشهور تاریخ لیکونکي (هیروډوټ) (٤٨٤- ٤٢٥ق.م) هم په خپله مشهوره جغرافیه کې چې د پښتنو ذکر کوي، دی د پښتنو هېواد (پکتیکا) په نامه یادوي او په پکتیکا کې د سلیمان غر، د جرکني غر، د ګومل سیند او د سه ګاني غونډۍ تاریخي ځایونه دي، چې دلته به د ګومل د سیند په باره کې هم لږ څه معلومات وړاندې کړو.
- **ګومل سیند:** ګومل سیند د پکتیکا ولایت جنوب خواته د سلیمان له غره سره مستقیم تېر شوی چې ان تر جنوبي وزیرستان پورې امتداد لري، دایمي اوبه نه لري، خو د بارانونو په موسم کې په کې اوبه ډېرې وي.
- **غور:** دا یو تاریخي ولایت دی، چې ډېرې دفاعي کلاګانې لري، تر ټولو مشهوره کلا یې د قیصر کلا ده چې سلطان علاوالدین اباده کړې وه او بل د (مینار) جام دی.

- **هرات:** هرات د هېواد له غربي ولایتونو څخه دی چې ډېر تاریخي ولایت دی. سکندر مقدوني د هرات ښار د ((اتاکان)) یا ((ارتکایا)) په نوم یاد کړی دی. پر دې خاوره یونانیانو، کوشانیانو، یفتلیانو، ساسانیانو او تیموریانو واک چلولی دی.
- **بخدي (بلخ):** د پخوانیو اریایانو مرکز و چې بل نوم یې د (بیرغونو) ښار و چې دا هم یو لرغونی ښارګوټی و.

**سور غر:** دا غر ډېر مشهور غر دی چې د کلات شمال شرقي خواته واقع دی. د مغلو د یرغلونو پرمهال به هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه، اتغر، اولان او کلات به یې تالا کول.

- تازي: د کلات په شمال ختیځ کې یوه سیمه ده
- توبه: د کندهار په جنوب ختیځ کې پرته سیمه ده
- جروم: د کندهار له جنوب لویدیځ نه تر سیستان پورې سیمه ده.
- جلدک: د کندهار په شمال ختیځ کې پرته سیمه ده.
- داور: هلمند ته نږدې یوه سیمه ده
- دېبل: کراچۍ ته نږدې یو ښار دی
- دیراوت: د پخواني کندهار په شمال شرق کې یوه سیمه ده
- ږوب: د سلیمان د غره په شمالي لمنو کې پرته سیمه
- غنډان: د کلات او شاه جوی ترمنځ غر دی
- قصدار: په بلوچستان کې یو ښار دی

- کسي غر: د سلیمان غر
- مرغه: د کندهار په جنوب ختیځ کې پرته ده
- وازه خوا: د غزني په جنوب ختیځ کې یوه دښته ده.))

(۳۵: ۳۳۱-۳۳۴)

او دغه راز ځینې نور جغرافیایي نومونه چې د شاعرانو د پېژندنې په برخه کې ورته پر خپل ځای اشاره شوې ده.

# د اووم څپرکي لنډیز

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې ځینې داسې کلمې کارېدلي چې هغه اوس په ژبه کې نه کارېږي، په اصطلاح متروکې ګڼل کېږي، ددې کلمو شکل او مانا اوس بدل شوي؛ که استعمالېږي هم نو په لږ و ډېر مانیز او شکلي بدلون سره به کارول کېږي. لکه (من، بامم، مخسور، ورځ لوی، دښن، میرڅمن) او ځینې نورې کلمې. دا ډول کلمې اوس په ژبه کې ډېرې معمولي نه دي او ځای یې نورو کلمو نیولی دی. دویم هغه کلمې دي چې پخوا په زړو متونو کې کارېدلي بیا له خولو څخه غورځېدلي خو کله چې زاړه متون ترلاسه شول هغه مطالعه او د ګټې وړ وګرځېدل، نو دا لغتونه هم بېرته راژوندي شول او اوس په ورځني ژوند او محاوره کې کارېږي.

دا کلمې یا نومونه دومره خواره وو چې استعمال یې په ژبه کې تر نورو ورځنیو کلمو هم زیات شو، د هغوی د ریښې له مخې نور نوي لغتونه هم جوړ شول. دا ډول لغتونه ځینو اشخاصو د خپلو کورنیو د غړو د نومونو او تخلصونو په توګه هم غوره کړي، لکه (اتل، هېواد، هسک، یون، پاسوال، دریځ، څار) او نورې چې له هغو څخه بیا په ترتیب سره (اتلولي، اتلوال، هېوادنی، هېوادوال، لاریون، پرمخیون، مل پاسوال، ستر پاسوال، دریځوال، څارندوی، څارمن) او ګڼې نورې داسې کلمې جوړې شوې چې اوس زموږ په علمي، فرهنګي، سیاسي،

ټولنیزې او حقوقي ترمینالوژۍ کې کارول کېږي، هم د مانــا لــه مخــې خوړې دي او هم د شکل له مخې، دا کار ددې سبب شو چې زموږ یــوه زیاته برخه لرغونې ژبنۍ پانګه خوندي شي، دې کار سره نــه یــوازې دا چې هغه زړه پانګه خوندي شوه، بلکې د اوسنۍ ژبې د لابډاینې ســبب هم شوه، درېیمه برخه هغه کلمې دي چې پخوانۍ او اوسنۍ دوره کــې په یوه شکل او یوه مانا کارېدلي او کارېږي، پر هغو ځکه دلته بحث نــه کوو چې هغه کلمې له شمېره وتې دي، که زموږ ژبپوهان او ادبپوهان د پښتو د پخوانیو کلمو په مرسته نورې نوې کلمې جوړې کړي، نو هم به د ژبې پانګه زیاته شي او هم به ژبه لاپسې بډایه او خوږه شي.

# د اووم څپرکي پوښتنې

- متروکې کلمې څه ته وایي؟
- په پښتو لرغونو ادبیاتو کې کومې کلمې متروکې دي؟
- کومې زړې کلمې اوس یو ځل بیا په پښتو کې کارېږي؟
- د زړو او پخوانیو کلمو بیا کارول او راژوندي کول ژبې ته څه ګټه لري؟
- په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د کومو جغرافیایي نومونو یادونه شوې ده؟

# اتم څپرکی

# لرغونې دوره کې لومړنۍ منظومه ژباړه

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د ژباړو او په تېره بیـا د منظومـو ژبـاړو ډېرې بېلګې نه دي ترلاسه شوي، دا په دې مانا نه ده چې دا وخت بـه ژباړې نه وي شوې، خو دا چې تر دې دمه یې بېلګـې نـه دي ترلاسـه شوي، علت یې دادی چې زموږ ډېـره پخـوانۍ ادبـي پانګـه د زمـانې ناخوالو زموږ له لاسه تروړلې ده، د زمانې د ناخوالو ترڅنـګ د ژبـاړو د کمښت یوه وجه شاید دا هم وي چې دا وخت له نورو ژبو سره د پښـتو اړیکي ډېر پراخ نه وو، کومه ژباړه چې ترلاسه شوې دا هم له دې املـه وه چې یو افغان لیکوال (ابوهاشم ابن زید السرواني) له خپل وطنـه د علم په لټه عراق ته تللی و او هلته یې له عراقـي شـاعر (محمـد ابـن خلاد) سره شاګردي کړې، عربي ژبه یې زده کړې او بیا یې د نومـوړي شعرونه پښتو ته ترجمه کړي، چې یوه بېلګه یې تر دې دمه زمـوږ لاس ته راغلې ده. ښه به وي چې دلته اصل شعر او ژباړه یـې دواړه راوړو او بیا به یې پر بېلابېلو اړخونو خبرې وکړو:

| عربي | پښتو |
|---|---|
| من كان بملك درهمين تعلمت | ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه |
| شفتاه انواع الكلام فقالا | د خاوند په لاس کې زر او درهمونه |
| وتقدم الفصحاء فاستمعوا اليه | ژبور ورله ورځي وینا یې اوري |
| ورايته بين الورى مختالا | د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه |
| لولا دراهمه اللتى فى كيسه | که درهم یې ځینې ورک سي سي نتلی |
| لرايته شر البرية حالا | پر نرۍ یې وي په خړو پېژوندونه |
| ان الغنى اذا تكلم كاذبا | که بډای سونی وبولي خلک وایي |
| قالو صدقت و ما نطقت محالا | دا وینا ده رښتیانیه له رښتونه |
| و اذا الفقير اصاب قالو لم تصب | که بېوزلی وواییي رښتیا خبره |
| و كذبت يا هذا و قلت ضلالا | نور وواییي دا خو سونی دی تېرونه |
| آن الدراهم فى المواظن كلها | هو درهم ښندي هر چا له لویه برخه |
| تكسو الرجال مهابة و جلالا | د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه |
| فهى اللسان لمن اراد فصاحته | درهم ژبه ده که څوک ژبور کېږي |
| و هى السلاح لمن راد قتالا | ده وسله که څوک په کاندي قتالونه. |

**ددې منظومې ژباړې د عربي او پښتو متن تر کتنې وروسته اوس لومړی راځو دې پوښتنې ته چې لومړۍ ژباړه کوم فورم لري، غواړو دې پوښتنې ته یو مناسب ځواب پیدا کړو.**

# لومړنۍ ژباړه کوم فورم لري؟

دې ژباړې ته د فورم له پلوه ځینو لیکوالو د (قطعې) نوم ورکــړی او ځینو ورته هېڅ نوم نه دی غوره کړي. اوس راځو دېته چې دا منظومــه ژباړه قطعه ده که بل فورم؟ د قطعې معمول تعریف دا دی: هغــه فــورم دی، چې دوه بیتونه یا څلور مسرې لري، د سر بیت یې مقفــي نــه وي، خو د هربیت دویمې مسرې یې په خپل منځ کې مشترکه قافیه لري. دا فورم له عربي ژبې څخه دري او پښتو ته راغلی دی. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

__________________

a__________________

__________________

a__________________

ردیف په کې اختیاري، کېدی شي ویې لري او کېدی شي ویــې نــه لري، په عام ډول ددې خبرې یادول هم ضروري دي چې ردیف په پیل کې په عربي ژبه کې نه و، دا د عجمي شاعرانو اختراع ده چې تر قافیې وروسته یې د یوې اړتیا له مخې ردیف هم رامنځته کــړ. دې منظــومې ژباړې ته چې موږ ګورو، نو سربیت یې په عربي ژبه کې مقفــی نــه دی، یانې مطلع نه لري. خو پــه پښــتو کــې بیــا مقفــی ښــکاري (وینــه او

درهمونه) يې د قافيې کلمې دي (نه، نه) يې مشترک غړونه دي. د نورو بيتونو د دويمو مسرو قافيه يې د سر بيت د دويمې مسـرې يـا مقفـی بيت قافيه تعقيبوي، که په عربي بڼه کې يې د بيتونو شـمېر دوه وای، يانې ټولې څلور مسرې يې درلودلای او ټوله موضوع يې په همدې دوو بيتونو کې خلاصه کړی وای، نو بيا په پوره ډول د قطعې په چوکاټ کې راتله، خو اوس چې په عربي بڼه کې هم د بيتونو د شـمېر لـه مخـې د قطعې تر حدودو اوړي او د غزل چوکاټ ته داخلېږي، نو په عربي کـې هم ورته قطعه نه شو ويلای، بلکې د غزل حدودو ته داخلېـږي. ځينـو ليکوالو دې ډول فورم ته يې مطلع غزل ويلی چې يوازې د سر بيت يې مقفی نه دی، خو نور ټول د غزل چوکاټ تعقيبوي.

او که پښتو متن کې د سر بيت مقفی وګڼل شي، نو بيا خو تر ډېره د غزل قوانين پرې تطبيقېږي، خو د غزل د فورم له مخې دلته هم يو څه عيبونه په کې ليدل کېږي.

څرنګه چې د غزل د فورم هر بيت يوه مستقله مانا لري، خـو دلتـه ددې ژباړې بيتونه يو بل سره د مانا له پلوه تر يوه حده تړلي ښـکاري، ټول بيتونه يوه واحده اخلاقي موضوع تعقيبوي او هر بيت يـې لکـه د غزل د نورو بيتونو په شان پوره او خپلواکه مانا نه ورکوي، البته ځينې بيتونه يې خپلواکه مانا هم ورکوي، خو ټول بيتونه يې بيا خپلواک نـه دي، د محتوا له پلوه هم (غزل فورم) نه راخپلوي، البته له شکلي پلوه د نورو فورمونو په انډول غزل ته ډېر نږدې دی.

# د لومړنی منظومې ژباړې هنري ښکلا

دا ژباړه هم له فني پلوه په ټول پوره او کره ده او هم د ژبني سکښت له مخې د هرې مسرې د څپو شمېر یې له بل سره مساوي دی، وزني کمی او نیمګړتیا په کې نه احساسېږي، هره مسره یې په مساوي ډول (۱۲) څپې لري، چې دا له عربي څخه پښتو ته دراغلو اکثرو شعري فورمونو یوه ځانګړنه ده، په تېره بیا د غزل، قصیدې، قطعې، رباعي او نورو.

شاعر چې څه غوښتي هغه مطلب یې په ډېر ښه ډول افاده کړی او ژباړن هم د محتوا ټول حق ادا کړی او موضوع یې په ښه ډول انځور کړې ده. دا شعر یوه اخلاقي ښکلا لري. اخلاقي او انساني پیغامونه له عربو رانیولې تر عجمو پورې ټول یو شان دي، ان د ټولې انساني نړۍ مشترک خصوصیات ګڼل کېږي. په دې شعر کې چې کوم پیغام راغلی، د مال، متاع او پیسو اهمیت یې بیان کړی، په دې اهمیت کې هېڅ بدلون نه دی راغلی، پخوا هم ځینې خلک پیسو ته سرټیټي وو، نن هم درهمو ته سرټیټي دي. نن هم د ستېج او دریځ پر سر هغه خلک ولاړ دي چې زر لري او زور لري او پخوا هم همدا ډول خلک وو، نن هم ژبور خلک د د دوی په خدمت کې دي او پخوا هم وو.د اوسني وخت په اصطلاح نننی رسنۍ هم چې د سلګونو ژبورو یوه مجموعه ده، د زر او زور خاوندانو په خدمت کې دي. څه چې د زور خاوندان وایي، دوی

اکثره همغه خبره تائیدوي او خپروي، د زر د خاوند هر ځای اوس هـــم پرتم دی او ویاړمن دي، اوس هم هغه څوک چې زور او زر لري که قتـــل هم وکړي، څوک یې مخه نه شي نیولای، موږ یې په خپلــه ټولنــه کـــې رانه مثالونه ګورو، خو که همدا خلک بیا بې زره او بې زوره شـــي، نـــو د عوامو په اصطلاح خر غوږونه بیا ګرځي او څوک یې سلام ته علیکم هم نه وایي. په ډېرو ټولنو کې دا رواج دی چې پـــانګوال ســـړی دروغ هـــم ووایي، نو نور پرې د رښتیا اطلاق کوي او که خوار او غریب سړی رښتیا خبره هم وکړي، نو څوک ورته اهمیت نه ورکوي، لکه چې وایي د خوار ملا په اذان څوک روژه هم نه ماتوي. رښتیا چـــې درهـــم، زر او زور هـــر چاته لویه برخه ورکوي، دا شعر په حقیقت کې د درهم پر خاوندانو او د هغوی پر غوړوه مالانو یو نامستقیم انتقاد او اعتراض دی، چې د رښتیا او حقیقت پر وړاندې ولاړ دي. په دې نظم کـــې کـــومې خاصـــې ادبـــي صنایع او لفظي پېچلتیاوې، استعارې، کنایې او نادرې تشبیهګانې نـــه شته، خو د شعر اخلاقي پیغام دومره ښکلی او قوي دی، چـــې د نظـــم نورو برخو ته د چا ډېر پام نه کېږي. په مجمـــوعي ډول دا ژبـــاړه هـــم د ژباړې د مهارتونو، لفظونو او د پیغام د انتقال له پلوه او هم د هغه وخت د ژباړې د امکاناتو له مخې خورا پوره او کره ژباړه ګڼل کېږي.

# د لومړنۍ ژباړې ژبنۍ پرتلنه

د ابو هاشم سرواني منظومه ژباړه د ژبنۍ ښکلا لــه مخــې ښــکلې ژباړه بریښي، زېږې کلمې په کې نه شته او ان د عربي ژبې اغېزې هــم پرې ډېرې کمې بریښي، یوازې، (درهم، خلق، قتالونه) پــه کــې عربــي کلمې دي، نورې ټولې نږه پښتو کلمې دي، له نن څخه نــږدې (دولــس سوه کاله) کاله مخکې د داسې ژباړې ترسره کوله اسانه کار نــه دی، دا چې ابوهاشم سرواني عربي ژبه زده کړې وه او د ابن خلاد شاګرد و، نو پر دواړو ژبو پوره واکمن و. هر څوک چې پر دواړو ژبو حاکم وي او خپله هم شاعر وي، نو هغه ددې قدرت پیداکوي چې داسې ژباړه وکړي. کله چې څوک له یوې بلې ژبې څخه خپلې ژبې ته ژباړه کوي، نو د لــومړۍ ژبې اغېزې، په شعوري، قصدي، ناقصدي او ناشعوري ډول او یــا هــم د لاچارۍ له امله دویمې ژبې ته انتقالېږي، په تېره بیا کــه دا دواړه ژبــې سره ګډه لغوي زېرمه ولري، له یوې کورنۍ څخه وي او یا هم یو واحــد لیکدود تعقیبوي.

پښتو او عربي ژبې یو لیکدود تعقیبوي، که څه هم پښتو د اریــایي ژبو او عربي د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري، خو د دیني، مــذهبي، اقتصادي او کلتوري اغېزو له امله عربي ژبه د اسلامي نړۍ پر ټولو ژبــو او په تېره بیا پر ختیزو ژبو خپل خــاص تــاثیرات لــري. ټــول دینــي او مذهبي مصطلحات له عربي ژبې څخه دې ژبو ته تللي او ډېرو کلمو تــه یې اندول هم ناشونی بریښي، سرواني که څه هم په عربــي چاپېریــال

کې ډېر وخت تېر کړی و، عربي ژبه يې ښه زده وه او طبيعـــي خبـــره وه چې په داسې یو حالت کې ضرور د لومړۍ ژبې د ژباړې اغېـــز ښـــکاري، خو سرواني له (دریو عربي) کلمو پرته چې هغه هم یو يې  خـــاص نـــوم (درهم) و چې د هغه ژباړه ممکنه نه وه، پـــه حقیقـــت کـــې يـــوازې دوه کلمې (قتالونه) او (خلق) کارولي چې (قتال) ته يې هم د جمعې مغفـــن حالت ورکړی (ونه) يې ورسره یوځای کـــړي. (خلـــق) هـــم تـــر ډېـــره د (خلک) په بڼه کارول کېږي، (خاوند) له دري سره ګډه کلمه ده، نـــورې نو ټولې پښتو کلمې دي. چې دا ټولې سره راټولې کړو او له پښتو کلمو سره يې پرتله کړو، نو یوه (سلنه) کلمې هم نه جوړوي. په دې مانا چې د سرواني دا نظم په نړه پښتو ژباړل شوی. د سرواني دې ژباړې ته پـــه کتو سره سړی داسې نتیجه اخیستلای شي چې دده له خوا نور ژباړل شوي شعرونه به هم همدا ډول و او دا د ژباړو او بیا هم د منظومو ژباړو په تاریخ کې یو بې ساری عمل او مثال دی چې یو څوک دې له نـــړدې ژبو څخه ژباړه هم وکړي او د هغو د لغتونـــو لـــه کـــارونې دې ډډه هـــم وکړي.

# د اتم څپرکي لنډیز

په لرغونې ادبي دوره کې موږ تر دې دمه دوه منظومې ژباړې لـرو: یوه هم د ابو هاشم ابن زید السرواني منظومه ژباړه ده او بله د زرغونې کاکړې منظوم حکایت دی چې د شیخ سعدي له بوستانه یې راژبـاړلی دی. پښتو لومړنۍ منظومه ژباړه خورا خوږه، روانه او له پیغامه ډکه ده. دا منظومه ژباړه ډېر ښه اخلاقي پیغام لري، ناظم پر ژباړه او دواړو ژبـو (عربي او پښتو) پوره واکمن دی. په دې منظومه ژباړه کې د نورو ژبو (د عربي او دري) کلمې په نشت حساب دي، عربي کلمې له (درهم) پرتـه ټولې دوه (قتال) او (خلق) دي چې خلق لغت هـم پـه اوسـني مغفـن شکل کې د (خلک) په بڼه افاده کېږي او ډېر زیات افغاني شـوی ګڼـل کېږي. (خاوند) له دري سره مشترک لغت دی. دا لومړنۍ منظومه ژباړه په ټولیز ډول په نره پښتو ترسره شوې او عربي کلمې پـه کـې کومـه پاموړ سلنه نه جوړوي. له دې ژباړې څخـه ښـکاري چـې ابـو هاشـم سرواني نه یوازې یو ښه ناظم او ژباړن و، یو ښه شاعر هم ګڼل کېـدی شي، څکه چې په دې ژباړه کې یې هم شـعري اسـتعداد، قریحـه او د کلام قوت په ښه ډول معلومېدی شي. د فورم له پلوه دا نظم په عربـي متن کې له بې مطلعې غزل سره سمون خوري، خو په پښتنو منظومـه ژباړه کې تر ډېره حده پرې د غزل فورم زیات خصوصیات تطبیقېږي.

په ټولیز ډول دا ژباړه د پیغام د انتقال، ژبنـي جوړښـت، د نظـم د سلیسوالي او نورو مزایاوو له امله یوه ښه، پوره، کره او په معیار برابـره

منظومه ژباړه ګڼل کېږي. که ددې شاعر، ناظم او ژباړن نورې منظـومې ژباړې ترلاسه شوې وای، نو د پښتو ادب لمن به پرې لا ښايستته شوې وای.

## د اتم څپرکي پوښتنې

- په پښتو کې لومړنۍ منظومه ژباړه د چا له خوا ترسره شوې ده؟
- په پښتو کې دويمه منظومه ژباړه په کوم فورم کــې او د چــا لــه خــوا ترسره شوې ده؟
- په لومړنۍ منظومه ژباړه کې د عربي ژبې تاثيرات څومره دي؟
- ولې په لومړنۍ منظومه ژباړه کې د عربي او نورو ژبو اغېــز کــم ليــدل کېږي؟
- لومړنۍ منظومه ژباړه په کوم فورم کې نظم شوې؟ د هنــري ښــکلا او اخلاقي پيغام ه باب يې رڼا واچوئ؟

# نهم څپرکی

# لرغونې دوره کې لومړنۍ مشاعرې یا مناظرې

مشاعره په ادبیاتو کې هغه عمل ته ویل کېږي چې د دوو او یا زیاتو شاعرانو له مشترک عمل څخه رامنځته شي. لکه څنګه چې مناظره، مناقشه، مفاهمه، مباحثه یا خبرې اترې د یوه شخص له خوا نه ترسره کېږي، بلکې بل لوری، همکار، ملګری او یا مخالف هم لري، دغسې مشاعره هم هغه عمل ته ویل کېږي چې پر یوه وخت یا مهال یا هم په بېلابېلو وختونو کې د څو تنو شاعرانو له خوا رامنځته شوې وي. مشاعرې هم پر څو برخو وېشل کېږي: مقیده یا طرحي مشاعره چې شاعران په کې د یوه شاعر یوه مسره یا بیت د نورو مخې ته ږدي او نور شاعران بیا همغه بیت، وزن او اهنګ تعقیبوي. یانې د همغه بیت په اقتفا یا پلوۍ شعرونه وایي. ازاده مشاعره چې د یوې محتوا په مناسبت او یا هم له کوم مناسبت پرته جوړېږي او شاعران په کې په ازادانه توګه ګډون کوي او خپل کلام اوروي.

دا ډول مشاعرې په پښتو لرغونو ادبیاتو او بیا راوروسته کلاسیکه دوره کې هم شته، په معاصره دوره کې یې خو شمېر تر حسابه تېر دی او اوس هم دا لړۍ لاپسې دوام لري.

په پښتو لرغونو ادبياتو کې موږ لږ تر لږه درې داســې مشــاعرې يــا منظومې مباحثې لرو چې شاعرانو يا ناظمانو يو بل ته په نظم کې خپل پيغام رسولی دی. که ددې شعرونو لومړنی برخه نه وای، نو دويمــه نــه رامنځته کېدله، دا ډول شعرونه يو بل سره تړلي دي. حتمي نه ده چې د پوره او کره مشاعرې اطلاق پرې وشي، خو که موږ پــه پښــتو کــې د مشاعرې څرک لګوو، دا ډول لومړنی مشاعرې، منظومي مباحثې او يــا هم منظومې محتوايي مناقشې له ياده نــه شــو ايســتلای. دا مقيــدې مشاعرې نه دي او لکه څنګه چې دمخه مو يادونه وکــړه پــه اوســنيو معيارونو ورته پوره او کره مشاعرې هم نه شو ويلی، خو که د مشــاعرو په باب بحث کېږي، نو دا يې لومړی لاسته راغلې بېلګې ګڼــل کېــدی شي. دلته به دې ډول مشاعرو ته په لنډيز سره اشاره وکړو:

# شیخ رضی لودي او نصر لودي

لکه څنګه چې مو د شیخ رضی لودي او نصر لودي په پېژندنه کې وویل، دواړه د لودي کورنۍ غړي او یو د بل د تره زامن کېږي، پټې خزانې د دغو دوو تره زامنو دوه بېلابېل پاړکي خوندي کړي دي. په دې کې لومړی پاړکی د شیخ رضی لودي دی چې د کسي له غره څخه یې ملتان کې د خپل اکا زوی (نصر لودي) ته استولی او دویم پاړکی یې د نصر لودي دی، چې هغه بېرته دده په ځواب کې ورلېږلی دی.

د شیخ رضی پاړکی دادی:

د الحاد په لور دې ترپلل ګروه دې زمونږ وکوراوه
مونږ رونډلي په زیارنه تا په تورو توراوه
لرغون ولې ګروهېدلې چې دې ګوښې اړاوه
هغه ګروه دې اوس اړه کړ چې پلرو دې رڼا وه
لودي ستا په نامه سپک شو که هر څو مو درناوه
نصره نه مو یې له کهاله لودي نه یې په کاوه
زمونږ رغا ده ستا له ګروهه دور ځلوی په رغاوه.

د نصر لودي پاړکی:

د الحاد په تور تورن سوم زه لرغون خو ملحد نه یم
زما دښنه هسې توراکړي که ملحد یم د دښنه یم
له اسلامه نه ترپلمه تورانو څخه په ترپله یم
ګروه مې هغه لرغونی دی اوس هم کرور په لرغونه یم

د لـودي زوی سنتـي يـم | د حميـد لـه لـوړ کهالـه يـم
تـورانـي دښن چـې وايي | زه لـه ګروهـه پـه اړه يـم
دا يې تور تاسې دروهـوي | زه مومن ستاسې په تله يـم
د دښنو وينـاوې مـه غـږه | زه لـودي يمـه څـو زه يـم.

دا دواړه نظمونه يو بل ته د مشاعرې، مناظرې، مفاهمې او مباحثې په بڼه وړاندې شوي دي. په نظمونو کې نصر لودي د شيخ رضی لـودي شکونو، نيوکو او اعتراضونو ته ځوابونه ويلي او د ځان سپيناوی يې هم کړی دی.

په دې سوال او ځواب کې د څلورمې هجري پېړۍ پرمهال د پښتو نظم څرنګوالی په ګوته کېږي، د هنري ارزښتونو کچه څرګندېږي. د ژبې څرنګوالی ورڅخه ښکاري، پر نظم او شعر باندې واکمنه مـذهبي فضا څرګندېږي.

له دې پاړکو يا مشاعرو څخه دا ښکاري چې دا مهال پښتو شاعري د عوامو او خواصو پر ذهن واکمنه وه، مـذهبي مبلغينـو او د وخـت واکمنو شعر يا نظم د خپل پيغام د لېږد او افادې لپـاره تـر ټولـو ښـه وسيله ګڼله او د زړه غوټه يې د نظم په چوکاټ کې اوراوله.

که چېرې همدا خبرې په يوه نثري ليک کې سره تبادله شوې وای، دومره خوند به يې نه و، نه به يې پر يوه بل دومره تاثير ښندلی و او نـه به تر موږه پورې رارسېدلی و.

که چېرې شيخ رضی لودي د خپلو مـذهبي احساساتو تـر تـاثير

لاندې نه وای راغلی، نو دا نظم یې نه شو لیکلی او بیـا کــه چېـرې ده خپل دا نظم د نصر لودي د عملونو پر وړاندې هغه ته د یوه غبرګون په توګه نه وای ورلېږلی، نو نصر لودي هم هغه نظم هېڅکله نه لیکه چې د شیخ رضی لودي د نظم په ځواب کې لیکلــی و. دا د نظــم پــه بڼــه د مذهبي عقایدو د ملاتړ لپاره دفاعي څرګندونې دي. په پښتو کې یې له لومړنیو مشاعرو، نظمي مباحثو او یا هم مناقشو څخه ګڼلای شو.

# شیخ اسمعیل او خرښبون

د شیخ اسمعیل او خرښبون د کورنیو اړیکو په باب مو دمخه د هغوی د پېژندنې په برخه کې بحث وکړ، نه غواړو هغه بیا تکرار کړو. کله چې خرښبون له کوره په وتو شو او د سفر لاره یې ونیوه، نو د شیخ اسمعیل له خولې ورپسې دا سوې نارې ووتې:

کـه یـون دی یون دی مخکـــې بېلتـــون دی
لـه کسي غـره څـخه ځـــي خرښـــبون دی
کــــه وروره وروره خرښـــــــــــبون وروره
تـــه چې بېلتون کړې زمـــا ویـــر تـــه ګـــوره
چـې ځـې مـرغې له تـــوري کرغـــې لــــه
هـــمزولـــي پـــاتـــه ځـــې ځـــه برغـــې لــــه
د خـــدای د پـــاره خرښــــــبون پــــاره
چـې هـېر مو نه کړې زمــــوږ کهـــــول واړه
زړه مــــې ویـــلېږي یــــار مـــــې بېلېــــږي
بـېلتـون یـې اور دی ځــــان پــــه ســــوځېږي.

کله چې خرښبون د اسمعیل دا سوې ساندې واورېدې، نو د هغه پر زړه یې هم تاثیر وکړ او په خپله یوه بله ناره یا نظم کې یې د هغه درد ته داسې ځواب ورکړ:

بېلتانـــه نـــاره مـــې وســـوه پـــه کـــور بانـــدې
نـــه پـــوهېږم چـــې بـــه څـــه پـــښ وي پـــه وړانـــدې

لـــه خپلوانـــو بـــه ببلېـــږم پـــه ســـرو ســـترګو
دواړه ســـترګې مـــې پـــه وينـــو دې ژړانـــدې
اســـمعيله ســـتا نـــارو مـــې زړګـــی سُـــری کـــئ
ببلتانـــه خرښـــبون بيـــا لـــه تـــا پـــردی کـــئ
نـــه هېرېـــږي کـــه مـــې بيـــا نـــه ســـتا يـــادی کـــئ
پـــه چـــړو د ويـــر بـــه پـــرې ســـې دزړه مرانـــدې
ځمـــه ځمـــه چـــې اوږد يـــون مـــې دی و مـــخ تـــه
ديانـــه ځـــوری بـــه اچـــوم و تـــرخ تـــه
ستاســـې يـــاد بـــه مـــې وي بـــس د زړه وســـخ تـــه
کـــه دا مځکـــه غرونـــه ټـــول ســـې لانـــدې بانـــدې.

دې سوال او ځواب ته چې ګورو، نو موږ ته په لرغونې ادبي دوره کې د لومړنۍ مشاعرې ځرکونه راپه ګوته کوي. اوس هم داسې شاعران ډېر دي چې يو بل ته يې پيغام په نظم کې ويلای او ځواب يې هم پـه نظـم کې ترلاسه کړی دی.

په دې مشاعره يا نظمي مباحثه کې د سفر مجبوريتونه، د ببلتـون درد، سوز، خپګان او يو بل سره د نږدې دوستانو يا هم ورونـو مينـه او خواخوږي ځرګنده شوې ده. که اسمعيل بابا د خرښبون په فراق کـې خپلې نارې په نظم کې نه وای ويلې او خرښبون بيـا دا نـارې نـه وای اورېدلې او يا يې پرې تاثير نه وای کړی، نو پوره باور دی چې هغـه هـم ورته په نظم کې ځواب نه وايه، همدې حالت د يوې مشاعرې يا نظمـي مباحثې بنه خپله کړې ده.

# خلیل خان نیازی او سلطان بهلول لودي

خلیل خان نیازی د سلطان بهلول لودي د دربار شاعر و، دوی دواړو یو بل ته د (رباعي) په بڼه دوه نظمونه اورولي چې دا هم د مشـاعرې او مباحثې بڼه لري. لومړی خلیل خان نیازي سلطان بهلـول لـودي تـه خپله رباعي داسې وویله:

خـــړې وربځـــې ژاړي لــــه پا ســـه
کو یلـــه ږغ کــا بېلتـــون لـــه لاســه
یــه هغــه لـوني ګــو هر پــه خـول ستا
دا مرحبــا کـــا ســـتا زمــوږ موا ســه

وروسته بیا سلطان بهلول لودي د هغه په ځواب کې وویل:

ملک بـه زرغون کړم پـه ورکړه را ســه
ګــوره اوربــځې د داد لـــه پــــا ســه
خــول مــــې د عــدل پـه درو رونږ دی
جـهان بـــه زېـب مـومي زما له لاسه

د خلیل خان نیازي رباعي ددې سبب شـوه چـې سـلطان بهلـول لودي هم غبرګون وښيي او دا غبرګون هم په همغه بڼه او همغه فـورم کې څرګند کړي چې خلیل خان نیـازي څرګنـد کـړی و، نـو دا دواړه

ځلوريزې هم يو بل سره اړيکي لري، د مباحثې او مشاعرې بڼه خپلوي.

دا په حقيقت کې په پښتو لرغونې شاعرۍ کې دربيمــه مشــاعره او مباحثه ګڼل کېږي. تر دغو دوو لومړنيو ځلوريزو وروسته چې په پښتو کې کومې ځلوريزې يا رباعيانې ويل شوي، اکثــره يــې د همــدې لــس څپيز جوړښت تابع دي او پښتو ځلوريزې تر ډېره حده همدا جوړښــت او سکښت تعقيقوي.

# د نهم څپرکي لنډيز

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې نه یوازې د بېلابېلو شعري فورمونو او محتوایي فورمونو ډولونه شته، مشاعرې او مشاعرو ته ورته ادبي هڅې هم ترسره شوي. شاعرانو د نظم په چوکاټ کې یو بل ته خپل پیغام رسولی، د یوه بل سر یې خلاص کړی، د هغوی شکونه یې رفع کړي، یو بل ته یې سپیناوی کړی او ابهامات یې لرې کړي دي.

لږ تر لږه درې داسې بېلګې لرو چې د مشاعرو شکل لري. شیخ رضی لودي او نصر لودي ترمنځ مشاعره یا مباحثه ، د شیخ اسمعیل او خرښبون ترمنځ لفظي مباحثه او د خلیل خان نیازي او سلطان بهلول لودي ترمنځ د څلوریزو تبادله چې یو بل ته د سوال او ځواب په بڼه دي، که ددې مباحثو یا مشاعرو لومړۍ برخه نه وای، دویمه نه شوه رامنځته کېدلای چې دې هر یو بیا خپل خپل علتونه درلودل. که مونږ په پښتو ادبیاتو کې د مشاعرو څرک لګوو او تاریخي تسلسل ته ځو، نو نه شو کولای دغو دریو مشاعرو او هغو ته پر ورته بېلګو سترګې پټې کړو، البته دا په دې مانا نه ده چې دا مشاعرې د اوسني وخت له معیارونو او ډولونو سره برابرې دي او په کار هم نه ده چې د اوسنیو مشاعرو او د همغو د معیارونو له مخې دې وارزول شي.

بله جالبه خبره په دې مشاعرو کې دا ده، چې د شیخ اسمعیل نارو ته خربښون په ناره ځواب ویلای او سلطان بهلول لودي بیـا د خلیـل خان نیازي رباعي ته په رباعي ځواب ویلای، نو ځکه خــو د هغــو ګــډو خصوصیاتو لرونکي دي چې په عام ډول په مشاعرو، مناظرو او مباحثو کې کارېږي.

# د نهم څپرکي پوښتنې

- ایا په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د مشاعرو څرک شته؟
- په لرغونې ادبي دوره کې د مشاعرو یا مباحثو علتونه څه وو؟
- د شیخ رضی لودي او نصر لودي د پیغامونو د تبادلې هدف څه و او دا پیغامونه یې په کوم چوکاټ کې افاده کړل؟
- په لرغونې ادبي دوره کې څو نظمي مباحثې یا مشاعرې ترسره شــوي، نومونه یې واخلئ!
- یو شاعر بل شاعر یا ناظم ته په کوم فورم کې خپل غبرګــون څرګنــد کړی دی؟

# لسم څپرکی

# د لرغونو ادبیاتو محتوایي فورمونه

په پنځم څپرکي کې مو د لرغونو ادبیاتو د نظم فورمونو یا شـــکلونو ته اشاره وکړه چې په هغو کې هم په ملي اوزانـــو کـــې د پښـــتو خپـــل ځانګړي فورمونه، لکه: لنډۍ، بګتۍ، نیمکۍ، کاکړۍ، چـــاربیتې او نـــور شامل وو او هم مو له عربي او نورو ژبو څخه راغلـــي شـــعري فورمونـــه، لکه: غزل، قصیده، رباعي، مثنوي او نور وڅېړل. دغسې مو په لرغـــوني دوره کې مشاعره یا منظومه مباحثه وڅېړله، اوس غواړو په یـــاده دوره کې معنوي فورمونو یا شکلونو ته هم اشاره وکړو. معنوي یـــا محتـــوایي فورمونه په مانا او محتوا پورې اړه لري، په شکل پورې اړه نه لري، په هر فورم کې کېدی شي ورته مانا انتقال شي او د یوه معنـــوي فـــورم بڼـــه خپله کړي. البته کېدی شي فورم هم د ځینو لویو تفصیلي محتواوو په لېږد کې خپل رول ولـــري، خـــو واړه فورمونـــه د لنـــډې مانـــا او اوږده فورمونه د اوږدې مانا لپاره کارول کېږي د ساري په توګه په یوه قطعـــه یا رباعي کې موږ نه شو کولای یو اوږده تراژیکه او یا بلـــه پېښـــه بیـــان کړو، خو غزل، قصیده او مثنوي بیا د منځنیو او اوږدو پېښو یا غمیزو د بیان لپاره په نسبي ډول ښې وسیلې دي، په تېره بیا مثنوي فورم چې شاعر یا ناظم په کې ډېر ازاد لاس لري. د دنیا لوی او اوږده داســـتانونه چې په منظومو فورمونو کې راغلي اکثره یې په مثنوي فورم کـــې ویـــل

شوي دي. د ارسطو له خوا دا ادبیاتو د عمومي ډلبندۍ ترخنګ چې د ادبیاتو محتوا یې ((پر غنایي، حماسي او ډراماتیکو یـا تمثیلـي برخـو وېشلې وه)) (۱: ۱) اوس هم دا نظریه د ادبیـاتو د مجمـوعي محتـوا د ډلبندۍ له پلوه د تائید او پامور برېښي، نـورو ادبپوهـانو هـم ځینـې محتوایي فورمونو ته اشاره کړې چې له هغې جملې څخه ویاړنه، ویرنه، ستاینه، حبسیه، رثایه، خمریه (ساقینامه) او ځینې نور فورمونـه دي، په پښتو کې اکثره دا ډول معنوي فورمونه شته، خو دلته مـوږ غـواړو یوازې پر هغو محتوایي فورمونو لنډه رڼا واچوو چې پـه پښـتو لرغونـو ادبیاتو کې یې څرګندې بېلګې تر موږه رارسېدلي دي. په دې فورمونـو کې ویاړنه، ویرنه، ستاینه، خمریه یا ساقینامه، شامل دي. دلته غـواړو په ترتیب سره پر دې هر ډول معنوي فورم رڼا واچوو:

# ویاړنه یا فخریه

ویاړنه یا فخریه هغه ډول شعرونو ته ویل کېږي چې پــه هغــو کــې شاعر یا ناظم خپلې سوبې، برياوې، مېړانې، تورې او اتلولۍ بیانوي او پر هغو فخر کوي، یا هم د یو بل اتل پر اتلولۍ ویاړ کوي او یا په ټوله کې د خپل قوم اتلولي بیانوي او پر هغوی ویــاړي. کلــه کلــه ځینــې خلــک (حماسه) او (ویاړنه) یوه له بلې سره مغالطه کوي، دواړه یو شان بــولي، پر داسې حال کې چې ویاړنه پر خپلو کارنامو ویاړېدل او حماسه د یوې جنګي پېښې کیسه ییز بیان دی. ددې لپاره چې د حماسې او ویــاړنې په توپیر پوه شئ، ښه به وي چې دلته لومړی پر حماسې څه ناڅــه رڼــا واچوو:

**حماسه:** ((د (ح، په زور) د شجاعت او زړه ورتوب مانا لــري او لــه ډېرو زړو او مهیجترینو ادبي انواعو څخه ګڼل کېږي. حماسه د ادبیــاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی چې د یــو ملــت، قــوم، قبیلې او یا شخص د مېړانــې، تــورې کیســې او جنګــي کارنــامې پــه حکایتي او داستاني ډول بیانوي. حماسه معمولاً په مثنوي کالــب کــې وي.

په حماسه کې یوه اساسي موضوع د اتل ده. هره حماســه یــو اتــل لري. د شرقي ادبیاتو مشهورې حماسې د فردوسي شــاهنامه، د اســد خواســي ګرساســپنامه، د دقیقــې بلخــي ګشتاســپنامه، د هنــدوانو مهابهاراتا، رامایانا او نورې دي. حماسه د حماسي اشعارو له مجمــوعې

څخه جوړېږي. کېدی شي حماسه منثوره هم وي، لکه د اسدي طوسي د منظومې ګرشاسپنامې ماخذ منثوره ګرشاسپنامه وه. نو ځکـه خـو وايي: حماسه په لغت کې زړورتوب او د شجاعت په مانا راغلې ده او په اصطلاح کې هغو منظومو او منثورو اثارو تـه وايـي چـې د جنـګ پـه میدانونو کې د سترو مېړنو او اتلانو د زړورتوب او رشادت حکایت کوي. په بل عبارت حماسه هغه وضعي اثـار دي چـې د يـو قـوم يـا فـرد د پهلوانيو، مېړانو، اتلوليو او افتخاراتو بيانونه لري.

د حماسـو منشـا لرغـونې، تـاريخي، دينـي او د پهلوانيـو داستانونه دي او يا هم تخيلي داستانونه دي، په (ادبي ډولونـه) نـومي کتاب کې لولو؛ څنګه چې حماسـه د انسـاني ژونـد د لومړنيـو دورو خاطرات جوړوي، نو ځکه دا خاطرات د کيسو او شفاهي افسانو په بڼه سينه په سينه نقلېدل، تر هغې چې وليکل شول، د بېلګې په توګـه د فردوسي تر زمانې پورې د رستم او سهراب داسـتان تـدوين شـوی او ليکل شوی نه و.

په پښتو کې شفاهي او هم ليکلي منظوم او منثور حماسي اثار لرو. په منثورو شفاهي حماسو کې موږ د ادم خان او درخانۍ، موسی خـان او ګلمکۍ، فتح خان او رابيا او نور نکلونـه لـرو او پـه ليکلـو منثـورو حماسي پښتو اثارو کې موږ د محمد امين سرپرېکړي (۱۱۷۴هـ ق مړ) (جګړه د محمود افغان او نيول د اصفحان) نـومي اثـر او همدارنګـه د حافظ نورمحمد (۱۱۷۴ه. ق زوکړی) د برېښنا يا خـدۍ حماسـي اثـار يادولای شو، چې دواړه منثورې حماسې دي.

د بېلګې په توګه: په پښتو ادب کې ( ادم خان او درخـانۍ)، (فـتح خان او رابيا) او (موسی جان او ولي جان) نکلونـه حماسـې دي، مګـر

منظومې يې نوې او تر منثورو روایاتو ډېرې وروستۍ دي.

بربښنا : د حافظ نورمحمد اثر دی، دی د محمد امــین ســرپرېکړي زوی و.

احمدشاهي شاهنامه: د حافظ ګل محمد مرغزي اثر دی.

حماسه: کېدی شي اوږده وي، کېدی شي لنــډه وي. روســي او د شرقي اروپا پوهان وايي: کېدی شي حماسه وړه، منځنۍ او لویه وي.

کله کله د ویاړنې او حماسي شعر ترمنځ هم توپیر نه کېږي، نو ددې لپاره چې د حماسي شعر او ویاړنې پر تــوپیر پــوه شــو، دلتــه غــواړو حماسي شعر ته هم په لنډیز سره اشاره وکړو:

حماسي شعر: دا اشعار هم د رزم و جنګ ویاړ، افتخار او مبــارزې او یا جنګ ته د جنګیالیو د تشویق خبرې رانغاړي، په بله وینــا دا ډول اشعار په خلکو کې د مبارزې، روحیه پیاوړې کــوي، د ولــس د عوامــو اعتراضونه، پرخاش او د خلکو جنګي روحیــه منعکســوي. زمــوږ پــه لومړنۍ ادبي دوره کې د بابا هوتک، ملکیار غرشین او تایمني ســندرې رزمي او جنګي شعرونه دي او بشپړ حماسي اشعار يې بللای شو، خــو حماسې نه دي.

ویاړنه یا مفاخره په لغت کې فخر کولو، د لویۍ اظهارول، پــر خپــل ځان ویاړل، فخر، مباحثات او ناز ته وايي او په ادبي مباحثو کې مفاخره یا ویاړنه هغه شعر ته ویل کېږي چې شاعر په کــې د خپلــې کــورنۍ او قبیلې افتخارات، سخاوت، شجاعت او پر نفس واکمني، د کمال تر حده په عالي قرینه ویلي وي. په شرقي ادبیاتو کې دا ډول اثار د فخریې پــه نامه یادېږي. ویاړنه د حماسي اشعارو په فروعاتو کې مطالعه کېږي. په

پښتو کې يې نمونه د امير کروړ شعر دی.)) (۵۲: ببلابېل)

اکثرو ادبپوهانو په پښتو کې د امیر کروړ شعر ویاړنه یا فخریه ګڼلې، خو ځينو ورته حماسي شعر هم ويلای دی. د حماسې او حماسي شـعر ترمنځ هم توپیر موجود دی، لکه څنګه چې مو پورته حماسي شـعر او حماسې ته نغوته وکړه، نو د هغو له مخې د امیر کروړ شعر په حماسـي شعر کې نه راځي او حماسه خو ورته ښخي نه شو ويلای. کله چې هم د امير کروړ شعر یا نظم له هر پلوه ارزوو، نو د وياړنې ځـانګړنې پـه کـې زياتې دي. د شاعر د ستاینې محور په خپله خپل ځان دی، د وياړ ټوله پاملرنه يې د ځان پر چورليز راځي: زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نه شته، په هنددو سندو پر تخار و پر کابل نه شته. بل په زابل نه شته - له ما اتل نه شته.

که پر دښمنو يې د ارادې غشي ځي، پر ژوبله او مات شويو بانـدې يرغل کوي، که د بريو پرخول يې هسک په وياړ او نمانځنه تاوېږي او يا يې د اس له سو ځمکه رېږدي، غرونه تاوېږي، ايوادونه ويجاړېږي، نو دا دده د تورې زور دی.

که د تورې تر شپول لاندې يې هرات او جروم دی او یا يې هم غرج و باميان، تخار او نور تر اودې لاندې دي، يا ورځخه په مروه کې غشـي ګوازرېږي، دښمن ورځخه ډارېږي، ان زړور خلک هم ورځخه رپېـږي او د هريرود پر څنډو ځي نو پلن ورځخه تښتي، دا ټول دده د تـورې زور دی، که بيا خپلې سوبې هم يادوي، نو پر خپلې تورې د وياړ پـر محـور څرخي.

که د زرنج سوبه يادوي، نو هم په حقيقت کې خپله بريا يادوي او دا بريا بيا د خپل کهول برى هم ګڼي او د سور د کهول وياړ هم، پـه پـای

کې د خپلې مهربانۍ او لورېینې په باب غږېږي، چې خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم، دوی په ډاډ سره روزم، پالنه یې کوم او د پرمختیا او ودې لارې چارې ورته برابروم، د همدې تورې مېړانې او اتلولۍ له امله دي چې وایي: پر لویو غرو مې دنیا درومي نه په ځنډ و په ټال، نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دریځ ستایوال- په ورځو شو میاشتو کال- له ما اتل نه شته.

دې کلام ته چې ګورو نو زیاته محتوایي برخه یې د خپل ځان، خپلې تورې او خپلې مېړانې پر محور راڅرخي، نو ځکه خو ورته د ویاړنې د ځانګړنو له مخې ویاړنه یا فخریه کلام ویلای شو. تر لرغونې دورې وروسته په نورو دورو کې هم فخریه یا ویاړنیز شعرونه شته، خو څرنګه چې هغه زموږ د بحث موضوع نه ده، نو د ویاړنې د یوې عملي بېلګې په توګه د امیر کروړ پر همدې یوې ویاړنې بسنه کوو.

# ویرنه

ویرنه هغه ډول مانیز یا محتوایي فورم دی چې شاعر په کې د خپل دوست، عزیز، اتل یا ممدوح د مړینې، غم، درد او یا هم خپل ځان، خپلې کورنۍ او بل چا په باب غم ځرګند کړی وي، په لنډه مانا ویرنه پر غمیزه باندې د غم او درد ځرګندولو ته وایي. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې دا محتوایي فورم شته چې ښه بېلګه یې د شیخ اسعد سوري هغه قصیده ده چې د محمد سوري پر مړینې یې ویلې ده. دا شعر د شکل له پلوه یوه قصیده او د محتوا له پلوه یوه ویرنه ګڼل کېږي، د مرثیې ځانګړنې هم په کې شته، ځکه چې د محمد سوري د مرګ بیان کوي. په دې ویرنه کې شاعر لومړی د فلک له چارو فریاد کوي بیا د خپل ممدوح توصیف کوي او په پای کې ورته دعا کوي او وایي چې په جنت کې دې مکان شه. شیخ اسعد سوري په پیل کې د فلک له چارو ځکه کوکارې وهي چې د سپرلي ګلان رژوي او هر غاټول چې پر بیدیا وغوړېږي، هغه یې پاڼې پاڼې رژوي، همدا فلک دی چې ډېر مخونه یې په ځیبړو شنه کړي او ډېر سرونه یې تر خاورو لاندې ښخ کړي دي. له ډېرو واکمنو یې د واکمنۍ تاج کښته کړی او د ډېرو ښوزلو وینې یې تویې کړي دي. له فلک څخه تر شکایت او د هغه له ظلمونو څخه تر فریاد وروسته هغه ته خطاب کوي او خپلې ګیلې مانې ورته بیانوي:

څه تېری څه ظلم کاندې ای فلکه !
ستا دلاسه نه دی هېڅ ګل بې له خار

بیا ورته وایي چې په زړه کلک یې، پر غمجنو او ویرژلو د غم ناتارونه

اوروي او دې خطابې ته په همدې ډول دوامورکوي. فلک ته تر خطابي بیتونو او له هغه څخه تر فریاد او شکایتونو وروسته پر خپل ممدوح غم او خفګان څرګندوي او بیا فلک ته وایي:

کله غورځوې واکمن له پلازونو

کله کښېنوې په خاورو کې بادار

فلک نه بیا شکایت کوي او ورته ووایي چې نن دې یو ځل بیا زمـوږ پر زړونو یو غشی وویشت او په دې غشي دې په زرګونو زړونـه ژوبـل کړل، دې کار سره پر سوریو باندې وېر پرېوت او دا له همدې امله چـې محمد سوري له دې نړۍ څخه لاړ.

د شاعر په وینا د محمد سوري پر مرګ د غور ټـول خلـک ویـرمن شول او د ښار رڼا پرې تیاره شوله، له غرونو څخه د غم اوښکې څاڅي، په غرونو او رغونو کې هغه ښېرازي نه شته او نه د زرکو هغـه پخـوانی کتهار. شاعر د غم، درد، فریاد او شکایت تر څرګندولو وروسـته خپـل ممدوح ته د دعا لاسونه پورته کوي:

په جنت کې دې وتون زموږ واکمنه

هـم پـر تـا دې وي ډېر لورد غفار

دا قصیده چې له سره تر پایه ګورو، نو په هر بیت کې یـې د غـم او ویر تصویرونه ښکاري، نو ځکه ورته ویرنه ویلای شو، پـه ځینـو نـورو شعرونو کې هم د غم ساندې ښکاري، خو د شیخ اسعد سوري قصیده له پیله تر پایه د غم او ویر انګازې لري.

قصیده د محتوا له پلوه له پیله په غم او فریاد پیلېږي او په پای کې په غم او دعا پایته رسېږي. نو ځکه یې د محتوا او مانا له پلوه یوه پوره ویرنه ګڼلای شو.

# ستاینه

هغه ډول شعري فورم ته ویل کېږي چې شاعر په کې زیاتره د خپل ممدوح ستاینه کړې وي. په ستاینه کې د بریاوو ذکر کېږي، ماتې ډېرې نه یادېږي او شاعر په کې د خپل ممدوح پر بریا د خوشالۍ اظهار کوي. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د ښکارندوی غوري قصیده د ستاینې په محتوایي فورم کې راتلای شي. دا قصیده چې د پسرلي په توصیف پیل شوې، د خپل ممدوح د بریا په توصیف پایته رسېږي. ښکارندوی په پیل کې د پسرلي یادونه کوي او د هغه مناظر انځوروي. د ښکارندوی غوري قصیده ټوله (۴۵) بیته لري چې د (سلطان شهاب الدین غوري) په ستاینه کې ویل شوې ده. دا قصیده په یوه پرلپسې توصیف یا تشبیب پیلېږي:

د پسرلي ښکلو نکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طیلسان زمرودي واغوسته غرونه

د سپرلي تر ستاینې وروسته بیا د خپل ممدوح ستاینې ته راځي او د خپل ممدوح په باب وایي لکه څنګه چې چونې د جنډیو په صفتونو نه مړېږي، زه هم د سلطان په صفتونو نه مړېږم، خپل ممدوح د (شنسب) له کوره یو راختلی لمر ګڼي او داسې یو پسرلی یې بولي چې

له اوکوبه یې غرونه رغونه ودان دي. د ښندو اوروېږ تول هېواد اباد کړی، له (قصداره) تر (دېبله) یې ټوله سیمه زرغون کړې ده. په زابل چې د برې پر نیلي سور شي، نو پر (لاهور) د مېړانې ګوزارونه کوي، دښمنان ددې توان نه لري چې دده مخې ته ودرېږي، دده تورې ته ډالونه تاب نه لري، د اسلام د دین شهاب او د دین لمر دی، (تورستهان) یې په جهادونو رڼا او روښانه کړل، هر ځل او هر وخت چې دی پر هند و سند یرغل کوي، توره نړۍ په شهابونو باندې روښانوي. د قصیدې پیل، منځ او پای ټول په همدې ستاینو امتداد پیداکوي، بیا پای یې هم په ستاینو پای ته رسي او بیا خپل ممدوح ته دعاګانې کوي او وایي چې د دین شهابه لاره دې روښانه وي، نوم دې پر دریځ، مسجد او هرځای کې ځلانده اوسه:

ځو راڼه سي ستا په توره د هند لوریه
ځو چې مات کړې له نړیه بودتونونه
ستا په زېرمه دې خاونده لوی ځښتن وي
مورِ خو ستا په مرسته یونه ځو چې یونه.

دا قصیده له سره تر پایه له ستاینو او صفتونو ډکه ده، نو ځکه خو ورته د ستاینې یوه ښه بېلګه ویلای شو.

البته په پښتو لرغونو ادبیاتو کې ځینې نور داسې شعرونه هم شته چې څه ناڅه د ستاینې ځانګړنې لري، خو د ښکارندوی غوري دا قصیده تر ډېره حده دا ځانګړتیاوې لري او په تول یوه پوره ستاینیزه قصیده ورته ویلای شو.

# ساقينامه

خمريه يا ساقي نامه د شـعر يـو معنـوي ډول دی چــې د فخريـه اشعارو په فروعاتو کې شاملېږي، په دې ډول اشعارو کې به شاعرانو له ساقي څخه د شرابو ارزو کوله، د ساقي، جـام، ګـل، مـل او صـراحي صفتونه به يې بيانول، د دنيا بې وفايي به يې ښودله او شـاعرانو بـه دا ويل غوښتل چې د دنيا څو ورځې ژوندون بايـد پـه خوښـۍ، بـزم او مينوشۍ تېر شي، دا ډول اشعار په عام ډول د مثنوي په متقارب بحـر کې ويل کېدل.

د پښتو ادبياتو يو نوميـالی کـره کتـونکی (زريـن انځـور) وايـي: ((ساقينامه د ختيځ په شاعرۍ کې يوه په زړه پورې شـاعرانه ډول دی چې د شرق ډېرو شاعرانو په کې خپله شاعرانه طبع ازمويلې ده.

د فورم يا قالب له پلوه زياتره ساقي نامې د (مثنوي) په بڼـه کښـل شوي، خو د ترجيع بند او ترکيب او نورو کلاسيکو شعري قـالبونو پـه چوکاټونو کې هم د ساقينامو بېلګې شته دي.

د موضوع له پلوه زياتره (ساقينامې) د رندانــه او مســتانه شـېبو د هيلو او يا د همدغو شېبو د انعکاس په څنګ کې د نړۍ بــې وفـايي او فنا او د همدې فنا د غم له امله د ساقي څنــګ تــه د پنـاه د وروړلـو شېبې انځوروي.))(۳: ۲۳)

د لوی استاد عبدالحی حبيبي په وينا ((دې ډول شعرونو پـه عربـو

کې له پخوا څخه رواج درلود، بیا عجمي شـاعرانو دغـه ډول شـعرونه ویل او په همدې تقلیدي ډول په پارسي شاعرۍ کې د خمریه اشـعارو ویل او د ساقي نامو جوړول پیل شول او ددغو ژبو د ادبیـاتو تـر تـاثیر لاندې په پښتو شاعرۍ کې هم ساقي نامه ویل بـاب شـوي دي.)) پـه پښتو کې هغه تر ټولو پخوانۍ لاس ته راغلې ساقینامه چـې زمـوږ پـه واک کې ده، د زرغون خان نورزي ساقینامه ده چې ګـرده (۲۹) بیتـه ده. زرغون خان نورزی د نوزاد له نورزو څخه و چې پر (۸۹۱هـ) کال یې هرات، خراسان او عراق ته سفرونه وکـړل، کلـه چـې شـیباني خـان سیستان ته ورسېد، ده ورسره جنګونه وکړل، پر (۹۱۳هــ) کـال دده پښتو دېوان بشپړ شوی و، دې دېوان درې سوه پاڼې درلودې چې یـوه ساقینامه یې موږ ته رسېدلې ده، چې دلته به یې څو بیتونـه وړانـدې کوو:

ساقي پاڅه پیاله راکـړه　　مـرور یـار مـې پخـلا کـړه
او به تویې په لمبو کـړه　　اور مـې مـړ پـه دې او بـو کړه
زلفې تاوې د سنـبل کړه　　پسـرلی سـو غونچـه ګـل کـا

شاعر وایي، د پسرلي وخت دی، غونچې ګلان شوي، نـو تـه هـم د سنبل زلفې تاوې کړه، بلبلان په شور و فغان راغلي دي او پر ګلسـتان ګرځي راګرځي او کړېږي، زاهد له صومعې څخه ځي او له میخانې څخه شراب اخلي، نو هر سړی چې ګورې په میو مست دی او په دې پسرلي کې د ګلانو پالنه کوي، په غرو رغو کې لمبې بلې دي، مانا دا چې غاټول په کې غوړېدلي دي، ټول جهان سور او شین دی، وچ غرونه هم په ګلو پوښل شوي دي، هر سړی شور او خوشالي کـوي، د یـارانې غوبسـتنه

کوي. پسرلی د یارانو وخت دی او هم د پیمانې د اوچتولو مهال دی، نو بیا ساقي ته خطاب کوي چې:

نو ساقي پاڅه بهار دی نن ژوندون سبا رفتار دی

په دې ډول د پښتو دغه تر ټولو پخوانی ساقینامه د ساقینامې ویلو ټول هغه اداب او خصوصیات رانغاړي، چې شعر پوهانو دغه ډول شعرونو ته د معیار په توګه ټاکلي دي.

ددې ساقینامې مطالعه راښیي، چې دغه وخت پښتو ادبیات د نورو شرقي ژبو ادبیاتو ته ښه نږدې شوي وو.

د ویاړنې، ویرنې، ستاینې او ساقینامې ترڅنګ د حماسي او مرثیه شعرونو ځینې ځانګړنې هم شته، خو داسې شعرونه په کې نه شته چې پر هغو دې د بشپړې حماسې او یوې پوره مرثیې حکم وشي. نو ځکه دلته د محتوایي فورموو پر همدغو څلورو ډولوو (ویاړنې، ویرنې، ستاینې او خمریې یا ساقینامې) او د هغو پر اړوندو بېلګو بسنه کوو.

# د لسم څپرکي لنډيز

د پښتو ادبياتو په لرغونې دوره کې د ځينو معنوي فورمونو بېلګې زياتې څرګندې دي، وياړنه يا فخريه چې د امير کروړ شعر يې ښه بېلګه ده، (ويرنه) چې د شيخ اسعد سوري قصيده يې ښه بېلګه ګڼلای شو، (ستاينه) چې د ښکارندوی غوري قصيده يې ښه بېلګه ده او ساقينامه چې د زرغون خان نورزي مثنوي يې څرګنده بېلګه ده. د امير کروړ د شعر محتوا پر ځان باندې د باور، ځان ستاينې او پرځان باندې د وياړ پر محور راڅرخي. شاعر پرځان فخر کوي او خپل ځان په خپله ستايي. د شيخ اسعد سوري ويرنه بيا د هغه د ممدوح، دوست او د غور واکمن (امير محمد سوري) د غمګين ژوند داستان او د هغه د پاچاهي ړنګېدو ته ځانګړې شوې، چې له پيله بيا تر پايه له غمه ډکه ده او په قصيده کې يو غمګين داستان بيانوي. د ښکارندوی غوري ستاينه بيا د (سلطان شهاب الدين غوري) ستاينې ته وقف شوې او پر هند باندې د هغه يرغل او فتحې ستايي. قصيده ټوله له ستاينې ډکه ده او د خپل ممدوح پر ستاينې راڅرخي. د زرغون نورزي ساقينامه بيا د ساقي، ميو، ميخانې، ګل ومل، پسرلي، عيش او عشرت پر چورليز راڅرخي.

د پورته معنوي فورمونو ترڅنګ د رزم او بزم او د ژوند د نورو ډګرونو په محتواوو سمبال د ځينو نورو شعرونو بېلګې هم په لرغوني دوره کې محسوسې دي، خو دلته د همدغو څلورو ډولونو معنوي فورمونو پر يادونې بسنه کوو.

# د لسم څپرکي پوښتنې

- د امیر کروړ شعر د معنوي فورمونو په کوم ډول کې راځي؟
- معنوي او شکلي فورمونه یو بل سره څه ډول اړیکي لري؟
- ویرنه څه ته وایي او پښتو لرغونې ادب کې چا ویرنه ویلې ده؟
- د ویاړنې او حماسې ترمنځ څه توپیر موجود دی؟
- ستاینه کوم ډول معنوي فورم دی، په پښتو لرغوني ادب کې یې بېلګه په ګوته کړئ؟
- ساقینامه څه ډول معنوي فورم دی، پښتو کې لومړۍ معلومه ساقینامه چا ویلې ده؟

# یوولسم څپرکی

## د لرغونو ادبیاتو فکري ځرنګوالی

د ادبیاتو یوه ځانګړنه داده چې د هغې پـه هنـداره کـې هـر څـه ځلېږي، په همدې خاطر ادبیاتو ته د یوې ټولنې ((وجدان)) هـم ویـل کېږي. وجدان ورته ځکه وایي چې په ادبیاتو کې دروغ نه ویل کېږي، د ادبیاتو اساس پر واقعیت او رښتیا ولاړ دی. ټولنپوهان په دې نظـر دي چې که غواړې د یوې ټولنې متن، بطن، زړه او ذهن مطالعه کړې او هغه وشنې، نو بایده دي چې ادبیات یې مطالعه کړې. د ادبیاتو د مطالعې له لارې موږ د اړوندې ټولنې روحیاتو ته ورداخلېدی شو. طبیعي خبره ده چې د هرې ټولنې په ادبیاتو کې تنوع او فکري رنګارنګي موجوده وي. همدا فکري رنګارنګي ددې سـبب ګرځـي چـې د ټـولنې د بېلابېلـو ډګرونو انځورنه وکړي. پښتو ادبیات په تېره بیا د لرغونې دورې ادبیات هم طبیعتاً دا رنګارنګي لري. پښتو ادبیات له خپل چاپېریال څخه رنګ او خوند اخلي، څه چې د ټولنې په متن کې دي هغه د پښتو شـاعرانو په کلام کې ځلېږي، کله چې جګړه پېښه شـوې، نـو د رزمـي افکـارو

انعکاس په کې ښکاري، که د بزم دوران راغلی، بیا د بزم رنـګ اخلـي، که د ویاړ او فخر پړاو راغلی، نو بیا پرځان باندې د باور روحیه پیـاوړې شوې، ویاړنې رامنځته شوي، ملي افکارو وده کړې او دا افکار په شـعر کې ځلېدلي دي، دیني تفکر چې زموږ ولس ورته ډېر معتقـد دی، پـه پښتو لرغوني ادب کې په څپو دی، یـانې دا چـې بېلابېـل، اسـلامي، غنایي، حماسي، ملي او نور افکار په کې ځلېږي. دلته غواړو په پښـتو لرغونې شاعرۍ یا لرغوني ادب کې همدې رنګارنګیو ته نغوته وکـړو او غټو برخو ته یې لږ تم شو:

# اسلامي افکار

په پښتو ادبیاتو کې د اسلامي افکارو څرک د څلورمې هجري پېړۍ نیمايي ته رسي. په همدې وخت کې لودي شاهانو د اسلام د تبلیغ لپاره هرې خواته هلې ځلې وکړې دا هلې ځلې که له یوې خوا د تورې تر سیوري لاندې وې، نو بله خوا د فکر پلوشې هم ورسره مل وې، دا فکري پلوشې د شیخ رضی لودي او نصر لوددي په پاړکو کې هم ډېرې ښې ځلېږي، چې د دواړو د مناقشې اصلي علت اسلامي فکر و او دیني گروهه وه. بیا په همدې پېړۍ کې د ببټ نیکه مناجات دي چې همدا دیني اسلامي روحیه لري او تر هغه وروسته د شیخ اسمعیل یو پاړکی دی چې وايي:

تېښته وکړه له ابلیسه　　　چې ابلیس لعین ښکاره سي
هلته ورکه پلوشه شي　　　تول نړۍ توره تیاره سي

نو حل لاره هم همدا گڼي چې:

که هر چا ابلیس خرڅ کړ　　　نو یې هله نندا ره سي

بیا د شپږمې هجري پېړۍ په جریان کې د اسلامي فتوحاتو کارنامې او د اسلام د مقدس دین د خپرولو لپاره د غوري افغان شاهانو هڅې زمونږ د هېواد او منطقې په تاریخي کتابونو کې راغلي دي.

د غور شاهانو چې د هندوستان ځمکو ته د اسلام د مقدس دین د خپرولو په منظور لښکرې ورلېږلې. په دغو لښکرو کې د پوځ ترڅنگه

علما، اسلامي مبلغین، شاعران او صوفیان هم شامل وو، لکه دمخه مو چې یادونه وکړه، د پښتو ژبې شاعر (ښکارندوی غوري) به هم د (سلطان شهاب الدین غوري) له لښکرو سره ملګری و.

د پښتو ادبیاتو کومې پخوانۍ بېلګې چې تر موږه رارسېدلې دي، په هغو کې ځینې داسې اثار شته، چې د اسلام د خپرېدو او اسلامي فتوحاتو د ملاتړ لپاره ویل شوي دي. د اسلامي فاتحانو ستاینه یې کړې ده او د اسلام په ننګه د جنګېدونکو اسلامي لښکرو د هڅولو او پارولو هڅه په کې شوې ده. ددغسې خصوصیاتو لرونکې یوه د ملکیار غرشین سندره ده، ملکیار غرشین په خپله سندره کې وایي:

ځښتن مو مل دی اوس مو یرغل دی هېواد د بل دی
غازیانو ګورئ ځښتن مو مل دی

بیا خپلو پلویانو ته وایي چې:

تورې تېرې کړئ دښمن مو پرې کړئ منګولې سرې کړئ
څله به تښتو ځښتن مو مل دی

هغه بیا پر خپلو سرتېرو او خپلو ملاتړو باندې غږ کوي چې برى زموږ په برخه دی، زړونه او هوډونه ورته ټینګ کړئ:

که ټینګ کړو زړونه په بري یونه چې زمري یونه
اسلام راخخه دی ځښتن مو مل دی

ملکیار غرشین په پای کې پر خپلو غازیانو غږ کوي چې د سلطان شهاب الدین غوري ملا وروتړئ، د دښمن ملا غوڅه کړئ، لوی ځښتن زموږ مل دی او موږ ته به بری راکوي:

غازیانو راسئ ټول شاوخواسئ د شهاب په ملا سئ
دښن مو غوڅ کئ ځښتن مو مل دی

د ملکيار غرشين دا سندره ددې سبب شوه چې پښتانه غازيان پــه جګړه کې برى ومومي. دا جګړه د اسلامي مفکورې پر بنســټ ولاړه ده او شاعر هم په دې عقيده دى چې څښتن يې مل دى او دوى د اســلام د بريا او د الله تعالى د رضا لپاره مبارزه او جګړه کوي.

دا لوړه سندره د خپل جوړښت له پلوه د پښتو په لرغونــو ســندرو کې شامله سندره ده او شاعر د اسلامي لښکرو د روحيې د لوړولو او د اسلام په ننګه جنګ ته د دوى د هڅولو په منظور ويلې ده.

لکه څنګه چې مو د ملکيار غرشين په پېژندنه کې ويلــي وو، چــې دى د پښتنو غرشين قبيلې ته منســوب دى او د پښــتو پــه ادبــي او تاريخي خېړنو او د صوفيانو او علماوو په تذکرو کې د (ملکيار غرشين) په نامه شهرت لري.

ملکيار غرشين د سلطان شهاب الدين غوري د زمــانې ســړى دى، کله چې سلطان شهاب الدين غوري د اسلامي فتوحاتو په منظــور پــر هندوستان لښکر کشۍ کولې، نو دغه شاعر او عارف هم دده ملګرى و. څنګه چې سلطان شهاب الدين لومړى ځل پر (۵۷۱ هـــ ق) کــال پــر ملتان حمله کړې وه، نو دغه رزمي سندره هم زموږ د ادبي مورخانو په اثارو کې ددغه وخت ګڼل شوې ده. د ملکيار غرشين په شان (تايمني) هم د خپلې زمانې د واکمن (سلطان غياث الدين غوري) ستاينه کــوي او وايي چې د اسلام دين دده په توره روښان دى:

### د تايمني سندره:

نن زه ږغــېږم پــه صفــت د سلطــان      چې دى بادار غــازي ملک د جهــان
د فيروز کوه او غــور رڼــا لــه ده ده      هــم د تېــرو تــورو برېښــنا لــه ده ده
چې توره وکاږي چړتون کړي خالي      غليم يې کله کړي پــه تــوره سيالي

غیــاث الدین د غور زمری عالیشان
د اســلام دیــن دده په تــوره روښــان

شاعر وايي، ما د داور په ځمکه د ارم باغ وليد چې د جنت په څېـر ښه ښېرازه بڼ و، د فیروزکوه په شان ودان او هر ګل یــې لــه خوښــۍ څخه خندان و، د اوبو ابشارونو دلته اوازونه کول، اوبو ســردونه ویــل، دې ښکلا ته هر سړی حیران ولاړ و او د خدای پــاک د بــاغ و بســتان ننداره یې کوله. تایمني هم د طبیعت ســتاینه کــوي او هــم ســلطان غیاث‌الدین ستايي چې د توري په برکت یې د اسلام دین روښــانه دی، تایمني د خپل شعر په وروستي بند کې سلطان غیاث الدین د جهــان لمر ګڼي، دده په توره هند کې د اسلام دین وغوړېد، دا داسې یو واکمن و چې کله به په غور کې پر اس سور شو، نو پر کافرانو به ناورین راغی او بیا وروسته دعا کوي چې په هر میدان دې دده بری او کامیابي په برخه وي:

غــــیاث الــــدین د جــــهان لــــمر دی نــــا
عــــالم لــــه ده ډېــــر بهــــره ور دی نــــا
هــــند یــــې روښانــــه پــــه اسلام کــــئ نــــا
لــــه ځــــانې خــــوښ خیرالانــــام کــــئ نــــا
چــــې یــــې پــــه غــــور کــــې نیلــــي زیــــن کــــئ نــــا
پــــر کــــافرانو یــــې نــــاورین کــــئ نــــا
تــــل دې بــــری وي د غــــازي پــــر مــــیدان
زه تــــایمني ستاینــــه کــــړم د ســــلطان.

د ملکیار غرشین او د تایمني ددې شعرونو ارزښت په دې کــې دی

چې د اسلام د مقدس دین د خپرېدو او اسلامي فتوحاتو پــه ملاتــړ او درناوي ویل شوي دي. همدا دوه پښتو سندرې زموږ په واک کــې دي، چې دواړه د شپږمې هجري پېړۍ پــه دوران کــې ویــل شــوې دي، دا سندرې دغه لاندې ځانګړنې لري:

۱) په دې دوو سندرو کې د ملکیار غرشین سندره د پښتو د لرغونو سندرو په قالب کې ویل شوې او بله د تایمني سندره د پښتو د ولســي شاعرۍ له انواعو څخه د یوې ساده چاربیتي په قالب کې جوړه شــوې ده.

دلته د ویلو وړ خبره داده چې د تایمني تــر چــاربیتې دمخــه بلــه پخوانۍ چاربیته موږ نه لرو او یا تر اوسه نه ده کشف شوې.

ددې چاربیتې موجودیت موږ ته راښیي، چې د شــپږمې پېــړۍ پــه جریان کې زموږ د شاعرۍ ملي لرغونو اشــکالو ورو ورو خپــل ځــای د پښتو د ولسي شاعرۍ اوسنیو اشکالو تــه پرېښــوده او چــاربیتې لــه شپږمې هجــري پېــړۍ راپــدېخوا د پښــتو پــه ولســي شــاعرۍ کــې رانښلېدلې دي.

۲) په دې سندرو کې د ملکیار غرشین ســندره د ســلطان شــهاب الدین د اسلامي فتوحاتو په یوې تاریخي پېښې پــورې مربوطــه ویــل شوې ده، هغه پېښه مورخینو داسې راوړې ده:

یو ځل د سلطان پر لښکرو د کفر د لښکرو قوت زیات شو او نــږدې وو چې د اسلام لښکر ماتې وخوري، نو د پښتو شاعر (ملکیار غرشین) چې په دې لښکرو کې شامل و، دا سندره وویله چې اسلامي لښکر یې جنګ او مېړانې ته وهڅاوه او مسلمانان، لکه زمریان د کفر پر لښــکرو راتوی شول او سوبه د افغان سلطان شهاب الدین غوري د لښکرو پــه

نصیب شوه.

زمور شاعر د لښکرو د هڅولو او پارولو لپاره ډېر مناسب کلمات پــه خپله سندره کې استعمال کړي دي، چې اوس هم د پارولو خاص قــوت لري.

د تایمني سندره، سره له دې چې درې بنده یې زمور پــه واک کــې دي، د سلطان غیاث الدین غوري په ستاینه کې ده، دده د پاچهۍ شان و شوکت او دبدبه یې ستایلې ده، خو د سندرې په موجود متن کې یــو بند داسې هم راغلی دی، چې په هند کې دده اسلامي فتوحات په کې ستایل شوي دي او د اسلام د خپرېدو په لړ کې ددغه سلطان هڅه هم ستایل شوې ده.

۳) ددې دواړو سندرو غټ ارزښت په دې کــې دی، چــې پــه دواړو سندرو کې بیان شوي موضوعات او مسایل له تاریخي پېښو سره ســل په سلو کې سمون لري او د غوریانو د عصر په مشهور تــاریخي کتــاب، (طبقات ناصري) او نورو ډېرو تاریخي کتابونو کې دغه مسایل او وقــایع چې زمور د دغو شاعرانو سندرې ورپورې اړه لري، ټول په تفصیل سره بیان شوي دي.

۴) دا سندرې سره له دې چې په کمي لحــاظ ډېــرې نــه دي، خــو کیفیت یې لوړ دی او هغه هم په دې مانا چې په شپږمه هجــري پېــړۍ کې زمور د ولس رزمي روحیه او د غور د افغــان شــاهانو لــه حربــي او اجتماعي کارنامو سره د پښتنو شاعرانو علاقه او مینه ترې څرګندېږي، د غور د افغان شاهانو دبدبه، جلال او شوکت مور ته راښــیي او هــم د اسلام له مقدس دین سره زمور د خلکو او مشرانو د مینې ښکارندویي کوي. لکه څنګه چې مو په پیل کې یادونه وکړه، په لرغوني ادبــي دوره کې پر ملکیار غرشین او تایمني سربېره زمور د نورو شاعرانو په کــلام

کې هم اسلامي او عرفاني افکار له ورایه څرګندېږي، د بېټ نیکه د مناجاتو روح هم اساساً پر اسلامي تفکر ولاړ دی، انسان او په تېره بیا عابد انسان له خدای(ج) څخه په زاریو خپل مقصود غواړي او ورته وایي دا وګړي ډېر کړې خدایه- لویه خدایه لویه خدایه. د شیخ رضی لودي او نصر لودي ترمنځ مناقشه، اندېښنه هم له اسلامي افکارو الهام اخلي، د تشویش غته خبره هم همدا وه چې شیخ رضی لودي پر نصر لودي باندې شک څرګندکړی و چې ګنې دی له خپلې ګروهې اوښتی او نصر لودي بیا هغه د دښمنو دسیسه بولي او د خپل تره زوی ته وایي چې دی له خپلې عقیدې نه اوړي، (له اسلامه نه پرېلمه- تورانو څخه په ترپلمه یم) او بیا د خپل تره زوی شیخ رضی لودي ته وایي: (د دښنو وینا مه مغږده- زه لودي یمه څو زه یم). د سلیمان ماکو د تذکرې د لیکلو علت هم اسلامي افکارو ته ورګرځي، (مراقد د اولیاوو به مې پلټل). د شیخ متي شعر خو سر ترپایه د اسلامي عرفان په ګاڼه سمبال دی. د زرغونې کاکړ حکایت هم د اسلامي اخلاقو پر محور راڅرخي، د بي بي نېکبختې په کلام کې هم ستر اسلامي پیغامونه او اخلاق ځای پرځای شوي، د دوست محمد کاکړ، شیخ عیسی مشواڼي، شیخ سرور لودي، شیخ بوستان او نورو په کلام کې هم اسلامي افکار څرګند دي، پښتو ادب د لرغونې دورې یو زیات شمېر شاعران په حقیقت کې همدا شیخان، دیني موعظین او مذهبي مبلغین دي، پر هر یوه په خپل ځای کې پوره بحث شوی دی. لنډه دا چې د اسلامي افکارو برخه په پښتو لرغوني ادبي دوره کې خورا زیاته او ډېره درنه ده.

# غنایي افکار

د پښتو د لرغونو ادبیاتو په لاس ته راغلو نمونو کې موږ د شـپږمې هجري پېړۍ په بهیر کې ځینې داسې ببلګې هم ترلاسه کوو، چې پـه هغو کې یوه سپېڅلې، خو سوځنده مینه انګازې کوي.

ددغسې اورنیو عشقي احساساتو لرونکې ادبي ببلګې موږ ته یوه د سلیمان ماکو له تذکرة الاولیا او بله له پټې خزانې څخه ترلاسه شـوې دي، چې په لاندې ډول به خبرې ورباندې وکړو.

له دغسې سندرو څخه یوه سندره د شیخ تیمن کاکړ ده. دا سړی د (سلطان علاوالدین حسین سام) معاصر و او د (۵۵۰هـ ق) کال شاوخوا یې د ژوند زمانه ده. دی په (ږوب) او د پخواني غور د (کجران) په سیمو کې اوسېدلی دی. دده یوه سندره د پټې خزانې مولف رانقل کـړې ده، شیخ تیمن کاکړ په دې سندره کې وایي:

ګهـــــیځ رنـــا د لمـــــر خپـــــره ســــوه
زمـــا پـــــر کــــور د ویـــــر نـــاره ســــوه
د ببلتـــــون ورځ تــــوره تیـــــاره ســــوه
ږغ ســــو ناڅاپــــه چـــــې ببلتـــــون راغـــــی

شیخ له ببلتون څخه فریاد کوي او ببلتون یوه ویرنه بولي او وایي چې:

زړه مــــــې لـــــه دې ویرنـــــې شــــین دی
پـــــــه ژړا ژاړم څـــــــه نـــــاورین دی

زرغـــــون لـــــه اوښـــــو مـــــې ســـــادین دی
پـــــه نـــــول نـــــولېږم چـــــې تـــــاخون راغـــــی

هغه د خپلې معشوقې وصال ته د یوه ستر ارمان په سترګه ګوري او وايي کاشکې چې ژوندی یم چې شهۍ (معشوقه) یې غبږ ته ورشـي او له ده سره پخلا شي، دی د همدې ورځې په ارمان دی خو وايـي چـې اوس له ده څخه دده د معشوقې د بېلتون زمانه ده:

نـــــه بـــــه بیـــــا یـــــم نـــــه بـــــه بیـــــا راســـــي
نـــــه بـــــه تیـــــاره شـــــپه زمـــــا رڼـــــا ســـــي
نـــــه بـــــه شـــــهۍ راتـــــه پخـــــلا ســـــي
بېلبـــــرې پېـــــر یـــــې اوس د یـــــون راغـــــی

خو دی بیا د تګ پرمهال هم خپلې معشوقې ته زاري کوي او ورتـه وايي چې په تګ خو ځې خو د خدای لپاره چې لاړه هم شې، نو چې زه دې له یاده ونه وځم او هېر مې نه کړې:

د ښېـــــتن پـــــار دی هېـــــر مـــــې نـــــه کـــــړې
آغلیـــــه مـــــخ چـــــې پـــــه یانـــــه کـــــړې
اور بـــــل دې پرېښـــــوی واتـــــه کـــــړې
پـــــر مـــــا د بـــــل اور کـــــړاوون راغـــــی.

دغه سندره د هغو بدلو ابتدايي شکلونو ته پاتېږي، چې په کنـدهار او ددې سیمې په شاوخوا منطقو کې په خاص شور او جذب او ځانګړې لحن (غاړه) ویلې کېږي او په دې سیمو کې یې سپرې بدلې بولي.

د شیخ تیمن په دې بدله کې یوه مینه او یوه سپېڅلې پښتنې مینه ځپې وهي او په خورا پرېولو الفاظو کې یې خپله مینه بیــان کــړې ده، لوست یې اوس هم پر لوستونکي او اورېدونکي خاص اغېز ښندي.

د پښتو بله عشقي سندره چې تر موږ رسېدلې ده، هغــه د (قطــب الدین بختیار کاکي) خوندوره زړه سندره ده.

لکه څنګه چې دده په پېژندنه کې مو ویلي وو، قطب الدین د احمد زوی د موسی لمسی دی، کورنۍ یې له بختیارانو څخه (سند) ته تللــې او د سند پر (اوچ) کې اوسېدلې ده. بختیاران د پښتنو یوه ستانه قبیله ده، چې د پښتنو د انسابو په کتابونو کې یې یادونه شوې او کورنۍ یــې اوس هم په کندهار او د سلیمان د غره په لمنو کې اوسي. قطب الــدین پر (۵۸۰هـ ق) کال زېږېدلی دی، د اســلامي معــارفو او عرفــان لــوی مراتب یې ګټلي وو او په هندوستان کې شــهرت تــه رســېدلی و. پــه (مرات الافاغنه) کې یې قطب الدین بختیار (د قطب افغــان) پــه لقــب ستایلی دی.

د قطب الدین بختیار کاکي یوه د مینې سندره ســلیمان مــاکو پــه تذکره الاولیا کې راوړې ده، چې له څو بندونو جوړه ده، هغه وایي:

ویـــــر مې زړه سوری سوری کړ راتــــــــه وګــــــوره ملوکې
پـــه بـــبلتون کـــې دې وباسم له خوږمنه زړګـــــــــی کوکې
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

بختیار بیا بېلتون داسې یو اور ګڼي چې هــره شــېبه دده زړګــی سوځي او دی خپلې مینې دومره لېونی کړی چې د پېلوځي په شــان

لمبې ترې پورته کېږي:

د بــــــېلتــــــون اورونه بل دي　　　هر ګړۍ مې زړګی سوځي
لـــــېونـــــی یــــــمه د مــینـــې　　　سوځم زه لــــــکه پلوځې

نو ځکه خو پر خپلې معشوقې ټینګار کوي او ورته وايي چې:

راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

بیا خپلې معشوقې ته په خطاب کې وايي چې کله ته خپل اوربــل غوړوې، نو دا کار زما پر زړه اور بلوي او د همدې اور له امله زه خاورې ایرې کېږم او په دې اور مې ګوګل سوځي، نو ځکه خو د مهربـانۍ لـه مخې راته وګوره:

غــوړېــدلی دي اوربـــــل دی　　اور زمـــــــا په زړګی بل دی
زه بــختیار خاورې ایرې سوم　　په اور سوی مــــې ګــوګــل دی
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

د بختیار دا سندره که څه هم ډېره ساده ده، خــو د اســتاد الفــت خبره، یو موثر شعر او ښه نغمه ده او له یوه خوږمن زړه نه راوتلې ده.

د عشق او محبت د دغو دوو زړو ترلاسه شویو پښــتو ســندرو لــه مطالعې څخه موږ دواړو سندرو ته دغه لاندې خصوصیات ټاکلای شو:

۱) د عشق او محبت دغه دوه سندرې چې شاعران یې په شــپږمې پېړۍ کې اوسېدلي دي او د یوې شاعر د اوومې پېړۍ د لومړۍ نیمــایي ډېر کلونه هم ژوندی و، د خپلو شکلي خصوصیاتو له پلوه یوه ســندره یا د پښتو بدلې لومړنی شکل دی. د بدلې دغه ابتدایي بڼه مــوږ تــه دا

خبره هم رابښيي، چې زموږ د ولسي شعر د معمولو ژانرونو، لکه بدلې او چاربیتې د تشکل زړي همدا وخت زرغون شوي دي. خو د قطب الدین بختیار کاکي سندره خپل لرغوني شکلي خصوصیات لري او موږ یې په خپلو لرغونو سندرو کې حسابوو او دا ددې ښکارندویي کوي چې په لرغونې ادبي دوره کې پښتو خپل شعري فورمونه ددې جوګه وو چې د ژوند د هر ډګر افکار او غوښتنې منعکس کړي.

۲) ددغو دوارو سندرو ژبه ډېره روانه او ساده ده، خو ځینې داسې لغات په کې راغلي دي، چې د پښتو په ځینو لهجو کې ښایي موجود وي، خو په عامه پښتو کې نه شته. په همدې ساده لغتونو کې بیا ژوره مینه په ښه ډول انځور شوې ده.

۳) په دوارو سندرو کې عشق او مینه بیان شوي دي. دا مینه سوځنده ده، ښایي ځینې خلک یې د یو معشوق مینه وبولي او ځینې بیا په دې عقیده دي، چې په دې سندرو کې د سوځندې الهي مینې انګازې خورې دي.

په هر صورت د دوارو ډوله مینې احساس ځنې کېدی شي. پر شیخ تیمن کاکړ او قطب الدین بختیار کاکي سربېره د بابا هوتک زوی د (ملکیار هوتک) هم (ترنک) ته یوه عشقي سندره ویلې ده چې پټې خزانې خوندي کړې ده.

د ملکیار هوتک یوه خوندوره سندره پټې خزانې راوړې ده، چې دادی هغه هم دلته راوړل کېږي:

ترنک بهېږي ترنک بهېږي غاړې تر غاړې
زما زړګی خو خپل لالی غواړي

مکلیار هوتک بیا ترنک ته خطاب کوي او ورته وایي چې خدای خو

دې وچ کا چې زه خپل مقصد ته ورسېږم او خپله سوده ومومم:

که روده روده     د ترنک روده     خاوند دې وچ کا
چې زړګی مومي     زما خپله سوده

ملکیار، بېلتون یو سېلاب ګڼي او زړه نېزه وړی چې د سېلاب څپو پسې اخیستی دی:

که نېز دی نېز دی     نېز د بېلتون دی     زړه نېزه وړی
په ویر ژړلی     په غم زبون دی

که اور دی اور دی     په زړه مې اور دی     دا اور به وچ کا
د ویر نېزونه     بل ډېر په زور دی

شاعر بیا سپوږمۍ ته خطاب کوي چې خپلې معشوقې ته یې سلام ورسوي:

نمنځه یوسه     سپینې سپوږمیه     ورته ووایه
چې ترنک ټال کړم     ستا له خولګیه

بیا د سېلاب خړو اوبو ته خطاب کوي چې ستاسو له لاسه ملکیار له خپله یاره جلا دی او دا جلا والی ده ته د زغم وړ نه دی:

که خړو خړو     اوبو سوان کړئ     بېل ملکیار دی
پاتې له یار دی     سوب یې جانان دی.

د ملکیار هوتک تر سندرې وروسته موږ په پښتو ادبیاتو کې هغه سندرې چې پوهانو د پښتو لرغونې سندرې بللې دي، نه لرو. د ملکیار سندره ددې ډول سندرو وروستۍ سندره ده، چې د یوې سوځنده مینې بیان په کې په خورا ښکلې بڼه کې وړاندې شوی دی.

دا سندره په خورا ساده ژبه د محبت د یوه سوز په ملتیا له یاره د یوه بېل مین د زړه خبرې دي. دا سندره د پښتو په زړو عشقي سندرو

کې خپل ارزښت لري، خو پر دې زړو سندرو سربېره د پښــتو لرغــونې شاعرۍ د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم غنايي افکار ځلېږي. د اکبــر زمینداوري مثنوي:

(زه عاشق يم يار هم نيز - نور څه نه لرو تميز)، د هغه یوه بدلــه (زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم - زه د هجران د ببلتتانــه د تورو جنګ لره ځم) او همدارنګ د هغه دوه غزلونه:

(د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم
د عشق وير به تل په خپله پټول کړم)

او (چې مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم- د ببلتون له ببري زړه زېر و زبر وړم) کې هم ظاهراً غنايي افکار په څپو دي او د نورو شاعرانو، لکــه (شيخ بستان بړېڅ، علي سرور لودي) او نورو شعرونو کې هم د غنــايي افکارو څرک ليدل کېږي نور.

# حماسي افکار

د اوومې پېړۍ د دويمې لسيزې په جريان کې (۶۱۷هـ ق) د افغانستان پر ځينو ښارونو او اسلامي فرهنګي مراکزو د چنګېز د تالانګرو لښکرو حملې پيل شوې. د دغو تباه کارو لښکرو د جنګونو، وحشت او تالان په نتيجه کې ښارونه پر کنډواله بدل شول، انسانان ووژل شول او فرهنګي مرکزونه ويجاړ شول. عالمان، شاعران او د فرهنګ لوی شخصيتونه يا ووژل شول او يا د خپلو ټاټوبو پرېښوولو ته اړ شول، کتابتونونه او کتابونه له منځه ولاړل.

دغه وخت زموږ په هېواد کې د غزنويانو او غوريانو شاهي کورنيو واک ختم شوی و؛ پر شمالي برخو يې خوارزمشاهانو حکومت کاوه، پر سيستان او شاوخوا سيمو د نيمروز محلي واکمنان مسلط وو، په هرات کې (آل کرت) حکومت درلود او د افغانستان په ختيزو برخو کې ځينې داسې کسان واکمن وو، چې پخوا غوريانو ګومارلي وو.

چنګېز او دده اولادې د اوومې پېړۍ په جريان کې زموږ د هېواد پر بېلابېلو برخو حاکميت درلود او په ډېره بېرحمۍ يې ددې هېواد بېوزلي ولسونه وژل او د تمدن او فرهنګ نښې يې له منځه وړلې، خو له دغو ټولو بېرحميو سره سره زموږ د هېواد په بېلابېلو برخو کې د چنګېز او بيا د چنګېزي لښکرو پر وړاندې مقاومت روان و. زموږ د هېواد نوميالي مورخ ارواښاد مير غلام محمد غبار په خپل کتاب (افغانستان در مسير تاريخ) کې د چنګېز او دده د اولاد د تالان او تاړاک پر وړاندې د

افغانستان د بېلابېلو سیمو د خلکو د مقاومت بیانونه وړاندې کړي دي.

څرنګه چې پښتون په سیمه کې یو جنګیالی او توریالی ولس و، نو د یرغلګر پرووړاندې یې مقابلې ته وردانګلي دي، د مقاومت دا روحیه په ادبیاتو کې هم منعکس شوې ده. چنګېز او دده د اولاد او بقایاوو د لښکرو پر وړاندې د مقاومت موضوع هم د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې منعکس شوې ده.

محمد هوتک په پټه خزانه کې د بابا هوتک یوه داسې سندره راوړې ده، چې د مغلو د تالانګرو لښکرو پر وړاندې د افغانستان د یوې سیمې د پښتنو د مقاومت څرکونه ځینې ایستل کېږي، هغه سندره داده:

پـــــر ســــــور غوبـــــل راتـــــه نــــن اور دی
وګړیـــــــه جــــــوړ راتـــــــه پیغـــــــور دی
پــــر کلــــي کـــــور بانـــــدې مغــــل راغــــی
هـــم پـــه غزنـــي هـــم پـــر کابـــل راغـــی

بابا هوتک د مغلو د همدې وحشیانه یرغل د شنډولو په خـاطر پـه خپلو پښتنو غږ کوي او ورته وایي چې:

غښـــتلیو ننـــګ کـــړئ دا مـــو وار دی
مغـــــل راغلــــــی پـــــه تلــــوار دی
پـــه پښــــتونخوا کـــې یـــې ناتـــار دی
پــــر کلــــي کـــــور بانـــــدې مغــــل راغــــی

بابا هوتک بیا د مرغې پر ژوبلورو او غښتلو غږ کوي چې راپـاڅئ او

د پښتونخوا پر ننګه ودرېږئ او خپلې تورې تر ملا وتړئ:

آ د مرغـــــــــې غښـــــــتلیو راســــــــئ
پــــــر ننــــــګ ولاړ د پښــــــتونخوا ســــــئ
تـــــورې تېـــــرې غشـــــي تــــر مـــــلا ســــئ
پــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

خپلو ځوانانو او زلمو ته خطاب کوي چې خپل ټټرونه سپر کړئ پـه تورو کلک ګوزارونه وکړئ ځکه چې زموږ پر کور او کلـي مغلـو یرغـل کړی:

زلمــــــو پــــــه غشــــــیو کــــــړئ وارونــــــه
د تېــــــرو تــــــــورو ګوزارونـــــــــــــه
ور وړانــــــدې کــــــړئ خپــــــل ټټرونــــــه
پــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

بابا هوتک د مغلو ظلم غندي او وایي چې دوی زمـا د زلمـو وینـې بهوي، سمه او غرونه پرې سره کوي، خو دې سره سره هغـه د پښـتنو زلمو تورو ته نه ټینګېږي او ځغلي:

زمـــــــا د زلمـــــــو وینـــــــې بهېـــــــږي
ځمکــــــې او غرونــــــه پــــــه ســــــره کېــــــږي
میرخــــــــی ځغلــــــــي او ترهېــــــــږي
پــــر کلـــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

په دې ترخ کې پښتنو ته خطاب کوي:

پښــــتنو هلــــئ پــــه غــــره جنــــګ دی
ســــور غــــر پــــه وینــــو د دوی رنــــګ دی

مهـــــال د تـــــــورې دی د ننـــــــګ دی
پـــــر کلـــــي کـــــور بانــــدې مغـــــل راغـــــی

په پای کې يوځل بيا پر پښتنو زلمو غږ کوي چې پر ننګه ودرېږئ، پر ننګه او غيرت ځانونه مړه کړئ، د خپلو پښتنو کلي،غرونـه او ځمکـه وساتئ او دښمن په خپلو غشو وپيیئ:

زلمــــو پـــــر ننـــــګ ځانونـــــه مـــــړه کـــــړئ
دښـــــن پـــــه غشـــــيو مـــــو پيیـــــه کـــــړئ
د پښـــــــتونخوا ځمکـــــــې ســـــــاته کـــــــړئ
پـــــر کلـــــي کـــــور بانــــدې مغـــــل راغـــــی.

د پټې خزانې له بيان سره سم هر کله بــه چــې د مغلــو لښــکرو د (ارغنداو)، پر غاړو لوټ کاوه د (اتغر) او (بولان) سيمې به يې تالا کولې، نو ددې سندرې ويونکي (بابا هوتک) خپل خلک راټول کــړل او ســره غره ته ندېږدي يې له مغلو سره جنګونه وکړل.

په دې جګړه کې د پښتنو قوت لږ و او غليم ډېر و، خو کله چې بابــا هوتک په لوړ اواز دا سندره وويله نو زلمي به په جګړه کــې تودېــدل او سوبه د پښتنو په نصيب شوه.

دا سندره د خپل شکلي جوړښت له پلوه زموږ ادبپوهانو د پښتو په لرغونو سندرو کې حساب کړې ده. د مضمون له پلوه يې محتوا رزمــي ده، چې د پردو لښکرو او تالانګرو په مقابل کې د وطن د دفاع مفکوره په کې منعکس شوې ده او خلــک يــې د پــردو د تســلط پــر وړانــدې مقاومت ته رابللي دي.

که چېرې موږ د پښتو په لرغونو ادبياتو کې د مقاومــت د مضــمون لرونکو ادبياتو لټون کوو، نو څرک يې تر هر چا زيات د بابا هوتــک پــه

سندره کې ایستلی شو.

د بابا هوتک زوی شیخ ملکیار هوتک، چې د زېږېدو کال یې د پټې خزانې د لیکنو له مخې (۷۱۵هـ ق) راوزي. د پښتو یو داسې شاعر دی، چې که د مقاومت سندرې یې تر موږ نه دي رسېدلې، خو ده خپله د مقاومت په جنګونو کې شرکت درلود.

ملکیار هوتک تر خپل پلار وروسته د خپل قوم مشر و او د خپلو خلکو د ابادۍ لپاره یې کارونه وکړل او کله چې د پردو یرغلونه د (سیوري) پر سیمه شروع شول. ملکیار هوتک له پردو سره د پرله پسې مقاومت له امله له خپلې سیمې دفاع وکړه او پردي (مغل) یې له خپلې سیمې وشړل.

د بابا هوتک پر دې حماسي شعر سربېره په لرغوني ادبیاتو کې د یو زیات شمېر شاعرانو په شعرونو کې په یو نه یو ډول حماسي رنګ شته، په خپله د امیر کروړ شعر که څه هم پوره ویاړنه ګڼل کېږي، خو د تورې او مېړانې حماسي رنګ هم لري، د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصیدو کې که څه هم له محتوایي پلوه ویرنې او ستاینې بلل کېږي، خو د حماسي شعرونو رنګ هم لري. دغه راز په ځینو نورو شعرونو کې هم د حماسي رنګ ځرکونه لګي.

# ملي او نور افکار

په پښتو کې حماسي شعر له ملي افکارو سره تړلی دی. کله چې د یو حماسي حرکت تر شا ملي، وطني او قومي انګېزه او مفکوره ولاړه نه وي، نو نه حماسه رامنځته کېږي او نه هم حماسي شعر. په لرغونې دوره کې چې د بابا هوتک شعر کوم حماسي رنګ اخیستی د هغه علت دادی چې دی د خپل قوم ازادي غواړي، همدغه د ازادۍ مفکوره او انګېزه ددې سبب شوې چې بابا هوتک د مغلو پرضد د مبارزې ډګر ته هم په خپله راووځي، هم نور ځوانان وهڅوي او هم حماسي شعر وپنځوي، همدا شعر بیا ددې سبب کېږي چې دښمن ماته وخوري، تر هغه وروسته یې زوی ملکیار هوتک هم د خپل پلار لاره ونیوه، هم یې د قوم مشري وکړه او هم یې له مغلو سره مقابله او هغوی یې له خپلې سیمې وشړل.

که څه هم د ملکیار هوتک ډېر شعرونه نه دي ترلاسه شوي، خو پټې خزانې یې یو شعر خوندي کړی. په شعر کې د ترنک رود مخاطب شوی د یوه سوزنده مینې انځورګري کوي، د شیخ اسعد سوري په شعر کې هم د ملي او قومي افکارو انعکاس ښکاري، که محمدسوري د پښتنو واکمن نه وای او شیخ اسعد سوري د هغه د دربار غړی نه وای، نو هېڅکله به یې له درده ډکه داسې قصیده نه وای لیکلې، په قصیده کې حاکمه غمجنه فضا، د سوریو د غم او ماتم انځورګري له ملي درد او فکر سره تړلي عناصر دي. د ښکارندوی غوري په قصیده کې هم د

سلطان شهاب الدين غوري پر برياوو چې كوم وياړ كېږي او يا د هغه ستاينه كېږي، كه څه هم اسلامي روحيه پرې حاكمه ښكاري، خو ملي فكر په كې هم په نامستقيم ډول بيانېږي.

په خپله د امير كروړ شعر پرځان او خپل قوم باور زياتوي او د ملي روحيې د پياوړتيا سبب ګرځي. د اكبر زميندداروي يو بيت ( د مغلو تمر هسې په اور وسوم - چې به هېر په دې ماتم زمينداور كړم) هم د ګوډ تيمور او په مجموعي ډول د مغولو پر وړاندې د هغه د ملي فكر ښكارندويي كوي. د ملكيار غرشين په سندره كې كه څه هم اسلامي رنګ غالب دی، خو د شهاب الدين غوري ملاتړ يې د اسلامي انګېزې ترڅنګ د ملي فكر ښكارندويي هم كوي او وايي سره له دې چې (هېواد د بل دی خو څښتن مو مل دی او اسلام راڅخه دی). تايمني كه د سلطان غياث الدين غوري توره ستايي او وايي چې د اسلام دين دده په توره روښان دی، نو ورسره هغه د غور زمری هم بولي. همداسې د نورو شاعرانو په شعرونو كې په يو نه يو ډول ملي فكر او ملي انګېزه ځلېږي. د يادو افكارو ترڅنګ په لرغوني ادبي دوره كې د ژوند پر محور راڅرخېدونكي نور افكار هم ځلېږي. لكه د اشخاصو ستاينه او ځلونه، د خپل چاپېريال ستاينه، د طبيعت انځورنه او نور، خو غټ او څرګند افكار او تمايلات همدا وو چې پورته مو ورته په لنډيز سره اشاره وكړه.

# د یووولسم څپرکي لنډیز

ادبیات د خپل چاپېریال محصول دی، په پښتو لرغونو ادبیاتو کې هم د خپل چاپېریال انعکاس لیدل کېږي، که بریا ترلاسه شوې، نو هغه په کې منعکس شوې ده، که غم راغلی نو د غم انځورګري په کې شوې ده. که د پردیو یرغل راغلی، نو د هغه د مقابلې لپاره هم حماسي شعرونه لیکل شوي، که لږه ارامه فضا رامنځته شوې، نو بیا عرفاني افکارو هم شعر ته لاره پیدا کړې، د فردي مینې انځورګري هم په کې ښکاري، یانې غنایي شاعري هم شته او همداسې د ژوند نور اړخونه، یانې په پښتو لرغونې شاعرۍ کې د غنایي، حماسي، ملي او نورو افکارو څرګندې بېلګې شته. شاعرانو چې څه محسوس کړي او دوی ترې اغېزمن شوي، نو هغه یې په خپل کلام کې منعکس کړي دی. په پښتو لرغونې شاعرۍ کې شعر په تېره بیا حماسي شعر ددې سبب شوی چې د جګړې لوری بدل کړي. مذهبي اشعار د مذهبي لیدلوریو د بدلون او غېز لپاره موثر ثابت شوي، ناسم پوهاوي یې له منځه وړي، غنایي شعرونو د شاعرانو زړونه تش کړي، دیني او اخلاقي شعرونو د شاعرانو او ولس زړه تسکین کړی او د مقاومت ادبیاتو ولس، ټولنه او هېواد د پردیو له یرغله ژغورلي او ولس یې د هغوی مقابلې ته هڅولی دی.

لنډه دا چې د پښتو ادب د لرغونې دورې لمن د بېلابېلو افکارو له مرغلرو ډکه ده. څرنګه چې ولسي او ټولنیز ژوند کوم لوري پرمختګ

کړی، ادبیاتو يې هم همغه بهیر تعقیب کړی او همغه فزیکي پېښــې او فکري جريانونه يې انځور کړي دي. که موږ غواړو لــه دويمــې هجــري پېړۍ څخه بيا تر يوولسمې هجري پېړۍ د پښتنو سیاســي، ټــولنيز او کلتوري ژوند مطالعه کړو، نو په ياده موده کې بايد پنځول شوي پښــتو ادبيات له نظره تېر کړو. دا ادبيات په مجمــوعي ډول دپښــتنو د ټــول تفکر يوه ډېره ښه هنداره ګڼل کېږي.

# د يوولسم څپرکي پوښتنې

- پښتو لرغونې شاعرۍ کې کوم افکار ځلېږي؟
- په پښتو لرغونې شاعرۍ کې اسلامي او عرفاني افکار وڅېړئ؟
- د کوم شاعر په شعر کې د مقاومت افکار زيات ځلېږي؟
- ايا په پښتو لرغونو ادبياتو کې د مينې سندرې شته؟
- پښتو لرغونې شاعري د پښتنو د ژونــد د کومــو برخــو انځورنــه کوي؟

# دولسم څپرکی

# د لرغونې دورې عمومي ځانګړنې

پښتو ادبيات په لرغونې دوره کې ځينې داسې ځانګړي خصوصيات لري چې راوروسته دوو نورو دورو کې يې هغه ځانګړنې د نورو ژبو تر اغېزې لاندې راغلي دي، طبيعي حالت، نره والی، سوچه والی، د ملي وزنونو کارونه، د نورو ژبو د تاثيراتو نشتوالی او يا هم ډېرې لږې اغېزې ددې دورې عامې ځانګړنې دي. نه يوازې پښتو ادبيات، بلکې د نړۍ د هرې ژبې ادبيات يو لړ داسې ځانګړنې لري چې هغه له نورو ژبو څخه جلا وي او ددې ژبې خپل خصوصيات او پانګه ګڼل کېږي. په عام ډول بيا ځينې داسې ځانګړنې وي چې هغه په ټولو ژبو کې يو شان وي، تخيل، عاطفه، درد، وزن، اهنګ، هنري ارزښت، ولوله يا احساس او نور هغه خصوصيات دي چې د نړۍ د ټولو ژبو په ادبياتو کې يو شان دي او همدا عناصر دي چې ادبيات ورڅخه جوړېږي. د ادبياتو بېلابېل فورمونه بيا هغه وسيلې دي چې د يوې ژبې ادبيات له بلې سره توپير کوي. پښتو ادبيات د فورمونو له مخې ډېر بډايه دي. ځينې ادبپوهان د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې په باب وايي: ((د خپل چاپېريال مناظر، غرني افکار، متانت، رانه او متين احساسات لري، ملي سبک په کې ډېر تعقيب شوی، له ژبني پلوه دغه سندرې، ساده، سپېڅلې او سوچه دي. زړو اريايي سندرو ته ورته دي، دعاوې، مناجات، ديني احساسات

او د خدای مینه په کې ځلېږي. حماسي او جنګي احساسات هم لــري، دیني موعظې او نصایح هم په کې شته. عشقي جذبات او احساســات هم لري، په لنډ ډول ویلای شو چې د پښتو لرغــونې شــاعرۍ عمــده موضوعات سندرې، قومي ویاړنې، ویرنــې، مینــه، بېلتــون او اخلاقــي ښوونې دي چې په هغو کې پېچلي تخیلات او لفظي صنایع دومــره نــه لیدل کېږي.)) (۳۳: ۴۴-۴۵)

دلته په دې څېرکي کې لومړی غواړو پر پښتو لرغونو ادبیاتو لومړی د خپل چاپېریال اغېزې وڅېړو، بیا به له لغوي پلوه دې ته نغوته وکــړو چې پښتو لرغونو ادبیاتو کې د نره والي او سوچه والي عنصر ولې زیات دی، د نورو ژبو اغېزې څومره او څرنګه دي؟ د پښتو ادبیــاتو لوړتیــا او ځوړتیا ته به هم نغوته وکړو، بیا به په مجموعي ډول د پښــتو لرغونــو ادبیاتو عمومي ځانګړنو ته اشاره وکړو، یوه عمومي ډله بندي بــه یــې وکړو او عمومي جاج به یې واخلو:

# خپل چاپېريال

د هرې ټولنې ادبيات د همغې ټولنې لــه بطــن او چاپېريــال څخــه راټوکېږي، څه چې په ټولنه کې وي همغه په ادبياتو کــې ځلېــږي، پــه همدې خاطر ادبياتو ته د ټولنې ضمير يا وجدان ويل کېږي، نو که مــوږ غواړو د يوې ټولنې د روحياتو عمومي جاج واخلو نــو بايــده دي چــې ادبيات يې مطالعه کړو. پښتو ادبيات هم د بلې هرې ژبې د ادبيــاتو پــه څېر د خپل چاپېريال محصول دي، د پښتو لرغونو ادبيــاتو پــر مهــال قومونه او ولسونه هم لکه د اوس په شان زيات په رابطه کې نه وو، چې يو پر بل ډېرې اغېزې ولري، نو شاعر پاتې کېده او خپل چاپېريال يــې، هر څه چې د شاعر په خپل چاپېريال کې موجود وو، همغه يې د خپلې تجربې او شعري کيفيت په قوت خپل شعري کالب ته داخلول، نو ځکه خو که موږ د پښتو ادبياتو لرغونې دوره ارزوو، نو تر ډېره زياته حده يې د خپل چاپېريال محصول ګڼو، البته ورو ورو د فورم او محتوا دواړو لــه پلوه د نورو ژبو تاثيرات پرې راڅرګندېږي. خو په لرغونې ادبي دوره کې د خپل چاپېريال تاثيرات تر هر څه زيات دي.

په دې دوره کې پښتو شعر کــې هغــه پېښــې راڅرګنــدېږي چــې پښتون ولس په تېــره بيــا د دې ولــس مطــرح سياســي، ټــولنيزې او فرهنګي څېرې ورسره مخامخ شوي دي.

د امير کروړ وياړنه د هغو پېښو يادونه کوي چــې شــاعر پــه خپلــه ورسره مخامخ شوی، که دی يو واکمن، امير او پهلــوان نــه وای، نــو دا

ډول شعر يې نه شو پنځولی. دده شعر دده د خپلـو اتلوليـو انځورنـه کوي. د شيخ رضی لودي او نصر لودي کلام د مذهبي حوادثو او د هغو په باب د دوو شخصيتونو د تعبيـر زېږنــده دی. د خرښــبون او شــيخ اسمعيل پاړکي هم د سفر د يوې حادثې انځــورګري کــوي، کــه دا دوه دوستان او ورونه د سفر له حادثې سره نه وای مخامخ شوي او بيـا دې حادثې د دواړو پر روحياتو او جذباتو اغېزه نه وای کـړې، نـو دا سـوې نارې نه رامنځته کېدلې، دا نارې د دوســتانو د ســويو زړونــو او ولولــو انځورګري کوي. د شيخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصيدې هم د څو بېلابېلو حوادثو يو تسلسل دی، دا ټول د هغه چاپېريـال زېږنــده دي چې دا حوادث په کې ټوکېدلي دي.

د شيخ اسعد سوري قصيده د يوې داسې غمجنې پېښــې انځورنــه کوي چې شاعر په خپله نږدې هغه لمس کړي، احساس کــړي او پــرې دردېدلی دی. شاعر خپل يو نږدې دوست او مشر لــه لاســه ورکــړی، شاعر دې پېښې دردولی او د قصيدې په فورم کې يې خپل احساسات او غبرګــون څرګنــد کــړی دی. ښــکارندوی غــوري هــم د ســلطان شهاب‌الدين غوري له فتوحاتو سره ملګری شخص و، داســې ښــکاري چې حوادث يې په خپلو سترګو ليدلي او په خپل کلام کې يې په ډېــره هنري ژبه انځور کړي دي. تايمني هم د خپل سلطان ســتاينه کــوي او هغه د غور زمري بولي، بابا هوتک بيا د مغلو د هغــو ظلمونــو انځورنــه کوي چې د پښتونخوا پر غرونو او رغونو، کليو او باندېو او پښتنو راغلي دي. د نورو شاعرانو په شعرونو کې چې هم کوم حوادث انځور شــوي، اکثره يې داسې حوادث دي چې ددې ټولنې د ځانګړو حوادثو زېږنــده دي او د بل چاپېريال محصول نه دي، دا د پردي محيط حوادث نــه دي

چې شاعر دې د هغو تر تاثیر لانــدې راغلــی وي او بیــا دې یــو شــعر پنځولی وي، داسې ببلګې نه لرو، البته د ژباړې له لارې یو څــو داســې شعرونه لرو چې هغو ته به په خپل ځای کې اشاره وکړو.

څرنګه چې هغه مهال د ژوند چاپېریال او انساني کړه وړه د اوس په شان له بل چاپېریال سره ډېر په تماس کې نه وو، نو ځکــه خــو پښــتو شاعري زیاتره د خپل چاپېریال په محدوده کې پاتې شوې ده.

البته ځینې نظمونه چې د مغلو د تاډاک په مقابل کې ویل شــوي او همدا رنګه په هند کې د افغان شاهانو د فتوحاتو پــه بهیــر کــې ویــل شوي، هغه له بهرنۍ پدیدې سره د تماس په مسیر کې مطالعه کېــدی شي او د ټوکېدو عامل یې هم بهرنی عنصر ګڼل کېدی شي.

# نږه والی

نږه والی او سوچه والی د پښتو لرغوني ادب يوه اساسي ځانګړنه ده، دا نږه والی په تېره بيا د لرغونې دورې په لومړۍ برخه کې ډېر زيات دی. وروسته وروسته بيا په نورو پړاوونو کې د نورو ژبو اغېزې ورو ورو زياتېږي. خو په لومړۍ مرحله کې دا تاثيرات نه ترسترګو کېږي. د اميرکروړ شعر په مجموعي ډول له نږدې دوه سوه او اوولس (۲۱۷) کلمو څخه جوړ دی چې سل په سلو کې پښتو کلمې دي، د بلې ژبې کلمې په کې نه ليدل کېږي، پر شعر باندې حاکمه روحيه هم د پښتنو د ځان باورۍ له روحيې څخه الهام اخلي، خپله شاعر هم واکمن دی هم شاعر، پر ځان باوري او ډاډه دی. د شعر فورم هم په خپله هم زړو اريايي شعري فورمونو ته ورته دی، د شيخ اسمعيل او خرښبون شعرونه هم سل په سلو کې له پښتو کلمو څخه جوړ دي. د ببټ نيکه شعر کې هم د نورو ژبو کلمې نه شته. په پښتو کې لومړۍ منظومه ژباړه که څه هم له عربي څخه ژباړل شوې، خو په ټول شعر کې يې يوازې (دوه درې) کلمې عربي دي. د نصر لودي او شيخ رضی لودي په دواړو شعري بېلګو کې يوازې هغه کلمې عربي دي چې تر اوسه يې په پښتو کې معادل نه شته؛ ديني ترمينالوژي ده او پښتو کې ورته تر اوسه پورې اندولونه نه شته. د شيخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصيدو کې که څه هم د نورو ژبو (عربي او دري) ژبو کلمې شته، خو

ډېره سوچه او نږه پښتو ويي پانګه يې هم خوندي کـړې ده. د ملکيـار غرشين په سندره کې هم د (غازي او اسلام) له کلمو پرته نورې ټـولې کلمې نږه پښتو دي، د فورم له مخې يې هم نږه پښتو وزن کارولی دی. د شيخ تيمن کاکړ عشقي ياغنايي سندره هم د ملي اوزانو پـه رنـګ، رنګ شوې او له نږه پښتو کلمو څخه جوړه شوې ده.

د قطب الدين بختيار کاکي سندره هم د وزن له پلوه پـه ملـي وزن کې ويل شوې او ټوله سندره له نږه پښتو کلمو څخه رغېدلې ده. د بابا هوتک شعر هم له نږه پښتو کلمو څخه رغېدلی دی، دا سندره حماسي رنګ لري، د نورو ژبو کلمې په کې نه دي کارېدلي، د ملکيـار هوتـک د ترنک سندره خو له هره پلـوه هـم د وزن، هـم د ادا د طـرز او هـم د کارېدلو کلمو له مخې يوه نـږه پښـتو سـندره ده. همداسـې د نـورو شاعرانو په شعرونو کې هم پښتو شعر خپل نږه والـی تـر زياتـه حـده ساتلای دی. البته د نورو ژبو اغېزې هم پرې ورو ورو راڅرګندې شـوي چې دلته د هغه يادونه هم کوو:

# د نورو ژبو اغېزې

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکـړه د پښـتو ادبیـاتو د لرغـونې دورې په لومړۍ برخه کې د نورو ژبو اغېزې نه لیدل کېږي، نه یې ژبني تاثیرات څرګند وو او نه هم د فورمونو له پلوه د کومې ژبې شعري فورم په کې په بشپړ ډول څرګند شوی دی. خـو د همـدې دورې پـه نـورو پړاوونو کې بیا ورو ورو دا تاثیرات راڅرګند شول. د عربي او دري ژبې د تاثیراتو څرکونه ولګېدل. دلته به لومړی د عربي ژبې تاثیراتو ته ګوتـه ونیسو:

له عربي ژبې څخه ځینې شعري فورمونه پښـتو تـه راغلـل، لکـه قصیده، غزل، مثنوي او رباعي. د ساري په توګه د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصیدې، د خلیل خان نیازي او سلطان بهلول لودي څلوریزې، د اکبر زمینداوري، زرغون خان نورزي، زرغـونې کـاکړې او دوست محمد کاکړ مثنوي او همدارنګه د زمینداوري، علي سرور لودي او نورو غزلونه او داسې نور. په لرغوني ادبي دوره کې لږ تر لـږه همـدا څلور نظمي فورمونه (قصیده، رباعي، مثنوي او غزل) رامنځتـه شـوي دي. د قطعې یادونه هم شوې خو د پورته فورمونو په شـان د بشـپړې قطعې پخه بېلګه نه ده ترلاسه شوې.

د شیخ رضی لودي او نصر لودي په نظمونو کې د عربي کلمو څـرک راڅرګند شو. په لرغوني دوره کې ابو هاشم سرواني لـومړنی سـړی و

چې ژباړه يې پښتو ادب يا شاعرۍ ته راوړه، دويمه ژباړه بيا له دري ژبې څخه د زرغونې کاکړې په وسيله د شيخ سعدي بوستان څخــه شــوې چې د هغې يو حکايت تر موږه رارسېدلی دی.

په لومړنۍ ژباړو کې د عربي ژبې ډېر کم شــمېر وييونــه پښــتو تــه داخل شول او په دويمه کې هم د عربي او دري ژبو يــو شــمېر کلمــې پښتو راخپلې کړې چې د يادو شعرونو په لغوي شننه کې مو ورته نغوته وکړه.

شيخ اسعد سوري لومړی معلوم شاعر دی چې په پښــتو کــې يــې پوره او کره معياري قصيده ويلې او بشپړه بېلګه يې زموږ په لاس کــې ده. نه يوازې دا فورم له عربي څخه پښتو ته راغلی، بلکــې يــو شــمېر عربي او دري کلمې هم ورسره پښتو ته داخــل شــوي، د ښــکارندوی غوري قصيده هم همدا بڼه لري، د سليمان ماکو په تذکرة الاوليا کې له نامه څخه يې نيولې بيا يو شمېر نورې عربي او دري کلمــې پښــتو تــه داخل شوي، زرغون خان نورزي بيا ساقينامه يا خمريه اشعار له عربــي او پارسي څخه په الهام اخيستو پښتو ته داخل کړل، په دې ډول هم د فورم، هم د محتوا او هم د ويي کارونې له مخې د نورو ژبو تــاثيرات پــر پښتو ادب باندې څرګند شول. د پښتو ژبې شاعرانو د يادو ژبو له ادبي زېرمو څخه د خپلې ژبې د ادبي پانګې د لابډاينې لپاره ګټه پورته کړه، خپله ادبي پانګه او جوړښتونه يې هم وساتل او د نورو يې هــم راخپــل کړل.

# لوړتیا او ځوړتیا

د پښتو ادبیاتو په لرغوني دوره کې له کمي پلوه ډېر کم ادبـي اثـار ترلاسه شوي، دا دوره هم خپله لوړتیا او ځوړتیا لري، خو څرنګه چې د لاسته راغلو ادبي اثارو بېلګې کمې دي، نو ځکه خو د لوړتیا او ځوړتیـا بېلوالی هم اسانه کار نه دی. خو ځینو لاسته راغلو بېلګو تـه پـه کتـو سره سړی دا ویلای شي چې د خپل وخت له معیارونو سره سم ډېـرې ښې بېلګې دي، خو وروسته بیا دې بېلګو تداوم نه دی پیداکړی، مانـا دا چې خبره له لوړتیا څخه ځوړتیا ته رسېدلې ده، ښـه بېلګـه یـې د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصیدې دي چې نه یـوازې پـه لرغونې دورې کې یې په دې قوت تداوم نه دی پیداکړی او یا یـې کـه پیداکړی هم وي، موږ ته یې بېلګې نه دي رارسېدلي، د دواړو قصـیدو قوت ته چې سړی ګوري، نو پوره باوري کېږي چې دې شاعرانو به خپله هم ډېرې قصیدې ویلې وي، ان نور چاپېریال هم دې ډول قصایدو تـه مساعد و. خو د تداوم نورې بېلګې یې نه دي ترلاسـه شـوي. د اکبـر زمینداوري غزل او مثنوي هم ډېر قوي برېښي، خو تر هغه وروسته بیا دا بهیر نه دی تعقیب شوی او یا یې هم کمې بېلګـې ترلاسـه شـوي. همداسې د رباعي فورم په برخه کې، ژباړه هم په همدې ډول درواخله. د ابوهاشم سرواني تر منظومې ژباړې څـه بانـدې (شـپږ سـوه) کالـه وروسته بیا د زرغونې کاکړ د بلې ژباړې خوږه بېلګه لـرو، خـو پـه دې دومره لویه زمانه کې بیا د ژباړې پوره تشیال لیدل کېږي، کله بیا هم تر

ځوړتیا وروسته بېرته لوړتیا رامنځته شوې، خو په مجموعي ډول په دې دوره کې د کلاسیکې دورې په شان داسې پړاوونه نه شته چې په مشخص ډول دې ددې دورې یو پړاو له بلې څخه ډېره لوړتیا ولري، لکه په منځنۍ دوره کې چې د خوشال پړاو تر روښانیانو زیات پراخ او پرمختللی او له هنري پلوه پوره او کره دی.

په لرغونې دوره کې د یوه شاعر د ژوند او د هغه د کلام او د بل شاعر د ژوند او د کلام د بېلګو ترمنځ هم ډېر زیات زماني واټن موجود دی. د ساري په توګه د امیر کروړ (۱۳۹-۱۵۴هـ) او ابوهاشم سرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ) د ژوند ترمنځ نږدې (یو نیم سل) کاله زماني واټن دی. په دې بهیر کې بیا موږ بله کومه ادبي بېلګه نه ده ترلاسه کړې. د ابوهاشم سرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ) څخه بیا د شیخ رضی لودي او نصر لودي (۳۵۰-۴۰۰هـ) د ژوند ترمنځ نږدې (سل) کاله واټن دی. په دې نږدې یوه پېړۍ کې بیا هم د پښتو ادب کومه بېلګه موږ ته نه ده رارسېدلې. د شیخ رضی لودي او بېټ نیکه د ژوند ترمنځ بیا زماني واټن ډېر نه دی، دلته بیا د بېټ نیکه (۳۵۰هـ) یو مناجات لرو، د بېټ نیکه او د هغه د کورنۍ د غړو خرښبون او اسمعیل ترمنځ هم د ژوند فاصله زیاته نه ده، خرښبون او اسمعیل بیا د (۴۰۰هـ) حدودو کې تېر شوي، نو دلته بیا په کم واټن کې څو بېلګې لرو. وروسته بیا د شیخ اسعد سوري د ژوند زمانه د (۴۲۵هـ) دا فاصله هم ډېره زیاته نه ده، په دې بهیر کې د یوې پخې قصیدې بېلګه لرو، ورپسې بیا شیخ تیمن کاکړ (۵۵۰ هـ) حدودو کې دی چې بیا (۱۲۵) کاله یانې پاو باندې یوه پېړۍ تېرېږي، خو موږ ته په کومه ادبي بېلګه نه ده رارسېدلې. تر هغه نږدې دېرش کاله وروسته (۵۸۰هـ) حدودو کې بیا ښکارندوی غوري

خپله ښېشانه قصیده پنځولې ده او بیا هم په پښتو ادب کــې یــو لــوړه هنري لوړتیا احساسېږي.

ښکارندوی غوري سره بیا ملکیار غرشین (۵۸۰هـــ) حــدودو کــې خپله لورېینه پښتو ادب ته ښښلې ده. ورپسې بیــا تــایمني (۵۸۰هـــ) حدود خپل ممدوح سلطا غیاث الدین غوري ستایلی دی او بیا له شل کلن زماني واټن وروسته په (۶۰۰هـ) حدودو کې قطب الــدین بختیــار کاکي خپله مینه وړې سندره پښتو ادب ته ډالۍ کــړې ده. د همــدې شپږ سوه هجري په حدودو کې (۶۱۲هـ) کې بیــا د بــارک خــان زوی سلیمان ماکو پښتو ادب ته دانګلې، نه یوازې نثر یې پښــتو ادب تــه د یوه تلپاتې میراث په توګه پرېښود، بلکې په خپله تذکره کې یې د نورو شاعرانو ژوند او د کلام بېلګې هم خوندي کړي دي.

تر سلیمان ماکو وروسته بیا شیخ متي بابا (۶۳۳- ۶۸۸هـ) په لنــډ زماني واټن کې د پښتو ادب لمن د عرفان، تصوف او خدای پېژندنې په مینه او لورېینې ډکه کړه. ورپسې په متصله زمانه کې بابا هوتک (۶۶۱- ۷۴۰هـ) کې پښتو ادب د ملي او حماسي شعر په رنګونو رنګ کړ او بیا یې زوی ملکیار هوتک (۷۴۱هـ) حدودو کې یې د خپــل پــلار ملــي او ادبي لاره پسې تعقیب کړه. تر لږ ځنډ وروسته بیــا اکبــر زمینــداوري (۷۸۰هـ) حدود د داور پر ځمکه راوټوکېد او د پښتو ادب لمن یــې پــه (غزل) او (مثنوي) دواړو ښکلې کړه. تر دې نږدې یوه پېړۍ وروسته بیا (۸۵۵- ۸۹۴هـ) حدودو کې د سلطان بهلــول لــودي او خلیــل خــان نیازي خلوریزې لرو. هم مهاله بیا په (۸۹۰هـ) حــدودو کــې د زرغــون خان نورزي ساقینامه لرو چې په پښتو ادب کــې د خپــل ډول لــومړی معنوي فورم ګڼل کېږي. ورپسې متصله بیا په (۹۰۰هـ) حــدودو کــې د

زرغونې کاکړ منظومه ژباړه د پښتو ادب یو معنوي غمی دی. نږدې شل کاله وروسته په (۹۲۰هـ) حدودو کې بیا د رابعې او دوست محمد کاکړ د کلام بېلګې لرو او ورپسې د همدې (۹۲۰هـ) حــدودو کــې د شــیخ عیسی مشواڼي او بیا د (۹۶۰هـ) حدودو کې د شیخ بستان بړېڅ، علي سرور لودي او بي بي نېکبختې د کلام بېلګې په لاس کــې لــرو او بیــا تقریباً نیمه پېړۍ وروسته په (۱۰۰۰هـ) حدودو کې د شیخ محمد صالح کلام لرو او همدې سره د پښتو لرغونې ادبي دورې وروستی پــړاو هــم پایته رسېږي. دې ټول بهیر ته چې ګورو نو راته ښکاري چې پښتو ادب په تېرو نږدې (۹۴۷) کالو یا څه کم یوه زریزه کــې دېــرې لــوړې ژورې لیدلي، خو د زمان له دومره لوړو ژورو سره سره یې خپل ژوند یوې بلې دورې (منځنۍ یا کلاسیکې) دورې ته ورړسولی دی.

# د دولسم څېرکي لنډيز

د لرغونې ادبي دورې په لومړي پړاو کې پر پښتو ادب تر ډېره حــده د خپل چاپېريال تاثيرات زيات محسوس وو، په حقيقت کې دا ادبيــات يوازې په خپل چاپېريال پورې تړلي وو، د نورو ژبو لکــه عربــي دري او نورو تاثيرات پرې خورا کم وو. په تېره بيا د لرغونې دورې په لومړي پړاو کې، وروسته بيا ورو ورو د عربي او دري تاثيرات هم راڅرګند شول. له عربي څخه د شعري فورمونو او کلمو او له دري څخه د ژبنيو تــاثيراتو په بڼه د هغوی د اغېزو راخپلول محسوس شول، نړه والــی يــا ســوچه والی د پښتو د لرغوني ادب يوه ځانګړنه ده. دې دورې هم په خپل وار سره لوړتيا او ځوړتيا لرلې ده، خو دا لوړتيا او ځوړتيــا د لاســته راغلــو اثارو د بېلګو د کموالي له امله ډېره زياته نه محسوســېږي، پــه ځينــو وختونو کې زيات پرمختګ شوی، بيا ځنډ او خنډ پېښ شوی او بيا يــو څو ښې بېلګې ترلاسه شوي دي. په مجموعي ډول په لرغــوني ادبــي دوره کې د هغې زمانې د معيارونو مطابق داسې هنري اثار شــته چــې زموږ د اوسنۍ زمانې ادبي اثار هم ورسره سيالي نه شــي کــولای، خــو ځينې داسې اثار هم په کې شته چې يوازې د نظم په چوکاټ کې دي او هنري قوت يې ډېر قوي نه برېښي.

# د دولسم څپرکي پوښتنې

- د لرغونې ادبي دورې لومړي پړاو کې ولې د نورو ژبو اغېزې نه وې؟
- له کومو ژبو پښتو لرغونې شاعرۍ ته شعري فورمونه داخل شول؟
- ولې له عربي او دري پرته پر پښتو لرغوني ادب د نورو ژبو تاثیرات نــه ښکاري؟
- پښتو لرغوني ادب کې لوړتیا او ځوړتیا او یا ځوړتیا ا لوړتیا وارزوئ!
- پر پښتو لرغوني ادب د خپل چاپېریال اغېزې وشنئ!

# دیارلسم څپرکی
# د لرغونې دورې د ادبياتو
# كميت او كيفيت

له كمي او كيفي پلوه د يوې ژبې د ادبياتو ارزونه اسانه كار نــه دى. په تېره بيا دا چې د ادبياتو د كيفيت او حجم معلومول د رياضــي كــوم فورمول نه دى، چې د هغو له مخې په اسانۍ سره د يو شـــي حجــم او كيفيت معلوم كړو. په نړۍ كې ځينې داسې ژبې شته چې لرغونې ادبي پانګه يې زياته ده، خو د وخت په تېرېدو سره يې خپل هغه ادبي بــرم، شان او شوكت له لاسه وركړى، ځينې نورې ژبې بيــا داســې دي چــې پخوانۍ پانګه يې ډېره زياته نه ده، خو وروسته يې وده كړې. د يونــاني ژبې لرغوني ادبيات دومره بډايه وو چې تر ننه پورې يې ادبي نــړۍ تــر اغېزې لاندې ده، خو په وروستيو څو پېړيو كې يې بيا هغه شان جــلال او عظمت نه درلود چې تر ميلاد وړاندې او لومړيو ميلادي پېړيو كې يې كوم قوت و. انګليسي ژبه تر (۱۷) پېړۍ وروسته پــه غوړېــدو شــوه او اوس د نړۍ ډېر معتبر ادبي او هنري اثار په همدې ژبه كې موجود دي، پښتو ادبياتو او پښتو ژبې هم د خپل ژوندانه په بهير كــې د لوړتيــا او ځوړتيا، يا ځوړتيا او لوړتيا بېلابېل پړاوونه وهلي، د زمانې له ســختو او خونړيو ناتارونو سره سره يې تر موږه ځان ژوندى رارســولى او زمــوږ د

نیکونو د ادبي پانګې یوه برخه یې تر موږه پورې خوندي رارســولې ده. ددې لوړتیا او ځوړتیا د کرلېچن بهیر په باب مو دمخه هم رڼا اچــولې، خو دا چې درانه لوستونکي او قدرمن محصلین د پښتو ادبیاتو په تېره بیا د لرغونې دورې د شاعرۍ د کمیت او کیفیت او بیا د هغو د دواړو د پرتلنې په باب لږ نور معلومات هم ترلاسه کړي. غواړو دلته ددې دورې د شعرونو د شومره والي په باب هم څه ووایو او د هغوی څرنګوالی هم له هنري پلوه یو ځل بیا له نظره تېر کړو.

# ځومره والی

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې هغه شاعران یا لیکوال چې شــعرونه او نثرونه یې تر موږه رارسېدلي د ټولو شمېر (۲۹) تنو لیکوالو او شاعرانو ته رسېږي چې په مجموعي ډول ترې د تذکرة الاولیا له نثر پرتــه (۳۳) ټوټې شعرونه تر موږه رارسېدلې دي. دا شــعرونه د نظــم پــه بېلابېلــو فورمونو کې ویل شوي چې هم په کې په ملي اوزانــو ســمبال شــعري فورمونه شامل دي او هم له نورو ژبو څخه راغلي شعري فورمونه. البته پښتو ولسي یا ګړني ادبیات په پورته شمېر کې نه شاملوو، ځکه چې د هغو شمېر او دقیق وخت نه شو اټکلولای، خو یاد شــمېر پــه لرغــونې دوره کې پر لیکلو ادبیاتو (شعرونو) راڅرخي. دا پانګه د اوږدې زمــانې (شاوخوا نهه سوه کلونو) یانې نږدې یوې زریزې په ترخ کــې رامنځتــه شوې ده. زمانه اوږده خو د ترلاسه شویو ادبي اثارو شمېر د زمــانې پــه اندول کم دی. دا چې دا کمیت ولې کم دی دا خپل خپل عوامل لري، د پښتنو افغانانو مېشتې سیمه ســلیزې ســلیزې او لســیزې لســیزې د نارامیو شاهدې وې، د جګړو مسلسل بهیرونه پر دې سیمه تېر شــوي دي، نه یوازې دا چې ادب او فرهنګ یې غوړېدو ته نه دی پرې ایښــی، سیمه یې هم بې ثباته کړې، تباه کړې او د خلکو د لیک لوست مخه یې هم نیولې ده. کوم ادبي اثار چې له شتو ناخوالو ســره ســره رامنځتــه شوي، هغه هم د زمانې نورو ناخوالو له منځه وړي، غوره بېلګــه یــې د (سالو وږمه، د خدای مینه، د تذکرة الاولیا زیاته برخه) او نور هغه اثــار

دي چې تر موږه يې يوازې نومونه او ډېره کمه برخه رارسېدلې، نور ټول د زمانې د ناخوالو ښامار له ستوني تېر کړي دي. نو په دې خاطر ويلای شو چې د پښتو ادبياتو حقيقي او واقعي ځومره والی تر هغه څــو ځلــه زيات دی چې اوس يې په لاس کې لرو.

((ددې لړوالي موجه علتونه ډېر شمېرل کېدی شي، خو دغه لاندې ځو عوامل يې ځرگند برېښي:

۱- کومه زماني مقطع چې موږ يې لومړۍ دوره بولو، زموږ لــه غــوره کړي تصنيف سره سم له دويمې هجري پېړۍ څخه د لسمې هغــې تــر وروستيو پورې دوام لري. په دې دوران کې که چېــرې مــوږ د پښــتنو اجتماعي جوړښت، د ډېرو قبيلو کوچاني ژوند، پــه دوی کــې د ســواد خپرېدو جريان او دې عمليې ته په پاملرنه لــه ســيمه ييــزو فرهنگــي جريانونو سره د اشنايي مساله وځېړو، نو دا به راته ښکاره شي چې په دې دوره کې به په پښتو کې زيات ليکلي اثار نه وي رامنځتــه شــوي، البته د پښتني ټولنې جوړښت ته په پاملرنه د گړنيو اثــارو ايجــاد تــه زمينه مساعده وه، شفاهي ادبيات په تېره بيا شعرونه به پر دا وخت په دې ټولنه کې ډېر ايجاد شوي وي، چې ځينو يې د همــدې مقطــع پــه جريان کې کتابونو ته هم لاره پيدا کړې او ځينــې يــې وروســته ثبــت شوي دي او زياته برخه يې، لکه چې ددې اشعارو او اثارو ځانگړنه ده، د وختونو په تېرېدو سره له منځه تللي دي.

۲- کوم اثار چې په دې دوران کې ليکل شوي او يا ايجاد شوي دي، په بشپړ ډول تر موږ نه دي رارسېدلي. د ځينو نمونې يــې د وروســتيو منابعو په مرسته موږ ترلاسه کړي دي، ځينــې هــم نيمگــړې ترلاســه شوي دي او د ځينو هم له نومونو خبر يو، خو خپله کتابونه مو په واک

کې نه دي. ددې اثارو د نه ترلاسه کېدو څو احتماله سرې له نظره لرې نه شي غورځولای: یو احتمال دا دی چې کېدی شي د لـومړۍ دورې د معلومو اثارو ځینې بشپړ متون خوندي پاتې وي او یـو وخـت ښـکاره شي. دا کار لټون غواړي، لکه څنګه چې معلومه ده پښـتنو پـه خپلـو اثارو پسې د دنیا ټول کتابتونونه نه دي لټولي. اما غالب احتمال دا دی، چې ددغو اثارو کافي برخه به د زمانې سـړو سـیلیو ورسـره وړې وي، ځکه که موږ په همدې اسلامي پینځلسو پېړیو کې د پښتنو سیاسي او اجتماعي تاریخ مطالعه کړو، نو د دوی پر ځمکو، ورشوګانو، څړځـایونو او غرونو د خپلو او پردیو ډېر تاړاکونه راغلي دي، اوږدې جګړې او پرله پسې کورني کړکېچونه او جنګونه یـې لیـدلي دي. دغـو جنګونـو او لېږدېدنو د دوی هغه لږ فرهنګي زېرمه هم خوندي نه ده پرېښې.

ځینې کسان چې د مختلفو ناعلمي دلایلو له مخې او ځینې یـې د خاصو اغراضو له مخې زموږ پر لرغونو ادبیاتو څه نیوکې لري، نو د دوی له اعتراضونو څخه به یو اعتراض دا و چې د پښتو د زړو اثارو اخځ ولې ورک دی؟

زموږ مشرانو به ددغو خلکو په ځواب کې ویل، چې اول امکان لري ګرده دغه اثار ورک نه وي او بل که ورک هـم وي، دا کومـه ناشـونې خبره نه ده، ځکه که موږ د پښتنو د اوسېدنځایونو جغرافي موقعیت ته ګورو، نو د دوی سیمې له اوومې هجري پېړي څخه د دولسمې هجـري پېړۍ تر اواسطو پورې په بېلابېلو وختونو کې د مغلو او نـورو ګاونـډیو واکمنیو له خوا تر تاخت او تاراج لاندې واقع شوي دي. بیا د تیمورشاه دراني تر مړینې وروسته د امیر عبدالرحمن خان تر راتګه (۱۲۹۶هـ ق) چې زموږ په هېواد کې د قدرت غوښتنې کومې کورنۍ جګـړې روانـې

وې او په همدې دوران کې زموږ پر هېواد څو ځله انګرېزي قواوو او تــر دوی دمخه هم سکهانو یرغلونه وکړل، نو په دغسې یو بحراني حالت او د جنګ او مرګ ژوبلې، تاخت او تاراج په واکمنۍ کې د فرهنګي زېرمو خوندي ساتل څه ګرانه خبره ښکاري او زموږ ډېــر اثــار ښــایي ددغــو تاړاکونو په اثر له منځه تللي وي.

دا چې په دې استدلالونو به د مخالفینو قناعت حاصل شوی وي او که نه؟ دا به د دوی په خپل درک پورې اړه ولــري، خــو کــه چاتــه پــه وروستیو لسیزو کې د افغانستان له روان ناورین نه رازېږېدلي حــالات معلوم وي، نو په دې پوهېږي چې په دې کلونو کې د افغانستان د کلیو او ښارونو د ورانیو او بربادیو، چور، غارت او د خلکــو د مهــاجرتونو لــه امله ډېر اثار له منځه ولاړل. د کابل موزیم لوټ شو، د کابل پوهنتون له کتابتونه دوه نیم زره خطي نسخې یا وسوځېدې او یــا غــلا شــوې، د خطي نسخو شخصي زېرمې په کابل، کندهار او نورو ځــایونو کــې لــه منځه ولاړې. دا چې موږ د ساینس او تکنــالوجۍ او د وســایلو پــه دې عصر کې دا زېرمه ونه ساتلی شوه، نو که د لومړیو اسلامي پېړیو اثار مو د پردیو یرغلګرو چپاوونو ورسره وړي وي، نو دا کومه د هېښتیا خبــره نه ده.

بله خبره چې ضروري ده، هغه داده: موږ په خپلو سترګو ولیدل چې کله په کابل کې تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته د خلکو د کورونو پلټنې پیل شوې او د وخت واکمنو د خپلې ایډیالوژۍ مخالف کتابونه نه پرېښوول او درلودونکیو ته یې جزاوې ورکولې، نو ډېرو خلکــو د حــاکم رژیــم د مذاق خلاف کتابونه یا وسوځول او یا یې په ځمکه کې ښخ کړل. دغــه راز کله چې د (۱۳۷۱ل) کال په ثور کې تنظیمونه د افغانستان پــر اداره

حاکم شول، دوی هم ټول هغه کتابونه چې په تېر رژیم کې چــاپ وو، د تېر رژیم د میراث په توګه یا خپله وسوځول او یا د کتابونو خاونــدانو د دوی له وېرې وسوځول. دغسې جفاوې زموږ له فرهنګي زېرمــو ســره وخت پر وخت شوي دي، چې دا یې یو معاصر مثال و.))(۵۳: ۱۴۹-۱۵۳) او دا لړۍ لا دوام لري.

له دغو ټولو ستونزو، ناتارونو، ناخوالو او ناورینونو سره سره بیا هم د پښتو ادب په لرغوني دوره کې موږ ته پــه مجمــوعي ډول د (۲۸) تنــو شاعرانو شعرونه راپاتې دي چې په مجموعي ډول (۳۳) ټوټې شــعرونه کېږي او همدارنګه د یو تن نثر لیکونکي (سلیمان ماکو) د نثر بېلګه. د شعري فورمونو د شمېر له مخې د پښتو له خپلو فورمونو څخه نــږدې (۸-۱۰) بېلابېل فورمونه راپاتې دي او دغه راز (قصیده، غزل، مثنوي او رباعي) څلور عربي فورمونه هم په لرغوني دوره کې پښــتو تــه داخــل شوي دي. د محتــوایي وېــش لــه مخــې (ویرنــه، ســتاینه، ویاړنــه او ساقینامه) دا ټول په لرغونې ادبي دوره کې بېلګــې لــري. د ســلیمان ماکو له خپل نثر پرته په پښتو لرغوني ادب کې د ټولــو کــارول شــویو کلمو شمېر نږدې (۵۴۷۰) کلمو ته رسېږي او که د سلیمان ماکو د نثــر (۶۳۰) کلمې نورې هم پرې زیاتې کړو نو دا شمېر به نږدې (۶۱۰۰) کلمې شي. دا د پښتو لرغونې ادبي دورې ټول ژبنی ادبي کمیت دی، دا چــې دې کمیت کې څومره کیفیت، څومره خوند او څــومره هنــر او ښــکلا ځای شوي اوس راځو د همدې موضوع څرنګوالي ته:

# څرنګوالی

د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې له پیل څخه بیا تر دویمې، منځنۍ یا کلاسیکې دورې پورې د لرغونې دورې د هر پړاو شعرونه چې مطالعه کوو، نو هر پړاو یې د پوخوالي خپلې خپلې ځانګړنې لري. کله چې د امیر کروړ شعر ته نظر کوو، نو دا راته څرګندېږي، چې پښتو شعر د خپل بلاغت، فصاحت او فکري بلوغ ډېر پړاوونه وهلي دي، چې داسې یوې مرحلې ته رسېدلی دی. همدارنګه که موږ د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصیدو ته ګورو، نو داسې ښکاري چې نه یوازې دوی دواړو به ګڼ شمېر قصیدې ویلې وي، بلکې په دې زمانه کې به نور یو شمېر داسې شاعران هم تېر شوي وي چې دې ته ورته قصیدې به یې ویلي وي. د یو یا څو شاعرانو په څو شعرونو د یوې ژبې شعري بهیر د پوخوالي داسې پړاوونو ته نه رسېږي. خو څرنګه چې د زمانې ناخوالو زموږ د ولس د ژوند ډېره زیاته مادي او معنوي پانګه له منځه وړې، موږ یې د خپلې ادبي پانګې او شتمنۍ له یوې زیاتې برخې هم بې برخې کړي یو. پښتو لرغوني ادبیات تر زیاته بریده پورې د خپل چاپېریال د تجربو محصول دي. البته په وروستیو پړاوونو کې د نورو ژبو د ادبیاتو اغېزې هم پرې څرګندېږي، خو ددې دورې ادبیات د ژبنې جوړښت، ادبي سکښت او هنري تجربو له پلوه زیاتره د خپل چاپېریال او د حال و احوال محصول دي او د همدغه چاپېریال انځورګري کوي. پښتو لرغونو ادبیاتو زموږ د ژبې یوه درنه ژبنۍ پانګه خوندي کړې ده. یو

شمېر داسې خواږه او نږه لغتونه چې په یاده دوره کې په ادبیـاتو کــې کارېدلي، هغه اوس ببرته راژوندي شوي او زموږ د ادبي پانګه او ورځنۍ محاورې یوه برخه ګڼل کېږي. پښتو لرغونو ادبیاتو کې پر ګڼـو شــکلي رنګارنګیو سربېره مانیزه رنګارنګي هم شته؛ ملي افکار، اسلامي افکار، عرفان او تصوف، غنايي افکار، حماسي تفکر، ویاړنې، ویرنې، ســتاینې، مقاومتي افکار ټول د لرغونې ادبي دورې ځانګړنې دي. هنري ارزښــت هم په لرغونې دوره کې جوت دی، عشقي ســندرې دي کــه ویرنـې او ستاینې، قصیده ده که مثنوي، که غزل که رباعي په ټولو کــې هنـري جوهر له ورایه ښکاري. که د خپل وخت له هنري ارزښتونو ســره یـې پرتله کړو، نو دا جوهر په کې لاپسې په قوت سره ځرګندېږي. د خپـل چاپېریال ډېره ښه انځورګري یې هم کړې ده. د لرغونې دورې ادبیـات موږ ته نه یوازې د ادبیاتو په توګه مطرح دي، بلکې په دې ادبیــاتو کــې داسې ټولنیزې پېښې، تاریخي حوادث هم انځور شوي او خوندي شوي چې زموږ د هغې زمانې د سیاسي تاریخ  له روښانولو سره هم مرســته کوي. د ټولنپوهې لپاره دا ادبیات د پښتنو د ټولنیز ژونــد او د هغــو د پېژندنې ښې هنداري ګڼل کېږي. د پردیو پر وړاندې د یــوه غیرتــي او هېوادپال ملت د مبارزو تابلوګانې هم په همدې اثارو کې کــتلای شــو. لنډه دا چې د لرغونې دورې ادبیات د ادبیاتو د خپل هنــري ارزښــت، فني او تخنیکي عناصرو او هم د بېلابېلو افکارو د بیان له پلوه موږ تــه خورا ارزښتمن دي او په انډولیز ډول په یاد زماني واټن کې که دا اثار له کمي او کیفي پلوه د یو شمېر نورو شرقي او سیالو ژبو تر ادبي اثارو که زیات او ارزښتمن نه وي، نو کم خو ترې په هېڅ وجه نه دي.

# پرتلنه

کله چې د پښتو د لرغونو ادبیاتو کمیت او کیفیت سره پرتله کوو، نو له کمي پلوه یې تر مورږ رارسېدلې ښېلګې تر هغه حالت او چاپېریال خورا کمې برېښي، چې دا ادبیات په کې راټوکېدلې دي. همغه مهال هم لکه د غور، ملتان او کسي غره ترڅنګ نورې وړې ادبي حوزې موجودې وې، طبيعي خبره ده چې په یوه ادبي حوزه کې یو یا څو شعرونه نه راټوکېږي، د ترلاسه شویو شعرونو په مقیاس سړی پوخ ګومان کولای شي چې په هره ادبي حوزه کې به په لسګونو نور شاعران هم موجود وو. خو اوس چې مورږ پر لاس لرلو اسنادو او ښېلګو بحث کوو، نو د څه کم یوې زریزې زمانې واټن په اندول زمورږ د ادبیاتو څومره والی زیات نه دی، یانې په مجموعي ټول د (۲۸) شاعرانو (۳۳) ټوټې شعرونه راپاتې دي او د یوه تن نثر لیکونکي نثري ښېلګه، خو ددغه کمیت په اندول بیا د کیفیت خوا خورا درانه برېښي، هم له شکلي پلوه دې دورې د شعر ښېلابېل ډولونه یا فورمونه راخپل کړي او هم محتوایي رنګارنګي لري. د پښتو د خپلو شعري فورمونو ترڅنګ چې د امیر کروړ، ملکیار غرشین، بابا هوتک او نورو په شعرونو کې یې ښېلګې تر سترګو کېږي، د غزل، رباعي، مثنوي، قصیدې او نورو شعري فورمونو ښېلګې هم په کې لیدل کېږي. له ښکلاییز پلوه هم د خلکو ادبي تونده ماتوي، نه یوازې ښه محتوا انتقالوي، بلکې ښکلاییز اړخ یې هم د خپل وخت د ادبي معیارونو په اندول ښه برېښي. البته دې ټکي

ته مو باید پام وي چې موږ د اوسنیو ادبیاتو د معیارنو له مخې لرغونـو ادبیاتو ته کتنه نه کوو، بلکې د ادب تاریخ د معیارونو او اصولو له مخې ورته کتنه کوو، چې د یوې ټولنې ادب د تاریخ په اوږدو کــې څــومره او څرنګه ګام پر ګام وده کوي. که د پښتو لرغونو ادبیاتو کمیت او کیفیت سره پرتله کوو، نو د ټولیزې نتیجې په توګه ویلای شو چې د کمیت په اندول یې د کیفیت تله درنه ده، یا په بله وینا په کم کمیــت کــې هــم زیات کیفیت موجود دی.

عامه مقوله داده چې (کیفیت په کمیت کــې وي) خــو د پښــتو د لرغونې ادب د کیفیت له مخې موږ دا ویلای شو چې پــه دې نــږدې زر کلن واټن کې به پښتو شاعرانو په پښتو ژبه ډېر ادبي اثار وړاندې کــړي وي، خو د زمانې ناخوالو ددې اثارو یوه زیاته برخه لکه څنګه چــې مــو مخکې څو ځله یادونه وکړه، زموږ له لاسه ترورلې ده او دا څه چې پاتې ده دا هم د زمانې له ډېرو ناتارونو ژغورل شوې او څه هــم د بخــت پــه وزرونو تر موږ رارسېدلې ده. که تذکرة الاولیا او پټه خزانه نه وای، چــې زموږ د لرغوني ادب زیاته برخه یې د مرګ له کومې ژغورلې، نو اوس به دغه اثار چې همدا اوس زموږ په لاس کې دي دا به هم تېر شوي او هېر شوي وو. ددې احتمال هم شته چې زموږ د لرغونې او کلاسیکي دورې ځینې نور ورک اثار چې د زماني ګردونو لاندې کړي، د وخت په تېرېدو سره ترلاسه شي. خو اوس چې پر لاس لرلو لرغونو اثارو بحث کوو، نو د کمیت یا څومره والي په اندول یې د کیفیت یا څومره والــي تلــه درنــه برېښي.

# د دیارلسم څپرکي لنډیز

د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره څه کم یوه زریزه زماني واټن رانغاړي، په دې دوره کې د نږدې (۲۹) تنو شاعرانو او لیکوالو د کلام بېلګې تر موږه رارسېدلي دي، چې په مجموعي ډول په کې (۳۳) ټوټې شعرونه او د نثر یوه بېلګه شامل دي. خو دا په دې مانا نه ده چې زموږ د شاعرۍ ټول حجم همدا دی، د زمانې ناخوالو زموږ ډېر تاریخي ادبي اثار له منځه وړي دي. خو دې سره سره چې کوم اثار اوس زموږ په لاس کې شته، د کمیت له پلوه کم، خو د کیفیت له پلوه د خورا ارزښت وړ وي. نږه والی، د هنري ښکلا زیاتوالی او د خپل چاپېریال ښه انځورګري ددې دورې د ادبیاتو له ځانګړنو څخه دي. ملي، اسلامي، غنایي، حماسي او نور ډول ډول افکار په کې ځلېږي. د کمیت په اندول یې کیفیت زیات دی، په لرغونې شاعرۍ یا ټول ادبي بهیر کې نږدې (۶۱۰۰) کلمې کارېدلي، خو ډېر دروند فکري، هنري او ښکلاییز معنوي بار یې انتقال کړی دی. د ملي فورمونو ترڅنګ یې له عربي ژبې څخه ځینې شعري فورمونه لکه قصیده، غزل، مثنوي او رباعي هم راخپل کړي، خو دا ټول فورمونه لکه د پښتو د خپل شعر سېلابېتونیک (څپیز جوړښت) له عام قانون سره سمون خوري. د لرغونې دورې د ادبیاتو هنري او ښکلاییز کیفیت او معنوي قوت ته چې سړی ګوري، نو دا په ډاګه کوي چې زموږ د لرغونې ادبي دورې کمیت به طبعاً تر دې څو ځله زیات ځکه وي چې د یو ملت ادبیات چې د پوخوالي دې پړاو ته

رسېدلی وي، هغوی باید ډېره اوږده ادبي ماضي، تجربه کړې وي. که پښتنو شاعرانو په ملي فورمونو کې شعرونه ویلي او که له عربي څخه په راغلو فورمونو کې، نو په ښه قوت یې ویلي او دا د دې ښکارندویي کوي چې دې شاعرانو دا فورونه ډېر کارولي او په هغو کې یې پخه تجربه ترلاسه کړې ده، خو بیا هم که د شتو اثارو له مخې د یادې دورې کمیت او کیفیت سره پرتله کوو، نو د کیفیت تله یې درنه ښکاري.

# د دیارلسم څپرکي پوښتنې

- په پښتو لرغونې ادبي دوره کې د شعري کلام بېلګې ولې کمې دي؟
- په لرغونې دوره کې د پښتو شعر کمیت او کیفیت سره پرتله کړئ.
- په لرغونې دوره کې کومو شاعرانو په ملي اوزانو کې شعرونه ویلي دي؟
- په لرغونې ادبي دوره کې له عربي ژبې څخه د نظم کوم فورمونه پښتو ته راغلي دي؟
- په لرغونې دوره کې د کوم لیکوال نثري بېلګه لرو او ولې د نثر بېلګې کمې دي؟
- د یوې ژبې د ادبي اثارو د کیفیت ښه والي د څه شي څرګندونه کوي؟
- په پښتو لرغوني ادب کې په مجموعي ډول څومره کلمې کارېدلې دي؟
- پښتو لرغونې شاعري د څه شي انځورنه کوي؟

# څوارلسم څپرکی

# په لرغونې ادبي دوره کې موثرې ټولنیزې، سیاسي څېرې او حادثې

په هره ټولنه کې مــوثرې ټــولنیزې، سیاســي او فرهنګــي څېــرې موجودې وي وي چې په هغه ټولنه کې د حوادثو سبب ګرځي او یا هم حــوادث دي چــې د شخصــیتونو د ټوکېــدو ســبب ګرځــي. همــدا شخصیتونه دي چې بیا نورو حوادثو ته لاره اواروي او یا هم د ناخوښــو احتمالي حوادثو مخه نیسي. په حقیقت او واقعیت کې شخصیتونه پــه حادثو او حادثې په شخصیتونو پسې ځي، دا دواړه پدیدې یوه له بلــې سره اړیکي لري. ټولنیز او سیاسي شخصیتونه د ژوندانه پــر هــر ډګــر خپل خپل اغېز لري، له هغې جملې څخه د ادبــي پدیــدو او اثــارو پــه رامنځته کولو کې خپل نقش لري، دوی په مستقیم او نامستقیم ډول د ادبي اثارو د رامنځته کېدو سبب ګرځي، په مستقیم ډول پــه دې مانــا چې په خپله هنري او ادبي اثار لیکي او په نامستقیم ډول پــه دې مانــا چې نور لیکوال او شاعران هڅوي چې ادبي اثار وپنځوي. کــه د امیــر محمد سوري واکمني نه وای او شیخ اسعد سوري د هغه له مهربانۍ نه وای برخمن شوی، نو پوره یقین دی چې د هغه مرګ پــر شــیخ اســعد سوري تاثیر نه کاوه او نه یې هغه شان ویرنه لیکلای شوه چــې د امیــر

محمد سوري په مرګ يې ويلې ده. يا هم که ښکارندوی غوري د سلطان شهاب الدين غوري د لارې ملګرى او د دربار له لورېينو برخمن نه وای خو هغسې ستاينزه قصيده يې هېڅکله نه ويله او نه يې ويلای شوه که په خپله امير کروړ د وخت امير او واکمن نه وای نو دغسې پرتمينه وياړنه يې هېڅکله نه شوه ويلای او که ويلې يې هم وای، له واقعيت سره به يې سمون نه درلود. موږ که څه هم په پښتو لرغونو ادبي دوره کې ليکوال يا شاعران نسبتاً په تفصيل سره معرفي کړي، خو هغه نورې سياسي يا ټولنيزې څېرې چې په يو نه يو ډول يې د ادبي اثارو په پنځونه کې په مستقيم او نامستقيم ډول موثرې واقع شوي، د هغو يادونه هم ضروري برېښي. غواړو دا ډول شخصيتونه هم په ډېر لنډيز سره درته دروپېژنو. دې سره به موږ ته په ټوليز ډول د ټولو هغو شخصيتونو يو ټوليز تصوير سترګو ته ودرېږي چې زموږ د لرغونو ادبياتو ټوله اوسنۍ لاسته راغلې شتمني د هغو د کارو زيار محصول ګڼل کېږي او تر هغه وروسته به د لرغونې ادبي دورې د پېښو کرونولوژي هم تاسو ته په ډېر لنډيز سره وړاندې کړو. البته دې کې ځينې هغه څېرې يو ځل بيا په لنډيز سره معرفي کېږي چې هم يې اثار پنځولي، هم ټولنيز، تاريخي، فرهنګي او سياسي شخصيتونه دي او يا يې هم په لرغونې ادبي دوره کې يادونه راغلې ده.

## سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي څېرې

# امیر کروړ د جهان پهلوان:

((امیر کروړ سوري چې په جهان پهلوان يې شهرت موندلی دی، د دویمې هجري قمري پېړۍ شاعر دی. امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی دی، امیر پولاد په غور کې د ملک شنسب له زامنو څخه و، چې غور کې يې پاچاهي کوله. د امیر کروړ یادونه مو یوځل بیا دلته ځکه وکړه چې ده نه یوازې په خپله شعر لیکلی، بلکې د ده ټولنیز، سیاسي او قومي اغېز ددې سبب شوی چې وروسته په پښتنو کې نور شاعران هم راوټوکېږي.

امیر کروړ پر (۱۳۹هـ.ق) د غور په مندیش کې پاچا او پر (۱۵۴هـ.ق) کال د (فوشنج) په جنګ کې وفات شو.

# امیر محمد سوري:

امیرمحمد سوري په غور کې د سوري پښتنو پاچا و، عادل، ضابط او غیرتي واکمن تېر شوی، د سلطان محمود غزنوي له لښکرو سره تر اوږدې جګړې وروسته، د هغه لښکر ونیو غزني ته يې اسیر بوت او هلته په بند کې ومړ. شیخ اسعد سوري په خپله قصیده کې دده د ژوند د وروستیو برخو داستان په ډېره تراژیکه بڼه انځور کړی، چې پر خپل خپل ځای يې یادونه وشوه.

## نصر لودي:

نصر لودي د شيخ حميد لودي زوی، د لوديـانو دويـم واكمـن و، د (۳۹۰هـ ق) په شاوخوا کې يې حکومت کاوه، دی تر حميد وروسـته د هغه پرځای کېناست، چې په ملتان کې دده واكمني د سند تر غـاړو او د سليمان تر غره پورې رسېده. نصر لودي هم د پښتو ژبې شـاعر و او هم سياسي واكمن.

## شيخ رضی:

شيخ رضی د شيخ حميد لـودي وراره دی چې د حميـد لـودي د واكمنۍ پرمهال او تر هغه وروسته يې د اسلام دين د تبليغ لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، شيخ رضی لودي د پښتو ژبې له شاعرانو څخه و، دده د يو منظوم اعتراضيه کلام له امله (نصر لودي) مجبور شو چې هغه ته په ورته منظوم کلام کې خپل غبرګون وښيي.

## سلطان غياث الدين غوري:

غياث الدين غوري د غور د سترو واکمنو له جملې څخه دی چې د غوريانو د واکمنۍ او د اسلام د دين د پراختيا لپاره يـې ډېـرې تـورې وهلي او په غوري واكمنو کې ستر نوم لري. پښتون شاعر تـايمني دده په ستاينه کې يوه چاربيته ليکلې او دی يې د غور زمری بللی دی.

## سلطان شهاب الدين غوري:

سلطان شهاب الدين غور د خپل ورور (سلطان غياث الدين غوري) تر مړينې وروسته پاچـا شـو، دی د خپـل ورور د واكمنـۍ پرمهـال د لښكرو مشر و او د غياث الدين غوري د وخت ډېرې بريـاوې د ده پـه

وسیله ترلاسه شوي دي. دده په زمانه کې د غوریانو پاچاهي د شــمال له خوا تر خوارزم او ماورالنهر او په هند کې د هند په لویو برخــو کــې جاري وه. دا لوی پاچا پر (۶۰۲هــق) کال د اباسین پر غاړه د هند د اړو دوړ د کرارولو لپاره هغې خواته لاړ او د یوه ناپېژانده شــخص لــه خــوا ووژل شو.

## سلطان محمود غزنوي:

د سبکتګین تر مړینې (۳۸۹-۴۲۱هـ) وروسته د هغــه لــه وصــیت سره سم د سبکتګین کوچنی زوی اسمعیل پر تخت کېناست. پــه دې وخت کې محمود د خراسان حاکم و. کله چې سلطان محمود د خپــل پلار له مرګه او د ورور له پاچاهۍ خبــر شــو، لــه اســمعیل څخــه یــې وغوښتل چې له حکومت څخــه لاس واخلــي او دغــه چــارې ده تــه وسپاري، خو اسمعیل مخالفت وکړ ، پــه نتیجــه کــې تــر لــږ اخ و ډب وروسته اسمعیل د غزني په شاوخوا کې ماتې وکړه او غزنی د محمــود لاس ته ورغی.

محمود پر (۹۹۸م) کال د غزني پر تخت کېناست، د سیستان علاقه یې ونیوله، د بغداد د خلافت له خوا په رسمیت وپېژندل شو او د (یمین الدوله) لقب ورکــړل شــو. ســلطان محمــود غزنــوي (۱۷) ځلــې پــر هندوستان یرغل کړی دی، لویه جګړه یې د سومنات جګړه ده، چې پر (۴۱۶هـ) کال پېښه شوې ده، لکه چې دمخه مو یادونه وکړه د محمــود لښکرو له امیر محمد سوري سره هم ډېر جنګونه وکړل، تــر جنګونــو وروسته د سلطان محمود لښکرو امیرمحمد سوري ونیو او بیــا یــې د

محمود په زندان کې ساه ورکړه. د شیخ اسعد سوري قصیده د همــدې غمجنې پېښې زېږنده ده.

## ابن خلاد:

تاریخپوهان د ابو العینا د بشپړ نوم او شهرت پــه بــاب وایــي: (( ابــو عبدالله محمد بن القاسم بن خلاد بن یاسر بن سلیمان، الهاشــمي بــالولاء الغریر، مولی آبي جعفــر المتصــور) نومــوړی پــه اصــل کــې د (یمــامي) اوسېدونکی و، په (اهوز) نومي سیمه کې زېږېدلی او په (بصره) کې رالــوی شوی دی. همالته یې د حــدیثو علــم او ادبــي زده کــړې کــړې دي، پــه ځلوبښت کلنۍ کې په سترګو ړوند شو، ډېره به یې په نکریزو سره کولــه او پر (۲۰۳هــ ق) کال په بصره کې مړ شوی. نوموړی ډېــر ځیــرک، فصــیح، ذهین او حاضر ځوابه انسان و.)) (۵۰: ۴۰-۴۱)

## سلطان بهلول لودي:

پر (۸۱٤هــق) کال د ملتان په (کمانګرانو) کــې دنیــا تــه راغــی، د ځوانۍ په وخت کې سپاهي و، بیا ملک شو، سوداګرۍ ته یې مخه کــړه او د خپل لیاقت، مهارت او بهادرۍ په وجه د ډیلي پاچاهۍ ته ورسېده. ډیلی، پاني پت، دیبالپور، لاهور، هانی، حصار، جونپور، بهرایچ، ناګور او د ملتان تر څنډو پورې ټولې هندي ځمکې د ده په پاچاهۍ کې شاملې وې. سلطان بهلول لودي پر (۸۵۰هــق) کال د ربیع الاول میاشتې پــر اوولسمه نېټه په هندوستان کې پاچا شــو او تــر (۴۴) کالــه پاچــاهۍ وروسته پر (۸۹٤هــق) کال د هندوستان د عالیګړ د ضلعې په جلالــې کلي کې وفات شو. سلطان بهلول لودي د هندوستان عــادل او عــالم پاچا و چې په دربار کې به یې شاعران او عالمان پالــل او خپلــه هــم د

پښتو ژبې شاعر و.)) (۸: ۲۹۲-۲۹۴)

## محمد بن علي البستي:

پښتون مورخ دی، د پلار نوم یې علـــي او د بســـت اوســـېدونکی و، پټې خزانې یې د (لرغوني پښتانه) په حواله یادونـــه کـــړې ده. د ژونـــد زمانه یې (۶۵۰هــ ق) حدود دي. او د (تاریخ سوري) په نامه یې یو مهم تاریخي اثر لیکلی دی.

## احمد سعید لودي:

پښتو لیکوال او مورخ دی، د پټې خزانـــې پـــه حوالـــه احمدســـعید لودي پر (۶۸۶هــ ق) کال یو کتاب لیکلی و چې په دې کتاب کې یې د لودي بادشاهانو حالات او اشعار راجمع کړي وو، د کتاب نوم یې (اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي) و.

## شیخ کټه متي زی:

شیخ کټه متي زی، د شیخ یوسف زوی او د شیخ متي لمســـی و، د (۷۵۰هــ ق) حدودو کې یې ژوند کړی او د لرغوني پښتانه په نامه یې یو مهم کتاب لیکلی دی، چې پټې خزانې ترې زیات اقتباسات کړي دي.

## شیخ ملي:

د شیخ ملي نوم (ادم) او د پلار نوم یې شیخ یوسف و، چې د نسب سلسله یې خرښبون ته رسي، دی د پښتنو مشر و او د ځمکو د وېـــش په باب یې یو کتاب لیکلی و چې د (شیخ ملي دفتر) په نامه مشـــهور و. د (۸۳۰هــ ق) په حدودو کې یې ژوند کاوه.

## کجوخان رانیزی:

د کجوخان رانیزي اصلي نوم (خان احمدخان) و، دی د پښتنو یو خان او مشر و، د (۹۰۰هـ ق) په حدودو کې يې ژوند کاوه، ده د پښتنو په باب یو کتاب لیکلی و چې د پښتنو تاریخي پېښې او حالات يې په کې بیان کړي وو.

پر پورتنیو سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي شخصیتونو سربېره یو شمېر نور سیاسي شخصیتونه هم په لرغونې دوره کې تېر شوي چې په مستقیم او نامستقیم ډول يې پر پښتو ژبې او ادب خپل خپل تاثیرات پرې ایښي دي، خو موږ يې هغه ډېر مشهور او مطرح کسان دلته په ډېر لنډیز سره معرفي کړل.

# د پېښو کرونولوژي

د لرغونې ادبي دورې په نږدې زرکلن ژوندانه کې ګڼې پېښې تېرې شوي، د یو لیکوال یا ادیب زېږېدنه، مړینه، د اثارو پنځونه، له منځه تلنه او نورې حادثې، ټولې په دې پېښو کې شاملې دي. دلته غواړو په ډېر لنډیز سره دې ډول حوادثو ته اشاره وکړو:

- ((د اریانا پاچا(لوی داریوش) پر وخت له (۵۲۲ق.م) څخه تر (٤٨٦ق.م) د بېستون په غره کې یوه اخلاقي حماسه رامنځته شوه.
- په (۱۹۰ق . م) حدود د (مالنده پنهو) په نامه په پخوانۍ پښتو یو کتاب ولیکل شو.
- پر (۱۳۹هـ ق) د غور په مندېش کې امیر کروړ پاچا شو.

- (۱۵٤هــق) د پوشنج په جنګ کې امیر کروړ وفات شو.
- پر (۱٦۳هــق) کال د لویکانو د کورنۍ یو بیت پر یــو ډېرلیــک ولیکل شو، پوهانو دا بیت پښتو وباله.
- د (۲۲۳هــق- ۲۹۷هــق) کلونو حدودو کې د ابو محمدهاشــم ابن زید السرواني د ژوند زمانه دده او پر همدې مهال لــه عربــي ژبــې څخه پښتو ته لومړۍ منظومه ژباړه ترسره شوه.
- (۳۵۰هــق- ٤۰۰هــق) کلونو ترمنځ د شیخ رضي او نصر لودي خپل پاړکي یو بل ته ولېږل.
- پر (۳۵۰هــق) حدودو کې بېټ نیکه خپل مناجات ولیکل.
- (٤۱۱هــق) حدود د شیخ اسماعیل او خربښون د ژونــد دوره ده او پښتو ادب کې د دوی د لومړیو څلوریزو په بڼه یو بــل تــه نــارې ولیکلې.
- (٤۲۵هــق) کال حدود د شیخ اسعد سوري د ژوند زمانه ده او پر همدې مهال پښتو ادب ته نوموړي یوه قصیده وړاندې کړه.
- (۵۵۰هــق) کال حدود د شیخ تیمن کاکړ د ژوند زمانه ده او پر همدې مهال پښتو ته خپل یو شعر ډالۍ کړ.
- د (۵۸۰هــق) په شاوخوا کې د ښکارندوی غوري ژونــد دی او پښتو ادب یوه بله شاهکار قصیده وړاندې شوه.
- د (۵۸۰هــق) په شاوخوا کې د ملکیار غرشین ژونــد او پښــتو ادب کې د یو بل پاړکي ویل.
- د (۵۸۰هــق) په شاوخوا کې د تایمني ژوند او د سلطان غیاث

الدين په ستاينه کې د شعر ويل.

- (٦٠٠هــق) کال حدودو کې د قطب الدين بختيار کاکړ د ژوند او پښتو کې د قطب الدين سندره.
- (٦٣٣-٦٨٨هــق) کلونه، د شيخ متــي ژونــد او دده کتــاب ( د خدای مينه) او شعر يې.
- له (٦٦١-٧٤٠هــق) کلونو کې د باباهوتک ژوند او د مغولــو پــه مقابل کې دده شعر.
- د (٧٤٧هــق) حدودو کې د شيخ ملکيار هوتــک ژونــد او دده شعر.
- د (٧٨٠هــق) کال په شاوخوا کې د اکبر زمينــداوري د ژونــد دوره او پښتو ته د لومړي غزل او مثنوي راتگ.
- د (٨٩٠هــق) کال په شــاوخوا کــې د خليــل نيــازي ژونــد او واکمني او د سلطان بهلول لودي ته د هغه رباعي.
- له (٨٥٥-٨٩٤ هــق) کلونه د سلطان بهلول لودي ژوند او خليل نيازي ته د هغه رباعي.
- د (٨٩٠هــق) کال په شاوخوا کې د زرغون خان نورزي ژونــد، دده ديوان او د ساقي نامې ليکل.
- (٩٠٠هــق) کال حدودو کې د زرغونې کاکړ ژوند او پښتو ته د سعدي د بوستان ژباړه.
- د (٩٠٠هــق) کال په شاوخوا کې د شيخ عيسى مشوانې ژوند او دده يو شعر.

- د (۹۲۰هــق) کال په شاوخوا کې د رابعې ژوند او ددې دېــوان او رباعي.
- (۹۲۰هــق) کال حدودو کې د دوست محمد کــاکړ ژونــد او د هغه کتاب (غرغښت نامه) لیکل.
- د (۹٦۰هــق) کال په شاوخوا کې د شیخ بستان بــړیخ ژونــد، دده کتاب (بستان الاولیا) او دده یو شعر.
- د (۹٦۰هــق) کال حدود د علي سرور لودي ژوند، کتــاب یــې (تحفة صالح) او دده غزل.
- د (۹٦۰هــق) کال حدود د مېرمن نېکبختې ژوند ، ددې کتاب (ارشاد الفقرا) او ددې د (نصیحت) شعر لیکل.
- د (۱۰۰۰هــ) کال حدود د شیخ محمد صالح الکــوزي ژونــد او غزل لیکل.)) (۳۹: ۱-۳)

# د لرغونې دورې پای

لکه څنګه چې دمخه مو وويل د پښتو ادب تاريخ لومړۍ يا لرغونې دوره له دويمې هجري پېړۍ څخه پيل او يوولسمې هجري پېړۍ پورې دوام مومي، تر دې دمخه يانې د لسمې هجري پېړۍ په منځيو کې بيـا په پښتو کې يو بل عرفاني غورځنګ پيلېږي، روښاني غورځنګ ورتـه وايي، (روښان پير) يـې مشـر و، دده د کـورنۍ غـړو دده روښـاني او روحاني لاره تعقيب کړه، روښـان وروسـته ډېـر پلويـان او مخـالفين پيداکړل چې د عرفاني او پوځي مبارزې ترڅنګ اکثره د فکـر او قلـم خاوندان وو، روښانيانو د خپلې عرفاني لارې لپاره ادبي فورمونه د يوې وسيلې په توګه وکارول، خپل افکار يې د نظم او نثر پـر دواړو ډولونـو کې ځای کړل او دا ادبي فورمونه يې د خپل فکر د بيان لپاره په مـنظم او سيستماتيک ډول وکارول، دا مهال له شکلي پلوه په ادبي فورمونـو کې ګڼ شمېر اثار رامنځته شول چې هنري کيفيت يې ډېر اوچت نه و، خو وروسته يې ښکلو ادبي اثارو ته لاره اواره کړه، پښـتو ادبپوهـان، د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې پای د همدغه روښـاني غورځنـګ پيـل ګڼي او وايي چې د تېرې دورې د ادبياتو په انډول دا مهال پـه ادبيـاتو کې داسې يو کمي او کيفي بدلون راغی چې له تېرې دورې سـره يـې توپيرونه روښانه او څرګنـد وو، نـو ځکـه خـو ادبپوهـان د روښـاني غورځنګ ادبي فعاليتونه د لرغونې دورې د ادبياتو تر پای وروسـته د

دويمې ادبي دورې د پیل کلونه ګڼي چې له همدې وختــه بیــا دويمــه ادبي دوره پيلېږي او خپل خپــل پرمختيــايي پړاوونــه وهــي، دا چــې روښانیان د لسمې هجري قمري پېړۍ په منځ کې راټوکېدلي يــانې تــر (۹۳۰هـ ق) وروسته، خو موږ دلته ان تر (۱۰۰۰هــق) کال پورې هم يــو شمېر شاعران په لومړۍ دورې کې ځای او مطالعه کړي، کېــدی شــي ځينو ته دا پوښتنه پيداشي چې هم دويمه دوره پيل شوې او تــر هغــه وروسته هم ځينې شاعران په لرغوني دوره کې مطالعه کېــږي؟ مــوږ د ادبي دورو د وېش په برخه کې دا مسله واضح کړه چــې ادبــي دورې د تاريخي او سياسي دورو په شان نه دی چې له يــوې تــاريخي مقطعــې څخه پيلېږي او يا هم له يوې انقلابي پېښې سره سم پيــل او پــر بلــې ورته يا مخالفې پېښې پايته رسي. ادبي دورې يوه پله بله کــې تــداخل لري، د يوې نوې ادبي دورې تر پيل وروسته هم ځينې داسې ليکوال او شاعران وي چې د فکري خط، ادبي سبک او نورو ځانګړنو له امله لــه تېرې دورې سره اړيکي لري او يا هم د هغې دورې تاثيرات پرې خپــاره وي. نو ځکه خو موږ (شيخ بستان بړېڅ، علــي ســرور لــودي، مېــرمن نېکبخته او شيخ محمد صالح الکوزی) هم په لرغوني ادبــي دوره کــې راوړل، د دوی د کلام ځانګړنې له لرغونې دورې سره ټينګ ارتباط لري او په واقعيت کې د همغې دورې تسلسل دی. د بلې نوې دويمې ادبــي دورې د اثارو لومړيو نښو نښانو په راڅرګندېدو سره بيا هم د دغو څــو يادو شاعرانو د کلام تسلسل له تېرې دورې سره قطع نه شو او تــر دې وروسته بيا د بلې دورې اغېزې ډېرې څرګندې شوې، نو ځکه (۱۰۰۰هــ ق) حدود د لرغونې دورې د پای مهال ګڼل کېږي.

# پایله

مخکې تر دې چې د وروستۍ پایلې په توګه خپل نظر درنو لوستونکو سره شریک کړم، غواړم د لرغونې ادبي دورې وروستۍ نچوړ چې ددې دورې ځانګړنې په کې راغونډې شوي دي، درنو لوستونکو مخې ته کېږدم او بیا به ددې اثر په باب خپل وروستی نظر څرګند کړم.

((د پښتو ادب تاریخ لومړۍ دوره له دویمې هجري پېړۍ څخه پیل کېږي او د یوولسمې هجري پېړۍ تر لومړیو پورې دوام کوي.

ددې دورې اثار د خپلو ځانګړو خصوصیاتو له امله دغه لاندې ارزښتونه لرلای شي:

(۱) د پښتو کوم اثار چې په لومړۍ ادبي دورې پورې اړه لري، له کمي پلوه ډېر نه دي او د هر شاعر او لیکوال محدودې شعري بېلګې تر موږه رارسېدلې دي. ددې دورې د ډېرو شاعرانو او لیکوالو د کتابونو نومونه موږ ته ښکاره دي، خو زیاتره دا کتابونه او دېوانونه اوس ورک دي.

ښایي له ځینو لوستونکو سره دا پوښتنه راپیدا شي، چې دا اثار نو ولې ورک دي؟

دغسې احتمالي پوښتنو ته په ځواب کې باید وویل شي، چې افغانان د اسلامي عصر په بېلابېلو پېړیو کې د پردیو یرغلګرو او مهاجمینو تر یرغلونو او تهاجماتو لاندې راغلي دي، په دغو یرغلونو

کې چې چا د پردو په مقابل کې زیات مقاومت کړی دی، په همغه تناسب ورته ضررونه هم متوجه شوي دي او ټولې مادي او معنوي شتمنۍ یې له خاورو سره خاورې شوې دي. پښتانه د عربو له حملو نیولې، بیا د چنګېز او تیمور، بیا د نادر افشار او نورو یرغلګرو تر مستقیمو حملاتو لاندې راغلي دي. څه یې چې درلودل دغو حملو خوړلي او په ډېر ضعیف احتمال ویلای شو، چې ښایي ډېر لږ اثار به له دغو تاړاکونو په امن کې پاتې وي، چې هغه هم تراوسه لا نه دي ترلاسه شوي.

د پښتو د لومړۍ دورې په اثارو کې یوازې د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا د بشپړ کتاب ځینې برخې موږ ته رسېدلې دي. په عمومي ډول د پښتو د ادب تاریخ د لومړۍ دورې متفرق اثار دي.

(۲) که څه هم د پښتو د لومړۍ دورې اثار به کمي لحاظ لږ دي، خو به کیفي لحاظ ځینې دغه ډول اثار ډېر لوړ ادبي ارزښت لري.

د غوري دورې قصیدې، د شیخ متي مناجات، د اکبر زمینداوري اشعار، د شیخ تیمن، شیخ بستان بدلې او هم د علي سرور او شیخ محمد صالح الکوزي غزلې د خپلو فکري ارزښتونو ترڅنګه لوړه هنري منځپانګه هم لري. ددې دورې ځینې نور اشعار که څه هم ساده دي، خو په سادګۍ کې یوه ابتدایي ښکلا هم ورسره مله ده. ددې دورې ځینې اثار نظمونه دي، چې ناظم نېغ په نېغه خپل هدف په منظومو او څرګندو الفاظو کې بیان کړی دی.

(۳) ددې دورې اثار سره له دې چې په کمي لحاظ لږ دي، خو له دغو لږو اثارو هم موږ په شکلي او موضوعي لحاظ د انکشاف څرک ایستلای شو:

الف: ددې مهال اثار موږ ته راښيي چې ددې دورې ادبي پديدې پــر يوه حال ولاړې نه دي او نه يو ډول شعري انواع موږ په دې اثــارو کــې ګورو، بلکې په دې دوره کې پښتو شاعري پر خپلــو عنعنــه يــې ملــي اوزانو سربېره په پرله پسې پېړيو کې قصيده، ورپسې غزل، مثنــوي او رباعي چې د شرقي شاعرۍ غټ شعري ډولونه دي، خپل کړل. د پښتو د ولسي شاعرۍ له ژانرونو څخه چاربيتي او بدلې هم په همــدې دوره کې خپله بنه خپله کړې ده او د پښتو د لرغونو سندرو او شعري انواعو ځای يې نيولی دی.

ب: د مضمون په لحاظ هم د پښتو اثار پــه دې دوره کــې پراختيــا پيداکوي، د ژوند بېلابېل موضوعات په دې اشعارو کې بيانېږي، لکه: د رزم او بزم خبرې، ديني او عرفاني موضوعات، اخلاقي پنــد و نصــايح، وعظونه او نور ددې دورې په اشعارو کې ليدلای شو.

ج: د شعر ځينې ځانګړې معنوي ډولونه، لکه وياړنه (فخريه)، ويرنه، ستاينه، ساقينامه او حکايتي اثار هم په همدې دوره کې په پښتو شعر کې ځان ښکاره‌کوي. د امير کروړ سوري وياړنه، د زرغون خــان نــورزي ساقينامه او د دوست محمد کاکړ د غرغښت نامې ځينې حکايات ددې دورې د شعر د معنوي اقسامو ډېرې ښې نمونې دي.

د امير کروړ وياړنه او د زرغون خان ساقينامه د خپل جوړښت، ادبي قوت او شعري ځانګړنو له امله د پښتو ادبي تاريخ پــه وروســتيو دورو کې هم بل سارى نه لري. دا ډول اشعار موږ وروسته هم لرو، خــو کــوم قوت او ادبي شور چې د امير کروړ او زرغون خان په وياړنه او ساقينامه

او د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصایدو کـې شـته، پـه وروستیو دې ته ورته اثارو کې نه لیدل کېږي.

(۴) پښتو ادبي پدیدې او پښتو اثار په دې دوره کې مجـرد نـه دي راپیدا شوي، بلکې د سیمې له ژبو او ادبیاتو سره په ارتباط کې یې وده موندلې ده. د دریېمې هجري پېړۍ په دوران کې له عربي ژبـې څخـه پښتو ترجمه پیل شوه او ابو محمد هاشم د ابن خلاد شعر په پښتو نظم ترجمه کړ او بیا راوروسته له پارسي ادب سره د پښـتو ادبیـاتو نـږدې اړیکي پاتې شوې دي، پښتو ادبیاتو په دې دوره کـې ځینـې معنـوي ارزښتونه له پارسي ادب څخه خپل کړي دي. دا خبره طبیعي هـم ده، ځکه پارسي دغه مهال په منطقه کې مسـلطه فرهنګـي ژبـه وه. ډېـر شاعران او فرهنګي اثار یې درلودل، نو ددغسې یـوې ژبـې اغېـزې د منطقې پر نورو ژبو حتمي دي.

له پارسي اثارو څخه پښتو ته ترجمه هم دغه مهال پیل شوې ده، د لسمې هجري پېړۍ په لومړیو کلونو کې یوې پښتنې مېرمنې زرغـونې کاکړې د سعدي بوستان په پښتو نظم واړاوه.

(۵) ددې دورې متفرق اثار د سیمې په لحاظ هم په یوه ځای کې نه دي ایجاد شوي، بلکې له غوره نیولې ان د هندوستان تر سیمو پـورې پرتو ځمکو کې ایجاد شوي دي او دا خبره پـر دې دلالـت کـوي چـې پښتانه دا وخت د غور او سلیمان پر غرو سربېره د افغانستان، (روه) او هندوستان په لتو کې خپاره وو.

(۶) په دې دوره کې موږ ځینې داسې متفرق اثار هــم لــرو، چــې د دربارونو له خوا ورته د توجه او پالنې ځرک هم ځنې ایستلای شو، لکه د غور د شاهانو په دربارونو کې د شاعرانو موجودیت او د دوی اثارو ته پاملرنه، د هندوستان د افغان باچا سلطان بهلول لودي دربار هم دغــه ډول خصوصیات درلودل.

(۷) ددې دورې کوم اثار چې زموږ په واک کې دي، زیــاتره د پښــتو دوو لرغونو تذکرو (پټې خزانې او تذکرة الاولیا) خونــدي کــړي دي، د ځینو، لکه تایمني او اکبر زمینداوري اثار په متفرق ډول ترلاسه شــوي دي. دغه اثار د منبع پېژندنې له پلوه کومه خلا نه لــري او لــه کــره او باوري اسنادو ځخه ګڼل کېږي.

(۸) دغه لاس ته راغلي اثار د ژبې د لغاتو، ترکیبونو او نورو ګرامري ژبنیو خصوصیاتو او له نورو ژبو سره د اړیکو یو سیستماتیک تحول په لاس راکوي، د دې دورې لومړني اثار تر زیاته حده د پښــتو خپــل زاړه لغات او ترکیبونه لري، خو په وروستیو پېړیو کې له نورو ژبو، په خــاص ډول پارسي او عربي سره نږدېوالی ښیي.

د پښتو د ادبي تاریخ لومړۍ دوره د پورتنیو خصوصیاتو په لرلو سره پای ته رسېږي او پښتو ادبیات له نویو تمایلاتو، نویو فکري ارزښتونو او تازه ادبي جریانونو سره یوې بلې پرمختللې دورې ته داخلېږي.))

(۵۳: ۸۱- ۸۳)

د پښتو ادب د لرغونې دورې تر دې نچوړ وروسته اوس راځم ددې اثر په باب خپل وروستي نظر ته!

دا اثر چې اوس د درنو لوستونکو او خوږو محصلينو په لاس کې دی، ما د خپلې پوهاندۍ علمي رتبې لپاره ليکلی دی. په دې اثر کې نړدې له ټولو هغو اثارو څخه ګټه اخيستل شوې چې تر دې وړاندې په دې برخه کې ليکل شوي دي.

تېر هر اثر په خپل خپل ځای کې خپل خپل ارزښت لري، خو دا اوسنی اثر زما په خپل نظر په واقعيت کې پر څېړنې، پلټنې، ارزونې سربېره د همغو تېرو اثارو يو نچوړ هم ګڼل کېږي. هر څېړکی مې تر ليکنې وروسته نورو استادانو ته هم د سمون په خاطر ورلېږلی او هم مې د هغوی له نظرياتو څخه د ګټې اخيستو لپاره د هغوی اصلاحي نظر هم په کې شامل کړی دی. هر څپرکی يو نچوړ يا لنډيز هم لري او خپلې اړوندې پوښتنې هم. دا پوښتنې ددې سبب ګرځي چې محصلين د هر څپرکي متن ته ورداخل شي، نوې او زياتې پلټنې وکړي، د هغوی د ليکوالۍ او ذهني قوت د پياوړتيا سبب شي. شک نه شته چې دا اثر به لا هم ډېرې نيمګړتياوې ولري، نو کله چې دا اثر چاپ شي، هيله ده لوستونکي او محصلين يې له نظره تېر کړي او د سمون لپار يې خپل ليکلي نظرونه ماته راولېږي چې په بل چاپ کې اصلاح شي. يو اثر تر پرله پسې کتنې او سمون وروسته د بشپړتيا او کره والي پړاو ته رسېږي او دا کره والی هغه وخت رامنځته کېږي چې

اثر د لوستونکو په لاس کې وي، نو ځکه خو له ټولو لوستونکو، استادانو او قدرمنو محصلینو څخه هیله کوم چې په زغرده ددې اثر د نیمګړتیاوو او نورو زیاتونو او سمونو په باب راسره خپلې مشورې شریکې کړي. زموږ هیله همدا وه چې په ټول هېواد کې د ادبپوهنځیو د پښتو څانګې د محصلینو لپاره د لرغونې دورې په باب یو واحد او کره اثر وړاندې شي چې په ټولو یادو څانګو کې د تدریس وړ وګرځي.

که چېرې دا تجربه بریالۍ شوه، نو بیا له اړوندو استادانو څخه هیله کوم چې د منځنۍ او معاصرې دورې او د هغو د اړوندو پړاوونو لپاره هم له تحصیلي او تدریسي کریکولم سره سم تدریسي اثار ولیکي چې درانه لوستونکي او محصلین د پښتو ادبیاتو ټولې دورې په منظم او سیستماتیک ډول مطالعه کړي.

په پای کې یو ځل بیا له درنو لوستونکو څخه هیله کوم چې په خپلې لوربینې به ددې کتاب په متن کې شوې تېروتنې راوښئ او د سمون لپاره به یې راسره مرسته وکړئ!

په ملي، فرهنګي او هېوادنۍ مینه

ستاسو یون

# د څوارلسم څپرکي لنډیز

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د ادبي څېړو ترځنګ یو شمېر سیاسي، ټولنیزې او فرهنګپالې څېړې هم مطرح وې چې په مجموعي ډول یې ددې ادبي دورې په تشکل او جوړښت کې خپله ونډه لرلې ده. ځینې څېړې بیا څو اړخیزې دي، هم سیاسي اړخ لري او هم ادبي. په مجموعي ډول ددې ټولو مطرح څېړو شمېر لسګونو ته رسېږي. دا لسګونه څېړې په دې مانا چې بېلابېلو اثارو یې څېره او اغېزه په لرغونې ادبي دورې کې څرګنده کړې ده. بېلابېلو پېښو هم د ادبي دورې په لوړتیا او ځوړتیا کې خپل اغېز لرلی دی. په مجموعي ډول همدا څېړې او همدا حادثې دي چې د پښتو ادب د لرغونې دورې ټول ادبیات یې محصول دي. موږ چې کله د لرغونې دورې ادبیات مطالعه کوو، ددې څېړو او حادثو له پېژندنې پرته راته ممکن نه برېښي، دا څېړې او حادثې د اساسي علت او عامل په توګه د پېژندنې او مطالعې وړ دي.

د پېښو کرونولوژۍ ته مو هم ځکه اشاره وکړه چې یوځل بیا د تېر نړدې زرکلن ادبي بهیر یو څرګنده انځور مو په ذهن کې تېروبېر شي.

د لرغونې دورې د پای په باب ادبپوهان بېلابېل نظرونه لري، خو عمومي اصول دادي چې یوه ادبي دوره د بلې ادبي دورې له پیل سره سمه نه ختمېږي، بلکې په هغې کې تداخل لري. دا دوره بیا په بله کې تر هغې امتداد پیداکوي چې له تېرې دورې سره یې په ادبي ځانګړنو

کې څرګند توپير رامنځته شي، نو موږ چې د (۱۰۰۰هـ ق) کلونو تر حدودو پورې ځينې شاعران په لرغوني دوره کې شامل کړل، علت يې همدا و چې له تېرې دورې سره يې نږدېوالی او اړيکي درلودل.

## د څوارلسم څپرکي پوښتنې

- مطرح، سياسي او ټولنيزې څېرې د ادبياتو په وده کې څه رول لري؟
- هر محصل دې په لرغونې دوره کې په خپله خوښه د يوې يوې ادبي څېرې پېژندنه وکړي او د دې څېرې اثار دې تحليل کړي.
- ولې د دويمې ادبي دورې تر پيل وروسته هم ځينې شاعران په لرغونې ادبي دوره کې د مطالعې ځای لري؟
- پېښه او شخص يو بل سره څه ارتباط لري او د ادبي اثارو په پنځونه کې يې اغېز څه دی؟
- د لرغونې ادبي دورې عمومي ځانګړنې په ګوته کړئ؟

# اخځونه


۱. ارسطو. کتاب الشعر. د مولوي محمد اسرائیل ژباړه. ۱۹۵۸م کال. پېښور: پښتو اکاډمي.

۲. اریانا دایرة المعارف، (لومړی ټوک دویمه دوره). دایرة المعارف ریاست. ۱۳۸٦ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي

۳. انځور، محمد زرین. د زړو پاڼو تول. ۱۳۹۴ل کال. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

٤. الفت، ګل پاچا. ادبي بحثونه. ۱۳۲۳ل کال. کابل: پښتو ټولنه.

۵. الهام، محمد رحیم. تیوریهای ادبی و نقد ادبی. ۱۳۵۸ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

٦. الهام، محمد رحیم. د ادب مسالې. ۱۳٦۷ل کال. کابل: د افغانستان د لیکوالو انجمن.

۷. بېنوا، عبدالروف. پښتو روزنه. ۱۳۵۷ل کال. کابل: د پښتو څېړنو نړیوال مرکز.

۸. پردېس، احمد. د پښتو ادب لرغونې دوره. (په پښتو لرغوني ادب کې سیاسي څېړې). لومړی ټولګی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

۹. پښتو – پښتو تشریحي قاموس (لومړی ټوک). د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۵۸ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي

١٠. پښتو – پښتو تشریحي قاموس (دویم ټوک). د ژبو او ادبیاتو مرکز. ١٣٦٠ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمۍ.

١١. پښتو – پښتو تشریحي قاموس (لومړی ټوک). د ژبو او ادبیاتو مرکز. ١٣٦٥ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمۍ

١٢. حبیب، اسدالله. لکچرهای اموزشی (ادب شناسی و بعضی مسایل مبرم آن). د لیکنو ټولګه. ١٣٦٢ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

١٣. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی او دویم ټوک). ١٣٨۴ل کال. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

١٤. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک). ١٣٢۵ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

١۵. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک، دویم چاپ). ١٣٣٧ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

١٦. حلیم، حکیم.هیله مجله. (د ادبي تیوري تاریخي وده). ١٣٨١ل کال. پېښور: ازاده مجله.

١٧. خاورې، غوټۍ. د پښتو شفاهي ادبیات (شکل او مضمون). ١٣٦٦ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ.

١٨. خویشکی، محمد صابر. پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه. ١٣٨٠ل کال. پېښور: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.

١٩. درانی، درویش. پښتو عروض. ٢٠٠٧م کال. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

٢٠. رښتین، صدیق الله. د پښتو د ادب تاریخ. ١٣٢۵ل کال. کابل: پښتو

ټولنه.

۲۱. رضا، افضل. تخليق او تنقيد. ۱۹۷۳م کال. پېښور: يونيورسټي بک اجنسي.

۲۲. رضا، افضل. د پښتو نثر تاريخ. ۱۹۹۵م کال. پېښور: يونيورسټي بک اجنسي.

۲۳. روهي، محمد صديق. ادبي څېړنې. ۱۳٦۰ل کال. ننگرهار: ننگرهار پوهنتون.

۲٤. روهي، محمد صديق. د پښتو ادبياتو تاريخ (معاصره دوره). ۱۳۷۸ل کال. پېښور: محمد صديق روهي فرهنگي ټولنه.

۲۵. زرينکوب، عبدالمتين. اشنايي با نقد ادبي. ۱۳۷۸ل کال. ايران: مهارت چاپخونه.

۲٦. زغم، احمدشاه. پښتو چاربيته (د پوهنملۍ تېزس). ۱۳۷۱ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

۲۷. زېور، زېورالدين. د پښتو ادبياتو اصطلاحي قاموس. ۱۳٦۱ل کال. کابل: د ژبو او ادبياتو پوهنځی.

۲۸. زيار، مجاوراحمد. پښتو شعر څنگه جوړېږي؟. ۱۳٦۹ل کال. کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت.

۲۹. شاه جهان، پښتو ادب کې د مېرمنو برخه. ۱۹۹۳م کال. پېښور: پښتو اکاډمي.

۳۰. شېرزاد، تورخان. پښتو سروکی. ۱۳۷۰ل کال. کابل، ناچاپ.

۳۱. شينواری، دوست. د ادب تيوري اساسونه. ۱۳٦۵ل کال. کابل: د

چاپ او خپرونو دولتي کمېټه.

۳۲. عمید. فرهنگ عمید. (دویم ټوک، پنځم چاپ). ۱۳٦۳ل کال. تهران: امیر کبیر نشرات.

۳۳. غني، سید غني. د پښتو ادبیاتو لرغونې شاعري. ۱۳۹۳ل کال. ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۳٤. قویم، عبدالقیوم. نقد ادبی. ۱۳۷۹ل کال. پېښور. کتاب انتشارات.

۳۵. کټوازی، نېک محمد. د پښتو ادب لرغونې دوره (په پښتو لرغونو ادبیاتو کې جغرافیایي نومونه). لومړی ټولگی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

۳٦. کرگر، محمد اکبر. د نازو انا یاد (د شیخ متي یو شعر). د محمد اسمعیل یون په زیار. ۱۳۷۰ل کال. کابل: خوشال فرهنگي ټولنه.

۳۷. گامگار، تقي وحیدیان. وزن و قافیه شعر فارسی. ۱۳۹۳ل کال. تهران.

۳۸. ماکو، سلیمان. تذکرة الاولیاء (د پوهاند عبدالحی حبیبي سریزه او تعلیقات). ۱۳۷۹ل کال. پېښور: د علامه حبیبي د څېړنو مرکز.

۳۹. محمد الیاس. د پښتو ادب لرغونې دوره (د لرغونې دورې د پېښو کرونولوژي). لومړی ټولگی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

٤۰. مشوانی، عبدالقیوم. د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه). ۱۳۸۹ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمی.

٤۱. میرحسین شاه کاندید اکاډمیسن، پښتو څېړنې (د پښتو د یوه زاړه کتاب په لټه کې). ۱۳۷٦ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمی.

٤٢. نادر، عبدالجبار. پښتو څېړنې (پښتانه د بهرنیو له نظره). ۱۳٦۷ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمي.

٤٣. ناشر، حکمت الله. د پښتو ادب لرغونې دوره (د پښتو په لرغونې شاعرۍ کې د ځینو متروکو او پېچلو کلمو ماناوې). لومړی ټولګی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

٤٤. نوري، محمدګل. ملي سندرې. ۱۳۲۳ل کال. کابل: پښتو ټولنه.

٤٥. نومیالی، محمد انور. د ادبي تاریخ میتودولوژي ( د لیکنو ټولګه). ۱۳٦۷ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمي.

٤٦. وزیری، بخت میر. پښتو فونولوژي مورفولوژي. ۱۳۸۲ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

٤٧. هاشمي، سید محی الدین. د ادبپوهنې څانګې. ۱۳۹۳ل کال. کابل: میهن خپرندویه ټولنه.

٤٨. هاشمي، سیدمحی الدین. ادب پوهنه. ۱۳۸۱ل کال. پېښور: د اریک ګرځنده کتابتونونو اداره.

٤٩. هلال، فرید احمد. د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره. ۱۳۹۴ل کال. کابل: کتاب خپرندویه ټولنه.

٥٠. همت، عبدالمالک. ادب او ادبي کره کتنه. ۱۳۸۵ل کال. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

٥١. هوتک، محمد. پټه خزانه. (د پوهاند عبدالحی حبیبي سریزه او تعلیقات). ۱۳۳۹ل کال. کابل: د پوهنې وزارت.

٥٢. هېوادمل، زلمی. پښتو حماسه، ۱۳۹۲ل کال، (د دوکتورا دورې

درسي مواد). ۱۳۹۳ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

۵۳. هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تـاریخ (لرغـونې او منځنـۍ دورې). ۱۳۷۹ل کال. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵٤. هېوادمل، زلمی. د پښتو نثر اته سوه کاله. ۱۳۹۰ل کال. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۵۵. هېوادمل، زلمی. فرهنګ ادبیات پښتو (درېیم ټوک). ۱۳٦٦ل کـال. کابل: د چاپ او خپرولو دولتي کمېټه.

۵٦. هېوادمل، زلمی. ولسي سندرې(دویم ټوک). ۱۳٦٦ل کال. کابل.

۵۷. یون، ارین. لنډیو ته یوه لنډه کتنه. ۱۳۹۳ل کال. کابل: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه.

۵۸. یون، محمد اسمعیل. خوشال په خپل ایډیال. ۱۳۸۷ل کال. کابـل: یون کلتوري یون.

۵۹. یون، محمد اسمعیل. د پښتو شعر هندسي جوړښـت. ۱۳۸۷ل کـال. کابل: یون کلتوري یون.

٦۰. یـون، محمـد اسـمعیل. د ډیـلي تخـت هېرومـه (یونلیـک). ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

٦۱. یون، محمد اسـمعیل. ځـولۍ مجلـه، (ژبخـوره ژبـه)، ۱۳۸۵ل کـال. کابل: کابل پوهنتون.

# وروستۍ یادونه او غبرگونه

(نیمه پېړۍ یون) په څوارلسو ټوکونو کې راټول شوی دی. دا کوم اثر چې اوس ستاسو په لاس کې دی، دا د دې لړۍ څوارلسم ټوک دی. دا زما د ټول پنځوس کلن ژوند فکري او نظري پانگه او د دېرش کلنې لیکوالۍ ټوله مجموعه ده. دا ټول کلیات له محتوایي یا مانیز پلوه ډلبندي شوي، تر ډېره بریده یې تاریخي تسلسل هم په پام کې نیول شوی. دې کلیاتو کې، مستقل اثار، د بېلابېلو لیکنو ټولگې، ژباړې او د ځینو نورو لیکوالو راټولونې شاملې دي. دا څوارلس ټوکه د پنځوسو عنوانو بېلابېلو اثارو بېلابېلې مجموعې دي. دا پنځوس عنوانه اثار په تېرو دېرشو کلونو کې پر خپل وخت په ترتیب سره یو وار او ځینې یې څو واره چاپ شوي دي. ځینې لیکنې یې د اړتیا له مخې او یا هم د اخځ په توگه په دوو بېلابېلو اثارو کې راغلي او په دې کلیاتو کې هم په همغه بڼه ځکه خوندي شوي چې که ځینې دا ډول لیکنې ترې ایستل شوې وای، نو د پخوانیو چاپ شویو اثارو ټول تاریخي تسلسل او معنوي تړښت له منځه تلو. پر دې سربېره په لیکنو او په ټولیز ډول ټولو اثارو کې هېڅ ډول مانیز بدلون نه دی راوړل شوی او په اصطلاح د ورځې په نرخ نه دي اعیار شوي. هره لیکنه او اثر د خپلې زمانې زېږنده و او د همغې زمانې د حالاتو انځورنه

کوي. زه هیله من یم کله چې درانه لوستونکي دا اثار لولي، نو ما هم په کې وګوري څکه چې د هرې لیکنې او اثر شاته د هغو لیکوال د یوه اصلي کرکتر په توګه ولاړ وي. په دې کلیاتو کې به د هېواد د تېر دېرش کلن-ثلوېښت کلن ناورین بېلابېل انځورونه وګورئ، دا اثار به اوس څه ارزښت ولري او که نه؟ خو هیله من یم چې راتلونکي نسل ته د دغې مشخصې زمانې د حالاتو انځورنه وکړي او هغوی ته د مثبتو پیغامونو د لېږدونې سبب شي.

په ټوله انساني مینه

ستاسو یون

۱۳۹٦ل کال، د کب (۲۸)مه